بسم الله الرحمن الرحيم

من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين

الحق الصریح

پښتو شرح

مشکوٰة المصابیح

تالیف:

د شیخ الحدیث ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله

ترتیب: ابو زهیر سیف الله غفرله

٧

[illegible]

[illegible] مارکیټ پېښور

بسم الله الرحمن الرحيم

من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين (الحديث)

الحق الصريح

پښتو شرح

مشكوٰة المصابيح

تالیف:

فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله

جمع وترتیب ابو زهیر سیف الله غفرله

۷

په دې جلد کښې د درې سوه شپږ دېرشو (۳۳۶) احادیثو تشریح کړې شوې ده

مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیت
منکل مارکیت
پیښور

د کتاب نوم ———— الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح (اوم جلد)
د مؤلف نوم ———— الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله ورعاه
جمع وترتیب ———— ابوزهیر سیف الله غفر له شیخ آباد پشاور۔
سنۀ طباعت ———— ربیع الثانی ۱۴۳۵/۱ هجری الموافق:
فروری ۱۰/۱۴/۲۰۱۴ء)
د نسخو تعداد ———— ۱۱۰۰
فن ———— حدیث
ناشر ———— مکتبه محمدیه کنج پیښور

د ملاویدو پته

۱- مکتبه محمدیه

بیرون کنج گیټ پهندو روډ منګل مارکیټ پیښور پاکستان
ولی الله: 03118828402 /03018828402 ابوسلمان: 03025953513
ابوزهیر: 03075924001
۲- ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز، عقب قصه خوانی پیښور۔
۳- معراج کتب خانه قصه خوانی بازار محله جنګی پیښور۔
٤- نوروز کتب خانه صوابی اډه پاکستان۔
٥- دار الکتاب والسنة، نیو حاجی کیمپ سلطان آباد کراچی: 03002615402
٦- دینی کتب خانه تبلیغی مرکز ته مخامخ تمر گره
۷- مکتبه محمدیه، جلال آباد تالاشی چوک گمرک مسجد ترخنګ دکان نمبر ۲

بسم الله الرحمن الرحيم

۳- كتاب الزكاة

د زكاة بيان

مناسبت : په قرآن او حديث كې مونځ او زكاة شريك ذكر كيږي ځكه دواړه اخوين (وزونه) دي، په مسلمان باندې الله تعالىٰ زكاة ځكه فرض كړو چه پته ولګي چه بدني اعمال كوي خو آيا د الله دپاره مال لګوي او كه نه، پدې وجه حديث مبارك كې راځي : وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ (صحيح مسلم ٥٥٦) -

(يعني زكاة د مؤمن د ايمان دليل دې)-

بعض انسانان په بدني اعمالو كې تكړه وي ليكن كه د مال د لګولو وخت راشي بيا ئې ملا ماته وي، او بعض كسان په مال لګولو كې تكړه وي ليكن كه ورته وويل شي چه راځه مانځه له څو هغه به وائي ته ځه زۀ درځم يا زما جامې بې نمازه دي، نو الله دواړه فرض كړه چه بنده پوره د الله تعالىٰ تابعدار شي.

(۲) وجه دا ده چه د بنده كمال په دوه څيزونو كې دې (۱) تَعْظِيْمٌ لِاَمْرِ اللّٰه (چه د الله تعالىٰ د حكم تعظيم پكې پيدا شي. (۲) (اَلشَّفَقَةُ عَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ تَعَالىٰ) - د الله په بندګانو شفقت كوي. نو مونځ كې د الله تعالىٰ د حكم تعظيم دې او زكاة كې د الله په بندګانو شفقت دې. (۳) دارنګه د بنده كمال دا دې چه د الله تعالىٰ حق ادا كونكې به وي او الله ته به متوجه وي. او د بندګانو حق ادا كونكې به وي په هغوي به رحم كونكې وي. پدې وجه د مانځه او د زكاة جمع والې كيږي. (٤) دارنګه د ايمان سره اعمال او اخلاق ضروري دي نو مونځ اعمال شو او زكاة ئې اخلاق شو.

زكاة په لغت كې په درې معنو استعماليږي (۱) نُمو او زيادت. زكاة ته زكاة پدې

وجه وائي چه ددې په ادائيګۍ سره په مال کې زيادت او ترقي پيدا کيږي. دا وجه ده نبي کريم ﷺ فرمائي: [مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالِ عَبْدٍ] (مسلم: ٦٧٥٧)

قسم په الله چه زکاة او صدقه مال لره نهٔ کموي، بلکه زيادت پکې پيدا کوي.

(٢) زکاة معنیٰ پاکوالے. او زکاة سره هم مال پاکيږي. دارنګه د انسان نفس پاکيږي. قرآن کې دي: ﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا﴾ (التوبة :١٠٣) (واخله د دوی د مالونو نه زکاة او صدقه چه تهٔ دوی لره پدې سره ظاهراً او باطناً پاکوې).

(٣) زکاة په معنیٰ د برکت سره هم دے. د زکاة په وجه سره برکت پيدا کيږي.

(٤) کله په معنیٰ د مدح او صفت سره هم استعمال دے لکه عرب وائي: زَكَّى نَفْسَهٗ يعني د ځان صفت ئې وکړو.

زکاة کله هغه مال ته وائي چه فقير ته ادا کولے شي. او کله په شريعت کې معتبره طريقه باندې د مال ادا کولو ته هم زکاة وائي.

زکاة په اصطلاح د شريعت کې د مال څه برخې ته وائي چه واجب شوې وي په هغه مال کې چه کال پرې تير شوې وي او نصاب ته رسيدلے وي. عربي کې ئې داسې تعريف کيدې شي: (مَالٌ مُقَدَّرٌ شَرْعًا فِيْ أَمْوَالٍ مَخْصُوْصَةٍ لِطَائِفَةٍ مَخْصُوْصَةٍ) . دا هغه مال دے چه شريعت په خاصو مالونو کې د خاصو کسانو دپاره مقرر کړيدے). يا (أَدَاءُ رُبُعِ الْعُشْرِ بَعْدَ النِّصَابِ وَحَوْلَانِ الْحَوْلِ) . د نصاب ته د رسيدو او کال تيريدو نه روستو د عشر څلورمه حصه (يعني څلويښتمه روپۍ) ادا کول دي.

د زکاة په فرضيت باندې د ټول امتِ مسلمه اتفاق دے. که څوك د زکاة نه انکار وکړي او ددې په فرضيت باندې پوهه وي نو د بعضو علماو په نيز کافر کيږي ځکه چه دهٔ د يو داسې شي نه انکار وکړو چه هغه په دين کې ښکاره معلوم دے. او که د سستوالي په وجه ئې پريښودو او نهٔ ئې ادا کوي نو پدې کې دوه قوله دي اکثر علماء وائي چه کافر نهٔ دے خو کبيره ګناه والا دے، او قتال به ورسره کولے شي. لکه څنګه چه ابوبکر صديق ؓ فرمايلي دي: [لَأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ]

(خامخا زهٔ به د هغه چا سره جنګ کوم چه د مونځ او زکاة ترمينځ فرق کوي) يعنې دواړه يو شان فرض دي. او د زکاة فرضيت په کتاب او سنت او اجماع د مسلمانانو ثابت دے.

مسئله : زکاة کله فرض شویدے ؟

د زکاة د فرضیت کیدو وخت کی اختلاف دے دوه قوله دی (١) ابن خزیمه رحمه الله په خپل صحیح کی وائی چه زکاة د هجرت نه مخکی فرض شویدے۔ دلیل دا دے چه جعفر الطیار ﷺ اصحمه (نجاشی) بادشاه ته ویلی وو : [اِنَّهٗ یَاْمُرُنَا بِالصَّلَاةِ وَالزَّکَاةِ] دا نبی مونږ ته په مانځه او په زکاة حکم کوی۔ او دا مکی دور وو۔ دارنګه په مکی سورتونو کی زکاة ذکر کیدو دا دلیل دے چه زکاة په مکه کی فرض وو۔

(٢) اکثر علماء وائی چه د هجرت په دویم کال باندے د رمضان د روژو د فرضیت نه مخکی فرض شو، او دیته امام نوویؒ د کتاب الروضة په باب السیر کی اشاره کړیده، لیکن دے باندے دا اعتراض واردیږی چه په حدیث د احمدؒ، ابن خزیمهؒ، نسائیؒ او ابن ماجهؒ او حاکمؒ کی د قیس بن سعد بن عباده ﷺ په روایت کی دی چه مونږ ته رسول الله ﷺ په صدقة الفطر حکم وکړو : (قَبْلَ اَنْ تَنْزِلَ الزَّکَاةُ ثُمَّ نَزَلَتْ فَرِیْضَةُ الزَّکَاةِ، الحدیث) ۔ صحّحه الحافظ ابن حجر والشیخ الالبانی وغیرهما) ۔یعنی د زکاة د نازلیدو نه مخکی، بیا روستو زکاة فرض شو۔ دا دلیل دے چه زکاة د رمضان نه روستو فرض شویدے او د رمضان روژے د هجرت نه روستو فرض شوے وے۔ او د ضمام بن ثعلبه ﷺ د واقعے نه هم معلومیږی چه هغه نبی ﷺ ته قسم ورکړو چه آیا الله تا ته حکم کړیدے چه ته دا صدقات زمونږ د مالدارو نه واخله او زمونږ په غریبانو ئے تقسیم کړه؟ نبی ﷺ وفرمایل: آؤ، او د ضمام بن ثعلبه راتلل د هجرت په پنځم کال وو۔ لیکن ظاهر دا ده چه د ضمام حدیث دلیل دے چه زکاة د مخکی نه معلوم او مشهور وو۔

(٣) ابن الاثیر رحمه الله لیکی چه د هجرت په نهم کال فرض دے لیکن حافظ ابن حجرؒ په هغه باندے د فتح الباری په مقدمه کی رد کړیدے چه دا قول د ضمام بن ثعلبهؓ په حدیث سره رد کیږی او دغه شان د وفد عبد القیس په حدیث کی هم د زکاة تذکره راغلے ده، دغه شان د هرقل سره د ابوسفیان په خبرو کی هم د زکاة تذکره راغلے ده چه دا نبی مونږ ته په زکاة باندے حکم کوی او دا د اوم کال په ابتداء کی وو۔

او شیخ رشید رضا وائی : د سورة توبی آیت په کوم کی چه د زکاة د مصارفو بیان دے هغه په نهم کال نازل شوے وو پدے وجه بعض علماؤ دا ګمان وکړو چه ګنے پدے کال باندے زکاة فرض شویدے۔ (تفسیر المنار)

پدې کې راجح دا ده چه زکاة په مکه کې فرض وو خو څه تعیین او تفصیل ئې نهٔ وو بیان شوې. بیا په مدینه کې ددې تفصیلًا احکام بیان شو او اندازې د نصاب او اندازې د زکاة ذکر شوې اګرکه د کال تعیین ئې نشته چه دا په کوم کال شوی وو مګر د روژو نه روستو وو. او اول نه مقادیر او اندازې نهٔ وې بیان شوې وجه دا وه چه اندازې معین کول او بیا د هغې د راتولو دپاره خلك لیږل او هغه په مسکینانو باندې تقسیمول دا د حکومت اسلامي کار دې پدې وجه په مدینه کې ددې تعیین وشو.
(تفسير المنار لمحمد رشيد رضا السلفي ١٠/٤٤١)

ددې اختلاف فائده په علم التفسیر کې معلومیږي چه کله قرآن کې د زکاة لفظ راشي نو کومه معنیٰ به مراده وي؟، آیا لغوي معنیٰ چه پاکوالے دے او که واجب زکاة ؟.
بیا زکاة په بخیلانو فرض دے ځکه چه د مومن صفت دا دے چه دے به هسے هم په صحیح ځای کې مال لګوي لیکن بخیل ته وائي چه هسے خو مال نهٔ لګوې خو په خاص نصاب کې مثلًا په دوه سوه روپو کې (٥) پنځه روپئ ورکړه.

د زکاة د فرض کیدو حکمتونه

د زکاة د فرض کیدو حکمتونه او فوائد دي :

(١) د ګناهونو او بخل نه پاکي حاصلیدل.

(٢) درجه پورته کیدل او ثواب حاصلیدل.

(٣) محتاجو او مسکینانو سره احسان کول.

(٤) د مخلوق سره محبت پیدا کیدل ځکه چه کله د یو پنده سره احسان وشي نو د هغه د زکاة ورکونکي سره ډیره مینه پیدا کیږي تردې چه د هغه غلامئ ته تیار وي.

(٥) د مال د نعمت شکر ادا کول دي.

(٦) د امت د افرادو سره اجتماعي تعلقات مضبوطیږي.

(٧) په زکاة ادا کولو سره مصیبتونه ختمیږي او نور نعمتونه حاصلیږي. لکه حدیث کې دي : ((په زکاة نهٔ ادا کولو سره د آسمان نه بارانونه پندیږي)). (طبراني وصحيح الجامع : ٥٢٠٤)

(٨) په زکاة ادا کولو سره د الله تعالیٰ په حکم باندې عمل رازي.

(٩) څوك چه د زکاة ادا کوي هغه سره به حاکم وقت قتال نهٔ کوي.

(۱۰) په زكاة ادا كولو سره مومن باندے په هر كار كى آسانى رازى لكه آيت كى دى : ﴿ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرٰى ﴾ (الليل:۸)۔ باقى فوائد په فتاوى الدين الخالص (۱۰۳/۸) كى وګوره۔

پدے باب كى اول د زكاة په نه وركولو د وعيد احاديث راوړى روسته احكام بيانوى۔

الفصل الأول

- 1772(1) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ بَعَثَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ فَقَالَ : "إِنَّكَ تَأْتِي قَوْمًا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ، فَادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ. فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذٰلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذٰلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ فِي فُقَرَائِهِمْ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذٰلِكَ، فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللهِ حِجَابٌ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : د سيدنا ابن عباس رضى الله عنهما نه روايت دے چه بيشكه رسول الله ﷺ معاذ ﷺ (قاضى مقررولو سره) يمن ته وليږلو نو هغه ته ئے وفرمايل : يقيناً ته به ورځے داسے يو قوم ته چه اهل كتاب (يهود او نصارىٰ) دى نو دوى راووبله ګواهى ددے خبرے ته چه نشته حقدار د بندګۍ سوىٰ د الله نه او يقيناً محمد (ﷺ) د الله رسول دے نو كه دوىٰ دا خبره ومنله نو خبر وركړه (تعليم وركړه) چه بيشكه الله تعالىٰ په دوى باندے پنځه مونځونه په ورځ او شپه كى فرض كړيدى، نو كه دوى دا خبره (هم) ومنله نو خبر وركړه چه بيشكه الله تعالىٰ په دوى باندے (چه څوك د نصاب مالك وى) زكاة فرض كړيدے چه د دوى د مالدارو نه به اخستے شى او د دوى په غريبانو به واپس كولے شى، نو كه دوى دا خبره (هم) ومنله نو ځان وساته د عزتمنو (غوره) مالونو د دوى نه (يعنى په زكاة كى به د دوى نه اعلىٰ قسم مال نۀ اخلے بلكه درميانه به اخلے) او ويريږه د ښيرو د مظلوم نه ځكه نشته ددے او د الله ترمينځ هيڅ پرده (يعنى سيده الله تعالىٰ ته رسيږى) (بخارىؒ ومسلمؒ)

تشريح : په مسند احمدؒ كى ورسره داسے راغلى دى چه كله رسول الله ﷺ معاذ ﷺ لره يمن ته ليږلو نو د هغه سره يو ځاى پورے ووتلو او معاذؓ ئے په سورلۍ باندے

کینولو او هغه ته ئے دا وصیتونه وکړل۔
د رسول الله ﷺ معاذ لره یمن ته لیږل د حجة الوداع نه مخکی د هجرت په لسم کال وو لکه دا خبره امام بخاریؒ د کتاب المغازی په آخر کی ذکر کړیده او ابن سعدؒ ویلی دی چه دا د ربیع الاول میاشت وه، معاذؓ په یمن کی وو تردے چه بیا د سیدنا ابوبکر صدیق ﷺ په زمانه کی مدینے ته راغلو بیا د هغے نه شام ته لاړو او هلته وفات شو۔
فائده: رسول الله ﷺ یمن ته پنځه کسان لیږلی وو خالد بن سعیدؓ ئے صنعاء ته او مهاجر بن ابی امیهؓ ئے کِنُدَه ته او زیاد بن لبیدؓ ئے حضرموت ته او معاذ بن جبلؓ ئے جُنند ته او ابو موسی الاشعریؓ ئے زُبید، زَمعه، عَدَن او ساحِل ته لیږلی وو۔ (الاستیعاب لابن عبد البر)
مِنُ أَهُلِ الُكِتَاب: دا خبره ورته ولے کوی چه ته اهل کتابو طرف ته روان ئے ؟ پدے کی د هغه ذهن جوړوی او همت ورله قوی کوی چه ته به په دعوت کی د ډیرے هوښیارتیا نه کار اخلے، د هغوی د مناظرے دپاره به ځان تیاروے ځکه چه ته کوم قوم طرفته روان ئے هغه د کتاب والا دی نو څه نا څه علم ورسره شته، د جاهلانو او بت پرستو په شان دعوت به دوی ته نشی ورکولے بلکه ډیر په ښکلے انداز به ورسره خبره کولے شی چه دوی متأثره شی۔ بیا چونکه اکثر خلك په یمن کی اهل کتاب وو پدے وجه ئے هغوی ذکر کړل اګرکه په یمن کی به غیر اهل کتاب هم وسیدل لیکن دوی ئے د اهمیت په وجه ذکر کړل۔
فائده: پدے کی معرفة المدعوین دے او دا په باب د دعوت کی ډیره فائده ورکوی۔ (یعنی چا ته چه دعوت ورکولے شی د هغوی حال پیژندل)
نبی ﷺ څنګه وپیژندل چه دوی اهل کتاب دی؟، نو یا خو په وحی سره یا په تجربه او معلومات سره۔ او دا دویمه وجه ظاهره ده ځکه چه دوی مشهور وو۔
اول دعوت به د توحید او د رسالت ګواهئ طرفته وی، دواړه ضروری دی، یو باندے اکتفاء کول صحیح نهٔ دی ځکه ئے دواړه جمع کړل۔ بیا ئے د توحید نه شروع وکړه ځکه چه دا د ایمان بنیاد دے، نور اعمال پدے باندے بناء دی۔
مسئله: آیا کفار مخاطب بالفروع دی ؟ (۱) د اشاعرهٔ مذهب دا دے چه نهٔ دی (۲) او اهل تحقیق وائی چه کفار په احکام شرعیهٔ باندے مخاطب دی۔ لکه ددے مسئلے

تفصیل ددے کتاب په اول جلد کی دوباره کتل فائده ورکوی۔
او ددے حدیث نه دا نۀ ثابتیږی چه کافران په فروع او اعمالو باندے مکلف نۀ دی نۀ بلکه دلته د دعوت ترتیب بیانوی چه اول به ایمان ته دعوت ورکولے شی بیا اعمالو ته ځکه اعمال د ایمان نه مخکی قبول نۀ دی او دا ددے نفی نکوی چه ګنے په کافرانو زکاة وغیره اعمال نشته، کافرانو ته د الله تعالیٰ او د هغه د رسول هر حکم متوجه دے که هغه د ایمان سره تعلق لری او که د اعمالو سره لکه دا خبره د نورو دلائلو نه ثابته ده۔ ﴿وَاِذَا قِيلَ لَهُمْ اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللهُ﴾ (یس) ﴿قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ﴾ ﴿وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ﴾ (الماعون)
سوال : ددے اختلاف څه فائده ده اګرکه کافران دا کارونه وکړی بیا هم نۀ قبلیږی ؟ نو فائده ددے په عذاب کی ښکاره کیږی، نو کوم کسان چه وائی کفار په اعمالو مخاطب نۀ دی نو هغوی وائی چه د کفارو نه به په قیامت کی د مونځونو په باره کی تپوس نکوی بلکه د ایمان تپوس به ترے کوی چه ولے مو ایمان نۀ راوړو؟ نو صرف په نۀ ایمان به عذاب ورکوی نۀ په پرېښودو د اعمالو۔ او څوك چه وائی مخاطب دی نو د هغوی په نیز سزا په دواړو ده۔
أَطَاعُوْا : که دوی تابع شو دے ته او غاړه ئے کیخوده۔
خَمْسَ صَلَوَاتٍ : ۱– دا دلیل دے چه په ټول امت باندے پنځه مونځونه فرض دی او هیڅ علاقه ددے نه مستثنیٰ نۀ ده، نۀ برازیل والا او نۀ ناروی او نور ملکونه۔
۲– علامه سندیؒ لیکی چه دا دلیل دے چه وتر واجب نۀ دی لکه دا د جمهورو او په احنافو کی د صاحبینوؒ مذهب دے آه۔ا وهمدا خبره ظاهره ده ځکه چه د معاذ ﷺ لیږل د نبی ﷺ د وفات نه لږ مخکی وو۔
تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ :

آیا د نقودو زکاة به بادشاه ته ورکولے شی ؟

بعض علماؤ دا دلیل ګرځولے دے چه هر قسم مال که ظاهری مالونه وی لکه ګډے بیزے حیوانات وغیره او که باطنی مالونه وی لکه نقود (سرۀ سپین) دا به د وخت بادشاه او خلیفه اخلی او مالك به خپل تصرف نۀ کوی ځکه دے حدیث کی دا راغلل چه دا به د مالدارونه اخستے شی یعنی امام او د هغه نائب به ئے اخلی۔ مګر بعض

فقهاء دا وائی چه د معاذؓ دا حدیث صرف د ځارووا و د عشر په باره کی دے او باطنی اموال بادشاه وخت ته ورکول لازم نهٔ دی۔ لیکن بعض علماء وائی چه پدے فرق باندے څه دلیل نشته نو ظاهره دا ده چه که صحیح خلیفه موجود وی نو هغه ته د هر قسم مال زکاة ورکول لازم دی او که نهٔ وی بیا د مالك خپل اختیار دے۔ لکه ددے خبرے تفصیل علامه شوکانیؒ په السیل الجرار (۲٦۲/۱) کی کړیدے او علامه ابوالحسن المبارکفوریؒ په المرعاة (٦/٦) کی غوره کړیدے۔

لیکن صحیح خبره دا ده چه باطنی اموال (نقود) بادشاه ته ورکول لازم نهٔ دی او دلیل پدے باندے دا دے چه په هیڅ صحیح حدیث کی ددے خبرے صراحت نشته چه نبی ﷺ او د هغه خلفاءِ راشدینو خپل عاملان د باطنی اموالو د راټولو دپاره لیږلے وی بلکه هغوی به صرف د ظاهری مالونو نه زکاة اخستو۔ نو په «فقه السنه» کی چه سید سابق صاحبؒ دا خبره کړیده چه خلفاء راشدینو به د دواړو قسمه مالونو د راټولو دپاره عاملان لیږل نو پدے باندے هیڅ دلیل نشته، شیخ البانیؒ پرے په «تمام المنه» کی سخت رد کړیدے۔ بلکه دلیل ددے په خلاف موجود دے ابوعبیدؒ په کتاب الاموال (۱٦٤٤) کی وائی: په سره او سپینو کی سنت دا ده چه خلك پدے باندے مؤتمنین دی نو زکاة به خپله ورکوی۔ دارنگه ابوعبیدؒ په رقم (۱۸۰۷) او بیهقیؒ (۱۱٤/٤) او مسند ابن الجعدؒ ص (٤۲۸) رقم الحدیث (۲۹۲۲) کی د ابوسعید المقبریؒ نه نقل کړیدی چه ما عمر بن الخطاب ﷺ ته د خپل زکاة مال راوړو دوه سوه درهمه، هغه ته مے وویل دا زما د مال زکاة دے نو هغه فرمایل: اے کیسانه! تا غلام آزاد کړے؟، ما وویل: آؤ، وے فرمایل: ځهٔ لاړ شه دا خپله تقسیم کړه۔ (واسناده جید)

نو دلته عمر فاروق ﷺ د زکاة تقسیمول د مال مالك ته وسپارل نو د خلیفه راشد عمر فاروق ﷺ د طرف نه خو د باطنی مال زکاة مالك ته وسپارل شو، ددے وجه نه امام بیهقیؒ پدے اثر باندے داسے باب تړلے دے: (بَابُ الرَّجُلِ يَتَوَلّٰى تَفْرِيْقَ زَكَاةِ مَالِهِ الْبَاطِنَةِ بِنَفْسِهٖ) ددے خبرے بیان چه سړے په خپله د خپل باطنی مال د زکاة تقسیمولو واکدار کیدے شی۔

او ددے حکمت دا دے چه د باطنی مالونو حفاظت حکومتِ اسلامی نهٔ کوی بلکه خپله مالکان ئے کوی نو مناسب ده چه د هغے نه حکومت زکاة وانخلی بلکه مالك ئے

په خپله خوښه تقسیم کړي. تفصیل دپاره رجوع وکړه (فتاوى الدين الخالص (۲۰٤/۸)) ته.

فائده : اغنياء نه معلومه شوه چه زکاة به غني ته نشي ورکولے، مگر که چا په ناخبرئ کې یو غني ته صدقه یا زکاة ورکړو آیا دا به ادا وي که نه؟ بعض علماء وائي نۀ ادا کیږي، مگر ظاهر دا ده چه ادا کیږي. دليل پرے هغه حديث دے چه امام بخاريؒ وغیره راوړيدے چه یو سړي د شپے صدقه کوله نو هغه په مالداره باندے واقع شوه الخ او صدقه فرضي او نفلي دواړو ته شامل ده، د هغه حديث نه معلوميږي چه دوباره زکاة ورکول لازم نۀ دي كما سيأتي.

فَتُرَدُّ فِي فُقَرَائِهِمْ : فقيران ئے ذكر كړل نۀ نور اقسام؟ يا خو د اغنياؤ په مقابله کې، یا پدے وجه چه په هره زمانه کې فقراء زيات دي او هغوی کې به هم زيات وو، يا دا په تخصيص باندے دلالت نکوي، بلکه جائز ده چه زکاة اته واړه مصارفو ته ورکړے شي كوم چه په سورة التوبه کې ذکر دي هر یو ته ئے چه ورکړل زکاة ادا شول.

بیا دا حديث دليل دے چه د زکاة مال به د خپل کلي نه نۀ وباسي.

مسئله : د زکاة مال د خپل کلي نه نقل كول څنګه دي؟

(۱) امام ابوحنيفةؒ، ليث بن سعدؒ او صاحبينؒ وائي چه د زکاة مال به د دغه کلي نه بهر نۀ وباسي او دا قول ابن المنذرؒ د امام شافعيؒ نه نقل كړيدے او غوره كړے ئے دے.

(۲) جمهور شوافعؒ او مالكيهٔ او جمهور علماء وائي چه د خپل کلي نه زکاة د بل کلي فقيرانو ته نقل كول جائز دي. تحقيقي قول دا دے چه نقل کول د زکوة بل ځای ته حرام دي، زكاة به ئے نۀ ادا کیږي كله چه بل کلي کې مستحق نۀ وي، او دے کلي کې مستحقين موجود وي. ځکه پدے کې د فقيرانو حق تلفي رازي، البته كه پدے کلي کې خلق مستحق نۀ وي يا په بل ځای کې مصلحت زيات وي نو هلته نقل كول جائز دي.

ابن دقيق العيدؒ وائي دلته : (في فقرائهم) کې ضمير خاص يمن والو ته نۀ دے راجع بلکه مسلمانانو ته راجع دے لکه دا د نصوصو شرعيه ؤ خاصيت دے چه ضمير اګرکه خاص کسانو يا خاص علاقے والو ته راجع وي ليکن مراد ترے عام وي نو دلته مسلمانانو ته ضمير راجع دے يعنې زكاة به د مسلمانانو فقيرانو ته ورکولے شي دا كه

په هر طرف کې وي نو دا بـه بعینه د ظاهر د حدیث سره موافق وي، او دا خبره د امام بخاریؒ د عبارت نـه هـم معلومېږي. حافظ ابن حجرؒ وائي چه د حدیث نه دا خبره زر ذهن تـه راځي چه زکاة د خپل کلي نه بهر نکړے شي. او هرچه حدیث د معاذؓ دے نو هغـه محمول دے په جزیه باندے، د هغې انتقال مدینه ته شویدے فتدبر. لکه معاذ بن جبلؓ به په جزیه او عشر کې د یمن والو نه جامے وغیره اخستلے او بیا به ئے وئیل چه دا د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو دپاره غوره دي او بیا به ئے مدینے ته رالیږلے.

وَکَرَائِمَ : جمع د کَرِیْمَةٌ ده غوره مال ته وائي لکه شکل ئے ښائسته وي، څورب وي، وږئ پړے زیاته وي.

وَاتَّقِ دَعْوَةَ : کـلـه چه انسان مشر شي نو خطره وي چه د هغه نه ظلم وشي نو اوس ئے د ظلم نه منع کوي چه ظلم په چا مهٔ کوه ځکه چه د مظلوم ښیرے دائرك قبلیږي، د الله او د هغې په مینځ کې هیڅ پرده او مانع نهٔ وي سیده قبلیږي، اګرکه په هغه مظلوم کې هر څومره فسق او فجور او ګـنـاهونه وي، یا اګرکه حرام خور یا کافر وي، په یو حدیث د مسند احمد کې مرفوعاً نقل دي: (دَعْوَةُ الْمَظْلُوْمِ مُسْتَجَابَةٌ وَاِنْ کَانَ فَاجِرًا فَفُجُوْرُهٗ عَلٰی نَفْسِهٖ) واسناده حسن) (قاله الهیثمی والمنذری والحافظ) (فتح الباری ۳/۳۶۰) ومجمع الزوائد (۱۱/۱۰٤) رقم (۱۷۲۲۷).

د مظلوم ښیرے قبلیږي اګرکه هغه بدکاره وي ځکه چه د هغه د بدکارئ ضرر په هغه باندے دے.

فوائد الحدیث : ۱- امام او داعي له پکار دي چه داعیان تیار کړي او الله او د هغه توحید او دین طرفته دعوت ورکړي او خلکو ته ئے امامان او قاضیان ولیږي.

۲- د معاذ بن جبلؓ فضیلت معلوم شو چه دا په حلال او حرامو باندے ډیر پوهه وو.

۳- په بنده باندے اول فرض د الله توحید پیژندل دي او بیا اول دعوت توحید طرفته اهم دے. ٤- داعي له پکار دي چه چا ته دعوت ورکوي د هغوي حال وپیژني (تَأْتِيْ قَوْمًا اَهْلَ کِتَابٍ) دے دپاره چه د هغوي د حال مطابق د هغوي دپاره تیارے وکړي.

۵- د عالم سره جدا طریقه د دعوت ده او د جاهل سره جدا.

۶- اهم شے به په دعوت کې مخکې کوي. ۷- په تعلیم او دعوت کې به تدریج کوي په یو ځل به هر څه نهٔ بیانوي ځکه چه بیا د نفرت خطره ده.

٨- زكاة اخستونكي له پكار دي چه د مالك سره انصاف وكړي او د هغه نه غوره غوره مال وانخلي بلكه درميانه مال واخلي۔

٩- خبر واحد قطعي حجت دے پدے وجه ئے معاذ يمن ته يوازے وليږلو۔

١٠- بعض خلك هميشه توحيد ته دعوت وركوي او سنت نۀ بيانوي، استدلال په دے حديث كوي، دا غلطه ده بلكه الاهم فالاهم به بيانولے شي، لوط عليه السلام د بي حيائي نه منع كړيده۔ تول قرآن كريم كي د هغه په واقعه كي د بي حيائي نه منع ذكر ده، صرف يو ځاى كي ﴿فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ﴾ وئيل شويدے۔ (سورة الشعراء : ١٦٣)

سيدنا ابوبكر صديق ﷺ د زكاة د منع كونكو په واقعه كي وفرمايل :

(أَيُنْقَصُ الدِّيْنُ وَأَنَا حَيٌّ، إِنَّهُ اِنْقَطَعَ الْوَحْيُ وَتَمَّ الدِّيْنُ)۔

آيا دين به كميږي او زۀ به ژوندے يم، يقيناً وحي بنده شويده او دين پوره شويدے۔

١١- لفظ د (اغنياء) دليل دے چه زكاة په مال دے نۀ په ذمه نو زكاة به په ليوني، ماشوم او بالغ ټولو باندے وي لكه ددے بيان نزدے راروان دے ان شاء الله تعالىٰ۔

- 1773(2) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَا مِنْ صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلَا فِضَّةٍ لَايُؤَدِّيْ مِنْهَا حَقَّهَا إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ صُفِّحَتْ لَهُ صَفَائِحَ مِنْ نَارٍ فَأُحْمِيَ عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَيُكْوٰى بِهَا جَنْبُهُ وَجَبِيْنُهُ وَظَهْرُهُ كُلَّمَا بَرَدَتْ أُعِيْدَتْ لَهُ فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِيْنَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتّٰى يُقْضٰى بَيْنَ الْعِبَادِ فَيَرٰى سَبِيْلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ. قِيْلَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ فَالْإِبِلُ ؟ قَالَ : " وَلَا صَاحِبُ إِبِلٍ لَا يُؤَدِّيْ مِنْهَا حَقَّهَا وَمِنْ حَقِّهَا حَلْبُهَا يَوْمَ وِرْدِهَا إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ أَوْفَرَ مَا كَانَتْ لَايَفْقِدُ مِنْهَا فَصِيْلًا وَاحِدًا تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا وَتَعَضُّهُ بِأَفْوَاهِهَا كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُوْلَاهَا رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِيْنَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتّٰى يُقْضٰى بَيْنَ الْعِبَادِ فَيَرٰى سَبِيْلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ، قِيْلَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ فَالْبَقَرُ وَالْغَنَمُ ؟ قَالَ : " وَلَا صَاحِبُ بَقَرٍ وَلَا غَنَمٍ لَايُؤَدِّيْ مِنْهَا حَقَّهَا إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ لَايَفْقِدُ مِنْهَا شَيْئًا لَيْسَ فِيْهَا عَقْصَاءُ وَلَاجَلْحَاءُ وَلَاعَضْبَاءُ تَنْطَحُهُ بِقُرُوْنِهَا وَتَطَؤُهُ بِأَظْلَافِهَا كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُوْلَاهَا رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِيْنَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتّٰى يُقْضٰى بَيْنَ الْعِبَادِ

فَيَرىٰ سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ. قِيلَ : يَا رَسُولَ اللهِ فَالْخَيْلُ ؟ قَالَ : " اَلْخَيْلُ ثَلَاثَةٌ : هِيَ لِرَجُلٍ وِزْرٌ وَهِيَ لِرَجُلٍ سِتْرٌ وَهِيَ لِرَجُلٍ أَجْرٌ. فَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ وِزْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا رِيَاءً وَفَخْرًا وَنِوَاءً عَلَى أَهْلِ الْإِسْلَامِ فَهِيَ لَهُ وِزْرٌ. وَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ سِتْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ ثُمَّ لَمْ يَنْسَ حَقَّ اللهِ فِي ظُهُورِهَا وَلَا رِقَابِهَا فَهِيَ لَهُ سِتْرٌ. وَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ أَجْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ فِي مَرْجٍ أَوْ رَوْضَةٍ فَمَا أَكَلَتْ مِنْ ذٰلِكَ الْمَرْجِ أَوِ الرَّوْضَةِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا كُتِبَ لَهُ عَدَدَ مَا أَكَلَتْ حَسَنَاتٌ وَكُتِبَ لَهُ عَدَدَ أَرْوَاثِهَا وَأَبْوَالِهَا حَسَنَاتٌ وَلَا تَقْطَعُ طِوَلَهَا فَاسْتَنَّتْ شَرَفًا أَوْ شَرَفَيْنِ إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ عَدَدَ آثَارِهَا وَأَرْوَاثِهَا حَسَنَاتٍ وَلَا مَرَّ بِهَا صَاحِبُهَا عَلَى نَهْرٍ فَشَرِبَتْ مِنْهُ وَلَا يُرِيدُ أَنْ يَسْقِيَهَا إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ عَدَدَ مَا شَرِبَتْ حَسَنَاتٍ، قِيلَ : يَا رَسُولَ اللهِ فَالْحُمُرُ ؟ قَالَ : " مَا أُنْزِلَ عَلَيَّ فِي الْحُمُرِ شَيْءٌ إِلَّا هٰذِهِ الْآيَةُ الْفَاذَّةُ الْجَامِعَةُ (فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ) الزلزلة . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : د ابو هریره ﷺ نه روایت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ وفرمایل : نشته یو مالك د سرو او سپینو چه د هغے نه د هغے حق نهٔ ادا کوی مګر کله چه ورځ د قیامت شی (نو) دهٔ له به د اُور تختئ جوړی کړے شی (یعنی دا تختے به د سرو او سپینو نه وی مګر دا به په اُور کی دومره ګرمے شوی وی چه ګویا که دا به د اُور تختئ وی) بیا به دا په اُور د جهنم کی ګرمے کړے شی نو په هغے سره به ددهٔ اړخ او تندے او ملا داغلے شی، هرکله چه دا تختے واپس کړے شی (یعنی دا تختے یخے کړے شی نو اُورته به واپس کړے شی) بیرته به دهٔ ته راواپس کړے شی (او دا عذاب به) په هغه ورځ کی وی چه د هغے اندازه پنځوس زره کاله ده تردے چه فیصله به وکړے شی د بندګانو ترمینځ نو دے به خپله لاره وینی چه یا به جنت ته وی یا به اُورته (وی) (یعنی دا عذاب ئے صرف د قیامت په میدان کی دے زوستو به ورسره حساب کتاب وشی نو یا به جنت ته لاړ شی او یا به بیا اُورته واپس شی)، اُووئیلے شو اے د الله رسوله ! نو د اُوښانو والا (د زکاة نهٔ ورکولو) به څه حال وی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : نشته اوښانو والا چه د هغے نه د هغے حق (زکاة) نهٔ ادا کوی او ددے د حقوقو نه (یو حق دا دے چه) د هغے لشل وکړی په

هغه ورځ چه اُوبو ته ئې راولي (او اُوبه پريږي څکوي چه د هغې نه د دغه ځاى حاضر غريبانو ته پيئ ورکړي) مگر کله چه ورځ د قيامت شي نو دې به پرمخې څملولې شي اُوښانو ته په يو هموار ميدان کې چه ډير پوره به وي (په شمار او څورب والي کې) د هغه حالت نه چه (په دنيا کې) وو، مالك به نۀ ورك کوي د هغې نه يو بچې هم (يعنى ددې شخص ټول اوښان به هلته موجود وي تردې چه د هغې بچي به هم د هغې سره وي او ډير تازه او چاق به وي دې دپاره چه مالك ته ښه تکليف ورکړي) نو هغه اُوښان به دې شخص لره په خپلو خپو سره غوبل (چيت، چخپيت) کوي او په خپلو خُلو سره به پرې چکونه لگوي هرکله چه په دۀ باندې ددې اوښانو اول سر تير شي نو راواپس به کړې شي په دۀ باندې روستنې سر د هغې (دا عذاب به) په هغه ورځ کې وي چه د هغې اندازه پنځوس زره کاله ده تردې چه فيصله وکړې شي د بندگانو ترمينځ نو دې به خپله لاره ويني يا جنت ته او يا اُور طرفته. بيا صحابه کرامو عرض وکړو اې د الله رسوله ! نو د غواگانو او گډو بزو (د زکاة منع کونکي) حال به څه وي؟ وې فرمايل: نشته يو مالك د غواگانو او گډو بزو چه د هغې نه د هغې زکاة نۀ ورکوي مگر کله چه ورځ د قيامت شي نو دې به پرمخې څملولې شي هغې ته په يو هموار فراخه ميدان کې نۀ به ورك کوي د هغې نه هيڅ شے (ټولې به راوستې شي)، نۀ به وي په هغې کې کوږ ښکر او مات شوي ښکر والا او نۀ بې ښکرو، وهي به دۀ لره په ښکرو سره او چخپت کوي به دۀ لره په خپلو خپو سره، هرکله چه تير شي په دۀ باندې اوله ډله د هغې راواپس به کړې شي په دۀ باندې بله ډله د هغې (او همدا عذاب به دغه شان جاري وي) په هغه ورځ چه اندازه د هغې پنځوس زره کاله ده تردې چه فيصله وکړې شي په مينځ د بندگانو کې نو ويني لاره خپله يا جنت ته او يا اُور ته. صحابه کرامو عرض وکړو اې د الله رسوله ! د اسونو په باره کې څه حکم دې؟ وې فرمايل: اسونه درې قسمه دي (۱) يو هغه اسونه دي چه د سړي دپاره د گناه سبب وي او بل هغه اسونه دي چه د سړي دپاره پرده وي او بل هغه اسونه دي چه د سړي دپاره د ثواب ذريعه جوړيږي، هرچه هغه اسونه دي چه د سړي دپاره د گناه سبب وي نو د هغه سړي اسونه دي چه دا ئې د رياء او د فخر او د مسلمانانو سره د دشمنۍ دپاره ترلي وي، او هرچه هغه اسونه دي چه د سړي دپاره پرده وي نو د هغه سړي اسونه دي چه دا ئې د الله په لاره کې د (کار اخستو

دپاره) ترلی وی بیا ئې د الله حق د هغې په شاګانو او څټونو کې نهٔ وی هیر کړې نو دا اسونه ددهٔ دپاره پرده ده او هرچه هغه اسونه دی چه د سرې دپاره د ثواب سبب وی نو د هغه شخص اسونه دی چه هغه ئې د الله په لاره کې (د جهاد دپاره) د مسلمانو دپاره په یوه چراګاه او باغیچه کې ترلی وی نو اسونه چه د دغه چراګاه او باغیچې نه څه خوراك کوی نو ددې شخص دپاره به په شمار د هغې (یعنی د ګیاه وغیره د شمار مطابق) نیکیانی لیکلې کیږی او ددهٔ دپاره په شمار د خوشیانو او متیازو نیکیانی لیکلې کیږی (ځکه خوشائی او متیازې هم د اسونو د ژوند نتیجه ده) او اسونه چه رسئ (پړې) وشوکوی او په یو یا دوه میدانو (یا اُوچت ځایونو) باندې منډه کړی نو الله تعالیٰ به د هغوی د قدمونو د نښو او د هغوی د خوشیانو (کوم چه د منډې په حالت کې ئې کړی وی) د شمار په اندازه نیکیانی لیکی او دا مالك نهٔ تیروی دغه اسونه په یو نهر باندې چه هغوی د هغې نه څکل وکړی او ددې شخص اراده هم نهٔ وی چه هغې ته اُوبه ورکړی نو الله تعالیٰ به د اسونو د اُوبو په اندازه ددې شخص دپاره نیکیانی ولیکی۔ صحابه کرامو عرض وکړو چه اے د الله رسوله! ښه، د خرو په باره کې څه حکم دے؟ وې فرمایل: په ما باندې د خرو په باره کې هیڅ حکم نهٔ دے نازل شوې مګر (د ټولو نیکیانو او اعمالو په باره کې) دا یواځینې جامع آیت دے (چه هر نیك عمل ئې راجمع کړیدې): فمن یعمل: (ترجمه: چا چه نیك عمل وکړو په اندازه د ذرې نو هغه به (په قیامت کې) وینی او چا چه بد عمل وکړو په اندازه د ذرې نو هغه به (په قیامت کې) وینی۔ (مسلمؒ)

تشریح: صُفِّحَتْ: په معنیٰ د جُعِلَتْ دے یعنی وبه ګرځولې شی۔

صَفَائِحَ: جمع د صَفِيْحَةٌ ده تبئ ته وائی او دا عذاب به په د قیامت په میدان کې وی۔

جَنْبُهٗ: دا درې اندامونه ئې خاص کړل ځکه چه دا ډېر دی نو دے ته حرارت (ګرمائش) په جلتئ سره رسیږی، دارنګه په مخ کې داغ ډیر بد ښکاری او په اړخ او په شا کې ډیر دردمند وی۔ دارنګه دهٔ زکاة نهٔ ورکولو ځکه چه دهٔ پدې سره ځان مالداره کولو، خپل وجاهت او مخوریزی ئې طلب کوله او د دنیا خوندونه او مزې ئې حاصلولې۔ دارنګه کله چه به سوالګر ددهٔ نه طلب وکړو نو دهٔ به مخ وران کړو او اړخ او شا به ئې ورته راړوله۔

خَمْسِيْنَ أَلْفَ سَنَةٍ : دا پنځوس زره کاله ورځ په کافرانو ده او په عامو ګناهګارو به د هغوی د ګناهونو په اندازه اوږده ورځ وی او په کاملو مؤمنانو باندے به د فرض مانځه په مقدار یا عشیة او ضحها په اندازه وی ۔ کما فی البعث والنشور والمشکاة (۲)

فَالْإِبِلُ ؟ : یعنی عَرَفْنَا حُكْمَ النُّقُوْدِ فَمَا حُكْمُ الْإِبِلِ؟ ۔ مونږ خو د نقودو حکم وپیژندلو نو د اُوښانو به څه حکم وی؟۔

وَمِنْ حَقِّهَا حَلْبُهَا : اُوس نبی ﷺ په مینځ کی د جملے مُعترضے په شکل ددے حیواناتو یو حق بیانوی چه پدے کی رد دے په عادت د عربو چه کله به هغوی دوه درے ورځے اُوښان څرول نو بیا به ئے اوبو ته راوستل نو بیا به ئے اُوښان کور کی لوشل دے دپاره چه فقیران ترے سوال ونکړی نو نبی ﷺ وائی چه حق د اُوښانو دا دے چه دا به په ګودر کی لوشے دے دپاره چه کوم خلك ګودر ته حاضر شوی وی هغوی له ترے هم څه پئ ورکړے شی، کور کی به ئے پټ نۀ لوشی، دا هم د جمهورو علماؤ په نیز واجب نۀ دی لیکن ضروری حق دے، نبی ﷺ ورته حق وئیلے دے او الله کله نا کله په ترك د نوافلو او مستحباتو هم عذاب ورکوی څکه د هغه د لوی شان تقاضا دا ده چه ټول هر څه د هغه په نوم ورکړے شی۔ دارنګه د قاضی اسماعیل نه نقل دی چه حقونه دوه قسمه دی یو فرضی حق دے چه د هغے حد معلوم وی او بل غیر محدود فرض وی دا په اعتبار د اوقاتو او اشخاصو سره مختلف کیږی، کله یو مستحب عمل په بعضو اوقاتو کی لازم ګرځی، لکه مړی ته کفن ورکول، وږی ته ډوډئ ورکول، بربنډ ته جامے ورکول۔

يَوْمَ وِرْدِهَا : وِرْد په کسره د واو سره ګودر ته راتلو ته وائی۔ دارنګه اوبو ته د راتللو نمبر ته هم وائی۔ څکه اُوښان درے او څلور او کله اته ورځے پس اوبو ته بوتللے شی۔

صَاحِبُ بَقَرٍ : په بقر کی جاموس هم داخل دے د لغت په اعتبار سره څکه چه جاموس په اصل کی ګاؤمیش دے، نو ګاؤ خو غوا شوه او میش ګډانو ته وائی او میښه په شکل د ګډانو ده، د فارسی لفظ دے۔ ۲- دویم دا چه که دا د بقر نه یوه نوع نشی نو بیا خو پکار ده چه په اُوښانو کی هم صرف په یوه نوع کی زکاة واجب شی نۀ په نورو انواعو کی چه درے انواع دی بُخْتِی، عِرابی، سَروسی نو د هر یو نوم خو حدیث کی نشته لیکن په مطلق اِبل کی داخل دے، دارنګه جاموس په مطلق بقر کی

داخل دي. ۳- دریم دا چه علي ﷺ په جاموس باندي قرباني کړې لکه په مسند الفردوس الديلميؒ او حديث د ابن ابي شيبةؒ ۳/) کې راغلي دي چه صحابه کرامو به ترې زکاة اخستلو کما في الدين الخالص (٦/)

٤- څلورم: په اجماع د مسلمانانو سره په جاموس کې زکاة شته دا ځکه چه دا د بقر يوه نوع ده او نبي ﷺ ندی ذکر کړی ځکه چه دا د عربو په زمکه په کثرت سره نۀ وه.

بُطِحَ: يعني په زمکه به پرمخې وغورزولې شي.

قَرْقَرٍ : خوښئې، يا هوار برابر، په دويمه معنیٰ سره به دا تاکيد وی د قاع ځکه قاع هم فراخه هوار ميدان ته وائي.

عَقْصَاءُ : دا هغه گډه بيزه ده چه ښکرئې کوږ وي.

وَلَاجَلْحَاءُ : دا هغه ده چه ښکرئې بيخي نۀ وي.

وَلَاعَضْبَاءُ : دا هغه ده چه ښکرئې مات شوې وي. دا درې واړه ئې ځکه نفي کړل دې دپاره چه خپل مالك ته په ډغرو سره ښه ضرر ورکړي. او ظاهر د حديث دا دې چه دې حيواناتو ته به الله تعالیٰ دا ښکرې ورکړي دې دپاره چه د زکاة منع کونکي ته سزا ورکړي.

تَنْطَحُهُ : د ضرب او فتح نه راغلي دې. په ښکر باندې وهلو ته وئيلې شي.

فَالْخَيْلُ ؟ : يعني د اسونو څه حکم دې؟ آيا پدې کې به زکاة واجب وي چه د هغې په نۀ ادا کولو به عذاب وي او که نۀ ؟

قَالَ : " اَلْخَيْلُ ثَلَاثَةٌ : يعني پدې کې زکاة نشته بلکه اسونه درې قسمه دي. طيبيؒ وائي دا جواب په طريقه د اسلوب الحکيم دې يعني د اسونو د وجوب په باره کې تپوس مۀ کوه ځکه پدې کې څه واجب حق نشته ليکن ددې په ساتلو کې د فائدو او ضرر تپوس وکړه. او دا حکم د کارو موترو هم دې چه دغه درې قسمه پکې جوړيږي.

مسئله :١- د امام مالكؒ او شافعيؒ او جمهورو په نيز په اسونو کې زکاة نشته مګر که د تجارت دپاره ساتلې شوي وي نو بيا به په هغې کې زکاة وي لکه څنګه چه نور اموال التجارة کې شته او په هغې کې زکاة لازميدل پدې وجه نۀ دي چه دا اسونه دي بلکه پدې وجه دي چه دا د تجارت مال دې، اخستلې خرڅولې شي او مقصد د هغې په خرڅولو اخستو کې ګټه کول وي. (۲) د امام ابوحنيفةؒ په نيز په اسونو کې زکاة

شته مګر صرف یو اس چه د خدمت او د سورلۍ دپاره وی یا هغه اسونه چه صرف نارینه وی او ښځې ورسره نۀ وی نو په هغې کې بیا زکاة نشته، او که نارینه او ښځې دواړه وی نو پدې کې زکاة واجب دے او د زکاة په ورکولو کې مالك اختیار مند دے چه د هر اس د طرف نه یو دینار ورکوی او که خوښه ئې شی نو د هغې قیمت دے ولګوی او د قیمت څلویښتمه برخه دے ورکړی لکه څنګه چه د روپو زکاة ورکولے شی یعنی په هر څلویښتو زرو کې به زر روپۍ ورکوی۔

احناف ددے روایت ددے الفاظو نه دلیل نیسی چه (فی رقابها وظهورها) چه د څټونو حق ئې دا دے چه د هغې نه زکاة ورکړے شی۔ نور صریح دلیل نشته۔

جمهور علماء دلیل نیسی د فصل ثانی په راتلونکی حدیث باندے (قَدْ عَفَوْتُ عَنِ الْخَيْلِ وَالرَّقِيْقِ) یعنی ما تاسو ته د اسونو د زکاة په باره کې معافی کړیده)۔

او د (رقابها وظهورها) نه جوابونه کوی چه د رقابو (څټونو) حق ئې دا دے چه چا ته اسونه په استعاره (په سوال) ورکړے شی یا هبه کړے شی۔ او د ظهور (شاګانو) حق ئې دا دے چه په هغې باندے بل څوك سور کړے شی۔ امام نوویؒ د علماؤ نه ددے داسے معانی نقل کړیدی فرمائی چه بعض وائی : ددے نه مراد دا دے چه بنده پدے سره جهاد وکړی نو ددے حق ئې ادا کړو، بعض وائی چه د څټو حق ئې دا دے چه د هغې سره احسان وکړے شی او د هغې د خوراك او ګیاه او خدمت اهتمام وکړے شی او د شاګانو حق ئې دا دے چه ددے اسونو مذکر که اسپو د ماله کولو (ختلو، حامله کولو) دپاره وغوښتے شی نو هغه منع نکړی، بیا به حکم په استحباب حمل وی۔ ځینی وائی چه ددے په شاګانو د دشمن نه کوم غنیمت راوړی هغې نه حق یعنی خمس (پنځمه حصه) غنیمت بیت المال ته ادا کړی آه۔

او ددے نه زکاة مراد نۀ دے ځکه بیا به نبی ﷺ د اسونو دپاره نصاب مقرر کړے وے حال دا چه هغه مقرر نۀ دے۔

علامه ابن الجوزی رحمه الله په ((التحقیق)) کتاب کې د احنافو دا دلیل ذکر کړیدے بیا ئې وئیلی دی چه دا دلیل د دوه وجونه ضعیف دے (۱) اوله وجه دا ده چه د حق نه مراد په عاریه باندے ورکول دی او مسافر پرے سورول دی نو دا کار به بیا مستحب وی۔ (۲) دویم دا چه د حق نه مراد واجب زکاة شی نو بیا به دا منسوخ وی پدے قول د

نبي ﷺ (قَدْ عَفَوْتُ لَكُمْ عَنْ صَدَقَةِ الْخَيْلِ) (يعني ما تاسو ته د اسونو زكاة معاف كړيدے) ځكه چه معافي نۀ وي مگر د هغه شي نه چه لازم وي. انتهىٰ.

عينيؒ د اول نه دا جواب وركړيدے چه حق نه مراد ندب (مستحب) اخستل ځكه صحيح نۀ دي چه د حق اطلاق په لازم باندے كيږي. ليكن دا جواب ئے خطاء دے ځكه چه حق په لغت كي (الشيء الثابت) ته وائي برابره ده لازم وي كه غير لازم.

دغه شان د حديث الفاظ ئے هم رد كوي ځكه چه په روايت د بخاريؒ كي مرفوعاً داسے راغلي دي: (وَمِنْ حَقِّهَا اَىْ حَقِّ الْاِبِلِ اَنْ تُحْلَبَ عَلَى الْمَاءِ) ددے اُوښانو حق دا دے چه د چينو په خوا كي ولشلے شي چه پيۍ ئے مسكينان وڅكي) نو پدے حديث كي ئے حق يو مستحب كار ته ووئيلو چه هغه په چينو كي لوشل دي.

دارنگه نعمان بن بشير ته خپل پلار غلام وركولو په واقعه كي نبي ﷺ وفرمايل: (وَاِنِّىْ لَا اَشْهَدُ اِلَّا عَلٰى حَقٍّ) (رواه مسلم:٤٢٧٤) ـ (زۀ صرف په حق باندے گواهي كوم. هلته احناف معنىٰ كوي (ثَابِتٌ لَا كَرَاهَةَ فِيْهِ) ـ زۀ په هغه ثابت شي باندے گواهي كوم چه په هغے كي كراهت نۀ وي. كما في حاشية المشكاة (١/٢٦٢)

عينيؒ د دويم نه دا جواب وركړيدے چه كه چرته نسخ وے نو د صحابه كرامو په زمانه كي به مشهوره شوے وے او حال دا چه عمر فاروق ؓ او عثمان ؓ به ددے نه زكاة نۀ اخستلے. ليكن دا خبره هم ضعيفه ده ځكه چه عمرؓ او عثمانؓ چه ددے نه زكاة اخستے دے نو دا په طريقه د ندب او اختيار د مُزكي سره نۀ په طريقه د وجوب سره.

امام طحاويؒ وئيلي دي چه د اسونو نه زكاة پدے وجه نۀ دے اخستے چه گنے دا په هغوي باندے حق او واجب وو بلكه په بل سبب سره ئے اخستے دے بيا ئے په خپل سند سره د حارثه نه روايت نقل كړيدے چه هغه فرمائي: زۀ د عمر فاروقؓ سره حج ته لاړم نو هغه ته د شام اشراف راغلل، عرض ئے وكړو: مونږ اسونه او مالونه نيولي دي نو تۀ زمونږ د مالونو نه صدقه (زكاة) واخله، عمر فاروق ووئيل چه دا خو يو داسے شے دے چه هغه دوه كسانو نۀ دے كړے گوم چه زما نه مخكي وو (يعني نبي ﷺ او ابوبكر صديق ؓ) ليكن انتظار وكړئ چه زۀ د مسلمانانو نه تپوس وكړم نو عمر فاروق ؓ د صحابه كرامو نه تپوس وكړو چه په هغوي كي سيدنا علي ؓ هم حاضر وو، خلكو ووئيل چه دا خو ښه كار دے. او علي ؓ غلے ناست وو نو عمر ؓ علي ؓ ته وفرمايل

: اے ابوالحسن ! څه وجه ده چه ته غلے ئے ؟ هغه وفرمایل: دے خلکو تا ته مشوره درکړه او دوی بده خبره نۀ ده کړے پدے شرط که چرته دا اخستل واجب او مقرره جزیه ونۀ ګرځی چه ستا نه روسته د دوی نه اخستے شی)

نـو دا دلیل دے چه د عمر د اسونو نه زکاة اخستل په طریقه د تطوع او نفل سره وو نۀ پدے وجه چه ګنیے دا واجب دے، او عمر فاروق ﷺ دا خبر هم ورکړو چه دا رسول الله ﷺ او ابوبکر صدیق ﷺ نۀ دی اخستی نو بس مسئله حل شوه۔ انتهیٰ۔

دغـه شان پـه دغـه روایت کی خو ورسره د غلامانو نه هم زکاة اخستل ذکر دی د هر غلام په سر ئے لس روپیۍ اخستی دی نو آیا احناف دا منی؟! (معانی الاثار ۲/۴۹)۔

احـنـاف د اسـونـو د واجـب مـقـدار دپاره دلیل کی یو ضَعِیْفٌ جِدًّا روایت پیش کوی جابرﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: (فِي الْخَيْلِ السَّائِمَةِ فِيْ كُلِّ فَرَسٍ دِيْنَارٌ) (په څریدونکو اسونو کی په هر اس کی یوه روپیۍ زکاة دے) (دارقطنی ص: ۲۱٤)

جواب (۱) یو خو دا روایت ضَعِیْفٌ جِدًّا دے دارقطنیؒ پرے خپله رد کړیدے: (تَفَرَّدَ بِهٖ غُوْرَكْ وَهُوَ ضَعِيْفٌ جِدًّا وَمَنْ دُوْنَهٗ ضُعَفَاءُ) پدے باندے غورك راوی تفرد کړیدے او هغه ضعیف جداً راوی دے او د هغه نه خکته راویان هم ضعیف دی۔ امام بیهقیؒ وائی که دا حدیث صحیح وے نو امام ابویوسفؒ به ترے خلاف نۀ وے کړے (زیلعیؒ)

(۲) دارنګـه پـدے روایـت کی د یواځے مذکرو او یواځے مؤنثاتو او د دواړو شریك فرق نۀ دے ذکر او نۀ پکی د دینار او د قیمت اختیار شته کوم چه د ابوحنیفهؒ مذهب دے۔

امام ابـن شـهـاب الـزهـری رحـمـه الله د عثمانؓ او د عمرؓ د اسونو د زکاة متعلق روایت نـقـل کـړیـدے بیا فرمائی : (لَمْ أَعْلَمْ أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ ﷺ سَنَّ صَدَقَةَ الْخَيْلِ) (مـاتـه دا نۀ ده معلومه چه د الله نبی (ﷺ) د اسونو زکاة مقرر کړے وی) (تهذیب الاثار للطبری ۳/٤١٦) ومصنف عبد الرزاق ٤/٣٥ باب الخیل)

عـلامـه طبریؒ فـرمـائی : مونږ د رسول الله ﷺ نه نقل کړل چه هغه فرمایلی دی : ((لَا صَدَقَةَ فِي الْخَيْلِ وَالرَّقِيْقِ)) په اسونو او غلامانو کی زکاة نشته) او دا خبره ناجائز ده چه رسول الله ﷺ د یـو شی په باره کی ووائی چه پدے کی زکاة نشته او یو تن د هغه په خلاف ووائی چه پدے کی زکاة شته، که دا وینا جائز شی نو بیا به دا خبره هم جائز شی چه نبی ﷺ د یـو شی په باره کی ووائی چه پدے کی زکاة شته (لکه مثلاً اوښان،

غواگائے وغیره) او یوتن ووائی چه پدیے کی نشته او دا خو د خپل نبی نه ځان مخکی کول دی او مومن سړی له دا الله تعالیٰ حرام کړیدی چه الله او رسول یوه فیصله وکړی چه د هغه دیے خپل اختیار وی الخ۔ (تهذیب الآثار للطبری ٣/٤١٧)

او نور آثار په مصنف ابن ابی شیبه او عبد الرزاق او تهذیب الآثار کی وګورهٔ۔

سِتْرٌ : اسونه پرده وی ځکه چه پدیے سره انسان د ژوند اسباب حاصلوی رزق پیدا کوی چه په هغے سره د خلکو د سوال او حاجت نه بچ کیږی۔

وَنِوَاءً : په کسره د نون سره (نَاوَأْتُهُ نِوَاءً وَمُنَاوَءَةً) دشمنیٔ ته وائی۔

رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ : طیبیؒ وائی چه دلته د سبیل الله نه مراد جهاد نهٔ دیے بلکه بل نیك نیت مراد دیے ځکه بیا تکرار لازمیږی۔

فِي مَرْجٍ : چراګاه : ابن الاثیرؒ وائی چه مرج هغه فراخه زمکه ده چه په هغے کی ډیره ګیاه وی چه حیوانات پکی څریږی۔ یعنی دا د څر دپاره تیاره وی او روضة د هغے عطف تفسیر دیے۔ او دواړه یو شے دیے۔ ولی الدین العراقیؒ وائی چه مرج خو دغه شو او روضه هغه ده چه د چکر او سیل دپاره تیاره شویے وی ځکه چه په هغے کی قسماقسم بوټی او ګلان وی او د څر دپاره تیاره نهٔ وی۔

طِوَلَهَا : په کسره د طاء او فتحه د واو سره رسیٔ او پړی ته وائی یل لغت په کی طیلها دیے، معنیٰ ئے یوه ده۔

فَاسْتَنَّتْ : دا د استنان نه جوړ دیے منډیے ته وائی، یعنی مضبوطه منډه ووهی۔

شَرَفًا : د زمکے اوچت ځای ته وائی۔ جزریؒ وائی چه دا ګردش او انتهاء او آخر سر ته وائی۔

وَأَرْوَاثِهَا : دا ئے دوباره راړو ځکه چه اسن د منډیے په وخت کی هم خوشیان کوی۔ یا کیدیے شی چه پدیے ځای کی ئے د ارواث نه علم بول مراد کړی وی۔

وَلَا يُرِيدُ أَنْ يَّسْقِيَهَا : یعنی که مالك د اس د حالاتو نه خبر هم نهٔ وی او اس د مالك د ارادیے نه بغیر یو ځای کی اُوبه وڅکی نو هم مالك ته به اجر ملاویږی ځکه چه دهٔ د اس په ساتلو کی نیك نیت کړیدیے نو د نیك نیت دومره اثر دیے چه انسان دپاره ډیریے نیکیانی راجمع کوی۔

عَدَدَ مَا شَرِبَتْ : حافظ ابن حجرؒ فرمائی : ددیے نه دا فائده معلومه شوه چه انسان

کله دیو طاعت او نیك عمل اراده وکړي او بیا هغه وکړي نو پدے کي چه کوم اجرونه وي که بنده ته هغه یاد هم نهٔ وي بیا به هم هغه ورته ملاویږي۔

فَالْحُمُرُ ؟ : په ضمتینو سره دے او حُمر په سکون د میم سره جمع د حمراء ده۔ سوروالي ته وائي۔ یعني د خرو څه حکم دے؟۔ نو حکم ئے بیان کړو چه پدے کي زکاة نشته مګر هسے د مخلوق سره پرے احسان کولے شي۔ البته د خرو کارو بار کوي نو بیا دا اموال التجارة دي د هغے په سرونو کي به زکاة نهٔ وي لیکن د هغے په قیمت کي به زکاة وي کله چه پرے کال تیر شي۔

الْفَاذَّةُ : اَيِ الْمُنْفَرِدَةُ فِيْ مَعْنَاهَا۔ یعني چه په خپله معنیٰ کي یواځے آیت دے۔

الْجَامِعَةُ : چه عام او شامل دے هر خیر ته۔ ځکه چه ددے آیت په شان په کموالي د الفاظو او په راجمع کولو د هر خیر او شر کي بل آیت په قرآن کریم کي نشته۔ بلکه تورات، انجیل، زبور او قرآن تول ئے راجمع کړیدي لکه کعب الاحبارؒ ویلي دي۔

او دا دلیل دے چه عام نص په یوه عامه مسئله کي دلیل ګرځیدے شي۔

فَمَنْ يَّعْمَلْ : نو په خرو کي نیك کار دا دے چه کوم مسلمان ته پرے سورلي ورکړے شي یا د چا بوج په هغے باندے واچولے شي، او شرئے دا دے چه د کافرانو سره په هغے باندے تعاون او مدد کوي یا مجرمان په هغے باندے د جرم دپاره وړي یا پرے حرام کاروبار کوي۔

کعب الاحبارؒ نه نقل دي چه پدے آیت کي تول هغه مضامین راجمع دي کوم چه په پخوانو کتابونو کي وو (تورات انجیل، زبور) او مالك بن صعصعهٔ وائي : (حَسْبِيْ أَنْ لَّا أَسْمَعَ غَيْرَهَا) (قاسمي)۔ که زهٔ ددے نه سویٰ نور څه وانهٔ ورم هم زما دپاره دا کافي ده۔

-1774(3) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ آتَاهُ اللهُ مَالًا فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ شُجَاعًا أَقْرَعَ لَهُ زَبِيْبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَأْخُذُ بِلَهْزَمَتَيْهِ – يَعْنِيْ بِشِدْقَيْهِ - يَقُوْلُ : أَنَا مَالُكَ أَنَا كَنْزُكَ. ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ : (وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهِ) إِلَى آخِرِ الْآيَةِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : د ابو هريره ﷺ نه روایت دے فرمائي چه رسول الله ﷺ وفرمایل: چا ته چه

الله تعالیٰ مال ورکړے وی او دے د هغے نه زکاة نهٔ ادا کوی (نو) د قیامت په ورځ به دهٔ ته دغه مال ددهٔ د گنجي مار په شان متشکل شي چه د هغه په سترگو به دوه تور داغونه وی، دغه مار به ددهٔ څټ ته د طوق په طور وا چولے شي (یعنی د غاړی نه به ورله تاو شي) بیا به ئے د دواړو ونښکو نه راونیسی او وائی به چه زهٔ ستا مال یم، زهٔ ستا خزانه یم، دے نه پس نبی ﷺ دا آیت ولوستو : ﴿ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ﴾ الآية. گمان دے نهٔ کوی هغه کسان چه بخل کوی (آیت د آخر پورے).

تشریح : مُثِّلَ : ای صُوِّرَ وَجُعِلَ : متشکل به شي او ویه گرځولے شي.

شُجَاعًا : په ضمه د شین سره هغه مار ته وائی چه په لکۍ باندے کینی او اَس باندے سور او پیاده سړی ته توپ وهي او ډیر کرته په اس باندے سور انسان سر ته رسیږی دومره غټ وی او په صحراگانو کی وی. او دا په کسره د شین سره هم استعمالیږی لکه نهایه کی ئے لیکلی دی او په ضمه سره بهادر سړی ته هم وائی.

أَقْرَعَ : گنجے مار چه د عمر د ډیر والی په وجه ئے ویښته دوړیدلی وی او زهرئے مضبوط شوی وی. بعض وائی پدے وجه گنجے شوے وی چه زهر په سر کی راجمع کوی نو د هغے تیز والی ورله ویښته ختم کړی وی. بعض وائی : اقرع سپین سر والا مار ته وائی چه څومره ئے زهر زیاتیږی سرئے سپینیږی.

زَبِيْبَتَانِ : دا هغه دوه زوندی دی چه په دواړو ونښکو کی وی. بعض وائی : دا د سترگو دپاسه دوه تور داغونه دی. یا د خولے نه گیر چاپیره وی. او دا ډیر وحشی او کریه (بد شکله) مار وی. عَینی وائی : د سر دپاسه دوه غوبنی دی، عَینی وائی : د خولے نه به ئے دوه دارے راوتی وی.

بِلِهْزِمَتَيْهِ : په روایت د بخاریؒ کی ددے تفسیر په شدقین شویدے یعنی ونبکی.

په صحاح د جوهریؒ کی دی چه دا د جامو په هډوکو کی نیغ راوتي هډوکی دی کوم چه د غوږونو لاندی وی. عَینی وائی چه دا د اننگو هغه غوښه ده چه په وخت د خوراك کی خوزیږی.

أَنَا مَالُكَ : دا خبره به ورته ولے کوی چه زهٔ ستا مال او خزانه یم؟ فائده ئے دا ده چه ددے سړی افسوسونه او عذاب زیات شی ځکه چه دهٔ ته به پښیمانتیا هم فائده نهٔ ورکوی او پدے کی یو قسم سپکاوے او مسخرے هم دی ځکه چه دهٔ به پدے مال

باندې د خیر ګمان کولو او د هغه نه مار جوړ شو۔
او په حدیث د ثوبان ﷺ کې په صحیح ابن حبان کې ورسره دا الفاظ زیات دی : چه دا مار به ورپسې وی تردې چه سرې به ورته لاس په خوله کې ورکړی هغه به وجوی (لکه اوښ چه یو شے جوی) بیا به په ټول بدن ورله راشي۔ او په روایت د طبراني کې دی چه په سر باندې به ورته چك ولګوی، هغه به سورې کړی۔
ثُمَّ تَلَا : یعنی نبی ﷺ د خپلې خبرې د مضبوطوالي دپاره د آیت نه دلیل ونیولو چه الله تعالیٰ هم فرمائی : باقي آیت داسې دے : ﴿وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ (آل عمران: ۱۸۰)
ګمان دې نۀ کوی هغه کسان چه بخل کوی په هغه مالونو چه الله تعالیٰ ورکړی وی د خپل فضل نه چه دا غوره دے دوی لره بلکه دا کار بد دے دوی لره زر دے چه په غاړه کې به وا چولے شي دوی ته هغه مال چه دوی بخل کړے په هغے په ورځ د قیامت)۔
وَلَا يَحْسَبَنَّ : دا دلیل دے چه دا آیت د زکاة د منع کونکو په باره کې نازل دے ځکه نبی ﷺ ددې حدیث نه روستو ولوستلو او دا د اکثرو مفسرینو وینا ده۔ او دا هم معلومه شوه چه ددې بخیلانو په څټ کې به دا مال وا چولے شي او دا په خپل حقیقت باندې بناء دے، بعض وائی چه د بخل ګناه به ورته د څټ نه تاؤ کړے شي لیکن اول مقصد ښکاره دے۔
فائده : په آخرت کې د هر عمل یو جسم به یو د هغے مناسب او په هغے به ښکاره کیږی لکه مرګ د ګډ په شکل به راځی او ژوند د اس په شکل به وی او مال به د شجاع (مار) په شکل وی او قرآن به د خوار سړی په شان وی او سورت بقره او آل عمران به د وریځو په شکل وی او صدقه به په مومن باندې سورې کوی او د بنده د دهوکے دپاره به د هغه د کناتی په خوا کې جنډه وی او دغه شان نور واخله نو ځکه آخرت د شرم ورځ ده (والعیاذ بالله)۔
فائده : احادیث غالباً د قرآن کریم نه ماخوذ (اخستے) شویدی لکه دا خبره امام شافعیؒ کړیده۔

- 1775(4) عَنْ أَبِي ذَرٍّ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " مَا مِنْ رَجُلٍ يَكُونُ لَهُ إِبِلٌ أَوْ بَقَرٌ أَوْ غَنَمٌ لَا يُؤَدِّي حَقَّهَا إِلَّا أُتِيَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْظَمَ مَا يَكُونُ وَأَسْمَنَهُ تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا

وَتَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا كُلَّمَا جَازَتْ أُخْرَاهَا رُدَّتْ عَلَيْهِ أُولَاهَا حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ." مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: ابوذر رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی هغه فرمائی: نشته يو سړے چه د هغه دپاره اُوښان يا غواګانے يا ګډے بزے وی او د هغے نه د هغے حق (زكاة) نۀ ادا کوی مګر دغه څاروی به د قيامت په ورځ په داسے حال کی راوستلے شی چه لوی او چاق به وی، (بيا) به دغه شخص پائيمال کوی په خپلو خپو سره او وهی به ئے په خپلو خکرو سره هرکله چه تير شی روستنئ ډله د هغے راواپس به کړے شی په دۀ باندے اولنئ ډله (دا عذاب به وی) تردے چه فيصله وکړے شی په مينځ د خلکو کی. (يعنی دا عذاب به ئے پنځوس زره کاله وی). (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح: حَتّٰى يُقْضٰى: يعنی کوم انسان چه د خپل مال (حيواناتو) نه زكاة نۀ ادا کوی نو دا به په قيامت کی د دنيا د حال نه زيات چاق او ځورب شی او بيا به دغه مالك په خپلو خپو او ښکرونو سره وهی، نور خلك به په حساب مشغول وی او دے به پدے عذاب کی پروت وی. او بيا د حساب نه روستو به يا جنت ته لاړ شی که الله وغواړی او يا به جهنم ته ځی د خپل عمل مناسب لکه چه مخکی د مسلمؒ په حديث کی تير شو، او پدے باندے به (٥٠) زره کاله لګيږی عجيب وعيد دے.

- 1776(5) وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " إِذَا أَتَاكُمُ الْمُصَدِّقُ فَلْيَصْدُرْ عَنْكُمْ وَهُوَ عَنْكُمْ رَاضٍ." رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او د جرير بن عبد الله رضی الله عنه نه روايت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چه تاسو ته زكاة اخستونکے (عامل) راشی نو هغه دے ستاسو نه پداسے حال کی واپس شی چه هغه ستاسو نه خوشحاله وی. (مسلمؒ)

تشريح: اَلْمُصَدِّقُ: پدے کی دوه قراء ته دی (١) په تشديد د دال. (٢) او تخفيف د دال سره: يعنی صدقه (زكاة) اخستونکے. مطلب د حديث دا دے چه کله تاسو ته د وخت بادشاه او د اسلامی ادارو د طرف نه د زكاة اخستونکے راشی نو د هغه سره د عزت معامله وکړئ، مرحبا ورته ووايئ او هغه ته پوره پوره زكاة ادا کړئ دے دپاره چه هغه راضی او خوشحاله واپس شی. امام نوویؒ فرمائی: پدے حديث کی دا وصيت

دے چه عاملانو او د اسلامي حكومت عاملانو سره نرمي وكړئ او د هغوی خبره ومنئ دے دپاره چه د مسلمانانو كلمه يوه شي او اتفاق ئے راشي او خپل مينځ كي اصلاح راشي او اسلامي خلافت هميشه پاتي شي، ليكن دا په هغه وخت كي چه كله د زكاة عامل ظلم نكوي او زيات نۀ اخلي خو كله ئے چه ظلم كولو نو بيا ئے تابعداري نشته۔ طيبيؒ وائي : دا په ظاهر كي عامل ته حكم دے او په حقيقت كي زكاة وركونكي ته ځكه چه كله زكاة وركونكے عامل ته مرحبا ووائي او پوره حق ورته ادا كړي نو عامل به خامخا راضي واپس كيږي۔

بيا دا قاعده واوره چه حكومت اسلامي به زكاة د اموال ظاهره ؤ اخلي لكه ګډے بيزے وغيره حيوانات او د اموال باطنه ؤ زكاة چونكه حكومت حفاظت نكوي پدے وجه هغه به د زكاة مالك په خپل صواب ديد سره وركوي۔ لكه مخكي تير شو۔

- 1777(6) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِيْ أَوْفٰى رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا أَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَتِهِمْ قَالَ : " اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى آلِ فُلَانٍ، فَأَتَاهُ أَبِيْ بِصَدَقَتِهِ فَقَالَ : " اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى آلِ أَبِيْ أَوْفٰى "وَفِيْ رِوَايَةٍ : " إِذَا أَتَى الرَّجُلُ النَّبِيَّ بِصَدَقَتِهِ قَالَ : " اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عبد الله بن ابي اوفي رضي الله عنهما فرمائي : نبي ﷺ ته به چه كله يو قوم خپل زكاة راوړو (دے دپاره چه په خپلو مستحقينو ئے تقسيم كړي) نو هغه به داسے فرمايل : اے الله ! د فلاني شخص په خاندان باندے رحمت نازل كړه۔ نو (يوه ورځ ورته) زما پلار خپل زكاة راوړو نو (هغه ته ئے) وفرمايل: اے الله ! په خاندان د ابو اوفي باندے رحمت نازل كړه۔ (بخاريؒ ومسلمؒ) او په يو روايت كي داسے الفاظ دي چه كله به يو سړي نبي ﷺ ته خپل زكاة راوړو نو داسے به ئے فرمايل: اے الله ! په دے شخص باندے رحمت نازل كړه۔

تشريح : يعني نبي ﷺ ته به چه كله يو قوم زكاة راوړو نو هغه به ورته دعا كوله او نوم به ئے د هغوي اخستو او داسے به ئے فرمايل : اے الله په فلاني شخص او د هغه په آل باندے رحمتونه راوليږه۔

ددے نه دا مسئله ثابتيږي چه امام او عامل له پكار دي چه څوك ورله صدقه، زكاة

راوړی نو هغه ته به دعا کوی. بعض علماؤ وئیلی دی چه دا دعا کول به لازم او واجب وی ځکه چه قرآن کریم کی حکم دے چه: ﴿وَصَلِّ عَلَيْهِمْ﴾ ـ دے خلکو ته دعا کوه. لیکن ظاهر دا ده چه دا دعا مستحب ده که لازم او فرض وے نو بیا به نبی ﷺ عاملانو ته ددے تعلیم ورکړے وے حال دا چه د هغه نه نقل ندی.

فائده : د دعا حکمت دا دے چه مال لړول سخت کار دے نو دے سره آسانیږی. دارنګه هل جزاء الأحسان الا الاحسان. (د احسان بدله احسان وی).

حکمة : نبی ﷺ زکاة ورکونکی ته وائی چه عامل راضی کړه او عامل ته وائی دعاء ورته وکړه. دا د دین اسلام د عدالت لویه نښه ده.

مسئله : دارنګه ددے حدیث نه دا فائده معلومیږی چه د انبیاء علیهم السلام نه علاوه د بل چا دپاره د صلاة لفظ استعمالول جائز دی لیکن تخصیص ئے صحیح نهٔ دے چه صرف علی ﷺ وائی. لکه دلته نبی ﷺ د ابو اوفیٰ ﷺ دپاره صلاة لفظ استعمال کړو. اګرکه دا (صلاة) د نبی ﷺ حق دے خو بل له ئے ورکریدے. دارنګه نبی ﷺ یوے زنانه ته وئیلی وو: (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْكَ وَعَلٰى زَوْجِكِ) ـ (ابوداود : ۱۵۳۵) او عمر فاروق ﷺ علی ﷺ ته وئیلی وو: (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْكَ) ـ او نبی ﷺ سعد بن عباده ﷺ ته وئیلی وو: (اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ صَلَوَاتِكَ وَرَحْمَتَكَ عَلٰى آلِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ) (ابو داود، نسائی وسنده جید). اے الله په آل د سعد باندے رحمتونه راولیږه).

او صحیح مسلم رقم (۷۴۰۰) کی د ابو هریره ﷺ مرفوع حدیث کی دی: ملائك د مومن روح ته وائی: (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْكِ وَعَلٰى جَسَدٍ كُنْتِ تَعْمُرِيْنَهٗ) ـ الله دے په تا او ستا په هغه بدن رحمتونه راولیږی کوم چه به تا آبادولو).

ددے حدیثونو نه جواز معلومیږی چه د انبیاؤ علیهم السلام نه غیر د بل چا دپاره هم صلاة لفظ استعمالول جائز دی، بعض علماء ددے نه منع کوی او وائی چه دا د الله او د رسول د طرف نه وئیل شویدی او د هغوی خوښه ده چه یو تن په صلاة سره خاص کړی خو بل چا ته دا اجازه نشته. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: دا د نبی ﷺ شعار وو نو پدے کی د هغه سره بل څوك نشی شریك کولے نو داسے به نشی وئیلے چه: ابوبکر صلی الله علیه وسلم. اګرکه معنیٰ ئے صحیح ده، دغه شان محمد عزوجل نشی وئیلے ځکه چه دا ثناء شعار د الله تعالیٰ دے، البته که د نبی سره بل څوك شریك

ذکر شی نو هغوی په صلاة کې جمع کولے شی لکه داسے به وائی :(صَلَّى اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ وَعَلٰى خَلِيْفَتِهٖ)۔ یا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَصَحْبِهٖ أَجْمَعِيْنَ)۔ او حافظؒ فرمائی چه دغه روایتونو باندے استدلال نشی کیدے ځکه چه دا د نبی ﷺ د طرف نه صادر شویدی او هغه خپل حق بل چا ته ورکولے شی او بل طرف ته د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما رایه هم دا وه هغه فرمائی : (مَا أَعْلَمُ الصَّلَاةَ تَنْبَغِيْ عَلٰى أَحَدٍ إِلَّا عَلَى النَّبِيِّ ﷺ) (ابن ابی شیبة بسند صحیح) ۔د نبی ﷺ نه علاوه بل چا دپاره صلاة لفظ استعمالول مناسب نهٔ دی، او په سلفو کی صلاة صرف د انبیاؤ دپاره معروف او مشهور وو، اسماعیل بن اسحاقؒ په احکام القرآن کی په حسن سند سره د عمر بن عبد العزیز رحمه الله نه نقل کړیدی چه هغه یو خط ولیکلو او دائے پکی ولیکل چه څه قصاصین پیدا شویدی چه هغوی په خپلو خلفاؤ او امراؤ باندے صلاة وائی نو کله چه زما دا خط درشی نو هغوی ته حکم وکړه چه د دوی صلاة دے په انبیاء علیهم السلام وی او د مسلمانانو دپاره دے دعاء غواړی۔

حافظ ابن القیم رحمه الله فرمائی : غوره دا ده چه صلاة په انبیاء او ملائکو او د نبی ﷺ په ازواجو او آل او اولادو باندے او نیکانو بندګانو باندے په طریقه د اجمال سره ووئیلے شی او د انبیاؤ نه علاوه د یو معین شخص دپاره یواځے وئیل پدے طریقه چه د هغه دپاره شعار وګرځی خاصکر چه د هغه په شان یا د هغه نه غوره بل شخص دپاره ئے نهٔ وائی لکه دا کار شیعه ګان کوی نو دا مکروه ده، البته که په یوه موقعه کی په اتفاقی طور سره د یو معین شخص دپاره وویل شی په غیر ددے نه چه د هغه دپاره ئے شعار وګرځوی نو پدے به څه باك نهٔ وی۔ انتهیٰ۔ علامه آلوسیؒ په ((تفسیر روح المعانی)) کی لیکی چه دے زمانه کی دے څوك د غیر الانبیاء دپاره صلاة نهٔ وائی ځکه چه دا د مبتدعینو شعار ګرځیدلے دے چه د هغوی سره تشبیه رانشی۔ والتفصیل فی الدین الخالص (۱)۔

نو راجح دا ده چه تخصیص د یو معین شخص سره ندے پکار او که اتفاقی طور باندے یا عمومی طور باندے په غیر الانبیاء باندے ووبلے شی نو پدے کی به څه حرج نهٔ وی د وجه د دغه مخکنو دلائلو وغیره نه۔

ابن ابی اوفی : ددهٔ نوم عبد الله بن ابی اوفیٰ دے او مختصر حالات ئے مخکښ ذکر

شویدی او هرچه ابو اوفی دے نو ددهٔ نوم علقمه بن خالد بن الحرث الاسلمی دے په کنیه باندے مشهور دے، دے او خوی دواړه بیعة الرضوان ته حاضر شویدی۔ عبد الله بن ابی اوفیٰ ﷺ ډیر عمر والا وو په کوفه کی آخری صحابی دا وفات شویدے په سنه (۸۷) هـ۔

- 1778 (7) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : بَعَثَ رَسُولُ اللهِ ﷺ عُمَرَ عَلَى الصَّدَقَةِ، فَقِيلَ : مَنَعَ ابْنُ جَمِيلٍ وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ وَالْعَبَّاسُ . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " مَا يَنْقِمُ ابْنُ جَمِيلٍ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ فَقِيرًا فَأَغْنَاهُ اللهُ وَرَسُولُهُ . وَأَمَّا خَالِدٌ فَإِنَّكُمْ تَظْلِمُونَ خَالِدًا، قَدِ احْتَبَسَ أَدْرَاعَهُ وَأَعْتُدَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ وَأَمَّا الْعَبَّاسُ فَهِيَ عَلَيَّ، وَمِثْلُهَا مَعَهَا " . ثُمَّ قَالَ : " يَا عُمَرُ ! أَمَا شَعَرْتَ أَنَّ عَمَّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ ؟ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ عمر فاروق په زکاة (راتولو) باندے مقرر کرو، (وروستو) بیا ورته وویل شو چه ابن جمیل، خالد بن الولید او عباس رضی الله عنهما زکاة منع کړو۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: ابن جمیل د زکاة ادا کولو نه په دے وجه انکار وکړو چه دے (مخکی) غریب وو نو الله تعالیٰ او د هغه رسول (په دعاء یا غنیمت ورکولو سره) مالداره کړو، هرچه خالد دے نو تاسو په هغه باندے ظلم کوئ (ځکه چه په هغه بندے زکاة واجب نهٔ دے او تاسو د هغه نه د زکاة اخستو مطالبه کوئ) ځکه چه هغه خو خپلے زغرے او (د جنگ) سامانونه (یعنی وسله، ځاروی او د جنگ نور سامان) د الله په لاره کی (د جهاد دپاره) وقف کړیدی (نو تاسو چه ددهٔ دا سامانونه د تجارت مال ګنړئ نو دا غلطه ده) او هرچه عباس دے نو د هغه زکاة په ما باندے دے او (نهٔ صرف ددے کال بلکه) ددے سره ددے په مثل نور (د راتلونکی کال) هم۔ بیا ئے وفرمایل چه اے عمره ! آیا ته نهٔ پوهیږے چه ترهٔ د سړی د هغه د پلار ځانګه وی (یعنی د هغه د پلار په شان وی نو عباس زما د پلار په ځای دے د هغه تعظیم او توقیر وکړئ او هغه ته هیڅ قسم تکلیف او خفګان ونهٔ رسوئ) ۔ (بخاری ومسلم)

تشریح : یعنی رسول الله ﷺ عمر فاروق ﷺ د صدقے (زکاة) په راټولو پسے ولیږلو۔ بعض وائی دا نفلی صدقه وه ځکه چه صحابه کرام څنګه فرضی زکاة منع

کړی؟!۔ صحيح دا ده چه عامل د نفلي صدقو دپاره نۀ ليږلے کيږی بلکه دا فرضي زکاة وو۔ (نووی)

مَنَعَ ابْنُ جَمِيلٍ : ابن جميل يو منافق سړے وو، ډير غريب وو، نبي ﷺ ته راغے او درخواست ئے وکړو چه زما دپاره د مالدارئ دعا وکړه، زۀ به د نعمتونو شکر کوم، نو نبي ﷺ د هغه دپاره دعا وکړه، او دے مالدار او دولتمند شو، نو دۀ ناشکری شروع کړه تردے چه د زکاة د ادا کولو نه ئے هم انکار وکړو پدے وجه نبي ﷺ ددۀ په باره کي د زجر او تنبيه کلمات وفرمايل چه دۀ ته دا خبره عيب ښکاره کيدله چه دے غريب وو نو الله مالداره کړو يعني دے څکه زکاة نۀ ورکوی چه وائي چه زۀ الله ولے مالداره کړم؟۔ يعني مالداری خو يو نعمت وو او دۀ پرے ناشکری وکړه۔

علامه مهلّبؒ وائی : ابن جميل اول کي منافق وو روسته زمانه کي ئے الله ته توبه ويستله او صحيح مسلمان ترے جوړ شو۔

بعض وائي دا آيت ددۀ په باره کي نازل شويدے : ﴿ وَمَا نَقَمُوٓا اِلَّآ اَنْ اَغْنٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ﴾۔ تردے قول پورے : ﴿ فَاِنْ يَّتُوْبُوْا يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ ﴾ (التوبة : ۷٤)۔ دۀ وويل چه الله ما ته د توبې دعوت راکړو نو زۀ توبه وباسم بيا ئے توبه ويستله او خپل عمل ئے صحيح کړو۔ (شرح صحيح البخاری لابن بطال ۳/ ۵۰۰)

مَا يَنْقِمُ ابْنُ جَمِيلٍ : دا د باب د ضرب نه دے په معنیٰ د عيب سره دے دلته ئے معنیٰ ده : (مَا يُنْكِرُ الزَّكَاةَ) ۔ يعني د زکاة نه انکار نۀ کوی مګر پدے وجه چه دے فقير وو نو الله مالداره کړو، يعني دۀ نعمت د ناشکرئ سبب جوړ کړو حال دا چه په نعمت باندے خو شکر پکار دے۔ يا معنیٰ ده : (مَا يَكْرَهُ شَيْئًا اِلَّا اَنْ اَغْنَاهُ اللّٰه) ۔ يعني دے هيڅ شے بد نۀ ګڼړی مګر دا چه الله مالداره کړو۔ يا (مَا يُنْكِرُ شَيْئًا اِلَّا اَنْ اَغْنَاهُ اللّٰه) ۔ دے انکار نکوی د هيڅ شي نه مګر ددے نه انکار کوی چه زۀ الله ولے مالداره کړم؟۔ او مالداره کيدل خو سبب د انکار نۀ دے نو ددۀ د انکار هيڅ سبب نۀ وو نو لوی مجرم دے۔ نقم په معنیٰ د عيب لګولو، انکار کولو او بد ګڼړلو سره استعماليږی۔

وَرَسُوْلُهٗ : نبي ﷺ ددۀ په مالداره کولو کي ځان هم ذکر کړو څکه چه دا د نبي ﷺ په وجه ظاهراً په اسلام کي داخل شو او غنيمتونه ورته حاصل شو يا د هغه په دعاء سره مالداره شو۔ بيا دے ته ذم مشابه بالمدح وائي او دا د بلاغت يوه طريقه ده لکه

﴿وَمَا نَقَمُوْا مِنْهُمْ﴾ کی مدح مشابه بالذم ده۔
فَاِنَّکُمْ تَظْلِمُوْنَ : نبی ﷺ د خالد ؓ نه د زکاة غوښتلو ته ظلم ووئیلو، علماء کرام ددے ډیرے وجے لیکلی دی : ۱- یوه دا چه دوی د خالد نه د دغه سامانونو او د زغرو د پیسو زکاة غوښتلو پدے گمان چه دا به د تجارت دپاره وی او زکاة به پکی واجب وی نو نبی ﷺ ورته وفرمایل چه پدے کی زکاة نشته، ځکه چه دا خالدؓ د الله دپاره وقف کړیدی د کال تیریدو نه مخکی مخکی نو پدے کی زکاة نهٔ وی۔ نو دا به دلیل وی د هغه علماؤ (جمهورو) چه هغوی په سامانونو د تجارت کی زکاة لازم وائی۔ لکه روستو د مسئلے تفصیل راروان دے۔ ان شاء الله۔
او دلیل به وی چه چا یو شے وقف کړو نو د هغه د لاس نه وتل ئے ضروری نهٔ دی بلکه دا واقف خپله ناظر الوقف جوړیدے شي نو د هغه علماؤ قول ضعیف دے چه وائی په وقف کی د واقف د لاس نه مال بل چا ته وتل ضروری دی۔ ځکه که وتلے نو بیا دوی د خالدؓ نه زکاة ولے غوښتلو؟۔
۲- بعض وائی : خالدؓ نه زکاة غوښتلو ته ئے ځکه ظلم ووئیلو چه دهٔ خپل ټول مال د الله دپاره ورکړو نو د زکاة د واجبیدو نه مخکی ئے خپل مال د الله دپاره ورکړو نو دا دلیل دے چه څوك ټول مال صدقه کړی یا ئے وقف کړی نو په هغه باندے زکاة نهٔ وی۔ نو بیا ترے زکاة غوښتل ظلم جوړیږی۔
اَدْرَاعَهٗ : جمعه د دِرع ده، زغرے ته وائی۔ اَعْتُد او اَعْتَاد دواړه جمع د عَتَد او د عَتَاد ده په معنی د سامان سره یعنی وسله، ښاروی او آلات د جنگ، بعض وائی اَعْتُد اسونو ته وائی۔
فائده : وَاَعْتُدَهٗ : باندے امام بخاریؒ استدلال کړے چه وقف المنقول جائز دے۔ دارنگه دا لفظ دلیل دے چه په زکاة کی قیمت اخستلے شی لکه امام بخاریؒ دا خبره مستنبطه کړیده۔
وَمِثْلُهَا مَعَهَا : یعنی په عباسؓ چه کوم زکاة دے هغه په ما باندے دے د سږ کال او ددے په شان د بل کال نو د دوه کالو زکاة ئے د عباسؓ نه روستو کړو ځکه چه یا خو د عباسؓ ضرورت وو او نبی ﷺ ئے ذمه واری واخسته نو ددے نه بیا دا مسئله معلومیږی چه د وخت امام او خلیفه له جائز دی چه چا ته د یو کال زکاة روستو کړی او په راتلونکی

کال کی ترے د دوہ کالو زکاة واخلی۔

۲- بعض وائی ددے معنیٰ دا دہ چہ نبی ﷺ د عباسؓ نہ د دوہ کالو زکاة اخستے وو ځکہ چہ د نبی ﷺ ضرورت وو څہ مستحقین ورلہ راغلی وو هغوی تہ ئے ورکول نو دا ئے وویل چہ ددۀ نہ زکاة مۀ اخلئ بلکہ ددۀ زکاة ما سرہ قرض دے، یا پہ بیت المال باندے قرض دے۔ لکہ دا خبرہ پہ یو صحیح مرسل روایت د موسیٰ ابن طلحہ کی دارقطنیؒ نقل کړیدہ چہ نبی ﷺ وفرمایل: مونږ محتاج شو نو د عباسؓ نہ مو د دوہ کالو زکاة مخکی واخستو۔ پدے وجہ نبی ﷺ وفرمایل: چہ دا پہ ما باندے دے او ددے پہ شان هم یعنی د دوہ کالو زکاة ئے ما تہ ادا کړیدے۔

علامہ ابو عبیدہ رحمہ اللہ فرمائی: کیدے شی چہ دواړہ خبرے پہ دوہ مختلفو وختونو کی واقع شوی وی یعنی نبی ﷺ عباسؓ تہ زکاة د دوہ کالو روستہ کړے وی یا دا چہ دوہ کالو زکاة ئے ترے مخکی اخستے وی، او دا واړہ کارہ جائز دی کلہ چہ امام پدے کار کی مصلحت گنړی۔ آہ۔

پہ یو روایت د بخاریؒ کی داسے الفاظ راغلی دی: (فَهِيَ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ وَمِثْلُهَا مَعَهَا) د هغے معنیٰ دا دہ چہ عباسؓ بہ دوچندہ صدقہ ورکوی ذے دپارہ چہ مرتبہ ئے پورتہ شی او د هغہ نہ بدی واوړی، یعنی دا صدقہ چہ د عباسؓ نہ ئے طلب کیدے شی دا ثابتہ دہ پہ عباسؓ باندے دا بہ هم صدقہ کوی او ددے سرہ بہ ددے پہ شان نورہ صدقہ هم کوی د وجہ د عزت ددۀ نہ یعنی دا د هغہ د عزت او اکرام ډیرولو دپارہ او دا معنیٰ نۀ دہ چہ هغہ بہ ئے اخلی ځکہ پہ هغہ باندے صدقہ حرامہ وہ، هغہ د بنو هاشمو نہ وو۔

أَمَا شَعَرْتَ : ۱- ددے مطلب دا دے چہ اے عمرہ! آیا تۀ خبر نۀ ئے چہ دا خو زما ترہ دے او ترۀ د پلار پہ شان وی ځکہ دواړہ د یو ځائگی نہ وی نو تۀ څنگہ دا تهمتی کوے پہ هغہ کار چہ ددۀ د حال منافی دے کیدے شی چہ ددۀ بہ عذر وی او تۀ ئے ملامتہ کوے۔ (مرقاة)

۲- یا مطلب دا دے چہ د سړی ترہ او پلار دواړہ د یو اصل نہ وی یعنی کلہ چہ تۀ پدے پوهہ ئے چہ دے او زما والد د یو اصل نہ دی نو دۀ تہ هغہ خبرے مۀ کوہ چہ دۀ تہ پرے ضرر رسیږی زما د جانب حفاظت وکړہ۔

۳- یا مطلب دا دے کہ زما پہ ترۀ باندے چرتہ حق لازم شی نو هغہ بہ زۀ ادا کوم

ځـګـه دا داسـې دې لکه په پلار باندې چه حق اوریدلې وی نو بچې له پکار دی چه هغه خلاص کړی نو دغه شان د تره حق به هم ادا کوی۔

فائده : ددې نه د خپلوانو او ترونو اکرام ثابت شو۔ دویم: تره په عزت کې د پلار په شان دې نۀ په تحریم د ښځه د هغه کې۔

- 1779(8) عَنْ أَبِي حُمَيْدِ السَّاعِدِيِّ قَالَ: اِسْتَعْمَلَ النَّبِيُّ ﷺ رَجُلًا مِنَ الْأَزْدِ يُقَالُ لَهُ ابْنُ اللُّتْبِيَّةِ عَلَى الصَّدَقَةِ فَلَمَّا قَدِمَ قَالَ: هٰذَا لَكُمْ وَهٰذَا أُهْدِيَ لِي فَخَطَبَ النَّبِيُّ ﷺ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ وَقَالَ: " أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَسْتَعْمِلُ رِجَالًا مِنْكُمْ عَلٰى أُمُوْرٍ مِمَّا وَلَّانِيَ اللهُ فَيَأْتِيْ أَحَدُكُمْ فَيَقُوْلُ :هٰذَا لَكُمْ وَهٰذَا هَدِيَّةٌ أُهْدِيَتْ لِيْ فَهَلَّا جَلَسَ فِيْ بَيْتِ أَبِيْهِ أَوْ بَيْتِ أُمِّهٖ فَيَنْظُرَ أَيُهْدٰى لَهٗ أَمْ لَا ؟ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَا يَأْخُذُ أَحَدٌ مِنْهُ شَيْئًا إِلَّا جَاءَ بِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَحْمِلُهٗ عَلٰى رَقَبَتِهٖ إِنْ كَانَ بَعِيْرًا لَهٗ رُغَاءٌ أَوْ بَقَرًا لَهٗ خُوَارٌ أَوْ شَاةً تَيْعَرُ "ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى رَأَيْنَا عُفْرَتَيْ إِبْطَيْهِ ثُمَّ قَالَ : " اَللّٰهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ اَللّٰهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ قَالَ الْخَطَّابِيُّ : وَفِيْ قَوْلِهٖ : " هَلَّا جَلَسَ فِيْ بَيْتِ أُمِّهٖ أَوْ أَبِيْهِ فَيَنْظُرَ أَيُهْدٰى إِلَيْهِ أَمْ لَا ؟ "دَلِيْلٌ عَلٰى أَنَّ كُلَّ أَمْرٍ يُتَذَرَّعُ بِهٖ إِلٰى مَحْظُوْرٍ فَهُوَ مَحْظُوْرٌ وَكُلُّ دَخْلٍ فِي الْعُقُوْدِ يُنْظَرُ هَلْ يَكُوْنُ حُكْمُهٗ عِنْدَ الْاِنْفِرَادِ كَحُكْمِهٖ عِنْدَ الْاِقْتِرَانِ أَمْ لَا ؟ هٰكَذَا فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه : ابوحمید ساعدی ؓ فرمائی: عامل مقرر کړو نبی ﷺ په زکاة (وصول کولو) باندې یو سړې د ازد قبیلې نه چه هغه ته ئې ابن اللُّتبیه وئیلو، کله چه هغه (زکاة وصول کړو او مدینې ته) راغې نو (مسلمانانو ته ئې) وویل چه دا مال ستاسو دې (یعنې دا مال په زکاة کې وصول شویدې ددې مستحق تاسو یئ) او دا (نور) مال ما ته هدیه راکړې شویده۔ (کله چه نبی ﷺ دا خبره واوریده) نو هغه (خلکو ته) خطبه ووئیله، د الله حمد او د هغه ثناء ئې بیان کړه او دائې وفرمایل: اما بعد : یقیناً زۀ ځۀ کسان ستاسو نه په څه کارونو باندې مقرروم د هغه کارونو نه چه الله تعالیٰ پرې زۀ مشر کړې یم نو راشی یو تن د دوی نه نو داسې وائی چه دا مال ستاسو دپاره دې او دا مال هدیه (تحفه) ده چه ما ته راکړې شویده نو دې ولې د خپل پلار یا د مور په کور کې نۀ کیناستو چه وګوری چه آیا ده ته هدیه راوړې شی او که نۀ۔ قسم په هغه ذات چه

زما نفس د هغه په لاس کی دیے، نهٔ اخلی یو تن ددیے مال نه څه شیے مگر رابه ئے وړی په ورځ د قیامت چه پورته کړیے به ئے وی په خپل څټ باندیے که چرته اُوښ وی (بغیر د استحقاق نه ئے اخستیے وی)، د هغه دپاره به آواز (رمبارېے) وی او که غوا وی د هغه دپاره به رمبارېے وی او که چیلۍ او گډه وی هغه به آوازونه کوی۔ بیا رسول الله ﷺ دواړه لاسونه پورته کړل تردیے چه مونږ د هغه د دواړو ترخونو سپینوالے ولیدو، بیا ئے وفرمایل: اے الله! یقیناً ما پیغام ورسولو، اے الله ما پیغام ورسولو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

او امام خطابیؒ د رسول الله ﷺ ددیے وینا: «هغه شخص د خپل پلار یا د خپلے مور په کور کی ولے نهٔ کیناستو چه کتل ئے چه دهٔ ته تحفه راوړیے کیږی او که نهٔ؟» په باره کی فرمایلی دی چه دا ددیے خبریے دلیل دیے چه د یو حرام کار دپاره چه کوم شیے وسیله جوړیږی نو هغه وسیله به هم حرامه وی، دارنگه که یو عقد (معامله) د بل عقد (مثلاً د اخستو خرڅولو، هبه او نکاح وغیره) سره متعلق شی نو په هغه وخت به کتلے شی چه آیا ددیے معاملو جدا جدا حکم د دوی د پیوست والی (یوځای والی) د حکم مطابق دیے او که نهٔ دیے؟ که وی نو صحیح به وی او که نهٔ وی نو صحیح به نهٔ وی۔ (شرح السنه)

تشریح: مِنَ الْأَزْدِ : دا اَزْدِ شَنُوْءَه دیے او دا په یمن کی د یوے قبیلے پلار دیے۔

اِبْنُ اللُّتْبِيَّةِ : ددهٔ نوم عبد الله بن اللتبیه دیے او لُتْبِیَه ئے مور وه او د پلار نوم ئے ثعلبه ازدی دیے او په یو روایت کی اِبْنُ الْاُتْبِيَّة راغلے دیے۔

مِمَّا وَلَّانِيَ اللهُ : یعنی زهٔ ئے پرے والی (واکدار، مشر) کړیے یم۔

فَهَلَّا جَلَسَ : یعنی دیے دیے په کور کی کینی بیا دیے وگوری چه دهٔ ته څوك هدیه راوړی او که نهٔ؟ ددیے مطلب دا دیے چه دهٔ ته چه دا تحفے او تحائف پیش کیږی دا ددهٔ د ذات په وجه سره نهٔ دی بلکه ددهٔ د عهدیے په وجه سره دی چه دا د پیغمبر او د اسلامی حکومت عامل دیے، که دا د زکاة راټولو دپاره نهٔ ویے مقرر شویے بلکه په کور کی ناست ویے نو دهٔ ته چا هدیه ولے نهٔ راوړله؟۔

نو ددیے نه بیا دا مسئله معلومیږی چه که یو شخص یو عامل ته تحفه د مخکنی تعلقاتو او دوستانے په وجه ورکوی او دا د هغه همیشه معمول وی نو دا تحفه به ددهٔ دپاره جائز وی او که د تحفے پیش کول خالص ددهٔ د عهدیے په وجه سره وی نو دا تحفه

به ددۀ دپاره جائز نۀ وی لکه د قاضی او نورو حکامو په باره کی دا مسئله ده چه که قاضی او حاکم ته دعوت وکړے شی یا ورته څوك تحفه ورکړی نو هغه ئے تر هغه وخت پورے قبلولے شی چه دا معلومه کړی چه دا تحفه زما ددے موجوده عهدے او عامل کیدو په وجه سره نۀ ده بلکه د مخکنی ذاتی تعلقاتو په وجه سره ده۔ دارنګه که یو شخص ته د مخکی نه څوك تحفه ورکوی لیکن د عامل کیدو په وجه سره ورته زیاته ورکړی نو ددے اخستل به هم جائز نۀ وی ځکه ذائے ددے دپاره ورکوی چه عامل ورته په زکاة کی څه تخفیف او آسانی وکړی۔ پدے وجه علامه خطابیؒ ویلی دی چه د عامل دپاره دا جائز نۀ دی چه هغه د چا تحفه قبوله کړی ځکه د تحفے پیش کولو سره د سړی دا خواهش وی چه عامل د زکاة نه څه حصه پریدی (یا حاکم د هغه سره غیر قانونی رعایت وکړی) او دا مطلقاً جائز نۀ دی۔

دا د نورو مباحو تحفو په شان حکم نۀ لری، بلکه دا خیانت دے او د عامل دپاره په عهده او امانت کی خیانت دے۔ پدے وجه ئے پدے حدیث کی ورسره دا وعید او سزا ذکر کړه چه د قیامت په ورځ به د خیانتګر په شان راځی دغه تحفه به ئے په ځان بار کړی وی۔

اوس که یو عامل دا قسم تحفه واخلی نو ددے حکم به دا وی چه دا به بیرته هدیه پیش کونکی ته ورکوی او که هغه ته واپس کول مشکل وو نو بیا به ئے بیت المال ته واپس کړی۔

لَايَأْخُذُ أَحَدٌ مِنْهُ : یعنی د مال د صدقے نه هیڅ شے نۀ اخلی په طریقه د هدیه وی یا په طریقه د خیانت وی۔

تَيْعَرُ : یعنی چغے او رمبارے به وهی، یعار د ګډے سختو چغو او رمبارو ته وائی۔

مطلب دا دے چه چا په دنیا کی د زکاة د مال نه غلا وکړه یا ئے د عام مال نه غلا وکړه نو د قیامت په ورځ به راشی او غلا کړے شوے مال به ئے په سر باندے پورته کړے وی که حیوان وی نو هغه به آوازونه کوی چه تول عرصات والو ته ددے بنده حال معلوم شی نو دیر زیات به شرمیږی۔

عُفْرَتَيْ إِبْطَيْهِ : عفره هغه سپینوالی ته وائی چه خړ والی ته مائل وی، یعنی خالص سپین نۀ وی۔

اَللّٰهُمَّ هَلْ بَلَّغْتَ : دا نبی ﷺ دوه ځل ووېل دے دپاره چه خلك د نبی ﷺ ددے دیر

اهتمام وکړی او پوره طریقے سره ئے یاده کړی۔ یعنی الله تعالیٰ زما حال لیدونکے دے چه ما خلکو ته د غلا په باره کی خبره بیان کړه چه بیا د قیامت په ورځ زما ددے بیان نه انکار ونکړی الله پدے گواه دے۔

فوائد الحدیث : د حدیث نه معلومه شوه چه عامل او گورنر سره محاسبه ضروری ده او کله چه ورسره محاسبه وشی نو پدے سره د هغه امانتگری ثابتیږی، ددے وجه نه عمر ﷺ به د خپلو عُمّالو (گورنرانو) سره محاسبه کوله۔

۲- عاملانو ته چه کومے تحفے ورکړے شی هغه به بیت المال ته واپس کولے شی، او عامل دپاره به دا جائز نهٔ وی مگر هله چه امام او خلیفه ئے په خپله خوښه هغه ته ورکړی لکه د معاذ ﷺ په قصه کی راځی چه دهٔ ته نبی ﷺ هدیه جائز کړه نو د رسول الله ﷺ د وفات نه روسته ابوبکر صدیق ﷺ هغه ته ورکړه۔

۳- دا حکم د هغه چا هم دے چه د چا پورے ئے قرض وی نو دے به د قرضداری نه هدیه نهٔ اخلی لیکن دا ورله جائز دی چه دا ورله په قرض کی حساب کړی۔

٤- د (هَلَّا جَلَسَ) نه دا فائده معلومیږی چه څوك په یو داسے تاویل کی خطاء شی چه خلکو ته د هغے ضرر رسیږی نو پکار ده چه د هغه دا خبره خلکو ته مشهوره کړی او خطائی ئے بیان کړی دے دپاره چه نور خلك پرے دهوکه نشی۔

٥- که یو انسان په یو تاویل کی خطاء شی نو هغه ته توبیخ ورکول جائز دی۔

٦- دارنگه د امارت او امامت دپاره اگر که افضل شخص موجود وی نو مفضول هم د یو کار دپاره استعمالولے شی۔ (حافظ ابن حجرؒ)

۷- په دے حدیث کی په هغه حیلو باندے قوی رد دے چه د هغے په وجه حرام حلال شی۔

قَالَ الْخَطَّابِیُّ : امام خطابی رحمه الله ددے حدیث نه دوه قاعدے او شرعی اصول ثابتوی، اوله فائده او قاعده دا ده چه که د یو حرام شی د حاصلولو دپاره یو مباح او جائز شے وسیله او ذریعه جوړه کړے شی نو هغه جائز شے به هم د یو حرام مقصد دپاره د وسیله کیدو په وجه سره حرام گرځی۔

ددے مثال لکه (کُلُّ قَرْضٍ جَرَّ نَفْعًا فَهُوَ رِبًا) دے۔ یعنی یو شخص د ناجائزے فائدے او د سود حاصلولو دپاره یو شخص ته قرض ورکړی نو قرض ورکول یو جائز کار دے

لیکن چونکه قرض ورکونکې د سود حاصلولو دپاره قرض ورکوي پدې وجه ددې قرض ورکول به هم حرام وي۔

دغه شان ددې مثال دا هم دې چه د یو کور په کرایه کې پیشګی اخستل۔ چه بیا ورته د پیشګۍ په وجه کرایه کموي نو دا ذریعه د حرامو شوه لهذا پیشګی ورکول حرام دي۔

دویمه قاعده دا ثابتوي چه که دوه جدا جدا عقدونه (معاملې) د یو بل سره متعلق کړې شي نو په هغه وخت به کتلې شي چه د دواړو د شریك کیدو نه پس هغه شان حکم دې کوم چه د دواړو په جدا جدا کیدو کې وو او که نهٔ دې؟ یعنې که هغه معاملې دواړه جدا جدا جائز کیدې شي نو دواړه که شریکې شي هم جائز به وي او که دواړه معاملې جدا جدا نهٔ صحیح کیږي نو د دواړو شریك کیدل به هم صحیح نهٔ وي او کله کله به جدا جدا جائز وي لیکن د شراکت په وجه به حرام شي نو عقود ته به کتل پکار دي۔ ددې مثال دا دې چه یو شخص د لسو روپو شې په سل روپۍ خرڅ کړي دې دپاره چه هغه به اخستونکي ته زر روپۍ قرض ورکوي او ددې قرض فائده (سود) به د هغه شي د قیمت په طور وصول کړي، نو پدې صورت کې نوي (۹۰) روپۍ قرض ورکونکي ته ملاؤ شوې کومه چه ددهٔ د قرض فائده (سود) وو، دا صورت جائز نهٔ دې ځکه چه که دغه شخص د لسو روپو شې په سل روپۍ خرڅوي او اخستونکي ته د قرض لالچ ورنکړي نو هغه ئې هیڅکله په دومره زیات قیمت نهٔ اخلي۔

او چرته چه دواړه معاملې داسې وي چه که د یو بل نه جدا شي نو هم جائز او صحیح وي، لکه په ذکر شوي مثال کې د لسو روپو شې په لس روپۍ باندې خرڅ کړي او هغه ورته د زرو روپو قرض هم ورکړي نو چونکه دا دواړه معاملې جدا جدا جائز دي پدې وجه که دواړه معاملې شریکې شي هم جائز او صحیح به وي۔

په بل عبارت باندې چا چه یو شې په عقد کې داخل کړو مثلاً دغه هدیه ده چه انفراداً (یوائې) ئې تا له څوك درکوي نو اخستل ئې جواز لري او چه کله د زکاۃ د اخستو سره پیوسته شوه نو بیا به ناجائزه وي۔ دارنګه که یو شې تا له څوك کران درکوي نو جواز لري لیکن کله چه داسې اقتران (پیوستون) وکړي چه که په نقدو اخلې ارزان دې او که په نسیه اخلې نو بیا ئې درباندې ګرانوي نو دا به سود او ناروا وي۔

د مشکاۃ په حاشیه کې ئې دابّه مرهونه مثال ورکړیدے چه ددے نه فائده اخستل ناروا دی، دا ئې د خپل حنفی مذهب مطابق مثال راوړیدے او خطاء دے ځکه چه په حدیث کې د دابّه مرهونې نه فائده اخستل جائز کړے شویدی۔ (مسند احمد ۷۱۲۵ بسند صحیح ولبن الدر یشرب) وسیأتی فی البیوع من المشکاۃ) وانظر الدین الخالص (۱۱) ۔ نو مثال د بل یو مرهون شی ورکول پکار دی۔

ددے نور مثالونه هم شته لکه سلم په غنمو کې جائز دے لیکن که د خاص پټی قید ولګول شی بیا جائز نۀ دے۔ ځکه بیع الزرع قبل بدو الصلاح رازی۔ دارنګه (الذهب بالذهب) سرۀ په سرۀ باندے برابر په برابر خرڅول جائز دی لیکن که نسیه قید پکی راشی نو ناجائز شی۔ او که قرض شی نو بیا جائز ده۔

خطابی : ددۀ نوم ابوسلیمان احمد بن محمد بن ابراهیم الخطابی البستی دے پخوانے عالم دے عام علماء او شارحین ددۀ نه نقل کوی ډیر کتابونه ئې لیکلی دی لکه اعلام الحدیث، معالم السنن شرح ابی داود، غریب الحدیث، العزلة وغیره۔ (الانساب للسمعانیؒ) او په (۲۸۸ هجری) کې وفات شویدے۔

- 1780(9) وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ عُمَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْكُمْ عَلٰى عَمَلٍ فَكَتَمَنَا مِخْيَطًا فَمَا فَوْقَهُ كَانَ غُلُوْلًا يَأْتِيْ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او عدی بن عمیره ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ وفرمایل : هغه څوك چه مونږه ئې ستاسو نه په یو کار باندے مقرر کړو او هغه شخص زمونږ نه د ستنے برابر یا ددے نه کم وزیات یو شے پټ کړی نو دا به خیانت وی چه دے به ئې د قیامت په ورځ باندے راوړی۔ (مسلمؒ)

تشریح : عدی بن عَمیره بن فَروه بن زُرارة بن الارقم الکِندی مشهور صحابی دے اسم کُنیه ئې ابو زُراره ده، نبی ﷺ ته په وفد کې راغلے دے او د هغه نه ئې روایتونه نقل کړیدی۔ دا په کوفه کې وسیدلے دے او بیا د هغے نه د سیدنا عثمان ﷺ د شهادت نه روسته ووتو نو جزیرے ته لاړو او هلته کې وفات شو او په حرّان کې ددۀ اولاد وو۔

تشریح : مِخْیَطًا : یعنی ستنه۔ یعنی څوك چه په یو کار یا عهده باندے مقرر شو او په هغے کې د ستنے په اندازه یو شے پټ کړی نو دا به خیانت شمارلے شی چه د قیامت

په ورځ به ئے الله تعالیٰ رسوا کړي او د خلکو په مخامخ به ئے راروان کړے وي۔

فَمَا فَوْقَهٗ : یعنی د ستنې نه پورته شے په وړوکوالی کې یا په غټوالی کې۔

غُلُوْلًا : غلول اصل کې خیانت ته وائي بیا په غنیمت کې د خیانت دپاره استعمال شو۔

دا حدیث ئے په باب د زکاۃ کې راوړو ځکه چه ددے حدیث د مخکنی حدیث سره مناسبت وو په دے کې چه په عمل او عهده کې به خیانت نشی کولے، که هغه د زکاۃ عامل کیدل وي او که بله عهده وي۔

الفصل الثانی

- 1781 (10) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ (وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ) كَبُرَ ذٰلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ. فَقَالَ عُمَرُ أَنَا أُفَرِّجُ عَنْكُمْ فَانْطَلَقَ. فَقَالَ : يَا نَبِيَّ اللهِ قَدْ كَبُرَ عَلٰى أَصْحَابِكَ هٰذِهِ الْآيَةُ، فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ ﷺ : " إِنَّ اللهَ لَمْ يَفْرِضِ الزَّكٰوةَ إِلَّا لِيُطَيِّبَ بِهَا مَا بَقِيَ مِنْ أَمْوَالِكُمْ وَإِنَّمَا فَرَضَ الْمَوَارِيْثَ وَذَكَرَ كَلِمَةً لِتَكُوْنَ لِمَنْ بَعْدَكُمْ "قَالَ فَكَبَّرَ عُمَرُ. ثُمَّ قَالَ لَهٗ : " أَلَا أُخْبِرُكَ بِخَيْرِ مَا يَكْنِزُ الْمَرْءُ الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ إِذَا نَظَرَ إِلَيْهَا سَرَّتْهُ وَإِذَا أَمَرَهَا أَطَاعَتْهُ وَإِذَا غَابَ عَنْهَا حَفِظَتْهُ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : هرکله چه دا آیت کریمه (وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ) الآية (هغه کسان چه سره او سپین جمع کوی)۔ (آیت آخر پورے) نازل شو نو دا خبره په مسلمانانو باندے گرانه شوه، نو عمر فاروق رضی الله عنه وفرمایل چه زهٔ به ستاسو نه (ددے حالت نه) کولاووالے راولم نو لاړو عرض ئے وکړو اے د الله نبی ! ستا په ملګرو باندے دا آیت گران پریوتو؟ نو نبی ﷺ وفرمایل: یقیناً الله تعالیٰ زکاۃ صرف ددے دپاره فرض کړیدے چه په دے سره ستاسو باقی مالونه پاك کړي او یقیناً الله تعالیٰ (ددے وجے نه) میراثونه فرض کړیدي، او ددے نه روستو ئے یوه کلمه وفرمایله دے دپاره چه ستاسو نه روستو خلکو ته پاتی شي (او هغه د هغوی حق شي)، ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه (په دے آوریدو سره چه یو مشکل آسان شو) عمر فاروق رضی الله عنه الله اکبر وویلو۔ بیا نبی ﷺ هغه ته وفرمایل : آیا تا ته خبر نهٔ درکوم په غوره هغه شی باندے

چه سرہے ئے خزانه کوی، هغه نیکه ښځه ده چه کله ورته دہے وګوری نو هغه ئے خوشحاله کوی او کله چه ورته حکم وکړی نو هغه ئے تابعداری کوی او کله چه ترے غائب شی نو هغه ئے حفاظت کوی (ابوداوٗد)۔

تشريح : كَبُرَ ذٰلِكَ : یعنی اے د الله رسوله ! دا آیت نازل شویدے او پدے کی دا دی چه څوك سرهٔ سپین جمع کوی نو هغوی ته به دردناك عذاب ملاویږی، نو دا خبره خو ډیره ګرانه شوه، نو ددے آیت څه مطلب دے ؟ نبی ﷺ وفرمایل چه حاصل ئے دا دے چه ددے نه مطلق مال جمع کولو حرمت نهٔ دے مراد بلکه هغه مال جمع کول حرام دی چه بیا ترے زکاة نهٔ ادا کوی او کله چه ترے زکاة ادا کړے شی نو بیا دا مال پاك شی د هغے په ساتلو باندے عذاب نشته۔ ددے وجه نه عبد الله بن عباس رضی الله عنهما به فرمایل : (مَا اُدِّیَ زَکَاتُهٗ فَلَیْسَ بِکَنْزٍ) (ابن ابی شیبة وقد روی مرفوعا فی المستدرك : ١٤٣٨)۔

د کوم مال نه چه زکاة ادا کړے شی نو هغه په کنز (خزانه) کی نهٔ داخلیږی نو د هغے په جمع کولو به عذاب هم نهٔ وی۔ او عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی: (اِنَّمَا کَانَ هٰذَا قَبْلَ اَنْ تُنْزَلَ الزَّکَاةُ جَعَلَهَا اللّٰهُ طُهْرَةً لِلْاَمْوَالِ) (البخاری باب اثم مانع الزکاة: ١٤٠٢)۔ (دا په هغه وخت وو چه زکاة لا فرض شوے نهٔ وو هر کله چه زکاة فرض شو نو دا الله تعالیٰ د مالونو پاکوالے وګرځولو)۔

لِيُطَيِّبَ : دا د تَطْيِيْبٌ نه دے یا د اِطَابَةٌ نه دے پاکوالی ته وائی۔ یعنی زکاة چه د خپل مال نه جدا کړے شی او فقراء او مستحقینو ته ورسولے شی نو باقی مال پاك شی او نفس د بخل نه پاك شی۔

وَذَكَرَ كَلِمَةً : یعنی نبی ﷺ یوه خبره ذکر کړه چه هغه ما نه هیره شوه او کیدے شی چه هغه دا روسته خبره وی۔ یعنی لِتَکُوْنَ لِمَنْ بَعْدَکُمْ۔ یعنی دا میراث الله دے دپاره مقرر کړیدے چه دا روسته میراث خوروته پاتی شی۔ نو د میراث پریخودل هم دلیل دے چه مال جمع کول جائز دی۔ د ټول امتِ مسلمه دا رایه ده چه مال جمع کول جائز دی کله چه ترے زکاة ادا کولے شی، سِویٰ د ابوذر غفاری رضی الله عنه نه چه هغه به دا وئیل چه کوم مال د خوراك او د ژوند د برابرولو نه زیاتی وی نو هغه به کنز وی او د هغے جمع کول به ناروا وی، د نن ورځے خوراك به صبا له نهٔ ساتی۔ او هغه به د وعید په آیتونو استدلال کولو کوم چه د مال د جمع کولو په باره کی راغلی دی دارنګه د نبی ﷺ په

عمل باندے به ئے استدلال کولو روستو باب الانفاق کی رازی ان شاء الله تعالیٰ۔ لیکن عام صحابه کرام ترے مخالف وو، او د هغوی سره ډیر دلیلونه وو چه بعض مخکی تیر شو۔

حَفِظَتْهُ : یعنی د خاوند د کور، د سامانونو او د هغه د بچو او د هغه د رازونو او د هغه د حیاء او د عزت او ورسره د خپل زان حفاظت کوی۔

فوائد الحديث : (۱) شان نزول پیژندل ډیر مهم دی چه پدے سره ډیر مسائل حل کیږی۔ (۲) امت د قرآن کریم په تفسیر کی د نبی کریم ﷺ سنت ته خامخا حاجت لری۔ (۳) د صحابه کرامو د الله تعالیٰ د کتاب نه ډیر زیات تأثر وو پدے وجه ددے آیت په نازلیدو ډیر غمژن شوی وو۔ (۴) په دین کی د فقاهت او تفقه حاصلولو یوه طریقه دا ده چه امثال او نظائرو ته به کتلے شی او بعض احکام به د نورو سره جمع کولے شی بیا به د هغے نه نتیجه راویستے شی۔

(۵) د مفتی کمال دا دے چه کله د یو شی حرمت بیان کړی یا یو شے د مستفتی دپاره غوره وګنړی نو هغه به بیانوی او د هغے مشوره به ورته ورکوی۔

(٦) ترغیب دے چه دغسے صفاتو والا ښځه باندے ځان کامیابول پکار دی۔

درجة الحديث : ضعيف : اخرجه ابوداود وسكت عليه هو والمنذرى واخرجه الحاكم وصححه وابن ابى حاتم وابن مردويه والبيهقى وابويعلى وغيرهم وقال العراقى فى تخريج الاحياء (۲/۳٦) وسنده صحيح وقال الالبانى سنده ضعيف لسقط في الاسناد وهو عثمان بن عمير ابو اليقظان واتفقوا على تضعيفه (المناوى فى الفيض عن المهذب للذهبى) السلسلة الضعيفة ۱۳۱۹) ولكن معنى الحديث صحيح ثابت من روايات اخرىٰ) ولقوله اذا نظر اليها الخ شاهد صحيح رواه احمد والنسائى كما فى صحيح النسائى : ۳۰۳۰ والارواء (۷۸٦)

- 1782(11) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَتِيكٍ قَالَ :قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " سَيَأْتِيكُمْ رُكَيْبٌ مُبْغَضُونَ فَإِذَا جَاؤُكُمْ فَرَحِّبُوا بِهِمْ وَخَلُّوا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَبْتَغُونَ فَإِنْ عَدَلُوا فَلِأَنْفُسِهِمْ وَإِنْ ظَلَمُوا فَعَلَيْهِمْ وَأَرْضُوهُمْ فَإِنَّ تَمَامَ زَكَاتِكُمْ رِضَاهُمْ وَلْيَدْعُوا لَكُمْ ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه : جابر بن عتيك ؓ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی : زردے چه تاسو

ته به یو وروکے شان دله راشي (یعني د زکاة د وصول کولو دپاره به عاملان راشي) چه مبغوض به وي (یعني په طبعي طور سره به د خلکو بدې شي ځکه چه هغوي به د خلکو مالونو اخستو له راغلي وي او څوك چه د چا مال اخلي نو هغه ئے طبعي بد ګنړي) نو کله چه دوي تاسو ته راشي نو مرحبا ورته ووايئ او هغوي چه کوم شے (یعني زکاة) طلب کوي د هغے ترمینځ حائل او مانع مه واقع کوئ نو که دوي عدل وکړو نو فائده د دوي د ځانونو دپاره ده (ثواب به ورته ملاوېږي) او که دوي ظلم وکړو نو ضرر ئے په دوي باندے دے او دوي خوشحاله کړئ ځکه چه ستاسو د زکاة پوره ادا کول د هغوي خوشحاله کول دي او هغوي له پکار دي چه ستاسو دپاره دعا وکړي۔ (ابوداودؔ)

تشریح : رُكَيْبٌ : تصغیر د رَكْبٌ دے چه هغه اسم جمع د رَاكِبٌ ده۔ جزريؔ او خطابيؔ وائي : رَكْبٌ جمع د رَاكِب ده۔

مُبَغَّضُوْنَ : په غین باندے تشدید دے هغه شخص ته وئیلے شي چه د خلکو په زړونو کي مبغوض کړے شوے وي۔ یعني تاسو ته به یو جماعت راځي چه هغه به تاسو ته مبغوض وي یعني په طبعي طور سره به ستاسو هغوي بدې شي ځکه چه ستاسو د مالونو د اخستلو دپاره به راځي، او دا د انسان طبیعت دے چه ورکونکے ورته ګران وي او اخستونکے د مال ئے بدې شي، نو کله چه دوي تاسو ته راشي نو دوي چه څه غواړي هغه ورکړئ۔

وَإِنْ ظَلَمُوْا : یعني که دوي ظلم کوي او زکاة زیات اخلي یا غوره اخلي نو ضرر ئے په دوي دے، ددے مطلب دا دے چه د زکاة د وصولولو په معامله کي اګرکه تاسو به د خپل ګمان او د طبیعت مطابق دا ګنړئ چه دوي تاسو سره ظلم کوي خو بیا به هم تاسو هغوي خوشحاله رخصتوئ۔ یا مراد دا دے که بالفرض دا عاملان ظلم هم وکړي بیا به هم تاسو د دوي خیال کوئ پدے صورت کي به د نبي ﷺ دا جمله د مبالغے دپاره وي او پدے سره د عامل د رضا کولو اهمیت د خلکو په ذهنونو کي کینوي۔

وَأَرْضُوْهُمْ : یعني دوي خوشحاله کړئ خو مره چه کیدے شي، واجب حق ورته ورکړئ، ټال مټول، دوکه او خیانت ورسره مه کوئ۔ د ظلم تشریح روستو حدیث کي رازي۔

فَإِنَّ تَمَامَ : یعني د زکاة ادائیګي خو په اصل فرض مال ادا کولو باندے پوره کیږي

مگر بیا هم د زکاة وصول کونکی خوشحاله رخصتول د زکاة د اداکولو کمالی حصه ده پدې وجة ددې په باره کې هم احتیاط ساتل ضروری دی۔

وَلْيَدْعُوا لَكُمْ : او هغوی له پکار دی چه تاسو ته دعاء وکړی۔ او دا امر د استحباب دپاره دے لکه دا خبره مخکې ذکر شوه۔

درجة الحديث : حسن لغيره لشواهده الآتية والماضية: رواه ابوداود والمنذرى وقال فى اسناده ابو الغصن وهو ثابت بن قيس المدنى الغفارى مولاهم قال الامام احمد ثقة وقال ابن معين ضعيف، وقال ابن حبان كان قليل الحديث كثير الوهم فيما يرويه ولا يحتج بخبره اذا لم يتابعه عليه غيره وقال الآجرى عن ابى داود: ليس حديثه بذاك وقال الحافظ فى التقريب صدوق يهم)

- 1783(12) عَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ﷺ قَالَ : جَاءَ نَاسٌ يَعْنِيْ مِنَ الْأَعْرَابِ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَقَالُوْا :إِنَّ نَاسًا مِنَ الْمُصَدِّقِيْنَ يَأْتُوْنَا فَيَظْلِمُوْنَا قَالُوا : يَا رَسُوْلَ اللهِ! وَإِنْ ظَلَمُوْنَا: قَالَ : " أَرْضُوا مُصَدِّقِيكُمْ وَإِنْ ظُلِمْتُمْ "رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ۔

ترجمه : جریر بن عبد الله ﷺ فرمائی: څه کسان راغلل یعنی د باند چیانو نه رسول الله ﷺ ته نو هغوی وویل : یقیناً څه کسان د زکاة وصول کونکو نه مونږ ته راځی او په مونږ باندې ظلم کوی، جریرؓ فرمائی: نو رسول الله ﷺ وفرمایل: (اے خلکو!) خپل زکاة وصولونکی خوشحاله کړئ اگرکه په تاسو ظلم کیدے شی۔ (ابوداوؤد)

تشریح : **فَيَظْلِمُوْنَا** : پدے کې د نون تشدید او تخفیف دواړه جائز دی، د تخفیف په صورت کې به یو نون حذف وی۔

نبی ﷺ هوښیار شخصیت وو هغه ته معلومه وه چه عاملان د خلکو طبعی او نفسیاتی طور سره خوښ نۀ وی څکه مال ترے اخلی اگرکه هغوی ظلم نکوی خاصکر په هغه زمانه کې عاملان خو صحابه کرام وو او د هغوی د شان نه دا خبره ډیره لرې وه او بل طرفته مالداره خلك زکاة اخستل هم ظلم گنړی او د هغوی په طبیعت باندې دا درونده لگی پدے وجه نبی ﷺ دے باند چیانو ته وفرمایل اگرکه تاسو دا گمان کوئ چه زکاة وصولونکی خلك تاسو سره ظلم کوی مگر پدے صورت کې به هم تاسو د هغوی د راضی او خوشحاله کولو کوشش کوئ۔ نو پدے کې د عاملانو

په ظلم او د خلکو په صبر باندے کلکول مقصود نهٔ دے او نهٔ دا چه عاملان به د مقرر زکاة نه زیات اخلی۔ (سندیؒ) بلکه تیزی ورکول دی چه کوشش وکړئ چه زکاة اخستونکی درنه راضی واپس شی او هغوی ته سینه فراخه کړئ۔
دا حدیث امام مسلمؒ هم روایت کړیدے لیکن په هغے کی دا قول نشته : (وان ظلمتم)
درجة الحديث : سنده صحيح، رواه ابو داود واخرجه مسلم واحمد بدون زيادة (وان ظلمتم)

- 1784(13) وَعَنْ بَشِيرِ بْنِ الْخَصَاصِيَّةِ قَالَ :قُلْنَا : إِنَّ أَهْلَ الصَّدَقَةِ يَعْتَدُوْنَ عَلَيْنَا أَفَنَكْتُمُ مِنْ أَمْوَالِنَا بِقَدْرِ مَا يَعْتَدُوْنَ ؟ قَالَ : " لَا". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ
ترجمه : بشير بن الخصاصيه ﷺ فرمائي: مونږ (رسول الله ﷺ ته) ووئیل : یقیناً زکاة اخستونکی په مونږ باندے زیاتے کوی (یعنی په زکاة کی د واجب مقدار نه زیات اخلی)، آیا مونږ پټولے شو د مالونو خپلو نه په اندازه د هغے چه هغوی په مونږ زیاتے کوی ؟ نبی ﷺ وفرمایل: نهٔ۔ (ابو داودؒ)
تعارف : بشیر بن مَعْبَد السَدُوْسِی په ابن الخصاصیه مشهور دے او په جاهلیت کی ئے زَحْم نوم وو بیا نبی ﷺ ورله بشیر نوم کیخودو، جلیل القدر صحابی دے، الخصاصیه ددهٔ یوه نیا وه یعنی د بَره نیکه مورئے وه چه د هغے نوم کبشه وه یا ماریه بنت عمرو الغطریفیه وه۔
تشریح : بِقَدْرِ مَا يَعْتَدُوْنَ ؟ : مطلب دا دے چه کله چه مونږ ته دا معلومه شی چه عاملان مثلًا د پنځو اُوښانو نه دوه ګډان اخلی سره ددے نه چه پدے کی یو ګډ واجب دے نو که زمونږ لس اُوښان وی نو آیا مونږ له به دا جائز وی چه پنځه ترے پټ کړو او عاملانو ته ووایو چه زمونږ صرف پنځه اُوښان دی تردے چه کله هغوی دوه ګډان د پنځو نه واخلی نو دا به د لسو د طرف نه ادا شی او په مالکانو باندے به څه ظلم رانشی؟ نو نبی ﷺ ورته اجازه ورنکړه ددے وجه بعض علماؤ دا ذکر کړیده چه نبی ﷺ ورته څکه رخصت ورنکړو چه د بعض مال پټول خیانت دے او خیانت دروغ او دوکه ده او مسلمان به دوکه او خیانت نهٔ کوی۔ دارنګه که دوی ته ئے رخصت ورکړے وے نو کیدے شی چه دوی بعض مال د هغه عامل نه پټ کړی چه هغه به پرے ظلم نهٔ کوی۔ نو ظاهر د حدیث دلیل دے چه د زکاة اخستونکو عاملانو نه به د مال هیڅ شے

نشي پتولے اگر كه هغوى ظلم كوى۔ يا پدے حديث كى هم د مخكى حديث پشان خبره ده چه نبى ﷺ ته معلومه وه چه د مالدارو د مال سره د مينے په وجه حق زكاة اخستلو ته هم زياتے وائى پدے وجه ئے په مخكى حديث كى مبغضين ووئيل، ورنه عاملانو ته د خپل حق زكاة نه زيات وركول لازم نهٔ دى بلكه په بل روايت كى نبى ﷺ فرمائى: ((چا نه چه د فرضى حق نه زيات وغوښتے شو نو نهٔ دے ئے وركوى))۔ (صحيح البخارى وابى داود) نو دا روايت دليل شو چه د ځان نه ظلم او ټيكس دفع كول جائز دى۔

فائده : دا حديث داسے دے لكه باب الامارة كى رازى چه د حُكامو حق تاسو ادا كړئ او كه هغوى ستاسو حق نهٔ ادا كوى نو صبر كوئ۔

٢- مسئله : كه حكومت ظلم كوى په بجلى يا گيس يا نورو ټيكسونو كى نو آيا طريقے سره دفع د دغه ظلم د ځان نه جائز ده او كه نهٔ ؟ نو صحيح دا ده چه دفع د ظلم جائز ده په شرطونو سره يو دا چه پدے باندے لوى فساد نهٔ مرتب كيږى۔ دليل پرے حديث د بخارى دے چه مخكى تير شو : (وَمَنْ سُئِلَ فَوْقَهَا فَلَا يُعْطِ) (كتاب الزكاة)۔ (چا نه چه زيات وغوښتے شى نو نهٔ دے ئے وركوى) بل دليل مسئلة د الظفر بالحق ده لكه په كتاب البيوع كى به راشى ان شاء الله تعالىٰ او فتاوى الدين الخالص (١٢) الغصب وكوره۔ هر چه مذكوره احاديث دى نو هغه محمول دى په رد د گمان د اعرابو ځكه صحابه كرامؓ په عوام الناس باندے ظلم نكولو۔

درجة الحديث : سنده حسن لغيره: رواه ابوداود وفى اسناده ديسم السدوسى ذكره ابن حبان فى الثقات وقال فى التقريب مقبول ومعنى الحديث ثبت مما سبق)

- 1785 (14) وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " اَلْعَامِلُ عَلَى الصَّدَقَةِ بِالْحَقِّ كَالْغَازِىْ فِىْ سَبِيْلِ اللهِ حَتّٰى يَرْجِعَ إِلٰى بَيْتِهِ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِىُّ

ترجمه : رافع بن خديج ﷺ فرمائى: رسول الله ﷺ وفرمايل: په حق سره زكاة وصول كونكے (عامل) د الله په لاره كى (د جهاد كونكى) غازى پشان دے تردے چه هغه خپل كور ته راواپس شى۔ (ابوداود، ترمذى)

تشريح : بِالْحَقِّ : يعنى كوم عامل چه په رښتيا او صحيح طريقے سره چه خيانت

پکی ونکړي یا په اخلاص او اجر کنټرلو سره په خپله عهده کار وکړي نو ددهٔ د اجر میتر به جاري وي لکه یو غازي چه د الله په لار کی وځی میترئے جاري وي تردے چه کورته راواپس شي۔ لکه څرنګ چه غازي د الله مال راجمع کوي بیت المال ته دغه شان دا عامل زکاة بیت المال ته راجمع کوي۔ دا وجه د تشبیه ده۔ دارنګه غزا کی تکلیف وي نو دے کی هم تکلیف دے۔ دارنګه نفع د غزا متعدی ده نو دغه شان نفع د عامل هم متعدی ده۔

درجة الحديث : سنده صحيح : رواه ابوداود والترمذی وابن ماجه وابن خزيمة فی صحيحه۔

- 1786(15) وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " لَا جَلَبَ وَلَا جَنَبَ وَلَا تُؤْخَذُ صَدَقَاتُهُمْ إِلَّا فِي دُوْرِهِمْ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : او عمرو بن شعیب د خپل پلار، هغه د خپل نیکه نه هغه د نبي ﷺ نه ارشاد نقل کوي چه نبي ﷺ وفرمایل : نشته دے راخکل (د زکاة وصولونکی د ګلو بزو چه راوے غواړي) او نشته جدا کول (د مالك ګلو بزو لره د زکاة وصولونکی نه چه ترے لرے لاړ شي) او نهٔ به شي اخستلے زکاتونه د خلکو مګر د هغوي په کورونو کی۔ (ابو داودؒ)

تشریح : لَا جَلَبَ وَلَا جَنَبَ : دا الفاظ په مشکاة کی درے ځل راغلی دي دلته او باب البیوع (الغصب) او باب الجهاد کی، دا د زکاة سره هم لګی او د رِهان (ګھوڑ دوڑ، د اسونو د منډے مقابلے) سره هم لګی۔ د زکاة سره چه ولګی نو معنیٰ به دا وي چه نشته راښکل د ګلو بزو (حیواناتو) یعنی چه عامل ئے ځان ته راکاړي، خلکو ته ووائی چه ګډے بزے دلته راولئ زهٔ ترے زکاة اخلم، بلکه عامل به ورځی او د مالکانو په علاقه کی به ترے زکاة اخلی۔ څکه روسته ورپسے وائی چه د مالکانو نه به زکاة د هغوي په کورونو او علاقو کی اخستے شی۔

ولا جنب : او نشته وراندی کول د ګلو بزو چه مالك ئے د عامل نه وراندی کړي د غرونو سرونو ته ئے وتښتوي، پټ ئے کړي دے دپاره چه عامل ترے زکاة وانخلی۔ او که د اسونو په رهان (زغلولو) کی مراد شي بیا جلب دیته وائی چه د دوه کسانو د اسونو

په منډه کې مسابقه (مقابله) وي نو يو سړے د خپل اس پسے يو تن مقرر کړي چه ددهٔ اس د روستو نه شړي، تيزے چغے پرے وهي دے دپاره د خپل مقابل شخص نه مخکې شي، نو ددے نه ئے منع وکړه ځکه چه پدے کې اس ته ضرر رسيږي. امام مالك ئے داسے تفسير کړيدے چه جَلَب دے ته وائي چه په منډه کې د اس پسے روستو نه يو شے راکاږي، خوزوي ئے دے دپاره چه اس تيز شي او د بل اس نه مخکې شي.

او جنبِ ديته وائي چه د خپل اس سره په اړخ کې يو بل اس روان کړي نو کله چه دغه يو اس سست يا ستړے شي نو خواته اړخ والا اس ته بدل شي او پدے طريقه د خپل مقابل ملګري نه مخکې شي نو ددے نه منع وشوه. بعض وائي د منع وجه دا ده چه د منډے مقابله ددے دپاره کولے شي چه د اس قوت معلوم کړے شي چه کوم اس تيز دے او پدے کار سره د يو اس قوت هم نهٔ معلوميږي.

نو پدے حديث کې د دواړو فريقينو د حال رعايت شويدے د زکاة اخستونکي او د ورکونکي چه د يو بل سره به زياتے نکوي او يو بل به نهٔ تنګوي.

فائده : دا د اسلام وسطية (عدل، درميانه روي) ده چه د هر طرف رعايت پکې شويدے.

وَلَا تُؤْخَذُ صَدَقَاتُهُمْ إِلَّا فِيْ دُوْرِهِمْ : يعنى زکاة به د هغوی نه د هغوی په کلی کې اخستے شي کـه هغه کورونه او مکانونه وي او که د هغوی چينے وغيره وي خو چه هغوی ته په کوم ځای کې آساني وي. او دا جمله د مخکې جملے تفصيل دے.

درجة الحديث : وسنده صحيح : احمد (۲/۲۱٦) و ابوداود (۱۵۹۱)

- 1787 (16) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنِ اسْتَفَادَ مَالًا فَلَا زَكَاةَ فِيْهِ حَتّٰى يَحُوْلَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَذَكَرَ جَمَاعَةً أَنَّهُمْ وَقَفُوْهُ عَلَى ابْنِ عُمَرَ

ترجمه : او سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چه حاصل کړو مال نو زکاة پکې نشته ترڅو چه کال په هغے باندے کال تير شي. (ترمذي) او امام ترمذي ذکر کړے ده يوه ډله د علماؤ چه هغوی دا روايت په ابن عمرؓ باندے موقوف کړخولے دے.

تشريح : مال مستفاد هغه مال ته وائي چه د مخکني مال د جنس نه وي او په

مینځ د کال کې حاصل شوې وي، داسې فرض کړه چه تا سره اتیا ګډې دي او په هغې باندې شپږ میاشتې تیرې شوې بیا تا ته یو څلویښت ګډې نورې حاصلې شوې یا په طریقه د میراث یا په اخستو یا په تجارت کې د ګټې په وجه یا چا تحفه او هدیه درکړه نو تا سره د ګډو تعداد د اتیاؤ په ځای یو سل یویشت (۱۲۱) شونو دغه یو څلویښت ګډې چه تاته په مینځ د کال کې حاصلې شوې دیته مال مستفاد وائي۔

دا مال مستفاد په دوه قسمه دې (۱) مستفاد من جنس المال والنصاب (۲) دویم من غیر الجنس والنصاب۔

د مال مستفاد من غیر الجنس مثال دا دې تا سره ذهب (سرۀ زر) دي چه نصاب ته نۀ رسي او بل طرفته درسره پیسې راغلې چه دا هم نصاب ته نۀ رسي نو په یو کې هم زکاة نشته۔ ځکه د هر یو نصاب پوره نۀ دې او د دواړو مالونو جنس بدل بدل دې، یو پیسې دي او بل ذهب۔ یا یو طرفته د ذهبو نصاب پوره دې لیکن په نیمائي کال کې فضه (سپین زر) د نصاب نه کم حاصل شو نو ددې هم د سرو سره یو ځای کول لازم نۀ دي، بلکه د کال په تیریدو به صرف د سرونه زکاة ورکوي۔

۲- او که مال مستفاد د جنس نه وي لکه مثلاً تا سره پیسې دي چه نصاب ته رسیدلي دي مثلاً یو لاکھ روپۍ دي بیا په وخت د زکاة کې یا د زکاة نه یوه یا دوه یا درې میاشتې مخکې تا سره مثلاً لس زره روپۍ راغلې نو د احنافو په نیز دا اضافي پیسې به جدا جدا نۀ حسابوي بلکه ددې تول مال نه به په آخر د کال کې زکاة ورکړي اګرکه په روستنې مال باندې کال نۀ دې تیر شوې خو دا تابع د مخکنې مال دې۔ په مخکنې صورت کې یو څلویښت ګډې به د اتیاو ګډو تابع وي نو زکاة به د (۱۲۱) ګډو نه ورکوي یعني دوه ګډان ځکه د څلویښتو نه تر (۱۲۰) پورې یو ګډ لازم وو۔

۲- دویم قول د امام شافعيؒ او احمدؒ دې چه هر یو مال به جدا جدا حسابوي مثلاً که په تیر شوي صورت کې چه (۴۱) ګډې شپږ میاشتې روسته حاصلې شوې نو ددې به جدا حساب لګوي نو پدې باندې چه د وخت د حاصلیدو نه یو کال تیر شو نو زکاة به ورکوي او شپږ میاشتې روسته زکاة ورکول پرې لازم نۀ دي لهذا دا د مخکنې موجود مال تابع نۀ دي۔ دارنګه د یو لاکھ روپو نه پس پنځوس زره نورې یوه میاشت روسته حاصلې شوې نو د یو لاکھو به کال پس زکاة ورکړي او د پنځوسو زرو به یو لس

میاشتے روسته زکاة ورکړي، هغوی وائي ځکه چه دلته نبي ﷺ عام لفظ استعمال کړیدے: (مَنِ اسْتَفَادَ مَالًا)

وائي چه دلته مال لفظ مطلق دے، مال جدید او مال قدیم دواړو ته شامل دے نو د هر یو دپاره مستقل کال تیریدل ضروري دي هله به پرے زکاة راځي۔ لیکن پدے طریقه کي مشکلات زیات دي چه مثلًا د هرو سلو او زرو او لسو زرو چه په جدا جدا وختونو کي راغلي وي د هغے جدا جدا حساب کوي ددے نه به بیا ډیرے رجسترے ډکے شي نو آساني پدے کي ده چه د ټول مال په یو ځل په آخر د کال کي زکاة ورکړي اګرکه جدا جدا حساب کي اجازه شته او همدا خبره صحیح ده۔

فائده: ابن قدامه رحمه الله د مستفاد مال درے قسمونه ذکر کړیدي (۱) یو هغه مال دے چه د مال د نماء (ترقئ) نه حاصل شوے وي لکه د مالِ تجارت ګټه شوه یا د څارو بچي شو نو دا مال به د خپل خپل اصل مال سره یو ځای کول واجب وي او پدے کي به د اصل مال کال تیریدو له اعتبار وي که په اصل مال باندے کال تیر شو نو که په دے زیاتي ګټه او بچو باندے کال نۀ وي تیر شوے هم به پدے کي د مخکني مال سره په یو وخت کي زکاة ورکوي او پدے کي مونږ ته هیڅ خلاف د چا نۀ دے معلوم ځکه دا د خپل جنس تابع دے نو دا مشابه شو د هغه نماء (زیادت) سره چه متصل وي د اصل مال سره لکه د تجارت د سامانونو قیمت زیات شي۔

(مثال: یو سړی سره د محرم په میاشت کي پنځه اُوښان وي د کال په تیریدو کي په آخري میاشت (ذو الحجه) کي دے اُوښانو پنځه بچي راوړل نو دا بچي اګرکه یوه میاشت پرے تیره شوه لیکن د مخکنو سره به ددے زکاة یو ځای ورکوی، دغه شان یو سړي ډك دکان په یو لاکھ روپۍ د محرم په میاشت کي واخستو، اخستل خرڅول کوي او هرکله چه د راتلونکي کال محرم میاشت راغله نو دۀ نور ډیر سامانونه اخستي وو نو اوس د دکان قیمت یو نیم لاکھو ته ورسیدو نو ددے زیاتي سامانونو حکم دا دے چه دا به د خپل اصل دکان سره په یو ځای په زکاة کي حساب وي۔

(فقه النوازل في العبادات ۲/۱۱ للدکتور خالد بن علي المشیقح)

(۲) دویم: هغه مال مستفاد چه د غیر جنس نه وي نو ددے حکم دا دے چه دا به مستقل شمارلے کیږي په کال کي هم او په نصاب کي هم او د مخکني مال سره به

نشي يو ځاى كولے نو كه دا مال نصاب ته رسيدلے وى نو مستقل كال تيريدو نه روسته به ددے زكاة وركوى او كه نصاب ته نهٔ وى رسيدلے نو هيڅ په كى نشته (لكه مثلاً سره زر ورسره نصاب پوره دے او په مينځ د كال كى ورته د سپينو زرو نصاب حاصل شو، نو دا به د مخكى سره نهٔ يو ځاى كوى يا دومره سپين زر چه نصاب ته نهٔ وى رسيدلى نو بيا به پدے سپينو كى زكاة نهٔ وى، يا گدے بزے ورسره وى، بيا ورته څلويښت يو لاكهه وركړى يا ورته ميراث كى ملاؤ شى نو دا به د دغه څاروو سره نشي يو ځاى كولے او دغه شان نور مثالونه واخله) او دا قول د جمهورو علماؤ دے چه د هغوى نه ابوبكر صديق، عمر فاروق، عثمان او على رضى الله عنهم دى. (۳) دريم: هغه مال مستفاد دے چه د جنس د هغه نصاب نه وى چه ددهٔ سره دے لكه څلويښت گدے بزے ورسره وى چه په هغے باندے بعض حصه د كال تيره شى بيا روسته سل گدے بزے واخلى يا ورته هبه شى نو پدے كى زكاة هله واجبيږى چه مستقل كال پرے تير شى دا به هم د مخكى سره نهٔ شى يو ځاى كولے او دا قول د امام شافعىؒ او جمهورو دے او امام ابوحنيفةؒ وائى چه دا به د مخكنى اصل جنس سره يو ځاى كولے شى نو د دواړو زكاة به په يو وخت كى وركوى اگركه په روستنى باندے كال نهٔ وى تير شوے ...... الخ. او صحيح په دے مسئله كى قول د امام شافعىؒ دے حُكه من استفاد مالا قاعده پرے دليل ده. (وانظر فقه النوازل)

درجة الحديث: صحيح الاسناد موقوف وهو فى حكم المرفوع اخرجه الترمذى (۶۳۱) عن ابن عمر وابوداود عن على وابن ماجه غن عائشة (ص: ۱۸۴) وله طريقان احدهما ضعيف والآخر صحيح ارواء الغليل رقم الحديث (۷۸۷)

- 1788(17) وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ، أَنَّ الْعَبَّاسَ سَأَلَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فِىْ تَعْجِيْلِ صَدَقَةٍ قَبْلَ أَنْ تَحِلَّ : فَرَخَّصَ لَهُ فِىْ ذٰلِكَ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ وَالتِّرمِذِىُّ وَابْنُ مَاجه وَالدَّارِمِىُّ

ترجمه: او سيدنا على ﷺ فرمائى: يقيناً عباس ﷺ د رسول الله ﷺ نه د زكاة د وخت راتللو (يعنى كال پوره كيدو) نه مخكى په جلتئ سره وركولو په باره كى تپوس وكړو نو رسول الله ﷺ ورته پدے كى رخصت وركړو. (ابوداودؒ، ترمذىؒ، ابن ماجهؒ، دارمىؒ)

تشريح: قَبْلَ اَنْ تَحِلَّ : په كسره د حاء سره په معنىٰ د وجوب سره يعني مخكې د واجبيدو نه، بعض وائي دا د حلول الاجل نه دے په معنىٰ د راتللو د وخت سره يعنې مخكې د وخت راتللو ددے نه. حافظ ابن حجرؒ ئے حاصل معنىٰ كړيده : (قَبْلَ اَنْ يَتِمَّ حَوْلُهَا) مخكې ددے نه چه كال ئے پوره شي.

دا حديث دليل دے چه زكاة د كال تيريدو نه مخكې هم ادا كول صحيح دي ځكه چه نفس وجوب د زكاة په نصاب سره راځي او وجوب الاداء په كال تيريدو سره نو كله چه نفس وجوب راغے زكاة مخكې وركول جائز شو او دا حديث پكې نص دے.

اګركه پدے مسئله كې اختلاف شته (۱) شافعيؒ، احمدؒ، ابو حنيفةؒ، سعيد بن جبيرؒ، اوزاعيؒ، اسحاق بن راهويةؒ او ابو عبيد رحمهم الله وائي چه دا جائز دے. (۲) ربيعه، مالك او داود ظاهري رحمهم الله وائي چه زكاة د كال تيريدو نه مخكې وركول جائز نهٔ دي. دوي دليل نيولے دے په يو حديث :

(لَا زَكَاةَ فِيْ مَالٍ حَتّٰى يَحُوْلَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ) (صحيح الجامع الصغير : ۷۴۹۷) بسند صحيح)

زكاة په مال كې نشته تردے چه كال پرے تير شي.

جواب دا دے چه وجوب متعلق دے په كال تيريدو پورے نو د كال تيريدو نه مخكې به زكاة واجب نهٔ وي نو پدے كې د مخكې وركولو د جواز نفي نشته. او بل طرفته سبب د وجوب موجود دے چه هغه نصاب دے نو ددے مثال داسے دے لكه د نيتے پوره كيدو نه مخكې قرض ادا كول، يا د قسم خوړلو نه روسته او د ماتولو نه مخكې د قسم كفاره ادا كول.

او دا روايت دليل دے چه عباس رضي الله عنه د دوه كالو زكاة مخكې ادا كړے وو، يا خو دهٔ نبي ﷺ ته مخكې وركړے وو ځكه چه د هغه ضرورت ئے محسوس كولو يا دا چه نبي ﷺ ددهٔ نه مخكې غوښتے وو. او د دواړو په باره كې د رواياتو الفاظ مختلف راغلي دي، كيدے شي چه دواړه كاره په يو ځاي شوي وي. (امير يمانيؒ) لكه لږ مخكې تير شو.

درجة الحديث : سنده حسن : رواه ابوداود (۱۶۲۴) والترمذي (۶۷۸) وابن ماجه (۱۴۵۲) والدارمي (۱/۳۸۵) باسناد حسن)

- 1789(18) وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ خَطَبَ النَّاسَ

فَقَالَ : " أَلَا مَنْ وَلِیَ یَتِیْمًا لَهُ مَالٌ فَلْیَتَّجِرْ فِیْهِ وَلَا یَتْرُکْهُ حَتّٰی تَأْکُلَهُ الصَّدَقَةُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ : فِیْ إِسْنَادِهٖ مَقَالٌ : لِأَنَّ الْمُثَنّٰی بْنِ الصَّبَّاحِ ضَعِیْفٌ.

ترجمه : او عمرو بن شعیب د خپل پلار هغه د خپل نیکه نه نقل کوی چه نبی ﷺ خلکو ته خطبه وویله نو وے فرمایل: خبردار! څوك چه د یو یتیم نگهبانی کوی چه د هغه دپاره مال وی نو په هغه مال کی دے (ورله) تجارت وکړی او داسے دے نهٔ پریدی تردے چه زکاۃ ئے وخوری۔ دا روایت امام ترمذیؒ نقل کړے او وئیلی ئے دی چه ددے په سند کی کلام دے ځکه چه ددے روایت یو راوی مثنی بن صباح ضعیف دے۔

تشریح : وَلِیَ : دا په فتحه د واو او کسره د لام سره دے او په یوه نسخه کی په تشدید د لام او ضمه د واو سره دے د دواړو معنیٰ دهٔ د یتیم وَالِیُ او متصرف او نګهبان ګرځیدل۔

مسئله: آیا د ماشوم او لیونی او د یتیم په مال کی زکاۃ شته؟

(۱) احناف وائی: نشته ځکه په زکاۃ ادا کولو کی نیت پکار دے او ددے کسانو نیت نشته، دارنګه وائی چه زکاۃ د ذمے سره تعلق لری او د ماشوم او د لیونی ذمه نهٔ مشغولیږی ځکه چه په دوی باندے مونځ، حج وغیره عبادات نشته نو دغه شان زکاۃ هم ترے ساقط دے۔

دارنګه دلیل نیسی په حدیث: (رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ عَنِ الصَّبِیِّ حَتّٰی یَبْلُغَ وَعَنِ الْمَجْنُوْنِ حَتّٰی یُفِیْقَ) (ابو داود والنسائی)

(د دریے کسانو نه قلم پورته کړے شویدے د ماشوم نه تردے چه بالغ شی او د لیونی نه تردے چه صحیح شی) دوی وائی دا زکاۃ ته هم شامل دے۔

(۲) ائمه ثلاثه (مالكؒ، شافعیؒ، احمدؒ) وائی چه په دوی باندے زکاۃ شته، مونځ جدا شے دے او زکاۃ جدا دے ځکه چه زکاۃ د مال حق دے او د عین پورے متعلق کیږی نهٔ د ذمے پورے، نو په ماشوم او لیونی باندے اګرکه عبادات بدنیه فرض نهٔ دی مګر په مال کی ئے زکاۃ لازم دے، دارنګه زکاۃ د فقیر حق دے او هغه د لوی او د ماشوم دواړو په مال کی کیدے شی او مونځ وغیره عبادات بدنیه دی نو ماشوم او لیونے د هغے اهل نهٔ دے ذمه ئے نهٔ مشغولیږی۔ نو ستاسو د قیاس په مقابله کی مونږ سره هم ډیر قیاسونه دی۔ دارنګه حدیثونه دی۔

۱- اول روایت دا دے چه دیتیم په مال کی تجارت پکار دے دے دپاره زکاة ئے ونهٔ خوری۔

احناف وائی: تاسو د ترمذیؒ کلام نهٔ دے لیدلے چه هغه وائی دا روایت ضعیف دے په سند کی ئے مثنی بن صباح ضعیف راوی دے۔ ائمه ثلاثه وائی چه زمونږ سره نور صحیح روایات هم شته۔ او دا روایت د عمر فاروق ﷺ نه موقوفاً دارقطنیؒ او بیهقیؒ په صحیح سند سره داسے نقل کریدے: (اِبْتَغُوْا بِأَمْوَالِ الْيَتَامٰى لَا تَأْكُلُهَا الصَّدَقَةُ) (تاسو د یتیمانانو په مالونو تجارت ولټوئ دے دپاره چه زکاة ئے ونهٔ خوری) (وقال اسناد صحيح وله شواهد عن عمر رضى الله عنه)

۲- حدیث د ابن عباسؓ په ابتداء ددے باب کی ذکر شو چه معاذ بن جبل ﷺ ته وئیل شویدی: (تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ فِيْ فُقَرَائِهِمْ) (زکاة به د دوی د مالدارو نه اخستے شی) نو اغنیاء (مالدار) مطلق دی ماشومان وی که لیونی او که روغ مکلفین وی۔ او دا صحیح حدیث متفق علیه دے۔

۳- دارنګه ابوبکر صدیق ﷺ به دَ ماشومانو د مال نه زکاة اخستو۔

٤- عمر فاروق ﷺ به اخستو۔ (دارقطنی ۲/ ۱۱۰) والبیهقی (٤/ ۱۰۷)

٥- عائشه رضی الله عنها به اخستو۔ (موطأ مالك (۱۰٦) كتاب الام للشافعی (۲/ ۲٤)

٦- علی ﷺ ۷- عبد الله بن عمر رضی الله عنهما۔

۸- او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی: دیتیم د مال زکاة ساته تردیے چه بالغ شی بیا ئے ورته ورکړه که خوښه ئے وه زکاة به ورکړی او که خوښه ئے وه نهٔ به ئے ورکوی۔ او کوم روایت چه د ابن مسعود ﷺ ددے په خلاف امام محمدؒ په کتاب الآثار کی د مجاهدؒ عن ابن مسعود نه راوړیدے چه هغه وئیلی دی: ((په مال د یتیم کی زکاة نشته)) نو هغه روایت د دوه وجو نه ضعیف دے (۱) منقطع دے په مابین د مجاهدؒ او ابن مسعودؓ کی، بیهقیؒ وائی د مجاهدؒ د ابن مسعودؓ نه آوریدل ندی ثابت۔

(۲) دویم په هغے کی لیث بن ابی سلیمؒ راوی دے چه حافظؒ وائی: صَدُوْقٌ اِخْتَلَطَ أَخِيْرًا وَلَمْ يَتَمَيَّزْ حَدِيْثُهٗ)۔

بیهقیؒ وائی: لیث بن ابی سلیم د اهل الحدیث په نیز ضعیف دے۔

ابن قدامه رحمه الله فرمائی: د ماشوم او د لیونی په مال کی زکاة واجب دے حُکه

چه په دوی کی دریے شرائط د زکاة شته چه هغه (حریت (آزادي)، اسلام او پوره ملکیت) دیے او دا خبره د عمر، علی، ابن عمر، عائشه، حسن بن علی او جابر رضی الله عنهم نه نقل ده او دا قول د جابر بن زید، ابن سیرین، عطاء، مجاهد، ربیعه، مالك، ابن ابی لیلیٰ، شافعی، ابن عیینه، اسحاق، ابوعبید او ابوثور رحمهم الله دیے۔

او هرچه رفع القلم والا حدیث دیے نو د هغے نه د ماشوم په مال کی د زکاة نهٔ واجب کیدو دلیل نیول صحیح نهٔ دی د ډیرو وجو نه یو خو ددیے وجه نه چه د هغے نه مراد گناه پورته کیدل دی، یعنی که ماشوم گناه وکړه نو هغه نهٔ لیکلے کیږی، یا عبادات بدنیه مراد دی۔ دلیل پدیے باندیے دا دیے چه احناف وائی : د ماشوم او د لیونی په فصلونو او میوو کی عشر (لسمه حصه) لازم دیے۔ دارنگه صدقة الفطر پریے لازمه ده۔ لهذا په ماشوم او صبی باندیے مالی حقوق راتلل خو احناف هم منی، معلومه شوه چه د رفع القلم نه مراد گناه پورته کیدل دی۔ یا صرف په بدنی عباداتو کی رفع د قلم مراد ده۔

بله وجه دا ده چه د رفع القلم نه د ماشوم په مال کی د زکاة په نهٔ واجبیدو دلیل نیول ځکه صحیح نهٔ دی چه د رفع القلم روایت عائشے او علی رضی الله عنهما نقل کړیدیے او حال دا چه هغه دواړه د ماشوم په مال کی د زکاة په وجوب باندیے قائل دی۔ او د احنافو دا اصول دی چه کله یو راوی د خپل روایت خلاف عمل وکړی نو عمل له به اعتبار وی نهٔ روایت له۔ اگرکه دا اصل ئے هم صحیح نهٔ دیے، نو معلومه شوه چه د رفع القلم نه مراد گناه معاف کیدل دی۔

دارنگه که یو ماشوم او لیونے یو جنایت وکړی نو د هغے تاوان پریے راځی، که یو شے هلاك کړی د هغے قیمت پریے راځی معلومه شوه چه د رفع القلم نه مراد رفع الاثم ده۔

دارنگه که د ماشوم او لیونی کوم خپلوان یا ښځے بی خرچه وی نو د هغوی نفقه د دوی په مال کی لازمه ده۔

او هرچه نیت دیے نو د یتیم او د لیونی د طرفنه به د هغوی ولی د زکاة د ویستو په وخت کی نیت وکړی دا به قائم شی په ځای د نیت د اصل مالك باندیے۔(المغنی لابن قدامه)

علامه عبد الرحمن المبارکفوریؒ فرمائی: د هیڅ صحابی نه په صحیح سند سره دا نهٔ ده ثابت چه هغوی وئیلی وی چه د ماشوم په مال کی زکاة نشته او بل طرفته

صحیح حدیثونه او د صحابه کرامو آثار موجود دي نو گویا که دا اجماع د صحابه کرامو شوه۔

او ددې مسئلې تفصیل علامه ابو عبیدؒ په کتاب الاموال (٤٥٤- ٤٥٦) او ابن قدامهؒ په المغني او مبارکفوريؒ په تحفة الاحوذی کی کړیدې، او د مخالفینو د شبهاتو نه ئې جوابونه ذکر کړیدي۔

صدیق حسن خانؒ په الروضة الندية (٤٦٠/١) ، او البانيؒ د احنافو رأی غوره کړیده کما فی الموسوعة الفقهية الميسرة (٢٨/٣) لیکن د هغوی قول د مذکوره وغیره دلیلونو او د صحابه کرامو د اجماع په بناء ضعیف دے لکه فتاوی الدین الخالص (١١١/٨) وګوره۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف: اخرجه الترمذی (٦٤١) وقال فی اسناده مقال، المثنى بن الصباح (اليمانی الابناوی نزيل مكة) ضعيف وضعفه ايضاً ابوحاتم وابن سعد وابن حبان وابن ابی عمار الخ۔ ولكن الحديث مؤيد بعموم الاحاديث الصحيحة فی ايجاب الزكاة فی مال كل مسلم حر مطلقاً وقال الحافظ ابن حجر: وله شاهد مرسل عند الشافعی (بلوغ المرام)

الفصل الثالث

- 1790(19) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ :لَمَّا تُوُفِّيَ النَّبِيُّ ﷺ وَاسْتُخْلِفَ أَبُوْ بَكْرٍ وَكَفَرَ مَنْ كَفَرَ مِنَ الْعَرَبِ قَالَ عُمَرُ: يَا أَبَا بَكْرٍ كَيْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ وَقَدْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ " أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰى يَقُوْلُوْا:لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ فَمَنْ قَالَ : لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ عَصَمَ مِنِّيْ مَالَهُ وَنَفْسَهُ إِلَّا بِحَقِّهٖ وَحِسَابُهُ عَلَى اللهِ". قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ : وَاللهِ لَأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ فَإِنَّ الزَّكَاةَ حَقُّ الْمَالِ وَاللهِ لَوْ مَنَعُوْنِيْ عَنَاقًا كَانُوْا يُؤَدُّوْنَهَا إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ لَقَاتَلْتُهُمْ عَلٰى مَنْعِهَا. قَالَ عُمَرُ: فَوَاللهِ مَا هُوَ إِلَّا أَنْ رَأَيْتُ أَنْ قَدْ شَرَحَ اللهُ صَدْرَ أَبِيْ بَكْرٍ لِلْقِتَالِ فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : سیدنا ابو هریره رضی الله عنه فرمائي : هرکله چه نبی کریم ﷺ وفات شو او سیدنا ابوبکر صدیق (رضی الله عنه) د هغه نه روستو خلیفه شو او د عربو نه چه کوم خلك کافران شو (یعني د زکاة منکرین شو نو ابوبکر صدیق د هغوی سره د جنګ کولو فیصله وکړه)

نو عمر فاروق سیدنا ابوبکر ته وفرمایل: ته څنګه جنګ کوې ددې خلکو سره (یعنی دا خو ایمان والا دي) حال دا چه رسول الله ﷺ فرمایلي دي: ما ته حکم شویدے چه زۀ جنګ وکړم د خلکو سره تردې چه دوي لا اله الا الله ووائي (یعنی اسلام زاوړي) نو چا چه لا اله الا الله وویله نو هغه زما نه خپل مال او خپل ځان بچ وساتلو مګر په حق د اسلام سره او د هغه (د باطن) حساب په الله تعالیٰ باندے دے۔ نو ابوبکر صدیق ﷛ وفرمایل: قسم په الله زۀ به د هغه شخص سره ضرور جنګ کوم چه د مونځ او د روژے ترمینځ فرق کوي ځکه چه (لکه څنګه د نفس حق مونځ دے دغه شان) بیشکه زکاة د مال حق دے، قسم په الله که دے خلکو (چه د زکاة نه منکر شویدي) زما نه د چیلۍ یو بچے هم منع کړي کوم چه به دوي رسول الله ﷺ ته ورکولو نو زۀ به د دوي سره (ددے انکار په وجه) جنګ کوم۔ عمر فاروق وویل: قسم په الله! ددے نه سوئ بله خبره نۀ وه چه زۀ پوهه شوم چه الله تعالیٰ د جنګ کولو دپاره (د الهام په ذریعه) د ابوبکر صدیق سینه کولاوه کړیده (یعنی په یقین باندے ئے ګرځولے دے) نو ما ته یقین وشو چه همدا (یعنی د منکرینو د زکاة سره جنګ کول) حق او صحیح دي۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح: وَكَفَرَ: د ابوبکر صدیق ﷛ د خلافت په زمانه کي بعضو خلکو د زکاة نه انکار وکړو او دا تاویل ئے کولو چه زکاة ادا کول د نبي ﷺ د زمانے پورے خاص وو۔

۲- بعضو امام او خلیفه ته د زکاة ورکولو نه انکار وکړو او دا ئے وویل چه مونږ به ئے پخپله ورکوو۔ ۳- او ځیني کسان پکښي د دین اسلام نه مرتد شو او د مسیلمة الکذاب او اسود عَنْسِيُ تابع شو او دا د یمامے والا او نور کسان وو۔ او د نبي ﷺ د نبوت نه مخکي دے دواړو د نبوت دعوه کړے وه، د مسیلمة الکذاب اهل یمامه او یوه ډله تابع شوه او د اسود عنسي صَنْعَاء الیمن والا او یوه ډله تابع شوه۔ بیا د نبي ﷺ د وفات نه لږ مخکي اسود عنسي قتل شو او بعض کسان چه په هغه ئے ایمان راوړے وو هغه پاتي شو نو بیا ورسره د نبي ﷺ ګورنرانو د ابوبکر صدیق ﷛ په خلافت کي مقابله وکړه۔ او هرچه مسیلمة الکذاب وو نو ابوبکر صدیق ﷛ یو لوی فوج تیار کړو او د هغوی امیر ئے خالد بن الولید ﷛ مقرر کړو او هغه لاړو په یمامه کي ئے د مسیلمه سره یو تاریخي جنګ وکړو او په هغے کي ئے مسیلمه مردار کړو، چه هغے ته جنګ یمامه وائي۔

او پدې روايت کې د ابوبکر صديق او د عمر رضی الله عنهما مناظره د اول قسم خلکو په باره کې وه. او عمرفاروق ﷺ ته دا شبهه راپيښه شوې وه چه دوی خو مسلمانان دی مونځونه کوی او نور دينی اعمال کوی، صرف زکاة نه ورکوی، گناهگار دی او د قتال مستحق ځکه نه دی چه حديث کی راغلی دی چه نبی ﷺ فرمائی: ما ته حکم شويدے چه زه د خلکو سره قتال وکړم تردے چه دوی لا اله الا الله ووائی نو چا چه دا ووئيله د هغه مال او نفس محفوظ شو مگر په حق د اسلام سره (به نه وی محفوظ). نو عمر ﷺ وويل چه دے خلکو کی خو بعض خلك الله او رسول منی، عقيده ئے د توحيد ده او عام دينی اعمال کوی صرف زکاة نه ورکوی نو دا به مستحق د قتال نه وی. نو صديق اکبر ﷺ ورته وفرمايل چه دوی مستحق د قتال دی ځکه چه نبی ﷺ (الا بحقه) لفظ وئيلے دے چه د اسلام په حق سره به د دوی سره قتال کيدے شی يعنی که د اسلام يو رکن مات کړي نو د دوی وينه به محفوظ نه وی نو دوی د اسلام يو رکن منع کړيدے چه هغه زکاة دے نو ځکه مستحق د قتال دی. دارنگه سيدنا عمر ﷺ ته ئے دا جواب هم وکړو چه که څوك مونځ نه کوی نو ته خو دا منے چه دوی سره به قتال کولے شی نو دغه شان زکاة که نه ورکوی هم مستحق د قتال دی ځکه چه دواړه قرينتين دی په قرآن کريم کی دواړه يو ځای ذکر کيږی، مونځ د بدن حق دے او زکاة د مال حق دے، دواړه د يو بل نه جدا نه دی.

دارنگه د ابوبکر صديق ﷺ سره صريح نص هم موجود وو او هغه حديث د مسلم دے: (أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَيُؤْمِنُوا بِي وَبِمَا جِئْتُ بِهِ فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ) (مسلم رقم: ١٣٥).

نو د (بما جئت به) (کوم شے چه ما راوړيدے) لفظ تول شريعت ته عام دے نو که چا د يو شی نه انکار وکړو کوم چه نبی ﷺ راوړيدے او هغه ته دعوت ورکړے شو او هغه ترے منع کړو او قتال ته تيار شو نو د هغه سره به قتال واجب وی. او په يو بل روايت د مسلم کی د (لا اله الا الله) سره (وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ) الفاظ هم راغلی دی نو بيا خبره واضحه ده چه د زکاة په انکار به هم قتال جائز وی، او کيدے شی چه عمر فاروق ﷺ ته دا روايت نه ياد وو ليکن پدے وخت کی ورته مستحضر نشو نو ځکه ئے استدلال په عموم د (الا بحقه) باندے وکړو. او صديق اکبر ﷺ هم دا روايت پيش نکړو يا

خو ورته یاد نهٔ وو یا ورته یاد وو لیکن فی الحال ورته مستحضر نهٔ وو۔ پدے وجه هغه هم په قیاس او په عموم د الا بحقه باندے استدلال وکړو۔

طیبیؒ وائی: عمر فاروق رضی الله عنه دا قول (الا بحقه) حمل کړے وو په غیر د زکاة باندے پدے وجه د هغه استدلال د حدیث نه صحیح وو نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه ورته جواب ورکړو چه دا زکاة ته هم شامل دے، یا عمرؓ گمان وکړو چه دوی سره به دا قتال د دوی د کفر د وجه نه وی نهٔ پدے وجه چه دوی زکاة منع کړیدے نو ځکه ئے د حدیث نه دلیل ونیولو نو صدیقؓ ورته جواب ورکړو چه زهٔ د دوی سره قتال د دوی د کفر د وجه نه نهٔ کوم بلکه پدے وجه چه دوی زکاة منع کړیدے، انتهیٰ۔

او عمر فاروق رضی الله عنه چه کله زور سوچ وکړو نو د هغهٔ ذهن ته هم خبره رایاده شوه چه دے خلکو سره قتال ځکه پکار دے چه دوی د اسلام حق منع کړیدے۔

فائده: بعض جاهلان وائی چه مانعین د زکاة مرتد وو هغوی پدے حدیث نهٔ پوهیږی؟!۔

الزَّکَاةَ حَقُّ الْمَالِ: دا د جمهورو علماو دپاره دلیل دے چه د ماشوم او د لیونی په مال کی هم زکاة شته ځکه چه زکاة د مال حق دے او د مال سره تعلق لری که دا د هر چا سره وی زکاة به پرے راځی، دا وجه ده زکاة به د منافقانو نه هم اخستے شی۔

او دا حدیث ددے دپاره راوړے شویدے چه که څوك زکاة منع کوی نو د هغه سره به قتال کولے شی۔ خو څوك به دا قتال کوی؟ اسلامی حکومت او اصحاب اقتدار نهٔ غله او ډاکوان۔

اِلَّا بِحَقِّهٖ: سِوِیٰ د حق د اسلام نه۔ ددے مطلب دا دے چه که په دهٔ باندے دیت لازمیږی یا بل یو قسم څه حق ددهٔ په ذمه باندے وی نو د هغے ادائیگی به خامخا ضروری وی، دغه شان په قصاص وغیره کی به دے قتلیږی۔

وَحِسَابُهٗ عَلَی اللهِ: ددے مطلب دا دے چه څوك (لا اله الا الله) ووائی او د توحید او د رسالت اقرار وکړی خپله مسلمانی راښکاره کړی نو مونږ به د هغه د مسلمانیدو اقرار کوو او د هغه سره به جنگ نهٔ کوو او د هغه د باطن او د زړهٔ تحقیق او تالاش به نهٔ کوو چه آیا دا په زړه کی مخلص او رشتینی دے او که دروغجن دے بلکه د هغه باطنی حال به الله ته سپارو، که یو انسان ظاهره کی مسلمانی ښکاره کوی او په زړهٔ کی کافر وی

لکه دا د منافقانو حال دے نو الله ته به ئے سپارو الله به ورسره گوری، ترڅو پورے ئے چه داسے ښکاره کار نۀ وی کړے چه د هغه ظاهری مسلمانی خرابه کړی۔
مَنْ فَرَّقَ : فرق په تشدید او تخفیف دواړو سره صحیح دے۔ او د (فرق) مطلب دا دے چه د مونځ اقرار کوی او د زکاۃ نه انکار کوی یا ئے منع کوی سره د اقرار نه، د قصے په اوله کی ئے د کفر لفظ استعمال کړو دے دپاره چه دواړه قسمونو ته شامل شی۔
بیا دا خبره زده کړه چه د زکاۃ مانعینو خو د آیت نه دلیل نیولو : ﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ﴾ (توبة:١٠٣) او وئیل به ئے چه دا خطاب د نبی ﷺ پورے خاص دے، نو ابوبکر صدیق ﷛ دوی ولے پدے تاویل کی معذور نۀ ګنړل چه جنګ ئے ورسره کولو؟
جواب دا دے چه صدیق ﷛ دوی په جهالت او پدے تاویل باندے معذور ونۀ ګنړل پدے وجه چه دوی قتال ته راپورته شوی وو نو ابوبکر صدیق ﷛ دوی پسے کسان ولیږل چه دوی ته ئے دعوت ورکړو چه بیرته راواپس شئ لیکن هرکله چه هغوی سمے لارے ته نۀ راواپس کیدل نو صدیق ﷛ ورسره د قتال حکم وکړو۔ (حافظ ابن حجرؒ)
حَقُّ الْمَالِ : دا د تفرقے دپاره دلیل دے چه مونځ د نفس حق دے او زکاۃ د مال دے نو چا چه مونځ وکړو نفس ئے محفوظ شو او چا چه زکاۃ ورکړو نو مال ئے محفوظ شو، که مونځ نکوی نو د مانځه په پریښودو به ورسره قتال کولے شی او که زکاۃ نۀ ورکوی نو د هغه د مال نه به زکاۃ په زوره اخستے شی او که هغه جنګ ته تیار شی نو بیا به ورسره جنګ کولے شی۔
عَنَاقًا : عناق د چیلۍ هغه بچی ته وائی چه د یو کال نه کم عمر لری۔ ابوبکر صدیق ﷛ دا د مبالغے په طور ذکر کړو څکه چه عناق په زکاۃ کی نۀ اخستل کیږی او نۀ د چیلو په داسے بچو باندے زکاۃ واجبیږی، بلکه د زکاۃ دپاره ادنیٰ درجه مُسِنه (یو کلنے) بچے دے، البته که بچے د خپلے مور سره وی نو بیا به د مور تابع وی په هغے کی به زکاۃ وی۔
فائده : د عناق په زکاۃ کی کله چه یوازی وی او یو کلنی شاروی ورسره نۀ وی دوه قوله دی (١) د جمهورو په نیز پدے کی زکاۃ نشته (٢) او د ابوعبیدؒ په نیز پدے کی زکاۃ شته او دا حدیث ورله دلیل وائی۔ او هٰذا قول راجح دے۔ او تفصیل په فتاوی الدین الخالص (٨/ ١٩٠) کی وګوره۔

د مسلمؒ په روایت کی (عِقَالًا) راغلے دے یعنی رسئ، پړے چه د اُوښ خپه پرے تړلے کیږی۔ یعنی که د پړی په اندازه زکاة نهٔ ورکوی، یا د پړی د قیمت په اندازه، په هغے به هم ورسره قتال کوم۔ بعض وائی : عقال د کال زکاة ته وائی او دا په محاورو کی استعمالیږی : اَخَذَ فُلَانٌ عِقَالَ هٰذَا الْعَامِ۔ یَعْنِیْ صَدَقَةَ هٰذَا الْعَامِ۔

اول قول امام نوویؒ غوره کړیدے۔

بعضو وئیلی دی چه د عقال لفظ د راوی وهم دے لیکن دا خبره ضعیفه ده۔ امام نوویؒ وائی چه صحیح دا ده چه ابوبکر صدیق ﷺ دا الفاظ دوه ځل وئیلی دی یو ځل عناقًا او بل ځل عقالًا نو دواړه لفظونه تربے نقل شویدی۔ او حَفِظَ مَا لَمْ یَحْفَظْهُ الْآخَرُ قاعده پرے دلیل دے۔

لَقَاتَلْتُهُمْ عَلٰی مَنْعِهَا : یعنی زهٔ به د دوی سره ددے په منع کولو جنګ کوم۔ ددے تفصیل دا دے چه که دوی د زکاة د وجوب نه منکر شو نو زهٔ به دوی سره د دوی د کفر او د ارتداد په وجه جنګ کوم او که د زکاة نه منکر نهٔ وی بلکه زکاة نهٔ ادا کوی نو بیا به د دوی سره زما جنګ د شعائر اسلام د حفاظت او ددے فتنے د بندولو دپاره وی۔

فوائد الحدیث : ۱- ددے نه د صحابه کرامو شفقت معلوم شو په امت باندے۔ ۲- د صحابه کرامو انابت، چه حق ورته ښکاره شی نو سمدست حق ته رجوع کوی خپله رایه باندے کلك نهٔ ودریږی، ۳- د صحابه کرامو عزم ځومره مضبوط وو چه په داسے سختو حالاتو کی بیا هم په دین عمل کوی، د ابوبکرؓ نه د عمرؓ غوندے شخص مخالفت کوی او د هغه په عزم کی هیڅ نقصان نهٔ راځی۔

٤- په کلکه سره دین بیانول او خبرے له زور ورکولو نه پس مخالف هم په سوچ کی پریوزی او حق طرف ته راځی یا مقابله شروع کوی۔

٥- کله نا کله په لویو لویو صحابه کرامو هم یو حدیث او د دین مسئله پته پاتے کیدے شی چه په هغے باندے کشران خلك خبر وی پدے وجه آراؤ ته به نشی کتلے اګرکه ډیره قوی رایه ښکاره کیږی کله چه د هغے مخالف حدیث او سنت موجود شی او دا به نشی وئیلے چه دا په فلانی باندے څنګه پته پاتے شوه۔

(حافظ ابن حجرؒ فی فتح الباری ۱/ ۱۷٦)

- 1791(20) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " يَكُوْنُ كَنْزُ

أَحَدِكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ يَفِرُّ مِنْهُ صَاحِبُهُ وَهُوَ يَطْلُبُهُ حَتَّى يُلْقِمَهُ أَصَابِعَهُ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه : سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ستاسو د يو تن خزانه به د قيامت په ورځ گنجے مار جوړيږي چه د هغے نه به مالك تيختنه كوي او هغه به ئے طلب كوي تردے چه هغه ماربه (مالك پسے ورشي او د) هغه گوتو نه به لقمه (نوړئ) جوړه كړي (احمدؒ).

تشريح: كَنْزُ : يعني جمع كړے شوے مال، يا خښ كړے شوے مال چه زكاة ئے ترے نۀ وي ادا كړے او دا حكم د تمامو هغه مالونو هم دے چه په ناجائز او حرامه طريقه سره جمع كړے شوے وي.

صَاحِبُهُ : يعني مالك ددے مال به د مار نه تبنتي، يا صاحب د دے مار به د هغه مار نه تبنتي.

يُلْقِمَهُ أَصَابِعَهُ : ددے دوه معاني دي ١- يو دا چه اَصَابِعَه بدل دے د ضمير نه معنیٰ دا ده : تردے چه دا مار به لقمه جوړه كړي دده نه يعني د گوتو دده نه. په يو هرپ سره به ترے گوتي وخوري ځكه چه دۀ پدے گوتو سره مال جمع كړے وو او د هغے زكاة ئے نۀ وو ادا كړے. ٢- يا معنیٰ ده : تردے چه په خوله كي به وركړي مارته گوتے خپلے. يعني دے به د مار نه تبنتي او هغه به وريسے راروان وي نو ځان به ترے په لاسونو بچ كوي تردے چه لاس به ترے وخوري.

مخكي ئے دا ذكر كړل چه دا مار به دده وښكي رانيسي او دلته ئے گوتے ذكر كړے، پدے كي راز دا دے چه د زكاة منع كونكے مال په لاسونو گتي او په وښكو باندے فخر كوي نو ځكه ئے دواړه خصوصي ذكر كړل. يا دا چه مختلفو كسانو ته به مختلف عذابونه وركولے شي، چاته يو او چا ته بل. يا دا چه د زكاة منع كونكي ته به تولے هغه سزاگانے ملاوېږي كومے چه پدے احاديثو كي ذكر دي، كله به د مال نه تبئ جوړيږي او كله به ترے گنجے مار چه د مرئ نه به ئے تاؤ شي او كله به مار وي چه وريسے به وي او دے به ترے تبنتي تردے چه لاس به ورله خوله كي وركړي او دا ډير د يرے حالت دے.

درجة الحديث : صحيح، اخرجه احمد(١٠٨٦٧) والحاكم(١/٣٨٩) وقال صحيح على شرط مسلم ووافقه الذهبي وقال شعيب الارناووط. اسناده صحيح على شرط

مسلم)

- 1792(21) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " مَا مِنْ رَجُلٍ لَا يُؤَدِّیْ زَکَاةَ مَالِهٖ إِلَّا جَعَلَ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِیْ عُنُقِهٖ شُجَاعًا "ثُمَّ قَرَأَ عَلَيْنَا مِصْدَاقَهٗ مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ:(وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَا آتَاهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ)الآيَة. رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَالنَّسَائِیُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : ابن مسعود ﷺ د نبی ﷺ نه ارشاد نقل کوی فرمائی چه نشته یو سړے چه نهٔ ادا کوی زکاة د خپل مال مګر الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ دهٔ په څټ کی مار واچوی، بیا ئے په مونږ باندے ددے مصداق د الله د کتاب نه ولوستو : ﴿ولا یحسبن﴾ : ترجمه : ګمان دِے نهٔ کوی هغه کسان چه بخل کوی په هغه مال چه ورکړیدے الله تعالیٰ دوی ته د خپلے مهربانئ نه) آیت آخر پورے (ترمذیؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح : یعنی رسول الله ﷺ مونږ باندے ددے وعید مصداق د الله د کتاب نه ولوستلو چه هغه مصداق دا دے : ولا یحسبن الخ یعنی کوم خلك چه د الله په ورکړی مال باندے بخل کوی او د هغے نه زکاة او نور واجب حقوق نهٔ ادا کوی هغوی دِے دا ګمان نهٔ کوی چه ګنے دا کار به دوی له غوره وی بلکه دا د دوی دپاره شر دے۔ او شر دا چه ددے مال نه به ورله مار جوړ شی او په څټ کی به ورته واچولے شی۔

درجة الحديث : سنده صحيح، اخرجه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح والنسائی وابن ماجه)

- 1793(22) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ :سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ : " مَا خَالَطَتِ الزَّكَاةُ مَالًا قَطُّ إِلَّا أَهْلَكَتْهُ ": رَوَاهُ الشَّافِعِیُّ وَالْبُخَارِیُّ فِیْ تَارِيْخِهٖ وَالْحُمَيْدِیُّ وَزَادَ قَالَ : يَكُوْنُ قَدْ وَجَبَ عَلَيْكَ صَدَقَةٌ فَلَا تُخْرِجُهَا فَيُهْلِكُ الْحَرَامُ الْحَلَالَ، وَقَدِ احْتَجَّ بِهٖ مَنْ يَّرٰى تَعَلُّقَ الزَّكَاةِ بِالْعَيْنِ هٰكَذَا فِی الْمُنْتَقٰى. وَرَوَى الْبَيْهَقِیُّ فِیْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ عَنْ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ بِإِسْنَادِهٖ إِلٰى عَائِشَةَ، وَقَالَ أَحْمَدُ فِیْ "خَالَطَتْ" : تَفْسِيْرُهٗ أَنَّ الرَّجُلَ يَأْخُذُ الزَّكَاةَ وَهُوَ مُوْسِرٌ أَوْ غَنِیٌّ وَإِنَّمَا هِیَ لِلْفُقَرَاءِ.

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی چه فرمایل

ئې : نهٔ دے یو ځای شوے د زکاة مال د یو مال سره هیڅکله مګر هغه ئې هلاك کړیدے۔ (دا روایت شافعیؒ او بخاریؒ په خپل تاریخ کې او حُمَیدیؒ نقل کړیدے او حُمیدیؒ دا زیات نقل کړیدی (یعنی د حدیث وضاحت ئې بیان کړیدے) چه امام بخاریؒ فرمائي چه "کله په په تا باندے زکاة واجبیږی او ته زکاة نهٔ وباسے (نو هغه زکاة د خپل مال سره یو ځای شی) نو حرام مال حلال مال هلاك کړی، او پدے باندے دلیل نیولے دے هغه چا چه ګڼړی تعلق د زکاة د عین مال سره (نهٔ د ذمے سره) دغه شان په منتقیٰ کی دی، او بیهقیؒ په شعب الایمان کې د امام احمد بن حنبلؒ نه په خپل سند د عائشےؓ نه نقل کړیدے او امام احمدؒ د (نبی ﷺ ددے وینا (خَالَطَتْ) په باره کې وئیلی دی چه ددے تفسیر (یعنی وضاحت) دا دے چه یو سړے مالدار یا غني دے او ددے باوجود زکاة اخلی حال دا چه زکاة خو صرف د فقیرانو او مسکینانو (او مستحقینو) دپاره جائز دے۔

تشریح : خَالَطَتِ الزَّكَاةُ : ددے دوه معانی دی (۱) یوه دا چه مالدار سړے زکاة واخلی نو کوم مال چه ورسره دے هغه به ئې ددے مال په وجه هلاك شی ځکه چه د فقیرانو حق ئې د ځان سره یو ځای کړو، نو جزاء من جنس العمل وی، الله دے غریب کوی او مال ورله هلاکوی۔

(۲) دویم : یو سړے زکاة نهٔ ورکوی نو د فقیر حق ئې د ځان سره ساتلے دے ددے په وجه به ئې ټول مال هلاك شی نو ددے پردیٔ لږ حق په وجه ئې نور مال ته هم نقصان رسی۔

أَهْلَكَتْهُ : یعنی کموی ئې، یا ئې ختموی یا ئې برکت زائله کوی، یعنی کله چه د مال نه واجب زکاة نهٔ وباسی نو دا ټول مال به ورله هلاك کړی چه آفات به پرے راولی، غلا، ډاکه، په اور سوزیدل به پرے راشی۔ یا مطلب دا دے چه برکت به ئې کم شی اګر که موجود به وی لیکن فائده به ترے نشی اخستے، په ډاکټرانو او تهانه تحصیل باندے به ترے لګی۔ نو دا داسے شو لکه هلاك شوے ختم شوے مال۔ یا د هلاکت نه مراد بیخی ختمیدل دی ځکه چه زکاة د مال دپاره محفوظه قلعه ده نور مال پرے الله پاکوی او ساتی ئې۔

شرح السنه (۱۵٦۳) کی امام بغویؒ لیکی چه بعض علماؤ وئیلی دی چه پدے حدیث کی تیزی ورکوی په جلتئ سره په زکاة ورکولو او د مال سره د یو ځای کیدو نه مخکی مخکی ادا کولو باندے یعنی ځنګه چه کال پوره شی سمدستی به زکاة جدا

کوي ورنه مال ته به ئې نقصان ورسي۔
وَقَدِ احْتَجَّ : پدې کې يو اختلافي مسئلې ته اشاره کوي چه آيا د زکاة تعلق د مال سره دې او که د ذمې سره؟ نو جمهور علماء وائي چه د زکاة تعلق د مال سره دې نو مال چه هر ځای کې وي که د هر چا سره وي په هغې به زکاة واجب وي او ابوحنيفه رحمه الله فرمائي چه د مال تعلق د ذمې سره دې يعنې که څوك مکلف وي او ذمه ئې مشغوله کيږي نو په هغه به زکاة لازم وي لکه بالغ، مسلمان مکلف۔او که د چا ذمه نۀ مشغوله کيږي او مکلف نۀ وي لکه ماشوم او ليونے نو په هغه به زکاة نۀ وي۔
علامه شوکانیؒ فرمائي: چا چه پدې حديث سره دا دليل نيولے دے چه زکاة د عين يعنې مال پورے تعلق لري او ذمې پورے تعلق نۀ لري دا استدلال ئې صحيح دے ځکه که زکاة د ذمې سره متعلق شي نو بيا به ددې حديث معنىٰ برابره نۀ شي ځکه چه ذِمه په هر جزء د مال کې نۀ وي نو بيا د زکاة د نورمال سره يوځای کول نۀ برابريږي، دارنګه بيا به دا سبب د هلاکت د هغه نور مال دپاره ونۀ ګرځي کوم سره چه دا يوځای شوے وي ځکه چه هغې کې خو ذمه نشي راتلے۔
علامه ابن قدامهؒ د دوارو مذهبونو د اختلاف دا فائده ذکر کړيده چه کله زکاة په ذمه پورے متعلق شي او بيا په مال باندے دوه کاله تير شي چه په هغې کې ئې زکاة نۀ وي ادا کړے نو په هغه باندے به د تير شوی کال زکاة هم لازم وي او په دويم کال کې به ددۀ نه زکاة نشي کمولے۔ لکه د يو سړی سره څلويښت ګډان وي چه په هغې درے کاله تير شي او زکاة ئې ادا نکړي نو په دۀ باندے به درے ګډان لازم وي ځکه چه زکاة ددۀ په ذمه واجب وو نو که نصاب کم شوے وي هم دغه درے ګډان به ورکوي، او که مونږ ووايو چه زکاة د عين مال پورے تعلق لري او بيا ډير کلونه په مال تير شي چه د هغې زکاة ئې نۀ وي ادا کړے نو زکاة به په اول کال د نصاب د هغې په اندازه وي بيا که په دغه نصاب کې زيادت نۀ وي راغلے نو د اول کال نه روستو به په هغې کې زکاة نۀ وي ځکه چه بيا خو د څلويښتو نه کم شو۔انتهىٰ۔
درجة الحديث : سنده ضعيف، اخرجه الشافعي والبخاري فى تاريخه والحميدى باسناد ضعيف فيه محمد بن عثمان بن صفوان الجمحي قال في الميزان: قال ابوحاتم منكر الحديث وقال الحافظ في التقريب : ليس بالقوى۔

١- باب ما يجب فيه الزَّكَاةُ

بيان د هغه شي چه په هغې کې زکاة واجبيږي۔

شريعت په څلور قسمه مالونو باندې زکاة فرض کړيدې او دا مالونه په خلکو کې ډير اوړي راوړي او د خلکو حاجت ورته ضروري دې۔ (١) څريدونکي څاروو باندې (٢) په سرۀ سپينو باندې (٣) په تجارتي مالونو برابره ده که هر قسم وي۔ (٤) په فصلونو او ميوو باندې۔ (زاد المعاد ١/١٥١) ددې څلورم قسم چه ميوې او فصلونه دي په باره کې د زکاة لفظ نۀ استعماليږي بلکه عشر ورته وائي۔

په څاروو کې په اوښانو، ګډو بزو، او غواګانو کې زکاة واجب دې برابره ده نر وي که ماده، ددې نه ماسوئ نورو حيواناتو کې زکاة واجب نۀ دې۔

ابن رشدؒ په بداية المجتهد (١/٢٢٧) کې ليکي چه زکاة په يو څو قسمه مالونو کې واجب دې، بعض اتفاقي دي او بعض اختلافي۔ (يعنى نهه قسمه کې اتفاق دې)۔ په معادنو کې په (١) سرۀ (٢) سپينو باندې چه لا کانړه ترې نۀ وي جوړه شوي زکاة واجبيدل اتفاقي دي او که کانړه ترې جوړه شي په هغې کې اختلاف دې اګرکه راجح قول دا دې چه په هغې کې هم زکاة شته روسته به راشي۔ او درې قسمه حيواناتو کې (٣) اوښان (٤) غواګانې (٥) ګډې بزې۔ او په دانو کې په (٦) غنم (١) او وريشو کې۔ او په ميوو کې په (٨) تمر (کجورو) (٩) او زبيب (وچکو، کشمش) کې لازم دې او په تيلو کې شاذ اختلاف دې۔ انتهى۔

او اختلافي صورتونه هغه کانړه د سرو او زرو چه کالي ترې جوړ شوي وي۔ اسـ نه، او نۀ څريدونکي د اوښانو، غواګانو او ګډو بزو نه او په ماسوئ د څلورو ذکر شوو اقسامو د فصلونو کې او دارنګه په عسل (شاتو) کې هم اختلاف دې چه ددې تفصيل به روستو راشي ان شاء الله۔

الفصل الأول

- 1794 (1) وَعَنْ أَبِىْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيْ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " لَيْسَ فِيْمَا دُوْنَ

خَمْسَةِ أَوْسُقٍ مِنَ التَّمْرِ صَدَقَةٌ وَلَيْسَ فِيمَا دُوْنَ خَمْسِ أَوَاقٍ مِنَ الْوَرِقِ صَدَقَةٌ وَلَيْسَ فِيمَا دُوْنَ خَمْسِ ذَوْدٍ مِنَ الإِبِلِ صَدَقَةٌ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: سيدنا ابوسعيد خدري ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دی: نشته په کم د پنځه وسقو د کجورو کی زکاة او نشته په کم د پنځه اوقيه د سپينو زرو کی زکاة او نشته په کم د پنځه سره اُوښانو کی زکاة۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح: وسق په فتحه د واو سره او کسره هم پکښې جائز ده جمع ئے اَوسُق او اَوسَاق راځی، يو وسق شپيته صاعه دے او يو صاع څلور مده دے او يو مد يوه لپه ده نو د معتدل سړی څلور مضبوطے لپے يو صاع دے او د کيلو په اعتبار سره يو صاع پاو باندے دوه کيلو راځی۔ ذ صاع دا اندازه په نيز د جمهورو ده او د امام ابوحنيفةؒ په نيز تقريباً درے کيلو جوړيږی يعنی صاع هغه اته رطله گنړی او جمهور پنځه رطله او ثُلُثِ رطل گنړی، ليکن د احنافو مذهب دلته نۀ بيانيږی ځکه چه هغوی د (خَمْسَةُ اوسق) نصاب نۀ مني۔

نو د پنځه وسقو اندازه شپږ سوه کيلو او درے سوه پاوه جوړيږی چه ددے نه پاکستانی ديارلس نيم (5-13) منه جوړيږی چه يو من پنځوس کيلو حساب شی، يا (75-168) يوسل اته شپيته، اعشاريه پنځه اويا) درئ جوړيږی۔

نو که د زمکے پيداوار (دانے) ديارلس نيم منو ته ورسيږی په هغے کی به عُشر (لسمه حصه) ورکوی که زمکه للمی وه، او نصف عشر (شلمه حصه) به ورکوی که زمکه اربی وه۔ او که ددے پنځه وسقو نه کم پيداوار وشو نو په هغے کی نۀ عشر شته او نۀ نصف عشر۔

او دغه پنځه وسقه د کجورو هم نصاب دے، ددے نه په کم کی به زکاة واجب نۀ وی۔

او په يو روايت د مسلمؒ کی ورسره (ثَمَر) راغلے دے يعنی ميوو کی هم دغه نصاب شو۔

دلته د صدقے نه مراد عشر يا نصف عشر دے۔

بيا دا حديث ښکاره دليل دے چه د عشر او نصف عشر د واجبيدو دپاره دغه نصاب شرط دے نو په هيڅ فصلونو او ميوو کی به زکاة نۀ وی تردے چه پنځه وسقو ته ورسيږی او دا مذهب د اکثرو اهل علمؒو دے او دا قول د صاحبينو (ابويوسفؒ او محمدؒ) هم دے، او همدا حق او صحيح مذهب دے۔ او ددے نصاب په باره کی ډير

روايات راغلي دي ١- دارقطنيؒ عن عائشة ٢- ومسلم عن جابر ٣- وابوعبيد عن محمد بن عبد الرحمن ٤-واحمد عن ابي هريرة ٥-والبيهقي (١٢١/٤) عن عمرو بن حزم مثل حديث ابي سعيد۔ التلخيص الحبير (١٦٥/٢) زيات روايات په كتاب الاموال د ابوعبيدؒ او البيهقيؒ كي وګوره۔ بعض د هغې نه په فتاوي الدين الخالص (١٦٨/٨) كي ذكر دي او دا احاديث صحيح صريح او نصوص دي۔

(٢) امام ابوحنيفةؒ وائي : چه د زمكې نه چه څه راوځي په هغې كي نصاب شرط نهٔ دې بلكه لږ وي او كه ډير خو په هغې كي به د زمكې د اختلاف د وجه نه عشر يا نصف عشر لازم وي۔ نو په لسو تهماترو كي به يو وركوي يا په شلو كي به يو وركوي۔ نو احناف په دوه مسئلو كي خلاف كوي يو(١) په هرڅه كي عشر مني، (٢) دويم نصاب نهٔ مني۔

د احنافو سره ادله عامه دي، دلته صاحب د مرقات(علي القاريؒ) په غصه شويدې او وئيلي ئې دي چه خلك وائي د احنافو سره دلائل نشته په قياس روان دي كه زهٔ وغوارم ډير دليلونه به ذكر كړم۔

نو احناف دليل نيسي په حديث د ابن عمر رضي الله عنهما باندې :

(فِيْمَا سَقَتِ السَّمَاءُ وَالْعُيُوْنُ اَوْ كَانَ عَثَرِيًّا الْعُشْرُ وَمَا سُقِيَ بَالنَّضْحِ نِصْفُ الْعُشْرِ)

(بخاري عن ابن عمر)

دوي وائي چه ما لفظ عام دې هرشې چه د آسمان په اوبو يا په چينو خړوب شوې وي په هغې كي به زكاة وي برابره ده لږ وي او كه ډير۔ څلور شيان وي او كه هر فصل وي دا حديث د دواړو مسئلو دپاره پيش كوي۔

جواب :١- جمهور جواب وركوي چه يو نص وي او بل ظاهر، د اصولو دا قاعده ده، نص هغې ته وائي چه د هغې دپاره كلام چلولې شوې وي او ظاهر هغې ته وائي چه د ظاهري الفاظو د حديث او د قرآن نه معلوميږي او كلام ورله نهٔ وي چلولې شوې بلكه كلام د بل مقصد دپاره چلولې شوې وي خو دا ترې ضمناً معلوميږي۔نو د خَمْسَةُ اَوْسَقٍ والا حديث نص دې او (فيما سقت السماء) روايت نه استدلال ظاهر دې او قانون دا دې چه كله د نص او د ظاهر تعارض راشي نو نص به مقدم وي، نص لره به اعتبار وي او په ظاهر باندې به استدلال نشي كيدې۔ دغه حديث كي دا بيان نشته چه

خومره فصل او دانو کې به عشر او نصف عشر وي بلکه په هغې کې دا بیان دے چه په کومه زمکه کې به عشر لازم وي او په کومه کې به نصف عشر۔ نو د نص او د ظاهر خپل مینځ کې په حقیقت کې تعارض نهٔ وي ځکه چه په (فیما سقت السماء) حدیث کې د نصاب بیان نشته او په (خمسة اوسق) والا حدیث کې د نصاب بیان دے۔

دارنګه (فیما سقت السماء) حدیث عام دے، نصاب او کم د نصاب دواړو ته شامل دے او (خمسة اوسق) والا حدیث خاص دے صرف نصاب والا ته شامل دے چه په هغې کې به زکاة وي او که د دغه نصاب نه کم وي نو زکاة به پکې نهٔ وي او دا قانون دے چه خاص په عام باندے مقدم وي کله چه خاص موجود وي نو په عام باندے استدلال کول صحیح نهٔ وي۔ ځکه که په عموماتو باندے د خاص په مقابله کې استدلال وکړے شي نو بیا به حدیث وران شي او ضائع به شي، د خمسة اوسق به هیڅ فائده پاتې نشي۔

۴- دارنګه (فیما سقت السماء) روایت مبهم دے او حدیث د ابو سعیدؓ د هغې تفسیر دے او پدے کې زیادت دے او زیادت د ثقه مقبول وي نو دا واجب ده چه مبهم به په مفسر باندے حمل وي۔ په ماسقت السماء کې نصاب نهٔ دے ذکر او په خمسة اوسق والا حدیث کې نصاب ذکر دے او دا قانون دے چه په ذکر عمل وي او په عدم ذکر عمل نهٔ وي ځکه چه په یو ځای کې ئے قید ولګولو نو په هر ځای کې قید لګولو ته ضرورت نهٔ وي، کما اشار الیه البخاري في صحیحه (١)۔

دغه شان په آیت: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ﴾ البقره: ٢٦٨) باندے هم استدلال کوي چه دلته حکم شویدے چه د زمکے نه څه راوتې وي هغه خرچ کړئ کلمه د ما عامه ده، او انفاق فرضي او نفلي دواړو ته شامل دے۔

لیکن دا استدلال هم صحیح نهٔ دے ځکه چه اول خو انفاق په نفلي صدقاتو کې استعمالیږي بیا که ومنو چه فرضي ته هم شامل دے نو بیا دا آیت مبهم او مجمل دے، دا بیان پکې نشته چه د خومره نه زکاة ورکړو او د خومره نه نهٔ؟ نو حدیث د (خمسة اوسق) والا دا بیان وکړو چه د زمکے نه چه هر خومره شے راوځي زکاة نشته بلکه چه پنځه وسقو ته ورسیږي نو په هغې کې به زکاة وي او نبي ﷺ د قرآن کریم شارح دے، د قرآن د مجملاتو او مبهماتو تفسیر به نبي کوي، مونږ به ځان د نبي نه نهٔ

مخکی کوو۔ عام به په مقابله د خاص کی نشی پیش کولے۔

علامه امیر یمانیؒ فرمائی: حدیث د اَوساقو صحیح دے او پدے کی بیان د هغه اندازے دے چه په هغے کی زکاة واجبیږی لکه ددے مثال په یو حدیث کی داسے راغلے دے چه په دوه سوه درهمو کی زکاة دے او په بل حدیث کی داسے دی: (فِي الرِّقَّةِ رُبُعُ الْعُشْرِ) (صحیح البخاری من روایة انس) په سپینو زرو کی څلویښتمه روپۍ ده نو پدے کی هیڅ دا نهٔ دی وئیلی چه په سپینو زرو کی لږ وی که ډیر زکاة لازم دے او ددے وجه دا ده چه دا حدیث ((چه په څلویښتو روپو کی څلویښتمه روپۍ ده)) دا صرف ددے خبرے د بیان دپاره راغلے دے چه صرف پدے جنس کی زکاة واجب دے او هرچه دا خبره چه څومره واجب دے نو د هغے بیان سپارلے شویدے هغه حدیث ته چه په دوه سوو کی زکاة دے نو دغه شان دلته (فیما سقت السماء) والا حدیث مطلب هم دا دے چه پدے جنس کی عشر لازم دے (یعنی هغه زمکه چه آسمان خړوبه کړی وی په هغے کی عشر دے) او هرچه دا خبره ده چه څومره کی واجب دے نو د هغے بیان حدیث د اوساقو ته سپارلے شویدے، بیا کله چه د عام او خاص تعارض راشی نو عمل به په خاص باندے وی کله چه تاریخ د واړو مجهول وی لکه پدے مقام کی شو۔ آه۔

حافظ ابن قیم رحمه الله فرمائی: په دواړو حدیثونو کی هیڅ قسم تعارض نشته ځکه چه (فیما سقت السماء العشر) والا حدیث ددے دپاره ذکر شویدے چه تمیز وکړے شی چه په کومو ځیزونو کی به عشر لازم وی او په کومو کی به نصف عشر، نو دواړه قسمونه ئے جدا جدا ذکر کړل او هرچه مقدار د نصاب دے نو د هغے نه پدے حدیث کی سکوت شویدے او په بل حدیث کی ئے صراحةً بیان کړیدے نو څنګه به د صحیح صریح محکم نص نه عدول جائز وی چه هغے کی هیڅ تاویل نشته هغه مجمل متشابه ته چه په هغے کی صرف په غیر مقصود عموم باندے استدلال شویدے۔ او حال دا چه ددے عموم او متشابه بیان په خاص مُحکم سره شویدے لکه د عامو عموماتو په شان۔ (اعلام الموقعین ۲۸۳/۱)

حاصل مطلب دا چه آیت او حدیث متشابه دی دوه معانی لری یو دا چه زمکے نه څه زاوتی وی په هغے کی زکاة دے یا آسمان چه څه خړوبه کړی وی په هغے کی عشر دے نو پدے کی دا احتمال هم شته چه پنځه وسقو ته رسیدلی وی او دا احتمال هم

شته چه پنځو وسقو ته نۀ وی رسیدلی هم به پکی زکاة وی. نو حدیث د اوساقو خاص او محکم دے صرف د یو بے معنیٰ احتمال لری چه د زمکے په فصل او دانو کی به عشر وی خو چه پنځه وسقو ته ورسیږی. نو د محکم په مقابله کی په متشابه باندے عمل کول د اهل زیغو طریقه ده، او د راسخینو طریقه دا ده چه هغوی متشابهات محکماتو ته واپس کوی بیا پرے عمل کوی.

بیا حافظ ابن قیمؒ فرمائی: بل طرفته (فیما سقت السماء) کی چه کوم عموم دے هغه احنافو هم مقید کریدے په ماسویٰ د حشیش او قصب باندے. یعنی دوی وئیلی دی چه د زمکے په هر خارج کی به زکاة او عشر وی سِویٰ د کبلو، گیاهگانو او دُرمو (بانړس) نه. نو دوی ته به وئیلے شی چه تاسو په قیاس سره د قرآن او حدیث په عموم کی تخصیص وکړو، د کبلو او دُرمو ذکر په هیڅ نص کی نۀ دے راغلے نو بیا تاسو دغه عموم د نبی ﷺ په صریح نص باندے ولے نۀ خاص کویٔ چه هغه دا قول دے:

(لَا زَكَاةَ فِي حَبٍّ وَلَا تَمْرٍ حَتَّى يَبْلُغَ خَمْسَةَ أَوْسُقٍ)

(نشته زکاة په دانو او میوو کی تردے چه پنځه وسقو ته ورسیږی).

دارنگه کله چه تاسو دغه عموم په قیاس سره خاص وگرځولو نو بیا تاسو دا عام په هغه ښکاره او صحیح قیاس سره ولے نۀ خاص کویٔ چه هغه دا دے چه په تولو مالونو کی زکاة هله واجب دے چه نصاب ئے وی نو دغه شان په دانو او میوو کی به هم زکاة او عشر هله واجب وی چه نصاب ئے وی.

دارنگه تاسو ته وئیلے شی چه تاسو له خو پکار دی چه د هر مال په لږ او ډیر کی زکاة واجب وگنړیٔ دے دپاره چه عمل راشی پدے قول د الله تعالیٰ: ﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ﴾ (التوبة: ١٠٣) (واخله د دوی د مالونو نه زکاة چه دوی پاك کړے) دارنگه پدے قول د نبی ﷺ: (مَا مِنْ صَاحِبِ إِبِلٍ وَلَا بَقَرٍ لَا يُؤَدِّي زَكَاتَهَا إِلَّا بُطِحَ لَهُ بِقَاعٍ قَرْقَرٍ)

(نشته یو مالك د اُوښانو او د غواگانو چه د هغے نه زکاة نۀ ادا کوی مگر د هغه دپاره به په یو هموار میدان څملولے شی او دغه حیوانات به پرے دپاسه گرځی) پدے کی هم نصاب نۀ دے ذکر پکار ده چه دا وعید هر هغه چاته شامل شی چه د خپل لږ مال زکاة هم نۀ ورکوی. دارنگه په دے قول د نبی ﷺ: (مَا مِنْ صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلَا فِضَّةٍ لَا يُؤَدِّي زَكَاتَهَا إِلَّا صُفِّحَتْ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَفَائِحُ مِنْ نَارٍ) (نشته مالك د سرو او سپینو چه د هغے

زكـاة نـهٔ ادا كوى مگر د قيامت په ورځ به ددهٔ دپاره د اُور تبئ جوړے شى) پدے كى هم عـمـوم دے، دا سره او سپين نصاب ته رسيدلى وى او كه نهٔ نو بيا تاسو ولے دا وعيد هر صـاحـب مـال تـه نـهٔ شاملوئ، او ولے ستاسو په نيز دا عموم په احاديث خاصه د نص بانـديے نهٔ دے مقدم او تاسو ولے نهٔ وايئ چه دلته تعارض د مُسقِط او مُوجِب راغلے دے نو مونږ مُوجِب مقدم کړو اِحتياطاً. اَنتهىٰ قول الحافظ ابن قيمؒ.

يعنى ﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ﴾ آيت او ﴿مِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ﴾ آيت او دغه حديثونه اگركه عام دى ليكن ددے تخصيص شويدے په هغه احاديثو چه په هغے كى نـصاب ذكر دے يعنى كله چه مال نصاب ته ورسيږى او څوك ترے زكاة نهٔ وركوى نو دغه وعيدونه به ورته شامل وى.

د احنافو سره په خپل مذهب باندے هيڅ صحيح صريح دليل نهٔ دے موجود، صرف جـوابونه ورته پاتى دى. نو صاحب «هدايه» او دغـه شان صاحب د «تنظيم الاشتات» اوصاحب د «مظاهر حق» پدے حديث كى دا جواب كوى چه د كجورو نه مراد هغه كـجورى دى چـه د تـجارت دپاره وى ځكه چه په هغه وخت كى به د كجورو اخستل خرڅول د وسق په حساب سره وو او د يو وسق كجورو قيمت څلويښت درهمه وو پدے حساب سره د پنځو وسقو قيمت دوه سوه درهمه شو چه هغه د مالِ تجارت دپاره متعين نصاب دے. **جواب** : دا تاويل ځكه صحيح نهٔ دے چه نبى ﷺ پدے حديث كى درے واړه څيزونه په يو ترتيب سره ذكر كړيدى نو آيا په اوښانو او سپينو زرو كى به هم زكاة نهٔ وى مگر كه مال د تجارت شو بيا به په كى زكاة لازم وى نو يو په تجارت حمل كول نهٔ نور، بى دليله خبره ده.

دا رنگه حديث د ابو سعيد ﷺ چه په مسلم كى راغلے دے او مخكى هم تير شو هغه ددے تاويل ترديد كوى: (لَيْسَ فِىْ حَبٍّ وَلَا تَمْرٍ صَدَقَةٌ حَتّٰى يَبْلُغَ خَمْسَةَ أَوْسُقٍ) (مسلم)

په دانـو او كـجورو كى زكاة نشته ترڅو چه پنځو وسقو ته ورسيږى) نو آيا د دانو يو وسق به هم په څلويښتو روپو وو؟!.

رشـيـد احـمـد گـنگـوهيؒ هم دا جواب ذكر كړيدے بيائے وئيلى دى چه انصاف ددے په خـلاف دے ځكـه چـه د ميـوو او د وريشـو او د غـنـمو په ريټونو كى تفاوت او فرق ډير زيات دے نو دا به څنگه معلوميږى چه د نبى ﷺ ددے نه څه مراد دے.

شاه انور شاهؒ په العرف الشذی (۱۷۲/۱) کې په احنافو رد کوي وائي: (أَقُولُ: إِنَّ الصَّحِيحَ الاِحْتِجَاجُ بِالرِّوَايَةِ الْخَاصَّةِ فِي مُقَابَلَةِ الْخَاصِ) چه صحیح خبره دا ده چه د خاص روایت په مقابله کې به په خاص روایت سره دلیل نیولے شي نۀ په عمومانو باندې)۔ نو بیا ئې دا جواب ورکړیدے چه دا حدیث حمل دے په عرایاؤ باندې چه په هغې کې د پنځو وسقو نه کم وي نو زکاة نشته۔

جواب: د هغې ددے سره هیڅ تعلق نشته هغه مستقل حدیث دے او دا مستقل دے۔فتدبر۔ ځکه عرایا نفلي صدقه ده او دلته فرضي صدقه مراد ده۔ راجع مرعاة المفاتیح (۷٤/٦)

چا دا حدیث په نفلي صدقه باندې حمل کړیدے نو هغه خو بیخي غلط دی ځکه چه نفلي صدقه کې خو د سره نصاب او معین مقدار نشته۔

مسئله: د کومو زمکو نه عشر او د کومو نه خراج اخستلے کیږي؟

نو ابو عبیدؒ فرمائي: څلور قسمه زمکو نه به عشر یا نصف عشر اخستے کیږي:

(۱) یو هغه زمکه چه د هغې مالکان اسلام راوړي او دا زمکه د هغې په لاسونو کې وي نو دوي د دغه زمکو مالکان حسابیږي لکه مدینه او طائف او یمن دغه شان وو۔

(۲) هغه زمکه چه په زوره سره ونیولے شي بیا بادشاه هغه فيئ ونۀ ګرځوي وقف ئې نۀ کړي بلکه د مجاهدینو ترمینځ ئې غنیمت وګرځوي او تقسیم ئې کړي پنځمه برخه ترے بیت المال ته ورکړي او څلور برخے هغه کسانو کې تقسیم کړي چه چا فتح کړي وي لکه رسول الله ﷺ د خیبر زمکے سره دغه کار وکړو نو دا زمکے به هم ددے خلکو ملکیت حسابیږي پدے کې به هم د عشر نه علاوه بل څه نۀ وي واجب، دغه شان هغه سرحدات چه د مجاهدینو ترمینځ د نیولو نه پس تقسیم شوي وي۔

(۳) دریم هغه شاړه زمکه چه هیڅ مالك ئې نۀ وي او نۀ ئې آبادونکے وي او بادشاه راولکي یو سړي پسے ئې آلات کړي (یعني یو سړي ته ئې ورکړي چه ستا شوه څانله ئې آباده کړه) برابره ده که دغه زمکه په جزیرة العرب کې وي یا نۀ وي۔

(٤) هغه شاړه زمکه چه اُوبه پکې نۀ وي او یو مسلمان سړي څانله آباده کړه اُوبه ئې پکې راویستے او ګیاه ګانے ئې پکې وکرلے نو دا څلور هغه زمکے دي چه په سنت کې ددے په باره کې عشر یا نصف عشر راغلے دے او دا ټول په احادیثو کې موجودې دي۔

(مرعاة المفاتيح٦/٧٩) وفقه الزكاة للقرضاوی ر /٤٠٥)

او هر هغه زمکه چه د عجمو (کافرو) وی او اسلام په هغې باندے غلبه وکړی او هغه د هغې د مالکانو په لاس کی پریدی نو دا خراج والا زمکه ده اوکه هغه د فتح کونکو مجاهدینو ترمینځ تقسیم کړی نو دا به عشر والا زمکه وی لکه سیدنا عمر فاروق ﷺ د عجمو زمکے فتح کړے او بیا ئے د هغوی په لاسونو کی پریخودے نو دغه به خراجی زمکے حسابیدلے او هر هغه زمکه چه د عجمو وی او د هغې مالکان په هغې باندے صلح وکړی او هغوی اهل ذمه وګرځی نو دا به خراجی زمکه وی۔ (کتاب الخراج لابی یوسفؒ ص (٨٤)

یوسف القرضاوی وائی : پدے زمانه کی حکومتونو په ټولو زرعی زمکو باندے ټیکسونه لګولی دی او دے ته نۀ ګوری چه دا دے اصل عشری وی او که خراجی پدے وجه پدے کی ټولے زمکے برابرے دی لهذا پدے زمانه کی ډیره موافقه خبره دا ده چه په ټولو هغه زمکو باندے چه مسلمان ئے مالك وي عشر یا نصف عشر واجب دے کله چه د هغې نه هغه څه راوځی چه هغه نصاب ته رسیږی۔ انتهی بتغیر۔

فقه الزکاة (٤١٨)

مګر دا خبره پیژندل پکار دی چه په زمکو باندے ټیکسونه لګول ظلم دے، شریعت صرف زکاة لازم کړیدے۔ (فتاوی الدین الخالص٨/١٧٩)

وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ مِنَ الْوَرِقِ صَدَقَةٌ :

اواق په اصل کی أَوَاقِيُّ دے په یاء باندے شد وئیل او تخفیف سره وئیل دواړه جائز دی۔ جمع د أُوْقِيَّةٌ ده په ضمه د همزے سره، یو اوقیه څلویښت درهمه (یعنی د سپینو زرو روپۍ) دی په اتفاق د علماؤ سره۔

ورق : پدے کی فتحه د واو او کسره د راء ده او راء ساکنه وئیل هم صحیح دی، سپینو زرو ته وئیلے شی برابره ده چه ټاپه شوی وی یا نۀ وی۔ بعض وائی د سپینو زرو روپو دپاره حقیقت دے، او په غیر د دراهم کی مجازاً استعمالیږی۔ (نوویؒ)

نو د پنځه اوقیه و نه دوه سوه درهمه جوړیږی نو دا نصاب د زکاة دے خالص سپین زر (چاندی) ټرے (١٤٠) مثقاله جوړیږی چه د تولو په حساب سره ددے نه دوه پنځوس نیمے تولے جوړیږی، دے باندے چه کله کال تیر شی نو پدے کی به پنځه

درهمه زکاة ورکوی او که د چاندی نه ئے ورکوی نو یو توله او درے ماشے او شپږ رتۍ به ورکوی۔ او که دا پاکستانی یا د بل ملك روپو ته اړوی نو په هر دوه سوه روپو کی به د پنځه روپو په حساب زکاة ورکوی نو په دوه لاکهو کی به پنځه زره ورکوی۔ او که دوه پنځوس نیمے تولو سپینو زرو نه یوه توله یا نیمه توله کمه شوه نو په هغے کی زکاة واجب نهٔ دے۔

یو درهم دوه گرامه او نهه سوه پنځه اویا اعشاریه جوړیږی نو د دوه سوه درهمو نه د گرامونو په حساب سره (۵۹۵) گرامه جوړیږی۔ (فقه الزكاة ۱/۲۶۰ د یوسف القرضاوی)

فقه اسلامی کی وهبة الزُحَیلیّ لیکی چه د جمهورو په نیز شرعی درهم درے گرامه دوه سوه اته اعشاریه دے یعنی (۳،۲۰۸) نو ددوی په نیز د چاندی نصاب (۶۴۲) گرامه دے تقریباً او د احنافو په نیز د درهم حساب (۳،۵۰) درے گرامه پنځوس اعشاریه دے نود دوی په نیز د چاندی نصاب (۷۰۰) اوه سوه گرامه دے تقریباً۔ (الفقه الاسلامی ۲/۷۵۹)

مسئله : نن صبا چه کوم نوټونه استعمالیږی آیا دا به د فضه نه شمارلے شی او که د ذهبو نه؟ (۱) یوسف القرضاوی په فقه الزكاة کی لیکی چه نن صبا زمانه کی د سپینو زرو قیمت کم دے نو دا به په سرو زرو باندے حسابولے شی۔ ځکه چه د سرۀ زرو قیمت نهٔ بدلیږی وخت په وخت بره روان وی او د سپینو زرو قیمت خکته کیږی۔ نو که چا سره د سرو زرو د اوه نیمو تولو په اندازه پیسے وی او په هغه باندے کال تیر شی نو زکاة به پکی لازم وی۔

(۲) دویم: قول دا دے چه سپینو زرو (یعنی چاندی) ته به اړولے شی ځکه که پدے باندے حساب شی نو پدے کی فقیرانو ته ډیره فائده ده ځکه بیا به په ډیرو مسلمانانو باندے زکاة لازم شی نو ډیرو فقیرانو ته به زکاة ورسیږی۔ دارنگه چا سره چه د سپینو زرو د نصاب په اندازه روپئ وی نو گویا که دۀ سره د سپینو زرو نصاب موجود شو ځکه چه دا پدے قادر دے چه په نیمه گینټه کی د بازار نه سپین زر حاضر کړی نو ځوك چه د سپینو زرو مالك شو د نصاب په مقدار هغه به شرعاً غَنِي (مالدار) حسابیږی او هغه به زکاة نهٔ اخلی۔

البته که د یو انسان ضرورتونه زیات وی نو بیا سرو زرو ته اړول پکار دی ځکه چه

مثلًا يو انسان په کرایه کور کې وسیږي او د هغه سره شپیته اویا زره روپۍ وي نو که دا غني حساب شي او زکاة اخستل پرې منع شي نو هیڅ کله به د خپل کور مالك نشي، خاصکر چه کله ترې د کور مالك یو یا دوه لاکه روپۍ په پیشکۍ هم غواړي، (اګرکه پیشکي حرامه ده) نو پدې وخت کې که روپۍ سرو زرو ته واړولې شي نو دا به د عقل ډیر موافق وي۔ او پدې قول کې د دواړو طرفونو لحاظ دے ځکه چه شریعت د سرو او د سپینو دواړو نصاب ثابت کړځولے دے۔

لیکن شارع اعلم باحوال العباد دے ﴿ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا﴾ هغه په دوه سوه درهمو انسان غني حساب کړے او د الله او د رسول نه مخکې والے نۀ دے پکار او هرچه د کرایه د کور مثال دے نو کور دے په قرضو باندے واخلي بیا به ورله زکاة اخستل جائز شي۔

وَلَيْسَ فِيمَا دُوْنَ خَمْسٍ ذَوْدٍ مِنَ الْإِبِلِ:

ذود: هم اُوښانو ته وائي او داڼے خاص نوم دے، او روستو (مِنَ الابل) ددے بیان دے۔

اکثر علماء وائي چه ذود د دریو نه تر لسو پورے وي او ددے واحد د خپل لفظ نه نشته۔ او ذود اکثر په مؤنثاتو کې استعمالیږي دلته ئے تخصیص نشته۔ او ذود کې معنیٰ د دفع ده نو ځوك چه اُوښان لري نو هغه د ځان نه د فقر، فاقے او محتاجۍ سختئ او تکلیف دفع کوي۔

دا حدیث دلیل دے چه د پنځو اُوښانو نه په کمو کې زکاة نشته لکه دا خبره روسته په حدیث د انس ﷺ کې هم راغلے ده۔

- 1795(2) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ صَدَقَةٌ فِيْ عَبْدِهٖ وَلَا فِيْ فَرَسِهٖ ". وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ: " لَيْسَ فِيْ عَبْدِهٖ صَدَقَةٌ إِلَّا صَدَقَةُ الْفِطْرِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمایلي دي: نشته په مسلمان باندے زکاة د هغه په غلام کې او نۀ د هغه په اس کې او په یو روایت کې دي: نبي ﷺ وفرمایل: نشته په مسلمان باندے د هغه په غلام کې زکاة مګر صدقة الفطر (یعني سرسایه واجب ده) (بخاريّ ومسلم)۔

تشریح: عَلَى الْمُسْلِمِ: حافظ ابن حجرؒ لیکي چه ددے نه دا خبره اخستے کیږي چه د هر قسم د زکاة د واجبیدو یو شرط اسلام دے، او دلته ئے د مسلمان قید ولګولو

ځکه چه کافر ته هم اګرکه د زکاة حکم متوجه دے لیکن في الحال هغه ډ زکاة د وپستلو اهل نهٔ دے او کله چه اسلام راوړی نو زکاة ترے ساقط دے ځکه چه اسلام مخکنی ټول اعمال ساقطوی، ددے فائده دا ده چه د زکاة په نهٔ ورکولو به هغه ته د قیامت په ورځ سزا ملاویږی لکه دا مذهب د اکثرو اصولینو او فقهاؤ دے۔ (قسطلانیؒ)۔

فِيْ عَبْدِهٖ : یعنی غلام که مذکر وی او که مؤنث، ډیر وی که لږ په هغے کی زکاة لازم نهٔ دے خو ددے نه صدقة الفطر په حدیث د مسلمؒ او مسند احمدؒ او ابوداودؒ کی مستثنیٰ شویده چه هغه پرے لازمه ده۔

في فرسه : فرس مذکر او مؤنث دواړو ته شامل دے او ددے جمع خَیل ده من غیر لفظه۔ په هغه اس کی زکاة نشته چه د خدمت او د سورلیٔ دپاره وی او که د تجارت په غرض اخستے شوی وی نو بیا به د هغے په قیمت کی زکاة وی لکه د تجارت د باقی مالونو په شان۔

د اسونو د زکاة په باره کښی مخکی په دویم حدیث کی اختلاف ذکر شویدے تحقیقی قول دا دے چه په اسونو کی زکاة نشته هر څومره چه وی، او اهل ظواهر وائی چه که د تجارت دپاره وی هم زکاة پکی نشته، ددے حدیث نه دلیل نیسی۔

فِيْ عَبْدِهٖ صَدَقَةٌ إِلَّا صَدَقَةَ الْفِطْرِ: یعنی د غلام په مالك باندے دا فرض دی چه د غلام د طرف نه به سرسایه ادا کوی، برابره ده که د خدمت دپاره وی او که د تجارت دپاره او دا مذهب د امام مالكؒ او شافعیؒ او جمهورؒو دے او اهل الكوفةؒ وائی چه د تجارت په غلامانو صدقة الفطر واجب نهٔ ده، او د داود ظاهریؒ نه نقل دی چه: په مالك باندے واجب نهٔ ده بلکه په غلام باندے لازمه ده او مالك به خپل غلام ته د کسب موقعه ورکړی چه د خپل طرفنه سرسایه ادا کړی۔ (نوویؒ)

امام ابن حبان رحمه الله فرمائی: دا دلیل دے چه غلام د هیڅ شی مالك نهٔ دے ځکه که هغه مالك کیدے نو سرسایه به پرے لازمه وے۔

حاصل دا دے چه اسونه درے حکمه لری (۱) یو هغه دی چه د خدمت دپاره وی نو پدے کی په اتفاق سره څه نشته۔ (۲) دویم هغه چه د تجارت دپاره وی نو پدے کی د عام اهل علمو په نیز زکاة شته، اهل ظواهر پدے کی اختلاف کوی لیکن قول ئے

مرجوح دے او د وجوب قول خوښ دے لکه تفصیل ئے په فتاوی الدین الخالص (۸/۲۰۰) کی وګوره۔

(۳) کوم چه نهٔ د تجارت دپاره وی او نهٔ د خدمت دپاره نو په دے کی اختلاف دے راجح دا ده چه په دے کی زکاة واجب نهٔ دے۔

دارنګه غلامانو کی درے حکمه دی (۱) یو دا چه په دوی باندے صدقة الفطر واجبه ده۔ (۲) کله چه دوی د تجارت دپاره وی نو د دوی په قیمت کی به زکاة وی۔

(۳) او کله چه د خدمت دپاره وی نو په دے کی د صدقة الفطر نه سوی زکاة نشته۔

- 1796(3) وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ : أَنَّ أَبَا بَكْرٍ ﷺ كَتَبَ لَهُ هٰذَا الْكِتَابَ لَمَّا وَجَّهَهُ إِلَى الْبَحْرَيْنِ : بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هٰذِهٖ فَرِيْضَةُ الصَّدَقَةِ الَّتِيْ فَرَضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ وَالَّتِيْ أَمَرَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ بِهَا رَسُوْلَهٗ فَمَنْ سَأَلَهَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ عَلٰى وَجْهِهَا فَلْيُعْطِهَا وَمَنْ سُئِلَ فَوْقَهَا فَلَا يُعْطِ : فِيْ أَرْبَعٍ وَّعِشْرِيْنَ مِنَ الْإِبِلِ فَمَا دُوْنَهَا مِنَ الْغَنَمِ مِنْ كُلِّ خَمْسٍ شَاةٌ، فَإِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا وَّعِشْرِيْنَ إِلٰى خَمْسٍ وَّثَلَاثِيْنَ فَفِيْهَا بِنْتُ مَخَاضٍ أُنْثٰى فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَّثَلَاثِيْنَ فَفِيْهَا بِنْتُ لَبُوْنٍ أُنْثٰى، فَإِذَا بَلَغَتْ سِتَّةً وَّأَرْبَعِيْنَ إِلٰى سِتِّيْنَ فَفِيْهَا حِقَّةٌ طَرُوْقَةُ الْجَمَلِ فَإِذَا بَلَغَتْ وَاحِدَةً وَّسِتِّيْنَ فَفِيْهَا جَذَعَةٌ، فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَّسَبْعِيْنَ فَفِيْهَا بِنْتَا لَبُوْنٍ فَإِذَا بَلَغَتْ إِحْدٰى وَتِسْعِيْنَ إِلٰى عِشْرِيْنَ وَمِائَةٍ فَفِيْهَا حِقَّتَانِ طَرُوْقَتَا الْجَمَلِ، فَإِذَا زَادَتْ عَلٰى عِشْرِيْنَ وَمِائَةٍ فَفِيْ كُلِّ أَرْبَعِيْنَ بِنْتُ لَبُوْنٍ وَفِيْ كُلِّ خَمْسِيْنَ حِقَّةٌ. وَمَنْ لَّمْ يَكُنْ مَعَهٗ إِلَّا أَرْبَعٌ مِنَ الْإِبِلِ فَلَيْسَ فِيْهَا صَدَقَةٌ إِلَّا أَنْ يَّشَاءَ رَبُّهَا، فَإِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا فَفِيْهَا شَاةٌ وَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهٗ مِنَ الْإِبِلِ صَدَقَةُ الْجَذَعَةِ وَلَيْسَتْ عِنْدَهٗ جَذَعَةٌ وَعِنْدَهٗ حِقَّةٌ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ الْحِقَّةُ وَيَجْعَلُ مَعَهَا شَاتَيْنِ إِنِ اسْتَيْسَرَتَا لَهٗ أَوْ عِشْرِيْنَ دِرْهَمًا: وَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهٗ صَدَقَةُ الْحِقَّةِ وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ الْحِقَّةُ وَعِنْدَهُ الْجَذَعَةُ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ الْجَذَعَةُ وَيُعْطِيْهِ الْمُصَدِّقُ عِشْرِيْنَ دِرْهَمًا أَوْ شَاتَيْنِ. وَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهٗ صَدَقَةُ الْحِقَّةِ وَلَيْسَتْ عِنْدَهٗ إِلَّا بِنْتُ لَبُوْنٍ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ بِنْتُ لَبُوْنٍ وَيُعْطِيْ مَعَهَا شَاتَيْنِ أَوْ عِشْرِيْنَ دِرْهَمًا. وَمَنْ بَلَغَتْ صَدَقَتُهٗ بِنْتَ لَبُوْنٍ وَعِنْدَهٗ حِقَّةٌ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ الْحِقَّةُ وَيُعْطِيْهِ

الْمُصَدِّقُ عِشْرِينَ دِرْهَمًا أَوْ شَاتَيْنِ، وَمَنْ بَلَغَتْ صَدَقَتُهُ بِنْتَ لَبُونٍ وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ وَعِنْدَهُ بِنْتُ مَخَاضٍ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ بِنْتُ مَخَاضٍ وَيُعْطِي مَعَهَا عِشْرِينَ دِرْهَمًا أَوْ شَاتَيْنِ. وَمَنْ بَلَغَتْ صَدَقَتُهُ بِنْتَ مَخَاضٍ وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ وَعِنْدَهُ بِنْتُ لَبُونٍ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ وَيُعْطِيهِ الْمُصَدِّقُ عِشْرِينَ دِرْهَمًا أَوْ شَاتَيْنِ. فَإِنْ لَمْ تَكُنْ عِنْدَهُ بِنْتُ مَخَاضٍ عَلَى وَجْهِهَا وَعِنْدَهُ ابْنُ لَبُونٍ فَإِنَّهُ يُقْبَلُ مِنْهُ وَلَيْسَ مَعَهُ شَيْءٌ. وَفِي صَدَقَةِ الْغَنَمِ فِي سَائِمَتِهَا إِذَا كَانَتْ أَرْبَعِينَ فَفِيهَا شَاةٌ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةِ شَاةٍ فَإِنْ زَادَتْ عَلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ إِلَى مِائَتَيْنِ فَفِيهَا شَاتَانِ. فَإِنْ زَادَتْ عَلَى مِائَتَيْنِ إِلَى ثَلَاثِمِائَةٍ فَفِيهَا ثَلَاثُ شِيَاهٍ، فَإِذَا زَادَتْ عَلَى ثَلَاثِمِائَةٍ فَفِي كُلِّ مِائَةٍ شَاةٌ، فَإِذَا كَانَتْ سَائِمَةُ الرَّجُلِ نَاقِصَةً مِنْ أَرْبَعِينَ شَاةً وَاحِدَةً فَلَيْسَ فِيهَا صَدَقَةٌ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا. وَلَا تُخْرَجُ فِي الصَّدَقَةِ هَرِمَةٌ وَلَا ذَاتُ عَوَارٍ وَلَا تَيْسٌ إِلَّا مَا شَاءَ الْمُصَدِّقُ. وَلَا يُجْمَعُ بَيْنَ مُتَفَرِّقٍ وَلَا يُفَرَّقُ بَيْنَ مُجْتَمِعٍ خَشْيَةَ الصَّدَقَةِ وَمَا كَانَ مِنْ خَلِيطَيْنِ فَإِنَّهُمَا يَتَرَاجَعَانِ بَيْنَهُمَا بِالسَّوِيَّةِ. وَفِي الرِّقَّةِ رُبْعُ الْعُشْرِ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ إِلَّا تِسْعِينَ وَمِائَةً فَلَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: او انس ﷺ فرمائی: چه کله امیر المؤمنین ابوبکر صدیق ﷺ ده لره بحرین (چه بصرے ته نزدے د یو ځای نوم دے) لیږلو نو ده له ئے دا خط ولیکلو، بسم الله الرحمن الرحیم: دا د هغه فرض صدقے (زکاة) په باره کی خط دے چه رسول الله ﷺ (د الله په حکم سره) په مسلمانانو باندے فرض کړیده او هغه ده چه الله تعالیٰ پدے سره خپل رسول ته (د نافذ کولو) حکم کړیدے، لهذا د کوم شخص نه چه د قاعدے مطابق د زکاة مطالبه وکړے شوه نو هغه دے ئے ادا کړی او د کوم شخص نه چه (د شرعی مقدار نه) زیاته مطالبه کیږی نو هغه (زیاتی) دے نهٔ ادا کوی۔ (د زکاة نصاب دا دے چه) په څلیریشتو او د څلیریشتو نه په کم اُوښانو کی په زکاة کی د ګډو نه په هر پنځو اُوښانو کی یوه ګډه ده (یعنی د پنځو اُوښانو نه چه کم وی نو زکاة پکی نشته او د پنځو نه تر نهو پورے یوه ګډه ده، د لسو نه تر څوارلسو پورے دوه ګډے دی، د پنځلسو نه نولسو پورے درے ګډے او د شلو نه څلیریشتو پورے څلور ګډے واجبیږی) کله چه اُوښان د پنځه ویشتو نه تر پنځه دیرشو ته ورسیږی نو په هغے کی به یو داسے

مؤنث اُوښه وي چه د يو كال وي او كله چه اُوښان د شپږ ديرشو نه پنځه څلويښتو ته ورسيږي نو په هغې كې به داسې مؤنث اُوښه وي چه د دوه كالو وي او كله چه اُوښان د شپږ څلويښتو نه تر شپيتو پورې ورسيږي نو په هغې كې به يوه داسې اُوښه وي چه د څلورو كالو وي او د اُوښ سره د جفتي كولو (يعنى هغه ته د جوت كيدو) قابل وي، او كله چه اُوښان د يو شپيته نه تر پنځه اويا پورې ورسيږي نو په هغې كې به يوه داسې اُوښه وي چه د خپل عمر څلور كاله ئے ختم كړي وي او په پنځم كال كې داخله شوى وي او كله چه د شپږ اويا نه تر نوي پورې ورسيږي نو په هغې كې به دوه داسې اوښانې وي چه د دوه كالو وي، او كله چه د يو نوي نه تر يو سل شلو پورې ورسيږي نو په هغې كې به دوه داسې اوښانې وي چه د درې درې كالو وي او د اُوښ سره د جفتي كولو قابل وي، او كله چه شمار د يو سل شلو نه زيات شو نو د هغې طريقه به دا وي چه په هر څلويښتو اُوښانو كې به ددوه كالو اُوښه او په هر پنځوسو (۵۰) كې به د درې كالو والا اُوښه واجبيږي او د چا سره چه صرف څلور اوښان وي نو په هغې كې زكاة نشته مگر كه د هغې مالك غواړي (نو د هغې نه په نفلي طريقه صدقه وركولے شي) نو كله چه اوښان پنځو ته ورسيږي نو په هغې كې به يوه گډه لازمه وي او هغه څوك چه د هغه سره دومره اُوښان وي چه په هغې كې زكاة د يو داسې اُوښې واجبيږي چه څلور كاله پوره كولو سره پنځم كال كې لگيا شوى وي (يعنى د يو شپيته نه تر پنځه اويا پورې شمار كې) او د هغه سره د څلورو كالو اُوښه نۀ وي (چه هغه په زكاة كې وركړي) بلكه د درې كالو اُوښه موجوده وي نو د هغه نه به د درې كالو اُوښه په زكاة كې قبلولے شي مگر زكاة وركونكے ددے درې كالو د اُوښې سره سره دے دوه گډے وركړي كه دا ورسره موجودے وي يا شل درهم (روپۍ) دے ادا كړي (كه گډے ورسره نۀ وي) او هغه څوك چه د هغه سره د اُوښانو داسې تعداد وي چه په هغې كې د درې كالو اُوښه واجبيږي (يعنى د شپږ څلويښتو نه تر شپيتو پورې تعداد) او ددۀ سره د درې كالو كومه اُوښه (د زكاة وركولو دپاره) نۀ وي بلكه د څلورو كالو اُوښه وي نو ددۀ نه به د څلورو كالو اُوښه قبوله كړے شي مگر زكاة وصولونكے به دۀ ته دوه گډے يا شل درهم واپس ادا كړي او كه يو شخص سره د اُوښانو داسې شمار وو چه په هغې كې د درې كالو اُوښه واجبيږي او د هغه سره د درې كالو كومه اُوښه نۀ وي بلكه د دوه كالو اُوښه وي نو ددۀ

نه به د دوه كالو اُوښه اخستے كيږي البته د زكاة وركونكے به دوه ګډے يا شل درهم (هم ددے سره) وركړي او كه د يو شخص سره دومره اُوښان وو چه په هغے كې د دوه كالو اُوښه واجبيږي (لكه د شپږ ديرشو نه پنځه څلويښتو پورے شمار) او د هغه سره (د دوه كالو اُوښے په ځاى) د درے كالو اُوښه وي نو ددۀ نه به د درے كالو اُوښه واخستے شي مګر زكاة وصولونكے به هغه ته شل درهم يا دوه ګډے واپس كړي لو كه د يو شخص سره دومره اُوښان وي چه په هغے كې د دوه كالو اُوښه واجبيږي او د هغه سره نۀ وي بلكه د يو كال اُوښه وي نو د هغه نه به دغه د يو كال اُوښه واخستے شي او زكاة وركونكي به ددے سره شل درهم يا دوه ګډے هم وركړي او كه د يو شخص سره دومره اوښان وي چه په هغے كې د يو كال اوښه واجبيږي (لكه د شلو نه تر پنځه ويشتو پورے شمار) او د يو كال اوښه د هغه سره نۀ وي بلكه د دوه كالو اوښه ددۀ سره وي نو د هغه نه به دغه د دوه كالو اوښه واخستے شي مګر زكاة وصول كونكے به هغه ته دوه ګډے يا شل درهم واپس كړي او كه د هغه سره د وركولو قابل د يو كال اوښه نۀ وي (او نۀ د دوه كالو اُوښه وي) بلكه د دوه كالو اُوښ وي نو هغه اوښ به ترے واخستے شي مګر پدے صورت كې نور هيڅ شے واجب نۀ دے (نۀ به زكاة اخستونكے څه واپس كوى او نۀ به زكاة وركونكے څه وركوى) او د څريدونكو ګډو بزو د زكاة نصاب دا دے چه كله ددے شمار څلويښتو نه يو سل شلو پورے وي نو يو به پكې واجبيږي او كله چه په يو سل شلو باندے تر دوه سوو پورے زيات شي نو په هغے كې به دوه ګډے وي او كله چه په دوه سوو باندے تر درے سوو پورے زيات شي نو پدے كې به درے ګډے وي او كله چه (ګډے بزے) په درے سوو باندے زياتي شي نو په هر سلو كې به يو ګډ واجبيږي او كله چه څريدونكے ګډے بزے د څلويښتو نه يوه كمه شوه نو په هغے كې زكاة نشته مګر كه مالك ئے غواړي (نو نفلي صدقه ترے كولے شي) او په زكاة كې به نشي ويستلے كيدے بوډۍ او نۀ عيب والا او نۀ نر چيلے مګر كه زكاة اخستونكے ئے (د څه مصلحت په بنياد) وغواړي (نو جائز ده) او متفرق څاروى به نشي يو ځاى كولے او نۀ به د زكاة د يرے نه څاروى جدا جدا كولے شي، دارنګه په كوم نصاب كې چه دوه كسان شريك وي نو دواړه به يو بل ته واپس كيږي برابر په برابر (يعني دواړه به برابر برابر تقسيم وكړي) او په سپينو زرو كې څلويښتمه حصه د زكاة په طور وركول فرض دي، كه د چا سره نۀ

وی مگر صرف یوسل نوی درهم وی (یعنی د شرعی نصاب مالك نهٔ وی) نو په دهٔ باندے هیڅ فرض نهٔ دی مگر که مالك ئے وغواړی (نو نفلی صدقه ترے ورکولے شی) (بخاریؒ)

تشریح: یعنی ابوبکر صدیق رضی الله عنه چه کله خلیفه شو نو انس بن مالك رضی الله عنه ته ئے دا خط ولیکلو چه دا بحرین والو ته ویسه چه هغوی دے پدے طریقه زکاة ادا کړی، انس رضی الله عنه ئے په بحرین باندے عامل مقرر کړو، بحرین: دوه دریابونو ته وائی، دا مشهور ملك دے د دوه دریابونو فارس او هند په مینځ کی دے او جزیرة العرب ته نزدے دے۔ بعض وائی بحرین د یو مشهور اقلیم نوم دے چه په ډیرو ښارونو مشتمل دے او دار الخلافه ئے هَجر دے۔ او اُوس دمام سره جنګیدلے دے بعض حصه ئے په سعودی عرب کی داخله ده۔

فَرِیْضَةُ الصَّدَقَةِ: یعنی دا لیکلے شوے فرض کړے شوے صدقه ده۔ دلته مضاف حذف دے چه نسخه لفظ دے په معنیٰ دلیکلے شوے۔

فَرَضَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: یعنی رسول الله ﷺ ددے انواعو او اقسامو تفصیلی بیان وکړو ورنه دا په قرآن کریم سره فرض شویدی لیکن هلته مجمل دی او نبی علیه السلام ئے تفصیل کړیدے۔

عَلٰی وَجْهِهَا: یعنی چا نه چه دا زکاتونه وغوښتے شو په هغه طریقه چه رسول الله ﷺ بیان کړیدی۔ نو د علی وجهها معنیٰ ده په خپله صحیح طریقه۔

وَمَنْ سُئِلَ فَوْقَهَا: یعنی چا نه چه د معین مقدار نه زیات غوښتلے کیږی یا په عُمر کی زیات غوښتلے کیږی نو هغه دے نهٔ ورکوی۔ نو دلته فوقیت په اعتبار د کم او کیف دواړو سره مراد دے۔

مخکی روایات تیر شویدی چه نبی علیه السلام فرمائی: ((تاسو د زکاة عاملان رضا کړئ اګرکه په تاسو ظلم کوی)) او دلته وائی چه د چا نه زیات غوښتلے کیږی نو نهٔ دے ورکوی؟ علماؤ ددے ډیر تطبیقونه کړیدی (۱) طیبیؒ وائی چه د نبی علیه السلام په زمانه کی عاملان صحابه کرامؓ وو او ظاهره ده چه هغوی ظلم نکولو لیکن خلکو به د خپل ګمان مطابق په هغوی باندے د ظلم ګمان کولو نو نبی علیه السلام فهم کړه چه طبعاً زکاة اخستونکی خلکو ته ظالمان ښکاری نو وے وئیل چه دوی به رضا ساتئ اګرکه په تاسو باندے ظلم کوی او دلته عاملان ماسوئی د صحابه کرامؓ نه دی او د هغوی ظلم

صادريدل ممكن دی پدے وجہ ئے ووېل چه که زيات غواړی مۀ ئے ورکوئ۔

(٢) بعض وائی چه اول حکم په استحباب باندے محمول دے او دا حکم په رخصت او جواز باندے۔

(٣) یا دا چه مخکنی روایات په هغه وخت کی دی چه د تهمت او فتنے يره وی او دا روایت په هغه وخت کی دے چه د تهمت او فتنے نه يره نۀ وی۔ (المرعاة)

مِنَ الْغَنَم : يعنى د گډو بزو نه په څليرشتو اُوښانو کی د هر پنځو اُوښانو نه يو گډ دے۔

١- **مسئله** : آيا زكاة فقط په نصاب کی دے او که د نصاب ترمینځ زیادت کی هم دے ؟ (١) امام شافعیؒ په قول جدید او مالك په يو روايت کی او احمدؒ او ابوحنيفةؒ او ابويوسفؒ وائی چه زكاة صرف په نصاب کی دے او د يو نصاب نه تر بل نصاب پورے چه کوم زیادت وی هغه معاف دے (٢) امام شافعیؒ په قول قديم او مالك په يو روايت کی او محمدؒ او زفرؒ وائی چه زكاة په نصاب او زیاتی دواړو کی دے۔ اثر د اختلاف په هغه صورت کی ښکاره کيږی چه د يو سړی نهه اُوښان وی نو د کال تيريدو نه روسته او د زكاة ادا کولو نه مخکی څلور ترے مړۀ شی د اول قول والا په نيز په دۀ باندے يو گډ لازم دے او د دویم قول والا په نیز به په دے څلورو کی د يو گډ پنځه تُسعے (يعنى نهمے حصے) لازمیږی۔

اولنے قول قوی معلومیږی ځکه چه نبی ﷺ تول نصابونه د هر شی متعین کړيدی او بيا ئے وئيلی دی چه عامل ددے نه زيات اخلی نو نۀ دے ورکوی۔ او دارنگه په روايت د معاذ بن جبل ؓ کی مرفوعاً راغلی دی : (لَيْسَ فِي الْأَوْقَاصِ شَيْءٌ) يعنى په مينځ د دوه نصابونو کی چه کوم زیاتی عدد دے په هغے کی هيڅ زكاة نشته

(رواه الطبرانی باسناد صحيح انظر صحيح الجامع الصغير (٥٤٠٩)

آؤ، په کسر کی زكاة شته کوم چه په سرو سپينو کی رازی او د حيواناتو په کسر کی زكاة نشته۔

مسئله : آيا قيمت په زكاة کی ورکولے شی ؟ يا بل شے ددے په ځای ورکولے شی لکه د اوښانو په ځای کپړے ورکړی؟ پدے کي درے اقوال دی (١) يو قول دا دے چه کوم شے الله او رسول مقرر کړيدے نو هغه شے به په زكاة کی ورکولے شی او قيمت به نۀ ورکوی ځکه چه دا بيا د مقادير الشرع بدل جوړيږی لهذا جنس به په قيمت نۀ

بدلوي. او دا قول د جمهورو علماؤ دے. (۲) امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائي : د مقرر زكاة په ځاى قيمت وركول هم جائز دى ضرورت وى او كه نۀ. (۳) دريم قول د محققين علماؤ دے (شيخ الاسلام ابن تيميةؒ والشيخ الالبانيؒ) چه اول خو به ذات او عين هغه شے وركوى كوم چه فرض شويدے ځكه چه شريعت چه دا مقرر كړيدى نو د خلكو مشقت او حالت ته ئے كتلى دى او پدے كى فائده ده چه عين هغه شے وركړى ليكن كه ضرورت وى نو بل شے وركول يا قيمت وركول هم جواز لرى او دا قول غوره معلوميږى. يو **دليل** دا دے چه پدے حديث كى د پنځه اُوښانو په بدله كى د اُوښ جنس نۀ دے خودلے بلكه شاة (ګډ) ئے خودلے دے او شاة د اِبل جنس قريب نۀ دے اګركه دواړه په جنس بعيد كى شريك دى چه حيوانيت دے. نو دلته ضرورت دے پدے وجه د اُوښانو په نصاب كى ګډ وركوى ځكه كه اُوښ وركوى نو هغه خو ډير دے او په مالك باندے زكاة لږ فرض دے او كه نۀ ئے وركوى نو مالدار دے نو څنګه به ترے زكاة نۀ اخستلے كيږى، نو پدے وجه ګډ مقرر شو.

۲- **دليل** : په چا باندے په مال كى حقه لازمه وى او د هغه سره صرف بنت لبون وى، نو بنت لبون به وركړى او د هغے سره به دوه ګډان يا شل درهم وركړى. (صحيح بخارى) نو د ضرورت په وخت كى شل روپئ وركول هم جائز خودلے شويدى.

۳- **دليل** : د معاذ بن جبلؓ نه بخارى تعليقاً نقل كړيدى چه هغه يمن والو ته وويل : (ماته د وريښو او جوارو د زكاة په ځاى جامے راوړئ دا ستاسو دپاره آسانه ده او د رسول الله ﷺ د ملګرو دپاره په مدينه كى بهتره ده) دا روايت اګركه د طاوسؒ او د معاذؓ په مينځ كى منقطع دے ليكن كه صحيح شى نو بيا دا دلالت نكوى چه مطلقاً قيمت د زكاة په ځاى وركولے شى بلكه صرف پدے كى دا خبره ده چه په وخت د حاجت او مصلحت او ضرورت كى د زكاة په ځاى قيمت يا جامے وغيره وركول هم جائز دى.

انظر مجموع فتاوى شيخ الاسلام ابن تيمية (۲۵/۴۲) وتمام المنة (ص : ۳۷۹) وفتاوى اسلاميه (۹٤/۲) نو ددے نه دا مسئله معلومه شوه چه كه څوك زكاة يو داسے شخص ته وركوى چه د هغه جامو يا نفقے يا سامان ته ضرورت وى نو د ګډ يا اوښ په ځاى دے ورله دغه حاجتونه پوره كړى دا به ان شاء الله ددے روايتونو په بناء جائز وى لكه دا خبره صاحب د فتاوى اسلاميه هم كړيده. دغه شان يو طالب العلم له سرمايه كى پيسے

ورکول ضرورت دے نو جائز به وی ان شاء الله تعالیٰ۔
بِنْتُ مَخَاضٍ أُنْثٰی : په اُوښانو کې د مؤنث قیمت ډیر دے نۀ د مذکر نو مؤنث به ورکوی پدے وجه د انثیٰ قید لګوی۔
بنت مخاض : دا هغه اوښ ته وائی چه یو کال ئے پوره شوے وی او په دویم کال کې روانه وی، دے ته بنت مخاض ځکه وائی چه ددۀ مور د مخاض یعنی حمل والا ده۔ یعنی وخت د حمل ئے راغلے دے اګرکه فی الحال ئے حمل نۀ وی۔
إِلٰی خَمْسٍ وَّثَلَاثِيْنَ : دلته غایه په مغیا کې داخله ده۔
بِنْتَ لَبُوْن : دا هغه اُوښه ده چه دوه کاله ئے پوره شوی وی او په دریم کال کې روانه وی۔
حِقَّةٌ : جمع ئے حِقاق راځی دا هغه اوښه ده چه درے کاله ئے پوره شوی وی او په څلورم کې روانه وی، حِقه ورته ځکه وائی چه دا مستحقه ده چه پدے باندے سورلی وکړے شی یا مستحقه ده چه جوت کړے شی یعنی مذکر پرے وخیژی، پدے وجه ئے ددے په صفت کې دا الفاظ زیات کړل: طَرُوْقَةُ الْجَمَلِ یعنی لائق ددے وی چه اُوښ ئے وټکوی یعنی هغه پرے وخیژی، جفتی ئے کړی۔
جَذَعَةٌ : جذعه او جذع هغه اوښ ته وائی چه څلور کاله ئے پوره شوی وی او پنځم کې روان وی۔ (جزریؒ) جذعه ورته ځکه وائی چه جذع کې معنیٰ د پریوتلو ده او ددے هم مخکنی غاښونه پریوتی وی۔ دا آخری عمر والا اوښه ده چه په زکاة کې ورکولے شی۔ یا جذعه په معنیٰ د طاقتوره سره۔ جوهریؒ په صحاح اللغة کې لیکی چه جذع او اجذع اوښ ته په هغه وخت کې وائی چه داسے زمانے ته ورسی چه نۀ ئے غاښ پریوزی او نۀ ئے راخیژی۔
فَإِذَا زَادَتْ عَلٰی عِشْرِيْنَ : کله چه اُوښان د یو سل شلو (۱۲۰) نه زیات شی نو ددے د زکاة په ترتیب کې اختلاف دے (۱) امام شافعیؒ، اوزاعیؒ او اسحاق بن راهویهٔ وائی چه په هر څلویښتو کې به بنت لبون وی او په هر پنځوسو کې به حقه وی، لکه څنګه چه پدے حدیث کې ذکر دی۔ (۲) او احناف وائی : ثم تستانف الفریضة (بیا به د سر نه زکاة راګرځولے شی)، د سر نه به حساب لګوی نو په هر پنځو اوښانو کې به یوګډ وی نو د دوی په نیز باندے د یو سل شلو (۱۲۰) نه روسته صرف دوه حقے لازمیږی، تردے چه دا عدد یو سل پنځه ویشت (۱۲۵) ته ورسیږی نو پدے کې به یوه حقے او یو ګډ

لازم وي تردے چه (١٣٠) ته ورسيږي نو كله چه يو سل ديرشو ته ورسيدو نو پدے كي به دوه حقے او دوه گډان لازم وي تردے چه (١٣٥) ته ورسيږي نو كله چه يو سل پنځه ديرشو ته ورسيږي نو په هغے كي به دوه حقے او درے گډان لازم وي تر يو سل څلويښتو پورے نو په (١٤٠) كي به دوه حقے او څلور گډان لازم وي بيا كه (١٤٥) ته ورسيږي نو په هغے كي به دوه حقے او يو بنت مخاض لازم وي تر (١٥٠) پورے او په (١٥٠) كي به درے حقے لازمے وي دا اولنے استيناف شو بيا به د سر نه حساب شروع شي او په هغے كي به بنت لبون هم لازم وي په خلاف د استيناف اول باندے، نو په (١٥٥) كي به درے حقے او يو گډ لازم وي او د مخكي په شان د درے حقو سره به يو يو گډ زياتوى تردے چه (١٧٥) ته ورسيږي نو پدے كي به يو بنت مخاض او درے حقے لازمے وي تردے (١٨٦) پورے ورسيږي او په (١٨٦) كي به درے حقے او يو بنت لبون وي او په (١٩٦) كي به څلور حقے وي تر دوه سوو پورے۔

بيا به فريضه د سر نه حساب كړے شي لكه د يو نيم سل نه روسته چه څنگه وه نو په هر پنځو كي به يو گډ وي او كله چه (٢٢٥) شي نو پدے كي به څلور حقے او يو بنت مخاض وي او په (٢٣٦) كي به څلور حقے او يو بنت لبون وي او په (٢٤٦) كي به پنځه حقے وي تر (٢٥٠) پورے او دغه شان بره پسے ورځه هر كله چه پنځوس زياتيدل نو يوه حقه به زياتيږي۔ الخ۔ اصح مذهب د امام شافعيؒ دے ځكه دا د ظاهر د حديث سره مطابق دے او احنافو سره هيڅ صحيح مسند صريح حديث پدے باب كي نشته او دا الفاظ د نبي ﷺ چه (فَإِذَا زَادَتْ عَلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ فَفِي كُلِّ أَرْبَعِينَ بِنْتُ لَبُونٍ وَفِي كُلِّ خَمْسِينَ حِقَّةٌ) دا د احنافو په مذهب باندے نهٔ فِټ كيږي، (نهٔ برابريږي) ځكه چه د هغوي په نيز اربعين او خمسين مدار د حكم نهٔ دے بلكه دوى وائي چه فريضه به بيرته د سر نه شروع كيږي۔ او صاحب د عرفِ شذي (شاه انور شاه) هم وئيلي دى چه حقه دا ده چه دا حديث الباب زيات نزدے دے مذهب د حجازينو ته ځكه چه نبي ﷺ د يو سل شلو نه روستو خبره اجمالي ذكر كړيده او مذهب د حجازينو پدے حديث باندے برابر دے او زمونږ د احنافو مذهب پرے د يو سل پنځوس نه روستو برابريږي۔ انتهى۔ مگر صحيح دا ده چه د يو سل پنځوس نه روستو هم دا حديث د احنافو د مذهب سره نهٔ برابريږي۔ ځكه چه د دوى په نيز دارومدار د بنت لبون په شپږ ديرشو

(۳۶) دے او په حدیثو کی په ښکلو بښتو خودلے شویدے فتدبر. حاصل دا شو چه د احنافو سره پدے باب کی هیڅ صحیح حدیث نشته او قول ئے د صریح صحیح احادیثو خلاف دے. راجع المرعاة (۱۱۹/٦) تفصیلًا.

او هغوی ددے حدیث نه داسے جواب کوی چه دا ضعیف دے لیکن د هغوی قول ضعیف دے ځکه چه ثمامه بن عبد الله بن انس ثقه دے. ابن حزمؒ وائی: (هٰذَا الْحَدِیْثُ فِیْ نِهَایَةِ الصِّحَّةِ وَعَمِلَ بِهٖ أَبُوْبَکْرِ الصِّدِّیْقُ بِحَضْرَةِ جَمِیْعِ الصَّحَابَةِ) المحلی (۲۰/٦) دا حدیث نهایت درجه صحیح دے او پدے باندے ابوبکر صدیق رضی الله عنه د صحابه کرامو په حضور کی عمل کریدے او د هغوی نه ئے هیڅا خلاف نهٔ دے کړے. حافظؒ په مقدمه د فتح الباری کی وائی چه بخاریؒ د ثمامه بن عبد الله بن انسؒ سماع د انس بن مالك رضی الله عنه نه ثابته کریده.

أَوْ عِشْرِیْنَ دِرْهَمًا: احناف وائی چه دوه ګډان یا د شلو روپو تعیین نشته بلکه هغه داسے وائی چه کوم عمر والا حیوان پرے واجب وو د هغے په ځای به قیمت اخلی او که خوښه ئے وه زیاتی دے واخلی او د هغے په ځای دے مالك ته پیسے ورکړی او که خوښه ئے وه د هغے عمر والا نه دے کم عمر والا واخلی او د زیادت په مقابله کی دے عامل دراهم واخلی. نو د دوی په نیز نهٔ دوه ګډان متعین دی او نهٔ شل روپئ متعینی دی نو د دوی قول ددے حدیث د ظاهر نه خلاف دے او دا وائی چه دا شل روپئ په هغه زمانه کی مقرر وے او شرعی تقدیر نهٔ دے. لیکن دا خبره غلطه ده وجه دا ده چه الله او رسول ته دا خبره معلومه وه چه د ګډانو قیمت او د شلو درهمو قیمت کی به په روستو زمانه کی تفاوت او فرق راځی نو بیا به هغوی دا نهٔ مقررولے.

وَعِنْدَهُ ابْنُ لَبُوْنٍ: یعنی که په چا باندے بنت مخاض فرض وی او هغه ورسره نهٔ وی نو د هغے نه بره عمر والا یعنی ابن لبون مذکر به ورکړی. او ددے ابن لبون سره دے بل شے نهٔ ورکوی ځکه چه ابن لبون مذکر د بنت مخاض مؤنث نه یو کال مشر وی. دا دلیل دے چه مؤنث غوره وی لیکن که هغه نهٔ وی نو د هغے جبیره په زیادت د عمر باندے کولے شی.

او خطابیؒ وائی: دا دلیل دے چه بنت مخاض ترڅو پورے موجود وی نو بره عمر والا یعنی ابن لبون ورکول به جائز نهٔ وی، بیا ظاهر ددے حدیث تقاضا کوی چه ددے سری

نه به ابن لبون قبلولے شی برابره ده که د هغه قیمت د بنت مخاض برابر وی او که نهٔ وی، نو که قیمت مقبول وی نو بیا پکار وه چه د بنت مخاض په بدل کی د هغے قیمت وکرخولے شوے وے او مذکر اوښ نهٔ وے اخستے شوے ځکه چه په زکاة کی طریقه دا ده چه پدے کی صرف مؤنثات اخستلے کیږی سوی د غواګانو نه چه په هغے کی تبیع ورکول جائز دی انتهی۔

دا حدیث دلیل دے چه کله بنت مخاض نهٔ وی نو ابن لبون ورکول به متعین وی او دا خبره اتفاق دی او ابن رشدؒ او حافظ ابن حجرؒ او ابن قدامهؒ وغیره علماؤ پدے باره کی اجماع نقل کریده لیکن د احنافو په نیز دارومدار په قیمت باندے دے نو هغوی دا حدیث حملوی پدے باندے چه په هغه زمانه کی د ابن لبون قیمت د بنت مخاض سره برابر وو، نو د دوی په نیز ابن لبون اخستل متعین نهٔ دی۔ لیکن پدے خبره باندے هیڅ دلیل نشته او حق مذهب د نورو اهل علمو دے۔

وَفِيْ صَدَقَةِ الْغَنَمِ فِيْ سَائِمَتِهَا :

الغنم : واحد من لفظهٔ ئے نشته واحد ئے شَاةٌ دے او دا اسم جنس دے چه مذکر او مؤنث دواړو ته شاملیږی او ګډو او بزو دواړو ته شامل دے، دے ته غنم ځکه وائی چه دے سره د دفاع آله نشته نو د هر طلبګار دپاره دا غنیمت ګرځی۔

(فی سائمتها) بدل دے د (صدقة الغنم) نه او په ذکر کولو د بدل او راواپس کولو د حرف جر سره ئے اشاره وکړه چه په ګډو بزو کی څریدلو ته اعتبار ورکول ډیر مضبوط دی۔

سائمه : څریدونکی څه ته وائی؟ نو دا هغه ته وائی چه په غرونو او مباحو ګیا ځګانو کی څریږی او مالك ورته خپله ګیاه نهٔ ورکوی او دا څرول د پیو او نسل او غوړو او زیاتوالی دپاره وی که چرته د سوریدلو یا د بچو راوړلو یا د غوښے دپاره وی نو په هغے کی به زکاة نهٔ وی۔ او که د تجارت دپاره څرول مقصد وی نو بیا به په کی د تجارت زکاة وی۔

بیا دا څریدل په اکثر کال کی مراد دی اګرکه لږه لږه ګیاه مالك د خپل کور نه ورکوی ځکه چه لږه لږه خرچه خو خامخا په ګډو بزو باندے کیږی، لکه څرنګه چه په فصلونو او میوو باندے خرچه کیږی۔ او دا مذهب احمدؒ او ابو حنیفهؒ دے۔ او امام شافعی رحمه الله فرمائی چه د ټول کال څریدو له اعتبار دے نو که ټول کال نهٔ څریږی

په هغې کې به زکاة واجب نۀ وي۔

او دا حدیث دلیل شو ددې خبرې چه زکاة به په هغه ګډو بزو کې وي چه بهر څرېږي او کله چه مالك ئې د خپلو پیسو په ګیاه باندې ساتي چه هغې ته مَعلوفه او عَلُوفَه وائي نو په هغې کې زکاة نشته، ددې وجه نه په عَوَامِل (یعني کارنده غواګانو او اُوښانو) کې د عامو علماؤ په نیز زکاة نشته اګرکه څریدونکي وي۔

(۲) امام مالك او لیث وئیلي دي چه معلوفه (یعني چه خپله ګیاه ورکوي) څاروو کې زکاة واجب دې برابره ده چه بهر څرېږي او که نۀ او برابره ده چه عوامل وي او که نۀ ځکه چه د حیوان صفت څریدل دي او تول حیوانات سائمه (څریدونکي) دي او که د څریدو نه ئې څه وخت څوك منع کړي بیا هم دې ته سائمه وئیل صحیح دي، دوی دلیل نیولې دې په عام اقوالو د نبي ﷺ باندې چه په هغې کې داسې راغلي دي چه په هر پنځو اُوښانو کې یو ګډ دې یا داسې نور عام الفاظ شو۔ چه پدې کې سائمه وغیره قید نشته۔

باقي تول علماءِ کرامؒ وائي چه کوم حیوانات بهر څر نۀ کوي یا عوامل (کار والا) وي په هغې کې زکاة نشته او دا د یو جماعت د صحابه کرامؓ نه نقل شویدي۔ د اُوښانو په باره کې نبي ﷺ د سائمه قید لګولې دې فرمائیلي ئې دي:

(فِيْ کُلِّ سَائِمَةٍ فِيْ کُلِّ اَرْبَعِیْنَ بِنْتُ لَبُوْنٍ) حدیث د بهز بن حکیم سنده حسن رواه ابوداود رقم: ١٥٧٥) والنسائي والحاکم (٣٩٨/١) وقال صحیح الاسناد) او دغه احادیث مطلق دي او دا حدیث د بهز مقید دې او حادثه یوه ده نو مطلق به په مقید باندې حمل کول واجب وي۔ او د ګډو بزو دپاره ئې دلته د سائمه قید لګولې دې۔ نو که سائمه قید له اعتبار ورنکړې شي نو د نبي ﷺ کلام (في سائمتها) به لغوه شي او دا خو باطله ده۔

دویم دلیل : په زکاة کې نماء (ترقي او زیادت) معتبر دې او کومو حیواناتو له چه ګیاه ورکولې شي نو په هغې باندې خرچه کیږي نو د هغې نماءاو ترقي په خرچه کې لاړه شي، ځکه که زکاة هم پرې راشي او دلته به پرې مال هم لګولې شوې وي نو د مال بیخکندي به ئې وشي۔

امیر یمانيؒ وائي چه د سَوم (څریدو) قید د غواګانو په باره کې په احادیثو کې نۀ دې راغلې بلکه علماؤ هغه په اُوښانو او په ګډو بزو قیاس کړیدې۔

فَإِذَا زَادَتْ عَلٰى ثَلَاثِمِائَةٍ فَفِيْ كُلِّ مِائَةٍ شَاةٌ :

د گډو بزو نصاب د اول نه تر درې سوو پورې اجماعي دے او دا اجماع ابن المنذر او ابن رشد او ابن قدامه او عیني وغیره علماؤ رحمهم الله نقل کړیده. لیکن د درې سوو نه چه زیات شي نو د هغې په ترتیب د زکاة کي اختلاف دے (۱) د امام احمدؒ نه یو روایت او د اکثرو فقهاؤ مذهب دا دے چه د دوه سوه یو (۲۰۱) نه روستو تر څلورو سوو پورې یو ګډ لازم دے یعني په هر سلو کي یو ګډ دے. او د دوه سوه یو نه تر څلورو سوو پورې وقص یعني یو سل نهه نوي کي به زکاة نۀ وي او کله چه څلور سوه پوره شوو نو بیا به پدے کي څلور ګډان وي. (۲) او د امام احمدؒ نه بل روایت دا دے چه کله د درې سوو نه یو ګډ زیات شو نو پدے کي به څلور ګډان لازم وي او بیا به فرض نۀ بدلیږي تردے چه پنځه سوو ته ورسیږي نو په هرو سلو کي به یو ګډ وي. او مینځ کي چه کوم وقص (درمیانه عدد، کسر) راغلے دے یعني د درې سوه یو نه تر پنځه سوو پورې چه هغه هم یو سل نهه نوي جوړیږي دے کي به زکاة نۀ وي او دا مذهب د نخعيؒ او حسن بن صالحؒ نه نقل شویدے دوي وائي چه نبي ﷺ درې سوه حد او غایه د وقص (کسر) وګرځوله نو واجب ده چه ددے نه روستو نصاب بدل شي لکه د دوه سوو په شان.

او د اول قول دپاره دلیل دا قول د نبي ﷺ دے (فَإِذَا زَادَتْ فَفِيْ كُلِّ مِائَةٍ شَاةٌ) کله چه زیات شي نو په هر سلو کي یو ګډ لازم دے. نو ددے تقاضا دا ده چه د سلو نه په کم کي دے هیڅ شے واجب نۀ شي او روایت د ابن ابي شیبهؒ او حاکمؒ (۵٤۸/۱) کي دا سے الفاظ دي: (فَإِذَا زَادَتْ عَلٰى ثَلَاثِ مِائَةِ شَاةٍ فَلَيْسَ فِيْهَا إِلَّا ثَلَاثُ شِيَاهٍ حَتّٰى تَبْلُغَ أَرْبَعَ مِائَةِ شَاةٍ فَفِيْهَا أَرْبَعُ شِيَاهٍ حَتّٰى تَبْلُغَ خَمْسَ مِائَةِ شَاةٍ ...... فَفِيْهَا خَمْسُ شِيَاهٍ الخ.

یعني کله چه په درې سوو باندے زیات شي نو پدے کي صرف درې ګډان لازم دي تردے چه څلورو سوو ته ورسیږي بیا به پکي څلور ګډان لازم وي او که پنځه سوو ته ورسیږي نو په هغې کي به پنځه ګډان وي الخ).

نو دا حدیث نص دے چه خلاف ئے نۀ دے جائز مګر که ددے په شان یا ددے نه قوي روایت ددے مخالف موجود شي او هغه نشته. او د نصاب کوم تحدید چه شویدے نو دا ددے فریضے د ثابت پرېښودو دپاره دے نۀ د غایه دپاره. (ابن قدامه في المغني).

هَرِمَةٌ : په فتحه د هاء او کسره د راء سره بوډۍ ته وائي چه غاښونه ئے غورزیدلي

وي۔ يا ډيرے بوډئ ته وائي۔ (جزرئ) يعني دومره ډير عمر والا به نۀ اخلي چه د بوډئ والي په وجه كمزوري شوي وي۔

وَلَا ذَاتُ عَوَارٍ : په فتحه د عين سره عيب ته وائي او په ضمه د عين سره د سترګو كوړوالي او شيرئ ته وائي۔ ددے عيب اندازه دا ده چه قرباني پرے نۀ كيږي يا دا چه په بيع كي رد كيږي۔ او پدے عيب كي مريضه او مذكر په نسبت د مؤنث او كم عمر والا په نسبت د زيات عمر والا داخليږي۔ (فتح الباري)

البته كه ټول مال عيبدار وي نو بيا به د هغے نه اوسط درجه اخستے كيږي۔

وَلَا تَيْسٌ: (تيس) اِندۀ چيلي ته وائي چه نورو ګډو بزو باندے خيژي۔ ددے د وركولو نه ځكه منع وشوه چه دا د چيلو سره د نسل د زياتوالي دپاره ساتلے شي نو كه دا ترے واخلي نو د چيلو د مالك نقصان به وشي يا به هغه ددے د اخستو په وجه په پريشانئ كي اخته شي يا پدے وجه منع شويده چه ددے چيلي غوښه بد مزه او بدبويه وي۔

يا مطلب دا دے چه نر حيوان به ترے په زكاة كي نۀ اخلي بلكه مؤنث غوره وي هغه به ترے اخلي صرف دوه ځايونه په احاديثو كي راغلي دي چه هغے كي مذكر اخستل جائز شويدي لكه په ديرشو غواګانو كي يو تبيع (يو كلنے) اخستے شي او بل د پنځه ويشتو اُوښانو په بدله كي كله چه بنت مخاض نۀ وي ابن لبون اخستے شي۔

البته كه ټول مال (ګډے بزے) نران وي نو بيا به د هغے نه مذكر اخستے شي۔

إِلَّا مَا شَاءَ الْمُصَدِّقُ. : پدے كي دوه ترجمے دي يو دا چه د مصدق په دال باندے فتحه ده او ددے نه مراد د ګډو بزو مالك دے يعني كه مالك وغواړي نو تيس هم وركولے شي نو د مالك په اختيار چه واخستے شي بيا هغه ته په هغے كي ضرر نۀ وي نو دلته دا استثناء د دريم يعني د (تيس) پورے مختص ده۔ ليكن مشهور قراء ت دا دے چه دا په كسره د دال دے او ددے نه مراد عامل او زكاة اخستونكے دے او دا استثناء د درے واړو سره لګي نو پدے كي به خبره د عامل اجتهاد ته سپارلے شي ځكه چه هغه د فقراؤ دپاره د وكيل پشان دے نو كوم كي چه مصلحت ګنړي هغه به كوي نو معنیٰ دا ده چه بوډئ او عيبداره او تيس به په زكاة كي نۀ اوباسي مګر كه د عامل خوښه شوه چه دا خيزونه د مسكينانو دپاره غوره دي نو د هغوي دپاره ئے اخستے شي۔ مثلاً عامل تيس ددے دپاره وغواړي چه د بيت المال ګډے بزے به ددے په وجه حاملے كيږي نو بيا

ئے ترے اخستے شی۔

ابن قدامۃ داسے معنیٰ کوی: بناء پدے باندے چه د مصدق نه مراد عامل شی: نو د زکاۃ اخستونکے به یو ددے درے واړو نۀ اخلی مگر که د عامل خوښه شی پدے شان چه تول نصاب د هغے د جنس نه وی لکه تول بو ډۍ گانی وی، یا تول عیبدار او تول إندۀ وی نو بیا به عامل د جنس د هغه مال نه اخلی۔ (المغنی ۲/۵۹۸)

وَلَا يُجْمَعُ بَيْنَ مُتَفَرِّقٍ: دلته دا قانون واوره چه یو خلیط دے او بل شریك دے، شریك دیته وائی چه دوه کسانو په شریکه پیسے اچولی وی او په هغے ئے گډے بزے اخستی وی او خلیط دے ته وائی چه د هر یو خپلے خپلے گډے بزے وی خو په مسرح (د څر په ځای) او مبیت (د شپې تیرولو په ځای) او حوض کی شریك وی۔

په بل تعبیر باندے خلطه په دوه قسمه ده، خلطة الشراکة ده چه دیته کله خلطة الشیوع هم وائی۔ چه د دوه مالکانو مال د یو بل نه جدا نۀ وی لکه گډے بزے دوه کسانو ته د پلار نه پاتی شی یا ئے په شریکه واخلی۔ نو دوی ته شرکاء وائی۔

دویمه خلطة الجوار ده او دیته خلطة اوصاف هم وائی د هر مالك مال جدا جدا وی لیکن د دواړو مال په یو ځای څرېږی او اوبۀ کیږی او په یو ځای ترے پیۍ لشلے کیږی او په یو ځای ودۀ کیږی۔

آیا خُلطه تاثیر لری؟

نو اوس پدے کي د علماؤ إختلاف دے چه شراکت او خلطة په باب د زکاۃ د چارپیانو کي تاثیر لری او که نۀ؟ (۱) امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی: په باب د زکاۃ کی شراکت اثر لری او خلطة الجوار لره اعتبار نشته، نو د هغه مذهب دا دے چه د هر مسلمان سره څلویښت گډے بزے ملاؤ شوے نو په هغے کی به یوه ورکوی او که کمے وی نو زکاۃ پرے نشته، او که چرته دوه کسان شل شل گډے لری او په یو ځای څرېږی او په یو ځای اودۀ کیږی او د یو حوض نه خړوبه کیږی نو په یو باندے هم زکاۃ نشته اگرکه دواړه د گاونډیتوب په لحاظ سره شریك دی لیکن اصل مال کی شریك نۀ دی نو په دوی زکاۃ نشته۔

او عام علماء وائی چه شراکت او خلطة الجوار دواړو له تاثیر شته ځکه چه نبی ﷺ خلطت او شراکت له اعتبار ور کړیدے او دا الفاظ ئے ورله استعمال کړیدی (وما کان من

خليطين)۔ نو عامل د ګډو بزو سره کار دے که په يو ځای کی ګډے بزے موجودے وے او نصاب ئے پوره وو نو بس عامل به ترے يوه ګډه اخلی، برابره ده که دا دواړه شريکان وی او که خليطين وی يعنی مالکانو ته به نۀ ګوری چه دوه کسان دی او که يو دے، بلکه مال ته به ئے ګوری۔

ددے مثال داسے واخله: چه يو ځای کی څلويښت ګډے بزی دی او کله چه عامل راشی نو دوی هغه جدا جدا کړی دے دپاره چه زکاة پرے رانشی نو دا کار به نۀ کوی بلکه عامل به ددے نصاب نه زکاة اخلی اګرکه د دوه کسانو ګډے دی، يو شان برابرے وی يا د يو کمے وی او د بل زياتی وی۔

دويم مثال: د دوه کسانو اتيا ګډی دی چه دواړه يو ځای دی په يوه ډله کی دی نو د امام شافعیؒ د مسلك مطابق به ددے کنډك نه يوه ګډه اخستے کيږی ځکه چه دا داسے دی لکه د يو سړی مال چه وی۔ او د امام ابوحنيفةؒ د مسلك مطابق به ددے کنډك نه دوه ګډے اخستے کيږی ځکه چه اتيا ګډے اګرکه په يو کنډك کی دی ليکن مالکان ددے جداجدا کسان دی او هغه دواړه د څلويښتو څلويښتو مالکان دی چه دواړه جدا جدا واخلی نو په هريو باندے يو يو ګډ لازميږی۔

نو (لا يجمع بين متفرق) د مالك سره هم لګی او د عامل سره هم لګی، که د مالك سره ولګی نو مثال به ئے داسے وی: چه مالك جدا جدا کنډکونه رايوځای کړی يعنی خپلے ګډے او پردئ ګډے يوځای کړی يريږی چه هسے نۀ چه زکاة ډير نشی نو د کمولو دپاره دا کار وکړی مثلًا: د يو سړی سره څلويښت ګډے دی نو دا ئے د خپل ملګری د ګډو سره جمع او يو ځای کړی چه هغۀ هم څلويښت وی نو کله چه زکاة اخستونکے عامل راشی نو د اتيا ګډو نه يو ګډ واخلی نو پدے کی پدے دواړو مالکانو باندے نيم نيم ګډ زکاة راغلو، که دا جدا جدا وے په هريو باندے يو يو ګډ راتللو نو ددے نه منع وشوه چه مالکان به داکار نۀ کوی۔

او (وَلَا يُفَرَّقُ بَيْنَ مُجْتَمَعٍ) دا هم د مالك سره لګی يعنی مالك يريږی چه زکاة راباندے لازم نشی نود زکاة د غورزولو دپاره په راجمع شوی مال کی جدا والے راولی۔

صورت ئے دا دے چه يو سړی سره شل ګډی دی چه د بل ملګری سره ئے يو ځای کړيدی او هغه هم شل دی نو کله چه د عامل د زکاة اخستو وخت راشی نو دا ئے د

خپل ملکری د کډو نه راجدا کړی دے دپاره چه په دواړو باندے هیڅ زکاة لازم نشی
ځکه چه یو ځے په شلو کی زکاة نهٔ وی۔ ٢- دغه شان دے دپاره ئے جدا کړی چه چرته
زکاة راباندے ډیر رانشی مثال ئے دا دے: یو سړی سره سل (١٠٠) کډی دی د بل
ملکری سره ئے یو ځای دی چه د هغه هم سل کډی دی نو دا چه کله شریك وی پدے
کی درے کډان لازمیږی (ځکه په پوره دوه سوو کی درے کډان دی) نو کله چه د عامل
د راتللو وخت شی نو دوی خپل خپل مال جدا کړی دے دپاره چه زکاة ئے کم شی او په
هر یو باندے یو یو کډ راشی ځکه چه په سلو کی یو کډ دے۔

دویم دا دواړه جملے د ساعی (عامل) سره هم لګی یعنی عامل متفرق (جدا جدا) مال
یو ځای کړی یریږی چه صدقه (زکاة) چرته ساقط نشی یعنی دے دپاره چه د مالکانو
نه زکاة واخلی، یا یریږی چه کمه لازم نشی بلکه ډیره ترے واخلی۔ مثلاً: دوه سړی
دی د دواړو دپاره څلویښت کډی دی جدا جدا یعنی شل د یو دی او شل د بل دی نو
عامل راشی او دواړه راجمع کړی دے دپاره چه په هغے کی زکاة لازم شی او د دواړو نه
یو کډ واخلی۔

دویم صورت : یا د هر یو دپاره یو سل شل (١٢٠) کډان وی نو عامل راشی او
دواړه راجمع کړی دے دپاره چه په مالکانو باندے درے کډان لازم شی او هغه ترے
واخلی۔ ځکه که دا جدا جدا پریښودے شی نو په هر یو باندے یو یو کډ لازمیږی ځکه
چه په یو سل شلو کی یو کډ دے او که د یو سل شلو نه زیادت وشی تر دوه سوو پورے
بیا دوه کډان لازمیږی او د دوه سوو نه چه زیات شی تر درے سوو پورے بیا درے کډان
لازمیږی۔ (لکه د حدیث عبارت ته رجوع وکړه)۔

او د (ولایفرق بین مجتمع) جمله چه د عامل سره ولګی داسے به وی چه عامل
راجمع شوے مال جدا کړی یریږی چه زکاة کم نشی یعنی ډیر ترے واخلی ددے مثال
داسے دے: درے کسان خلطاء (یعنی شریك) دی په یو سل شلو (١٢٠) کډانو کی نو په
دوی باندے یو کډ لازم دے نو عامل راشی دا جدا جدا کړی څلویښت څلویښت ترے
جوړ کړی دے دپاره چه درکډان ترے واخلی۔

نو حاصل دا شو چه خلطة الجوار د جمهورو په نیز د زکاة په زیادت او نقصان کی
تاثیر لری لکه د خلطة الشیوع په شان لیکن د مالکانو دپاره دا پکار نهٔ دی چه دوی دا

کار وکړی دے دپاره چه د زیات زکاة نه وتښتي۔ او امام ابو حنیفةؒ وائي چه خلطه او تفریق لره په کموالی د زکاة او زیاتوالی کی څه تاثیر نشته نو د هغه په نیز پدے حدیث کی نفی راجع ده قید ته او حاصل ئے دا دے چه دلته نفی د خلط راغلے د وجه د نفی د اثر نه یعنی د زکاة په کموالی او زیاتوالی کی خلطه او تفریق له اثر نشته یعنی دا یو کار به هم نشی کولے یعنی دا کار به لغوه وی هیڅ فائده به پکی نهٔ وی ځکه اعتبار مالکانو لره دے۔ (سندیؒ)

لیکن پدے تاویل کی تکلف دے او د حدیث مُهمل (بیکاره) کول دی۔ لکه چه دا روستو الفاظ (وما كان من خليطين) پرے صریح رد دے۔ ځکه چه دوه شریکوالؒ یو بل ته برابر په برابر واپس کیدو نه معلومیږی چه دا جمع او تفریق اثر کوی پدے وجه به یو بل ته واپس کیږی لکه چه تفصیل ئے روستو وګوره۔

وَمَا كَانَ مِنْ خَلِيْطَيْنِ : دلته هم د خلیط نه دواړه قسمه خُلطه والا مراد کیدے شي یعني خلطة الجوار او خلطة الشراكة۔ او دا مذهب د جمهورو دے۔ او احناف پدے مقام کی د خلیط نه خليط الشراكة اخلی۔ لیکن د دوی مذهب صحیح نهٔ دے ځکه چه خلیط په عربیٔ کی هغه ملګری ته وائی چه هر یو خپلے ګډے پیژنی او شریك خپل عین مال نهٔ پیژنی او دلته ئے په حدیث کی وئیلی دی چه (فانهما يتراجعان بينهما بالسوية) دا رنګه خلیط کی دا لازم نهٔ ده چه شریك دے وی ځکه آیت کی دی ﴿ وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْخُلَطَاءِ ﴾ (ص: ٢٤) او روسته ئے بیا د خُلطاء بیان پدے قول سره کړیدے ﴿ إِنَّ هٰذَا أَخِي لَهُ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ نَعْجَةً وَلِيَ نَعْجَةٌ وَاحِدَةٌ ﴾۔

وما كان من خليطين : (۱) صورت دا دے : دوه کسان دی یو بل سره ئے ګډی شریکی کړیدی عامل راغے د یو مالك نه ئے یوه ګډه بوتله نو بل مالك به ورته داسے نهٔ وائی چه عامل ستا ګډه بوتلے ده او په ما هیڅ نشته، نهٔ بلکه دواړه به یو بل ته تراجع بالنصف کوی یعنی نیمه حصه د ګډے د یو مالك او نیمه د بل مالك د طرفنه شوه ځکه چه عامل د خلطه (اختلاط) په وجه ګډه اخستے ده، نو د تراجع بالسویه صورت دا دے چه د یو مالك شل ګډے وی او د بل هم شل ګډے وی، نو عامل راشی د یو مالك نه یوه ګډه واخلی نو دغه مالك به د بل نه د ګډے نیمائی قیمت اخلی۔ او که د یو شل ګډے وی او د بل څلویښت او دواړو خلطه (اختلاط) کړے وی او عامل د شل ګډو والا

نه يوه كډه واخلي نو د شلو ګډو والا به د څلويښتو والا نه د ګډې دوه حصې قيمت واخلي. او كه د څلويښتو والو نه ګډه واخلي نو د شلو ګډو والا به ورته د ګډې دريمه حصه وركړي.

ددې حديث نه معلومه شوه چه خليطين شريكين نهٔ دي ځكه چه تراجع بالسويه د خليطين په مينځ كې راځي او هرچه شريكين دي نو د هغوي ترمينځ تراجع نهٔ متصور كيږي، ځكه چه د شركت په صورت كې خو اخستې شوې ګډ د شريك مال نه متصور كيږي نو يو بل ته تراجع صورت پكې نهٔ جوړيږي معلومه شوه چه د احنافو مذهب ددې حديثونو خلاف دې او د هغوي سره پدې باب كې هيڅ صحيح صريح دليل نشته او تاويلاتو او قياسونو ته د نص په مقابله كې هيڅ ضرورت نهٔ وي انظر (المغنی ۲/۶۰۷) والمرعاة (۱۱۹/۶) وفتاوى الدين الخالص (۲۰۰/۸).

امام مالكؒ وائي چه خُلطه هله اثر كوي چه د هر واحد د شركاؤ نه نصاب وي او دا قول د ثوريؒ او ابوثورؒ نه نقل دې او ابن المنذرؒ غوره كړيدې.

نو د هغه په مذهب د (وماكان من خليطين) صورت به داسې جوړيږي: چه دوه خليطين ملګري دي د دوي ترمينځ سل ګډې دي، د يو شپيته دي او د بل څلويښت دي (نو دلته د دواړو نصاب شته) نو كه عامل راشي تولو ګډو ته وګوري نو په هغې كې يو ګډ لازميږي، چه دوه پنځمې حصې د ګډ په څلويښتو والو باندې راځي او د ګډ درې پنځمې حصې په شپيتو والا باندې راځي (يعني دغه ګډ به په پنځه حصو تقسيم شي، دوه حصې به د څلويښتو والا وي او درې حصې به د شپيتو والا وي) نو كه عامل ګډه د څلويښتو والو نه واخسته نو دې به د شپيتو والو نه د درې پنځمې حصې قيمت واخلي او كه ګډه ئې د شپيتو والو نه واخسته نو د څلويښتو والا نه به دوه خُمسه (يعني دوه پنځمې حصې) واخلي.

او د امام ابوحنيفهؒ په نيز خليط په شريك باندې حمل دې او وائي چه خلطه موثره نهٔ ده نو د هغه په نيز صورت به دا وي چه د دوه كسانو په مينځ كې مال مشترك وي تقسيم كړې ئې نهٔ وي او عامل راشي زكاة ددې مشترك مال نه واخلي ځكه چه عامل خو به دا انتظار نهٔ كوي چه دوي لاتقسيم نهٔ دې كړې زكاة ترې نهٔ اخلم. نو دلته به تراجع بالسويه داسې كوي چه هر يو به په بل باندې په هغه اندازه رجوع كوي كوم چه

ددۀ د مال سره برابر وی مثلًا د یو تن ځلوېښت غواګانی دی او د بل دیرش او مال د دواړو مشترك دے لا تقسیم شوے جدا شوے نۀ دے او عامل راغے د ځلوېښتو والو نه ئے مسنه واخسته او د دیرشو والو نه ئے تبیع واخستو او هر یو دا د مشترك مال نه ورکړو نو د ځلوېښتو والا به ځلور اومے حصے د تبیع دیرشو والا ته ورکړی او د دیرشو غواګانو والا به د مُسنے درے اومے حصے ځلوېښتو والو ته ورکړی۔ او دغه شان هرکله چه د دواړو په مینځ شرکت په تفاوت او فرق سره وی او د یو نه ئے زیات واخستل د بل ملګری د وجه نه نو دغه ملګرے به په دغه اندازه د خپل ملګری نه مال اخلی۔ نو د احنافو په نیز جمع او تفریق په ملك کی مراد دے نۀ په مکان کی۔

او د (لا یجمع بین متفرق) صورت داسے بیانوی چه د دوه مالکانو دپاره پنځه اُوښان وی یا دیرش غواګانے یا ځلوېښت ګډان وی او کال پرے تیر شی او عامل راشی اراده وکړی چه ددے نه زکاة واخلی او دواړه مِلکونه راجمع کړی او دواړه د یو مِلك په شان وګرځی یعنی د یو مالك مال ئے حساب کړی دے دپاره چه زکاة پرے راشی۔ نو ددۀ دپاره دا کار جائز نۀ دے۔ او د دویم مثال داسے دے : د یو سړی اتیا ګډان وی په دوه مختلفو چراګاهونو کی نو په دۀ باندے یو ګډ لازم دے او عامل راشی دواړه جدا جدا حساب کړی او د دواړو دوه ګډان واخلی، ځلوېښت ځلوېښت ئے حساب کړی ګویا که دا د دوه کسانو مال وی نو دۀ دپاره دا کار جائز نۀ دے (مرعاة المفاتيح۶/ ۱۲۰)

فائده: دا خلطه صرف په حیواناتو کی راتلے شی او په نورو فصلونو او میوه جاتو او دانو کی هیڅ اعتبار نۀ لری بلکه هلته بیل بیل نصاب ضروری دے۔

وَفِی الرِّقَّةِ : یعنی په سپینو زرو کی برابره ده چه ټاپه شوی وی یا نۀ، ځلوېښتمه روپۍ ده، بعض وائی رقه هغه درهم ته وائی چه ټاپه شوی وی۔ رِقَّةٌ په اصل کی وَرِقٌ دے لکه د عِدَةٌ او وَعْدٌ په شان۔ یعنی کله چه دراهم دوه سوو ته ورسیږی نو په هغے کی به ځلوېښتمه روپۍ زکاة ورکوی نو په دوه سوو کی به پنځه روپۍ وی که د دوه سوو نه کم دراهم وو لکه یو سل نوی وے نو په هغے کی فرضی زکاة نشته مګر که مالك ئے غواړی نو نفلی صدقه ورکولے شی۔

مسئلة الضم

بیا ددے نه دا معلومیږی چه د سرو او سپینو دپاره شریعت جدا جدا نصاب مقرر

کړيدي نو دا به ديو بل سره په زکاة کې نشي يو ځای کولے چه مثلًا اوه (٧) تولے سرهٔ ورسره وي او ديرش يا څلويښت تولے سپين زر ورسره وي چه دا يو ځای کړے شي نو ددے نه نصاب جوړيږی نو داسے به نشي کولے دے دپاره چه زکاة پرے لازم کړئ لکه دا د احنافو مذهب دے چه داسے به کوی ليکن خطاء دے، دغه شان د سرو او سپينو سره به روپئ هم نشي ضم کولے نو د ضم مسئلے خطاء دی، دليل دا دے چه رسول الله ﷺ فرمائی: (لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ اَوَاقٍ مِنَ الْوَرِقِ صَدَقَةٌ) نو نبی ﷺ دلته وفرمايل چه د پنځو اُوقيو نه په کم کې زکاة نشته او څوك چه ضم کوی نو هغوی په کم د پنځه اوقيو کې هم زکاة وائی نو دا خبره د دوی د رسول الله ﷺ د امر ښکاره خلاف شوه۔ (لکه دا خبره امام نوویؒ په شرح مسلم (۳۵۱/۱) کې او ابن حزمؒ په محلی (١٨٤/٤) (٨٣/٦) کې او شوکانیؒ په السيل الجرار (١٢/٢) کې کړيده۔

- 1797 (4) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: "فِيمَا سَقَتِ السَّمَاءُ وَالْعُيُونُ أَوْ كَانَ عَثَرِيًّا الْعُشْرُ، وَمَا سُقِيَ بِالنَّضْحِ نِصْفُ الْعُشْرِ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او عبد الله بن عمر رضي الله عنهما د نبی کريم ﷺ نه ارشاد نقل کوی چه هغه فرمائی: په هغه شی کې چه آسمان يا چينے ئے خروبه کوی يا خپله زمکه لمده (تازه) وی نو په هغے کې لسمه برخه زکاة دے او هغه زمکه چه په آرټ (يعنی د غوايانو يا اُوښانو په ذريعه د کو هيانو نه) خروبه کيږی د هغے (په پيداوار) کې شلمه برخه واجب ده۔ (بخاریؒ)

تشريح: يعنی کوم فصلونه او پټی چه د آسمان په اوبو باندے خروبه کيږی لکه باران، واوره، شبنم وغيره باندے يا د چينو او د نهرونو په اوبو باندے چه څه آله وغيره پکې نهٔ استعماليږی يا لمده زمکه وی چه فصل او ونے د زمکے نه خپله اوبه راکاږی نو په هغے کې به عشر (لسمه برخه) لازم وی او کوم چه په بوکو او ارټ باندے خروبه کولے شی نو په هغے کې نيمائی عشر دے (يعنی شلمه حصه) خو دے سره به دا قيد لګوے چه پنځه وسقو يا زيات ته به رسيدلی وی لکه تفصيل ئے مخکې ذکر شو۔

كَانَ عَثَرِيًّا: يعنی چے والا وی چه د بوټی ستے پخپله اُوبه راکاږی۔

عثری: دا هغه زمکے ته وائی چه اوبو ته د نزدے والی په وجه هميشه تر وتازه او

سرسبز او شاداب وي. بعض وائي: عشري هغه زمکے ته وائي چه په عاثور سره سیراب کیږي او عاثور هغه کندے ته وائي چه په زمکه باندے د حوض په شان وکنستلے شي او د هغے نه فصلونه اوبه کیږي. (یعني جوړ)

بِالنَّضحِ : نضح اوبه راویستل په پړو (رسۍ) او بوکو او ارټ سره. غرض د حدیث دا دے چه کومه زمکه په مشقت سره اُوبه کیږي او خرچه په هغے باندے کیږي په ارټ او بوکو سره نو په هغے کې به نصف عشر وي یعني شلمه حصه به وي او کومه چه په مشقت سره نۀ اُوبه کیږي نو په هغے کې به عشر (لسمه حصه) وي.

او ددے حدیث تفصیل مخکې تیر شویدے چه دا ددے غرض دپاره چلولے شویدے چه عشر به په کومه زمکه کې لازم وي او نصف عشر به په کومه زمکه کې لازم وي. نو پدے حدیث کې دا خبره نشته چه څومره ته ورسیږي نو عشر او نصف عشر به پکې وي؟ نو هغه د بل حدیث نه اخستے شویدے چه د پنځو وسقونه کم وي په هغے کې زکاة (یعني عشر او نصف عشر) نشته.

فائده : که یوه زمکه کله په ارټ اُوبه کیږي یعني په تکلیف سره او کله پرے خرچه نۀ کیږي نو که په طریقه د برابرئ سره وه نو پدے کې به درے ربع عشر وي (یعني په څلویښتو درو کې به درے دړۍ وي) او دا قول د تولو علماؤ دے علامه ابن قدامه رحمه الله فرمائي: (لَانَعْلَمُ فِيْهِ مُخَالِفًا) پدے کې مونږ ته هیڅوك مخالف ندے معلوم. او که په یو سره زیاته خروبه کیده او په بل سره کمه نو اکثر لره به اعتبار وي او د بلے حکم به ساقط وي، یعني د کم حکم به د اکثر تابع وي.

(المحلی ٤/٥٨) والمغني (٢/٥٥٧).

حافظ ابن حجرؒ فرمائي: دا هم ممکن ده چه اوویلے شي چه که د هریو جدائي ممکن وه نو د هغے په حساب به ترے اخستے شي. آه، علامه ابن قدامهؒ فرمائي : که اندازه معلومه نۀ وه نو احتیاط دا دے چه عشر به ورکوی لکه دا خبره امام احمدؒ کریده. آه.

فائده : شریعت د انسانانو تکلیف ته کتلي دي او د مشقت د وجه نه ئے زکاة کم کړے، کوم مال کې چه مشقت ډیریږي نو زکاة ئے کمیږي.

- 1798(5) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " اَلْعَجْمَاءُ جَرْحُهَا

جُبَارٌ وَالْبِئْرُ جُبَارٌ وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: د سيدنا ابو هريره ﷺ نه روايت دے فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي : د حيوان زخمي کول (چا لره) معاف دی، او که د کوهي په کنستو کی څوك مړ شي نو معاف دے، او که د کان په راويستو کی څوك مړ شو معاف دے او په رکاز (خزانه) کی پنځمه برخه (زكاة) واجبيږی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح: اَلْعَجْمَاءُ : تانيث د اَعْجَم دے، حيوان، څاروی ته وائی، عجماء ورته ځکه وائی چه عجمه کی معنیٰ د چاړا توب ده او حيوان هم په خبرو قادر نهٔ وی۔

جَرْحُهَا : په فتحه د جيم سره زخمي کولو ته وائی د مصدر صيغه ده او په ضمه د جيم سره جراحة يعني زخم ته وائی۔ دلته فتحه ډيره صحيح ده او د جرح نه مراد هلاکول دی۔

قاضي عياضؒ وائی چه په جرح سره ئے تعبير وکړو ځکه چه دا غالب او اکثر دے۔ په يو روايت د بخاریؒ کی (العجماء جبار) راغلے دے هلته مضاف حذف دے لکه دا روايت پرے دليل دے يعني (فِعْلُ الْعَجْمَاءِ جُبَارٌ)۔ د حيوان کار (يعني هلاکول) هدر دی۔

او په يو بل روايت د بخاریؒ کی دی : (اَلْعَجْمَاءُ عَقْلُهَا جُبَارٌ) يعني د حيوان ديت هدر او باطل دے يعني حيوان چه څه هلاك کړی د هغے ديت او تاوان نشته۔

جُبَارٌ : يعني هدر او بی ضمانه، بی تاوانه دے يعني هيڅ شے په کی نشته۔

د حديث مطلب دا دے چه يو حيوان (مثلاً غوا ميخه، اس، خر وغيره) که يو شخص زخمي کړی يا يو شے ضائع کړی يا څوك مړ کړی او د هغه حيوان سره مالك نهٔ وی او دا کار په ورځ کی وشی نو د حيوان زخمي کول يا يو شے ضائع کول معاف دی يعني ددے په مالك باندے هيڅ بدله او جرمانه نشته۔ (۲) البته که حيوان سره مالك وغيره (زغلونکے، راښکونکے، آوازونه کونکے) وی او په دے حال کی څوك زخمي کړی يا يو شے ضائع کړی يا څوك قتل کړی نو په دے صورت کی به په مالك باندے بدله او جرمانه لازمه وی ځکه چه په دے کی د مالك وغيره کوتاهي او بی پرواهي شويده نو تاوان به پرے راځی۔ (۳) دارنګه که د شپے حيوان د چا پټی ته واوړی او فصل وخوری يا يو شے هلاك کړی يا څوك زخمي کړی نو په دے صورت کی به هم په مالك باندے تاوان راځی ځکه چه په شپه کی حيوانات تړلے شی ليکن مالك هغه نهٔ دے تړلے نو دهٔ

کوتاهي او بې پرواهي کړېده۔ لکه دا تفصيل د حديث د نورو رواياتو نه معلوميږي۔ ددې حديث تفصيل به ان شاء الله په کتاب البيوع کې نور هم راشي۔

اختلاف المذاهب : (۱) اهل ظواهرّ وائي چه دا حديث مطلق راغلې دې نو که حيوان يو شے هلاك کړو هيڅ تاوان به نۀ وي برابره ده حيوان يواځې وي يا څوك ورسره وي، يا پرې سور وي يا ورسره مخکې يا روستو روان وي البته د دوي په نيز يو صورت مستثنیٰ دې هغه دا چه د حيوان دا کار انسان ته منسوب شي لکه مثلاً دغه مالك او چلونکے پرې سور وي او حيوان تيزکړي ويشړي يا ئې په راښکلو سره يو شے هلاك کړي نو بيا به پرې تاوان وي۔ او که انسان ته د هغه کار نسبت نشو کيدې نو بيا به ضمان نۀ وي۔

(۲) شوافعّ وائي : که د حيوان سره يو انسان وي نو که حيوان څه شے هلاك کړو (نفس، يا اندام، يا مال) نو تاوان به ورکوي برابره ده که دغه شخص پرې سور وي يا د شا ته نه ورپسې روان وي يا پرې ناست وي او برابره ده مالك وي يا مزدور وي، يا په مستعير (په سوال باندې چا نه اخستونکے وي) يا غاصب (غلاکونکے وي) او برابره ده که دغه حيوان په خپه، يا لکئ يا سر يا بل اندام سره هلاك کړې وي، او برابره ده چه شپه وي او که ورځ وي نو تاوان به ورکوي۔ عقلي دليل دا وائي چه کله انسان د حيوان سره وي نو دا په حيوان باندې حاکم دې نو دا داسې دې لکه چه دۀ دا کار په خپل لاس کړې وي نو د حيوان دا کار به دۀ ته منسوب وي برابره ده که دۀ پرې دا کار کړې وي او که خپله ئې کړې وي يا برابره ده چه دا پرې پوهه وي يا نۀ وي، پدې هلاکولو کې د قصد او ناخبرئ فرق نشته۔

(۳) احناف وائي چه که په حيوان سور وو يا قائد (د مخکې نه راښکونکے) وو نو که حيوان څه هلاك کړل نو په دۀ به څه تاوان نۀ وي۔

(٤) حنابله وائي صرف سور انسان باندې د حيوان په څه شي هلاکولو کې تاوان نۀ وي۔

احناف او اهل ظواهرو ددې حديث په عموم باندې دليل نيولې دې پدې خبره چه که چارپايه فصلونه يا نور مالونه هلاك کړي، شپه وي که ورځ وي او مالك ورسره نۀ وي نو په مالك به هيڅ تاوان نۀ وي۔

مګر جمهور علماء د دوي په خلاف د شپې او د ورځې فرق کوي او د مالك کيدل او نۀ

کیدلو له اعتبار نهٔ ورکوی د هغوی سره دلیل روایت د شافعیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ او ابن ماجهٔ دے په قصه د براء بن عازب ﷺ کې چه د براء اوښه یو باغ ته ننوتے وه او د هغے فصل ئے خوړلے وو نو رسول الله ﷺ داسے فیصله وکړه:

(اِنَّ حِفْظَ الْحَوَائِطِ بِالنَّهَارِ عَلٰی اَهْلِهَا وَاِنَّ حِفْظَ الْمَاشِيَةِ بِاللَّيْلِ عَلٰی اَهْلِهَا، وَاِنَّ عَلٰی اَهْلِ الْمَوَاشِيْ مَا اَصَابَتْ مَاشِيَتُهُمْ بِاللَّيْلِ).

(یعني د ورځے به باغونه (او فصلونه) ساتل په مالکانو وي او د شپے گڈے بزے ساتل به د هغوی په مالکانو وي او که د شپے گڈے بزے کوم شی ته ضرر ورکړو د هغے تاوان به د گڈو بزو په مالکانو وي).

امام طحاویؒ ددے حدیث په باره کې وئیلي دي چه دا روایت پدے حدیث الباب سره منسوخ دے لیکن دا خبره ئے هسے بې دلیله دعوه ده، په نسخ باندے هیڅ دلیل نشته او نهٔ تاریخ معلوم دے، صحیح خبره دے باره کې امام شافعي رحمه الله کړیده هغه فرمائي: دا حدیث د براء بن عازب ﷺ خاص دے او حدیث د (العجماء) عام دے مراد ترے نه خاص دے هرکله چه نبي ﷺ وفرمایل چه د حیوان زخمي کول یا هلاکول هدر دي او بیا ئے د حیوان د هلاکولو او فصل خوړلو په باره کې په یو حال کې نهٔ په بل حال کې فیصله وکړه نو دا دلیل شو چه د حیوان هلاکول به کله هدر وي او کله به نهٔ وي هدر. یعنی که د شپے ئے څه شے هلاك کړو نو د حیوان په مالك به تاوان وي او که د ورځے ئے هلاك کړو نو په مالك به تاوان نهٔ وي.

احنافو چه په کوم روایت: (اَلرِّجْلُ جُبَارٌ) (که یو حیوان په خپه باندے څه شے هلاك کړو په هغے کې تاوان نشته) دلیل نیولے دے نو هغه ضعیف دے، دارقطنيؒ او امام شافعيؒ ورته ضعیف وئیلے دے او امام بیهقيؒ ورته په السنن الصغری کې غلط وئیلے دے، سفیان بن حسینؒ پکې سيء الحفظ راوی دے او دلته ئے تفرد کړیدے او دارقطني وغیره حفاظو ورته منکر وئیلے دے.

(السنن الصغری رقم الحدیث: ٣٥٠٦ باب الضمان علی البهائم).

وَالْبِئْرُ جُبَارٌ: یعنی کوهي کې یو تن په مزدوری کار کوي هغه کني، په هغے کې پریوزي زخمي شي یا مړ شي پدے کې هم په مالك د کوهي باندے هیڅ تاوان نشته، دا حکم د معدن (کان) هم دے. یا یو تن په خپله زمکه کې کوهے کنستے دے په هغه

زمکه کې یو کس تیرېږي په هغې کې پریوزي مر شي یا زخمي شي نو په مالك باندې هیڅ تاوان نشته ځکه چه هغه په خپله زمکه کې تصرف کړیدې۔ البته که د بل په مِلك کې یا په عامه لاره کې کنده وکني او خلق پرې خبر نهٔ وي او څوك پکې پریوزي په کنستونکي به تاوان راځي۔

وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ : ددې دوه تفسیره دي (۱) یو دا چه په معدن کې څوك کار کوي او هلته زخمي یا وفات شي نو په مالك باندې به د هغه تاوان نهٔ وي۔ (۲) دویم مطلب د روستو خُمُس د مناسبت د وجه نه دا دې چه معدن هدر دې یعني خُمس پکې نشته۔

اختلاف المذاهب

(۱) د احنافو په نیز مَعدن او رکاز یو شے دے، دا هر هغه مال ته وائي چه په زمکه کې خښ شوي وي برابره ده چه الله خښ کړے وي او که مخلوق نو د دوي په نیز په دواړو کې خُمس دے، دا مال به پنځه حصے کړے شي یوه حصه به بیت المال ته ورکړې او باقي به د مالك وي۔

(۲) جمهور (مالك، شافعيؒ او احمدؒ او نور علماء) وائي چه معدن کان ته وائي کوم مال او جواهر او کانړي چه الله په زمکه او غرونو کې د زمکے د پیدائش په وخت کې ایښي دي هغې ته معدن وائي او معدن رکاز ته نهٔ وائي او په معدن کې خمس نشته بلکه پدے کې به زکاة وي لکه ددے باب د فصل ثاني په آخر کې به راشي۔ او هرچه رکاز دے نو دا دَفِيْنُ الْجَاهِلِيَّة ته وائي یعني د جاهلیت د زمانے نه چه کوم مال خښ شوے وي او بیا ئے یو انسان پیدا کړي نو دے ته رکاز وائي ځکه دا د رکز نه ماخوذ دے رکز داخلولو او منډلو ته وائي۔ نو ددے په راویستلو کې تکلیف نشته خرچه پرے نهٔ کیږي پدے وجه پدے کې به خمس (پنځمه حصه) وي۔

دلیل الجمهور: (۱) وفي الرکاز عطف دے په والمعدن باندے او د دواړو مینځ کې ئے جدائي په واو سره راوستے ده او عطف تقاضا د مغایرت کوي نو دواړه به په حکم کې د یو بل نه مغایر وي نو په رکاز کې به خمس وي نهٔ په معدن کې۔ لیکن دا دلیل ضعیف دے ځکه چه عند الاحناف رکاز عام دے کنز ته هم شامل دے او معدن ته هم، او د عام او د خاص ترمینځ مغایرت معلوم دے۔ دارنګه هغوي وائي چه مغایرت پدے طریقه هم راځي چه د معدن حکم دا دے چه پدے کې څوك کار کوي او پکې مر شي

نو په مالك به ضمان نهٔ وي۔ او د ركاز حكم دا دے چه پدے كې خمس لازم دے او ركاز معدن ته هم شامل دے۔ نو د دواړو مصداق جدا جدا شو۔ ليكن حقه دا ده چه دغه قوي دليل دے او معدن په ركاز كې داخلول خطاء دي لكه دا خبره امام بخاريؒ په باب الزكاة كې په ډير تفصيل سره ذكر كړيده او په احنافو ئے ډير مضبوط رد كړيدے، خوا هشمند دے هغے ته رجوع وكړي۔

۲- دليل روستو حديث د ربيعةؓ راروان دے او په سنن كبرىٰ د بيهقيؒ او التلخيص الخبير كې صريح روايات موجود دي چه په معدن كې خُمس نشته بلكه په ركاز كې خُمس دے۔

۳- دليل: جمهور وائي: د عام اهل لغتو په نيز اگركه ركاز هر مدفون (خخ شوي) مال ته شامليږي برابره ده چه الله خخ كړے وي په غرونو او زمكو كې او كه جاهليت والو خخ كړے وي ليكن د اهل حجازو په لغت كې ركاز خاص دے په دَفِيْنُ الْجَاهِلِيَّة پورے او نبي ﷺ چونكه حجازي وو او د اهل حجازو په لغت به ئے خبرے كولے او هغوي چه به د لغت نه كومه معنىٰ مراد كوله، دۀ به هم هغه مراد كوله لهذا دلته به ركاز غير وي د معدن نه۔ ابن الاثير الجزريؒ په «النهايه» كې ليكي چه ركاز د اهل حجازو په نيز كُنُوْزُ الْجَاهِلِيَّةِ الْمَدْفُوْنَةِ فِي الْاَرْضِ ته وائي (يعني د جاهليت والو هغه خزانے چه په زمكه كې خخ شوي وي) او د اهل عراق په نيز ركاز معادنو ته وائي او دواړه قولونه د لغت په اعتبار سره صحيح دي ځكه چه هريو ددے نه په زمكه كې مركوز يعني ثابت دي، وئيلے شي: رَكَزَهٗ يَرْكُزُهٗ رَكْزًا اِذَا دَفَنَهٗ وَاَرْكَزَ الرَّجُلُ اِذَا وَجَدَ الرِّكَازَ وَالْحَدِيْثُ اِنَّمَا جَاءَ فِي التَّفْسِيْرِ الْاَوَّلِ وَهُوَ الْكَنْزُ الْجَاهِلِيُّ، وَاِنَّمَا كَانَ فِيْهِ الْخُمُسُ لِكَثْرَةِ نَفْعِهٖ وَسُهُوْلَةِ اَخْذِهٖ انتهىٰ۔ په عربئ كې رَكَزَ يَرْكُزُ رَكْزاً په هغه وخت كې وئيلے شي چه كله يو شخص په زمكه كې مال خخ كړي او اَرْكَزَ به په هغه وخت كې وائي چه كله ركاز (خخ شوے) مال مونده كړي او دا حديث په اول تفسير باندے راغلے دے چه هغه د جاهليت زمانے خخ شوے مال دے او په هغے كې خُمُس ځكه لازم شو چه د هغے فائده زياته ده او په حاصلولو كې ئے آساني ده) آه۔ او ركاز كې ئے خمس ځكه مقرر كړو چه دا د كافرو مال دے او مسلمان موندلے دے نو دا د غنيمت په شان شو او په غنيمت كې خمس لازم وي۔ ددے وجه نه جوهريؒ او زركشيؒ صرف اول تفسير ذكر

کړیدے او صاحب المصباح پدے مقام کی دویم تفسیر ضعیف گنړلے دے ځکه چه دا اهل حجاز و د مذهب خلاف دے او دا حدیث حجازی دے۔ پدے وجه چا چه د لغت په لحاظ رکاز معدن ته شامل ګرځولے دے نو هغه خطاء دے۔

(عون المعبود شرح سنن ابی داود)

نو راجح مذهب د جمهورو دے چه رکاز د جاهلیت زمانے نه په زمکه کی خخ شوی مالونو ته وئیلے شي او دا معدن ته نۀ دے شامل بلکه معدن او رکاز جدا جدا څیزونه دی۔ رکاز جمع د رَکِزَۃٌ ده۔

فائده : چا چه رکاز وموندلو نو فی الحال پدے کی خُمس لازم دے کال تیریدل پکی شرط نشته او دارنګه لږ مال وی او که ډیر، په ټولو حالاتو کی پدے کی خُمس دے لکه دا خبره د عموم د حدیث نه ښکاره معلومیږی۔ او مخکی مونږ وئیلی وو چه رکاز د غنیمت په شان دے او په غنیمت کی دا شرطونه نۀ وی۔

فائده ۲: که چرته په معدن کی سره او سپین راوځی نو آیا پدے کی به زکاة وی او که نۀ؟ (۱) احناف وائی چه که په معدن کی سره او سپین او دغه شان نور معادن لکه اُوسپنه، تانبه او قلعی راوځی نو دا هم د رکاز په حکم کی دے، د موندلو سره سمدست به ددے نه پنځمه حصه جدا کړی او مال فیء چه چا ته ورکولے شی د هغے په شان به دا هم تقسیم کړی۔ یعنی بیت المال یا د رسول الله ﷺ خپلوانو یا یتیمانانو یا نورو مسکینانو او غریبانو ته به ورکړے شي۔ (۲) او اکثر اهل علم او ائمه ثلاثۀ وائی چه معدن د رکاز په حکم کی نۀ دے داخل نو که سرۀ او سپین په معدن کی راووتل نو دا به د نورو سرو او سپینو په شان وی چه پدے کی به زکاة وی کله چه نصاب ته رسیدلی وی یعنی په هر څلویښتو روپو کی به یوه روپۍ ورکوی، البته کال تیریدل پکی شرط نۀ دے۔

تفصیل د مذاهبو پکی داسے دے: (۱) شوافع وائی: که په معدن کی د سرۀ او سپینو نه علاوه بل څه راووتل نو په هغے کی زکاة نشته مګر په یوه وجه شاذه کی۔ او که یو د دوه نقدینو نه وی نو په هغے کی به زکاة وی بیا په واجبه اندازه کی د امام شافعیؒ درے اقوال دی ډیر صحیح پکی دا دے چه پدے کی ربع العشر (یعنی څلویښتمه روپۍ) ده لکه د زکاة د نقدینو په شان۔ دویم دا چه خمس پکی لازم دے۔

دریم دا چه که په مشقت او تکلیف سره ئے حاصل کړے وی نو ربع عشر دے او که بغیر د تکلیف نه ئے حاصل کړے وی نو خمس پکی لازم دے۔

(۲) حنابلهؒ دا د ذهب او فضه پورے نهٔ دی خاص کړی بلکه هغوی وئیلی دیؒ چه زکاة په هر هغه شی کی لازم دے چه د زمکے نه راوځی او سوئ د نقدینو نه وی او هغه قیمت لری کله چه د هغے قیمت شل مثقالو د ذهبو یا دوه سوه درهمو ته د سپینو زرو نه ورسیږی لکه اوسپنه، زیړ، تانبه، زیبق، یاقوت، زبرجد، بلور، عقیق، سبج، رانجه، زاج (څوړئ) زرنیخ او مغره وغیره بلکه هغوی پکی نوره فراخی هم کړیده او وئیلی ئے دی چه کوم معادن بهیدونکی وی لکه تارکول، نفط (پټرول) گوگړ په هغے کی هم زکاة شته۔ (۳) احنافو دا په هغه څیزونو پورے خاص کړیدے چه هغه کلکیږی لکه اوسپنه او تانبه شوه۔ حنابله وائی چه پدے کی به ربع عشر (څلویښتمه روپئ) لازمه وی او مالکیهؒ دا د نقدینو پورے خاص کړیدے البته دائے پکی زیاتی وئیلی دی چه څلویښتمه روپئ به لازمه وی مگر که بغیر د مشقت نه حاصل شوی وی نو پدے کی به خمس وی او اسحاق بن راهویهؒ او ابن المنذرؒ د معدن په زکاة کی کال تیریدل هم شرط گنړلی دی او دائے یو قول د امام شافعیؒ نقل کړیدے۔ راجع للتفصیل المغنی لابن قدامه (۳/۲۰)۔

نو ثابته شوه چه په اجماع د علماؤ سره که په معدن کی سرۀ او سپین راووتل نو په هغے کی به زکاة لازم وی۔ (الاجماع لابن المنذر کتاب الزکاة)

حاصل دا شو چه معدن د رکاز نه غیر دے او په هغے کی د کال تیریدل شرط نهٔ دی او په راجح قول سره به په هغے کی صرف زکاة واجب وی۔

الفصل الثانی

- 1799(6) عَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " قَدْ عَفَوْتُ عَنِ الْخَيْلِ وَالرَّقِيقِ فَهَاتُوا صَدَقَةَ الرِّقَةِ :مِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمٌ وَلَيْسَ فِي تِسْعِينَ وَمِائَةٍ شَيْءٌ فَإِذَا بَلَغَتْ مِائَتَيْنِ فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ. وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ عَنِ الْحَارِثِ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ زُهَيْرٌ أَحْسِبُهُ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ : " هَاتُوا رُبُعَ الْعُشْرِ مِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمٌ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ شَيْءٌ حَتَّى تَتِمَّ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ. فَإِذَا

كَانَتْ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ. فَمَا زَادَ فَعَلَى حِسَابِ ذَٰلِكَ. وَفِي الْغَنَمِ فِي كُلِّ أَرْبَعِينَ شَاةً شَاةٌ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ فَإِنْ زَادَتْ وَاحِدَةٌ فَشَاتَانِ إِلَى مِائَتَيْنِ. فَإِنْ زَادَتْ فَثَلَاثُ شِيَاهٍ إِلَى ثَلَاثِمِائَةٍ فَإِذَا زَادَتْ عَلَى ثَلَاثِ مِائَةٍ فَفِي كُلِّ مِائَةٍ شَاةٌ. فَإِنْ لَمْ تَكُنْ إِلَّا تِسْعٌ وَثَلَاثُونَ فَلَيْسَ عَلَيْكَ فِيهَا شَيْءٌ وَفِي الْبَقَرِ، فِي كُلِّ ثَلَاثِينَ تَبِيعٌ وَفِي الْأَرْبَعِينَ مُسِنَّةٌ وَلَيْسَ عَلَى الْعَوَامِلِ شَيْءٌ "

ترجمه : د سیدنا علی ﷺ نه روایت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی : ما تاسو ته د اسونو او غلامانو زکاة معاف کړیدے نو راوړئ زکاة د سپینو زرو، د هر څلویښتو روپو نه یوه روپۍ او تشته په یو سل نوی (درهمو) کی هیڅ شے خو کله چه (درهم) دوه سوه ته ورسیږی نو په هغے کی به پنځه روپۍ وی۔ (ترمذیؔ، ابوداودؔ) او ابوداودؔ د حارث اعورؔ نه د علی ﷺ دا روایت نقل کړیدے چه زهیرؔ (کوم چه د حارث نه روایت نقل کوی) ووئیل چه زما گمان دے چه حارثؔ دا وئیلی دی چه علی ﷺ د نبی کریم ﷺ دا ارشاد نقل کړیدے چه تاسو (هر کال) د څلویښتو درهمو نه یو درهم (یعنی) څلویښتمه برخه ادا کړئ او په تاسو باندے هیڅ شے واجب نهٔ دے تردے چه تاسو سره دوه سوه درهم پوره شی، نو کله چه دوه سوه درهمه پوره شی نو پدے کی به پنځه درهمه واجب وی او کله چه د دوه سوو درهمو نه زیات شی نو په هغے کی به د هغے په حساب سره زکاة واجبیږی۔ او د (گډو بزو نصاب دا دے چه) په هر څلویښتو گډانو کی به یو گډ وی تر یو سل شلو پورے که په یو سل شلو باندے یو گډ زیات شو نو دوه گډان به لازم وی تر دوه سوو پورے او که (د دوه سوو نه) زیات شو نو درے گډان به لازم وی ترے درے سوو پورے، او که په درے سوو باندے زیات شی نو په هر سلو کی به یو گډ لازم وی که (تا سره نصاب) نهٔ وی مگر نهه دیرش (گډان) نو په تا باندے په هغے کی هیڅ شے واجب نهٔ دے۔ او (د غواګانو نصاب دا دے چه) په هر دیرشو غواګانو کی د یو کال عمر والا یو سخے او په څلویښتو کی د دوه کالو عمر یوه غوا واجب ده، او په کارکونکو څاروو کی هیڅ (زکاة) واجب نهٔ دے۔

تشریح : قَدْ عَفَوْتُ : د جمهورو په نیز په اسونو کی زکاة نشته لکه تفصیل د مسئلے مخکی تیر شو دا حدیث پرے ښکاره دلیل دے۔ لیکن احناف وائی چه په

اسونو کې زکاة شته نو هغوی ددې حدیث بعید تاویلات کوی۔ (۱) یو تاویل داسې کوی چه ددې اسونو نه مراد د رکوب (سوریدو) دپاره یا د غزا دپاره اسونه دی، دلیل دا دې چه دا ئې د رقیق (غلامانو) سره یو ځای ذکر کړیدی او غلامان خو د خدمت دپاره وی په هغې کې زکاة نهٔ وی نو دغه شان پدې قسم اسونو کې هم زکاة نشته۔

جواب : دا تاویل خطاء دې یو خو پدې وجه چه دلالة الاقتران باندې دلیل نیول ضعیف دی، کله چه ورسره نور دلائل نهٔ وی۔ دویم پدې وجه چه دلته ښکاره احادیث موجود دی چه مطلقاً په اسونو کې زکاة نشته برابره ده د خدمت دپاره وی او که هسې اضافی وی۔ یو د هغې نه حدیث د عمر فاروق ﷺ مخکې تیر شوې وو چه هغه وئیلی وو (مَا فَعَلَهٗ صَاحِبَایَ قَبْلِیْ فَاَفْعَلَهٗ) دا زکاة زما دوارو ملګرو نهٔ دې اخستې نو زهٔ ئې ترې څنګه واخلم)۔ (۲) دویم تاویل داسې کوی چه دلته د عفو نه مراد دا دې چه تاسو ته دا خبره معاف ده چه اسونه ما ته راولئ او دلته د هغې نه زکاة ادا کړئ بلکه خپله ترې زکاة ادا کړئ۔ دا تاویل هم خطاء دې ځکه چه یو خو د ظاهر خلاف دې۔ دویم د روستو (فَهَاتُوْا صَدَقَةَ الرِّقَّةِ) سره به څه کوې ځکه بیا خو به ددې مطلب دا شی چه د سپینو زرو زکاة به امام ته حاضرول او هغه ته ورکول واجب وی سره ددې نه چه د جمهورو علماؤ په نیز د اموال باطنه ؤ زکاة امام ته ورکول لازم نهٔ دی بلکه مالکان به ئې په خپله خوښه چا ته ورکړی۔

اَلْحَارِثُ : دا حارث بن عبد الله الاعور الهمدانی الحوتی الکوفی ابوزهیر دې او د علی ﷺ په ملګرتیا مشهور شویدې او د ابن مسعودؓ او زید بن ثابتؓ نه ئې هم روایتونه نقل کړیدی، شعبیؒ او ابو سحاق السُّبَیْعِیؒ او عطاءؒ وغیره ددهٔ نه روایت کوی، شعبهؒ وائی چه ابو اسحاقؒ ترې صرف څلور احادیث اوریدلی دی، تقریب کې دی : رُمِیَ بِالرَّفْضِ وَفِیْ حَدِیْثِهٖ ضُعُفٌ مَاتَ فِیْ خِلَافَةِ ابْنِ الزُّبَیْرِ سَنَةَ (۶۵)۔

قَالَ زُهَیْرٌ : بن معاویه بن حُدَیج ابو خیثمة الجُعفی الکوفی نزیل الجزیرة ثِقَةٌ ثَبْتٌ اِلَّا اَنَّ سَمَاعَهٗ مِنْ اَبِیْ اِسْحَاقَ بِاٰخِرِهٖ۔

فَمَا زَادَ فَعَلٰی حِسَابِ ذٰلِكَ : (۱) جمهور پدې حدیث عمل کوی چه کوم شمیر چه ددې عدد یعنی دوه سوو نه زیات شو، زیات عدد وی یا کم وی یعنی یوه روپۍ وی هم د هغې به زکاة ورکوی او که څلویښتو ته رسیدلې وې هم د هغې نه به زکاة ورکوی، که

لس زیات شو نو د لسو مطابق به زکاة ورکوی۔ (۲) احناف وائی چه په کسر کی زکاة نشته تر څو پورے چه نصاب ته نهٔ وی رسیدلی یعنی د دوه سوو درهمو نه چه څه زیات شو پدے کی به زکاة نهٔ وی تردے چه څلویښتو درهمو ته ورسیږی بیا به پکی یو درهم زکاة لازم وی۔ او که دغه زیات څلویښتو ته نهٔ وی رسیدلی نو صرف د دوه سوو زکاة به لازم وی د زیادت به نهٔ وی۔ ابن حزم رحمه الله په المحلی (۶۱/۶) کی د ابوبکر صدیق ﷺ په خط کی پدے الفاظو دلیل نیولے دے: (وفی الرقة ربع العشر) الخ هغه فرمائی: اَوْجَبَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ الصَّدَقَةَ فِی الرِّقَّةِ رُبْعَ الْعُشْرِ عُمُوْمًا لَمْ یَخُصَّ عَنْ ذٰلِكَ شَیْئًا اِلَّا مَا كَانَ اَقَلَّ مِنْ خَمْسِ اَوَاقٍ فَبَقِیَ مَا زَادَ عَلٰی ذٰلِكَ عَلٰی وُجُوْبِ الزَّكَاةِ فِیْهِ انتهی۔ یعنی رسول الله ﷺ په چاندی کی زکاة څلویښتمه روپۍ لازمه کړیده دا عام دے هیڅ تخصیص پکی نشته مگر هغه چه د پنځو اوقیو نه کم وی نو په بل حدیث سره هغه خاص شویدی چه په هغے کی زکاة نشته نو کوم چه د پنځو اوقیو نه زیات شو نو هغه به په حکم د زکاة کی باقی پاتی وی برابره ده که دغه زیادت نصاب (یعنی څلویښتو درهمو) ته رسیدلے وی او که نهٔ وی)۔ او بل د علی بن ابی طالب او عبد الله بن عمر رضی الله عنهم نه نقل دی چه هغوی فرمائیلی دی: فِیْ كُلِّ مِائَتَیْ دِرْهَمٍ خَمْسَةُ دَرَاهِمَ وَمَا زَادَ فَبِالْحِسَابِ) (ابن ابی شیبه (۷/۳) وابوعبید (۴۲۱) وعبد الرزاق) وسنده جید موقوف وروی مرفوعاً) ارواء الغلیل (۲۹۱/۳) په هر دوه سوو درهمو کی پنځه دراهم لازم دی او کوم چه زیات شو د هغے په حساب به وی)

وَفِی الْبَقَرِ، فِیْ كُلِّ ثَلَاثِیْنَ: دا دلیل دے چه د غواګانو دپاره نصاب دیرش دے او که د دیرشو نه کمے وی نو په هغے کی هیڅ زکاة نشته، پدے کی امام زهری رحمه الله خلاف کړیدے هغه وئیلی دی چه په هر پنځه غواګانو کی به یو ګډ لازم وی لکه د اوښانو په شان۔ لیکن دا مذهب کمزورے دے ځکه چه نصاب په قیاسونو نهٔ ثابتیږی دارنګه په روایت د عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده کی په مسند الشامیین (۱۳۸۸) کی داسے الفاظ دی: (لَیْسَ فِیْمَا دُوْنَ ثَلَاثِیْنَ مِنَ الْبَقَرِ شَیْءٌ)۔ د دیرشو نه په کمو غواګانو کی هیڅ زکاة نشته۔ او ددے تائید په مفهوم د حدیث د معاذ بن جبل رضی الله عنه سره کیږی۔ او تخصیص د ثلاثین کی اشاره ده چه په کم کی به زکاة نهٔ وی۔ ولے که وے نو نبی کریم ﷺ به د هغے بیان کړے وے۔

او ابن حزمؒ هم خلاف کړیدے هغه د غواګانو نصاب پنځوس ګرزوی۔ لیکن د هغه قول هم د صحیح احادیثو خلاف دے۔ او د جمهورو په نیز نصاب د غواګانو دیرش دے او همدا قول قوی دے ځکه چه پدے باره کی صحیح احادیث او آثار راغلی دی۔

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي : که د څلویښتو غواګانو نه زیات شو نو په دے زائد مقدار کی به تر هغه وخت پورے هیڅ شے واجب نهٔ وی تردے چه شپیتو ته ورسیږی نو کله چه شپیتو ته ورسی بیا به په هغے کی دوه تبیعے (یعنی یو یو کلنی دوه سخی) لازمیږی بیا ددے نه روستو په هر څلویښتو کی به یوه مسنه یعنی د دوه کالو والا غوا وی او په هر دیرشو کی به یوه تبیعه واجبیږی مثلاً اویا شی نو یوه مسنه او یوه تبیعه به وی او که آتیا شی نو دوه مسنے، او که نوی شی نو درے تبیعے او که سل شی نو دوه تبیعے او یوه مسنه به واجبیږی دغه شان په هر دیرشو کی به یوه تبیعه او په هر څلویښتو کی به دیوے مسنے په حساب سره زکاة ادا کولے شی۔

علامه خطابیؒ فرمائي: پدے حدیث کی دلیل دے چه غواګانی چه کله په څلویښتو زیاتی شی نو په هغے (زیادت) کی به هیڅ نهٔ وی لازم تردے چه شپیتو ته ورسیږی۔او ددے په صحت باندے دلیل هغه روایت دے چه د معاذ بن جبلؓ نه نقل دے چه هغه ته وقص البقر (یعنی د غواګانو د دوه نصابو ترمینځ شمیر) راوړلے شو نو هغه وانخستو او مذهب د ابوحنیفةؒ دا دے چه په څلویښتو باندے یوه غوا زیاته شی نو د مخکی په حساب سره به زکاة ادا کولے شی انتهیٰ (معالم السنن ۲/ ۳۰) للخطابی۔

امام خطابیؒ چه کوم مذهب ذکر کړو دا مذهب د مالكؒ، شافعیؒ، احمدؒ، محمد بن الحسنؒ، ابویوسفؒ، نخعیؒ، شعبیؒ، ثوریؒ، حسن بصریؒ، اسحاقؒ، ابوعبیدؒ، طاؤسؒ، عمر بن عبد العزیزؒ، لیث بن سعدؒ او ابوثورؒ دے چه د څلویښتو نه په بره تر شپیتو پورے پدے کی هیڅ نشته۔ او د امام ابوحنیفةؒ قول ضعیف دے د عام امت خلاف دے۔

وَلَيْسَ عَلَى الْعَوَامِلِ شَيْءٌ : (په کار کونکو حیواناتو کی هیڅ واجب نهٔ دی) ددے مطلب دا دے چه کوم حیوانات د کار دپاره وی او په ضروریاتو کی استعمالیږی لکه غواګانے غویان د کروندے یا د کوهیانو نه د اوبو راویستلو یا بل ضرورت دپاره وی نو اګر که د هغے شمار د نصاب په اندازه وی بیا هم په هغے کی زکاة نهٔ واجبیږی او دا حکم

د اُوښانو وغیره په باره کی هم دے او دا مذهب د امام شافعیؒ او ابوحنیفةؒ دے او امام مالکؒ فرمائی چه په داسے حیواناتو کی به هم زکاة واجبیږی. مګر قول د مالك ضعیف دے کما تقدم قریباً.

درجة الحدیث: اسناده صحیح، اخرجه ابوداود (۱۵۷۲) (۱۵۷۳) والترمذی (۶۲۰) وقال سألت محمدا عن هذا الحدیث فقال کلاهما عندی صحیح عن ابی اسحاق واخرجه النسائی (۵/۳۷) وابن ماجه (۱۷۹۰).

- 1800(7) وَعَنْ مُعَاذٍ ﷺ، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ لَمَّا وَجَّهَهُ إِلَى الْيَمَنِ أَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنَ الْبَقَرَةِ: مِنْ كُلِّ ثَلَاثِيْنَ تَبِيْعًا أَوْ تَبِيْعَةً وَمِنْ كُلِّ أَرْبَعِيْنَ مُسِنَّةً. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: او د سیدنا معاذ ﷺ په باره کی نقل دی چه نبی ﷺ هرکله ده لره یمن ته لیږلو نو ده ته ئے حکم وکړو چه د غواګانو نه دے د هر څلویښتو نه د یو کال والا سخے یا سخئ او د هر څلویښتو نه د دوه کالو والا غوا (په زکاة کی) واخلی. (ابوداودؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ، دارمیؒ)

تشریح: وَجَّهَهُ: یعنی وے لیږلو یمن ته چه دا د زکاة وغیره کارونو دپاره عامل هم وو او خلکو ته به ئے د دین تعلیم هم ورکولو.

مُسِنَّةً: **فائده**: په غواګانو او ګډو بزو کی نر او ماده برابر دی نو د مسنے په ځای مسن مذکر هم ورکول جائز دی، ماده ورکول ضروری نهٔ دی ځکه چه په دوی کی د نر او مادے ترمینځ دومره فرق نهٔ وی او حدیث د دواړو په ورکولو وارد دے او هرچه اُوښان دی نو په هغے کی د نر او مادے ترمینځ ډیر فرق وی نو پدے وجه په زکاة کی به ماده ورکوی نر به نهٔ ورکوی مګر د سخت ضرورت په وخت کی لکه مخکی تیر شویدی چه که بنت مخاض نهٔ وی نو د هغے په ځای به لوی (یعنی ابن لبون) ورکوی او که بنت مخاض موجود وی نو ابن مخاض دارنګه ابن لبون ورکول به صحیح نهٔ وی.

تنبیه: نبی ﷺ چه کله معاذؓ یمن ته ولیږلو نو بیرته د معاذ د یمن نه د راتللو په باره کی مختلف روایات راغلی دی په روایت د مالك (۱/۲۵۹) کی دی د طاوسؒ عن معاذ په روایت کی دی: (فَتُوُفِّيَ النَّبِيُّ ﷺ قَبْلَ أَنْ يَّقْدَمَ مُعَاذٌ) او دا منقطع دے په مینځ د

طاوسؒ او معاذؓ کی ځکه چه طاوسؒ د معاذؓ زمانه نهٔ ده لاندے کړے۔ لیکن ددے جواب امام شافعیؒ داسے ورکړیدے چه طاوسؒ د یمن وسیدونکے دے او هغه د معاذ په حالاتو ډیر خبردار دے ځکه چه دا د ډیرو خلکو سره ملاؤ شویدے کوم چه د معاذ سره ملاؤ شویدی او پدے کی ما ته هیڅ مخالف نهٔ دے معلوم۔ (التلخیص الحبیر (۱۷٤) وارواء الغلیل (۳/ ۲۷۰) او په حدیث د ابن مسعود ﷺ کی په حاکم (۲۷۲/۳) کی داسے دی :(فَلَمْ يَزَلْ فِيهَا حَتّٰى تُوُفِّيَ النَّبِيُّ ﷺ ثُمَّ رَجَعَ مُعَاذٌ فَوَافٰى عُمَرَ بِمَكَّةَ أَمِيْرًا عَلَى الْمَوْسِمِ) وَصَحَّحَهُ الْحَاكِمُ ۔ او ددے په خلاف روایت په مسند احمد مع الفتح الربانی (۲۲۲/۸) کی داسے دے : (فَأَبَيْتُ ذَاكَ وَقُلْتُ لَهُمْ حَتّٰى أَسْأَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ عَنْ ذٰلِكَ فَقَدِمْتُ فَأَخْبَرْتُ النَّبِيَّ ﷺ فَأَمَرَنِيْ أَنْ آخُذَ مِنْ كُلِّ ثَلَاثِيْنَ تَبِيْعًا وَمِنْ كُلِّ أَرْبَعِيْنَ مُسِنَّةً......الخ) او په روایت د ابن حزمؒ (٦/٦) او بزارؒ او دارقطنیؒ (۲۰۲) او بیهقیؒ (۹۹/٤) کی په حدیث د بقیه بن الولیدؒ کی دی : عَنِ الْمَسْعُوْدِيِّ عَنِ الْحَكَمِ عَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ الحدیث – وفیه : فَلَمَّا رَجَعَ سَأَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ عَنْهُ يَعْنِي الْوَقْصَ فَقَالَ : لَيْسَ فِيْهَا شَيْءٌ) تَفَرَّدَ بِهٖ بَقِيَّةُ عَنِ الْمَسْعُوْدِيِّ وَالْمَسْعُوْدِيُّ قَدِ اخْتَلَطَ وَتَابَعَهُ الْحَسَنُ بْنُ عُمَارَةَ عَنِ الْحَكَمِ وَالْحَسَنُ بْنُ عُمَارَةَ مَتْرُوْكٌ ۔ او دغه شان نور روایات زیلعیؒ په «نصب الرایه» او حافظؒ په «الدرایه» کی ذکر کړیدی لیکن هیڅ تطبیق او ترجیح ئے نهٔ ده ذکر کړے او ملاعلی القاریؒ فرمائی چه کیدے شی چه واقعے متعددے وی لیکن حافظ په فتح الباری کی دا خبره زیاته کړیده چه د ټولو علماؤ پدے اتفاق دے چه معاذؓ په یمن کی وو تردے چه د ابوبکر صدیق ﷺ په خلافت کی راغلو بیا شام ته لاړو او هلته کی په طاعون عمواس کی وفات شو۔ نو ددے نه راجح دا معلومیږی چه کومو روایاتو کی دا خبره ذکر ده چه معاذ د نبی ﷺ په ژوند کی راواپس شویدے نو هغه د سند په لحاظ کمزوری دی کما عرفت۔ والله اعلم وعلمه اتم واحکم۔

درجة الحدیث: صحیح: رواه ابوداود والترمذی والنسائی والدارمی والدارقطنی (۲۰۳) کلهم من طریق الاعمش عن ابی وائل عن مسروق عن معاذ وصححه ابن حبان والحاکم واقره الذهبی وحسنه الترمذی وقال ابن عبد البر : فی التمهید والاستذکار اسناده متصل صحیح ثابت وکذا قال ابن بطال کما فی الفتح واعله ومن اعله بالانقطاع

فلم يصب فان معاذا ومسروقا متعاصران ولا يقال في حديث المتعاصرين انه منقطع بل يحملون حديثه على الاتصال وادنى ما يقال فيه : انه لم يعلم اتصال بينهما واما الانقطاع فلا، وقد قال ابن حزم بانقطاعه اولا ثم رجع عن رأيه واثبت اتصاله راجع المرعاة (١٤٤/٦)حيث قال والحديث له طرق وشواهد قد اعتضد بعضها ببعض، وقال الالباني حديث صحيح۔ آه اما عنعنة الاعمش فيقوى الحديث وروده من طرق اخرى)۔

- 1801(8) وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ :قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " اَلْمُعْتَدِیْ فِی الصَّدَقَةِ كَمَانِعِهَا". رَوَاهُ أَبُوْدَاوْدَ وَالتِّرمِذِیُّ.

ترجمه : او سيدنا انس ﷺ فرمائی، رسول الله ﷺ فرمايلی دی : په زكاة كی زياتے كونكے داسے دے لكه منع كونكے د زكاة (يعنی لكه څنګه چه زكاة نهٔ وركول ګناه ده دغه شان په زكاة كی د واجبے اندازے نه زيات اخستل هم ګناه ده)۔ (ابوداودؒ، ترمذیؒ)

تشريح : اعتداء د حد نه تجاوز ته وائی نو بيا ددے ډير مطلبونه جوړيږی (١) يو دا چه ددے نه مراد مالك شی چه هغه په زكاة وركولو كی تجاوز كوی غير مستحقينو ته ئے وركوی يعنی صحيح مصرف كی ئے نهٔ وركوی كوم چه الله ذكر كړيدی۔

(٢) يا هغه مالك چه په صدقه كی تجاوز كوی چه خپل اهل وعيال ته هيڅ نهٔ پريدی او ټول وركوی۔ (٣) يا هغه مالك چه د ساعی او د زكاة اخستونكی نه بعض مال پټوی دے دپاره چه د هغے نه زكاة وانخلی نو دا داسے دے لكه چه دهٔ ټول زكاة منع كړے وی، د هغه په شان ګنهګار دے۔

(٤) يا ددے نه مراد هغه عامل او زكاة ټولونكے دے چه د واجب اندازے نه زيات او كرهٔ شے اخلی نو دهٔ د حد نه تجاوز وكړو څكه چه دا كله دا كار پدے كال كی وكړی نو مالك به ددهٔ نه په راتلونكی كال كی زكاة منع كړی نو دا سبب د منع شو او مالك چه كله زكاة منع كړو نو دا ساعی ورسره پدے ګناه كی شريك شو۔

(٥) يا مطلب دا دے چه كوم عامل چه په زكاة كی د خپلے واجبے اندازے نه زيات اخلی او په مالكانو مالدارو باندے ظلم كوی نو ددهٔ ګناه په شان د هغه شخص ده چه زكاة نهٔ وركوی او په فقراؤ باندے ظلم كوی چه د هغوی نه زكاة منع كوی۔ نو دغه شان به عامل هم وی چه په مالدارو ظلم كوی چه زيات ترے اخلي۔ ظاهر دا ده چه د

معتدی نه مراد هغه عامل دے چه د زکاة په اخستو کی اعتداء او زیاتے کوی او ددے تائید په حدیث د بشیر بن الخصاصیه کی راغلے دے کوم چه مخکی تیر شویدے: قَالَ قُلْنَا إِنَّ أَهْلَ الصَّدَقَةِ يَعْتَدُوْنَ عَلَيْنَا أَفَنَكْتُمُ مِنْ أَمْوَالِنَا بِقَدْرِ مَا يَعْتَدُوْنَ قَالَ: لَا، رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ۔ (تحفة الاحوذی) لیکن دا نور احتمالات هم صحیح دی او دا حدیث د جوامع الکلم د قبیلے نه دے۔

درجة الحديث: حسن: رواه ابو داود والترمذی باسناد حسن وقد تکلم فی روایه سعد بن سنان قال الجوزجانی: احادیثه واهیة وقال النسائی وابن سعد منکر الحدیث، وقال الدارقطنی ضعیف وقال ابن معین: ثقة ونقل ابن القطان عن احمد توثیقه واحتج به ابن خزیمة فی صحیحه فی غیر ما موضع، وقال الحافظ فی التقریب: صدوق له افراد، فالظاهر انه من رجال الحسن وحدیثه هذا حسن ولذا حسنه المبارکفوری والالبانی ایضاً۔

- 1802 (9) وَعَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: " لَيْسَ فِي حَبٍّ وَلَا تَمْرٍ صَدَقَةٌ حَتّٰى يَبْلُغَ خَمْسَةَ أَوْسُقٍ ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ

ترجمه: او د سیدنا ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل: په دانو او کجورو کی زکاة نشته تردے چه (د هغے اندازه) پنځه وسقو ته ورسیږی۔ (نسائی)۔

تشریح: ابن قدامه رحمه الله په المُغنی (۲/۲۹٤) کی لیکی چه د ټولو اهل عِلمو پدے اتفاق او اجماع ده چه زکاة په څلورو څیزونو کی واجب دے، حِنطه، (غنم) شعیر (وربشے) التمر، (کجورے) الزبیب (وچکے) لکه دا خبره ابن المنذرؒ او ابن عبد البرؒ کریده آه۔ وانظر مغنی المحتاج (۱/۳۸۱)

او ددے څلورو نه ماسوئ څیزونو کی اختلاف دے۔

درے اقوال دی (۱) اول قول دا دے چه هر شے چه د زمکے نه راوځی په هغے کی زکاة واجب دے برابره ده لږ وی که ډیر، او دا قول د علی رضی الله عنه، نخعیؒ، عمر بن عبد العزیزؒ، مجاهدؒ، حمادؒ او داود ظاهریؒ او دا قول د امام ابو حنیفهؒ او زفرؒ دے لیکن دوی ددے نه گیا هګانے، ذُرمے، لرګی، بوس او ځنګلی ونے مستثنیٰ کریدی ځکه چه دا څیزونه خلك په زمکه کی نه کری بلکه خپله راځیږی۔ امام داود ظاهریؒ پکی دا وئیلی دی

چه کوم شے په کیل کی داخلیږی په هغے کی به د نصاب لحاظ ساتلے شی (یعنی خمسة اوسق) او کوم شے چه په کیل کی نهٔ داخلیږی نو د هغے په لړ او ډیر کی به زکاة لازم وی۔ حافظ ابن حجرؒ فرمائی: دا د دوه حدیثو ترمینځ یو قسم جمع ده۔ (یعنی د خمسة اوسق والا او د فیما سقت السماء العشر والا ترمینځ)

دليل: آیت کی دی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ﴾ آیت بقره) نو پدے آیت کی (مِمَّا اَخْرَجْنَا) لفظ عام دے هر شے چه د زمکے نه راوتلے وی په هغے کی به زکاة وی ځکه (أَنْفِقُوا) امر دے او امر د وجوب دپاره وی او قرینه صارفه د وجوب نه نشته۔ علامه آلوسیؒ د عَبِيْدَة السلمانیؒ نه نقل کړیدی چه علی ﷺ فرمایلی دی چه دا آیت د فرضی زکاة په باره کی دے۔ (تفسیر آلوسی ١٣٩/٣)

٢- **دليل**: آیت: ﴿وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ﴾ (انعام: ١٤١)

ددے آیت ظاهر دا تقاضا کوی چه زکاة دے په ټولو فصلونو کی واجب شی۔

٣- **دليل**: حدیث د ابن عمرؓ کی دی: (فِيْمَا سَقَتِ السَّمَاءُ اَوِ الْعُيُوْنُ اَوْ كَانَ عَثَرِيًّا الْعُشْرُ وَمَا سُقِيَ بِالنَّضْحِ نِصْفُ الْعُشْرِ) (رواه الشيخان) لکه دا روایت مخکی ذکر شویدے نو دا حدیث هم عام دے، د بعض فصل د بعضو نه او د بعضو دانو د بعضو نه فرق پکی نهٔ دے ذکر۔

دوی وائی چه کوم احادیثو کی دا خبره راځی چه په خضراواتو (سبزیانو او ترکاریانو) کی زکاة نشته نو هغه ضعیف دی۔

(٢) مالكؒ، شافعیؒ وائی چه په میوو کی صرف په تمر او زبیب کی زکاة دے او په دانو کی به په هغه کی زکاة وی چه هغه قوت وی او ذخیره کیږی۔

(٣) صاحبینؒ وائی چه زمکه کوم شے راوباسی په هغے کی به زکاة نهٔ وی مگر هغه چه د هغے دپاره ثمره باقیه وی او د هغے اندازه پنځو وسقو ته رسیږی۔

(٤) د امام احمدؒ مذهب دا دے چه په هر هغه شی کی به زکاة وی چه هغے راتلونکی صفتونه راجمع کړی وی ١- یعنی کیل (د پیمانی لاندے راځی) ٢- بقاء (چه باقی پاتی کیدے شی) ٣- او وچوالے لری۔ چه هغه دانی وی یا هغه میوے چه بندګان ئے کرونده کوی برابره ده چه قوت وی لکه غنم، وربشے، وریژی (چاول)، جوار، یا هغه دانے

چه ساتلے شی لکه لوبیا، دال، ماش، چنړی، یا مسالے وی لکه کمون، کراویا، یا تخمونه وی لکه د ترئ او د بادرنګ تخم، یا د ترکاریانو دانے وی لکه د مولئ تخم، شرشم او نورے دانے شوے. دارنګه کومے میوے چه دغه صفتونه پکی راځی لکه کجورے، وځکے، بادام، پسته، غوزان، بندق وغیره خو پدے شرط چه دا به پنځو وسقو ته رسیدلی وی، او په باقی فواکه (لامدو میوو) کی به زکاة نهٔ وی لکه آم، مالټه، امرود، سیب، انځران، انار، خربوزه. دغه شان په سبزی جاتو کی زکاة نشته لکه بادرنګ، ترئ، بانجیان، مولئ، ساګ وغیره واخله.

او کوم شے چه د کیل لاندے نهٔ راځی هغے کی به هم زکاة نهٔ وی او د کیل لاندے چه نهٔ راځی د هغے مثال لکه زعفران، مالوچ وغیره شو.

دلیل : حدیث : (فِیمَا سَقَتِ السَّمَاءُ الْعُشْرُ) ددے لفظ عموم دلیل دے چه هر هغه شی ته چه دا لفظ شاملیږی په هغے کی به زکاة وی. ددے نه هغه شے وځی چه د کیل لاندے نهٔ راځی یا دانے نهٔ وی چه هغه معلومیږی د مفهوم ددے حدیث نه : (وَلَیْسَ فِیْ حَبِّ وَلَا تَمْرٍ صَدَقَةٌ حَتّٰی یَبْلُغَ خَمْسَةَ أَوْسُقٍ) (مسلم والنسائی) نو کوم چه د وسق لاندے نهٔ راځی یعنی کیل (پیمانه) کیږی نهٔ په هغے کی زکاة نشته، او کوم چه کیل کیږی یا دانے وی نو په هغے کی به په عموم باندے پاتی وی چه په هغے کی به زکاة واجب وی. (فقه الزکاة للقرضاوی).

(۵) پنځم قول دا دے چه زکاة په کروندو کی نشته مګر صرف په څلور قسمه دانو کی دے، غنم، وربشے، کجورے او وځکے. او دا قول د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما او د موسیٰ بن طلحهؒ، حسن بصریؒ، ابن سیرینؒ، شعبیؒ، حسن بن صالحؒ، ابن ابی یعلیٰؒ، سفیان الثوریؒ، ابن المبارکؒ، یحیی بن آدمؒ، ابوعبیدؒ فی الاموال او دا مذهب د احمدؒ دے په یو روایت کی د هغه نه او دا ابن حزمؒ او شوکانیؒ او صدیق حسن خانؒ او امیر یمانیؒ او شیخ البانی رحمهم الله غوره کړیدے.

دلائل : ۱ـ طلحة بن یحیی عن ابی بردة عن ابی موسیٰ ومعاذ بن جبل اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ بَعَثَهُمَا اِلَی الْیَمَنِ فَأَمَرَهُمَا اَنْ یُعَلِّمَا النَّاسَ اَمْرَ دِیْنِهِمْ : وَقَالَ : لَا تَأْخُذَا فِی الصَّدَقَةِ اِلَّا مِنْ هٰذِهِ الْاَصْنَافِ الْاَرْبَعَةِ، الشَّعِیْرِ، وَالْحِنْطَةِ وَالزَّبِیْبِ وَالتَّمْرِ) دارقطنی (۱: ۲۰۱) والحاکم (۱/۵۵۸) وصححه ووافقه الذهبی وقال الهیثمی رجاله رجال الصحیح ونقل الحافظ فی

التلخیص عن البیهقی انه قال: رواته ثقات وهو متصل)۔
(رسول الله ﷺ ابوموسیٰ او معاذ بن جبل رضی الله عنهما یمن ته ولیږل نو دواړو ته ئې دا حکم وکړو چه خلکو ته دیني احکام بیانوئ او دا ئې هم ورته وفرمایل چه زکاة به صرف ددې څلورو قسمه څیزونو نه اخلئ: وریشې، غنم، وچکې او کجورې)۔
نو دا صحیح صریح حدیث دې او د قرآن او د مخکنی حدیث په عموم کې تخصیص پیدا کوی او دا مقام د بیان دې او نبی ﷺ تخصیص وکړو نو که په نورو څیزونو کې زکاة واجب وې نو هغه به ئې هم ورته بیان کړې وې۔ پدې کې چه څوك دا جواب کوی چه دا حصر اضافي دې په نسبت سره هغه څیزونو ته دې چه په هغه زمانه کې د خلکو سره موجود وو نو دا جواب بې دلیله او د ظاهر خلاف دې۔ او ددې روایت په رفع او وقف کې چه کوم اختلاف دې هغه شیخ البانیؒ په ارواء الغلیل (۳/۲۷۷) کې تفصیلًا ذکرکړیدې چه دا حدیث مرفوع دې، موقوف نشي کیدې۔
۲- **دلیل**: د عبد الله بن عمرؓ نه نقل دی: صَدَقَةُ الثِّمَارِ وَالزَّرْعِ مَا كَانَ مِنْ نَخْلٍ أَوْ عِنَبٍ أَوْ زَرْعٍ مِنْ حِنْطَةٍ أَوْ شَعِيرٍ) ابوعبید فی الاموال (۴۲۲) والسنن الکبری للبیهقی (۴/۱۳۰) وابن ابی شیبة (۱۰۱۷۹) وسنده صحیح) (زکاة د میوو او د فصلونو دا دې چه د کجورو نه وی یا د انګورو یا د غنمو یا د وریشو نه وی)۔
۳- **دلیل**: امام بیهقیؒ د مجاهدؒ نه نقل کړیدی چه هغه فرمائی: (لم تکن الصدقة فی عهد رسول الله ﷺ الا فی خمسة فذکرها) د رسول الله ﷺ په زمانه کې زکاة صرف په پنځه څیزونو کې وو، بیا ئې هغه ذکر کړل۔
٤- **دلیل**: حسن بصریؒ او ابن سیرینؒ فرمائی: (اَلصَّدَقَةُ فِيْ تِسْعَةٍ: الذَّهَبِ وَالْوَرِقِ وَالْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالتَّمْرِ وَالزَّبِيبِ)۔ زکاة په نهه څیزونو کې دې، سره، سپین، اُوښان، غواګانې، ګډې بزې، غنم، اُوریشې، کجورې او وچکې۔
۵- **دلیل**: بیهقیؒ د سفیان بن عبد الله الثقفیؓ نه روایت راوړیدې: چه دهٔ عمر بن الخطاب ته ولیکل- او دا پدې وخت کې د عمرؓ د طرفنه په طائف باندې عامل وو: (إِنَّ قِبَلَهٗ حِيْطَانًا فِيْهَا كُرُوْمٌ وَفِيْهَا مِنَ الْفِرْسِكِ اَىِ الْخُوْخِ وَالرُّمَّانِ مَا هُوَ أَكْثَرُ غَلَّةً مِنَ الْكُرُوْمِ أَضْعَافًا فَكَتَبَ إِلَيْهِ يَسْتَأْمِرُهٗ فِي الْعُشْرِ فَكَتَبَ إِلَيْهِ عُمَرُ: إِنَّهٗ لَيْسَ عَلَيْهَا عُشْرٌ، قَالَ هِيَ الْعِضَاهُ كُلُّهَا فَلَيْسَ عَلَيْهَا عُشْرٌ (السنن الکبری للبیهقی ٤/١٢٥) -یعنی دهٔ سره باغونه دی

او په هغې کې انګور دي او په هغې کې امرود او انار دي چه هغه د انګورو نه په ډيرو چندونو قیمتي دي نو دۀ د عمر نه د هغې د عشر په باره کې مشوره اخسته نو عمر فاروق ورته وليکل چه پدې کې عشر نشته بلکه دا ځنګلي وني حسابيږي او په هغې کې عشر نۀ وي) بيا بيهقيؒ فرمائي: او دا قول د مجاهدؒ او د حسن بصريؒ او نخعيؒ او عمرو بن دينارؒ دے او دا مونږ ته د فقهاءِ سبعهؒ نه رانقل شويدے۔

٦- **دليل:** علامه ابن حزم رحمه الله د نبي ﷺ ددے قول نه استدلال کړيدے: (لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ اَوْسُقٍ تَمْرٍ وَلَا حَبٍّ صَدَقَةٌ) هغه فرمائي: چه حب په لغت کې صرف په غنم او وريشو باندے اطلاق کيږي۔

۷- **دليل:** امام شعبيؒ نه نقل کړيدي: (كَتَبَ النَّبِيُّ اِلَى اَهْلِ الْيَمَنِ: اِنَّمَا الصَّدَقَةُ فِي الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالتَّمْرِ وَالزَّبِيبِ) (بيهقی ۱۲۹/٤)

(نبي کريم ﷺ يمن والو ته وليکل چه زکاة صرف په غنمو، وريشو، کجورو او وچکو کې دے۔

بيا امام بيهقيؒ فرمائي: ددے مراسيلو طرق مختلف دي او دا د يو بل تائيد او تاکيد کوي او ددے سره حديث د ابوموسى الاشعري ﷺ او ددے سره قول د عمر فاروق او علي بن ابي طالب او عائشے (رضي الله عنهم) ملګرے دے چه په خضراواتو کې زکاة نشته۔

او دا قول ابوعبيدؒ په کتاب الاموال کې غوره کړيدے او دائے وئيلي دي چه نبي ﷺ ته دا معلومه وه چه د خلکو نور مالونه هم شته چه د زمکو نه راوځي او بيا هم نبي ﷺ په هغې کې زکاة بيان نۀ کړو دا دليل دے چه د هغې نه زکاة معاف دے لکه څنګه ئے چه د اسونو او غلامانو نه زکاة معاف کړيدے، او نظر او تشبيه او تمثيل (يعنى قياسونو) ته په ضرورت هله راپيښيږي چه د رسول الله ﷺ سنت نۀ وي موجود او کله چه سنت موجود شو نو په خلکو لازم دي چه د هغې اتباع وکړي۔ کتاب الاموال (٤۲۷)

۹- رَوَى مُوْسَى بْنُ طَلْحَةَ: اَنَّ مُعَاذًا لَمْ يَاْخُذْ مِنَ الْخَضْرَاوَاتِ صَدَقَةً) (رواه ابن ابي شيبة ۱۹/٤) ارواء الغليل (۲۷۹/۳) وهذا الحديث روى بطريق الوجادة فلا وجه لضعفه بالارسال فان موسىٰ يقول كان عندنا كتاب معاذ) ۔ موسىٰ بن طلحةؒ فرمائي: مونږ سره د معاذ خط وو چه په هغې کې دا وو چه سبزي جاتو کې زکاة نشته۔ او د ترمذيؒ (۱۹۸/۱) په روايت کې داسے دي چه معاذ ﷺ نبي ﷺ ته خط وليکلو چه د

خضراواتو په باره کې يې ترې تپوس کولو نو نبي ﷺ وفرمايل: (لَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ) پدې کې هيڅ نشته۔ او دا حديث په مجموع الطرق سره صحيح دے او امام ترمذیؒ وائي: (وَعَلَيْهِ الْعَمَلُ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّهُ لَيْسَ فِي الْخَضْرَاوَاتِ صَدَقَةٌ) ۔ (او پدے باندے عمل دے په نيز د اهل علمو چه په سبزيانو کې زکاة نشته)۔

علامه ابوالحسن المبارکفوریؒ پدے باب کې ډير روايات راجمع کړيدي چه اکثر ضعيف دي او د ډير تفصيل نه روستو يې فرمايلي دي چه زما په نيز ډير راجح او ډير قوي مذهب د داود ظاهريؒ دے بيا د هغه چا دے چه وائي عشر صرف په څلورو خيزونو کې دے۔(المرعاة ٦/٨٢)۔

خلاصه : ثابته شوه چه غوره مذهب دا دے چه صرف په دغه څلورو خيزونو کې زکاة لازم دے پدے شرط چه پنځو وسقو ته رسيدلي وي او باقي په نورو دانو کې لکه وريژے، جوار او نورو ونو کې يعني ګنې او سبزياني او دراني فروټ کې زکاتونه نشته۔ او دا ذکر شوي حديثونه مخصص دي هغه احاديثو لره چه په هغے کې عموم ذکر دے۔

درجة الحديث : سنده صحيح، رواه مسلم والنسائي وكان ينبغي ايراده في الفصل الاول۔

- 1803(10) وَعَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ قَالَ : عِنْدَنَا كِتَابُ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ : إِنَّمَا أَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ الصَّدَقَةَ مِنَ الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ. مُرْسَلٌ رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ

ترجمه : او موسیٰ بن طلحهؒ فرمائي : مونږ سره د معاذ بن جبل ﷺ هغه خط دے چه نبي ﷺ هغه ته ليږلے وو، نو معاذ وفرمايل: چه نبي ﷺ دۀ ته (يعنی ما ته) حکم کړے وو چه دے دے زکاة د غنمو، وريشو، د ځکو او کجورو نه واخلي۔ (دا حديث مرسل دے او په شرح السنه کې يې نقل کړيدے)۔

تشريح : موسى بن طلحه بن عبيد الله القرشي التيميؒ کنيه يې ابوعيسى او ابومحمد المدني ده کوفه کې وسيدلے دے، ثقه جليل القدر تابعي دے۔ ابن عساکرؒ ليکي : بعض اهل تاريخ وائي چه دا د نبي ﷺ په زمانه کې پيدا شويدے او نبي ﷺ ورله موسیٰ نوم ايښے دے۔ حافظؒ وائي د داسے ماشومانو چه د نبي ﷺ په زمانه کې

پیدا وي او زمانے د تمییز ته نهٔ وي رسیدلی نو د محققینو په نیز به د دوی احادیث د نبی ﷺ نه مراسیل حسابیږي۔

ددے حدیث تشریح په مخکي مسئله کي تیره شوه او دا حدیث اګرکه مرسل دے لیکن دا ارسال ضرر نهٔ ورکوی ځکه چه ددے حدیث دپاره نور طرق دی څه متصل دي او څه مرسل۔ او موسیٰ بن طلحه (کوم چه دا حدیث مرسل ګرځولے دے) خپله پدے حدیث باندے استدلال کریدے چه په سبزی جاتو کی زکاة نشته ځکه حجاج بن یوسف موسیٰ بن مغیره مقرر کړو چه زکاة راوړه نو هغه د موسیٰ بن طلحه نه مطالبه وکړه چه ستاسو په سبزیانو کی زکاة راکړه نو هغه ورته دا حدیث ووئیلو چه نبی ﷺ فرمائی: په سبزیانو کی هیڅ شے نشته۔ نودوی خبره حجاج ته پورته کړه حجاج ولیکل چه موسیٰ بن طلحهٔ د موسیٰ بن مغیرهٔ نه ډیر اعلم دے۔(بیهقی ١٢٩/٤)۔

دویم علامه البانیؒ فرمائی چه دا روایت مرسل هم نهٔ دے ځکه چه دلته راوی (موسیٰ) داسے الفاظ وئیلی دی: (عِنْدَنَا كِتَابُ مُعَاذٍ) نو دا د باب د وِجاده نه دے (وِجاده دیته وائی چه یو راوی ووائی چه ما د فلانی په کتاب کی وکتل چه داسے ئے فرمایلی دی) او وِجاده په نیز د محققینو د مصطلح الحدیث باندے حجت دے او په وجاده کی هیچا دا نهٔ دی وئیلی چه لقاء د صاحب کتاب شرط ده، خاصکر دلته موسیٰ ثقه هم دے او زمانه د کتاب هم نیزدی ده۔

درجة الحديث: صحيح: رواه في شرح السنة بسند منقطع ولكنه انجبر بان موسى بن طلحة تابعي كبير لم ينكر له ان يدرك ايام معاذ اى لاينكر له لقى معاذ قاله الحاكم وقال ميرك: فيه شائبة الاتصال بواسطة الوجادة ان صح ان الكتاب بخط معاذ) وفى معناها احاديث ذكرناها في المسئلة۔

- 1804(11) وَعَنْ عَتَّابِ بْنِ أَسِيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ فِيْ زَكَاةِ الْكُرُوْمِ: "إِنَّهَا تُخْرَصُ كَمَا تُخْرَصُ النَّخْلُ ثُمَّ تُؤَدّٰى زَكَاتُهُ زَبِيْبًا كَمَا تُؤَدّٰى زَكَاةُ النَّخْلِ تَمْرًا". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه: او د سیدنا عتاب بن اسید ؓ نه نقل دی چه یقیناً نبی ﷺ د انګورو د زکاة په باره کی وفرمایل: چه دا به اټکل کولے شی (یعنی داسے اندازه به ئے کولے شی)

لکه څنګه چه کجورے اټکل کولے شي (اندازه کولے شي) بیا به ددے زکاة د وچکو په صورت کي ادا کولے شي (یعني چه اُنګور وچ شي نو په هغه وخت به ترے زکاة ادا کړے شي) لکه څنګه چه د کجورو زکاة د وچو کجورو په صورت کي ادا کولے شي (یعني د وچیدو نه روستو د کجورو زکاة ادا کولے شي)۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ)

تشریح : عتاب بن اسید بن ابی العیص بن امیه بن عبد شمس الاموی المکی صحابي دے او دا د نبی ﷺ په زمانه کي د مکے امیر وو او واقدیؒ وائي په کومه ورځ چه ابوبکر رضی الله عنه وفات شو نو دے هم په همغه ورځ وفات شو، لیکن طبرانیؒ ذکر کړیدی چه دا د عمر فاروق رضی الله عنه دپاره په سنه (۲۱ ھ) کي د مکے ګورنر وو کذا في التقریب۔

اِنَّهَا تُخْرَصُ : د خرص (اټکل اندازه کولو) صورت دا دے چه د چا باغ دے اول به حکومت خپل عامل ولیږي چه دا باغ اندازه کړه چه څومره کجورې یا انګور کوی مثلًا او دا به په هغه وخت کي ورلیږي چه باغ کچه وی میوه پوره نهٔ وی پخه شوی نو عامل به اندازه ولګوی چه مثلًا پدے باغ کي تقریباً اُوس لس وسقه کجورې دی او چه کله راوشوکیږي او وچے شي نو نهه وسقه جوړیږي او دا کار به تجربه کار امانتدار عامل کوی چه ښه اندازه کولے شي، نو بیا چه کله عامل د عشر د اخستو دپاره راشي یعني باغ پوخ شي راوشوکولے شي، نو پدے کي به باغ والا ته دریمه حصه یا څلورمه حصه پریدي او د باقي نه به عشر واخلي دا ددے دپاره چه مالك د باغ د هغے نه خپلوانو دوستانو او میلمنو ته صدقه ورکړي او خپل کور ته هم څه پاتي کړي او د ټول مال عشر به ترے نهٔ اخلي او دا د شریعت آساني ده چه مالکانو سره ئے کړیده، او حکمت پدے خرص او اټکل کي دا دے چه دفع د خیانت راشي ځکه چه دا ممکن ده چه بعض باغ والا وائي چه باغ هیڅ نهٔ دی کړي یا لږ ښکاره کوی دے دپاره چه عامل ترے دیر وانخلي نو کله چه عامل د مخکي نه اټکل اندازه لګولي وی نو بیا به باغ والا خیانت نشي کولے، دروغ به نشي وئیلے نو ددے اټکلي اندازے مطابق به ترے عشر اخلي پدے کي که کوم کمے زیاتي وشي نو هغه معاف دے، البته که مالك ته پته ولګیده چه خارص (اټکل کونکے) خطاء شویدے او عشر ئے کم اخستے دے نو زیات به ورکړي او که عامل ته پته ولګیده چه ما عشر زیات اخستے دے نو بیرته به ئے مالك ته واپس کړي هریو به د بل خیرخواهي کوی، که خارص زیات واخستل نو په مالك به ظلم

کوی او کـه قـصداً خارص کم واخستل نو په فقراؤ باندے ئے ظلم وکړو او د هغوی حق ئے ساقـط کړو او دا دواړه کاره ظلم او عدوان دے، بیا که مالك دا دعوه وکړه چه خارص ظلـم کـړیدے یا په اندازه کی خطاء شویدے نو د مالك خبره به هله منلے شی چه گواه راوړی دا پـه هـغـه وخـت کـی چه خارص عـادل او نیك انسان وی۔ (الـمـحـلـی لابن حزم۵/۲۰٦)۔ او دے اټکل لره شریعت اعتبار ورکړیدے او خارص به ددے اټکل مطابق عشر اخلی۔

امام ابوحـنـیـفةؒ او صاحبینؒ دا اټکل نۀ منی بلکه وائی چه په خرص باندے به عمل نشی کیدے بلـکـه ټول حاصـل بـه لس حصے کړے شی او د هغے نه به عشر (لسمه حـصـه) زکاة کی ورکړے شی برابره ده که اټکل ددے برابر راوتے وی او که کم یا زیات وی خو اعتبار ورله نشته۔

او د هـغـوی مـقـلـدیـن ددے حـدیـثـونو نه بی ځایه عذرونه کوی (۱) یو دا چه دا ټول احادیث پدے باره کی ضعیف دی۔

جواب دا دے چه د ضعف دعوه خطاء ده بلکه پدے باره کی صحیح احادیث موجود دی لیـکـن دا قـانـون دے چه د یـو مـذهـب والا د مـذهـب خلاف احادیث راشی هغه یا منسوخ کوی یا ئے ضعیف کوی او دا غټ ظلم دے۔

(۲) کـلـه وائـی : د قـمـار (جواریٔ) په باره کی آیت باندے دا احادیث منسوخ دی ځکه چه دا خرص جواری ده او رجم بالغیب او ظن او تخمین دے نو اعتبار ورله نشته۔

(۳) کله وائی : دا په آیت د ربا باندے منسوخ دی۔

جواب دا دے چـه دا د جواریٔ صورت نۀ دے ځکه چه عامل دا تخمین ددے دپاره کوی چـه مـالك سـره احسان وکړی او څه ورته پریدی او پوره حساب ورسره ونکړی۔ دویم دا چه په جواریٔ کی د بل طرفنه عوض وی نو دلته خو حکومت څه عوض نۀ ورکوی۔

۳- دریـم دا چـه دا چا وئیلی دی چه آیت د جواریٔ ددے احادیثو نه روستو دے، زمانه د تقدم او تأخر نۀ ده معلومه۔

(٤) کـلـه وائی چه دا د نبی ﷺ پورے خاص وو ځـکـه چه د هغه تخمین به صحیح کیدو۔ **جواب** دا دے چه نبی ﷺ خـو خراصین لیږلی دی لکه روستو راځی چه عبد الله بن رواحه ﷺ ئے پدے مقرر کړے وو۔

(٥) كله وائي چه په حديث كي د خرص نه منع راغلي ده۔
جواب دا دے چه كومه منع د خرص نه راغلي ده هغه په مزارعه او مساقات كي مراد ده نۀ په زكاة كي۔ بالفرض كه خرص نه منع هم وشي نو دا خرص به مستثنىٰ وي په نص د رسول الله ﷺ سره لكه څنگه چه د بيع مزابنے نه عرايا مستثنىٰ شويدى۔
(٦) كله وائي : دا خرص به په اهل ذمه كيدے شي نۀ په مسلمانانو باندے۔ جواب دا هم غلطه ده ځكه چه رسول الله ﷺ په يوے مسلمانه زنانه هم دا كار كړے وو لكه بخاري باب الزكاة او مشكاة باب المعجزات كي به راشي او رسول الله ﷺ په هغے باندے لس وسقه اټكل شمارلي وو او همغه شان وختل لكه مخكي هم تير شو۔
او دا مذهب د عامو صحابه كرامو او تابعينو دے او صريح صحيح احاديث پكي موجود دي۔
١- حديث : اول دا حديث الباب صريح دے چه خرص له اعتبار شته۔
٢- حديث د ابوحميد الساعدي ؓ عند الشيخين كي داسے دي : نبي ﷺ په وادي القرىٰ كي د يوے ښځے د باغ اټكل وكړو په لسو وسقوسره بيا ئے ښځے ته ووئيل چه ته خپل باغ اندازه كړه هغے چه اندازه كړو نو لس وسقه برابر راوختل۔ د نبي ﷺ اندازه بالكل د واقع برابره شوه۔
٣- روستو حديث د عائشة رضي الله عنها راروان دے۔
٤- حديث : حديث د سهل بن ابي حثمه ؓ إِذَا خَرَصْتُمْ ...... الخ
اجوبة : صاحب د ((عرف شذي)) او صاحب د ((الكوكب الدري)) احنافو ته دا منسوب كړيده چه احناف هم د خرص د جواز قائل دي نو دا خبره د ټولو شراح الحديث نه مخالفه ده او نۀ د فقه حنفي د فروعو په كتابونو كي ددے خبرے څه ثبوت شته بلكه دوي دا خبره ددے وجه نه كړيده چه دوي د احنافو دا قول د سنت ثابته صريحه مخالف وليدلو نو دوي د خرص د جواز قول وكړو او دے له ئے اعتبار وركړو او بيا ئے ددے نسبت احنافو ته وكړو او د هغوي مذهب ئے وګڼرلو دے دپاره چه څوك پرے دا الزام ونۀ لګوي چه دوي سنت ګوزار كړو او د سنت مخالفت ئے وكړو۔ (انظر المرعاة ١٥١/٦) ديته مذهب پرستي وائي۔ اعاذنا الله منه۔
پكار دا ده چه داسے ئے ويلي وے چه دے مسئله كي زمونږ د احنافو مذهب صحيح

نۀ دے لیکن مقلد ددے خبرے طاقت نۀ لری چه داسے ووائی۔

كَمَا تُخْرَصُ النَّخْلُ ثُمَّ تُؤَدِّى زَكَاتُهُ زَبِيْبًا : مطلب دا دے چه کله په انګورو او کجورو کی خوند پیدا شی (یعنی د بُدُوُّ الصلاح په وخت کی) چه خوراك ته نزدے شوی وی نو دا به عامل په مالك باندے اندازه کری او عامل به داسے اندازه لګوی چه دا انګور چه کله وچکے شی نو څومره به جوړیږی؟ او دغه شان دا تازه کجورے که وچی شی نو څومره به جوړیږی نو بیا به وګوری که نصاب ته رسیدل نو په هغے کی به زکاة لازم وی او که نصاب ته نۀ رسیدل نو زکاة به پکی واجب نۀ وی۔ بیا چه زکاة اخلی نو د وچوالی نه روستو به په اندازه د اټکل باندے وچے کجورے یا وچکے واخلی۔

امام خطابیؒ وائی چه هغه میوه به اندازه کوی کومه چه په سترګو باندے ښکاره ښکاری او څه پرده ئے مخے ته نۀ وی او د ونو په پاڼرو کی پټ نۀ وی الخ۔

تنبیه : دا خبره یاد ساته چه پدے خرص باندے به عمل صرف په انګورو او کجورو کی کولے شی باقی فصلونو کی خرص (اټکل اندازے) نۀ چلیږی ځکه چه په هغے کی نص نۀ دے راغلے او نۀ هغه په معنیٰ د منصوص علیه کی دی ځکه چه د کجورو او انګورو میوه لامده خوړلے شی نو دا به په مالکانو اندازه کړے شی دے دپاره چه هغوی باندے فراخی راشی چه هغوی د باغ نه کومه میوه خوری او تصرف پکی کوی کولے ئے شی بیا به د هغے نه زکاة په اندازه د اټکل باندے ادا کری، دارنګه انګور او کجورے داسے میوه ده چه په یو ځای جمع وی نو ددے اټکلی اندازه لګول د نورو په نسبت آسان وی او دا قول د عمر بن الخطابؓ، سهل بن ابی حثمهؓ، مروانؒ، قاسم بن محمدؒ، حسن بصریؒ، عطاءؒ او زهریؒ او مالكؒ او جمهورو علماؤؒ دے۔

درجة الحديث: حسن الاسناد مرسلا۔ رواه الترمذی وابوداود ومراسيل سعيد بن المسيب حجة اذا وجد ما يعضدها وهو ههنا يعتضد بقول اكثر الائمة والصحابة والتابعين والحديث قد حسّنه الترمذی وقال الحافظ فی تهذيب التهذيب والاصابة : سماع سعيد بن المسيب من عتاب ممكن، وقد روى الدارقطنی هذا الحديث موصولا عن سعيد بن المسيب عن المسور بن مخرمة عن عتاب وفيه عبد الرحمن بن اسحاق وهو حسن الحديث احتج به مسلم واصحاب السنن فالظاهر ان الحديث موصول حسن۔

المرعاة (٦/٦ه١)

- 1805(12) وَعَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِيْ حَثْمَةَ حَدَّثَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ: " إِذَا خَرَصْتُمْ فَخُذُوْا وَدَعُوا الثُّلُثَ فَإِنْ لَمْ تَدَعُوا الثُّلُثَ فَدَعُوا الرُّبُعَ. "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: او سيدنا سهل بن ابى حثمه ﷺ بيان كړيدى چه رسول الله ﷺ به فرمايل : كله چه تاسو (د يو باغ) اټكل كوئ (اندازه لګوئ) نو (د هغې نه دوه دريمې) واخلئ او (يوه) دريمه برخه (مالكانو ته) پريدئ، كه دريمه برخه نشئ پريخودے نو څلورمه برخه پريدئ- (ترمذیؒ، ابوداوُدؒ، نسائیؒ)-

تشريح: پدے حديث كى زكاة راټولونكو عاملانو (مُصدقينو) ته خطاب دے-

١- مطلب د حديث دا دے چه كله تاسو د باغ اټكل اندازه ولګوله نو اندازه د زكاة بيان كړئ چه دومره دومره زكاة به پدے باغ كى لازميږى بيا چه كله باغ راپريكړے شى نو د هغه مقدار زكاة دوه حصے واخلئ او يوه حصه مالكانو ته پريدئ كه يوه يعنى دريمه حصه نهٔ پريدئ نو بيا څلورمه حصه پريدئ يعني عامل به مصلحت ته ګورى كه د مالكانو باغ كم وو او د هغوى كورنئ او خرچه زياته وه نو دريمه حصه به ورته پريدى او كه باغ زيات وو او د مالك خرچه او اخراجات كم وو نو بيا به ورته څلورمه حصه پريدى دے دپاره چه مالكان ئے په خپلوانو او ګاونډيانو او سائلينو باندے صدقه كړى او دے دپاره چه په مالكانو باندے فراخي راشي او د هغوى په مال باندے نقصان رانشى ځكه كه زكاة هم ترے پوره واخستے شى او بيا به هغه كره ميلمانه يا ګاونډيان يا خپلوان راځى او د باغ نه به ورته څه وركوى نو كور والا ته به دومره څه پاتى نشى نو په هغوى به تنګى راشى نو شريعت د مالكانوسره دا آسانى وكړه-

٢- امام شافعى رحمه الله فرمائى : زكاة به ترے واخلى بيا به دريمه يا څلورمه حصه د زكاة مالكانوته وركړى چه تاسو ئے په خپل صوابديد سره په خپلو خپلوانو او ګاونډيانو تقسيم كړئ، يعنى ټول زكاة به ترے بيت المال ته نهٔ وړى بلكه دغه ثلث يا ربع به باغ ته نزدے ګاونډيانو او خپلوانو ته وركړى-

٣- او بعض وائى چه مالك ته او د هغه اهل او كورنئ ته به د هغوى د خوراك په اندازه څه پريدى او هغه به په اټكلى اندازه كى نهٔ راولى-

٤- بعض وائى چه د زكاة نه مخكى به مالكانو ته څه خاص ونے او بوټى پريدى دے

دپاره چه هغوی ترے خوراك كوی او كاونديانو او خپلوانو ته ترے صدقه وركوی. او د جابر ﷺ ديو ضعيف مرفوع روايت نه داسے معلوميږی چه ددے نه په خرص (يعنی اټكلی اندازه) كی تخفيف مراد دے يعنی اټكلی اندازه به ډير په وقت سره نۀ كوی بلكه آسانی به پكی كوی، مالكانو ته به خامخا د ثلث يا ربع په اندازه څه پريدی. (وفي سنده ابن لهيعة عن ابى الزبير).

فَخُذُوا : يعنی واخلئ دوه حصے او پريدئ دريمه حصه. يا واخلئ زكاة د هغه مال چه اندازه كړے وی تاسو كه چرته د آفت او مصيبت نه بچ پاتے شوے وی.

او د (إِذَا خَرَصْتُمْ) نه روستو خبره پته ده : يعنی كله چه تاسو اندازه ولګوله او بيا مالكانو د باغونو ميوه پريكړه نو د اندازه كړے شوی مال زكاة واخلئ.

په بعضو نسخو د ابوداود كي دا لفظ (فَجُذُّوا) په ذال سره دے، جذ په معنىٰ د قطع (پريكولو) سره دے. او په بله يوه نسخه كی (فَجُدُّوا) په دال سره دے دا هم په معنىٰ د قطع سره دے. او معنىٰ ئے دا ده چه كله تاسو خرص وكړو نو مالكانو ته په پريكولو كی رخصت وركړئ. او ثلث ورته پريدئ.

درجة الحديث: حديث صحيح وهذا اسناد فيه مقال رواه ابوداود والترمذی والنسائی واحمد وابن حبان والحاكم والبيهقی وقال شعيب الارناووط : حديث صحيح وهذا اسناد ضعيف لضعف عبد الرحمن بن مسعود بن نيار الراوي عن سهل، وقال المباركفوری عبد الرحمن ذكره ابن حبان فی الثقات وقال الحافظ فی التقريب : انه مقبول وقال الحاكم : وله شاهد باسنادٍ متفقٍ علی صِحَّتِهِ ان عمر بن الخطاب امر به للخراص، وقال الاعظمی : اسناده صحيح، تعليق صحيح ابن خزيمة (٢٣٢٠) وقال حسين سليم اسد : اسناده جيد (تعليق سنن الدارمی ٢٦١٩).

- 1806 (13) وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَبْعَثُ عَبْدَ اللهِ بْنَ رَوَاحَةَ إِلٰى يَهُوْدَ فَيَخْرُصُ النَّخْلَ حِيْنَ يَطِيبُ قَبْلَ أَنْ يُؤْكَلَ مِنْهُ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : نبی ﷺ به عبد الله بن رواحه (ﷺ) يهوديانو ته ليږلو نو هغه به د كجورو اټكل كولو كله چه به مزيدارے شوے (خوند به پكی پيدا شو) مخكی ددے نه چه د هغے نه خوراك وكړے شی (يعنی د خوراك قابلے

به لا نهٔ وي) (ابوداوڈ)

تشریح : حِيْنَ يَطِيْبُ : د ضرب يضرب نه دے مزيدار كيدو ته وائى. يعنى دا اټكلى اندازه به ئے په هغه وخت كى لګوله چه كله به په كجورو كى خوند ښكاره شو او لا د خوراك به نهٔ وے.

مطلب د حديث دا دے چه نبى ﷺ كله خيبر فتح كرو نو يهوديانو سوالونه شروع كړل چه مونږ ددے ځاى نه مهٔ اوباسئ مونږ به ستاسو دپاره دا باغونه كرو او ساتو به ئے، كوم حاصل چه راووتو نيم به مونږ اخلو او نيم به تاسو نو نبى ﷺ ورسره دا خبره ومنله دے دپاره چه صحابه كرامؓ ددغه مشقت نه خلاص شى. بيا به چه كله باغونو ميوه ونيوله نو نبى ﷺ به د هغوى پسے عبد الله بن رواحه ؓ د اټكلى اندازے لګولو دپاره وليږلو دے دپاره چه يهود غلاونكړى او صحيح طريقے سره اندازه ولګولے شى دے دپاره چه د صحابه كرامؓ غانمينو د برخے نه زكاة په صحيح طريقه وركړے شى. ځكه كه يهوديان داسے پريدى او هغوى د باغونو نه تازه په تازه خوراكونه كوى او په خپله خوښه پكى تصرف كوى او روستو بيا د هغے اندازه ولګولے شى نو دا به د مسلمانانو په حق كى نقصان وى نو د مخكى نه به ئے د هغے معلومات وكړو دے دپاره چه يهوديان د مسلمانانو په خصه كى تصرف ونكړى.(ابن عبد البرؒ)

ينظر (عون المعبود ٣/٢٧٤)

بعض وائى : دا اټكلى اندازه ئے دے دپاره لګوله چه تقسيم په صحيح طريقه سره معلوم شى ځكه چه د دواړو فريقينو حاجتونه مختلف دى نو دا خرص د تقسيم دپاره وو. ليكن په روايت د عبد الرزاق كى داسے الفاظ دى :

(وَاِنَّمَا كَانَ اَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِالْخَرْصِ لِكَىْ تُحْصَى الزَّكَاةُ الخ).

رسول الله ﷺ د خرص حكم دے دپاره كړے وو چه د زكاة اندازه معلومه شى).

او په كافر باندے خو زكاة نشته نو دے دپاره چه د مسلمانانو د زكاة د برخے نه يهوديان خوراك ونكړى د مسلمانانو مسكينانو برخے ته به نقصان ورسى نو د مخكى نه معلومول پكار دى چه هغه اندازه بيا زكاة وركړے شى.

په روايت د موطأ كى دى چه عبد الله بن رواحه ؓ چه به كله خرص وكړو نو يهوديانو ته به ئے ووئيل كه ستاسو خوښه وى نو دا ميوے تولے تاسو واخلئ او د

مسلمانانو د حصے ضمانت واخلئ او كه خوښه وي نو تول به مونږ واخلو او ستاسو د حصے په اندازه به مونږ ضمانت واخلو نو هغوي تولے ميوے واخستے او په روايت د ابوداود كې په كتاب البيوع كې د جابرؓ په روايت كې داسے وئيلي دي چه عبد الله بن رواحه ﷺ دا څلويښت زره وسقه اندازه كړل او يهوديانو د اختيار نه روستنو ميوه واخسته او په ځان باندے ئے شل زره وسقه وومنل۔

درجة الحديث: حديث صحيح وسنده منقطع رواه ابوداود في الزكاة وفي اسناده رجل مجهول لكن اخرج هو ايضاً في آخر البيوع شاهداً له من حديث جابر برجال ثقات، يرجع الى المرعاة ٦/١٦٠)۔

- 1807(14). وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِي الْعَسَلِ: "فِيْ كُلِّ عَشْرَةِ أَزُقٍ زِقٌ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: فِيْ إِسْنَادِهٖ مَقَالٌ وَلَا يَصِحُّ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ فِيْ هٰذَا الْبَابِ كَثِيْرُ شَيْءٍ.

ترجمه: او عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فرمائي: رسول الله ﷺ د شهدو په باره كې فرمايلي دي: په هر لسو مشكونو (تپكو) كې يو مشك (تپكه د زكاة په طور واجب) ده۔ (ترمذيؒ) او امام ترمذيؒ وئيلي دي چه ددے په سند كې كلام كړے شويدے او د نبي ﷺ نه پدے باب كې ډير احاديث (چه نقل شويدي هغه) صحيح نهٔ دي۔

تشريح: زِقٌ مفرد او ازق ئے جمع قلت ده، زق د څرمنے لوښے چه په هغے كې غوړي او شات وغيره اچولے شي۔ ددے روايت نه معلوميږي چه شاتو كې هم زكاة شته ليكن پدے كې د علماؤ اختلاف دے۔

مسئله: آيا په عسل (شاتو) كې زكاة شته؟

(۱) احناف او حنابله او ابويوسف، محمد، اسحاق، مكحول، زهري، سليمان بن موسىٰ، ربيعه، يحيي بن سعيد او ابن وهب رحمهم الله وائي چه په شاتو كې عشر لازم دے۔ بيا احناف پكې دا فرق كوي كه شات د عشري زمكے نه حاصل شو نو عشر پكې لازم دے او كه د خراجي زمكے نه حاصل شو نو هيڅ پكې نشته۔ او د حنابله ؒ په مذهب فرق د عشري او خراجي زمكے نشته او وائي چه په لسو تپكو كې به يوه تپكه لازمه وي۔

(۲) په شاتو كې زكاة نشته، دا قول د مالك، شافعي، ابن ابي ليليٰ، حسن بن صالح،

ابن المنذر، الثوری، ابوثور، داود ظاهری او ابن حزم رحمهم الله – دے۔ او دا قول د علی بن ابی طالب، عبد الله بن عمر او معاذ بن جبل رضی الله عنهم دے۔ او په تابعینو کی دا قول د مغیره بن حکیمؒ، عمر بن عبد العزیزؒ دے (کما رواه ابن ابی شیبة باسناد صحیح)۔ ابن المنذرؒ لیکی چه د شاتو په باره کی ثابت (یعنی صحیح) خبر نشته او نۀ اجماع شته نو بس زکاة پکی نشته او دا قول د جمهورو دے۔ امام ترمذیؒ فرمائی: لَایَصِحُّ فِیْ هٰذَا عَنِ النَّبِیِّ ﷺ کَبِیْرُ شَیْءٍ) (د نبی ﷺ نه ددے په باره کی څه صحیح خبره نۀ ده نقل)۔ او د عمر بن عبد العزیزؒ نه چه ددے مخالف روایت عبد الرزاق نقل کړیدے حافظ ابن حجرؒ فتح الباری کی وائی هغه ضعیف دے۔

او دا مذهب د امام بخاریؒ هم دے۔ دلیل دا دے چه پدے باره کی درے څلور روایات راغلی دی او یو هم صحیح نۀ دے ثابت۔

(۳) د عمر بن الخطاب د روایت نه معلومیږی چه د هغه مذهب دا دے چه که شاتو حفاظت حکومت کوی نو عشر به ورکوی او نصاب پکی معلوم نۀ دے او که حفاظت ئے حکومت نۀ کولو نو هیڅ پکی نشته مگر که په خپله خوښه زکاة ورکوی جائز ده، دا قول راجح دے او عمر ﷺ په یوه واقعه کی نبی ﷺ ته نسبت کړیدے۔ لکه دے راتلونکی دلیل کی وګوره۔

دلیل: حدیث د عمرو بن شعیبؒ په طریق د عمرو بن الحارث المصری سره نقل دے هغه فرمائی: (جَاءَ هِلَالٌ أَحَدُ بَنِیْ مُتْعَانَ إِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ بِعُشُوْرِ نَحْلٍ لَهٗ وَکَانَ سَأَلَهٗ أَنْ یَّحْمِیَ لَهٗ وَادِیًا یُقَالُ لَهٗ (سلبته) فَحَمِیَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ذٰلِكَ الْوَادِیَ فَلَمَّا وَلِّیَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ کَتَبَ سُفْیَانُ بْنُ وَهْبٍ إِلٰی عُمَرَ یَسْأَلُهٗ عَنْ ذٰلِكَ فَکَتَبَ عُمَرُ: إِنْ أَدّٰی إِلَیْكَ مَا کَانَ یُؤَدِّیْ إِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ مِنْ عُشُوْرِ نَحْلِهٖ فَاحْمِ لَهٗ (سلبته) وَإِلَّا فَإِنَّمَا هُوَ ذُبَابُ غَیْثٍ یَأْکُلُهٗ مَنْ یَّشَاءُ) (ابوداود ۲۲/۲) والدارقطنی والسنن الکبری للبیهقی وهذا اسناد جید انظر ارواء الغلیل رقم (۸۱۰) وفتح الباری (۳۴۸/۳)۔

(هلال چه د بنی منعان نه یو سړے وو رسول الله ﷺ ته ئے د خپلو مچو (شاتو) عشر راوړو څکه چه دۀ د رسول الله ﷺ نه دا مطالبه کړے وه چه ددۀ یوه کنده ده چه سلبته ئے نوم وو د هغے حفاظت وکړی نو رسول الله ﷺ ورله دغه کنده ساتله بیا کله چه عمر بن الخطابؓ خلیفه شو نو سفیان بن وهب (چه د عمر ګورنر وو) عمر ته (ددے په باره

كي) وليكل نو عمر فاروقؓ ورته (په جواب كي) وليكل چه كه تا ته ئے د مچو عشر دركولو كوم ئے چه نبي ﷺ ته وركول نو بيا ورله دغه كنده ساته او كه نهٔ ئے دركولو نو دا صحرائي مچئ دي چه د باران په گيا هگانو ساتلے شي چا چه ئے شات وخورل خوښه ئے ده۔ (د ذباب نه مراد مچئ دي او باران ته ئے نسبت پدے وجه كړے چه د باران په گياه پاللے كيږي)۔

نو دلته غشر پدے وجه اخستلے شويدے چه حفاظت به ئے حكومت كوي او دا روايت پدے معنىٰ باندے ابن زنجويةؒ په كتاب الاموال (۱۰۹۵) او خطابیؒ په معالم السنن (۲۰۸/۱) كي حمل كړيدے۔ وانظر تمام المنة للشيخ الالبانی (۳۷٤)

او همدا قول راجح دے۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف رواه الترمذی وقال فی اسناده مقال لانه قد تفرد به صدقة بن عبد الله السمين وهو ضعيف يروی الموضوعات عن الثقات (ابن حبان فی الضعفاء)۔

- 1808(15) وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ قَالَتْ : خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَقَالَ : " يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ وَلَوْ مِنْ حُلِيِّكُنَّ فَإِنَّكُنَّ أَكْثَرُ أَهْلِ جَهَنَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: او د زينب نه چه د عبد الله بن مسعود ؓ بي بي ده روايت نقل دے فرمائي چه مونږ (زنانو) ته رسول الله ﷺ خطبه وويله نو وے فرمايل: اے د ښځو ډلے ! صدقے كوئ (زكاة وركوئ) اگر كه (دا صدقه او زكاة) ستاسو د گاڼو نه وي ځكه چه تاسو د قيامت په ورځ زيات د جهنميانو نه يئ۔ (ترمذیؒ)

تشريح: زينب دا د معاويه يا عبد الله بن معاويه بن عتاب الثقفی لور ده او ديته برائطه هم وائي۔ د عبد الله بن مسعود ښځه ده۔

دا روايت روستو په باب افضل الصدقة كي هم راځي۔

نبي ﷺ يوه ورځ زنانو ته وعظ كولو نو هغوی ته ئے د صدقے او زكاة ترغيب وركړو او دا ئے ورته وويل چه تاسو ما اوركي ډيرے ليدلی يئ او صدقه چونكه د الله غضب ختموي او مصيبتونه لرې كوي نو پدے وجه ئے دوی ته ترغيب وركړو، او زنانه جهنم ته ولے ډيرے ځي ددے سبب په نورو احاديثو كي ذكر شويدے لكه په كتاب الايمان او

باب صلاة العيدين کې ذکر شویدے چه تاسو لعنتونه ډیر وایئ او د خاوندانو ناشکري کوئ۔
او دا وجه هم ده چه زنانه اکثر د دنیا د څیزونو او سامانو په محبت کې ننوتي وي چه د الله په لاره کې د خرچ کولونه غافله وي نو زنانو ته دا یره ورکړے شوه چه تاسو جهنم ته ډیرے ځئ نو په دنیا کې زکاة او صدقے ورکوئ دے دپاره چه د قیامت په ورځ په تاسو رحمت وکړے شي او د دوزخ د اور نه خلاصے شئ۔
حُلِيِّكُنَّ : حلي او حِلية جمع ئے حُلِيٌّ یا حِلِّي ده۔ یا حُلِي جمع ده او حِلْيَة ئے مفرد دے لکه ظَبْيَةٌ او ظَبْيٌ ۔ د سرو او سپینو نه جوړ شوی کالو ته وائي چه زنانه پرے ځان ښائسته کوی۔ (النهایه)۔ بعض اهل لغت (صاحب قاموس) وائي چه حلیه هغه ګانړے ته هم وائي چه د معدنیاتو او قیمتي کانړو نه جوړ وي۔ لیکن دلته اوله معنیٰ مراد ده۔

مسئله: آیا په ګانړه کې زکاة شته ؟:

په سرو او سپینو کې چه کله نصاب ته رسیدلي وي په اتفاق د علماؤ سره زکاة شته لکه څنګه چه په احادیثو کې راغلي دي لیکن کوم سرۀ او سپین چه نصاب ته رسیدلي وي او د هغے نه ګانړه جوړه شوی وي او زنانه ئے استعمالوي آیا په هغے کې به زکاة وي او که نۀ ؟ پدے کې د علماؤ اختلاف دے۔
(١) اول قول دا دے چه پدے کې زکاة واجب دے، په هر کال کې به ئے ورکوی ځکه چه دا نامِي (ترقي کونکے) مال دے، په هر کال کې ددے قیمت او چتیږي۔ او دا مذهب د ابوحنیفۃ، صاحبینؒ، ثوريؒ، او د عبد الله بن المبارکؒ دے او دا نقل شویدے د عمر بن الخطاب، عبد الله بن مسعود، عبد الله بن عمرو، عبد الله بن عباس، ابن عمر او عائشه رضی الله عنهم نه، او دا قول د عبد الله بن شداد، سعید بن المسیب، سعید بن جبیر، عطاء، ابن سیرین، جابر بن زید، مجاهد، زهري، طاوس، میمون بن مهران، ضحاك، علقمه، اسود، عمر بن عبد العزیز، ابراهیم النخعي، ذر الهمداني، اوزاعي، ابن شبرمه، حسن بن حي، ابن المنذر او ابن حزم رحمهم الله دے او دا یو روایت د امام احمدؒ نه دے لکه «المغني» کې راغلے دے او دا یو قول د امام شافعيؒ هم دے۔
(٢) دویم قول دا دے چه د استعمال په ګانړه باندے زکاة نشته۔ او دا مذهب د مالك،

احمدؒ، اسحاقؒ، او ظاهر قول د شافعیؒ دے او دا روایت شویدے د ابن عمر، جابر، انس بن مالک، عائشه او اسماء رضی الله عنهم نه او دا قول د قاسم بن محمد، شعبی، قتاده، محمد بن علی، عمرة، ابوعبید، او ابوثور رحمهم الله دے۔ لیث بن سعدؒ فرمائی: کومه گانړه چه اغوستلے شی او په سوال ورکولے شی په هغے کی زکاة نشته۔ او که د زکاة نه د بچاؤ دپاره جوړه کړے شی نو پدے کی به زکاة وی۔

امیر یمانیؒ وائی: پدے مسئله کی څلور اقوال دی (١) زکاة پکی واجب دے دا مذهب د هادویة دے او یو جماعت د سلفو دے او یو قول د امام شافعیؒ دے دوی عمل کړے په هغه احادیثو چه پدے باره کی روایت شویدی۔ (٢) دویم: زکاة په گانړه کی نشته او دا مذهب د مالکؒ، احمدؒ، او یو قول د شافعیؒ دے ځکه چه څه آثار د سلفو نه راغلی دی چه هغه دلالت کوی چه په گانړه کی زکاة نشته، لیکن روستو د صحت د احادیثو نه د آثارو دپاره څه اثر نشته۔ (٣) دریم: د گانړے زکاة دا دے چه په عاریه باندے چا ته ورکړے شی (لکه زنانه چه د ځان دولی کولو دپاره د یو بل نه گانړه امیل وغیره غواړی دا چه ورکړے شی نو دا ئے زکاة شو)۔

(٤) څلورم: په گانړه کی زکاة صرف یو کرت واجب دے او دا خبره امام بیهقیؒ د انس بن مالک ﷺ نه نقل کړیده۔ بیا فرمائی: (وَاَظْهَرُ الْاَقْوَالِ دَلِیْلًا وُجُوْبُهَا لِصِحَّةِ الْحَدِیْثِ وَقُوَّتِهٖ)۔ (ډیر ښکاره قول په اعتبار د دلیل سره دا دے چه زکاة پکی واجب شی ځکه چه حدیث په کی صحیح او قوی راغلی دی)

(سبل السلام شرح بلوغ المرام ٢/١٣٥)۔

دلائل القول الاول : د اول قول والا سره ډیر دلائل دی چه هغه په فتاوی الدین الخالص (٨/١٤٠) او مرعاة المفاتیح (٦/١٦٥) کی تفصیلًا ذکر دی او ابن عبد الهادیؒ په تنقیح التحقیق فی احادیث التعلیق (٣/٧٠) کی اوه احادیث ذکر کړیدی: بعض دلیلونه دا دی: ١- آیت: ﴿وَالَّذِیْنَ یَکْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا یُنْفِقُوْنَهَا﴾ (التوبة: ٣٤) ددے آیت وعید هر هغه چا ته شامل دے چه سره او سپین ورسره وی او زکاة ئے نهٔ ادا کوی، برابره ده که گانړه ترے جوړه شوی وی یا نهٔ وی جوړه۔

٢- دلیل : روستو حدیث د ام سلمهؓ راروان دے چه د کومو سرو سپینو نه زکاة ادا کړے شی نو هغه په کنز کی نهٔ وی داخل (د کوم وعید چه په آیت کی راغلے دے چه

څوك سره او سپين كنز (يعني جمع) كوي او زكاة ترې نهٔ ادا كوي نو د قيامت په ورځ به د هغې نه تبئ جوړې شي او مخونه او اړخونه او شاګانې به ئې داغلې شي)۔

۳- دليل: عبد الله بن شداد بن الهادؒ فرمائي مونږ عائشې ته ورغلو نو هغې ووئيل: رسول الله ﷺ ما كره راننوتو نو زما په لاس كې ئې د سپينو زرو ګوتمې وليدلې نو وې فرمايل: دا څه دي اې عائشې؟ ما ووېل: دا ما جوړ كړيدي دې دپاره چه تا ته پرې ځان ښائسته كړم اې د الله رسوله! نبي ﷺ وفرمايل: (أَتُؤَدِّينَ زَكَاتَهُنَّ؟ قُلْتُ: لَا، أَوْ مَا شَاءَ اللَّهُ، قَالَ: هِيَ حَسْبُكِ مِنَ النَّارِ)۔ آيا ته ددې زكاة ادا كوې؟ ما ووېل: نهٔ، هغه وفرمايل: دا ستا دپاره د اُور نه كافي دي)۔ (ابوداود (۱۳۸٤) (اسناده صحيح على شرط الشيخين، قاله الحاكم والذهبي والعسقلاني والالباني)۔

٤- دليل: دغه شان د فاطمه بنت قيس رضي الله عنها سره د غاړې يو اميل وو چه په هغې كې اويا مثقاله سرهٔ زر وو (يعني پاؤ باندې ۲٦ تولې وو) نبي ﷺ د هغې نه زكاة واخستو۔ (ابوالشيخ في جزئه "انتقاء ابن مردويه" ۸۳/۳۰ طبع الرشد، الصحيحة ۱۱۸٥/٦، رقم: ۲۹۷۸)۔

٥- دليل: روستو حديث د عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده راغلې دې (أَنْ يُسَوِّرَكُمَا اللَّهُ بِسِوَارَيْنِ مِنْ نَارٍ) دا روايت صحيح دې۔ او ترمذيؒ چه وئيلي دي چه پدې باب كې هيڅ صحيح حديث نشته نو دا ددهٔ په سند سره صحيح نشته او ابوداودؒ او منذريؒ وغيره په صحيح سند سره نقل كړيدې لكه روستو به راشي۔

٦- او ددې حديث نه هم دليل نيولې كيږي په وجوب د زكاة د حُلي (ګانړه) باندې ځكه چه ددې معنىٰ به دا وي چه صدقه وكړئ د تولو هغه مالونو نه چه په تاسو باندې پكې زكاة واجب وي اګركه دغه واجبه صدقه ستاسو د ګانړو نه وي۔ دا اګركه صريح نص نهٔ دې ليكن من وجه استدلال ترې كيدې شي۔ او صريح ځكه نهٔ دې چه ددې داسې معنىٰ هم كيدې شي چه صدقه وكړئ اګركه دا صدقه آسانه وي تاسو ته د ګانړو ستاسو نه يعني د خپلو مالونو زكاة وركړئ اګركه د ګانړې نه ئې وركوئ نو دا دلالت په وجوب باندې نهٔ كوي ځكه چه جائز ده چه انسان باندې زكاة په نورو مالونو كې واجب وي او دې ئې د ګانړې نه ادا كړي او دا ظاهر احتمال دې۔

يا دا چه صدقه وكړئ اګركه د خپلې ګانړې نه ولې نهٔ وي۔

امام خطابیؒ وائی : ظاهر د کتاب الله د هغه چا دپاره دلیل دے چه وائی زکاة په گانړه کی واجب دے او احادیث هم ددے تائید کوی او چا چه دا زکاة ساقط کړیدے نو هغه نظر او استدلال ته تلل کړیدی او د هغه سره یو طرف د اثر هم شته لیکن احتیاط ادا کول د زکاة دی۔ آه۔

علامه ابوالحسن مبارکفوریؒ وائی : کوم علماء چه په حُلی کی د وجوب الزکاة قائل نهٔ دی هغوی ددے احادیثو نه جوابونه ورکړیدی چه تول مردود دی۔

بعض دا دی (۱) چه دا احادیث محمول دی په هغه وخت باندے چه زنانو باندے د سرو زرو گانړه استعمالول حرام وو بیا هرکله چه دا ورله مباح شو نو زکاة ئے په استعمال سره ساقط شو لکه څنګه چه د څاروو په استعمال سره د هغے نه زکاة ساقطیږی۔ دا جواب باطل دے امام بیهقیؒ په «المعرفة» کی وائی چه دا خبره د حدیث دام سلمهؓ او حدیث د فاطمه بنت قیسؓ او حدیث د اسماء بنت یزیدؓ سره نهٔ برابریږی څکه چه په هغے کی د اغوستلو صراحت شویدے او بیا په زکاة ورکولو باندے امر شویدے۔ ذکره الزیلعی (۲/۳۷٤)

(۲) بل جواب دا کوی چه پدے احادیثو کی چه کوم زکاة ذکر دے دا په هغه وخت کی دے چه د حاجت د اندازے نه زیات وی۔ لیکن دا هسے دعوه ده هیڅ دلیل پرے نشته، بلکه په بعض روایتونو کی ددے تردید موجود دے۔

(۳) بل جواب دا کوی چه پدے احادیثو کی چه کوم زکاة ذکر دے ددے نه مراد نفلی صدقه ده نهٔ فرضی زکاة، یا د زکاة نه مراد په عاریه سوال باندے ورکول دی، ملا علی القاریؒ وائی دا خبره ډیره بعیده ده څکه چه د نفلو په پریخودو او د عاریه په نهٔ ورکولو باندے وعید نهٔ وی سره ددے نه چه د زکاة اطلاق په عاریه باندے صحیح هم نهٔ دے نهٔ حقیقةً او نهٔ مجازاً انتهیٰ۔ (مرعاة المفاتیح ٦/١٦٨، ١٦٩)

او بیهقیؒ چه کوم روایات د ابن عمر، انس بن مالك، اسماء بنت ابی بکر او عائشے رضی الله عنهم نه نقل کړیدی چه دوی وئیلی دی چه په حُلی کی زکاة نشته نو هغه تول ضعیف دی او ددے صحیح مرفوع احادیثو په مقابله کی کار نهٔ ورکوی۔ لکه د امیر یمانیؒ په قول کی تیر شو۔

درجة الحديث: سنده صحيح، واصل هذا الحديث في الصحيحين كما سيأتي في

باب افضل الصدقة۔

- 1809(16) وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ : أَنَّ امْرَأَتَيْنِ أَتَتَا رَسُولَ اللهِ ﷺ وَفِي أَيْدِيهِمَا سِوَارَانِ مِنْ ذَهَبٍ فَقَالَ لَهُمَا : " تُؤَدِّيَانِ زَكَاتَهُ ؟ " قَالَتَا: لَا. فَقَالَ لَهُمَا رَسُولُ اللهِ ﷺ :" أَتُحِبَّانِ أَنْ يُسَوِّرَكُمَا اللهُ بِسِوَارَيْنِ مِنْ نَارٍ ؟" قَالَتَا: لَا، قَالَ : " فَأَدِّيَا زَكَاتَهُ " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ قَدْ رَوَاهُ الْمُثَنَّى بْنُ الصَّبَّاحِ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ نَحْوَ هٰذَا وَالْمُثَنَّى بْنُ الصَّبَّاحِ وَابْنُ لَهِيعَةَ يُضَعَّفَانِ فِي الْحَدِيثِ وَلَا يَصِحُّ فِي هٰذَا الْبَابِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ شَيْءٌ.

ترجمه : او عمرو بن شعيب د خپل پلار هغه د خپل نيكه نه روايت كوى چه دوه ښځې رسول الله ﷺ ته راغلې او د هغوى په لاسونو كى د سرو زرو بنګړى وو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : آيا تاسو ددے زكاة ادا كوئ؟ هغوى وويل : نه، نو رسول الله ﷺ دوى ته وفرمايل: آيا تاسو دا خوښوئ چه الله تعالىٰ تاسو ته د اُور بنګړى دروا چوى؟ هغوى وويل : نه، نبى ﷺ وفرمايل : نو بيا ددے زكاة ادا كوئ۔ (دا روايت ترمذیؒ نقل كړے او وئيلى ئے دى چه دا حديث دغه شان مثنى بن صباح د عمرو بن شعيبؒ نه نقل كړيدے او مثنى بن صباحؒ او ابن لهيعةؒ (بل راوى) دواړه (د حديث د روايت په باره كى) ضعيف ګنړلے شى او پدے باب كى د نبى ﷺ نه هيڅ صحيح حديث نۀ دے ثابت۔

تشريح : أَنَّ امْرَأَتَيْنِ : په روايت د احمدؒ كى دى اسماء بنت يزيد رضى الله عنها فرمائى : زۀ او زما ترور (ماسى) په نبى ﷺ ورداخل شو او مونږ باندے د سورو زرو بنګړى وو ...... الخ۔ نو كيدے شى چه ددے دواړو ښځو نه دغه دواړه مرادے وى۔ او منذرىؒ په ((الترغيب)) كى هغه حديث ته حسن وئيلے دے۔

سِوَارَانِ : مفرد ئے سِوَارٌ دے جمع ئے اَسْوِرَةٌ، اَسَاوِرُ، اَسَاوِرَةٌ ده (قاموس) بنګړو ته وائى۔

زَكَاتَهُ : ضمير ئے مفرد راوړو ځكه چه ذهب ته راجع دے۔

فَأَدِّيَا زَكَاتَهُ : په روايت د احمدؒ كى داسے دى : (فَأَدِّيَا حَقَّ هٰذَا الَّذِي فِي أَيْدِيكُمَا) ادا كړئ حق ددے سرو چه ستاسو په لاسونو كى دى۔ او په بل روايت د احمدؒ كى داسے دى : (فَأَدِّيَا حَقَّ اللّٰهِ عَلَيْكُمَا فِي هٰذَا) پدے كى چه د الله كوم حق په تاسو دے هغه ادا كړئ۔

پدے حدیث کی هم دلیل دے چه په گانړه کی زکاة واجب دے اگرکه د استعمال دپاره وی، علامه عبد الرحمن مبارکفوریؒ فرمائی: هٰذا خبره حقه ده۔ او دا روایت صحیح دے خو د ترمذیؒ په سند ضعیف دے او ترمذیؒ ته صحیح سند نهٔ دے ملاو شوے پدے وجه ئے د خپل علم مطابق نفی کړیده چه د نبی ﷺ نه پدے باب کی صحیح حدیث نشته۔

فائده : دا حدیث دلیل دے چه د سرو زرو استعمال د زنانو دپاره جائز دے کوم علماء چه د حرمت قائل دی نو د هغوی سره ډیر واضح دلیل نشته اُوگوره المؤنق للمصطفى العدویؒ۔

درجة الحديث: واسناده صحيح، رواه الترمذی من طریق ابن لهيعة عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده واخرجه احمد والدارقطنی وابن ابی شيبة من طريق الحجاج بن ارطاة عن عمرو بن شعيب نحوه وقال ابن الملقن: رواه ابوداود باسناد صحيح ذكره ميرك كذا في المرقاة، فعلم ان سند الترمذی بطريقيه ضعيف وسند ابی داود لا مقال فيه قاله المنذری، ولعل الترمذی لم يقف على سند ابی داود فانه من طريق حسين المعلم وهو ثقة والترمذی لم يصل اليه هذا الحديث بطريق قوی فلذا قال لا يصح فی هذا الباب شیء)۔

- 1810(17) وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ :كُنْتُ أَلْبَسُ أَوْضَاحًا مِنْ ذَهَبٍ فَقُلْتُ :يَا رَسُوْلَ اللهِ أَكَنْزٌ هُوَ؟ فَقَالَ : " مَا بَلَغَ أَنْ يُؤَدَّى زَكَاتُهُ فَزُكِّيَ فَلَيْسَ بِكَنْزٍ ". رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُوْ دَاوُدَ.

ترجمه : او ام سلمه رضی الله عنها فرمائی : ما به د سرو زرو زیوز (یعنی پانزیبونه) اغوستل نو ما تپوس وکړو اے د الله رسوله! آیا دا خزانه ده؟ (د کوم د جمع کولو نه چه قرآن کی وعید راغلے دے) نو نبی ﷺ وفرمایل: هغه مال چه دومره اندازے ته ورسیږی چه د هغے نه زکاة ادا کولے شی او زکاة ترے ادا کړے شی نو هغه خزانه نهٔ ده۔ (د هغے ساتل حرام نهٔ دی) (مالك، ابوداودؒ)

تشریح : أَوْضَاحًا : جمع د وَضَحٌ ده، یو قسم گانړه (کالی) دی چه د سپینو زرو نه جوړیږی أوضاح ورته پدے وجه وائی چه سپین وی، د وضاحت معنیٰ پکی پرته ده۔ (نهایه)

ديته خلخال يعنى پانزيبونه وائى (منتهى الارب)۔ يعنى د خپو بنگړى، او كړئ۔
أَكَنْزٌ هُوَ ؟ : د ام سلمےؓ د تپوس مطلب دا وو چه قرآن كريم كى چه ﴿ وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ﴾ د مال د جمع كولو په باره كى كوم وعيد راغلے دے چه الله به دردناك عذاب وركوى نو آيا زما دا د سرو زرو زيور (كالى) به هم پدے كى داخل وى؟۔ نبى ﷺ وفرمايل : كه د زكاة نصاب ته رسيدلى وى او زكاة ترے ادا شى نو بيا كنز نهٔ دے۔
دا روايت صريح دليل دے چه په گانړه كى زكاة شته او دليل دے چه د كومے گانړے نه زكاة نهٔ ادا كيږى پس د هغے نه چه نصاب ته رسيدلى وى نو هغه په كنز كى داخله ده نو آيت كى چه كوم وعيد راغلے دے هغه به دے ته شامل وى۔ الله فرمائى : ﴿ وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَايُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴾ (توبة : ۳٤)
(هغه كسان چه سره او سپين جمع كوى او دا د الله په لار كى نهٔ خرچ كوى نو دوى ته په دردناك عذاب سره زيرے وركړه) (سورة التوبة : آيت ۳٤)
او ددے نه معلومه شوه چه ام سلمه رضى الله عنها دا استعمالول او بيا ئے ددے په باره كى تپوس كړيدے نو ددے استعمال جائز وو نود هغه چا تاويل خطاء دے چه وائى ددے زكاة په هغه وخت كى فرض وو چه سرهٔ د زنانو دپاره حرام وو او چه كله مباح شو نو بيا ئے زكاة منسوخ شو۔
درجة الحديث: اسناده صحيح، رواه ابوداود من طريق عتاب بن بشير والحاكم عن محمد بن مهاجر وصححه الحاكم والذهبى على شرط البخارى، وقال الحافظ فى الدراية : قواه ابن دقيق العيد، وفى الفتح : وابن القطان ايضاً۔

- 1811(18) وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ: أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ كَانَ يَأْمُرُنَا أَنْ نُخْرِجَ الصَّدَقَةَ مِنَ الَّذِىْ نُعِدُّ لِلْبَيْعِ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ.

ترجمه : او سيدنا سمره بن جندب ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به موږ ته حكم كولو چه موږ زكاة د هغه مال نه وباسو كوم چه موږ د اخستو خرڅولو (تجارت) دپاره تياره وو۔ (ابوداودؒ)
تشريح : **نُعِدُّ** : د اِعْدَاد نه ماخوذ دے په معنىٰ د تيارولو سره۔
دا حديث دليل دے چه كوم شے د تجارت او بيع دپاره تيارولے شى يعنى اموال د تجارت وى په هغے كى به زكاة واجب وى ځكه چه نبى ﷺ په هغے باندے امت ته امر

کړیدے او امر تقاضا د وجوب کوی کله چه قرینه صارفه د وجوب نه نهٔ وی، او کوم شے چه د ساتنے دپاره یا د ځان د استعمال دپاره وی نو په هغے کی به زکاة نهٔ وی۔

مسئله : آیا د تجارت په اموالو کی زکاة شته ؟۔

د تجارت سامانونه لکه کورونه، زمکے، گاړی موټرے، کپړے او نور سامانونه شو۔

پدے کی اختلاف دے چه د تجارت په مالونو او سامانونو کی زکاة شته او که نهٔ ؟

۱- اول خو پدے کی اتفاق دے چه کوم سامانونه د تجارت دپاره نهٔ وی په هغے کی زکاة نشته لکه گاړی موټرے د ذاتی استعمال دپاره، زمکه جائیداد، کورونه، کټونه بسترے، د کتابونو مکتبه (لائبریری) چه د مطالعے دپاره وی، د خرڅ دپاره نهٔ وی۔

-او کوم چه د تجارت دپاره ایخودلے شوی ساتلے شوی وی ۲- نو یا به بعینه همدغه شے خرخولے شی ۳- یا به ددے په سبب گټه کیدے شی نو که ددے په سبب گټه کیدے شی لکه د کراکرئ سامان، د کرایه گاړی موټرے، د کرایه دپاره کور، هوټلے، یا د مصنوعاتو مشینونه نو ددے په سر کی زکاة نشته هرڅومره پیسے چه پدے باندے بندے شوی وی البته ددے نه چه کومه گټه حاصله شی او په هغے باندے کال تیر شی نو په هغے کی به زکاة لازم وی نو ددے رجع بیرته پیسو ته کیږی۔

او که په عین هغه څیزونو تجارت کیږی لکه گاړی موټری د بارگین چه اخلی او خرخوی ئے یا زمکه ددے دپاره واخلی چه کله گرانه شی خرخه به ئے کړی یا د کپړو کار کوی نو دا مالونه د تجارت دی پدے کی اختلاف دے۔

(۱) نو پدے کی اهل ظواهرؒ وائی چه زکاة نشته ځکه نبی ﷺ پکی نصاب نهٔ دے مقرر کړے که زکاة پکی وے نو مونږ ته به د هغے نصاب رابسودلے شوے وے او مرفوع حدیث صحیح پکی نشته، او اصل براءت د ذمے دے او اصل د مسلمان په مال کی دا دے چه ددے اخستل به حرام وی نو مونږ به د ځان نه په خلکو هغه څه نهٔ واجبوو چه الله او رسول پرے نهٔ وی واجب کړی۔

او دا قول ابن حزمؒ، داود ظاهریؒ، علامه شوکانیؒ، صدیق حسن خانؒ او شیخ البانی رحمهم الله غوره کړیدے۔

(۲) دویم قول دا دے چه په مالونو د تجارت کی زکاة واجب دے او دا قول د اکثرو اهل علمو دے بلکه ابن المنذرؒ پدے باندے د اجماع دعوه کړیده چه په صحابه کرامؓ او

تابعينوؒ كي ددے مخالف نشته. په صحابه كرامو كي دا قول د سيدنا عمر فاروق، ابن عمر، او ابن عباس رضي الله عنهم نه نقل دے او دا قول د فقهاءِ سبعه وؒ، حسن بصريؒ، جابر بن زيدؒ، ميمون بن مهرانؒ، طاوسؒ، نخعيؒ، ثوريؒ، اوزاعيؒ، شافعيؒ، ابوعبيدؒ، اسحاقؒ، اصحاب الرأيؒ دے.

او نصاب ددے دا دے چه دا مالونه به نوتونو (پيسو) ته اړوى او د هغے په حساب به زكاة وركوى. ددے علماؤ قول د ډيرو دلائلو په بنياد قوى او راجح دے.

١- **دليل** : عام آيتونه پدے باره كي راغلي دي ﴿ وَفِيۡۤ اَمۡوَالِهِمۡ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَالۡمَحۡرُوۡمِ ﴾ (الذاريات:١٩) ﴿ خُذۡ مِنۡ اَمۡوَالِهِمۡ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمۡ﴾ (توبة :١٠٣) ﴿ اَنۡفِقُوۡا مِنۡ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبۡتُمۡ﴾ (بقره :٢٦٧) دوى وائى چه دا عام آيتونه دي چه دلالت كوى چه په هر قسم مالونو كي به زكاة وي، څوك چه پكي تخصيص كوى هغه به دليل راوړى او په عموماتو باندے عمل پكار دے خاصكر كله چه د هغے دپاره اقوال د صحابه كرامو مؤيد وي، دارنگه عام امتِ مسلمه او د خلفاء راشدينو فهم هم دا دے چه پدے كي زكاة لازم دے نو د هغوى فهم هم حجت دے.

٢- **دليل** : دا حديث الباب دے ليكن ددے په سند كي كلام دے په تصحيح او تضعيف كي ئے اختلاف دے. كه دا صحيح شي نو بيا خو هيڅ شك شبهه نهٔ پاتی كيږي.

٣- **دليل** : د ابوذر رضي الله عنه نه نقل دي : (قَالَ : سَمِعۡتُ رَسُوۡلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوۡلُ : فِي الۡاِبِلِ صَدَقَتُهَا، وَفِي الۡغَنَمِ صَدَقَتُهَا وَفِي الۡبَزِّ صَدَقَتُهٗ) (دارقطني، حاكم، بيهقي). ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي چه فرمايل ئے : په اُوښانو كي د هغے زكاة لازم دے او په گډو بزو كي د هغے نه زكاة لازم دے او په كپړو كي د هغے زكاة دے) ددے روايت څلور سندونه دي نو دا حسن حديث دے او حافظ ابن حجرؒ په ((درايه)) كي وئيلي دي : (اسناده حسن)

او په تلخيص كي وائي : وَهٰذَا اِسۡنَادٌ لَا بَأۡسَ بِهٖ)، او مباركفوريؒ په مرعاة كي وئيلي دي چه دا په مجموع الطرق سره حسن دے او صالح دے دپاره د دليل نيولو، هيڅ شك پكي نشته.

٤- عبد، القاريؒ فرمائي : زهٔ د عمر فاروقؓ د خلافت په زمانه كي په بيت المال مقرر وم نو كله چه به د بيت المال نه مالونه تقسيميدل نو عمر فاروق به د تاجرانو مالونه

راجمع كړل بيا به ئې حاضر او غائب ټول حساب كړل بيا به ئې د حاضر او غائب دواړو قسمه مالونو نه زكاة واخستو. ابن حزمؒ وائي چه ددې اثر سند صحيح دې. (كتاب الاموال لابي عبيد، وابن ابي شيبه وابن حزم)

امام طحاويؒ فرمائي: د عمرؓ او د هغه دځوي (ابن عمرؓ) نه د تجارت د سامانونو زكاة ثابت دې او ددې دواړو مخالف په صحابه كرامو موجود نۀ دې نو دا ګواهي كوي ددې خبرې چه د ابن عباسؓ او د عائشې ددې قول چه زكاة په عروض (سامانونو) كې نشته مراد دا دې چه په هغه سامانونو كې زكاة نشته چه د ساتنې دپاره وي او د استعمال دپاره وي.

٥- عمرو بن حماسؓ د خپل پلار نه نقل كوي: چه په ما باندې عمر فاروقؓ تير شو وې فرمايل: يا حماسه! د خپل مال زكاة ادا كړه، نو ما وويل: (مَالِيْ مَالٌ إِلَّا جِعَابٌ وَأُدُمٌ، فَقَالَ قَوِّمْهَا قِيْمَةً ثُمَّ أَدِّ زَكَاتَهَا) (زما خو نور مال نشته صرف غاړه كئ او څرمنې دي. نو هغه وفرمايل: ددې قيمت ولګوه بيا د هغې زكاة ادا كړه) (الشافعي في الام ٣١/٢) ابوعبيد (٤٢٥) الدارقطني (٢١٣/١) ابن ابي شيبه وعبد الرزاق والبيهقي (١٤٧/٤)

ابن حزمؒ عمرو بن حماسؓ دواړو ته مجهول وئيلي دي ليكن احمد شاكرؒ وئيلي دي چه دواړه معروف دي ځكه چه ابن حبان په ثقاتو كې ذكر كړيدي، ابن قدامهؒ وائي چه دا قصه مشهوره ده او منكرئې نۀ دې موجود نو دا اجماع شوه.

٦- ابن عمر رضي الله عنهما فرمائي: (لَيْسَ فِي الْعُرُوْضِ زَكَاةٌ إِلَّا مَا كَانَ لِلتِّجَارَةِ) (الشافعي والبيهقي (١٤٧/٤) وابوعبيد (٣٨٥) وصححه الالباني في تمام المنة).

په سامانونو كې زكاة نشته مګر كوم چه د تجارت دپاره وي). او دغه شان قول د عبد الله بن عباسؓ نه هم نقل دې (ابوعبيدؒ) او د عمر بن عبد العزيزؒ نه هم چه هغه خپلو عاملانو ته پدې باندې ليكل كړي وو چه د اموالو د تجارت نه زكاة واخلئ يعني د هر څلويښتو ديناړو نه يو دينار. (مالكؒ)

٧- عقلي دليل هم ددې تقاضا كوي چه په اموالو د تجارت كې دې زكاة واجب شي ځكه چه د تجارت سامانونه كوم چه په لاسونو كې د ګټې دپاره اوړي راوړي دا اصل كې نقود (پيسې) دي ددې او د پيسو فرق نشته صرف دا چه نصاب د ثمن (پيسو) او د مثمن (سامانونو) ترمينځ اوړي راوړي كله ددې سامونو نه پيسې جوړيږي او كله د پيسو نه دا سامانونه جوړيږي نو كه په تجارت كې زكاة واجب نشي نو بيا به ټولو

مالدارو یا اکثروته دا موقعه ملاؤ شي چه دوی به په خپلو نقودو (پیسو) باندے تجارتونه کوی او کله چه کال په نقدینو (سرو او سپینو) باندے تیریږی نو زر به ئے په سامانونو د تجارت باندے بندوی نو هیڅ کله به په دوی باندے زکاة رانشی نو د فقیرانو سره همدردی به ختمه شي کوم چه د زکاة مقصد وو او د فقیرانو حق به برباد شي۔ (انظر تفسیر المنار ۱۰/۴۳۹) تفصیلاً)

نو احتیاط پدے قول کی دے چه زکاة په مالونو د تجارت کی واجب شي برابره ده که دا سامانونه نقد د خرڅ دپاره پراته وی لکه مثلاً د کپړو دکاندار وی یا ئے ذخیره اندوزی کړی وی، په نقدوئے خرڅوی او که په نسیه سره او پدے سره به پدے آثارو باندے عمل هم راشی او ضائع به نۀ شي۔ او دا خبره د امام شافعی رحمه الله نه هم نقل ده چه هغه وائی احتیاط په زکاة کی ما ته ډیر محبوب دے۔

درجة الحدیث: اسناده حسن، رواه ابوداود والدارقطنی (۲۱۴) والطبرانی فی الکبیر من روایة جعفر بن سعد عن خبیب بن سلیمان عن ابیه سلیمان بن سمرة عن جده سمرة، قال الحافظ فی بلوغ المرام: اسناده لین، وفی الدرایة: فیه ضعف، وفیه جعفر الی سمرة رولة محهولون (ابن حزم) وسکت عنه ابوداود والمنذری وهذا تحسین منهما وقال ابن عبد الهادی فی التنقیح اسناده حسن غریب، وقال ابن عبد البر: رواه ابوداود وغیره باسناد حسن وذکر الرواة ثلاثتهم ابن حبان فی الثقات فثبت ان معنی الحدیث صحیح والاسناد حسن عند بعض العلماء۔

- 1812(19) وَعَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ : أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ أَقْطَعَ لِبِلَالِ بْنِ الْحَارِثِ الْمُزَنِيِّ مَعَادِنَ الْقَبَلِيَّةِ وَهِيَ مِنْ نَاحِيَةِ الْفُرْعِ فَتِلْكَ الْمَعَادِنُ لَا تُؤْخَذُ مِنْهَا إِلَّا الزَّكَاةُ إِلَى الْيَوْمِ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : او ربیعه بن ابو عبد الرحمن (تابعیؒ) د ډیرو صحابه کرامو نه نقل کوی چه رسول الله ﷺ بلال بن حارث مزنیؓ ته د فُرع په اطرافو کی چه کوم د قَبَل علاقے کانونه وو په طریقه د جاګیر باندے ورکړل، نو دغه کانونو نه ترنن ورځے پورے صرف زکاة اخستے شي۔ (ابوداودؒ)

ربیعه بن ابی عبد الرحمن التیمی مولاهم ابوعثمان المدنی، مشهور دے په ربیعة

الرأي باندے او د پلار نوم ئے فروخ دے، د صغار التابعينو نه ثقه فقيه مشهور دے، بعض صحابه كرام او مشران تابعين ئے موندلی دی، او دا د مدينے د مفتيانو نه يو مفتی وو او ددهٔ په مجلس كی به د مدينے مشران غټان خلك كيناستل او ددهٔ نه امام مالك شاگردی كړيده، انس بن مالك ﷺ، سائب بن يزيدؒ، ابن المسيبؒ، قاسم بن محمدؒ، مكحولؒ وغيره ئے استاذان دی۔

تشريح : أَقْطَعَ : اقطاع ديته وائی چه يو بادشاه او خليفه او امير يو سړی ته يوه شاړه زمكه ورکړی چه دا ستا شوه ځانله ئے آباده کړه، د هغه جاگير ئے وگرځوی، نو دا اقطاع جائز ده خو پدے شرط چه يو تن ته به دومره زيات نهٔ ورکوی چه د نورو مسلمانانو حق ته پرے نقصان ورسوی۔ دويم داسے ځای به ورپسے ليکلے شی چه په هغے کی به ډيره فائده نهٔ وی بلکه يو عام شاړ ځای وی۔ بيا دا اقطاع په زمکه کی هم استعماليږی او په نورو څيزونو کی هم، بيا چه په زمکه کی استعماليږی دا دوه قسمه ده يو هغه ده چه بادشاه يو تن ته زمکه په تمليك سره ورکړی چه دا ستا شوه چه تهٔ پرے هرڅه کوے نو دا شخص ئے مالك گرځی، دا آبادولے هم شی او خرڅولے ئے هم شی۔ او دويم هغه ده چه صرف د هغے منافع ورته جائز کړی چه ددے زمکے نه فائدے اخله او ددے کرونده کوه او ځانله ئے خوره نو پدے وخت کی به دا نشی خرڅولے البته بل چا ته ئے په مزدورئ (يعنی اجاره) ورکولے شی ځکه چه دا د زمکے د منافعو مالك دے۔ ددے وجه نه ابن اثيرؒ په «النهايه» کی ليکی : چه اقطاع کله تمليك وی او کله نهٔ وی۔ او ديته احياء المَوَات هم وائی يعنی شاړه زمکه ژوندئ کول چه بادشاه چا ته ووائی چه دا زمکه ځانله آباده کړه۔ ليکن د اقطاع او احياء الموات کی عموم خصوص دے، اقطاع کی آبادول ضروری نهٔ دی او په احياء الموات کی آبادول ضروری دی، هله به ئے انسان مالك کيږی چه ځانله ئے آباده کړی، دا تفصيل په فتاوی الدين الخالص (۳۸۸/۱۱) کی وگوره۔

مَعَادِنَ الْقَبَلِيَّةِ : منسوب ده قَبَل ته دا درياب طرفته يوه علاقه ده ددے او د مدينے ترمينځ پنځه ورځے مزل دے۔ يعنی نبی ﷺ بلال بن الحارثؓ ته د قَبَل علاقے کانونه ورکړی وو چه ځانله پکښی کار کوه او سره او سپين ځان دپاره راوباسه نو ددے نه د معادنو اقطاع هم معلومه شوه او دا پټ کانونه وو ډير عمل ئے غوښتو او ښکاره نهٔ وو

ځکه چه ښکاره سپین او سرۀ وی بادشاه هم چا ته نشی ورکولے په هغے کی د ټولو مسلمانانو حق وی۔ د ښکاره کانونو مثال لکه تیل، پټرول، ډیزل، کبریت (ګندهلك) تار کول، رنزړه، د جرندی کانړی یا ددے مشابه څیزونه دا د چا په آبادولو او ښکاره کولو سره هم ملکیت نۀ ګرځی بلکه حکومت به ئے اخلی تول خلك پدے کی شریك دی لکه په لرګو او ګیاه او اوبو کی چه شریك دی، او باطنی کانونه چه ډیر کار ته پکی ضرورت وی لکه سره او سپین، قلعی، تانبه، اُوسپنه او نور جواهرات چه په زمکه کی خوارۀ وارۀ پراته وِی۔ نو د هغے اقطاع جائز ده۔

نَاحِيَةِ الْفُرُعِ : په ضمه د فاء او سکون د راء سره دا یو کلے دے چه ونے او فصلونه او اُوبه پکی زیاتی دی د مکے او د مدینے ترمینځ واقع دے د مدینے نه پنځه پړاوه لرے دے څلور ورځے فاصله ده د مدینے جنوب طرفته یو نیم سل کیلومیټره وړاندے دے۔

إِلَّا الزَّكَاةُ إِلَى الْيَوْمِ : یعنی ددے کانونو نه خُمس نۀ اخستلے کیږی بلکه که نصاب ته رسیدلی وی نو د هغے نه به زکاة اخستلے کیږی او زکاة خو د خمس نه کم دے۔ نو دا ښکاره دلیل دے چه په معدن کی خمس نشته بلکه زکاة دے۔

کوم علماء چه په معدن کی خُمس منی نو هغوی ددے حدیث نه جوابونه کوی یو دا چه دا روایت نبی ﷺ ته منسوب نۀ دے بلکه راوی وائی چه ددے نه به زکاة اخستلے کیدو۔ جواب دا دے چه په مسند بزار او طبرانی او حاکم او ابوعبید او بیهقی کی دا روایت په سند د دَراوَرْدِیّ سره موصول راغلے دے او د حاکم په روایت کی د رفع صراحت شویدے د هغے الفاظ داسی دی : (اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ أَخَذَ مِنَ الْمَعَادِنِ الْقَبَلِيَّةِ الصَّدَقَةَ وَاِنَّهٗ اَقْطَعَ بِلَالَ بْنَ الْحَارِثِ الْعَقِيْقَ أَجْمَعَ) ۔ قال الحاكم والدراوردی احتج به مسلم وهذا حديث صحيح ووافقه الذهبی۔

ددے په سند کی نعیم بن حمادؒ او دراوردیؒ دے، نعیم بن حماد لین الحدیث دے او دراوردیؒ باندے مسلمؒ احتجاج کړیدے او بخاری د نعیم بن حمادؒ روایت مقروناً راوړیدے نو دا روایت حسن درجے ته رسیږی۔

بعض (لکه صاحب البدائع) جواب کوی چه نبی ﷺ ددے نه د ربع عشر نه زیات نۀ دے اخستے پدے وجه چه نبی ﷺ ته معلومه وه چه ددۀ ورته حاجت دے او دا کار خو جائز دے۔ دا جواب هم بی دلیله دے۔

شاه ولي الله الدهلويؒ په «المسوّىٰ» کې داسې جواب کوی چه دلته د زکاة نه مراد خُمس دے۔ جواب دا دے چه ښکاره متبادر دا ده چه مراد د زکاة نه ربع العشر دے او د زکاة اطلاق په خمس باندے مشهور نۀ دے، او روایت د حاکمؒ کې لفظ د صدقے ذکر دے او د صدقے اطلاق په خُمس باندے نۀ کیږی۔ نو ثابته شوه چه په معدن کې خُمس نشته بلکه زکاة دے او د خپل مذهب دپاره د زکاة لفظ په خمس بدلول تحریف جوړيږي والله المستعان۔

فائده : معدن نه چه څه راوځی درې قسمه دی (١) يو هغه دی چه په اُور سره ويلی کيږی او ګانړه ترے جوړيږی لکه سره او سپين، وسپنه او قلعی وغيره شو۔ (٢) دويم هغه چه په ويلی کولو سره نۀ ويلی کيږی لکه ياقوت، بلور، عقيق، زمرد، فيروزه، رانجه، زرنيخ، چونه، خوریٔ وغيره۔ (٣) دريم هغه دی چه مائع (بهيدونکی) وی لکه پټرول، تارکول وغيره۔ ددے درے وارو په احکامو کې د اهل علمو اختلاف دے

(١) احناف وائی چه خمس صرف په اول قسم کې واجب دے نۀ په روستنو کې۔ ځکه دا باقی څيزونه داسے دی لکه د خاورے په شان يا د کانړو په شان او په خاورو او کانړو کې اګرکه قيمتي وی خمس نشته۔

(٢) مالك، شافعیؒ، ابن حزمؒ او داود ظاهریؒ وائی چه په سرهٔ او سپينو کې صرف زکاة دے۔ او همدا قول راجح دے لکه روستو رازی۔

(٣) امام احمدؒ په درے وارو کې د زکاة د وجوب قائل دے۔ په سرو او سپينو کې ربع عشر زکاة دے او په باقی څيزونو کې په قيمت کې ئے ربع عشر دے کله چه نصاب ته رسيږی پس د ويلی کولو او صفا کولو نه۔ (الروض المربع)

او علامه شاه ولی الدهلویؒ په المصفی شرح الموطأ کې ددے قول تائيد کړيدے او وئيلی ئے دی چه ظاهر دا ده چه معادن قبليه سرهٔ او سپين نۀ وو ځکه چه دا تاريخ والو نۀ دی ذکر کړی او دا بعيده ده چه هغوی ددے نه غلی پاتي شی سره ددے نه چه دا مدينے ته نزدے وو نو ظاهر دا ده چه دا د نورو څيزونو نه وو لکه خوریٔ وغيره وو او دا خبره حقيقت ته ډيره نزدے ده نو ظاهر قول د احمدؒ دے چه زکاة په هر هغه څه کې واجب دے چه د معدن نه راوځی برابره ده چه ويلی کيږی او که نۀ آه۔ او بل دليل پرے عموم د ﴿ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ ﴾ دے۔ دے قول ته بعض علماؤ (لکه علامه

مبارکفوری په مرعاة کې) ترجیح ورکړیده،
لیکن ظاهر الادله پدې کې دي چه زکاة په سرو او سپینو کې دے او په نورو شیانو کې نشته مګر چه خرخ کړے شي او پیسو ته واوړي، آؤ، یو اسلامي حکومت د ضرورت د وجه نه د یو کان نه څه زکاة اخلې نو امکان شته، د معادن د زکاة په باره کې صریح صحیح روایت هم نشته صرف د نورو عموماتو په وجه به زکاة لازمیږي نو ځکه ذهب او فضه پورے خاص شو، د تفصیل دپاره الروضة الندیة (۱/۱۹۰) د صدیق حسن خان او فتاوی الدین الخالص (۸/۱۵۸) والمحلی (۴/۲۲۷) او السیل الجرار (۲/۲۶) د شوکانيؒ ته رجوع وکړه۔
۲- **فائده** : معدن کې چه څه راوځي په هغې باندے کال تیریدل ضروري نۀ دي ځکه چه دا دفعةً حاصل شویدي نو د میوو او د فصلونو په شان دي۔ اسحاقؒ او ابن المنذرؒ، لیث بن سعدؒ او یو قول د امام شافعيؒ دا دے چه وائي کال تیریدل ورله شرط دے ځکه چه نبي ﷺ فرمائي: په مال کې زکاة نشته تردے چه کال پرے تیر شي۔
د اول قول **دلیل** دا دے چه دا د زمکے نه حاصل شوے مال دے نو ددے په حق کې کال تیریدل شرط نۀ دے لکه د فصلونو او میوو او رکاز په شان۔ دارنګه کال تیریدل خو ددے دپاره وي چه نماء (ترقي او زیادت) د مال پوره شي او ددے مال نماء په یو ځل سره پوره شویده نو کال تیریدل ضروري نۀ شو۔ ابن رشدؒ وائي چه د ابن المنذرؒ او اسحاقؒ قول غوره دے ځکه چه دا مشابه دي د سرو او سپینو سره او د زمکے نه د راوتونکو څیزونو سره ئې دومره مشابهت نۀ ښکاري آه۔
لیکن اول قول ظاهر دے ځکه چه په کال تیریدو باندے ئې دلیل نشته۔
۳- **فائده** : آیا په معدن کې د زکاة دپاره نصاب شرط دے؟ احناف ئې نۀ معتبر وي په هر قلیل او کثیر کې خمس وائي او نصاب نۀ شرط کوي، دلیل دا دے چه شریعت ورله نصاب نۀ دے وئیلے۔ ۲- مالك، شافعيؒ او احمدؒ وائي پدے کې به زکاة وي کله چه نصاب ته رسیدلی وي۔ ابن قدامهؒ وائي د دوی دپاره دلیل عموم د قول د نبي ﷺ دے : (لَيْسَ فِيْمَا دُوْنَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ) (د پنځو اوقیو نه په کم کې زکاة نشته) او دا معدن رکاز نۀ دے چه خمس پکې لازم شي ځکه رکاز د کافر مال وي نو د هغې موندل د غنیمت په شان دي او هرچه معدن دے نو دا یو شے دے چه په تکلیف سره حاصل

شويدے خرچه پرے شويده نو د ركاز په شان نۀ دے نو نصاب ورله ضروري دے لكه دا د شريعت عادت دے چه ددے په شان نورو مالونو دپاره نصاب شرط وائي۔

درجة الحديث: حسن: رواه مالك وابوداود مرسلاً والحاكم والبيهقي موصولاً من طريق الدراوردي وصححه الحاكم ووافقه الذهبي وصحّحَ الالباني الجزء الاول وضَعَّفَ اخذ الزكاة من المعادن القبلية۔

الفصل الثالث

- 1813 (20) عَنْ عَلِيٍّ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: "لَيْسَ فِي الْخَضْرَاوَاتِ صَدَقَةٌ وَلَا فِي الْعَرَايَا صَدَقَةٌ وَلَا فِي أَقَلِّ مِنْ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ وَلَا فِي الْعَوَامِلِ صَدَقَةٌ وَلَا فِي الْجَبْهَةِ صَدَقَةٌ". قَالَ الصَّقْرُ: اَلْجَبْهَةُ الْخَيْلُ وَالْبِغَالُ وَالْعَبِيْدُ. رَوَاهُ الدَّارِقُطْنِيُّ.

ترجمه: سيدنا علي ﷺ روايت كوي چه نبي كريم ﷺ وفرمايل: په سبزيانو كي زكاة نشته او نۀ په عاريه (سوالي، خيراتي) ونو كي زكاة شته او نۀ په كم د پنځه وسقو كي زكاة شته او نۀ په كار كونكو ځاروو كي زكاة شته او نۀ په جبهه كي زكاة شته صقرٌ راوي وائي: چه جبهه: اسونو، قچرو او غلامانو ته وائي۔ (دارقطنیؒ)

تشريح: د خضراوات نه مراد كشمالي، ګلان، سبزياني، تركارياني، بادرنګ، تريٰ، ختهكي، بانجيان، لوبيا او نور ميوه جات دي۔ امير يمانيؒ وائي د خضراوات نه مراد هغه څيزونه دي چه نۀ پيمانه كيږي او نۀ ساتلے شي۔ دا حديث د جمهورو دپاره دليل دے چه په خضراوات كي زكاة نشته، باقي تفصيل د مسئلے مخكي ذكر شو۔

بل دليل عقلي دا دے چه په مدينه كي ډير خضراوات موجود وو په زمانه د نبي ﷺ كي چه په هيڅ پټ نۀ دي او هيڅا دا نۀ دي نقل كړي چه نبي ﷺ ددے نه د زكاة په وېستلو حكم كړے وي او نۀ چا ددے نه زكاة اخستے دے۔ او تفصيل د مسئلے مخكي ذكر شويدے چه زكاة صرف په څلور قسمه څيزونو كي لازم دے۔

وَلَا فِي الْعَرَايَا: جمع د عَرِيَّةٌ ده او عريه ديته وائي چه يو انسان د خپلو كجورو ميوه چا ته تحفه كي وركړي نۀ ذات د ونے۔ عَرِيَّةٌ د فَعِيلَةٌ په وزن باندے دے په معنیٰ د مَفْعُوْلَةٌ سره يعني هاغه ونه چه د نورو نه جدا كړے شي دے دپاره چه د هغے ميوے چا ته په تحفه كي وركړي چه هغه ترے خوراك وكړي او د هغے ونه به بيرته مالك ته پاتي وي۔

یا دا د عَرِيَ يَعْرَىٰ سَمِعَ يَسْمَعُ نه دے په معنیٰ د بربنډ والی سره گویا که دا ونه هم بربنډه شویده د خپلو نورو ملګرو ونو نه او عطیه جوړه شویده۔

د عرایا صورتونه

په شریعت کی ددے ډیر صورتونه دی لکه حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری باب تفسير العرايا كتاب البيوع (۴۹۱/۴) طبع دار المعرفة بیروت) کی بیان کړیدی (۱) یو دا چه یو سړے باغ والا ته ووائی چه ما باندے د دغه معینو کجورو ونو میوه خرڅه کړه او زهٔ به درله په اټکل سره ددے په بدله کی وچی کجورے درکړم نو باغ والا هغه اټکلی اندازه کړی او په دے سړی باندے ئے خرڅی کړی او ددهٔ نه وچے کجوری واخلی او ونے ورته وسپاری چه دغه ونو نه تازه کجوری شوکوه او ځانله ئے استعمالوه۔(نو مالك ته وچے کجوری په لاس راشی او مشتری ته تازه)۔

(۲) دویم صورت دا دے چه یو باغ والا یو سړی ته د خپل باغ څه معینی کجوری ونے یا د معینو کجورو میوه هبه کی ورکړی بیا دغه سړے ددهٔ باغ ته راځی نو دهٔ ته په هغے باندے ضرر او تکلیف وی نو دا د هغه ونو اټکلی اندازه ولګوی او د هغه نه ئے بیرته په وچو کجورو سره د هغه اټکلی اندازے مطابق واخلی۔

(۳) دریم صورت دا دے چه یو سړے دغه ونے هبه کړی لیکن چا ته ئے چه هبه کړی وی هغه ته ضرر او تکلیف وی ځکه چه هغه انتظارکوی چه دا تازه کجورے به کله پخیږی او د هغه ضرورت پخو کجورو ته وی نو مالك ته ووائی چه دا ونے اندازه کړه او بیرته ئے زما نه په پخو کجورو سره واخله یا بل چا ته ووائی چه ما له په اټکل سره پخے کجورے راکړه او ددے ونو دا کچه کجورے به ستا شی۔

(۴) صورت دا دے چه یو سړے د خپل باغ میوه د بدو الصلاح (پخیدو) نه روستو خرڅه کړی او د هغے نه بعض معینی کجوری ونے مستثنیٰ کړی، د ځان او د خپل اهل دپاره ئے پریدی او دا هغه کجوری وی چه عامل د زکاة نه ددهٔ دپاره پریښی وی او دیته عرایا ځکه وائی چه دا د اټکلی اندازے نه جدا کړے شویدی نو پدے کی محتاجو خلکو ته دا رخصت ورکړے شویدے چه هغوی سره نقدے نهٔ وی او د هغوی سره د هغوی د خوراك دپاره چه کومے پخے کجوری وی هغه ورسره زیاتی وی چه دوی په دغه پخو کجورو سره په اټکلی اندازه د دغه ونو تازه کجوری واخلی۔

(۵) د عریه اطلاق کله پدے هم کیږی چه یو سړے چا ته د ونو کجورے مباح کړی او په هغے کی تصرف ورله مباح کړی او دا یو خاص قسم هبه ده۔
(٦) کله د عریه اطلاق پدے هم کیږی چه عامل د صدقے باغ والا ته د هغه د باغ نه څه معلومے ونے د کجورو جدا کړی چه هغه په زکاة کی نهٔ حسابوی۔ او پدے دوه صورتونو کی بیع نشته۔
بیا د جمهورو په نیز دا ټول صورتونه صحیح دی او دا مذهب د امام شافعیؒ هم دے۔
(۲) امام مالك رحمه الله عریه په بیع کی صرف په دویم صورت باندے حمل کړیده یعنی چه دغه دویم صورت پکی جائز دے۔ (۳) د امام ابو حنیفهؒ په نیز د بیع ټول صورتونه ممنوع دی او هغه عریه په هبه باندے بنده کړیده او د هغے صورت دا دے چه یو سړے د خپل باغ د کجورو میوه یو سړی ته هبه کړی او لا تسلیم کړی ئے نهٔ وی نو بیرته پښیمانه شی او غواړی چه دغه هبه واپس کړی نو دهٔ ته رخصت ورکړے شو چه دا هبه ایساره کړی او دغه شخص ته په اندازه د دغه هبه باندے په اټکل سره پخې کجوری ورکړی، هغه دا وائی چه دا پدے صورت څکه حمل دی چه په حدیث کی د بیع الثمر بالتمر نه منع راغلے ده۔ (چه دیته بیع مزابنه وائی) جواب دا دے چه د عرایا ښکاره استثناء په حدیث د ابن عمرؓ کی راغلے ده۔ انتهی کلام الحافظ بتصرف یسیر۔ لکه ددے بیان به په کتاب البیوع کی راشی ان شاء الله او لفظ د رخص، بیع العرایا، فی اقل من خمسة اوسق ټول قیدونه دلیل دے چه دا بیع ده۔ نو د احنافو مذهب پدے باب کی ضعیف دے۔
قَالَ الصَّقْرُ: : دا ددے حدیث یو راوی دے صقر بن حبیب، بعض ورته صعق وائی: د ابو رجاء العطاردیؒ نه روایت نقل کوی ابن حبانؒ وائی : یَأْتِیْ عَنِ الثِّقَاتِ بِالْمَقْلُوْبَاتِ۔ د ثقه راویانو نه حدیثونه اُلټه نقل کوی، ابن قطانؒ وائی : مجهول راوی دے۔ (میزان الاعتدال)۔
اَلْجَبْهَةُ : د جبهے معنی په اسونو، قچرو، غلامانو سره کوی۔ او قاموس کی دی چه جبهه صرف اسونو ته وائی جار الله په فائق کی وائی چه دے ته جبهه څکه وائی چه دا په چارپیانو کی غوره دی او وجه په معنیٰ د غوره والی سره راځی۔ نو د صقر راوی تفسیر دومره غوره نهٔ دے۔

تنبيه : دا روایت اگرکه ضعیف دے لیکن دغه احکام په نورو احادیثو کی راغلی دی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، رواه الدارقطني الصقر ضعيف قال ابن حبان : ليس من كلام رسول الله ﷺ وانما يعرف باسناد منقطع فقلبه الصقر على ابى رجاء وهو يأتى بالمقلوبات۔ (الضعفاء)

- 1814(21) وَعَنْ طَاوُسَ أَنَّ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ أُتِىَ بِوَقْصِ الْبَقَرِ فَقَالَ : لَمْ يَأْمُرْنِى فِيهِ النَّبِىُّ ﷺ بِشَىْءٍ. رَوَاهُ الدَّارِقُطْنِىُّ وَالشَّافِعِىُّ وَقَالَ : اَلْوَقْصُ مَا لَمْ يَبْلُغِ الْفَرِيْضَةَ.

ترجمه : او د طاوس رحمه الله نه نقل دی چه معاذ بن جبل ﷺ ته د غواګانو وقص (یعنی د دوه نصابو ترمینځ کسر) راوړے شو (دے دپاره چه هغه ترے زکاة واخلی) نو هغه وفرمایل : ما ته پدے باره کی نبی کریم ﷺ هیڅ حکم نهٔ دے کړے۔ دا روایت دارقطنیؒ او امام شافعیؒ نقل کړے او امام شافعیؒ وئیلی دی چه وقص هغه حیواناتو ته وائی چه (په ابتدائی طور باندے یا د دوه نصابونو ترمینځ) د نصاب حد ته نهٔ وی رسیدلی۔

طاوس بن کیسان الیمانی ابوعبد الرحمن الحمیری مولاهم الفارسیؒ، بعض وائی ددهٔ نوم ذکوان دے او طاوس ئے لقب دے ثقه، ثبت، فقیه فاضل د اوساط التابعین نه دے په سنه (۱۰٦ هـ) کی وفات دے۔

تشریح : بِوَقْصِ الْبَقَرِ : وقص د دوه نصابونو ترمینځ فاصلے او کسر ته وائی۔ یعنی د دیرشو نه تر څلویښتو پورے او د څلویښتو نه تر شپیتو پورے چه کومه اندازه وی دغے ته وقص وائی مخکی تیر شویدی چه پدے کی زکاة نشته او دا روایت ئے تائید کوی چه نبی ﷺ ددے په باره کی معاذ بن جبل ﷺ ته حکم نهٔ وو کړے او معاذ بن جبل ﷺ به د خلکو نه د وقص زکاة نهٔ اخستو۔

درجة الحديث : صحيح، رواه الدارقطني والشافعي وقال الشافعي : طاوس وان لم يلق معاذا لكنه عالم بامر معاذ ولكثرة لقيه ممن ادرك معاذا وهذا مما لا اعلم عن احد فيه خلافاً) وصححه الالبانى فى الارواء (٣/ ٢٧٠) وبالجملة فالحديث بطريقه وهذا الشاهد صحيح بلا ريب)،

(۲) - باب صدقة الفطر

د فطرانی، یعنی سرسایه بیان۔

یعنی هغه زکاة چه د فطر (د رمضان د روژے ختمیدو) په وخت ورکولے شی پدے وجه ورته صدقة الفطر هم وائی او دیته زکاة الفطر هم وائی۔ ځکه چه دا د فطر (روژے ماتولو) په وجه واجبیږی۔

مسائل: (۱) صدقه د فطر فرض ده که نهٔ؟ ۱- جمهور (ائمه ثلاثهٔ) وائی فرض ده۔

۲- احناف وائی واجب ده۔ د جمهورو دپاره دلیل روستو حدیث د ابن عمرؓ دے (فَرَضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ زَكَاةَ الْفِطْرِ) احناف دلته فرض په معنیٰ د واجب سره اخلی ځکه چه دوی وائی دا خبر واحد دے او خبر واحد ظنی وی او فرض خو قطعی وی نو په خبر واحد سره فرض نهٔ ثابتیږی نو ځکه ئے په وجوب باندے قول وکړو لیکن دا خبره د دوی خطاء ده ځکه چه کله حدیث په صحیح سند سره ثابت شی نو هغه قطعی وی فرضیت پرے ثابتیږی، او کله چه یو شرعی لفظ راشی نو هغه به په شرعی اصطلاح باندے حملولے شی او حادثه اصطلاح باندے حملول صحیح نهٔ دی صحابه کرامؓ د احنافو د واجبو دا اصطلاح نهٔ پیژندله بلکه هغوی به د فرض نه شرعی فرض مراد کول ځکه چه د نبی ﷺ په زمانه کی دغه واجب د احنافو نهٔ وو بلکه هغوی به دارك نبی ﷺ ته نسبت کولو۔

۲- دویم الزامی رد دا دے چه احنافو چه کومے قاعدے جوړی کړیدی هغه هم اخبار احاد دی او هغه ورته یقینی ښکاری او احادیث اخبار احاد ورته ظنی، دا خو مره بی انصافی ده او د حدیثو بی قدری ده۔

۳- حافظ ابن حجرؒ فرمائی: چه د دوی د قاعدو مطابق هم دلته فرض په خپله معنیٰ باقی پاتے دے ځکه چه پدے سرسایه باندے اجماع ده او اجماع خو دوی قطعی گنړی۔

بعض شوافع او بعض اهل الظاهرؒ ورته سنت مؤکد وائی لیکن صحیح قوی دلیل ورسره نشته۔

(۲) **مسئله**: سرسایه د هجرت په دویم کال د رمضان په میاشت کی د اختر د ورځے

نه دوه ورځې مخکې فرض شویده۔

(۳) : **مسئله** د سرسایه د ورکولو کوم وخت دے ؟ نو عامو احادیثو کې دا ذکر دي چه قبل صلاة العید (د اختر د مانځه نه مخکې) به ئې ورکوي او په بعضو احادیثو کې یو یا دوه ورځې مخکې ورکول هم راغلي دي۔ (وَكَانُوا يُعْطُونَ قَبْلَ الْفِطْرِ بِيَوْمٍ اَوْيَوْمَيْنِ) (صحیح البخاری من حدیث ابن عمر:۱۵۱۱) بلکه د یو حدیث نه معلومیږي چه نبي ﷺ ابو هریره ﷺ د سرسایه په حفاظت باندې مقرر کړے وو او هغه له درې ورځې شیطان راغے په آخري ځل ئې ونیولو او نبي ﷺ له ئې بوتلو الحدیث۔ لیکن صحیح خبره دا ده چه که اسلامي حکومت ته ئې څوك سپاري نو یو، یا دوه یا درې ورځې مخکې ورکول ئې جائز دي او که فقیرانو ته ئې ورکوي نو بیا صرف د صبا د راختلو نه پس تر د اختر د مانځه پورې به ورکولے شي او دا خبره د دلیل په لحاظ قوي ده او دا خبره علامه مبارکفوري په تحفة الاحوذي کې هم راجح کړیده۔

۲- د احنافو نه مشهور روایت دا دے چه د کال په اول سر کې ئې هم ادا کول جائز دي۔

۳- امام شافعيؒ وائي چه د رمضان په اول سر کې هم ادا کولے شي۔

لیکن دا خبرے ضعیفې دي، بعض ورله دلیل دا وائي چه سبب موجود دے چه هغه د رمضان میاشت روژې دي نو نفس وجوب راغے او کله چه نفس وجوب د یو شي راشي نو د هغې سره وجوب الاداء هم کولے شي۔ لیکن دا خبره هم بې دلیله ده۔ او قیاس په زکاة نشي کولے ځکه چه دلته امر دے (وَاَمَرَ بِهَا اَنْ تُؤَدّٰى قَبْلَ خُرُوْجِ النَّاسِ الخ)

٤- مالکیه او اکثر حنابله وائي چه د اختر نه دوه ورځې مخکې ئې ادا کول جائز دي۔

بیا د سرسایه دپاره خپل وخت کې اختلاف دے چه غروب الشمس نه شروع کیږي او که د صبا د راختلو نه، ظاهر دا ده چه د اختر د ورځې د صبا د راختلو نه شروع کیږي۔ نو که څوك ددے نه مخکې د شپے وفات شي په هغه به سرسایه نهٔ وي۔ او سرسایه مخکې ورکول هم صحیح نهٔ دي۔

٤- **مسئله** : د سرسایه دوه فائدے دي لکه روستو روایت کې راځي ۱/ طُهْرَةً لِلصِّيَامِ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ۔ پدے سره روژه د لغویات او فاحشو خبرو نه پاکولے شي۔

۲- اِغْنَاءُ الْمَسَاكِيْنِ۔ د مسکینانو پدے ورځ بې پرواه کول۔ نو ددے فائدے نه هم معلومیږي چه سرسایه به پدے ورځ ورکوي که مخکې ئې ورکړي نو هغه به ئې

خلاصه کړي نو پدے ورځ خو غني نشو نو فائده د سرسایه حاصله نشوه.

٥- **مسئله** : د سرسایه ورستلو دپاره نصاب شرط نهٔ دے، دا پدے کي د زکاة په شان حکم نهٔ لري بلکه څوك چه د یوے ورځے د خوراك طاقت لري نو سرسایه پرے لازمه ده او دا مذهب د جمهورؒ دے یعني (ابو هریره ﷺ، ابو العالیة، شعبيؒ، عطاءؒ، ابن سیرینؒ، زهريؒ، مالكؒ، ابن المبارك، شافعيؒ او ابوثورؒ) احناف وائي چه څوك د دوه سوو درهمو مالك وي یا ددے د قیمت مالك وي چه زیاتي وي د مسکن ددهٔ نه نو په دهٔ به سرسایه وي او که دا نصاب ورسره نهٔ وي نو سرسایه پرے لازمه نهٔ ده. د جمهورو سره دلیل د اول حدیث اطلاق دے او صریح حدیث په آخر ددے باب کي راځي. او بل صریح حدیث په مجمع الزوائد (٨٠/٢) کي د ابو هریره ﷺ موقوف روایت دے چه په هغے کي دي (عَلَى كُلِّ حُرٍّ وَعَبْدٍ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى، صَغِيرٍ اَوْ كَبِيرٍ فَقِيرٍ اَوْ غَنِيٍّ صَاعٌ مِنْ تَمْرٍ اَوْ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ قَمْحٍ) (احمد رقم: ٧٧١٠، بسند صحیح). یعني په فقیر او غني ټولو باندے لازمه ده.

٦- **مسئله** : کله چه غنم ورکوي نو پدے کي یو صاع هم ورکولے شي او دا غوره ده لیکن نصف صاع هم ورکول جائز دي. تفصیل ئے روستو راځي.

جمهورؒ وائي چه د هر شي نه به یو صاع پوره ورکوي هغوي ته د نصف صاع والا حدیث ضعیف ښکاره شویدے لیکن اول قول غوره دے، لیکن صاع مالداره لره پکار دے او نصف صاع غریبانو لره.

٧- **مسئله** : سرسایه کي جنس او قیمت دواړه ورکولے شيَ او که نهٔ ؟ درے قوله دي (١) قیمت هم جائز دے مطلقاً. دا قول د ابو حنیفةؒ او د هغه د اصحابوؒ دے، دوي دلیل دا وائي چه مقصد د سرسایه نه دفع د حاجت د فقیر ده او دا په قیمت سره هم حاصلیږي او په جنس سره هم او مقصد له اعتبار دے.

٢- دویم دلیل دا وائي چه عمر بن عبد العزیزؒ به د خلکو نه په سرسایه کي نیمائي درهم اخستو (ابن ابي شیبة ١٧٤/٣، ١٠٣٦٨) وسنده صحیح. نو دا خلیفه راشد دے او دا عمل ئے کړیدے او ددهٔ په زمانه کي صحابه کرامؓ او تابعین عظامؒ هم وو معلومیږي چه دا خبره په هغوي کي مشهوره وه. دغه شان قول د ابو اسحاق السبیعيؒ نه نقل دي چه وائي ما خلك په رمضان کي موندلي دي چه دوي به د طعام په ځاي په سرسایه کي

دراهم ورکول۔ (ابن ابی شیبة ۳/۱۷٤) وسنده حسن۔

جواب : امام ابوداوُدؒ فرمائی: امام احمدؒ نه تپوس وشو او ما اوریدل چه زهٔ په سرسایه کی دراهم ورکرم؟ هغه ووئیل چه زهٔ یریږم چه دا به جائز نشی۔ دا د رسول الله ﷺ د سنت خلاف دی، ابوطالبؒ وائی : ما ته احمدؒ وفرمایل : قیمت به نهٔ ورکوی، چا ورته وویل چه بعض خلك وائی چه عمر بن عبد العزیزؒ به د خلکو نه قیمت اخستو نو هغه وفرمایل ؛ (يَدَعُوْنَ قَوْلَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَيَقُوْلُوْنَ قَالَ فُلَانٌ) ۔ د الله د رسول ﷺ خبره پریدی او وائی چه فلانی داسې وئیلی دی۔ نو امام احمدؒ پرېې رد وکړو چه د رسول الله ﷺ د خبرې په خلاف د هیچا خبره نهٔ چلیږی اګرکه ډیر نیك انسان وی۔

۲- دویم قول : صرف جنس په سرسایه کی ورکولے شی چه هغه په احادیثو کی راغلی دی یعنی وریشې، کجورې، وچکے، پنیر، غنم۔ او دوی وئیلی دی چه قیمت ورکول صحیح نهٔ دی او دا مذهب د ائمه ثلاثه ؒ دے۔ دلیل دا دے چه رسول الله ﷺ ددې اجناسو تخصیص کریدې او د نبی ﷺ نه او نهٔ د هیڅ صحابی نه دا نقل دی چه هغوی په سرسایه کی قیمت ادا کړے وی سره ددې نه چه په هغه زمانه کی هم دراهمو ته ضرورت وو او رسول الله ﷺ په خپل امت باندې د هرچا نه ډیر رحم والا دے او دا باب د عبادت دے او عبادات په قیاسونو او آراؤ باندې نهٔ ثابتیږی۔

۲- دلیل : دا روستو حدیث دے چه رسول الله ﷺ صرف دغه اجناس مقرر کریدی نهٔ نور۔

۳- دلیل : عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی: رسول الله ﷺ دغه فرض کریدی او الله فرمائی: (اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ) او بعض خلك سنن رد کوی او داسې وائی چه فلانی وئیلی او فلانی وئیلی دی)۔

۳- دریم قول : درمیانه قول دا دے چه همیشه به جنس ورکوی کوم چه په دغه احادیثو کی راغلی دی لیکن د سخت ضرورت او عذر په وخت کی قیمت ورکول هم جواز لری لکه یو طالب ته سرسایه ورکوی نو هغه به په وروخه وکری نو هغه له تهٔ وکیل شه څان ته وره خساب کره او هغه له دٌ هغې قیمت ورکړه۔

دلیل دا دے چه معاذ بن جبل ﷺ د ضرورت په وخت کی د یمن والو نه په زکاة کی کپړې او جامې اخستی دی هغه داسې فرمایلی: (اِئْتُوْنِيْ بِخَمِيْسٍ اَوْ لَبِيْسٍ آخُذُهٗ مِنْكُمْ

فَـإِنَّـهُ أَيسَرُ عَلَيْكُمْ وَأَنْفَعُ لِلْمُهَاجِرِيْنَ بِالْمَدِيْنَةِ) وَفِي رِوَايَةٍ : اِئْتُوْنِيْ بِعَرْضٍ ثِيَابٍ آخُذُهُ مِنْكُمْ مَكَانَ الذُّرَةِ وَالشَّعِيْرِ فَإِنَّهُ اَهْوَنُ عَلَيْكُمْ وَخَيْرٌ لِلْمُهَاجِرِيْنَ بِالْمَدِيْنَةِ)۔ ما ته كپړے راوړئ چه درنو وائي خلم، ځكه دا تاسو باندے آساني دى او په مدينه كى مهاجرينو دپاره ډير فائده مند دى او بل روايت كى دى چه ما ته جامے راوړئ چه د جوارو او وربشو په ځاى ئے درنه واخلم دا په تاسو آسان دى او مهاجرينو دپاره غوره دى)۔ او دا قول شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله غوره كړيدے۔ او ابو الحسن المباركفورئ په ((المرعاة)) كى او شوكانئ په ((السيل الجرار)) كى ددے تائيد كړيدے۔ نو په عامو حالاتو كى پيسے په سرسايه كى وركول صحيح نۀ دى او د رسول الله ﷺ تابعدارى پرينبودل دى۔

٧- سرسايه به د غلام د طرفنه هم وركوى خو چه مسلمان وى دا مذهب د جمهورو دے۔ ٢- احناف وائى چه كافر او مسلمان دواړو د طرفنه به ئے وركوى ځكه سبب د سرسايه نفس رأس (سر) دے او په احاديثو كى عبد لفظ مطلق دے او قانون دے چه مطلق به په خپل اطلاق جارى كيږى او مقيد په خپل تقييد او جمهورٌ وائى چه حديث كى (من المسلمين) قيد راغلے دے او مطلق به په مقيد باندے حمل كول واجب وى كله چه حادثه يوه وى او دلته حادثه يوه ده چه صدقة الفطر ده نو صرف د مسلمان د طرفه به ادا كولے شى دلته احنافو يو جانب ته حديث غورځولے دے د خپلے قاعدے د وجه نه۔ بله دا چه سرسايه كى مقصود طهرة للصائم دے او كافر ددے اهل ندے هغه خبيث دے۔

باقى مسائل او فوائد به د هر حديث لاندے راځى۔

الفصل الأول

- 1815 (1) عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : فَرَضَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ زَكَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيْرٍ عَلَى الْعَبْدِ وَالْحُرِّ وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثٰى وَالصَّغِيْرِ وَالْكَبِيْرِ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ وَأَمَرَ بِهَا أَنْ تُؤَدّٰى قَبْلَ خُرُوْجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : ابن عمر ﷺ فرمائى: رسول الله ﷺ زكاة فطر (يعنى سرسايه) يو صاع د كجورو نه يا يو صاع د وربشو نه د مسلمانانو نه په هر غلام او آزاد او نر او ښځه، او ماشوم او لوى باندے فرض كړيدے او پدے باره كى ئے دا حكم كړيدے چه دا به د خلكو

د (اختر) مانځه ته د وتلو نه مخکي ادا کولے شي۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح : د فَرَضَ نه معلومیږي چه سرسایه فرض ده۔

زَكَاةَ الْفِطْرِ : ددے نه معلومه شوه چه د سرسایه وخت د واجبیدو دا دے چه د اختر د شپے نمر پریوزی ځکه چه د رمضان روژه په همدے وخت کی ماتیږی. نو فطرئے سبب دے نو که څوك د اختر په شپه مړ شو نو په هغه به دا سرسایه راځی ځکه چه هغه خو فطر کریدے۔ او دا مذهب د ثوریؒ، احمدؒ، اسحاقؒ، شافعیؒ او یو روایت د مالك دے۔ او بعض علماء وائی چه سرسایه به هله واجبیږی چه د اختر د ورځے صبا صادق راوخیژی ځکه چه شپه محل د روژے نۀ ده او فطر حقیقی دا د صبا د راختلو نه روستو په خوراك سره ښکاره کیږی او دا قول د ابوحنیفةؒ، لیث بن سعدؒ، او قول قدیم د شافعیؒ دے او دویم روایت د مالك نه دے حافظ ابن حجرؒ فرمائی: چه ددے قول تقویه د حدیث په دے قول سره کیږی چه (وَاَمَرَ بِهَا اَنْ تُؤَدّٰی قَبْلَ خُرُوْجِ النَّاسِ اِلَی الصَّلَاةِ) يعنی دا به د اختر د مانځه ته د وتلو نه مخکی ورکوی)۔

صَاعًا : د صاع اندازه مخکی بار بار ذکر شویده لکه باب الغسل کی وګوره۔ یعنی پاؤ باندے دوه کیلو۔

عَلَى الْعَبْدِ وَالْحُرِّ وَالذَّكَرِ وَالْاُنْثٰى وَالصَّغِيْرِ وَالْكَبِيْرِ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ :

۱- بعض علماؤ دا وئیلی دی چه سرسایه صرف په کلو او ښاریو والو باندے لازمه ده او په باندو والو باندے لازمه نۀ ده لکه دا خبره لیث بن سعدؒ کریده۔ ۲- مګر ابن رشد رحمه الله په ((بداية المجتهد)) کی فرمائی: د علماؤ پدے اجماع ده چه سرسایه مسلمانان ورکوی نارینه وی که زنانه، واړه وی که غټ، غلامان وی که آزاد، د وجے ددے حدیث د ابن عمر رضی الله عنهما نه او قول د لیثؒ شاذ دے۔ او د هغه سره پدے باب کی هیڅ دلیل نشته۔

علی العبد : غلام باندے هم سرسایه شته خو ددۀ د طرفنه به ئے سیّد اوباسی دلیل پرے حدیث مرفوع د ابو هریره ﷺ د صحیح مسلم دے : (لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ فِيْ عَبْدِهٖ صَدَقَةٌ اِلَّا صَدَقَةَ الْفِطْرِ)۔ په مسلمان باندے د هغه په غلام کی زکاة نشته مګر سرسایه به ترے ورکوی):۔

والانثی : که د ښځے خاوند وو او که نۀ وو په هغے باندے سرسایه واجب ده، نۀ په

خاوند باندې، امام مالك، شافعيؒ، ليثؒ، احمدؒ او اسحاقؒ وائي چه سرسايه ئې په خاوند باندې فرض ده لکه څنګه ئې چه نفقه پرې فرض ده. د اول قول ترجيح د لفظ د انثیٰ نه معلوميږي.

بيا پدې کې اتفاق دے چه که د يو مسلمان ښځه کافره وه نو په خاوند باندې د هغې سرسايه لازمه نۀ ده اګرکه نفقه پرے واجبه ده.

والصغير والكبير: ظاهر ددے دا دے چه په ماشوم باندې لازمه ده ليکن مخاطب پدے سره د هغه ولی دے نو په مال د ماشوم کې به د هغه نه سرسايه ادا کوی او که مال ورسره نۀ وو نو پلار وغيره به ئې ورله د خپل مال نه ادا کړی. او دا قول د جمهورو دے.

۲- امام محمد بن الحسنؒ فرمائی: دا په پلار باندې دے په هر حال کې اګرکه د ماشوم دپاره خپل مال هم وی او که پلار ئې نۀ وو نو په ماشوم باندې هيڅ نشته. او دا قول د ابن حزمؒ هم دے. (المحلی ٤/٢٦١)

او ماشوم اګرکه روژه نۀ ده نيولے ليکن شريعت په هغه هم سرسايه لازمه کړيده دے دپاره چه دويمه فائده د سرسايه حاصله شی چه هغه د مسکينانو بی پرواه کول دی.

راجح قول د جمهورو دے څکه چه په حديث د ابوسعيدؓ کې عند البيهقی (٤/١٦٠) داسے الفاظ دی: (كُنَّا نُخْرِجُ اِذَا كَانَ فِيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ زَكَاةَ الْفِطْرِ عَنْ كُلِّ صَغِيْرٍ وَكَبِيْرٍ حُرٍّ اَوْ مَمْلُوْكٍ الخ) رَوَاهُ مُسْلِمٌ فِي الصَّحِيْحِ - موږ به د هر ماشوم او لوی نه سرسايه ويستله. او نافعؒ فرمائی: عبد الله بن عمرؓ به د خپلو بچو او دارنګه زما د بچو د طرفنه هم ادا کوله. (صحيح البخاری: ۱۵۱۱)

من المسلمين: دا لفظ دلالت کوی چه اسلام شرط دے د فرضيت د سرسايه دپاره. نو که يو غلام کافر وی نو د جمهورو په نيز په هغه باندې سرسايه نشته. څکه په روايت د مسلمؒ کې داسے الفاظ دی (عَلٰى كُلِّ نَفْسٍ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ حُرٍّ اَوْ عَبْدٍ) نو پدے روايت کې هيڅ تاويلات نۀ صحيح کيږی. او کوم روايت کې چه مطلق ذکر دی هغه به محمول وی پدے مقيد باندې او کوم روايت د دارقطنیؒ عن ابن عباسؓ کې چه ورسره يهودی او نصرانی ذکر دے نو هغه ضعيف جداً روايت دے، په سند کې ئې سلام الطويل متروك راوی دے. طحاویؒ دا جواب کوی چه دلته (من المسلمين) صفت د ويستونکو دے. ليکن صاحب المصابيحؒ په شرح السنه کې پرے رد کړيدے چه په

روایت د مسلمؒ کی (عَلٰی کُلِّ نَفْسٍ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ حُرٍّ اَوْ عَبْدٍ) لفظ صریح نص دے چه (من المسلمین) لفظ صفت د ماقبل نفس دے او حر او عبد د هغے نه بدل دی نو تاویل د طحاویؒ باطل دے۔

وَاَمَرَ بِهَا اَنْ تُؤَدّٰی قَبْلَ خُرُوْجِ النَّاسِ اِلَی الصَّلَاةِ:

نبی ﷺ دا حکم کړیدے چه دا سرسایه به د اختر د مانځه نه مخکی ورکوی ابن حزمؒ وائی چه ددے وخت نه وروستو ادا کول ئے حرام دی، او په صحیح حدیث د ابوداودؒ کی راغلی دی چه که د مانځه روسته ئے څوك ادا کړی نو دا به سرسایه نۀ وی، د سرسایه فائدے به پرے نۀ حاصلیږی هسے عامه صدقه ده. مگر بیا به ئے هم ورکوی نو ظاهر دا ده چه دلته امر د نبی ﷺ د وجوب دپاره دے، مخکی ادا کول به ئے واجب وی. او جمهورؒ وائی چه د مانځه نه مخکی ادا کول ئے مستحب دی، که د مانځه نه مخکی پاتے شوه نو روسته به ئے ورکړی او ددۀ نه نۀ ساقطیږی بلکه ضرور به ئے ورکوی اګرکه د سرسایه اجرئے ونشو. اول قول راجح دے ځکه نص پکی دے (فَهِیَ صَدَقَةٌ مِنَ الصَّدَقَاتِ رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِیُّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ۔

- 1816(2) وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ ﷺ قَالَ: کُنَّا نُخْرِجُ زَکَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ طَعَامٍ اَوْ صَاعًا مِنْ شَعِیْرٍ اَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ اَوْ صَاعًا مِنْ اَقِطٍ اَوْ صَاعًا مِنْ زَبِیْبٍ. مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ

ترجمه: او سیدنا ابوسعید خدری ﷺ فرمائی: مونږ به سرسایه یو صاع د طعام نه یا یو صاع د وربشو نه یا یو صاع د کجورو نه یا یو صاع د پنیر نه یا یو صاع د وچکو نه (په زمانه د نبی ﷺ کی) ویستله. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: د طعام نه څه مراد دے؟ ددے په تعیین کی د علماؤ اختلاف دے خطابیؒ په معالم السنن (۵۱/۵۰/۲) کی فرمائی: بعض علماء وائی چه د طعام نه مراد دلته غنم دی دلیل دا دے چه پدے حدیث کی د طعام سره وربشے، پنیر، کجورے او وچکے ذکر دی او دا په هغه زمانه کی د صحابه کرامو خوراك وو او غنم ئے ذکر نکړل ځکه چه دا په هغه وخت کی ګران وو او غوره وو نو که دلته د طعام نه غنم مراد نشی نو بیا به ئے په تفصیل کی د نورو خوراکونو سره دا ضرور ذکر کولے. آه۔

او بعض علماء وائی چه په روایت د حفص بن میسرةؒ کی په بخاری کی د ابوسعید

خدري ﷺ داسے الفاظ دي: چه مونږ به زكاة الفطر د نبي ﷺ په زمانه كي يو صاع طعام وركولو او په هغه وخت زمونږ طعام وربشے، وڅكے، پنير او كجورے وے))

دوي وائي چه بس طعام لفظ اجمال دے او دا روستنه څيزونه د هغے تفصيل شو.

ليكن علامه برماوئ ددے روايت نه دا جواب وركړيدے چه پدے روايت كي طعام اگركه په اعتبار د معنىٰ لغوى سره هر مطعوم (د خوراك شى) ته شامل دے ليكن دا منافات ددے سره نهٔ لرى چه ددے تخصيص په غنمو سره وشى ځكه چه په دے باندے ئے الشعير (وربشے) عطف كړيدى نو دا دلالت كوى په تغاير باندے او دا د قبيلے د عطف د خاص على العام نه هم نهٔ دے ځكه چه دا په هغه وخت كي كيږى چه خاص اشرف وى د عام نه لكه فاكهة ونخل ورمان يا لكه (وملائكته وجبريل) او دلته برعكس دے آه.

ليكن صحيح خبره دا ده چه په زكاة الفطر كي په احاديثو كي څو څيزونه راغلي دي، ۱-وربشے، ۲- كجورے، ۳- پنير، ۵- وڅكے ٦- او طعام او د طعام نه مراد يا غنم دى ۷- يا جوار دي لكه دا خبره حافظ ابن حجرؒ كړيده فتح البارى (۳/۲۹۱)

۸- سلت، يو قسم د وربشو دے. دا هم په صحيح كي راغلي دي. (ابن خزيمه ۸۹/٤) عن ابن عمر مرفوعاً بسند صحيح.

۹- وره وركول. لكه په روايت د ابن خزيمةؒ كي د ابن عباسؓ نه نقل دي چه مونږ ته رسول الله ﷺ حكم كړيدے ...... وَمَنْ أَدّٰى دَقِيْقًا قُبِلَ مِنْهُ وَمَنْ أَدّٰى سَوِيْقًا قُبِلَ مِنْهُ) چاچه ورهٔ ادا كړل دا به ترے قبلولے شي. دا روايت ضعيف دے اگركه اعظميؒ ورته په تعليق د ابن خزيمةؒ كي صحيح وئيلے دے ځكه چه د ابن سيرين او د ابن عباس ملاقات نهٔ دے شوے. او په روايت د حسنؒ عن ابن عباسؓ كي چه دقيق ذكر دي نو هغه روايت بزار راوړيدے او صحيح نهٔ دے ځكه چه حسنؒ مدلس دے او دا روايت ئے په (عَنْ) سره نقل كړيدے او اگركه ثقه دے ليكن روايت ئے ضعيف دے او دا روايت ئے د بل چا نه آوريدلى دے ځكه چه كله ابن عباسؓ دا خطبه وئيله نو حسنؒ په دغه وخت نهٔ وو موجود.

(كشف الأستار عن زوائد البزار لابى بكر الهيثمى) وضعفه الالبانى فى الارواء (۳/۳۳۸) ايضاً.)

(۱۰) او په دغه روايت كي ورسره سويق (ستوان) هم ذكر دي ليكن روايت ضعيف دے. ليكن د ضعف جبيره ئے پدے سره كيږى چه دا په دوه طريقو سره نائل دے.

حاصل: غوره دا ده چه بنده صرف هغه څيزونه، په سرسايه، كي وركړى كوم چه په

صحیح احادیثو کی ثابت وی چه هغه مخکنی اته څیزونه دی۔

مسئله: آیا نور څیزونه د خوراك ورکول جائز دی؟ یعنی چه په سرسایه کی د دغه اته څیزونو په ځای نور د خوراك څیزونه ورکړی لکه وریژې، لوبیا، دال وغیره۔ نو پدې کی اختلاف دې (۱) ځینی علماء وائی چه په حدیث د ابو سعید خدریؓ کی چه کوم څیزونه ذکر دی یعنی غنم، وریشې، کجورې، وچکې، او پنیر بس د هغې ورکول به لازم وی او نور څیزونه ورکول به صحیح نهٔ وی ځکه چه دغه څیزونه د نبی ﷺ په زمانه کی په سرسایه کی ورکړې شویدی۔ (۲) بعض علماء وائی چه ددې څیزونو تخصیص نشته بلکه دا د هغه زمانې عام خوراکونه وو او نور خوراکونه چه په ښار کی کوم مروج وی د هغې ورکول هم جائز دی لکه وریژې، جوار وغیره۔

شیخ محمد بن صالح العثیمین رحمه الله فرمائی: یقینی صحیح خبره دا ده چه زکاة الفطر صرف د طعام نه جائز دې او هر طعام چه د یو ښار قُوْت (خوراك) وی نو هغه به جائز وی او کله چه تهٔ پدې باره کی د اهل علمو اقوال وینې نو هغه دوه طرفه دی او یو معتدل قول دې یو طرف خلك وائی چه سرسایه د طعام نه هم اوباسه او د پیسو نه هم، او بل طرف وائی چه د پیسو نه ئې مهٔ اوباسه او د طعام نه ئې هم مهٔ اوباسه مگر صرف د پنځه قسمه طعام نه چه هغه غنم، کجورې، وریشې، وچکې، پنیر دی۔ او دا دوه قوله د یو بل مقابل دی او دریم درمیانه قول دا دې چه: د هر هغه څه نه سرسایه وباسه چه خلك ئې خوری او د هغه څه نه ئې مهٔ اوباسه چه خلکو ئې نهٔ خوری نو مثلًا د غنم، کجورو، وریژو او جوارو نه ئې اوباسه، او کله چه تهٔ په یو داسې ځای کی وسیږې چه هلته خلك جوار د طعام په ځای استعمالوی یا ددې په شان نور څیزونه، فرض کړه چه مونږ په یو داسې علاقه کی یو چه هلته خلك غوښه د غنمو او وریشو په ځای استعمالوی نو مونږ به سرسایه د غوښې نه وباسو او بناء پدې بانډې په سوال کی چه کومه خبره ذکر ده چه بانډو والا د زکاة الفطر په ځای غوښه اوباسی نو دا به د زکاة الفطر په ځای بانډې صحیح نهٔ وی۔ (فتاوی رمضان (۹۱۷)۔

مسئله: د احادیثو نه معلومیږی چه ددغه تیر شوی څیزونو نه به یو صاع (یعنی پاؤ باندې دوه کیلو) اوباسی نو آیا د غنمو نه نیم صاع ویستل به څنګه وی؟ نو په یو حدیث د ابو سعید خدری رضی الله عنه کی داسې راغلی دی: (كُنَّا نُخْرِجُ إِذَا كَانَ فِينَا رَسُولُ اللهِ

ﷺ - زَكَاةَ الْفِطْرِ عَنْ كُلِّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ حُرٍّ أَوْ مَمْلُوكٍ صَاعًا مِنْ طَعَامٍ أَوْ صَاعًا مِنْ أَقِطٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ زَبِيبٍ فَلَمْ نَزَلْ نُخْرِجُهُ حَتَّى قَدِمَ عَلَيْنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ حَاجًّا أَوْ مُعْتَمِرًا فَكَلَّمَ النَّاسَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَكَانَ فِيمَا كَلَّمَ بِهِ النَّاسَ أَنْ قَالَ إِنِّي أَرَى أَنَّ مُدَّيْنِ مِنْ سَمْرَاءِ الشَّامِ تَعْدِلُ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ فَأَخَذَ النَّاسُ بِذَلِكَ، قَالَ أَبُوسَعِيدٍ: فَأَمَّا أَنَا فَلَا أَزَالُ أُخْرِجُهُ كَمَا كُنْتُ أُخْرِجُهُ أَبَدًا مَا عِشْتُ) (صحيح البخاري ومسلم).

مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه کی زکاة الفطر د هر ماشوم، لوی، آزاد او غلام د طرف نه یو صاع د طعام (یعنی غنمو) او یو صاع د پنیر او یو صاع د وریشو یا یو صاع د کجورو یا یو صاع د وچکو نه ویستلو مونږ پدے باندے همیشه عمل کولو تردے چه معاویه ﷺ د حج یا عمرے دپاره (د شام نه راغے) نو خلکو ته ئے په منبر باندے ووئیل چه د شام نه کوم غنم راځی ددے دوه مده (یعنی نیم صاع) ما ته د کجورو د یو صاع برابر ښکاری نو خلکو پدے باندے عمل شروع کړو، ابوسعید وفرمایل: هرچه زهٔ یم نو زهٔ به همیشه هغه سرسایه ویاسم کوم چه ما مخکی د رسول الله ﷺ په زمانه کی ویستله.

ددے حدیث نه بعض علماؤ دا ثابته کړیده چه د غنمو نه نیم صاع ویستل هم جائز دی ځکه چه دلته معاویه ﷺ خلکو ته دا فتویٰ ورکړه او خلکو ئے مخالفت ونکړو صرف ابوسعید خدری ﷺ ئے مخالفت وکړو ځکه چه هغه ته بهتره دا ښکاره کیدله چه د هر شی نه پوره صاع ورکړے شی، یا دا چه هرکله چه نبی ﷺ صحابه کرامو دپاره یو صاع د هر شی نه مقرر کړے وو سوئ د غنمو نه چه دا په هغه زمانه کی ډیر نهٔ وو نو ددے حال ورته نبی ﷺ نهٔ وو بیان کړے نو ابوسعیدؓ غنم په غیر غنمو قیاس کړل او پدے کی هم د یو صاع قائل شو.

بل طرفته نور علماء وائی چه د غنمو نه نیم صاع نهٔ صحیح کیږی ځکه چه پدے باره کی کوم مرفوع روایات راغلی دی هغه تول متکلم فیها دی امام بیهقیؒ د نصف الصاع من القمح روایات راوړیدی بیا ئے وئیلي دی: د نبی ﷺ نه څه احادیث د غنمو په یو صاع کی نقل دی او څه احادیث په نیم صاع کی خو ددے نه هیڅ شے هم صحیح نهٔ دے او ما د هر یو علت په کتاب (الخلافیات) کی ذکر کړیدے او هرچه په حدیث د ابوسعیدؓ او په حدیث ابن عمرؓ کی د معاویه ﷺ یا د خلکو نیمائی صاع د غنمو د یو

صاع د وریشو سره برابرول دي نو دا د نبي ﷺ نه روستو واقع شويدي۔ يعني دا د صحابه کرامؓ اجتهاد دے او مرفوع صحيح حديث پکې نشته۔ (البيهقي ۱۷۰/٤)

او دا اجتهاد پدے بناء دے چه د دوی په نيز د غنمو نه ماسوئ څيزونو قيمت يو برابر وو او د غنمو قيمت زيات وو، نو ددے نه خو بيا دا لازميږي چه په هره زمانه کې دے قيمت له اعتبار ورکړے شي نو بيا به په بعضو زمانو کې د غنمو ډير صاعونه ويستل لازم شي۔

او ابن المنذر رحمه الله وئيلي دي چه مونږ ته د غنمو په باره کې د نبي ﷺ نه هيڅ صحيح حديث نۀ دے معلوم چه په هغې اعتماد وکړے شي او په مدينه کې غنم ډير کم ملاويدل نو کله چه زمانه د صحابه کرامؓ شوه نو غنم زيات شو نو دوی د هغې نيمائي صاع د وريشو د يو صاع په ځای حساب کړو او هغوی خو د امت مشران دي نو دا جائز نۀ ده چه د هغوی د قول نه تجاوز وشي مګر د هغه چا قول ته به تجاوز صحيح وی چه د هغوی په شان وی بيا ئے د عثمان، علي، ابو هريره، جابر، ابن عباس، ابن الزبير او د هغه مور اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنهم نه په صحيح سندونو سره ذکر کړيدی چه دوی به په سرسايه کې د غنمو نيم صاع جائز ګنړلو۔

ليکن راجح دا ده او احتياط هم دے چه د غنمو نه هم يو صاع ورکړے شي او که چا نيم صاع ورکړو نو هم ان شاء الله تعالیٰ چه جائز به وی ځکه چه دے باره کې هم بعض مرفوع احاديث صحيح شته او د صحابه کرامؓ آثار پکې بيخي صحيح دی۔ لکه مخکنے روايت د ابو سعيدؓ شو، دارنګه د اسماء بنت ابی بکر الصديقؓ روايت په طحاوی، صحيح ابن خزيمه، طبرانی فی الکبير او ابن ابی شيبه کې په صحيح سند راغلے دے چه دے به په زمانه د رسول الله ﷺ کې د خپل اهل نه د آزاد او د غلام نه دوه مده د حنطې (غنمو) ويستل۔ (تمام المنة ص ۳۸۷)

ابوداودؒ د عمر فاروق ؓ نه نقل کړيدی چه هغه به د غنمو نيم صاع ويستلو (ابوداود رقم (۱٦۱۵) او مرفوع احاديث زيلعيؒ په نصب الرايه (۲/٤۱۸ و ٤۲۳) کې او عينی (۹/۱۱٤، ۱۱۵) نقل کړيدی او بعض روسته پدے باب کې راروان دی۔ وراجع الی فتاوی الدين الخالص (۸/۲٤۰) ايضاً۔

او صاعا من اقط: بعض علماؤ وئيلي دي چه کله يو قوم پنير خوراك استعمالوی نو

بيا خو د هغوي دپاره ددے نـه سرسايـه وركـول جائز دي البتـه كـه پنير هغوي نـهٔ استـعمالوي لكه د ښار والا خلك شو او په نورو مخكنو څيزونو باندے ئے قدرت وو نو د پنيـر نـه بـه سرسايـه نهٔ وركوي ځكه چه پدے كي زكاة نهٔ واجبيږي لكه د غوښے په شان۔ ليكن دا خبره د ظاهر د حديث خلاف ده ځكه چه ظاهر د حديث دا دے چه باندو والا وي يا ښار والا، پنير د هغوي خوراك وي يا نهٔ وي خو حديث كي مطلقاً ذكر دے او حديث كي دا تـفـصيـل او فـرق نشتـه نـو پدے وجـه پـه هر خالت كي پنير او هر يو د منصوص څيزونو باندے چه ورغي هغه ادا كيږي۔ او د امام بخاريؒ د طرز نه هم دا خبره معلوميږي ځكه چه هغه پدے باندے جدا جدا بابونه تړلي دي۔

الفصل الثاني

- 1817(3) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فِيْ آخِرِ رَمَضَانَ : أَخْرِجُوْا صَدَقَةَ صَوْمِكُمْ. فَرَضَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ هٰـذِهِ الـصَّـدَقَةَ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيْرٍ أَوْ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ قَمْحٍ عَلٰى كُلِّ حُرٍّ أَوْ مَمْلُوْكٍ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثٰى صَغِيْرٍ أَوْ كَبِيْرٍ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : سيدنا عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د رمضان په آخري (ورځ) كي (خلكو ته) وفرمايل: چه تاسو د خپلو روژو زكاة وباسئ (يعني صدقة الفطر ادا كړئ)۔ رسول الله ﷺ دا صدقـه يـو صاع د كجورو نه يا د وربشو نه يا نيم صاع د غنمو نه په هر آزاد يا غلام، نر او ښځه، ماشوم او لوي باندے فرض كړيده۔ (ابوداودؒ، نسائيؒ)

تشريح : قَالَ فِيْ آخِرِ رَمَضَانَ : پـه روايت د ابـوداودؒ او نسائيؒ وغيره كي د حميد الـطـويلؒ په سند د حسن بصريؒ نه دا روايت داسے نقل دے چه هغه فرمائي: ابن عباس رضـي الله عنهـمـا پـه آخـر د رمـضـان كـي د بَـصـرے پـه منبر باندے خطبه وكړه نو وے فرمايل : أَخْرِجُوْا صَدَقَةَ يَوْمِكُمْ۔ اُوباسئ زكاة د نن ورځے ستاسو۔

او پـه روايـت د نسـائيؒ كي داسے الفاظ دي : (قَـالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَهُوَ أَمِيْرُ الْبَصْرَةِ فِيْ آخِرِ الشَّهْـرِ أَخْرِجُـوْا زَكَاةَ صَوْمِكُمْ) ابـن عـبـاسؓ چـه كـلـه د بـصـرے امير وو نو د مياشت د رمضان په آخر كي ئے داسے وفرمايل : د خپلو روژو زكاة وباسئ۔

مِنْ قَمْحٍ : قـمـح غـنـمـو تـه وائـي۔ دا حديث د هغه علماؤ دليل دے چه وائي چه په سرسايه كي د غنمو نيم صاع هم كافي كيږي۔

په روایت بیهقی (١٦٨/٤) کی داسے الفاظ دی (قَالَ أَيِ الْحَسَنُ خَطَبَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ بِالْبَصْرَةِ فِيْ آخِرِ رَمَضَانَ ......الخ) پدے باندے علماؤ دا اعتراض کریدے چه ابن المدینی رحمه الله وائی چه حسنؒ د ابن عباسؓ نه آوریدل نهٔ دی کړی او نهٔ ئے هیڅ کله لیدلے ځکه چه حسنؒ په مدینه کی وو کله چه ابن عباسؓ په بصره باندے والی وو۔ او دلته ئے چه داسے وئیلی دی چه مونږ ته ئے خطبه کړے وه یعنی اهل بصرے ته ئے خطبه کړے وه، دغه شان حافظ بزارؒ په خپل مسند کی وائی چه حسنؒ د ابن عباسؓ نه آوریدل نهٔ دی کړی او دا خبره د حسنؒ ئے بده ګنړلے چه هغه وئیلی دی مونږ ته ابن عباسؓ خطبه ووئیله ځکه چه ابن عباسؓ دا خطبه په ورځ د جَمَل ویلے وه او حسنؒ بصرے ته د صفین په ورځو کی راغلے دے۔ انتهیٰ۔ او بیهقیؒ هم وئیلی دی چه ډیر اصح روایت د حسنؒ داسے دے: خَطَبَ۔ نهٔ خَطَبَنا۔ او دا خبره حافظ ابن القیمؒ په تهذیب السنن کی د امام بخاریؒ نه هم ذکر کړیده۔ خطب لفظ اصح دے ځکه چه د حسنؒ سماع د ابن عباسؓ نه نهٔ ده ثابته۔

لیکن شیخ احمد شاکرؒ په تعلیق علی المنذری کی لیکی چه د حسنؒ د ابن عباسؓ نه سماع ثابته ده او کومو علماؤ چه وئیلی دی چه سماع ئے نهٔ ده ثابته دا د هغوی وَهم دے ځکه چه حسنؒ د ابن عباسؓ سره په زمانه کی یو دے او د ابن عباسؓ په بصره باندے د والی کیدو په وخت کی د حسن بصریؒ په مدینه کی کیدو نه دا مانع نهٔ دی چه ګنے دهٔ به د ابن عباسؓ نه ددے نه مخکی یا ددے نه روستو سماع نهٔ وی کړی۔ لکه دا خبره د محدثینو په نیز مشهوره ده چه دوی اکتفاء په معاصرت باندے کوی آه۔ لیکن شیخ البانیؒ په هغه باندے رد کړیدے۔ وانظر المرعاة ایضاً (٢٠٥/٦)۔

بیا شیخ البانیؒ فرمائی چه ددے روایت نور شواهد شته د هغے د وجے نه صحیح دے۔ (ضعیف ابی داود باب الزکاة ١٢٣/٢)۔

درجة الحديث: اسناده منقطع ولكنه صحيح لشواهده، رواه ابو داود والنسائي واخرجه ايضا احمد (٢٢٨/١) مختصراً و (٣٥١/١) مطولا والدارقطني والبيهقي كلهم من رواية الحسن عن ابن عباس فالرواية مرسلة عند المباركفوري ولكن لها شواهد بها ترتفع الى الصحة۔

- 1818 (4) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: فَرَضَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ زَكَاةَ الْفِطْرِ طُهْرًا لِلصِّيَامِ مِنَ

اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ وَطُعْمَةً لِلْمَسَاكِيْنِ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ابن عباس رضی الله عنهما وفرمایل: رسول الله ﷺ د روژو د بیهوده (فضول) خبرو او د بی حیاء خبرو نه د پاك كولو دپاره او مسكينانو ته د خوراك وركولو دپاره سرسايه فرض كړیده۔ (ابوداوُد)

تشريح : پدے كى د سرسايه فائدے ذكر دى چه یو ذاتى فائده ده چه پدے سره د انسان روژے پاكيږى ځكه چه په روژه كى به د انسان نه فضول خبرے او بى حياء خبرے شوى وى۔ او بله متعدى فائده ده، ځكه چه د مسلمان شان دا دے چه خوشحالى به يواځے نۀ تيروى بلكه د غريبانو مسلمانانو همدردى به كوى۔

طُهْرًا : په ضمه د طاء سره په معنىٰ د تطهير سره۔

اللَّغْوِ : هغه خبرے ته وائى چه د زړه نه نۀ وى۔ طيبىؒ وائى : ددے نه مراد قبيحے خبرے دى۔

وَالرَّفَثِ : رفث په اصل كى د ښځے او د خاوند ترمينځ د بسترے خبرو ته وائى۔ دلته ترے مراد فاحشے خبرے دى۔

وَطُعْمَةً : په ضمه د طاء سره هغه طعام ته وائى چه خوړلے شى۔

لِلْمَسَاكِيْنِ : دے نه بعض علماؤ دليل نيولے دے چه سرسايه به صرف مسكينانو ته وركولے شى او دا د زكاة په شان نۀ ده چه نورو مصارفو ته وركولے شى۔ او همدا خبره راجحه ده۔او دا قول شيخ الاسلام ابن تيميه او ابن القيم او امام شوكانى او شيخ البانى (رحم الله الجميع) اختيار كړيدے، او شيخ البانىؒ په سيد سابقؒ باندے رد كړيدے چه هغه په ((فقه السنه)) كى وئيلى دى چه د سرسايه مصرف د زكاة مصرف دے چه په اته اصنافو به ئے تقسيموى، شيخ البانىؒ وائى چه عملى او قولى سنت د نبى ﷺ كى صرف ددے مصرف مساكين خودلے شويدى۔ مجموع الفتاوى (۸۱/۲) نيل الاوطار (٢٥٥/٤) تمام المنة (٣٨٧)

طهرا للصيام نه بعض علماؤ دليل نيولے دے چه دا په هر چا باندے لازمه ده، غنى وى كه فقير ځكه چه دواړه روژه نيسى او دواړه دے فائدے ته محتاج دى، امام خطابىؒ په معالم السنن (٤٧/٢) كى فرمائى چه دواړه په علت كى شريك دى چه هغه صفائى د روژے ده نو په وجوب كى به هم شريك كيږى۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، رواه ابوداود وابن ماجه والدارقطني والحاكم والبيهقي۔

الفصل الثالث

- 1819(5) (لم تتم دراسته) عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ بَعَثَ مُنَادِيًا فِي فِجَاجِ مَكَّةَ: " أَلَا إِنَّ صَدَقَةَ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ مُدَّانِ مِنْ قَمْحٍ أَوْ سِوَاهُ أَوْ صَاعٌ مِنْ طَعَامٍ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه: عمرو بن شعیب د خپل پلار هغه د نیکه نه روایت کوی چه نبی ﷺ د مکے په لارو کی یو آواز کونکے ولیږلو (چه دا آواز ئے کولو): خبردار! سرسایه په هر مسلمان باندے واجب ده برابره ده که نارینه وی یا زنانه، آزاد وی یا غلام، ماشوم وی یا لوی (ددے اندازه) دوه مده (یعنی یو کیلو) د غنمو نه یا ددے نه د ماسوئ نه یا یو صاع د طعام (غلو) نه۔ (ترمذیؒ)

تشریح: فِي فِجَاجِ: فجاج جمع د فَجٌّ ده غټے لارے ته وائی۔

مُدَّانِ مِنْ قَمْحٍ: ددے نه معلومه شوه چه په سرسایه کی د غنمو نه نیم صاع ورکول هم جائز دی ځکه چه دوه مده نیم صاع وی۔ او مد د دواړو لاسونو ډکے لپے ته وائی۔

أَوْ سِوَاهُ: یعنی سِوئ د غنمو نه او کلمه د (او) د اختیار دپاره ده یا د تنویع دپاره۔ او هغه دویم (اول) غلط دے۔ لیکن دا روایت ضعیف دے، په سند کی ئے سالم بن نوح دے ابن عدیؒ وائی: (عِنْدَهُ غَرَائِبُ) نو دا لفظ د سِوَاهُ ئے هم زیاتی کړیدے۔ ددے روایت شلور طرق دی او د ټولو مدار په ابن جُریج باندے دے او هغه ته ابن حبانؒ او نسائیؒ وغیره مدلس وئیلے دے او دارقطنیؒ وائی چه د ابن جُریجؒ د تدلیس نه ځان وساته ځکه چه دا قبیح التدلیس دے د مجروح راوی نه تدلیس کوی۔ او دلته ئے په سماع باندے صراحت هم نهٔ دے کړے، امام بخاریؒ وائی: لَمْ يَسْمَعْ ابْنُ جُرَيْجٍ مِنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ كَذَا فِي تَهْذِيبِ التَّهْذِيبِ (٦/٤٠٥)۔

فائده: په ټولو نسخو د ترمذی کی داسے لفظ دے: (مُدَّانِ مِنْ قَمْحٍ أَوْ سِوَاهُ صَاعٌ مِنْ طَعَامٍ) او لفظ د (أَوْصاع) نهٔ دے، د مشکاة په نسخه کی خطائی ده او معنیٰ د حدیث واضحه ده یعنی دوه مده د غنمو یا سوئ د غنمو نه یو صاع د طعام ورکول دی

کما فی المرعاة۔ او ددے تائید په روایت د دارقطنیؒ کیږی چه هغے کی دی: (مُدَّانِ مِنْ قَمْحٍ اَوْ صَاعٌ مِمَّا سِوَاهُ مِنَ الطَّعَامِ۔ (یعنی دوه مده د غنمو نه یا یو صاع د غنمو د ماسویٰ طعام نه)۔ فتدبر۔

درجة الحدیث: سنده ضعیف، رواه الترمذی وله طرق اربعة مدار الکل علی ابن جریج وهو قبیح التدلیس ولم یصرح بالسماع من عمرو بن شعیب۔

- 1820(6) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنَ ثَعْلَبَةَ اَوْ ثَعْلَبَةَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِیْ صُعَیْرٍ عَنْ اَبِیْهِ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: " صَاعٌ مِنْ بُرٍّ اَوْ قَمْحٍ عَنْ کُلِّ اثْنَیْنِ صَغِیْرٍ اَوْ کَبِیْرٍ حُرٍّ اَوْ عَبْدٍ ذَکَرٍ اَوْ اُنْثٰی، اَمَّا غَنِیُّکُمْ فَیُزَکِّیْهِ اللّٰهُ، وَاَمَّا فَقِیْرُکُمْ فَیَرُدُّ عَلَیْهِ اَکْثَرَ مِمَّا اَعْطَاهُ ". رَوَاهُ اَبُوْ دَاوٗدَ

ترجمه: او سیدنا عبد الله بن ثعلبه یا ثعلبه بن عبد الله بن ابی صعیرؓ د خپل پلار نه روایت نقل کوی فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی: (سرسایه واجب ده) یو صاع د غنمو نه د هر دوه کسانو د طرف نه (چه د هر یو د طرف نه نیم نیم صاع کیږی) برابره ده چه وړوکے وی یا غټ، آزاد وی یا غلام، نارینه وی یا زنانه، هرچه ستاسو مالداره دے نو (د سرسایه ورکولو په وجه به) ئے الله تعالیٰ پاك کړی او هرچه ستاسو فقیر دے نو الله به راواپس کړی دهٔ ته زیات د هغے نه چه دهٔ ورکړی وی۔ (ابوداودؒ)

تشریح: عبد الله بن ثعلبه بن صعیرؓ بعض ورته ابن ابی صعیرؓ وائی د مکے د فتح په زمانه کی رسول الله ﷺ ددهٔ مخ او سر له گوتے وروړے او دعائے ورته وکړه، د نبی ﷺ نه ئے روایت نقل کړیدے او دغه شان د پلار نه او د عمر، علی، سعد، ابو هریره او جابر رضی الله عنهم نه۔ ددهٔ پلار ثعلبه بن صعیر شاعر وو او د بنی زهره ؤ حلیف وو، حاکمؒ وائی چه عبد الله بن ثعلبه د هجرت نه څلور کاله مخکی پیدا شوے وو۔ د (۸۳) درے اتیا کالو په عمر وفات شویدے۔ مگر امام بخاریؒ په (التاریخ) کی وائی چه عبد الله بن ثعلبه بن صعیر چه د نبی ﷺ نه روایت کوی دا به مرسل وی ځکه چه دهٔ د نبی ﷺ سره ملاقات نهٔ دے کړے او که د پلار نه روایت کوی نو بیا به بنه وی۔ او مراسل الصحابة مقبول دی۔

د مشکاة په نسخه کی ددهٔ نوم په شك سره لیکلے شویدے لیکن صحیح دا ده چه

ددهٔ نوم عبد الله بن ثعلبه بن صعیر یا ابن ابی صعیر دے۔
او دلته ئے د خپل پلار نه روایت کړیدے نو دا مسند روایت دے۔
دا روایت هم دلیل دے چه یو صاع غنم د دوه کسانو په مابین کی ادا کول صحیح دی۔او صحیح روایت دے او د اضطراب خبره پکی کمزورے ده۔ نو دلیل شو چه د غنمو نصف صاع سرسایه کی ورکول جائز دی۔
وَأَمَّا فَقِيْرُكُمْ : دلته بعض ناکتین لیکی چه فقیر په نسبت د اکابرینو اغنیاؤ مراد دے، دا خبره صحیح نهٔ ده د خپل مذهب حنفی په تائید کی ذکر شویده بلکه صحیح خبره دا ده چه سرسایه په غنی او فقیر دواړو باندے واجب ده، داسے فقیر چه گوزاره ئے کیږی او د یوے ورځے او شپے خوراك ورسره وی۔
نو د غنی دپاره د صدقهٔ فطر فائده دا شوه چه الله به ئے مال او نفس پاك کړی زیادت به پکی پیدا کړی او د فقیر دپاره دا شوه چه څومره مال ئے خرچ کړے وی د هغے نه به ورته الله تعالیٰ زیات راولی ځکه چه صدقے سره مال نهٔ کمیږی لکه پدے باندے نبی کریم ﷺ قسم خوړلے دے۔
درجة الحديث: الحديث صحيح وفي الاسناد كلام، رواه ابوداود واخرجه ايضا احمد والدارقطني والطحاوي والبيهقي و في سنده نعمان بن راشد وهو ضعيف عند الاكثر ولكن للحديث شواهد يتقوى بها ذكرها الالباني في التعليقات الجياد فراجعها ان شئت وقد مر بعضها في المسئلة سابقا۔





٢- باب من لا تحل له الصدقة

بيان د هغه چا چه صدقه او زكاة ورله حلال نهٔ وی۔

يعنی د زكاة او صدقے خوړل او اخستل ورله حلال نهٔ وی یا دا چه هغوی ته په زكاة وركولو كی زكاة نهٔ ادا كيږی لكه بنی هاشم شو۔

فائده : ددے ځای نه روستـه مصارف الزكاة بيانوی، دا كمال د مصنف دے چه (لا تحل له الصدقة) ئے ذكر كړو ځكه (من تحل له الصدقة) ډیر دی نو پدے عبارت كی مصارف الزكاة بنه حصر كيږی او راګيريږی۔

فائده : لفظ د صدقة دلته عام دے، فرض او نفل دواړو ته شامل دے، نفلی صدقه هرچا لـه وركول جائز دی سوی د نبی كريم ﷺ او د هغه د آل نه او فرضی صدقه صرف اته مصارفو ته وركول جائز دی كوم چه په كتاب الله كی راغلی دی۔

الفصل الأول

- 1821 (1) عَنْ أَنَسٍ قَالَ : مَرَّ النَّبِيُّ ﷺ بِتَمْرَةٍ فِي الطَّرِيْقِ فَقَالَ : " لَوْلَا أَنِّيْ أَخَافُ أَنْ تَكُوْنَ مِنَ الصَّدَقَةِ لَأَكَلْتُهَا " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : سيدنا انس ﷺ فرمائی : نبی كريم ﷺ په يوه كجوره ورتير شو چه په لاره كی پرته وه نو وے فرمايل: كه زهٔ ددے نه نهٔ يريدلے چه دا به د زكاة نه وی نو ما به دا خامخا (د الله د نعمت د تعظيم په وجه) خوړلے وے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح :

فوائد الحديث : ١- د معمولی شی لُقطه (راپورته كول) هم پكار دی لكه كجوره قلم وغيره دے دپاره چه ضائع نهٔ شی، بيا كه د خوراك شے وی نو خوراك ئے جائز دے او تشهير او اعلان او ځان سره ساتل ئے ضروری نهٔ دی بلكه ځان له دے استعمال كړی۔

٢- لقطه (يعنی ورك شوے غورزيدلے شے) په راخلے ځكه چه كيديشی غل پرے پيښ شی هغه به ئے راخلی نو ستا دپاره ولے بنه نهٔ ده۔ او نبی ﷺ دا كجوره پدے وجه

پريښودہ چه كيديشي د صدقے وی نۀ پدے وجه چه ګنے دا لقطه دہ، او مالك غالباً معمولی ورك شوے شے نۀ طلب كوی او نۀ پرے دومره خفګان كوی۔

٣- د نبی ﷺ ورع او سخت احتياط معلوم شو ځكه چه دا كجوره صرف په احتمال او شك باندے نۀ حراميږی ليكن نبی ﷺ ئے په دے يره باندے نۀ خوری چه هسے نه دا د زكاة وی نو د احتياط په بنياد ئے پريښوده۔

علامه خطابیؒ وائی: دے نه معلومه شوه چه هر هغه شے چه انسان ته د هغے پوره حقيقت معلوم نشی نو ځان ترے ساتل او پريښودل ئے پكار دی۔

٤- امام نوویؒ فرمائی: پدے كی په نبی ﷺ باندے د صدقے حراميدل ذكر دی برابره دہ كه فرضی وی او كه نفلی ځكه دلته (الصدقه) لفظ كی الف لام د عموم دپاره دی، د زكاة لفظ ئے نۀ دے استعمال كړے۔ آه، دارنګه آل رسول له هم صدقه او زكاة اخستل حرام دی وجه دا دہ چه خلك په نبوت باندے اعتراض ونكړی او ساحه د نبوت پاكه پاتی شی كه نبی ﷺ صدقه اخستے يا ئے نسل له جائز وے نو خلكو به وئيلے چه غرض ددۀ خپل ځان او بچی مالداره كول دی پدے وجه بچو ته د نبی ﷺ ميراث هم حلال نۀ دے بلكه د نبی مال به د هغه نه روسته په عامو مسلمانانو صدقه كيږی۔

سوال دا دے چه نبی ﷺ دا كجوره ولے پريښوده حال دا چه امام د مسلمانانو به ضائع مال دے دپاره راخلی چه حفاظت ئے وشی او ضائع نۀ شی؟

جواب دا دے چه كيدے شی چه نبی ﷺ پدے نيت راخستی وی مګر خوړلی به ئے نۀ وی ځكه چه پدے حديث كی خو صرف د خوراك تذكره راغلے دہ۔ د نۀ راخستلو تذكره پكی نشته۔ يا كه پريښی ئے وی پدے وجه چه بل مسلمان چه د صدقے خوراك ورله جائز وی هغه به ئے راواخلی او په امام باندے د هغه مال حفاظت واجب وی چه مالك د هغے طلب كوی نۀ معمولی مال چه خلك پرے پرواہ نۀ لری۔

په مسند احمدؒ كی په روايت د عمرو بن شعيبؒ كی دی چه نبی ﷺ يوه شپه بی خوبه شو، چا ورته ووېل چه څه بی خوبه كړی؟ هغه ووېل: ما يوه پريوتے كجوره وموندہ او وے خوړله بيا ما هغه كجورے راياد كړے چه مونږ سره د صدقے كجورے وے نو زۀ نۀ پوهيږم چه دغه كجوره د هغے نه وه او كه زما د كور والو د كجورو نه وه نو دے خبرے زۀ بی خوبه كړے يم۔ حافظؒ وائی چه دا دوه واقعے دی او كله چه نبی ﷺ دا

کجوره وخوړله او پریشانه ئې کړو نو بیا ددې نه روسته به ئې چه کله کجوره وموندله نو د احتیاط په بنیاد به ئې پریښودله۔ او دا احتمال هم شته چه خوړل ئې پدې وجه وه چه خوراك ئې جائز وو او پریښودل ئې پدې وجه وه چه ځان دپاره ئې احتیاط کولو۔ لیکن ظاهر دا ده چه کجوره ئې راخستې ده او خوړلې ئې نۀ ده ځکه چه د مال حفاظت لازم دې۔

- 1822 (2) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ :أَخَذَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ تَمْرَةً مِنْ تَمْرِ الصَّدَقَةِ فَجَعَلَهَا فِيْ فِيهِ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ :" كِخْ كِخْ "لِيَطْرَحَهَا ثُمَّ قَالَ : " أَمَا شَعَرْتَ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ ؟ "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: حسن بن علی رضی الله عنهما د زکاة د کجورو نه یوه کجوره راواخسته نو هغه ئې خولې ته واچوله نو نبی کریم ﷺ (ورته) وفرمایل: دا وباسه، وباسه (دا خبره ئې ورته دې دپاره وکړه) چه هغه ئې (د خولې نه) گوزار کړی بیا ئې وفرمایل : آیا تۀ نۀ پوهیږې چه مونږ (بنی هاشم) د زکاة مال نۀ خورو۔ (بخاری ومسلم)

تشریح : په روایت د احمدؒ کی ددې حدیث داسې تفصیل ذکر دې چه ابو هریره ﷺ وفرمایل : مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو او هغه د زکاة کجورې تقسیمولې او حسن بن علی رضی الله عنهما د هغه په غیږه کی وو نو هغه یوه کجوره په خوله کی واچوله رسول الله ﷺ ورته کخ کخ وفرمایل:

کِخْ کِخْ : پدې کی شپږ لغات دی، د کاف زیر او خاء ساکنه یا مکسوره ده او تنوین دې پرې، یا پرې تنوین نشته۔ یا د کاف زیر دې او خاء ساکنه یا مکسوره ده تنوین دې پرې یا تنوین نشته، دا شپږ لغات شو۔ دا کلمه د ماشوم د رټنې دپاره په هغه وخت استعمالیږی چه هغه یو گنده شې خوله کی واچوی معنیٰ ده، پریده گوزار کړه۔ او دا کلمه د فارسیٔ نه عربی ته نقل شویده۔

بیا په روایت د احمدؒ کی ورسره داسې الفاظ دی : نو نبی ﷺ هغه ته وکتل او هغه کجوره په خوله کی جوله نو نبی ﷺ د هغه اننگی وخوزولو او دا ئې ورته وویل: اې بچیه دا گوزار کړه۔ ددې روایت د مخکی سره تطبیق داسې دې چه اول ئې ورته کخ کخ

الفاظ وویل بیا چه کله هغه په خپل کار همیشه شو بیا ئے د خولے نه ورله راویستله۔
أَمَا شَعَرْتَ : یعنی پدے خبره ځان پو هه کړه۔ دا کلمه په هغه وخت کی استعمالیږی چه یو شے ښکاره حرام وی اګرکه مخاطب په هغے باندے پو هه نهٔ وی، مطلب دا وی چه ددے حرمت ښکاره دے نو په تا باندے دا خبره څنګه پټه پاتے شوه، یا مطلب ئے متوجه کول وی چه ځان پدے خبره پو هه کړه۔
دا حدیث دلیل دے چه ماشوم به هم د حرام شی نه منع کولے شی لکه څنګه چه مشر ترے منع کولے شی او پدے خبره به پو هه کولے شی چه دے ددے شی نه د څه په وجه منع شو؟ دے دپاره چه د وړوکوالی نه ئے په علم او عمل باندے تربیت وشی نو کله چه بالغ شی نو د شریعت ډیر علم به ئے زدهٔ کړے وی۔
دا مسئله هم ترے معلومیږی چه غیر مکلف له هم حرام اشیاء ورکول جائز نهٔ دی، تردے چه حیوان ته عمداً حرام اشیاء ورکول جائز نهٔ دی احادیث د جلاله پدے باندے دلیل دی۔
دارنګه دا دلیل دے چه په نبی ﷺ او د هغه په آل باندے صدقه حرامه ده۔

مسئله : آل رسول چاته وائی ؟

امام ابوحنیفه او مالك رحمهما الله فرمائی: چه صرف بنو هاشمو ته آل رسول وائی او دوی د څلورو کسانو اولاد دی (۱) د علی ؓ اولاد، برابره ده چه د فاطمة الزهراء د اولادو نه وی او که د نورو بیبیانو نه وی۔ (۲) د جعفر بن ابی طالب ؓ اولاد۔ (۳) د عقیل بن ابی طالب اولاد، د عباس بن عبد المطلب ؓ اولاد (٤) د حارث بن عبد المطلب اولاد، ددے پنځه کسانو د سلسله نسب سره تعلق لرونکو ته "هاشمی" وائی۔ او ابولهب پدے کی نهٔ دے داخل، ځکه چه حرمت د صدقے اولاً په پلارانو کی د هغوی د اکرام دپاره شویدے ځکه چه دوی د نبی ﷺ په جاهلیت او اسلام کی مدد کړیدے بیا دا اکرام بچو ته رانقل شویدے۔ او د ابولهب څه احترام او اکرام نشته۔
(۲) امام شافعی رحمه الله او یو جماعت د علماؤ فرمایلی : آل رسول بنو هاشم بن عبد مناف او بنو المطلب بن عبد مناف دواړه دی۔ دلیل دا دے چه د حدیث د جبیر بن مطعم ؓ نه معلومیږی چه هغه فرمائی زهٔ او عثمان بن عفان ؓ نبی ﷺ ته ورغلو نو مونږ وویل : اے د الله رسوله ! تا د خیبر د غنیمتونو د خُمس (پنځمے حصے) نه بنو

المطلب ته څه ورکړل او مونږ دے پريښودو حال دا چه مونږ په يوه منزله يو؟، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: بنو المطلب او بنو هاشم يو شے دے (بخاريؒ)

امير يمانيؒ وائي دا حديث دليل دے چه بنو المطلب د بنو هاشمو سره په حصه د ذوي القربیٰ کې شريك دي۔ او دارنګه د زکاة په حراميدو کې هم۔ نۀ نور خلك۔ اګرکه هغوي په نسب کې برابر وي او ددے وجه نبي ﷺ دا ذکر کړه چه دوي هميشه د بنو هاشمو سره په کفر او اسلام دواړه کې شريك دي۔ نو دوي په احکامو کې هم يو شان شو۔ او دا ښکاره دليل دے۔ او جمهورؒ (يعني ابوحنيفةؒ، مالكؒ، او احمدؒ په يو روايت کې) وائي چه نبي ﷺ چه بني المطلب ته دا ورکړه وکړه نو دا په طريقه د تفضل او احسان سره وو نۀ په طريقه د استحقاق سره ليکن دا خبره د ظاهر خلاف ده۔ بلکه دا قول د نبي ﷺ چه (شيء واحد) (دواړه يو شے دے) دليل دے چه دوي د بنو هاشمو سره د خمس په استحقاق او د زکاة په حراموالي کې يو شان دي۔ انتهیٰ۔ او همدا قول صحيح او د احاديثو د ظاهر موافق دے۔

لانا کل الصدقة: په روايت د مسلمؒ کې دي: (إِنَّا لَا تَحِلُّ لَنَا الصَّدَقَةُ) نو ظاهر ددے حديثونو دا دے چه په نبي ﷺ او د هغه په آل باندے نفلي او فرضي دواړه قسمه صدقه حرامه وه او همدا خبره حقه ده، او پدے باندے خطابيؒ اجماع نقل کړيده۔ او فرق باندے دليل نشته۔ لکه تفصيل ئے روستو حديث کې راروان دے۔

1823 (3) وَعَنْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِنَّ هٰذِهِ الصَّدَقَاتِ إِنَّمَا هِيَ أَوْسَاخُ النَّاسِ وَإِنَّهَا لَاتَحِلُّ لِمُحَمَّدٍ وَلَا لِآلِ مُحَمَّدٍ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او سيدنا عبد المطلب بن ربيعه ؓ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: يقيناً دا زکاتونه دا خو د خلکو خيرې دي او يقيناً صدقات د محمد ﷺ او د آل محمد دپاره جائز نۀ دي۔ (مسلمؒ)

تشريح: عبد المطلب بن ربيعه بن الحارث بن عبد المطلب بن هاشم الهاشمي۔ دا صحابيؓ دے، ابن عبد البرؒ وائي نبي ﷺ دده نوم نۀ دے بدل کړے او په مدينه کې وسيدلے او بيا د عمر فاروقؓ په دور خلافت کې شام ته نقل شو او د يزيد بن معاويةؓ په امارت کې په دمشق کې په سنه (٦٢) کې وفات شو۔ حافظؒ فرمائي: عسکريؒ وئيلي

دی اهل بیت دهٔ تـه مطلب بن ربیعه وائی او محدثین مختلف دی څوك ورته مطلب بن ربیعه وائی او څوك عبد المطلب۔ او دغه شان خبره بغویؒ هم کړیده۔ مګر طبرانیؒ وائی: حقه دا ده چه دا مُطلِّب دے او ددهٔ وفات ئے په سنه (۶۱ هـ) کی ښودلے دے۔

مطلب بن ربیعه نبی ﷺ تـه راغـلـو او دا مطالبه ئے ترے وکړه چه دے په بعض زکاة باندے عامل وګرځوی نو نبی ﷺ ورتـه دا حدیث وفرمایلو۔ چه صدقات خو د خلکو خیری دی او زمونږ د اهل بیتو سره دا مناسب نهٔ دی۔

فائده: صدقے تـه ئے خیری ولی وویل؟ نو شاه ولی الله الدهلوی رحمه الله فرمائی: پـه صدقو سره ګناهونه رژیږی او مصیبتونه ختمیږی نو پدے سره خیری زائل کیږی ځکـه ئے دے تـه خیری ویلی دی، نو پاکو نفسونو ته ګویا که پدے کی خیری ښکاره کیږی۔

دارنګه کوم مال چه انسان د چا نه اخلی او ورنقل کیږی چه د څه په بدله کی نهٔ وی یا پـه هغے سره د هغه د مخ احترام مقصد نهٔ وی نو په هغے کی ذلت او سپکوالے وی او د صدقـه کـونکی پـه هغه باندے فضیلت او احسان وی نو د صدقو اخستلو نه کسب جوړول ډیر بد ترین کاروبار دے چه د پاکو او اُوچتو خلکو سره مناسب نهٔ دی۔

لَاتَحِلُّ لِمُحَمَّدٍ وَلَا لِآلِ مُحَمَّدٍ:

پدے کی اختلاف دے چه آل الرسول ﷺ باندے اُوس هم صدقات حرام دی او که نهٔ؟ (۱) اول قـول دا دے چـه مـخـکی هم حرام وو او اوس هم حرام دی۔ (۲) د اکثرو علماؤ قـول دا دے چـه مـخـکـی حـرام وو اُوس حلال دی ځکـه چه مخکی پـه اسلامی حکومتونو کی په بیت المال کی د اهل بیتو دپاره د نورو مسکینانو په شان حصه مقرر وه اوس هغه نشته نو که صدقات اخلی جائز به وی۔ لیکن دا قول ضعیف دے وجه دا ده چه په چا باندے یو شے بند شی د هغه دپاره حرام نهٔ حلالیږی۔ ۲- دویم دا چه پدے حدیث کی علت ذکر دے چه صدقات د خلکو خیری دی او اهل بیت محترم او پاك خلك دے د هغوی سره د خلکو خیری مناسب نهٔ دی۔

۲- **مسئله**: اهـل بیـت کـه پـه هره طریقه وی د هغوی دپاره صدقه نفلی او فرضی دواړه حـرام دی، بـرابـره ده کـه پـه زکاتونو راټولو عامل مقرر شی یا فقیران وی یا مسافر وی یا په بله طریقه سره وی۔ او همدا صحیح خبره ده۔ او بعض شوافعو د بنو هاشم او

بنو المطلب دپاره که عامل مقرر شي زکاة اخستل جائز خودلې دي، ځکه چه دا ئې په صفت د عامل سره اخلي امام نوويؒ فرمائي: دا خبره ضعيفه يا باطله ده او دا حديث ئې ښکاره رد کوي۔ ځيني پکې د فرض او د نفلو فرق کوي چه فرض به نۀ اخلي او نفلي صدقه اخستلې شي او ځيني برعکس فرق کوي ليکن دا حديث ددې تولو اقوالو ترديد کوي۔

- 1824(4) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا أُتِيَ بِطَعَامٍ سَأَلَ عَنْهُ: "أَهَدِيَّةٌ أَمْ صَدَقَةٌ؟" فَإِنْ قِيلَ: صَدَقَةٌ: قَالَ لِأَصْحَابِهِ: "كُلُوا" وَلَمْ يَأْكُلْ وَإِنْ قِيلَ: هَدِيَّةٌ ضَرَبَ بِيَدِهِ فَأَكَلَ مَعَهُمْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ته به چه کله څه خوراك راوړې شو نو د هغې په باره کې به ئې تپوس وکړو چه آيا دا هديه (تحفه) ده او که صدقه؟ نو که وبه وئيل شو چه صدقه ده نو خپلو ملګرو ته به ئې ووئيل: تاسو ئې وخورئ او خپله به ئې ترې خوراك نۀ کولو او که وبه وئيل شو چه تحفه ده نو لاس به ئې ور اوږد کړو نو د هغوی سره به ئې (په شريکه) وخوړو۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح: ضَرَبَ بِيَدِهِ: يعني په خوراك کې به ئې په جلتۍ سره شروع وکړه۔ بعض وائي: دا په معنیٰ د (مَدَّ يَدَهُ) سره دې يعني لاس به ئې وروړاندې کړو او ځان به ئې ترې نۀ ساتو۔

فوائد الحديث: ١- په رسول الله ﷺ باندې صدقه حرامه او هديه اخستل جائز وو۔ ٢- نو ددې نه د صدقې او د هديې فرق هم معلوم شو هغه دا چه په صدقه کې مقصد د خپل ځان نه خيرې لرې کول وي يعني په صدقه کې مقصد ثواب ونه حاصلول، او د فقير حاجت ختمول وي او په هديه کې د سړي اکرام کول او هغه ته ځان نزدې کول وي او د هغه سره محبت زياتول وي پدې وجه دا مالدارو ته هم ورکول جائز دي، پدې کې هم مقصد ثواب وي ليکن دويمه درجه کې۔ اول پکې مقصد مينه محبت زياتول وي پدې وجه ددې په قبلولو کې د قبلونکي ذلت او سپکاوې هم نۀ وي او د صدقې په اخستو کې د ورکونکي عزت وي او د اخستونکي ذلت وي۔

دارنګه نبي ﷺ پدې وجه صدقه نۀ ده اخستې چه نبي ﷺ د صدقې په ورکولو امر

کړې او ترغیب ئې ورکړې نو خپله ئې ترې ځان ساتلو دې دپاره چه د هغه لمن د تهمت او طمع نه بچ پاتې شي او دا ونهٔ وئیلې شي چه ترغیب دې دپاره ورکوي چه خپله ئې اخلي. ددې وجه نه نبي ﷺ فرمایلي دي چه زکاتونه به د مالدارو نه اخستلې شي او بیرته به د دوی فقیرانو ته ورکولې شي نو پدې کې اشاره ده چه ددې مصلحت بیرته دوی ته راجع دې او دا عامل او ترغیب ورکونکې صرف سفیر دې په فقیرانو باندې شفقت کوي.

۳- حدیث نه معلومه شوه چه ورع او احتیاط استعمالول پکار دي او د خوراکونو او څکاکونو د اصل تالاش پکار دې.

٤- د رسول الله ﷺ تواضع معلومه شوه چه ملګرو سره په شریکه خوراك کوي.

٥- رسول الله ﷺ په بعض احکامو خاص کړې شویدې.

٦- په صحابه کرامؓ کې د هدیه ډیر رواج وو او دا ښه خوئي دې.

1825 - (5) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ فِيْ بَرِيْرَةَ ثَلَاثُ سُنَنٍ: إِحْدَى السُّنَنِ أَنَّهَا عَتَقَتْ فَخُيِّرَتْ فِيْ زَوْجِهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: "اَلْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ". وَدَخَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَالْبُرْمَةُ تَفُوْرُ بِلَحْمٍ فَقُرِّبَ إِلَيْهِ خُبْزٌ وَأُدْمٌ مِنْ أُدْمِ الْبَيْتِ فَقَالَ: "أَلَمْ أَرَ بُرْمَةً فِيْهَا لَحْمٌ؟" قَالُوْا: بَلٰى وَلٰكِنْ ذٰلِكَ لَحْمٌ تُصُدِّقَ بِهِ عَلٰى بَرِيْرَةَ وَأَنْتَ لَا تَأْكُلُ الصَّدَقَةَ قَالَ: "هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او عائشه رضی الله عنها فرمائي: په بریره کې درې سنت طریقې (احکام) وو، یو د هغې احکامو نه (دا وو) چه دا (کله) آزاده شوه نو دې ته د خاوند په باره کې اختیار ورکړې شو (چه خاوند سره پاتې کیږي او که د هغه نه ځان خلاصوي) او (دویم دا چه) رسول الله ﷺ وفرمایل: د آزادئ حق (یا د میراثِ حق) به د هغه چا وي چه څوك آزادول وکړي. او (دریم حکم دا چه یوه ورځ) رسول الله ﷺ (کورته) راغې او کټوئ په غوښې سره جوشیدله (یعني غوښه پخیدله) نو هغه ته ډوډئ او د کور د ترکاریانو نه یوه ترکاري ورمخکې کړې شوه نو هغه وفرمایل: آیا ما کټوئ ونهٔ لیده چه په هغې کې غوښه وه؟ (نو ما ته مو هغه غوښه ولې رانکړه؟) کور والو ووېل: آؤ، لیکن هغه غوښه ده چه په بریره باندې صدقه کړې شویده او تاسو صدقه نهٔ خورئ، نبي کریم

ﷺ وفرمايل: دا په هغې باندې صدقه ده او (ددې د طرفنه دا) زمونږ دپاره هديه ده.
(بخاريؒ ومسلمؒ)
تشريح : كَانَ فِيْ بَرِيْرَةَ : يعنى د بريرې په وجه درې سنت طريقې او احكام شرعيه حاصل شويدى.
بريره د عائشه رضى الله عنها آزاده شوې وينځه وه، بريره د بَرِيْرٌ نه ماخوذ ده د ممانړې ونې ميوې ته وائى. بعض وائى دِ برٌّ نه ده په معنىٰ د نيكئ سره ليكن اول غوره ده.
بريرةؓ د انصارو د يو قوم بعض وائى د بنو هلال وينځه وه نو هغوى ورسره كتابت كړې وو يعنى دا ئې ورته وئيلى وو چه دومره پيسې راوړه تهٔ به آزاده ئې، ليكن بيا دوى هغه خرڅه كړه او عائشې رضى الله عنها ترې واخسته او هغې بيا آزاده كړه او دې به د عائشې رضى الله عنها د اخستو نه مخكې هم خدمت كولو او دا په حالت د آزاديدو كې د يو غلام ښځه وه چه نوم ئې مُغِيثٌ وو، دا د يزيد بن معاويه رحمه الله تر زمانې پورې ژوندئ وه او د عبد الملك بن مروان په باره كې ئې دا فِراست ښكاره كړې وو چه دا به بادشاه كيږى او هغه ته ئې ددې خبرې زيرې هم وركړې وو.
سُنَنٍ : جمع د سنت ده دلته ترې مراد احكام شرعيه دى، په روايت د مسلمؒ كې دى : (ثَلَاثُ قَضِيَّاتٍ) درې واقعې او احكام شرعيه.
امام نوويؒ وئيلى دى چه ابن خزيمةؒ او ابن جريرؒ پدې حديث باندې دوه لوى كتابونه ليكلى دى چه په هغې كې ئې ددې حديث ډير فوائد راجمع كړيدى،
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى : بعض متأخرينو ددې حديث د بريرةؓ فوائد څلور سوو ته رسولى دى. خو دلته چه عائشةؓ وائى درې احكام شرعيه پكې وو نو مقصد دا دې چه خاص مقصودى احكام او ښكاره احكام پكې درې دى چه د هغې لاندې ډير قواعد پراته دى چه د هغې نه بيا ډير فوائد مستنبط كيږى. يا دا چه دا احكام پكې په طريقه د تنصيص او تصريح سره دى او نور پكې په طريقه د استنباط سره.
فَخُيِّرَتْ فِيْ زَوْجِهَا : **مسئله** دا ده چه كله ښځه وينځه وى او خاوند ئې غلام وى او وينځه آزاده شى نو ددې خوښه ده چه خاوند سره پاتې كيږى او كه خپل ځان د خاوند نه آزادوى او نكاح فسخ كوى نو كولې ئې شى او ددې درې وجې دى (۱) اول بعض

وائي : كَمُلَتْ تَحْتَ نَاقِصٍ ۔ د ناقص سړي د لاندې وه اُوس كامله شوه۔ ځكه چه ښځې ته د غلام خاوند په پاتې كيدو كې شرم محسوسيږي ځكه چه ښځه كامله شوه او خاوند ئې ناقص دې۔ او دا خبره اجماعي ده۔

(۲) وجه : زياتې طلاق پرې رازي ځكه چه د حرې ښځې درې طلاقه دي او د وينځې دوه طلاقه نو خاوند اُوس به دې ښځې ته درې طلاقه وركوي او مخكې دوه او دا رأى د احنافو ده ځكه چه دوي د طلاق په شمار كې ښځو له اعتبار وركوي نۀ سړو له۔ دا دواړه مخكنۍ وجې كمزوري دي، حافظ ابن القيمؒ ددې ضعف په زاد المعاد (۱۵۳/۵) كې تفصيلًا بيان كړيدې۔ او وئيلې ئې دي چه د ښځې دپاره د اختيار د ثابتيدو او د درې طلاقو راتللو ترمينځ هيڅ مناسبت نشته او صحيح دا ده چه د طلاقو اعتبار صرف په سړو باندې دې۔

(۳) ظاهر دا ده چه دا وينځه د خپل ځان مالكه شوه نو د خاوند نه د خپل ځان د آزادۍ اختيار لري۔ ځكه چه ددې مالك دا په نكاح وركړې وه او مالك ددې د منافعو او د ځټ دواړو اختيار مند وو هركله چه مالك دا آزاده كړه نو دا د خپل ځټ مالكه شوه او دغه شان د خپلو منافعو هم او بعض د منافعو نه (ملك بضعى) نكاح هم ده نو پدې باندې اُوس ملكيت نۀ رازي مگر د هغې په اختيار سره نو پدې وجه شارع ورته اختيار وركړو چه د خپل خاوند سره پاتې كيږي او كه خپله نكاح فسخ كوي ځكه چه د خپل اندام مالكه شوه۔ او په بعض رواياتو د بريره كې راغلي دي چه رسول الله ﷺ دې ته وفرمايل: (مَلَكْتِ نَفْسَكِ فَاخْتَارِيُ) تۀ د خپل ځان مالكه شوې نو ځان غوره كړه۔ ستا دپاره اختيار ثابت شو۔ (زاد المعاد)

حافظ ابن القيمؒ وائي چه دا صورت اتفاقي دې۔

۲- **صورت** : او كه خاوند ئې آزاد وي او ښځه آزاده شوه نو پدې كې اختلاف دې (۱) جمهورؒ وائي چه د ښځې اختيار نشته ځكه چه خاوند ئې د مخكې نه كامل وو او ښځه كې نقصان وو اُوس ښځه كې هم كمال راغلو نو دواړه يو شان شو ددې مثال داسې دې لكه يوه كتابيه زنانه د مسلمان خاوند په نكاح كې وي او ايمان راوړي نو د ښځې د نكاح ماتولو واك نشته۔ (۲) احناف وائي چه وينځه كه د آزاد سړي په نكاح كې وي او كه د غلام په دواړو صورتونو كې كه وينځه آزاده شوه نو هغه نكاح ماتولې

شی۔ ځکه چه د دوی په نیز د اعتبار د شمار د طلاقو په ښځو دے، وینځه په دوه طلاقو جدا کیږی برابره ده که خاوند ئے غلام وی که آزاد، او آزاده ښځه په دریے طلاقو جدا کیږی برابره ده خاوند ئے غلام وی که آزاد، نو وینځه چه کله آزاده شوه په دواړو صورتونو کی دے لره اختیار دے ځکه چه په دے باندے زیاتی ملك ثابتیږی نو هغه ددے نه ځان ساتلے شی۔ او د جمهورو په نیز اعتبار د طلاقو په سړو دے نو د آزاد سړی ښځه په دریے طلاقو جدا کیږی اګرکه وینځه وی او د غلام ښځه په دوو اګرکه آزاده وی، نو کله چه یوه ښځه چه د آزاد د لاندے وی آزاده شی نو علت د فسخ موجود نهٔ دے چه هغه شرم یا زیاتی ملك ثابتیدل دی۔ او ددے دپاره دلیل دا قصه د بریری ده۔

پدے باب کی ګنړ روایتونه راغلی دی راجح دا ده چه د بریرے خاوند غلام وو، علامه شوکانی رحمه الله فرمائی : د ابن عباسؓ په روایت کی (عند البخاریؒ والترمذیؒ) او د ابن عمرؓ په روایت کی (عند الدارقطنیؒ والبیهقیؒ) او د صفیه بنت ابی عبیدؓ په روایت کی (عند النسائیؒ والبیهقیؒ) دا خبره راغلے ده چه دا غلام وو او د دوی نه مخالف روایت نهٔ دے ثابت او د عائشےؓ نه په روایت د قاسمؒ او عروهؒ دا ثابت دی چه دا غلام وو، لیکن په روایت د اسودؒ کی دی چه دا آزاد وو، او روایت د دوه کسانو ارجح (ډیره غوره) وی د روایت د یو تن نه که فرض کړو چه ټول روایتونه صحیح دی پاتی لادا چه د یو تن روایت (یعنی روایت د اسودؒ) منقطع هم دے لکه چه بخاریؒ دا خبره کړیده۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : که فرض کړو چه روایت د اسودؒ موصول دے نو بیا به روایت د هغه چا چه وائی دا غلام وو راجح وی د وجے د ډیر والی نه او دارنګه د انسان خپلوان د هغه په خبره ښه پوهیږی ځکه قاسمؒ د عائشےؓ وراره دے او عروهؒ ئے خوریئے دے او ددے دواړو متابعین هم موجود دی نو ددے دواړو روایت د اسودؒ د روایت نه غوره شو ځکه چه دوی د عائشےؓ سره ډیر ملازم وو او د هغے په خبره ښه پوهیدل۔ دارنګه د عائشےؓ هم د جمهورو په شان مذهب وو نو د احنافو د قاعدے مطابق راوی چه کله د خپل روایت خلاف عمل وکړی اعتبار به ئے عمل لره وی نهٔ روایت لره (اګرکه دا قاعده هم د دوی خطاء ده)۔ او دا خبره چا کړیده چه د دواړو روایتونو تطبیق داسے دے چه اول کی دا غلام وو او په وخت د آزادیدو د ښځه کی دا هم آزاد شوے وو۔ لیکن دا تطبیق د عروهؒ په ښکاره الفاظو سره مردود دے ځکه چه هغه وائی چه دا غلام وو او که دا آزاد

وي نو ښځې ته به اختيار نهٔ ورکړې کيدې. دا رنګه ددې په خلاف داسې تطبيق هم کيدې شي چه چا چه وئيلي دي چه دا آزاد وو نو روسته زمانه کې آزاد شو او په وخت د آزاديدو د وينځه کې دا غلام وو. نو دواړه تطبيقونه د يو بل معارض شو نو اوس ترجيح پکار ده او د ترجيح وجوهات مخکې مونږ بيان کړل. انتهىٰ.

اَلْوَلَاءُ : عائشې رضی الله عنها اراده وکړه چه بريرةؓ واخلي او بيا ئې آزاده کړي ليکن د هغې مالکانو دا شرط لګولے وو چه دا به پدې شرط خرڅوو چه ددې ولاء يعنې د آزادئ حق به زمونږ وي، (ولاء ديته وائي چه يو شخص يو غلام يا وينځه آزاده کړي بيا دغه غلام مال پيدا کړي او د هغه نور څوك خپل وارثان نهٔ وي او وفات شي نو ددهٔ ميراث به بيرته آزادونکي مالك ته ملاويږي) نو د بريرې مالکانو د خرڅولو په وخت کې دا وويل چه ددې د آزادئ حق به زمونږ وي نهٔ د عائشې. نو بريرةؓ راغله عائشې ته ئې دا خبره وکړه، عائشې نبي ﷺ ته وکړه نبي ﷺ ارشاد وفرمايلو چه اے عائشې ! دوی سره دا شرط ولګوه او وائې خله او آزاده ئې کړه بيا به هم ددې خلکو د ولاء حق نهٔ وي بلکه د ولاء حق به صرف د آزادونکي وي بيا نبي ﷺ خلکو ته راووتو او منبر باندې کيناستو او دا مسئله ئې بيان کړه چه څه وجه ده بعض خلك داسې شرطونه لګوي چه هغه د الله په کتاب کې نهٔ وي، هر شرط چه د الله په کتاب کې نهٔ وي هغه باطل دے. او بيا ئې وفرمايل : د ولاء حق د هغه چا دے چه چا آزادول کړي وي. دا هغه دويمه سنت او دويم حکم شرعي شو.

وَدَخَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : دا دريم سنت او حکم شرعي دے.

هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ : ددينه معلوميږي چه په تَبَدُّل د مِلْك سره تبدل په شي کې راځي مثال لکه يو تن لره زکاة اخستل حرام وي لکه هاشمي، يا غني ليکن يو مسکين ئې واخلي بيا ئې هغه دغه مخکې شخص ته هبه کړي، دلته بريرةؓ ته صدقه وشوه او هغې نبي ﷺ ته هبه کړه نو د نبي ﷺ دپاره هغه جائز شو. ليکن ددې سره دا قانون واوره چه دا شے به په امت کې د بعضو کسانو دپاره حلال وي لکه سره زر، او وريښم د زنانو دپاره حلال دي نهٔ د سړو دپاره نو ددې خرڅول، سړو ته هديه کول جواز لري او چه سړو او ښځو دواړو باندې حرام وي نو د هغې خرڅول او هبه کول دواړو دپاره حرام دي لکه د سرو زرو کاسه خرڅول اخستل يا تصويران اخستل خرڅول يا تا ته يو

شے معلوم دے چه دا د غلا دے یو سری په تا باندے خرڅولو نو دا شے که سل کسان واخلی خو په تبدل د ملك سره پکی تبدل نۀ راځی مګر ګله چه تا په ناپوهۍ کی واخستو نو خیر دے۔

فوائد : ۱- دا حدیث دلیل دے چه ښه خوراك کله چه په کور کی حاضر وی طلب کول جائز دی۔ ۲- نبی ﷺ باندے صدقه خوړل حرام وو ځکه ورته عائشهؓ غوښه اولا وراندے نۀ کړه۔ ۳- او دا دلیل دے چه صدقه د نبی ﷺ د بیبیانو په وینځو او غلامانو باندے حرامه نۀ وه۔

٤- په بیبیانو د نبی ﷺ باندے هم صدقه حرامه نۀ وه ځکه چه عائشه رضی الله عنها اګرکه قریشیه ده لیکن هاشمیه نۀ ده نو بریرے دے ته صدقه ورکړه هغے قبوله کړه۔

٥- د وینځے په خرڅیدو سره د هغے نکاح د خپل خاوند سره نۀ ماتیږی، ابن عباسؓ ته منسوب دی چه پدے کار سره نکاح فسخ کیږی او سعید بن المسیبؒ وائی چه د وینځے خرڅیدل طلاق دی، لیکن دا دواړه قولونه ددے حدیث د بریرے نه مخالف دی ځکه چه بریرے ته اختیار ورکړے شو چه خاوند سره پاتی کیږی او که نۀ۔ (نوویؒ شرح مسلم)

٦- د مکاتب خرڅول د هغه په رضا سره جائز دی۔

٧- ښځو دپاره بیع او شراء جواز لری په خاص شرطونو سره۔

٨- په منبر باندے بیع شراء ذکر کول جائز دی۔

٩- زجراً یو شرط لګول چه بطلان ئے بائع ته معلوم وی او بیا ئے هم لګوی نو د هغے لګول هیڅ اثر نۀ لری۔

١٠- "كُلُّ شَرْطٍ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ فَهُوَ بَاطِلٌ" ددے معنیٰ دا ده چه هر هغه شرط چه د الله د کتاب خلاف وی (او د هغه د شرعی حکم مطابق نۀ وی) نو هغه به باطل وی کما قال عمر و ابن عمر بخاری باب الشروط۔

- 1826(6) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ وَيُثِيبُ عَلَيْهَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ به تحفه قبلوله او په

هغې باندې به ئې بدله ورکوله- (بخاریؒ)

تشریح : **يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ** : هدیه د مسلمان قبلول ضروری دی کله چه په کی شرعی ممانعت نهٔ وی-

وَيُثِيبُ : د اِثَابَةٌ نه دے په معنیٰ د بدله ورکولو سره- دا حدیث دلیل دے چه د هدیه بدله ورکول بهتر عمل دے، ځکه چه نبی ﷺ ته به چا یو شے تحفه کړو نو هغه به ورله د هغې نه غوره ورکول لکه په روایت د ابن ابی شیبهؒ کی داسے الفاظ دی : (وَيُثِيبُ مَا هُوَ خَيْرٌ مِنْهَا) - نبی ﷺ به غوره بدله ورکوله ځکه چه د چا پرے څه احسان پاتی نشی پدے وجه هغه به فرمایل ما سره چه چا کوم احسان کړیدے ما د هغې بدله په دنیا کی ورکړیده سویٰ د ابوبکر صدیق ؓ نه-

لیکن چا ته پدے نیت هبه او تحفه ورل چه ما ته به بدله راکوی، دا باطل دی، ځکه دا خو بیا بیعه شوه چه بدله پرے طلب کولے شی او په هبه کی مقصد صرف تبرع او احسان کول وی چه بدله ئے د الله نه غوښتلے شی-

---

- 1827(7) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ؓ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: "لَوْ دُعِيتُ إِلَى كُرَاعٍ لَأَجَبْتُ وَلَوْ أُهْدِيَ إِلَيَّ ذِرَاعٌ لَقَبِلْتُ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ؓ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: که ما ته پانچے طرفته دعوت راکړے شی خامخا زهٔ به دعوت قبلوم او که ما ته یوه لیچه هدیه کړے شی خامخا زهٔ ئے قبلوم- (بخاریؒ)

تشریح : **كُرَاعٍ** : پانچے ته وائی جمع ئے اَكْرُعٌ او اَكَارِعُ- بعض وائی : کُراع د حیواناتو د ګیتو نه ښکته ځای ته وائی، او ابن فارسؒ وائی چه کراع د هر شی طرف ته وائی- دلته ترے د ګډے پانچه مراد ده-

لَأَجَبْتُ : یعنی زهٔ که پانچے ته رادعوت شم نو هغه دعوت قبلوم ځے دپاره چه د داعی دلجوئی وشی او محبت زیات شی ځکه چه دعوت نهٔ قبلولو سره نفرت پیدا کیږی نو معلومه شوه چه د معمولی شی دپاره دعوت قبلول هم مستحب دی-

بعض شراحو او غزالیؒ وئیلی دی چه پدے حدیث کی د کراع نه مراد کراع الغمیم مقام دے چه دا د مکے او د مدینے ترمینځ ځای دے نو پدے حدیث کی مبالغه ده په

قبلولو د دعوت کې یعنی اګرکه د کراع الغميم په شان ورانده ځای ته زه راوبللے شم نو هم دعوت قبلوم۔ لیکن حافظ ابن حجرؒ فرمائي چه اوله معنیٰ د حدیث د مراد سره ډیره واضحه ده او هغه د جمهورو معنیٰ ده۔

إِلَىَّ ذِرَاعٌ : یعنی که لیچه (د حیوان مټ) ما ته هدیه شي نو زۀ ئے قبلوم، او نبي ﷺ به ددے خوراك خوښولو ځکه چه دا د ګډ اولنی اجزاء دی او د ګندونو نه ورانده وی او زر پخیږی۔

پدے حدیث کې د رسول الله ﷺ ښائسته اخلاق ذکر دی او د هغه خضوع او عاجزی او د خلکو د زړونو لحاظ ساتنه او هدیه قبلول دی، او څوك چه چا ته کور ته دعوت ورکړی د هغے قبلول پکار دی اګرکه پدے پو هه وی چه معمولي شي ته ئے رابلي۔ او کراع او ذراع دواړه ئے جمع کړل ځکه یو سپك شے دے د پانچے څه قیمت نشته او بل لوی شے دے ځکه چه لیچه د نبي ﷺ محبوبه وه نو دواړه ئے جمع کړل۔ نو ورسره اشاره ده چه د هدیه ورکونکی هدیه به سپکه نۀ ګنړے اګرکه معمولي شے وی لکه روستو رازی۔

- 1828(8) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " لَيْسَ الْمِسْكِيْنُ الَّذِيْ يَطُوْفُ عَلَى النَّاسِ تَرُدُّهُ اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ وَالتَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَلٰكِنَّ الْمِسْكِيْنَ الَّذِيْ لَايَجِدُ غِنًى يُغْنِيْهِ وَلَا يُفْطَنُ بِهٖ فَيُتَصَدَّقُ عَلَيْهِ وَلَا يَقُوْمُ فَيَسْأَلُ النَّاسَ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه شخص مسکین نۀ دے چه په خلکو ګرځي (او) یوه نوړئ او دوه نوړئ او یوه او دوه کجورے ئے واپس کوی لیکن مسکین هغه شخص دے چه نۀ مونده کوی دومره مال چه دے بې پرواه کړی او په دۀ باندے څوك پو هیږی هم نۀ چه صدقه پرے وکړی (یعنی غریبي ئے چا ته معلومه نۀ وی) او نۀ راپاڅیږی چه د خلکو نه سوال وکړی۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشریح : د المسکین نه مراد کامل مسکین دے یعنی کامل مسکین چه د صدقے ډیر لائق وی او ډیر ورته محتاج وی هغه شخص نۀ دے چه په دروازو او دکانونو ګرزی په یوه لقمه او دوه لقمو او کجورو سره د یوے دروازے نه بلے دروازے ته واپس کیږی، دا هم اګرکه مسکین دے لیکن کامل مسکین نۀ دے او دا خو خلکو کې مشهورو

لیکن دا دویم شخص په مسکنت مشهور نهٔ وو نو هغه ئې بیان کړو۔
سندیؒ داسې مقصد بیانوی چه دا مسکین هغه مسکین نهٔ دې کوم چه په مصارفو د زکاة کې ذکر دې بلکه دا مسکین په فقیر کې داخل دې او حقیقي مسکین هغه مستور الحال دې چه عام خلك ئې نهٔ پیژنی مګر په تفتیش او تالاش سره نو پدې سره د مسکین او فقیر فرق واضح شو۔ (مرعاة)
وَلٰکِنَّ الْمِسْکِیْنَ : د لکن په نون باندې یا سکون دې نو المسکین به مرفوع وی یا لکن لفظ مشدد دې نو المسکین به منصوب وی، اسم د لکن به وی۔
وَلَا یُفْطَنُ بِهٖ : د مجهول صیغه ده، اَیْ لَا یُعْلَمُ بِاِحْتِیَاجِهٖ ۔ یعنی په حاجت ئې څوك نهٔ پو هیږی۔
د حدیث نه معلومه شوه چه د سوال نه ځان ساتلو او په حاجت باندې صبر کولو سره مسکنت غوره دې۔ ۲- پدې کې اشاره ده چه اې خلکو تاسو صدقه په ښائسته مناسب ځای کې استعمال کړئ، او هغه چاته ئې ورکړئ چه هغوی کې د سوال نه ځان ساتل وی او الحاح او مبالغه په سوال کې نهٔ کوی۔
نو عربیٔ ژبه کې کله نفی د جنس د مبالغې دپاره کیږی لکه (لَیْسَ الشَّدِیْدُ بِالصُّرَعَةِ، (لَیْسَ مِنَ الْبِرِّ الصَّوْمُ فِی السَّفَرِ)، (لَیْسَ بِالْمُؤْمِنِ مَنْ یَّشْبَعُ وَجَارُهٗ جَائِعٌ اِلٰی جَنْبِهٖ)۔

الفصل الثانی

1829(9) عَنْ اَبِیْ رَافِعٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ بَعَثَ رَجُلًا مِنْ بَنِیْ مَخْزُوْمٍ عَلَی الصَّدَقَةِ فَقَالَ لِاَبِیْ رَافِعٍ : اِصْحَبْنِیْ کَیْمَا تُصِیْبَ مِنْهَا. فَقَالَ :لَا حَتّٰی آتِیَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَاَسْاَلَهٗ. فَانْطَلَقَ اِلَی النَّبِیِّ ﷺ فَسَاَلَهٗ فَقَالَ : " اِنَّ الصَّدَقَةَ لَا تَحِلُّ لَنَا وَاِنَّ مَوَالِیَ الْقَوْمِ مِنْ اَنْفُسِهِمْ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَاَبُوْ دَاوٗدَ وَالنَّسَائِیُّ

ترجمه : سیدنا ابورافع رضی الله عنه روایت نقل کوی چه رسول الله ﷺ د بنو مخزوم نه یو سړې د زکاة (په راټولو) باندې مقرر کړو نو هغه ابورافع ته ووېل چه ما سره ملګرې شه دې دپاره چه تا ته (هم) ددې نه څه برخه ورسیږی۔ نو هغه ووېل : نهٔ (ملګرې کیږم) تردې چه زهٔ رسول الله ﷺ ته ورشم او د هغه نه تپوس وکړم۔ نو ابورافع نبی کریم ﷺ خواته لاړو تپوس ئې ترې وکړو۔ نو نبی کریم ﷺ وفرمایل : یقیناً زکاة

زمونږ دپاره حلال نۀ دے (ځکه دا قانون دے چه) مولاگان (یعنی آزاد شوی غلامان) د یو قوم (د زکاة په اخستو کی) د هغوی نه حساب دی. (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ)

تشریح : مَوَالِيَ الْقَوْمِ : امیر یمانیؒ وائی چه دا حدیث دلیل دے چه د اهل بیتو د غلامانو حکم په تحریم د صدقه کی د هغوی په شان دے. او یو جماعت د علماؤ وئیلی دی چه په غلامانو د اهل بیتو باندے صدقه نۀ ده حرامه، یو خو دوی په نسب کی شریك نۀ دی، دویم دوی دپاره په خُمس کی برخه نشته.

جواب دا دے چه د نص په مقابله کی دے تعلیلاتو ته ضرورت نشته ځکه پدے سره نص حدیثی ضائع کیږی لکه دا خبره حافظ ابن عبد البرؒ هم کړیده.

بیا دا حدیث نص دے پدے خبره چه غلامان د اهل بیتو که د زکاة په راتولو مقرر شو نو عُمَاله (عوض د خپل عمل) به د زکاة نۀ اخلی. نو د اهل بیتو دپاره خو به په طریقه اولیٰ حرام وی.

بیا سوال دا دے چه بریرهؓ هم د عائشےؓ وینځه وه نو هغے ولے صدقه اخستے ده ؟

جواب : هغه د عائشےؓ مملوکه وه او ظاهر دا ده چه د نبی ﷺ ازواج مطهرات په اهل بیتو کی نۀ دی داخل مګر دا خبره کمزوری ده ځکه چه امام خلالؒ په روایت د ابن ابی مُلیکهؒ د عائشےؓ نه نقل کړیدی چه (اِنَّـا آلُ مُحَمَّدٍ لَا تَحِلُّ لَنَا الصَّدَقَةُ) مونږ آل محمد (ﷺ) دپاره صدقه حلاله نۀ ده. نو دا دلالت کوی چه ازواج مطهرات هم په اهل بیتو کی داخل دی دوی دپاره هم صدقه اخستل حرام دی.

حافظؒ وائی چه ددے سند د عائشےؓ پورے حسن دے.

پدے کی امام شافعیؒ وئیلی دی چه په نبی ﷺ باندے نفلی او فرضی دواړه قسمه صدقه حرامه وه او د هغه په آل باندے نفلی صدقه جائز وه او فرضی ناجائز.

مګر ظاهر ددے حدیث دا دے چه موالی په حکم د آل کی دی نو د دوی دپاره هم هر قسمه صدقه اخستل حرام دی. علامه شوکانی رحمه الله د حدیث د بریرهؓ نه یوه فائده دا راویستلے ده چه د بنی هاشمو د موالیو دپاره صدقه اخستل حرام او د بنی هاشمو د بیبیانو د موالیو دپاره صدقه اخستل حلال دی، (نیل الاوطار ٤/٥٥٨) نو پدے سره ددے حدیث الباب او حدیث د بریرهؓ تطبیق وشو نو پدے سره دغه سوال دفعه شو.

مَوَالِي الْقَوْمِ : یعنی د قوم آزاد کړی غلامان د زکاة په معامله کی د هغوی حکم لری

که چرته د قوم دپاره زکاة اخستل حرام وی نو د هغوی د دغه آزاد کړده غلامانو دپاره به هم حرام وی۔ دارنګه میراث به کله نا کله یو بل ته پاتی کیږی، د مولیٰ خپل غلام ته او ددیے برعکس۔

درجة الحديث: رواه ابوداود والترمذی والنسائی باسناد صحیح۔

- 1830(10) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ وَلَا لِذِىْ مِرَّةٍ سَوِيٍّ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوٗدَ وَالدَّارِمِيُّ.

- 1831(11) وَرَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ.

ترجمه: او سیدنا عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: زکاة د مالداره دپاره حلال نهٔ دیے او نهٔ د هغه شخص دپاره چه قوی (تندرست) او روغ بدن والا وی۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، دارمیؒ) او احمدؒ او نسائیؒ او ابن ماجهؒ دا روایت د ابو هریره ﷺ نه نقل کړیدیے۔

تشریح: لِذِىْ مِرَّةٍ : مِرة قوت او طاقت ته وائی او په اصل کی دا د رسیٔ مضبوط اُودلو ته وئیلے شی لکه عرب وائی: اَمْرَرْتُ الْحَبْلَ ۔ ما رسیٔ مضبوطه اُوودله۔ نو په حدیث کی ئے معنیٰ دا شوه چه اندامونه ئے مضبوط وی چه د هغے سره مشقت او ستړی والے برداشت کولے شی۔

سَوِيٍّ : یعنی سلیم الخلق، تام الاعضاء وی، روغ رمټ برابر وی۔ یعنی چه اندامونه ئے روغ وی او په کارو کسب باندیے قادر وی چه دومره څه پیدا کولے شی چه ددهٔ او ددهٔ د بال بچ کافی کیږی۔ بعض وائی: د (ذی مرة سوی) معنیٰ ده: عقلمند او مضبوط انسان۔ او دا کنایه ده د هغه شخص نه چه کارو کسب باندیے قادر وی۔

مسئله: (۱) امام شافعی رحمه الله وائی چه یو سړیے روغ بدن والا وی نو هغه له زکاة اخستل حرام دی او زکاة به هغه ته نشی ورکولے، دا حدیث دلیل ګرځوی۔

(۲) احناف وائی چه نصاب لره اعتبار دیے، روغ بدن لره اعتبار نشته ډیر مریضان دی چه مالدار دی او ډیر صحتمند دی غریبان دی کاروبار ورته نهٔ ملاویږی او د حدیث نه داسے جواب کوی چه دلته د (ذی مِرَّةٍ سوِیّ) دپاره چه صدقه حرامه خودلے شویده نو ددیے مطلب دا دیے چه د طاقت او د روغ بدن او اندامونو والا لره سوال د صدقے حرام

دے، او همدا قوي مذهب دے ځکه مريضان کم دي نو که صدقه د مريضانو پسے گرځوے نو ډير مشقت کې به واقع شي، د زکاة مستحق به ورته نۀ ملاوېږي نو معنىٰ دا ده: (وَلَا لِذِیْ مِرَّةٍ سَوِيٍّ سُؤَالُهَا) يعني د قوي روغ رمټ انسان دپاره سوال د صدقے حلال نۀ دے او په روستو حديث کې ددے وجه ذکر ده چه نبي ﷺ ته روغ بدن والا دوه کسان راغلل، د هغه نه ئے د زکاة سوال کولو نو هغه ورته وفرمايل چه روغ بدن والا لره سوال جائز نۀ دے۔ او که هغوي چرته سوال نۀ وے کړے نو هغوي له زکاة اخستل جائز وو،

او بل طرفته نبي ﷺ صحيح او قوي بدن والا خلکو ته هم زکاة ورکړيدے۔ نو ضرور به پدے حديث کې دغه تاويل متعين وي۔ او امام ترمذيؒ په خپل سنن کې ذکر کړيدي چه د نبي کريم ﷺ نه په ډيرو حديثونو کې نقل دي: (لَا تَحِلُّ الْمَسْأَلَةُ لِغَنِيٍّ وَلَا لِذِیْ مِرَّةٍ سَوِيٍّ)۔ سوال د مالداره او روغ رمټ دپاره حلال نۀ دے۔ او دا حديث بعض اهل علمو په سوال باندے حمل کړيدے (سنن الترمذي: ٦٥٢ طبع دار احياء التراث بيروت)

مسئله: پدے حديث کې دا خبره راغله چه د غني دپاره زکاة اخستل جائز نۀ دي نو په شريعت کې غِنیٰ (مالداري) څه ته وائي او کوم حده پورے چه مالداري ورسيږي نو انسان شرعاً مالداره گنړلے شي، علامه صنعانيؒ په سبل السلام (۲/۱٤٥) کې فرمائي: د هغه مالدارئ چه د هغے سره زکاة اخستل حرام وي د هغے په تعريف کې ډير اقوال دي ليکن په هغے باندے داسے دليل نشته چه نفس ورته اطمينان حاصل کړي ځکه چه دا لغت ته نۀ دے سپارلے شوے او بل طرفته ډير احاديث راغلي دي چه په هغے کې د هغه غِنیٰ (مالدارئ) اندازه ئے خودلے ده چه د هغے سره سوال کول حرام وي لکه حديث د ابوسعيدؓ (عند النسائيؒ) کې دي: (مَنْ سَأَلَ وَلَهٗ أُوقِيَّةٌ فَقَدْ أَلْحَفَ) چا چه سوال وکړو او د هغه سره يو أُوقيه (څلويښت روپۍ) وي نو دۀ په سوال کې مبالغه وکړه۔ او په روايت د ابوداودؒ او ابن حبانؒ کې دي (مَنْ سَأَلَ وَلَهٗ مَا يُغْنِيهِ فَإِنَّمَا يَسْتَكْثِرُ مِنَ النَّارِ قَالُوا: مَا يُغْنِيهِ ؟ قَالَ: قَدْرُ مَا يُعَشِّيهِ وَيُغَدِّيهِ) ۔ (چا چه سوال وکړو او د هغه سره دومره څه وي چه دا پرے بې پرواه کوي نو دے ځان له زيات اُور حاصلوي، وويل شو: څه شي باندے بې پرواه کيږي؟ وے فرمايل: دومره اندازه چه صبا او بيگاه ئے کيږي)۔

نو په دومره اندازه مالدارئ کې سوال حرام دے او هرچه هغه مالداري ده چه زکاة

اخستل ورسره حرام وی نو ظاهر دا ده چه چا باندے زکاة واجب وی یعنی دوه سوه درهمه ورسره وی یا نور نصابونه ورسره وی نو هغه به زکاة نهٔ اخلی ځکه چه نبی ﷺ فرمایلی دی چه (زهٔ به زکاة اخلم د مالدارو ستاسو نه او واپس کوم به ئے فقیرانو ستاسو ته) نو غنی ئے هغه چا ته وویلو چه زکاة پرے واجب وی او د هغه نه زکاة اخستلے شی او فقیر ئے هغه چا ته وویلو چه زکاة ورته ورکولے شی او همدا خبره حق ته ډیره قریبه ده۔

فائده عجیبه : د مخکنو حدیثونو په رڼا کی علماءِ کرامو غنی په درے قسمه خودلے دے (۱) یو هغه غنی دے چه په هغه باندے زکاة فرض وی یعنی د نصاب مالك وی او د هغه په نصاب باندے یو کال تیر شوے وی۔ (۲) دویم هغه شخص چه د زکاة مستحق نهٔ وی او هغه سره دومره مال وی چه زکاة پرے نهٔ لازمیږی یعنی نصاب ته نهٔ وی رسیدلی، ګاری موتړے وی، یا کورونه وی یا سامانونه د استعمال دپاره وی او په هغه باندے قربانی لازمه وی۔ (۳) دریم هغه شخص چه د هغه دپاره د صدقے او زکاة مال خو حلال وی لیکن هغه له د سوال لاس اوږدول حرام وی ګویا که دا هغه شخص دے چه د یوے ورځے د خوراك او په اندازه د ستر پټولو د جامو مالك وی۔ او په حدیث کی دذے نه په خلوېښتو درهمو سره تعبیر وشو چه دا ورسره وی نو سوال به نهٔ کوی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح رواه الترمذی وابوداؤد والدارمی ورواه احمد والنسائی وابن ماجه عن ابی هریرة۔

- 1832(12) وَعَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ قَالَ : أَخْبَرَنِيْ رَجُلَانِ أَنَّهُمَا أَتَيَا النَّبِيَّ ﷺ وَهُوَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهُوَ يَقْسِمُ الصَّدَقَةَ فَسَأَلَاهُ مِنْهَا فَرَفَعَ فِينَا النَّظَرَ وَخَفَضَهُ فَرَآنَا جَلْدَيْنِ فَقَالَ: "إِنْ شِئْتُمَا أَعْطَيْتُكُمَا وَلَاحَظَّ فِيْهَا لِغَنِيٍّ وَلَا لِقَوِيٍّ مُكْتَسِبٍ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : او عبید الله بن عدی بن الخیار رحمه الله فرمائی: ما ته دوه کسانو خبر راکړیدے چه دوی دواړه نبی کریم ﷺ ته راغلل او هغه په حجة الوداع کی وو او هغه (په خلکو کی) زکاة تقسیمولو نو دے دواړو د هغه نه د زکاة څه برخه وغوښته (دوی وائی چه) نبی کریم ﷺ په مونږ کی نظر پورته او خکته کړو نو مونږه ئے مضبوط

ولیدو نو وې فرمایل: که ستاسو خوښه وی زهٔ به ئې تاسو ته درکړم خو پدې کې د مالداره شخص هیڅ برخه نشته او نهٔ د هغه شخص چه قوی وی او په کاروکسب باندې قادر وی۔ (ابوداودؒ، نسائیؒ)

تشریح: رَجُلَانِ: ددې دوارو کسانو نومونه نهٔ دی معلوم مګر طحاویؒ په معانی الآثار کې وئیلی دی چه عبید الله وائی چه دا زما د قوم دوه کسان وو۔

یعنی دې دوه کسانو د نبی ﷺ نه د صدقې سوال وکړو نو نبی ﷺ ورته ښکته پورته وکتل نو وې لیدل چه دواړه د بدن په لحاظ مضبوط دی نو ورته ئې وویل چه که ستاسو خوښه وی زهٔ به ددې نه څه درکړم او خبره به ستاسو امانت ته وسپارم لیکن تاسو دواړه به ددې په اخستو سره په خطره کې یئ په ناحقه به ئې اخلئ که تاسو دواړه قوی یئ لکه ستاسو حالت پدې دلالت کوی یا که مالداره یئ او پدې صدقو کې د غني او د قوی بدن والا انسان چه په کاروکسب قادر وی هیڅ حصه نشته۔

جَلْدَیْنِ: جلد مضبوط او طاقتور ته وائی۔

وَلَاحَظَّ فِیْهَا: طیبیؒ ددې معنیٰ کړیده: زهٔ درته دا نهٔ درکوم څکه چه په صدقه کې ذلت او بیعزتی ده نو که تاسو پدې خوشحاله یئ دربه ئې کړم یا ئې زهٔ نهٔ درکوم څکه چه دا په قوی کسب کونکی باندې حرامه ده نو که تاسو د حرامو په خوړلو رضا یئ دربه ئې کړم دا ئې ورته توبیخاً او تغلیظاً وویل۔

دا حدیث دلیل دې چه دلته ددې دواړو کسانو سوال حرام وو دلیل پرې دا قول دې: (وَإِنْ شِئْتُمَا أَعْطَیْتُکُمَا) که تاسو غواړئ زه به ئې درکړم) نو که اخستل حرام وې او د مالك د مال نه ئې زکاة نهٔ ساقطولې نو نبی ﷺ به ورته دا نهٔ ویلې چه زهٔ به ئې درکړم۔ نو دا دلیل شو چه دوی ته زکاة ورکول جائز وو لیکن چونکه دوی روغ رمټ وو نو دوی دپاره سوال کول حرام وو پدې وجه ئې ورته ورنکړو۔

دا حدیث دلیل دې چه نبی ﷺ خپل امت په اُوچت همت باندې اموخته کوی پدې وجه ئې دې دوه کسانو ته په زکاة کې څه برخه ورنکړه، او دوی ته ئې یو قسم ترغیب ورکړو چه هرکله چه ستاسو څه ګوزاره روانه وی او په صحت باندې روغ یئ چه کاروبار وکړئ مال پیدا کولې شئ نو زکاة اخستل درله مناسب نهٔ دی۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح، رواه ابوداود والنسائی

- 1833(13) وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ مُرْسَلًا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ إِلَّا لِخَمْسَةٍ: لِغَازٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَوْ لِعَامِلٍ عَلَيْهَا أَوْ لِغَارِمٍ أَوْ لِرَجُلٍ اِشْتَرَاهَا بِمَالِهِ أَوْ لِرَجُلٍ كَانَ لَهُ جَارٌ مِسْكِيْنٌ فَتُصَدِّقَ عَلَى الْمِسْكِيْنِ فَأَهْدَى الْمِسْكِيْنُ لِلْغَنِيِّ". رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُوْ دَاوُدَ.

- 1834(14) وَفِيْ رِوَايَةٍ لِأَبِيْ دَاوُدَ عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ : " أَوِابْنِ السَّبِيْلِ "

ترجمه : او د عطاء بن يسار رحمه الله نه مرسلًا روايت دے هغه فرمائی چه رسول الله ﷺ وفرمايل: زكاة د مالداره دپاره حلال نهٔ دے مگر د پنځه (قسمه مالدارو) دپاره حلال دے۔ (١) د الله په لاره كى د جهاد كونكى مالداره دپاره۔ (٢) د زكاة وصولونكى مالداره دپاره۔ (٣) تاوان ډكونكى مالداره دپاره (٤) يا د هغه سړى دپاره چه د زكاة مال واخلى په بدله د خپل مال كى۔ (يعنى غريب ته څوك د زكاة مال وركړى او بيا مالداره شخص د هغه غريب نه د زكاة دغه مال واخلى او هغه ته د هغے بدله وركړى نو دے صورت كى به د مالداره دپاره هغه مال جائز او حلال وى)۔

(٥) يا د هغه سړى دپاره چه دهغه دپاره مسكين گاونډى وى نو هغه په مسكين باندے صدقه وكړى بيا مسكين مالداره ته (هغه يا د هغے نه څه حصه) په تحفه كى وركړى۔ (مالك، ابوداودؒ) او په يو روايت د ابوداودؒ كى د ابوسعيد خدريؓ نه دا الفاظ دى : يا د مسافر (مالداره) دپاره۔

تشريح : عطاء بن يَسار جليل القدر تابعىؒ دے۔

مُرْسَلًا : يعنى صحابىؓ په سند كى نهٔ دے ذكر چه هغه ابوسعيد الخدرى ﷺ دے۔

ددے حديث نه معلوميږى چه په بعض صورتونو كى د غنى دپاره هم د زكاة مال حلاليږى لكه په دے حديث كى پنځه كسان خودلے شويدى چه د هغوى دپاره زكاة حلال دے۔

لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ : يعنى دوى اگركه غنيان دى ليكن په بل صفت سره ورله زكاة اخستل جائز دى۔

د ابن قاسمؒ نه نقل دى چه د هيڅ غنى دپاره صدقه او زكاة اخستل حلال نهٔ دى برابره ده مجاهد وى او كه عامل وى۔ او سبب د اختلاف دا دے چه آيا په آيت كى په

ذكر شوی اقسامو كی علت د وجوب الصدقه څه شے دے آیا حاجت دے فقط یا حاجت او عام منفعت دے؟، د احنافو په نیز سبب د استحقاق د زكاة په ټولو كی یو دے چه هغه فقر او حاجت دے سوی د عاملینو او مؤلفة القلوب نه. او په آیت كی ئے چه مختلف نومونه ذكر كړیدی نو دا دپاره د بیان د اسبابو د حاجت دی.

لیكن ددے حدیث ظاهر د احنافو او د ابن القاسمؒ د مذهب سره سمون نۀ خوری ځكه چه پدے كی ئے زكاة غازی او مجاهد دپاره هم جائز كړیدے اگركه مالداره هم وی. او همدا حق ده ځكه بیا دے نور مصارف ذكر كولو ته حاجت نۀ وو داسے به ئے وئیلی وے (كُلُّ مَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلَهُ الصَّدَقَةُ) بل د صحابه كرامؓ عمل دلیل دے چه هغوی به مالدار مجاهد ته زكاة وركولو لكه د ابن عمرؓ اثر په بخاری كی راغلے دے چه هغه یو مجاهد ته زكاة وركړو چه هغه غنی وو.

لِغَازٍ : یعنی غازی دپاره زكاة اخستل او پدے سره د هغه دپاره د غزا كی مدد اخستل جائز دی اگركه غنی وی او دا قول د ائمه ثلاثۃؒ او د اسحاق بن راهویهؒ او ابوثورؒ او ابوعبیدؒ او ابن المنذرؒ دے، (۲) امام ابوحنیفه رحمه الله وائی چه غازی دپاره نۀ دے جائز مگر هله چه د غزا په وجه منقطع شوے وی یا فقیر وی. لیكن دا خبره ضعیفه ده ځكه چه منقطع الغزاة خو په آیت كی په ابن السبیل كی داخل دے او دویم په فقراؤ كی داخل دے او الله د (فی سبیل الله) او ابن السبیل او فقراؤ په حصه كی فرق په واو سره كړیدے معلومه شوه چه دا جدا جدا خلك دے.

فِيْ سَبِيْلِ اللهِ : د سبیل الله نه څه مراد دے نو پدے كی مشهور درے اقوال دی:

(۱) څوك وائی چه ددے نه مراد غزا او جهاد دے دا قول د مالكؒ او جمهورو فقهاؤ دے دلیل دا دے چه كله سبیل الله مطلق ذكر كړے شی نو په قرآن او احادیثو كی ترے غالباً جهاد مراد وی. او دا حدیث تشریح د قرآن ده ځكه چه پدے حدیث كی ئے نفی د زكاة كړے د مالدارو نه سوی د مجاهدین فی سبیل الله نه او دا قول د ائمه اربعهؒ دے.

(۲) بعض وائی چه ددے نه مراد حاجی او غازی دواړه دی چه په لاره كی ورسره خرچه ختمه شی. او دا قول د امام محمدؒ او یو روایت د احمدؒ او مذهب د اسحاقؒ دے او امام بخاریؒ غوره كړیدے. دلیل دا دے چه نبی ﷺ په روایت د احمدؒ او ابوداودؒ كی حج ته هم سبیل الله وئیلے دے او بخاری تعلیقاً د ابوموسیٰ ؓ نه ذكر كړیدی چه مونږ

رسول الله ﷺ د زكاة په اُوښانو باندې د حج دپاره سوارهٔ كړلو۔
امام مالك، ليث، ابوحنيفه، ثوري، شافعي، ابوثور او ابن المنذر رحمهم الله وائي چه زكاة به په حج كې نهٔ وركوي۔
(۳) بعض وائي چه سبيل الله عام لفظ دے هر كارِ خير ته وائي نو په يو خاص نوع پورې ددے خاص كول نهٔ دي جائز۔ دا قول قاضي عياضؒ د بعض علماؤ نه او قفالؒ د بعض فقهاؤ نه نقل كړيدے۔ ليكن دا قول محققينو علماؤ ضعيف گرځولے دے وجه دا ده چه كه هر كارِ خير ترے مراد شي بيا پكار ده چه هر مونځ كونكے، روژه دار، صدقه كونكے، تلاوت كونكے او ذاكر او د لارے نه تكليف زده شے لرې كونكے دِے هم د زكاة مستحق شي او دے باندے هيڅ قول نهٔ دے كړے۔ او كه دا مراد شي نو بيا خو به مخكني اصناف هم په في سبيل الله كې داخل شي۔ او هر چه حج دے نو دا خبره ښكاره ده چه سبيل الله كې داخل دے بلكه هر كار خير چه د الله د رضا دپاره وشي دا سبيل الله دے ليكن دلته هغه نهٔ دي مراد، كه مراد شي نو بيا به په آيت كې د اته اصنافو د حصر فائده فوت شي۔ او پدے باندے هيڅ مشهورو علماؤ قول نهٔ دے كړے او نهٔ پدے باندے د قرآن او حديث او رأى د يو صحابيؓ او نهٔ صحيح قياس شته بلكه دا د مخكنو دلائلو خلاف دے او تفصيل ئې په مرعاة المفاتيح (۲۴۰/٦) او فتاوى الدين الخالص (۲۰۸/۸) كې وګوره۔ نو صرف اول قول غوره دے دا حديث الباب پرے هم دليل دے (الا لغاز) كې حصر كړيدے او حج سبيل الله دے ليكن مصرف الزكاة نهٔ دے۔
أَوْ لِعَامِلٍ عَلَيْهَا : يعني په صدقه راټولو باندے مقرر وي نو اگركه هغه مالداره وي هم زكاة اخستل ورله جائز دي۔ ابن قدامهٔ وائي چه عامل هغه چا ته وائي چه د وخت بادشاه هغه د زكاة په راټولو او حفاظت كولو او نقل كولو مقرر كړي يا هغه څوك چه ددهٔ سره مدد كوي په راټولو او ساتلو او پورته كولو سره او دغه شان حاسب (حساب كونكے)، ليكونكے، پيمانه او وزن كونكے او شمارونكے او هر هغه څوك چه دے ورته د زكاة د راټولو په باره كې محتاج وي داخل دے۔ انتهىٰ۔ نو دا كسان چه زكاة اخلي نو په صفت د خپل كار سره يعني خپله مزدوري اخلي نهٔ په طريقه د صدقه سره نو پدے كې دا شرط نشته چه دوي به فقيران وي هله به زكاة اخلي۔ بيا دا حديث په مخكني حديث د مطلب بن ربيعه سره مُخَصَّص دے نو كوم عامل چه هاشمي وي يا د هاشمي

غلام وي هغوی ته به زکاة تشی ورکولے۔

أَوْ لِغَارِمٍ : ددے دوه مصداقه دی (۱) يو دا چه يو سړی باندے دوه لاکه قرض دے او دوه لاکهه روپۍ ورسره دی نو دا زکاة اخستلے شی ځکه چه دا دوه لاکهه روپۍ که قرض ته ويستلے شی نو دهٔ سره هيڅ نصاب نهٔ پاتی کيږی۔ دا مطلب احنافو بيان کړيدے ليکن پدے معنیٰ باندے دا غارم په فقيرانو کی داخل دے۔ (۲) غوره مطلب دا دے چه ددے نه مراد هغه قرض دار انسان دے چه د بل چا د وجه نه قرضدارے ګرځيدلے وی لکه ذات البينی اصلاح د وجه نه ګرزيدلے وی لکه د دوه کسانو يا د دوه قبيلو د فتنے او د جنګ ختمولو نه يريږی نو يو تن پکی خپل مال ولګوی يا د چا نه قرض راواخلی او ددے دوه کسانو جګړه پرے ختمه کړی نو دهٔ له جائز دی چه زکاة واخلی او دغه قرض پرے ادا کړی، اګرکه دا غنی هم وی۔او دا تفسير امام شافعیؒ او جمهورو علماؤ بيان کړيدے او روستو په حديث د قبيصهؓ کی رازی۔او دا حکم د مدارسو د مهتممانو هم دے چه هغوی د مدرسينو او استاذانو د کال دوه کالو تنخواه په ځان اُومنی مثلًا لس پنځلس لاکهه روپۍ بيا که هغوی زکاة اخلی نو دا ورله جائز ده۔ځکه هغه هم غارمين دی بلکه غټ اصلاح کونکی هم دوی دی خو پدے شرط چه مدرسه دا هل حقو د اهل السنة والحديث وی، د مبتدعينو په مدرسه کی چنده ورکول هم صحيح نهٔ دے پدے کی معاونة علی الاثم والعدوان دے۔

أَوْ لِرَجُلٍ اِشْتَرَاهَا : يو سړے غنی وی او د فقير نه زکاة په خپل مال سره واخلی مثلًا سړی په زکاة کی ګډ واخستو او يو مالداره سړے ئے د هغه نه په پيسو واخلی نو دے مالداره لره جائز دے۔ علامه ابن قدامه رحمه الله فرمائی: که څوك زکاة وباسی او فقير له ئے ورکړی نو بيرته به ئے ترے دغه مالك نهٔ اخلی او دا د حسن بصریؒ او قتادهؒ او مالك نه نقل دی۔ مالکيهؒ وائی که بيرته ئے واخستو نو بيع ئے نهٔ ماتيږی۔ او امام شافعیؒ وغيره فرمائی چه دهٔ لپاره هم اخستل جائز دی ظاهر ددے حديث پرے دليل دے۔او دغه شان په حديث د ام عطيه کی هم راغلی دی او روستو به راشی۔

او په کوم حديث د عمرؓ کی چه راغلی دی چه دهٔ يو چا ته اس د الله دپاره ورکړو بيا ئے هغه ضائع کونکے وليدو نو اراده ئے وکړه چه بيرته ئے ترے واخلی نو د نبی ﷺ سره ئے مشوره وکړه، نبی ﷺ ورته وفرمايل : (لَا تَبْتَعْهُ وَلَا تَعُدْ فِیْ صَدَقَتِكَ) (مهٔ ئے اخله او په

خپله صدقه کی رجوع مهٔ کوه) نو ددے نه مراد نفلی صدقه ده چه پدے کی رجوع کول اګرکه په اخستو سره وی هم صحیح نهٔ دی او فرضی صدقه بیرته اخستل ددے حدیث په وجه صحیح دی لکه دا تطبیق علامه شوکانیؒ کړیدے او علامه ابوالحسن المبارکفوریؒ ترے په ((المرعاة)) کی نقل کړیدے۔

أَوْ لِرَجُلٍ كَانَ لَهٗ جَارٌ : د یو سړی ګاونډی مسکین دے هغه باندے صدقه وشوه او هغه مالداره ته هغه هدیه کړه نو مالداره لره د هغے اخستل جائز دی ځکه چه په تبدل د ملك سره تبدل په شی کی راغلو۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، رواه مالك وابوداود وهو ان كان مرسلاً لكنه موصول عند ابى داود وابن ماجه واحمد والبزار والحاكم (۱/ ٤٩٧) والبيهقى (۷/ ۱۵، ۲۲)

- 1835(15) وَعَنْ زِيَادِ بْنِ الْحَارِثِ الصُّدَائِيِّ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ فَبَايَعْتُهٗ فَذَكَرَ حَدِيْثًا طَوِيْلًا فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ : أَعْطِنِيْ مِنَ الصَّدَقَةِ. فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " إِنَّ اللّٰهَ لَمْ يَرْضَ بِحُكْمِ نَبِيٍّ وَلَا غَيْرِهٖ فِي الصَّدَقَاتِ حَتّٰى حَكَمَ فِيْهَا هُوَ فَجَزَّأَهَا ثَمَانِيَةَ أَجْزَاءٍ فَإِنْ كُنْتَ مِنْ تِلْكَ الْأَجْزَاءِ أَعْطَيْتُكَ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : او سیدنا زیاد بن حارث صدائی ﷺ فرمائی: زهٔ نبی کریم ﷺ ته راغلم نو ما ورسره بیعت وکړو، بیا هغه اوږد حدیث ذکر کړو (چه په هغے کی دا واقعه هم ده) نو نبی کریم ته یو سړے راغے هغه عرض وکړو : ما ته د زکاة نه څه برخه راکړه۔ نو رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل: یقیناً الله تعالیٰ د زکاتونو په باره کی د نبی په فیصله نهٔ دے راضی شوے او نهٔ د بل چا (په فیصله) تردے چه الله تعالیٰ په هغے کی په خپله فیصله کړیده نو دا (مستحقین د زکاة) ئے اته قسمه کړیدی نو که تهٔ د دغه اتو قسمونو نه (په یو قسم کی) ئے، زهٔ به ئے درکړم۔ (ابوداودؒ)۔

تشريح : الصُّدَائِيِّ : منسوب دے صُدَاء قبیلے ته۔

فَذَكَرَ حَدِيْثًا : یعنی زیاد بن حارث اوږد حدیث ذکر کړو چه هغه المزیؒ په خپل التهذیب کی ذکر کړیدے او د تهذیب التهذیب په حاشیه کی راغلے دے او حافظ ابن القیمؒ په زاد المعاد کی ذکر کړیدے۔ او کنز العمال کی تفصیلاً ذکر دے (۳۷۰۷۵)۔

زیادؓ فرمائی: زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم ما ورسره په اسلام باندے بیعت وکړو او دا

خبر مې ورکړو چه دوی زما قوم ته یو لښکر لیږلې دې، نو ما وویل: اې د الله رسوله! دا لښکر راواپس کړه زهٔ ستا دپاره د خپل قوم په اسلام او طاعت ذمه واریم! نو ما ته ئې وویل: لاړ شه، دوی راواپس کړه نو ما وویل: اې د الله رسوله! زما اُوښه مانده شویده، نو رسول الله ﷺ یو بل سړې ولیږلو هغوی ئې راواپس کړل، صدائي وائي: او نبي ﷺ زما قوم ته خط ولیکلو نو د هغوی وفد د اسلام سره راغلل نو ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل: اې د صداء قبیلې وروره! تهٔ خو ضرور په خپل قوم کی مُطاع (خبره منلې شوې) ئې؟ نو ما وویل، بلکه الله دوی ته د اسلام هدایت وکړو. نو ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل: زهٔ تا په دوی باندې مشر کوم، نو ماویل: ولې نهٔ اې د الله رسوله! نو ما دپاره ئې یو خط ولیکلو نو ما وویل اې د الله رسوله! ما ته د دوی د صدقاتو (زکاتونو) په باره کی څه حکم وکړه، وې فرمایل: ښه ده، نو یو بل خط ئې ولیکلو، صدائي وائي: او نبي ﷺ په بعض سفرونو کی وو نو رسول الله ﷺ یو ځای کی دمه وکړه نو د هغه ځای خلك ورته راغلل د خپل عامل (ګورنر) نه ئې ګیله کوله، چه دهٔ زمونږ نه هغه شې اخستې کوم چه زمونږ او ددهٔ د قوم په مینځ کی په جاهلیت زمانه کی وو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: آیا دهٔ دا کار کړیدې؟ خلکو وویل: آؤ، نو نبي ﷺ خپلو ملګروته وکتل او زهٔ هم په هغوی کی وم نو وې فرمایل: په مشر جوړیدو کی د مؤمن سړی دپاره هیڅ خیر نشته. نو دا خبره زما زړه کی واقع شوه، بیا ورته بل سړې راغې د هغه نه ئې سوال وکړو، نو نبي ﷺ وفرمایل: چا چه د خلکو نه سوالونه وکړل چه دومره ضرورت ئې نهٔ وو نو دا په سر کی درد دې او په خیټه کی بیماري ده، نو هغه سائل وویل: ما ته د زکاة نه څه حصه راکړه نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: الله تعالیٰ د نبي او د بل چا په فیصله راضي نهٔ وو تردې چه خپله ئې د هغې په باره کی فیصله وکړه او دا ئې اته حصو ته تقسیم کړل نو که تهٔ د دغه اته حصو نه ئې نو درېنه ئې کړم، یا به تاته ستا حق درکړو، صدائي وائي: دا خبره زما په زړه کی واقع شوه چه ما د رسول الله ﷺ نه زکاة غوښتې وو او زما ورته دومره ضرورت نهٔ وو، بیا رسول الله ﷺ د شپې اوله حصه کی ماښامې (خوراك) وکړو نو زهٔ ورسره شوم او نزدې ورله راغلم او د هغه ملګری به د هغه نه جدا کیدل او روستو کیدل به تردې چه زما نه علاوه ورسره بل هیڅوك پاتې نشو نو کله چه د سهر د مانځه وخت رانزدې شو، ما ته ئې حکم وکړو ما

اذان وکړو، بیا زهٔ شروع شوم چه رسول الله ﷺ ته مے وئیل چه زهٔ اقامت کوم اے د الله رسوله! نو رسول الله ﷺ شروع شو چه مشرق طرفته ئے صبا ته کتل تردے چه صبا راوختلو، رسول الله ﷺ راکوز شو، قضاءِ حاجت ئے وکړو، بیا ما ته راواپس شو او د ملګرو سره پیوسته کیدلو نو ما ته ئے ووئیل: اے د صداء قبیلے وروره! آیا اُوبه درسره شته؟ ما ووئیل: نهٔ، مګر معمولی شان دی چه ستا نهٔ کافی کیږی، نبی ﷺ وفرمایل: دا په یو لوښی کی واچوه بیا ئے ما ته راوړه، ما دغسے وکړل، نو نبی ﷺ په اُوبو کی خپل ورغوے کیخودو، صدائی وائی: ما د هغه د دواړو ګوتو ترمینځ یوه چینه ولیده چه خوټ کیدله، نو ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل: که ما ته د خپل رب نه حیاء نهٔ راتلے نو مونږ به ئے څروبه کړی وے او مونږ به ترے اُوبه غوښتے وے، خلکو کی آواز وکړه، څوك اودس کول غواړی؟ هغه فرمائی: ما خلکو کی آواز وکړو نو د چا چه اراده وه د هغے نه ئے اوبه واخستلے، بیا رسول الله ﷺ مانځه ته راپاڅیدو نو بلال اراده وکړه چه اقامت وکړی نو نبی ﷺ وفرمایل: د صداء قبیلے ورور اذان کړیدے نو هغه به اقامت (هم) کوی، صدائی وائی: ما د مانځه اقامت وکړو، کله چه رسول الله ﷺ مونځ خلاص کړو، ما ورته دواړه خطونه راوړل او ورته مے ووئیل چه ما ددے دواړو نه لرے کړه، نبی ﷺ وفرمایل: څه خبره درته ښکاره شوه، ما ووئیل: ما ستا نه واوریدل چه د مؤمن سړی دپاره په مشرئ کی خیر نشته او زهٔ په الله په او رسول باندے مومن یم او ما ستا نه واوریدل چه تا سائل ته ووئیل چه څوك د خلکو نه په بی حاجتئ کی سوالونه کوی نو دا په سر کی درد او په خیټه کی بیماری ده او ما ستا نه سوال وکړو او زهٔ غنی وم نو نبی ﷺ وفرمایل: خبره همدغسے ده، که ستا خوښه وی نو قبوله ئے کړه او که غواړے نو پریده، نو ما ووئیل: زهٔ ئے پریدم، نو هغه وفرمایل: ما ته یو بل سړے راوښایه چه هغه مشر کړم نو ما ورته د وفد یو بل سړے وخودلو نو هغه ئے مشر جوړ کړو. الی آخر الحدیث. (الطبرانی فی الکبیر ۲۔ ۲۱۸)

فِي الصَّدَقَاتِ: یعنی په مصارفو د زکاتونو کی۔

فائده: امام خطابیؒ وائی چه دا حدیث دلیل دے چه د شریعت بیان کله په دوه طریقو کیږی (۱) کله خو الله تعالی په خپل کتاب کی د هغے د بیان ذمه واری واخلی او خپله هغه تفصیلی بیان کړی چه نور د نبی ﷺ بیان ته ضرورت نهٔ وی،

(٢) او كله په كتاب الله كى بعض احكام مجمل راشى او د هغې بيان نبى ﷺ ته وسپارى نو هغه ئې په خپل قول او فعل سره تفسير او وضاحت وكړى او كله الله تعالىٰ بعض آيتونه همداسې اجمالًا پريدى دې دپاره د امت علماؤ او فقهاؤ ته تنبيه وركړى چه تاسو پكى سوچ وكړئ او ددې نه رازونه راوباسئ۔ ليكن تول احكام بيان شويدى قرآن او حديث كى او فقهاء او علماء صرف مبلغين دى يا حكمتونه او اسرار بيانونكى دى۔

فَجَزَّأَهَا : تجزئة تقسيم او جزء جزء (حصه حصه) كولو ته وائى۔

ددې نه بيا دا نهٔ معلوميږى چه زكاة به خامخا په تولو باندې په يو ځل تقسيمولے شى لكه دا خبره امام شافعىؒ كړيده بلكه زكاة يو قسم ته وركول هم صحيح دى۔

درجة الحديث : رواه ابوداود والدارقطني والطحاوي والبيهقي قال البغوي اسناده حسن، وفي سنده عبد الرحمن بن زياد بن انعم الافريقي ضعفه ابن القطان وابن مهدي وابن معين وابن حنبل وغيرهم والبيهقي ايضاً وقال الترمذي : رأيت البخاري يقوي امره، وقال هو مقارب الحديث، وقال الحافظ في التقريب : ضعيف في الحفظ و كان رجلا صالحاً، (مرعاة ٦/٢٤٩)

الفصل الثالث

- 1836(16) عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ قَالَ : شَرِبَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ﷺ لَبَنًا فَأَعْجَبَهُ فَسَأَلَ الَّذِيْ سَقَاهُ : مِنْ أَيْنَ هٰذَا اللَّبَنُ ؟ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ وَرَدَ عَلٰى مَاءٍ قَدْ سَمَّاهُ فَإِذَا نَعَمٌ مِنْ نَعَمِ الصَّدَقَةِ وَهُمْ يَسْقُوْنَ فَحَلَبُوْا مِنْ أَلْبَانِهَا فَجَعَلْتُهُ فِيْ سِقَائِيْ فَهُوَ هٰذَا : فَأَدْخَلَ عُمَرُ يَدَهُ فَاسْتَقَاءَهُ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : زيد بن اسلم رحمه الله فرمائى: عمر بن خطاب ﷺ (يوه ورځ) پئ وڅكل نو ډير ښه پرې ولګيدل، نو تپوس ئې وكړو د هغه شخص نه چه په دهٔ باندې ئې پئ څكولى وو چه دا پئ د كوم ځاى نه وو ؟ نو هغه ورته خبر وركړو چه هغه يو يې چينې (ګودر) ته ورغلے وو چه د هغې نوم ئې ذكر كړو۔ نو د دغه چينې په خوا كى د زكاة د اُوښانو نه څه اُوښان وو چه خلكو هغې ته اُوبه وركولے نو هغوى د زكاة د اُوښانو نه پئ ولشل نو ما (هم) هغه په خپل مشك (ښكه) كى راواړول نو دا هغه پئ وو۔ (چه تا

وخکل) نو (پدے آوریدو سره) عمر فاروقؓ (خپلے خولے ته) لاس ننویستو او هغه ئے قیء کړل۔ (مالك، بیهقیؒ په شعب الایمان کی)

تشریح : فَإِذَا نَعَمٌ : یعنی د زکاة اُوښان دے اُوبو خواته راغلی وو او شپونکیانو هغه د اُوبو نه خروبه کول نو هلته ئے ترے پیئ لشل نو دے غلام ته ئے هم ورکړل او هغه عمرؓ ته راوړل۔

بیا **سوال** دا دے چه عمر فاروق ﷺ ولے دا کار کولو حال دا چه دا قانون مخکی تیر شو چه په تبدل د ملك سره تبدل په شی کی راځی؟ **جواب** دا دے چه کیدے شی په دے غلام باندے صدقه حرامه وی یا خو مالداره وو یا غلام وو نو عمر فاروقؓ دغه پیئ قیء کړل دے دپاره چه فائده پرے وانخلی۔ او ددے پیو اصل ممنوع وو اګرکه عمرؓ ته قصداً نهٔ وو راغلی او دا نهایتِ ورع (پرهیزګاری) ده، یا عمر فاروق امیر المؤمنین دے د بیت المال مال بلا وجه استعمال ورله جائز نهٔ دے۔ او دغه شان واقعه د ابوبکر صدیق ﷺ سره هم راغلے وه، صحابه کرامؓ به د حرامو او مشتبهاتو نه داسے پهٔ کامله طریقه ځان ساتلو۔

درجة الحديث: اسناد منقطع، رواه مالك والشافعي عنه واخرجه البيهقي في السنن الكبرىٰ



٤- باب من لا تحل له المسألة ومن تحل له

د چا دپاره چه سوال کول جائز وی او چا دپاره چه جائز نۀ وی د هغوی بیان.

د احادیثو په رنړا کی قانون پدے باره کی دا دے چا سره د یوے ورځے په اندازه خوراك او غذا او د عورت پټولو په اندازه جامه وی نو هغه دپاره بل ته د سوال لاس اوږدل نۀ دی پکار ځکه بغیر د ضرورت او حاجت نه سوال کول حرام دی، البته که یو شخص سره د یوے ورځے په اندازه خوراك هم نۀ وی او د عورت پټولو کپړه نۀ وی نو هغه دپاره سوال کول جائز دی چه گوزاره ئے پرے روانه شی، او کله چه حاجت پوره شی نو بیا به د سوال نه عادت نۀ جوړوی.

فائده : سوال د غنی دپاره جائز نۀ دے. (۲) قوی مکتسب دپاره. (۳) هغه ښځے دپاره چه خاوند نفقه ورکوی. (٤) د علماؤ دپاره سوال کول ډیر قبیح دی لکه سفیان بن عیینه وئیلی دی.

فائده : د سوال د حرمت څلور وجې دی او پدے کی څلور ضرورنه دی : (۱) پدے کی غیر الله ته ځان ذلیله کول دی. (۲) په مسئول عنه (چا نه چه سوال کولے شی) په هغه باندے ظلم دے ځکه چه د مسلمان خفه کول دی. (۳) په خپل نفس باندے ظلم دے. بنده په ځان باندے د گناه بوج اچوی. (٤) پدے کی د شرك شائبه ده ځکه چه د مخلوق نه حاجتونه غوښتل دی او غیر الله ته خپل احتیاج پیش کول دی، اگرکه دا حقیقی شرك نۀ دے.

الفصل الأول

- 1837(1) عَنْ قَبِيْصَةَ بْنِ مُخَارِقٍ الْهِلَالِيِّ قَالَ : تَحَمَّلْتُ حَمَالَةً فَأَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ أَسْأَلُهُ فِيْهَا. فَقَالَ: " أَقِمْ حَتّٰى تَأْتِيَنَا الصَّدَقَةُ فَنَأْمُرَ لَكَ بِهَا". قَالَ ثُمَّ قَالَ : " يَا قَبِيْصَةُ إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لَا تَحِلُّ إِلَّا لِأَحَدِ ثَلَاثَةٍ رَجُلٌ تَحَمَّلَ حَمَالَةً فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتّٰى يُصِيْبَهَا ثُمَّ يُمْسِكُ وَرَجُلٌ أَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ اجْتَاحَتْ مَالَهُ فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتّٰى يُصِيْبَ

قِوَامًا مِنْ عَيْشٍ أَوْ قَالَ سِدَادًا مِنْ عَيْشٍ وَرَجُلٌ أَصَابَتْهُ فَاقَةٌ حَتّٰى يَقُوْمَ ثَلَاثَةٌ مِنْ ذَوِى الْحِجٰى مِنْ قَوْمِهٖ، لَقَدْ أَصَابَتْ فُلَانًا فَاقَةٌ فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ حَتّٰى يُصِيْبَ قِوَامًا مِنْ عَيْشٍ أَوْ قَالَ سِدَادًا مِنْ عَيْشٍ فَمَا سِوَاهُنَّ مِنَ الْمَسْأَلَةِ يَا قَبِيْصَةُ سُحْتٌ يَأْكُلُهَا صَاحِبُهَا سُحْتًا ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : سيدنا قبيصه بن مخارق هلالي ﷺ فرمائي : ما يو قرض په ځان باندے بار کړے وو (چه د ديت په وجه وو) نو زۀ رسول الله ﷺ ته راغلم ما د هغه نه د هغے (د ادائيګئ) په باره کی (د څه مال) سوال وکړو نو هغه وفرمايل : (څه ورځے) اُوسيږه (ايسار شه) تردے چه مونږ ته زکاة راشي نو ستا دپاره به په هغے باندے حکم وکړو. قبيصه وائي : بيا ئے ما ته وفرمايل: اے قبيصه ! (خبر شه) يقيناً سوال حلال نۀ دے مګر يو د درے کسانو دپاره (حلال دے) (١) يو هغه سړے چه په ځان باندے کوم قرض رابار کړی (د چا ضمانت واخلی) نو دۀ له سوال حلال دے (دومره اندازے پورے) تردے چه هغه حاصل کړی (قرض ادا کړی) او ددے نه روستو بيا بند شی، (٢) دويم هغه شخص چه هغه ته څه آفت او مصيبت (مثلًا قحط او سيلاب وغيره) ورسيږی چه د هغه ټول مال هلاك او ضائع کړی نو دۀ دپاره دومره سوال جائز دے چه دے حاصل کړی ضرورت د خپل ژوند (يعنی دومره غذا او لباس وی چه د ژوند ضرورت ئے پرے پوره شی) يا ئے وفرمايل : (چه دومره وغواړی چه رسيدل وکړی) برابروالی د خپل ژوند ته. (يعنی محتاجی ئے ختمه شی او د ژوند دپاره ئے مددګار ثابت شی)

(٣) دريم هغه شخص چه هغه ته فاقه (فقر) رسيدلے وی (نو ده له سوال په هغه وخت جائز دے چه) ددۀ د قوم نه درے کسان عقلمند راپاځيږی (او دا ګواهی وکړی چه فلانی ته فقر وفاقه رسيدلے نو دۀ دپاره سوال حلال دے تردے پورے چه دا حاصل کړی ضرورت د خپل ژوند يا ئے وفرمايل: برابر والے د خپل ژوند او هرچه ددے نه سوئ کوم سوالونه دی اے قبيصه ! نو هغه حرام دی چه د هغے صاحب (يعنی سوال کونکے) هغه حرام خوری. (مسلم)

تعارف : قبيصه بن مخارق بن عبد الله ابوبشر الهلالی ﷺ صحابی دے او نبی ﷺ ته په وفد کی راغلے دے او د هغه نه ئے احاديث هم نقل کړی او په بصره کی وسيدلے دے.

تشریح : حَمَالَةً : په فتحه د حاء، حماله هغه مال ته وائی چه انسان ئې د بل د طرف نه په ځان باندے پورته کړی دیت وی یا تاوان او قرض وی چه د دوه ډلو ترمینځ د جنګ ختمولو دپاره ئې پورته کړے وی، مثلاً یو تن د مړو دیتونه په ځان راواړوی او پدے طریقه د خلکو ترمینځ جوړ جاړے راولی۔ او دا حماله په شان د کفالت او ضمانت ده۔

"أَقِمْ : سندیؒ وائی : أَیْ کُنْ فِی الْمَدِیْنَةِ مُقِیْمًا ۔ یعنی په مدینه کی اُوسیږه، بعض وائی : دا امر دے د اقامة نه په معنیٰ د اُثْبُتْ وَاصْبِرْ سره یعنی کلك شه، پاتے شه۔

دا حدیث بعض علماؤ دلیل ګرځولے دے چه د زکاة د خپل کلی والو نه بل کلی والا ته نقل کول جائز دی عند الضرورة۔

جَائِحَةٌ : آسمانی آفت چه میوے او مالونه ورسره هلاك کړی لکه غرقیدل، سوزیدل، ګلئ وغیره راشی۔ دا د جَاحَهُ یَجُوْحُهُ نه دے د بیخ نه یو شے ویستلو ته وئیلے شی۔

قِوَامًا : مَا یَقُوْمُ بِهِ الشَّیْءُ. یَعْنِیْ یَقُوْمُ بِهٖ حَاجَتُهٗ ۔ چه حاجت ئې پرے پوره کړی۔ او همدا معنیٰ د سِداد هم ده۔ سداد په کسره د سین سره دے۔ مَا تُسَدُّ بِهِ الْحَاجَةُ ۔ چه حاجت په هغے بندیږی۔

دا حدیث دلیل دے چه صدقه به تر هغه وخته پورے اخستل جائز وی چه د کفایت اندازے ته ورسیږی یعنی د ژوند حاجت پرے پوره کړی او ضرورت پرے دفع کړی۔

فَاقَةٌ : یعنی یو انسان ته حاجت او لوږه رسیدلے ده مثلاً اول کی غنی مالداره وی بیا غریب شی او هغه ته فاقه ورسیږی او حالت ئې خلکو ته نۀ وی معلوم نو دۀ له به سوال هله جائز وی چه درے کسان دده د قوم نه چه عقل مند وی ګواهی ورکړی چه آو، دے شخص له سوال جائز دے دۀ ته دا مصیبت رسیدلے دے۔ درے کسان به وی ځکه چه دوه کسانو کیدے شی صلاح مشوره کړی وی چه تۀ سوال کوه بیا به ئې دواړه نیمائی کوو، دویم عقلمند به وی ځکه که بو دریان ګواهی ورکړی هغے له اعتبار نۀ وی او د هغه د قوم نه به وی ځکه چه پردے سړی څوك څه پیژنی چه د هغه څه حالت دے؟۔ علامه سندیؒ وائی : دا کنایه ده چه دغه فاقه به مُحققه وی او هسے خیالی به نۀ وی۔

ددے او د مخکنی سړی فرق دا دے چه اول قسم کی فاقه ښکاره ده نو خلکو له پکار

دی چه ددے سوال کونکی نه د دلیل او د گواه مطالبه ونکړی ځکه چه د هغه مصیبت ښکاره دے، سیلاب او گلئ وغیره چه د چا په مال راشی، غالباً هر چا ته پته لګی۔ او په دویم قسم کی د خلکو نه پته ده مثلاً یو سړی دپاره مِلك ثابت وی او مالداری ئے ښکاره وی او بیا دعوه وکړی چه ما ته آفت او مصیبت رارسیدلے دے غلهٔ پرے راغلی، یا ورسره چا په امانت کی خیانت کړیدے یا ئے په کاروبار کی تاوان کړیدے چه ددے عامو خلکو ته پته نهٔ لګی نو که دے دعوه کوی نو د خلکو ددهٔ په باره کی شکونه پیدا کیږی نو ددهٔ د حالت د صفا کولو دپاره درے کسان ګواهان ضروری شو۔

مسئله : شریعت پدے باب کی درے ګواهان ضروری وخودل (١) دا مذهب د ابن حزمؒ، امام احمدؒ، ابن خزیمهؒ او بعض اصحاب الشافعیؒ دے، (٢) او جمهورؒ وائی دوه عادلان هم کافی دی لکه د عامو شهاداتو په شان سوئ د زنا نه، ځکه چه قرآن کی عام قانون راغلے دے چه ﴿ وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ ﴾ او دوی وئیلی دی چه دلته چه درے کسان خودلے شویدی نو دا په استحباب باندے حمل دی لیکن اول قول غوره دے ځکه دا حدیث د قرآن خلاف نهٔ دے بلکه قرآن کریم دوه ګواهان د بیع شراء په باره کی خودلی دی او نبی ﷺ پدے مقام کی درے خودلی دی دا مقام د تبیین (وضاحت) او تعریف (پیژندګلی) دے لکه په باب د زنا کی ئے څلور ضروری کړیدی۔ او دا زیادت دے په کتاب باندے په خبر واحد سره او دا بالکل جائز دے۔

فائده : ددے حدیث نه ظاهر دا معلومیږی چه سوال صرف مذکوره درے کسانو دپاره جائز دے لیکن روستو روایت رازی چه سوال د بادشاه نه جائز دے۔ او د صالحینو نه جائز دے عند الضرورة نو پدے حدیث کی حصر مقصود نهٔ دے۔

- 1838(2) وَعَنْ أَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ سَأَلَ النَّاسَ أَمْوَالَهُمْ تَكَثُّرًا فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا، فَلْيَسْتَقِلَّ أَوْ لِيَسْتَكْثِرْ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه د خلکو نه د هغوی مالونه ددے دپاره وغوښتل چه (ځان له) مال زیات کړی نو یقیناً دا د اُور سکروټے غواړی نو ددهٔ خوښه ده کم غواړی او که زیات غواړی۔ (مسلمؒ)

تشریح : أَمْوَالَهُمْ : دا بدل اشتمال دے او بدل مقصود بالذات وی او کلام ددهٔ دپاره

چلولے شوے وی نو ددے سائل د سوال قصد هم نفس مال وی او هغه زیاتول وی نۀ دفع د حاجت، نو دا قسم مال کنز وی نو په هغے باندے دا خبره مرتبه کیږی چه (فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا) دا ځان دپاره سکروټے غواړی۔

تَكَثُّرًا : دا مفعول له دے یعنی د مال د ډیرولو دپاره سوال کوی نۀ د احتیاج دپاره۔ یا د تکثراً معنیٰ ده: ډیر غواړی او په طریقه د مبالغه سره سوال کوی۔

فَلْيَسْتَقِلَّ : اَیْ فَلْيَطْلُبِ الْقَلِيلَ اَوْ لِيَطْلُبِ الْكَثِيرَ۔ یعنی کم دِ ے وغواړی یا دے ډیر وغواړی۔ او مطلب دا دے چه دۀ ته به په لږ او ډیر دواړو سره سزا ورکولے شی۔ (قرطبیؒ، نوویؒ)

- 1839(3) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ :" مَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَسْأَلُ النَّاسَ حَتّٰى يَأْتِيَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَيْسَ فِيْ وَجْهِهٖ مُزْعَةُ لَحْمٍ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل : همیشه به وی یو سړے چه د خلکو نه به سوالونه کوی تردے چه د قیامت په ورځ به راشی چه ددۀ په مخ به د غوښے ټکره (بوټیء) نۀ وی (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : مُزْعَةُ لَحْمٍ : اَیْ قِطْعَةٌ۔ ټکره د غوښے/ بوټیۍ۔

امام خطابیؒ وائی : په مخ به ئے غوښه نۀ وی ددے ډیر مطلبونه دی (۱) یو دا چه دا به قیامت کی راشی ذلیله او پریوتے به وی هیڅ مرتبه او قدر به ئے نۀ وی لکه خلك وائی د فلانی په خلکو کی مخ دے یعنی مرتبے والا دے۔(۲) دویم دۀ په دنیا کی خپل مخ خلکو ته ذلیله کړے وو نو جزا من جنس العمل وی الله تعالیٰ د هغے په شان سزا ورکوی چه په قیامت کی به ئے د مخ نه غوښه پریوتی وی۔

(۳) دریم دا چه قیامت کی به داسے راپورته شی چه مخ به ئے تول هډوکے وی نو دا به ددۀ علامه او شعار وی پدے سره به پیژندلے شی چه دا په دنیا کی سوال کرو۔

لیکن حافظ ابن حجرؒ فرمائی : چه اول مطلب حدیث د خپل ظاهر نه اړول دی۔ او مهلبؒ وئیلی دی چه دا حدیث په خپل ظاهر باندے دے او پدے کی راز دا دے چه د قیامت په ورځ به نمر رانژدے شی نو کله چه دے راشی او په مخ ئے غوښه نۀ وی نو د بل په نسبت به دۀ ته نمر ډیر تکلیف رسوی او مراد ددے نه هغه څوك دے چه سوال د

ډیر والی دپاره کوی او دے خپله غنی وی، زکاة ورله حلال نهٔ وی او که څوك سوال کوی او دے محتاج وی نو بیا ورله مباح دے نو دهٔ له به عذاب نهٔ وی۔ انتهیٰ۔
او دغه شان فهم د امام بخاریؒ هم دے چه دا وعید د هغه چا په باره کی دے چه سوالونه د مال د ډیرولو دپاره کوی او حاجتمند نهٔ وی۔
ظاهر د حدیث دا دے چه پدے کی د ډیرو سوالونو کولو بدی ذکر ده او هر سوال به ددهٔ د مخ نه د غوښے تکړه غورزوی تردے چه ددهٔ په مخ به هیڅ شے پاتے نشی لکه دا معلومیږی د (لایزال) لفظ نه۔

-1840 (4) وَعَنْ مُعَاوِيَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " لَا تُلْحِفُوْا فِي الْمَسْأَلَةِ فَوَاللهِ لَا يَسْأَلُنِيْ أَحَدٌ مِنْكُمْ شَيْئًا فَتُخْرِجُ لَهُ مَسْأَلَتُهُ مِنِّيْ شَيْئًا وَأَنَا لَهُ كَارِهٌ فَيُبَارَكُ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتُهُ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او سیدنا معاویه ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی : تاسو په سوال کولو کی مبالغه (او زیادت) مهٔ کوئ، قسم په الله نهٔ غواړی زما نه یو تن ستاسو یو شے چه هغه له د هغه سوال کول زما نه څه شے راوباسی او زهٔ هغه بد گنړم پس چه برکت دے واچولے شی هغه دپاره په هغه مال کی چه زهٔ ئے ورکوم۔ (یعنی پدے سوال سره چه دهٔ زما نه څه شے واخستو په هغے کی به هیڅکله ددهٔ دپاره برکت وانهٔ چولے شی) (مسلمؒ)

تشریح : لَا تُلْحِفُوْا : د الحاف نه دے په معنیٰ د مبالغه او ډیروالے کولو سره دے۔
شَيْئًا : یعنی که څوك د چا نه هر شے غواړی او د هغه زړه نهٔ وی نو دا ورله حلال نهٔ دے او دا شے عام دے وخت وی که مال وی که کتاب وی، د چا نه به وخت نهٔ اخلے چه د هغه پرے رضا نهٔ وی دغه شان مال، کتاب، جامے څپلئ چپرے وغیره۔
فَتُخْرِجُ لَهُ : په یو روایت کی دی چه صحابه کرامؓ وفرمایل چه یارسول الله ! ولے ئے ورکوے؟ نبی ﷺ وفرمایل چه زهٔ بخیل نهٔ یم۔
فَيُبَارَكُ : دا یا منصوب دے په معنیٰ د جمعیت سره دے یعنی زما ورکړه په حالت د بد گنړلو کی د برکت سره نهٔ جمع کیږی۔ (طیبیؒ) او ددے راز دا دے چه د پاکو نفسونو صورت ذهنی کی چه کوم کراهة یا رضا وی دا په منزله د مستجابی (قبول شوے

دعا دے۔ (حجة الله البالغه)۔

فائده : امام نووی رحمه الله فرمائی : څوك چه په کسب باندے قادر وی د هغه دپاره په سوال کولو کی اختلاف دے ډیر صحیح قول دا دے چه دا حرام دے د وجے د ظاهرد احادیثو نه ❁ او دویم قول دا دے چه حلال دے مگر بیا هم مکروه دے (ښه کار نهٔ دے) او د حلالوالی دپاره ئے درے شرطونو دی (١) یو دا چه ځان به نهٔ ذلیله کوی (٢) دویم دا چه په سوال کی به مبالغه نهٔ کوی۔ (٣) دریم دا چه د چا نه سوال کوی هغه به نهٔ تنکوی۔ که پدے شرطونو کی یو شرط نهٔ وی نو دغه سوال به حرام وی بالاتفاق۔

- 1841(5) وَعَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " لَأَنْ يَّأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهٗ فَيَأْتِيَ بِحُزْمَةِ حَطَبٍ عَلٰى ظَهْرِهٖ فَيَبِيْعَهَا فَيَكُفَّ اللهُ بِهَا وَجْهَهٗ خَيْرٌ لَّهٗ مِنْ أَنْ يَّسْأَلَ النَّاسَ أَعْطَوْهُ أَوْ مَنَعُوْهُ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او سیدنا زبیر بن عوام ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: خامخا که ستاسو نه یو تن خپله رسئ راواخلی او په خپله شا باندے د لرگو پیتے (گیدے) راوړی او خرڅ ئے کړی او د هغے په وجه الله تعالیٰ د هغه مخ (د ذلت نه) وساتی نو دا ددهٔ دپاره غوره ده ددے نه چه د خلکو نه سوالونه وکړی یا به ئے هغوی ورکړی یا به ئے منع کړی۔ (بخاریؒ)

تشریح : بِحُزْمَةِ : دا هغه پیتی (گیدی) ته وائی چه د دوارو متو او سینے ترمینځ پورته کولے شی او د لرگو په هغه پیتی کی هم استعمالیږی چه په شا باندے راپورته کولے شی۔

فَيَبِيْعَهَا : دا منصوب دے په تقدیر د اَنْ سره اَیْ فَاَنْ يَّبِيْعَهَا۔

خَيْرٌ لَّهٗ : دلته خیر د تفضیل په معنیٰ سره نهٔ دے ځکه چه څوك په کسب باندے قادر وی د هغه په سوال کی هیڅ خیر نشته او د شوافعو په نیز ډیره صحیح خبره دا ده چه د داسے سړی سوال حرام دے۔ سندیؒ په حاشیه د مسلم کی وائی : د خیر معنیٰ دا ده چه که په سوال کی خیریت فرض کړے شی نو دا کار به د هغے نه ډیر غوره وی ورنه دا معلومه ده چه په سوال کی خیریت نشته۔ او په حاشیه د ابن ماجه کی وائی : دا کلام په شان د ﴿ وَأَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ دے او مطلب دا دے چه انسان ته د پیتی راوړلو

په وجه كوم دنياوي ستوماني رسي دا ډيره غوره ده د هغې نه چه د سوال په وجه ورته د آخرت ستوماني رسي نو د ضرورت په وخت کې اول غوره کول او د دويم پريښودل پکار دي.

نو پدې حديث کې تيزي ده پدې خبره چه ځان د سوال نه بچ وساتئ، او فضيلت ددې خبرې دې چه په خپل لاس سره رزق طلب کړئ او د سوال د ذلت او د غوښتلې شوي انسان د تنګولو نه ځان بچ کړئ.

فوائد : (۱) د غرونو لرګي راوړل مباح دي. (۲) په کاروکسب کې تواضع وي. (۳) په کار کې برکت او خير الله تعالىٰ اچوي.

- 1842(6) وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ : سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَأَعْطَانِيْ ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِيْ ثُمَّ قَالَ لِيْ :"يَا حَكِيمُ إِنَّ هٰذَا الْمَالَ خَضِرٌ حُلْوٌ فَمَنْ أَخَذَهُ بِسَخَاوَةِ نَفْسٍ بُوْرِكَ لَهُ فِيهِ وَمَنْ أَخَذَهُ بِإِشْرَافِ نَفْسٍ لَمْ يُبَارَكْ لَهُ فِيهِ.وَكَانَ كَالَّذِيْ يَأْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلىٰ ". قَالَ حَكِيمٌ : فَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَرْزَأُ أَحَدًا بَعْدَكَ شَيْئًا حَتّٰى أُفَارِقَ الدُّنْيَا " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سيدنا حكيم بن حزام ﷺ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه (څه شے) وغوښتو، نو ما ته ئې راکړل بيا ترې ما وغوښتو بيائې راکړل بيائې راته وفرمايل : اے حکيمه ! يقيناً دا مال شين او خوږ دے (يعني په سترګو ښه او زړه ته خوند ورکوي) نو چا چه دا د خپل نفس په سخاوت (يعني بې پرواهئ) سره واخستو نو دهٔ دپاره به په دے کې برکت واچولے شي او چا چه دا د خپل نفس په راپورته کولو (يعني حرص او طمع او لالچ) سره واخستو نو دهٔ له به په هغې کې برکت وانهٔ چولے شي. او وي به په شان د هغه شخص چه خوراك کوي او مړيږي نهٔ، او پورته لاس غوره دے د ښکته لاس نه. حکيم وائي : ما ووېل اے د الله رسوله ! قسم په هغه ذات چه تهٔ ئې په رشتيا سره راليږلے ئې زهٔ به ستا نه روستو د هيچا نه څه شے نهٔ کموم تردے چه د دنيا نه جدا (يعني مړ) شم. (بخاريّ ومسلمؒ)

تشريح : خَضِرٌ : په ضاد باندې کسره ده. يعني تازه، نرم دے چه انسان پکې پوره

رغبت او مينه لري. خُضْرَة اصل کې شينکې ته وائي او خضر ﷺ ته ئې ځکه خضر وئيلو ځکه چه ښائسته وو او مخ ئې پرقيدو يا چه به کوم ځاې کې کيناستو هغه به شين کيدو.

حُلْوٌ : يعني په نفس باندې خوږ لګي، طبع ورته مائله کيږي، بعض وائي: شين دې په سترګه ښه لګي او خوږ دې په خوله کې خوندوَر لګي. يعني لکه ځنګه چه خوږ او شين شې په خوله او سترګه باندې بد نهٔ لګي نو دغه شان د مال په جمع کولو کې هم انسان حرص کوي او دا پرې بد نهٔ لګي. او اشاره ده چه دا مال فاني کيدونکې دې لکه ځنګه چه سبزياني باقي نهٔ پاتې کيږي.

بِسَخَاوَةِ نَفْسٍ : يعني په غير د حرص او مبالغې نه يعني بغير د سوال او طمع او لالچ نه واخستو. بلکه په خپله طبع ئې ځوك ورکړي نو خير دې، پدې کې عيب نشته.

يَأْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ : يعني ځوك چه په طمع او سوال سره دا مالونه اخلي نو ددهٔ مثال به داسې وي لکه يو انسان چه خوراك کوي او مړيږي نهٔ، جوع البقر او جوع الکلب بيماري پرې لګيدلې وي ددهٔ خواهش به هيڅ کله نهٔ ختميږي او هميشه به د مال په طلب کې حيران او پريشانه وي. نو پدې حديث کې پدې خبره تيزي ده چه ځان د سوال نه سائل پکار دي او په معمولي شي باندې کوم چه ملاويږي قناعت پکار دې او که ځوك په سوال او طمع او ځان پيش کولو سره ډير مال هم حاصل کړي نو هغه دې نهٔ خوشحاليږي ځکه چه په هغې کې به ورله برکت نهٔ اچولې کيږي.

وَالْيَدُ الْعُلْيَا : ورکونکې لاس پورته دې او اخستونکې لاس ښکته دې.

لَا أَرْزَأُ : اَیْ لَا أَنْقُصُ. زهٔ به نهٔ کموم.

بَعْدَكَ : يعني روسته ددې وينا ستا نه، يا روسته ددې سوال ستا نه. نو ابوبکر صديق ﷺ به په خپل دور خلافت کې دهٔ ته تنخواه ورکوله دهٔ به نه اخستله او عمر فاروق ﷺ به ورکوله دهٔ به نهٔ اخسته او دا به ئې وئيل چه ما د رسول الله ﷺ سره لوظ کړې چه ستا نه روستو به د هيچا نه څه نهٔ اخلم، اګرکه دا زما حق دې خو نهٔ ئې اخلم. عمر فاروق ﷺ به په دهٔ باندې خلك ګواه کول چه زهٔ دهٔ ته خپله تنخواه ورکوم ليکن دا ئې نهٔ اخلي.

نبی ﷺ د خپلو ملګرو داسې کمالي تربيت کړې وو، په اوچت همت ئې اموخته کړي وو.

فوائد : (١) په حديث کې استعارات دي۔ (٢) سوال درې قسمه دې (١) سوال بالقال۔ چه په خوله سره ئې وغواړي۔ (٢) سوال بالحال۔ چه حال داسې جوړ کړي لکه سوال کونکې۔ (٣) سوال بالچال۔ يعني په مزل کولو۔ په (اشراف نفس) کې دې ته اشاره ده۔ (٣) علو الهمة پکار ده۔ (٤) د خير په کارونو کولو باندې مضبوط عزم او د شر د کارونو نه په ځان ساتلو پوره عزم ضروري دې۔

- 1843(7) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَذْكُرُ الصَّدَقَةَ وَالتَّعَفُّفَ عَنِ الْمَسْأَلَةِ : " اَلْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلٰى وَالْيَدُ الْعُلْيَا هِيَ الْمُنْفِقَةُ وَالْيَدُ السُّفْلٰى هِيَ السَّائِلَةُ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سيدنا عبد الله بن عمر رضى الله عنهما فرمائي: چه رسول الله ﷺ په هغه موقعه باندې چه هغه په منبر باندې وو او د صدقې ذکر ئې کولو او د سوال نه د بچ کيدو په باره کې ئې خطبه وئيله دا ارشاد وفرمايلو : پورته لاس د لاندينی لاس نه بهتر دې او پورته لاس خرچ کونکې او ښکته لاس سوال کونکې (لاس) دې۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ : ددې نه معلوميږي چه رسول الله ﷺ به په منبر باندې هر قسمه ديني مسئله بيانوله او په دې کې تربيت د خپلو ملګرو دې۔

"اَلْيَدُ الْعُلْيَا : امام نوويؒ وائي چه د پورته والي نه د فضيلت او شرافت او د ثواب حاصلولو پورته والې مراد دې۔ علامه باجيؒ وائي : يعني اُوچت لاس په دنيا او آخرت کې اوچتې مرتبې او شان والا دې۔

هِيَ الْمُنْفِقَةُ : دا ادراج د ابن عمرؓ د طرفنه دې يعني دا د هغه تفسير دې چه اُوچت لاس انفاق کونکې ته وائي لکه په روايت د احمدؒ کې په دې باندې تصريح شويده۔

- 1844(8) وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ : إِنَّ أُنَاسًا مِنَ الْأَنْصَارِ سَأَلُوْا رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَأَعْطَاهُمْ ثُمَّ سَأَلُوْهُ فَأَعْطَاهُمْ حَتّٰى نَفِدَ مَا عِنْدَهُ. فَقَالَ : " مَا يَكُوْنُ عِنْدِيْ مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ أَدَّخِرَهُ عَنْكُمْ وَمَنْ يَّسْتَعِفَّ يُعِفَّهُ اللهُ وَمَنْ يَّسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللهُ وَمَنْ يَّتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللهُ وَمَا

أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً هُوَ خَيْرٌ وَأَوْسَعُ مِنَ الصَّبْرِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سيدنا ابو سعيد خدري ﷺ فرمائي: يقيناً د انصارو څه كسانو د رسول الله ﷺ نه (څه څيز) وغوښتو نو هغه ورته وركړو، بيا ئې ترې وغوښتو نو هغه ورته وركړو تردې چه ختم شو هغه شے چه د نبي ﷺ سره وو، نو وې فرمايل : ما سره چه څه مال هم وي نو زۀ ئې ستاسو نه هيڅ كله نۀ ذخيره كوم (نۀ ئې ساتم) او (ياد ساتئ چه) څوك د خلكو نه د سوال كولو نه ځان ساتي الله تعالىٰ به هغه (د بدو خبرو نه) پاك ساتي. او هغه څوك چه (د خلكو نه) ځان بې پرواه (بې حاجته) ساتي (هغوى ته خپله محتاجي نۀ ښكاره كوي، او بې پروائي ښكاره كوي) نو الله تعالىٰ به ئې مالداره كړي (يعني د هغه بې حاجتي به باقي وساتي، الله تعالىٰ به ئې بې پرواه كړي او زړه به ئې غني وګرځوي) او هغه څوك چه (په معمولي شي باندې) صبر كوي (او د خلكو نه سوال نۀ كوي) نو الله تعالىٰ به ئې صبرناك وګرځوي (يعني قناعت او صبر به ورته آسان كړي) (يا معنىٰ ده : څوك چه د الله تعالىٰ نه د صبر توفيق طلب كوي نو الله تعالىٰ به هغه ته صبر آسان كړي)، او (ياد ساتئ چه) د صبر نه زيات بهتر او فراخه بل هيڅ شے يو تن ته نۀ دې وركړې شوې. (يعني د الله تعالىٰ په ټولو عطايا او بخششونو كې د صبر نه زياته بهتره عطيه نشته) (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : د انصارو څه كسانو د نبي ﷺ نه د مال سوال وكړو ددې كسانو نومونه نۀ دي ذكر، مګر حافظ وائي چه روايت د نسائيؒ پدې دلالت كوي چه راوي ددې حديث ابوسعيد خدريؓ ته خطاب شويدې ځكه چه د هغه په روايت كې داسې راځي چه زۀ مور په يو سخت ضرورت كې نبي ﷺ ته وليږلم چه څه ترې وغوارم نو زۀ راغلم كيناستم نو نبي ﷺ ما ته مخامخ شو او وې ويل : (مَنِ اسْتَغْنَىٰ أَغْنَاهُ اللهُ) (چا چه ځان مستغني كړو الله به ئې بې پرواه كړي). او په هغه حديث كې ورسره دا الفاظ هم دي : او چا چه سوال وكړو او د هغه سره يو اوقيه (څلوېښت درهم) وي نو دۀ الحاف (يعني په مبالغه سره سوال) وكړو نو ما وويل چه زما اُوښه (ياقوته) د يو اُوقيه نه ډيره غوره ده نو راواپس شوم او سوال مې ونكړو. ليكن ظاهر دا ده چه هغه جدا واقعه ده او دلته انصار جمع راغلي دي، دا بيله واقعه ده.

فَلَنْ أَدَّخِرَهُ : يعني ما سره چه څه وي زۀ هغه ستاسو نه نۀ بندوم او نۀ ئې ذخيره

کوم۔
وَمَنْ يَّسْتَغْنِ : يعنی څان مستغنی کړی په الله سره د غير الله نه، يا بې پرواهی راښکاره کړی په استغناء سره د مالونو د خلکو نه او په څان ساتلو د سوال نه تردې چه ناخبره انسان پرې د مالداره ګمان وکړی۔
يُغْنِهِ اللّٰهُ : يعنی الله به ئې زړه غنی کړی او په حديث کی دی چه اصلی مالداری د زړه ده۔
وَمَنْ يَّتَصَبَّرْ : يعنی په تکليف سره صبر کوی، د صبر مشقتونه برداشت کوی، د الله نه د صبر توفيق طلب کوی۔ يا څان ته په صبر حکم کوی۔
يُصَبِّرْهُ اللّٰهُ : يعنی الله به ئې صبرناك جوړ کړی او صبر به ورته آسان کړی څکه چه د صبر د حاصلولو طريقه دا ده چه يو شی کی به صبر وکړی بيا به بل کی نو په آرام آرام سره به صابر جوړ شی۔
وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ " : صبر ته ئې ډير فراخه وويلو څکه چه پدې سره لاړې، اعمال او مقاصد فراخه کيږی، او صبر باندې هر شې آسانيږی او د هر عبادت بنياد دې، د هرې ګناه نه د بچاؤ بنياد دې، دارنګه د عزت سبب دې۔ او مقام د صبر د ټولو مقاماتو نه اعلیٰ دې څکه چه دا غوره صفاتو او حالاتو لره جامع دې۔
فوائد الحديث : ١- حديث نه معلومه شوه چه سائل ته دوه يا درې څل ورکړه ذکر ده او بيا سائل ته عذر پيش کول او په سوال نۀ کولو باندې تيزی ورکول ذکر دی۔ نو دا قسم ترغيب سائلانو ته پکار دې۔
٢- ددې حديث نه معلومه شوه چه د حاجت په وخت کی سوال کول جائز دی اګرکه غوره دا ده چه انسان صبر وکړی تردې چه الله ورته بغير د سوال نه رزق ورکړی۔
٣- او پدې کی تيزی ده په صبر کولو په تنګ ژوند تيرولو۔ ٤- او صبر د ټولو نه غوره عطيه ده څکه چه ددې بدله او ثواب بې اندازې او لا محدود دې۔
٥- د رسول الله ﷺ سخا او جود او فراخه لاس ترې معلوم شو۔

- 1845(9) وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ :كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُعْطِينِي الْعَطَاءَ فَأَقُولُ : أَعْطِهِ أَفْقَرَ إِلَيْهِ مِنِّيْ. فَقَالَ : "خُذْهُ فَتَمَوَّلْهُ وَتَصَدَّقْ بِهِ فَمَا جَاءَكَ مِنْ هٰذَا الْمَالِ وَأَنْتَ غَيْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَائِلٍ فَخُذْهُ، وَمَالَا فَلَا تُتْبِعْهُ نَفْسَكَ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او عمر بن خطاب ﷺ فرمائي: نبي كريم ﷺ به ما ته تحفه راكوله (يعني د زكاة د وصول كولو اجرت) نو ما به ورته ويل: دا وركړه هغه چا ته چه ديے ته زما نه زيات محتاج دے۔ نو نبي ﷺ به (په جواب كي) فرمايل: دا واخله او په خپل مال كي ئے شامل كړه او (په نورو خلكو) پديے سره صدقه وكړه، او هغه شے چه تا ته ددیے مال نه راشي پداسے حال كي چه ته طمع او حرص كونكے نهٔ ئے او نهٔ سوال كونكے ئے نو دا قبلوه او كوم شے چه (بغير د طمع او حرص نه) نهٔ راځي نو د هغے پسے ځان مهٔ وريسے كوه۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح: اَلْعَطَاءَ: عمر فاروق ﷺ ته نبي ﷺ دا عطيه ولے وركوله؟ نو بعض علماؤ وئيلي دي چه دا به په هغه وخت كي وه چه نبي ﷺ به دا په صدقه راتولو باندے مقرر كړو لكه دا په حديث د ابن الساعديؓ كي روستو راروان دے۔ نو دا د هغے بدله وه۔ او دا بادشاه غير فقير ته هم وركولے شي پدے وجه نبي ﷺ عمر فاروق ته وويل چه دا واخله او ځان لـه ئے وساته او صدقه ترے كوه كله چه ورته عمر فاروق ﷺ وويل چه زما نه ډير حاجتمند ته ئے وركړه۔

فَتَمَوَّلْهُ: يعني خپل مال ئے وګرځوه او په خپل ملكيت او مال كي ئے داخل كړه كه تهٔ ورته محتاج ئے يا ئے صدقه كړه په ډير فقير باندے كه ستا نه زيات وي۔

او ددے نه دا فائده معلوميږي چه كه يو مالداره شخص د چا نه مال واخلي او په خپل ملكيت كي ئے داخل كړي او بيا ئے خپله په فقيرانو تقسيم كړي نو دا به ډيره غوره وي ددے نه چه وركونكي ته ووائي چه زما نه ډير فقيرانو ته ئے وركړه، ځكه چه نفس په مال باندے بخل كوي نو كله چه د انسان لاس ته راشي او هغه ئے صدقه كړي نو پدے كي ددهٔ د نفس نه د شح او بخل بد صفت وځي۔

غَيْرُ مُشْرِفٍ: اشراف يو شي ته ځان پيش كول او په هغے باندے حرص كول او ځان ورته پورته پورته كول، په يو شي باندے ځان وربنكاره كول او اوږدولو ته وئيلے شي۔ يعني په داسے حال كي چه تهٔ طمع نهٔ لرے او كورے ورته نهٔ۔

او د امام احمدؒ نه د اشراف يو صورت داسے نقل دے چه يو سړے ځان سره ووائي چه فلاني به ما ته دومره مالونه راوليږي۔ بعض وائي اشراف دیته وائي چه كله ورته څوك مال وركړي نو بيرته واپس كول ورته ډير ګران تماميږي۔

فَخُذْهُ : يعني هغه مال اخله او مهٔ ئې رد كوه، خو دا په هغه وخت كې چه شي حلال وي او كه شك ئې پكې پيدا شو نو بيا احتياط دا دے چه واپس ئې كړي او دا ورع ده اگر كه په اعتبار د اصل سره ئې اخستل جائز دي۔

وَمَالَا : يعني هغه مال چه تا ته پدې صفت سره رانشي او ستا نفس ورته ميلان كوي نو خپل نفس وريسے مهٔ روانه وه بلكه هغه پريده،

پدے كې اشاره ده چه دارومدار د اشراف النفس دا دے چه ستا نفس د مال پورے متعلق نهٔ شي او زړه درلـه ونهٔ نيسي او هرچه اخستل او نهٔ اخستل يا بيرته واپس كول دي نو دا جدا شے دے۔ (سنديؒ، مرعاة)

فوائد الحديث : ١- خليفه دپاره دا جائز دي چه بعض رعيت ته څه وركړي كله چه پدے كې فائده ويني اگركه غير د هغه نه ډير محتاج وي۔ ٢- د بادشاه او خليفه عطيه رد كول ادب نهٔ دے خاصكر چه كله د رسول الله ﷺ د طرفنه وي ځكه چه الله فرمائي : ﴿وَمَا اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ﴾ (تاسو ته چه رسول څه دركوي دا واخلئ)

٣- پدے كې د عمر فاروق ؓ مرتبه او فضيلت، د هغه زهد او ايثار ذكر شو۔

٤- يو تن په يو مسجد كې امام يا مدرس دے او خلك ورته خپله څه مال وركوي چه دهٔ ورسره شرط نهٔ وي لګولے نو د هغے اخستل ورله حلال دي۔

الفصل الثاني

- 1846 (10) عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " اَلْمَسَائِلُ كُدُوْحٌ يَكْدَحُ بِهَا الرَّجُلُ وَجْهَهٗ فَمَنْ شَاءَ أَبْقٰى عَلٰى وَجْهِهٖ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهٗ إِلَّا أَنْ يَّسْأَلَ الرَّجُلَ ذَا سُلْطَانٍ أَوْ فِيْ أَمْرٍ لَا يَجِدُ مِنْهُ بُدًّا". رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : سيدنا سمره بن جندب ؓ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي : (د خلكو نه) سوالونه كول زخمونه دي چه ددے په ذريعه سره سړے خپل مخ زخمي كوي (پدے طريقه چه بل چا ته لاس اوږدول خپل عزت د خاورو سره يو ځاى كول دي چه دا د مخ د زخمي كولو سره برابر دي) نو د چا چه خوښه وي نو په خپل مخ باندے دِے رحم وكړي (يا عزت دے پرے باقي پريدي) او د چا چه خوښه وي (په خپل مخ دے) دغه زخمونه پريدي، آؤ (كه سوال كول وي نو بيا) كه سړے د بادشاه نه سوال وكړي يا په داسے كار

کې سوال وکړي چه د هغې نه خلاصے نۀ مومي (او واقعي ضرورت او مجبوري وي نو دا به جائز وي) (ابوداودؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ)

تشریح : کُدُوْحٌ : جمع د کَدْحٌ ده کرخو او زخمونو ته وائي، د پوستکي آثارو ته وائي۔ او په یو روایت کې د کَدٌّ لفظ راغلے دے، علامه غراقيؒ وائي چه جائز ده چه کَدْحٌ په معنیٰ د کَدٌّ سره وي لکه دا قول د الله تعالیٰ ﴿ اِنَّكَ کَادِحٌ ﴾ (الانشقاق: ٦)۔ چه دا کوشش او حرص ته وائي۔ یعنی سوالونه کول مشقتونه دي او سترې والے دے۔ لیکن اول معنیٰ او لفظ ډیر بهتر دے۔

أَبْقٰی : یو معنیٰ ده باقي پرېښودل۔ بله معنیٰ ئے د رحم ده۔

دے روایت نه معلومه شوه چه د بادشاه نه سوال کول جائز دي۔

علامه عراقيؒ په شرح د ترمذۍ کې وائي : په څلورو ځایونو کې د سوال کولو جواز راغلے دے (١) چه د بادشاه نه سوال کوي (٢) یو داسے کار ورته راپیښ شي چه د هغې نه خلاصے نۀ وي (٣) خپلوان ته حاجت راشي او هغه سوال کوي د خپلوان نه ځکه چه په هغه باندے نفقه کول لازم دي کله چه غریب او عاجز وي (٤) سؤال الصالحین۔ د نیکانو خلکو نه سوال (چه دا روستو په حدیث د الفراسي کې راروان دے) او د صالحین نه مراد یا خو هغه خلك دي چه مالداره نیکان وي دوی باندے چه کوم حق د فقیرانو دے هغه نۀ منع کوي او کله دوی ته مستحق د غیر مستحق نه نۀ وي معلوم او د سوال په ذریعه سره دوی محتاج وپیژني نو هغه ته ورکړه کوي او یا ددے نه مراد هغه خلك دے چه د هغوی د دعا د قبلیدو امید زیات وي، یا مراد هغه کسان دي چه د خلکو په مصالحو پسے ګرزي او د سوال په ذریعه چه کله ورته څوك مستحق ملاؤ شي نو هغوی ته حق ورکوي د هغوی په صلاحیت او نیکۍ باندے ئے اعتماد وي۔ (یعنی د صالحینو په نیکۍ اعتماد وي نو ځکه ترے سوال کوي۔ (طرح التثریب شرح التقریب ٤/٧٩، ٨٠)۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح، رواه ابوداود والترمذي والنسائي واحمد وابن حبان والبیهقي وصححه الترمذي وسکت عنه ابوداود ونقل المنذري تصحیحه واقره۔

- 1847 (11) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ سَأَلَ

النَّاسَ وَلَهُ مَا يُغْنِيهِ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَسْأَلَتُهُ فِي وَجْهِهِ خُمُوشٌ أَوْ خُدُوشٌ أَوْ كُدُوحٌ". قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا يُغْنِيهِ؟ قَالَ: "خَمْسُونَ دِرْهَمًا أَوْ قِيمَتُهَا مِنَ الذَّهَبِ". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: او سیدنا عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلي دي: څوك چه د خلكو نه سوالونه كوي په داسې حال كې چه ددهٔ سره دومره څه وي چه دے بې پرواه كړي نو د قيامت په ورځ به راشي په داسې حالت كې چه ددهٔ سوال به ددهٔ په مخ كې د لرګي په ذريعه يا د نوكونو په ذريعه يا د غاښونو په ذريعه زخمونه كړي وي، ووېل شو اے د الله رسوله! څومره مال دے چه دے مالداره (او بې پرواه) جوړوي؟ وے فرمايل: پنځوس درهم يا ددے قيمت سرهٔ زر. (ابوداودؒ، ترمذيؒ، نسائيؒ، ابن ماجهؒ، دارميؒ)

تشريح: وَلَهُ مَا يُغْنِيهِ: يعني دومره څه وي چه دے غني كوي.

هغه غِنىٰ (مالداري) چه انسان د سوال نه منع كوي او سوال ورسره جائز نهٔ وي د هغے په تعيين كې ډير روايات راغلي دي، پنځوس درهمه هم راغلي دي لكه پدے روايت كې. او د سهر او ماښام خوراك اندازه هم راغلے ده. او يو اوقيه (څلوېښت درهمه) هم راغلے ده لكه روستو رازي. او بله هغه غِنىٰ ده چه انسان باندے زكاة حراموي دا هغه ده چه انسان سره دوه سوه درهمه يا اُووه نيمے تولے سرهٔ زر وي نو دا به زكاة نهٔ اخلي بلكه خپله به د كال په تيريدو زكاة وركوي.

بيا ددے حديث په ظاهر باندے امام احمدؒ او اسحاقؒ او د هغه موافقينو دليل نيولے دے چه چا سره پنځوس درهمه وي نو هغه دپاره سوال كول حرام دي او زكاة به نهٔ اخلي. او بعض علماؤ وئيلي دي چه دا حديث په روستو حديث د اُوقيه منسوخ دے او حديث د اوقيه په (قدر ما يغديه ويعشيه) باندے منسوخ دے. ليكن صحيح خبره دا ده چه دا ټول حديثونه په خپل خپل ځاى صحيح دي او كله چه د انسان سره دغه اندازے موجودي وي نو سوال كول ورله حرام دي بيا پاتے شوه دا خبره چه دا اختلاف ولے راغلے دے؟ نو دا اختلاف د وجه د اختلاف د اشخاصو او افرادو نه دے بعض كسان لوى كور لري، ډير ماشومان ورپه غاړه وي نو د هغه پنځوس روپو باندے ايله ګوزاره

کیږي او د بعضو په څلویښتو او څینې کسان داسې وي چه وړوکې کور وي نو د هغه دپاره چه صبا او بیګاه څه ملاویږي بس سوال ورله حرام دې۔

امام شاه ولي الله الدهلوي رحمه الله فرمائي: دا اختلاف د هر چا د کسب د وجه نه دې، نو څوك چه کسب ګر وي نو هغه معذور دې په سوال کولو کې تردې چه د خپلې پیشې او کسب آلات او سامان مونده کړي او څوك چه دهقان وي تردې چه آلات د کروندې پیدا کړي او څوك تاجر وي تردې چه پنګه مونده کړي او که څوك په جهاد کې وي چه صبا او بیګاه ورته غنیمتونه ملاویږي لکه څنګه چه د رسول الله ﷺ ملګري وو نو پدې کې قانون دا دې چه یو اوقیه یا پنځوس درهمه ورسره وي سوال به نۀ کوي او که څوك داسې کسب کوي چه په بازارونو کې بوجونه وړي یا لرګي پریکوي بیا هغه خرڅوي یا ددې په شان نور کارونه کوي نو دې کې قانون دا دې چه دومره څه ورسره وي چه صبا او بیګاه ئې کیږي نو سوال به نۀ کوي والله اعلم انتهی۔(حجة الله البالغة ٢/ ٣٤،٣٥)۔

خموش او خدوش او کدوح: دا درې واړه په اصل کې مصدرونه دي لیکن هرکله چه دا نو مونه د اثارو شو نو جمع شو۔ددې درې واړو الفاظو نزدې نزدې معاني دي۔ او ظاهر دا ده چه دا د راوي شك نۀ دې بلکه درې قسمه حالاتو ته اشاره ده، ددې نه مراد په مخ کې هغه بد او ناکاره آثار دي چه دا به په قیامت کې حقیقةً راښکاره کیږي یا دا نښې دي چه پدې سره سوالګر خلك په میدان محشر کې جدا پیژندلې شي۔

بیا خموش دې ته وائي چه په نوکونو ئې وګروي او خدوش دې ته وائي چه په ډکې ئې وګروي او کدوح دې ته وائي چه په وسپنه ئې وګروي یا پرې چك ولګوي۔ بعض برعکس فرق کوي خمش هغه اثر دې چه مخ کې وي او خدش په څرمن کې وي او کدح د څرمنې دپاسه وي او دا درې واړه ئې څکه ذکر کړل چه یا به سوال لږ وي یا به درمیانه وي یا به ډیر وي۔

درجة الحدیث: الحدیث صحیح واحد اسنادیه رجاله ثقات، رواه ابوداود والترمذی والنسائی وابن ماجه والدارمی واحمد وابوعبید والحاکم والدارقطنی والبیهقی فهو ضعیف من طریق حکیم بن جبیر فانه متروك (دارقطنی) و کذاب (جوزجانی) ولکنه صحیح من طریق زبید بن الحارث الیامي عند الترمذی وابی داود والنسائی وابن ماجه

والحاكم والبيهقي وصححه الالباني۔

- 1848(12) وَعَنْ سَهْلِ بْنِ الْحَنْظَلِيَّةِ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ سَأَلَ وَعِنْدَهُ مَا يُغْنِيهِ فَإِنَّمَا يَسْتَكْثِرُ مِنَ النَّارِ ". قَالَ النُّفَيْلِيُّ– وَهُوَ أَحَدُ رُوَاتِهِ فِيْ مَوْضِعٍ آخَرَ : وَمَا الْغِنَى الَّذِىْ لَايَنْبَغِيْ مَعَهُ الْمَسْأَلَةُ ؟ قَالَ: "قَدْرُ مَا يُغَدِّيْهِ وَيُعَشِّيْهِ ". وَقَالَ فِيْ مَوْضِعٍ آخَرَ : " أَنْ يَكُوْنَ لَهُ شِبْعُ يَوْمٍ أَوْ لَيْلَةٍ وَيَوْمٍ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : او سيدنا سهل بن حنظليه ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمايلی دی : څوك چه سوال كوی پداسے حال كی چه دهٔ سره هغه اندازه مال وی چه دے پرواه كړی نو دے ځانله د اُور نه زياتوی (يعنی زيات اُور غواړی، يعنی څوك چه بغير د ضرورت او حاجت نه د خلكو نه غوښتو غوښتو سره مال جمع كوی نو گويا كه دے د دوزخ اُور جمع كوی) نُفيلیؒ چه ددے حديث يو راوی دے په بل ځای (يعنی بل روايت) كی وائی : (چه د رسول الله ﷺ نه تپوس وشو چه) څه ده هغه مالداری چه د هغے سره (يعنی د هغے په موجودگئ كی) سوال كول منع وی؟ وے فرمايل: دومره اندازه خوراك چه سهر او ښام كی ئے وخوری۔ او (نفيلیؒ) په يو بل ځای كی وئيلی دی : (چه نبی ﷺ وفرمايل) دهٔ دپاره مړخ (يا خوراك) د يوے ورځے، يا د يوے شپے او د ورځے په اندازه وی۔ (ابو داودؒ)

تعارف : سهل بن الحنظليه انصاری اوسی صحابیؓ دے او په هغه صحابه كرامؓ كی شمار دے چه د ونے لاندے ئے بيعت كړے وو او اُحد، خندق او تولو غزواتو كی شريك شويدے سوئ د بدر نه اودا يو عالم او غوره صحابی وو د خلكو نه به جدا وسيدو، ډيرو مونځونو او ذكرونو والا وو هيڅ سره به نهٔ كيناستو، شام كی وسيدلے دے او په دمشق كی د معاويه ﷺ د خلافت په ابتداء كی وفات شويدے او هيڅ اولاد ئے نشته، سعيد بن عبد العزيزؒ وائی چه ددهٔ به اولاد نهٔ كيدل نو ما ته ئے وويل كه ما دپاره په اسلام كی يو ناتمام ماشوم پيدا شوے وے دا ما ته د تولے دنيا نه غوره وه۔ حنظليه ددهٔ مور وه بعض وائی د پلار مورئے وه، بعض وائی، نيا ئے وه۔ او د پلار نوم ئے بعض ربيع ذكر كوی او بعض عبيد، او بعض عمرو او بعض وائی عقيب بن عمرو بن عدی بن زيد بن جشم بن حارثه بن الحارث بن الخزرج بن عمرو بن مالك بن الاوس دے۔

تشريح : مَوْضِعٍ آخَرَ : يعني په بل روايت كې ئې وئيلي دي۔
قَالَ : : يعني رسول الله ﷺ فرمايلي دي، نو دا متصل حديث دے۔
قَدْرُ مَا يُغَدِّيهِ وَيُعَشِّيهِ : يعني دومره اندازه چه دهٔ ته صبائي خوراك وركړي يا ماښامے وركړي۔ يعني چا سره چه ددے دوه وختونو خوراك موجود وي نو د هغه دپاره سوال جائز نهٔ دے۔ خطابيؒ وائي : ځينې علماء په ظاهر ددے حديث عمل كوي او ځينې علماء وائي چه هميشه اوقاتو كې د صبا او ماښام خوراك مونده كوي نو سوال ورله حرام دے الخ۔ مثلاً د يو بے مياشتے يا د يو كال خوراك مونده كوي۔ اوله معنىٰ غوره ده ځكه چه ظاهر د حديث همدغه دے دويمه وجه دا ده چه دلته د سوال نه په ځان ساتلو كې مبالغه مقصود ده او دا مبالغه په اوله معنىٰ كې پرته ده۔

درجة الحديث : إسناده صحيح، اخرجه ابوداود واحمد وابوعبيد والبيهقي وابن حبان وابن خزيمة۔

- 1849(13) وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِيْ أَسَدٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ سَأَلَ مِنْكُمْ وَلَهُ أُوْقِيَّةٌ أَوْ عِدْلُهَا فَقَدْ سَأَلَ إِلْحَافًا ". رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : او عطاء بن يسارؒ د بنو اسد قبيلے د يو سړي نه روايت نقل كوي هغه فرمائي چه رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چه ستاسو نه سوال وكړو او د هغه سره يو اوقيه (څلويښت درهم) وي يا ددے برابر (سرهٔ زر وغيره په قيمت كې) نو دهٔ په طريقه د الحاف (مبالغے) سره سوال وكړو۔ (مالكؒ، ابوداودؒ، نسائيؒ)

تشريح : عَنْ رَجُلٍ : دا رجل صحابيؓ دے او جهالت د صحابه كرامؓ روايت ته ضرر نهٔ رسوي۔
أُوْقِيَّةٌ : څلويښتو درهمو ته وائي، يعني د سپينو زرو روپۍ۔
أَوْ عِدْلُهَا : يعني يا ددے برابر وي په قيمت كې، علامه سنديؒ وائي : دا دليل دے چه پنځوس روپۍ په طريقه د تحديد او تعيين سره نهٔ دي ذكر شوي بلكه صرف د مثال په طور ذكر دي۔
إِلْحَافًا : مصدر مبني للفاعل دے يعني مُلْحِفًا۔ دهٔ سوال وكړو پداسے حال كې چه سختي كونكے دے په سوال كې۔ يا مفعول مطلق دے سُؤَالًا إِلْحَافًا۔ داسے سوال چه

سخت دے، الحاف دیته وائی چه د چا پورے ونښلی تردے چه هغه ئے ورله ورکړی۔ او مقصد دا دے چه چا دا قسم سوال وکړو نو دۀ د الله تعالیٰ ددے ثناء او صفت مخالفت وکړو کوم صفت چه الله تعالیٰ د نیکانو خلکو (علماء او طلباؤ) کړیدے په ﴿لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا﴾ سره۔ یعنی دا هغه خلك دی چه د خلکو نه سوالونه په طریقه د مبالغه سره نۀ کوی۔ (سورة البقره : ۲۷۳)

علی القاریؒ وائی : اِلْحَافًا اَیْ اِلْحَاحًا وَاِسْرَافًا مِنْ غَیْرِ اِضْطِرَارٍ ۔ یعنی سوال ئے وکړو په مبالغے او اسراف سره په غیر د احتیاج نه آه۔ او داسے سوال خو حرام وی نو دۀ حرام کار وکړو۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح، رواه مالك وابو داود والنسائی۔

- 1850(14) وَعَنْ حُبْشِيِّ بْنِ جُنَادَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لَا تَحِلُّ لِغَنِيٍّ وَلَا لِذِیْ مِرَّةٍ سَوِيٍّ إِلَّا لِذِیْ فَقْرٍ مُدْقِعٍ أَوْ غُرْمٍ مُفْظِعٍ وَمَنْ سَأَلَ النَّاسَ لِيُثْرِيَ بِهِ مَالَهُ : كَانَ خُمُوشًا فِي وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَرَضْفًا يَأْكُلُهُ مِنْ جَهَنَّمَ فَمَنْ شَاءَ فَلْيُقِلَّ وَمَنْ شَاءَ فَلْيُكْثِرْ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سیدنا حُبشی بن جناده رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : یقیناً سوال د مالداره دپاره حلال نۀ دے او نۀ د هغه شخص دپاره چه قوی، صحتمند (روغ بدن والا) وی مګر هغه شخص دپاره (حلال دے) چه داسے فقیر وی چه (فقر په) خاورو کی اچولے وی، یا (هغه قرضدار دپاره حلال دے چه) د دروند قرض د لاندے راغلے وی او چا چه د خلکو نه سوالونه ددے دپاره کول چه پدے سره خپل مال زیات کړی نو دا به ددۀ په مخ کی د قیامت په ورځ زخمونه وی او (دا به) ګرم کانړے وی چه دے به ئے د جهنم نه خوری، نو د چا چه خوښه وی سوال دے کم کړی او د چا چه خوښه وی زیات دے کړی۔ (ترمذیؒ)

تعارف د حُبشی بن جناده بن نصر السلولی، دا صحابیؓ دے، حجة الوداع ته حاضر شویدے او بیا په کوفه کی وسیدلے ابو الجنوب ئے کنیه ده۔ د علی رضی الله عنه سره ملګرے وو او ددۀ په فضیلت کی ئے روایتونه هم نقل کړی۔

تشریح : وَلَا لِذِیْ مِرَّةٍ سَوِيٍّ : ای ذی قوة سلیم الاعضاء۔ (قوت والا چه روغ

اندامونو والا وي)۔
مُدْقِعٍ : د دقعاء نه دے زمکے او خاورو ته وائي يعني داسے فقر چه دائے د زمکے سره پيوسته کړے وي۔
غُرْمٍ: تاوان ته وائي چه د هغے ادا کول خامخا لازم وي، په مقابله د عوض کې نهٔ وي۔
مُفْظِعٍ : اى شَنِيْعٌ ثَقِيْلٌ يعنى بد او درونډ۔ / گبراهټ كى اچونكے۔
طيبیؒ وائي ددے نه مراد دا دے چه د خپل ځان يا د اهل وعيال دپاره ئے په يو مباح كار كې قرض كړے وي۔ يا دا چه په ديت يا كفاره كې په دۀ باندے لازم شوے وي۔
خُمُوْشًا : تريو والے / بد شكل والے وي،/ زخمونه۔
وَرَضْفًا : گرم كانړى ته وائي۔
فَمَنْ شَاءَ : كې توبيخ غرض دے لكه دا قول د الله تعالىٰ : ﴿فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ﴾ (الكهف : ٢٩)
فائده : د رضفا مناسبت د سوال سره دا دے چه سائل په خوله باندے سوال كړے او په خيټه ئے پرے مره كړيده نو ځكه ورته په خوله او خيټه كې گرم كانړى اچولے شي۔
درجة الحديث: اسناده ضعيف، فيه مجالد بن سعيد عن عامر الشعبى وهو ضعيف، ضعفه يحيى بن سعيد وابن معين والدارقطني وابن سعد وقال احمد ليس بشيء، ضعفه النسائي مرة ووثقه اخرى وقال الذهبى فى حديثه لين، ومعنى الحديث ثابت من احاديث كثيرة قد مر بعضها ولكن مجالد صدوق سيء الحفظ فحديثه حسن لغيره اذا توبع)۔

- 1851(15) وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ :أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ أَتَى النَّبِيَّ ﷺ يَسْأَلُهُ فَقَالَ : " أَمَا فِي بَيْتِكَ شَيْءٌ ؟" قَالَ بَلٰى حِلْسٌ نَلْبَسُ بَعْضَهُ وَنَبْسُطُ بَعْضَهُ وَقَعْبٌ نَشْرَبُ فِيْهِ مِنَ الْمَاءِ. قَالَ : " اِئْتِنِيْ بِهِمَا "قَالَ فَأَتَاهُ بِهِمَا فَأَخَذَهُمَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِيَدِهٖ وَقَالَ : " مَنْ يَّشْتَرِيْ هٰذَيْنِ ؟ " قَالَ رَجُلٌ أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمٍ قَالَ : "مَنْ يَّزِيْدُ عَلٰى دِرْهَمٍ ؟ " مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا قَالَ رَجُلٌ أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمَيْنِ فَأَعْطَاهُمَا إِيَّاهُ وَأَخَذَ الدِّرْهَمَيْنِ فَأَعْطَاهُمَا الْأَنْصَارِيَّ وَقَالَ : " اِشْتَرِ بِأَحَدِهِمَا طَعَامًا فَانْبِذْهُ إِلٰى أَهْلِكَ وَاشْتَرِ بِالْآخَرِ قَدُوْمًا فَأْتِنِيْ بِهٖ ". فَأَتَاهُ بِهٖ فَشَدَّ فِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عُوْدًا بِيَدِهٖ ثُمَّ قَالَ لَهٗ اِذْهَبْ فَاحْتَطِبْ

وَبِعْ وَلَا أَرَيَنَّكَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا ". فَذَهَبَ الرَّجُلُ يَحْتَطِبُ وَيَبِيعُ فَجَاءَ وَقَدْ أَصَابَ عَشْرَةَ دَرَاهِمَ فَاشْتَرٰى بِبَعْضِهَا ثَوْبًا وَبِبَعْضِهَا طَعَامًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " هٰذَا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تَجِيْءَ الْمَسْأَلَةُ نُكْتَةً فِيْ وَجْهِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لَاتَصْلُحُ إِلَّا لِثَلَاثَةٍ لِذِيْ فَقْرٍ مُدْقِعٍ أَوْ لِذِيْ غُرْمٍ مُفْظِعٍ أَوْ لِذِيْ دَمٍ مُوْجِعٍ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ وَرَوَى ابْنُ مَاجَه إِلٰى قَوْلِهٖ : " يَوْمَ الْقِيَامَةِ "

ترجمه : او سیدنا انس ﷛ روایت کوی چه د انصارو نه یو سړے نبی کریم ﷺ ته تشریف راوړو چه د هغه نه ئے سوال کولو نو نبی کریم ﷺ هغه ته وویل: آیا ستا په کور کی څه شے نشته؟ هغه وویل: ولے نه، یو ټاټ دے چه مونږ د هغے بعض حصه اغوندو او بعض حصه ئے (په زمکه) خوره وو او یو پیاله ده چه په هغے کی اُوبه څکو۔ نبی ﷺ وفرمایل: هغه دواړه ما ته راوړه۔ (سړے لاړو) هغه دواړه ئے ورته راوړل نو رسول الله ﷺ هغه دواړه په خپل لاس (مبارك) کی ونیول او وے فرمایل: څوك دے چه دا دواړه واخلی؟ یو سړی وویل: زۀ ئے په یو درهم اخلم۔ نبی ﷺ وفرمایل: څوك به ئے په زیات د یو درهم باندے واخلی دوه یا درے کرته ئے دا خبره وکړه، (نو) یو سړی وویل: زۀ به دا دواړه په دوه درهمو واخلم نو نبی ﷺ هغه ته دغه دواړه ورکړل او د هغه نه ئے دوه درهمه واخستل او دواړه ئے انصاری ته ورکړل او دا ئے ورته وویل: په یو درهم طعام واخله او خپل اهل ته ئے واچوه او په بل درهم باندے تبرگے واخله او ما ته ئے راوړه (سړے لاړو) نو تبرگے ئے نبی ﷺ ته راوړو نو په هغے کی رسول الله ﷺ په خپل لاس سره یو لرگے واچولو بیا ئے (هغه ته) وفرمایل: لاړ شه لرگی راوړه او خرڅوه ئے، او زۀ تا پنځلس ورځو پورے (دلته) ونۀ وینم نو دغه سړے لاړو لرگی به ئے راوړل او (په بازارکی به ئے) خرڅول نو (پنځلس ورځے بعد) هغه ته راغے او لس روپۍ ئے حاصلے کړے وے نو په بعضو روپو سره ئے جامے واخستے او په بعضو سره ئے طعام، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دا ستا دپاره ددے نه ډیره غوره ده چه د قیامت په ورځ (ستا) سوال راشی چه ستا په مخ کی ئے داغ جوړ کړے وی، یقیناً سوال نۀ دے جائز مگر د درے کسانو دپاره، یو د هغه شخص دپاره چه فقیر وی (او فقر) د خاورو سره یو ځای کړے وی یا د هغه شخص دپاره چه دروند قرض لاندے کړے وی یا د وینے والا شخص

دپاره چه درد ورکوونکی وی (یعنی د هغه شخص دپاره چه په هغه باندے دیت واجب وی برابره ده چه دهٔ قتل کرے وی او په دهٔ باندے دیت راغلے وی یا بل چا قتل کرے وی او د هغه د دیت ذمه واری دهٔ اخستی وی مگر د هغے د ادا کولو قدرت نهٔ لری نو ددهٔ دپاره هم جائز ده چه د دیت په اندازه د چا نه د هغے سوال وکړی او هغه ادا کړی) (ابوداوٗدؒ، او ابن ماجهؒ دا روایت تر (یوم القیامة) پورے نقل کړیدے۔

تشریح : پدے حدیث کی بیع د (مَنْ یَّزِیْدُ) ذکر ده چه دے ته بولی وئیلے شی چه یو انسان په یو شی باندے بولی واچوی چه دا څوك په زیات قیمت اخلی هغه ته به ئے ورکوی نو یو پکی لس روپئ یادی کړی بل شل بیا دا ووائی چه په دیرش به ئے څوك واخلی او یو تن ووائی چه زهٔ ئے اخلم او هغه ته ئے ورکړی نو دا کار جائز دے۔ دلته ئے دا روایت ددے دپاره راوړو چه یو سړی سوال کړے نو نبی ﷺ ورته اُوچت همت وښودلو او حکم ئے ورته وکړو چه خپله مزدوری کوه، په صحت باندے روغ ئے، ستا دپاره سوال کول مناسب نهٔ دی۔

حِلْسٌ : ټاټ ته وائی، دا هغه شړئ ده چه د اُوښ په شا باندے اچولے شی د قتب (پالان لرګی) لاندے۔

وَقَعْبٌ : د لرګی نه جوړه پیاله، قابکے۔

فَانْبِذْهُ : یعنی گوزارئے کړه، وائے چوه۔

قَدُوْمًا : په فتحه د قاف سره تبرګے۔

بِیَدِهٖ : په خپل لاس مبارك سره ئے پکے لاستے واچولو دے دپاره چه په هغه احسان وکړی او برکت پکی راشی۔

لِذِیْ دَمٍ : ددے نه مراد دا دے چه په څان باندے ئے دیت پورته کړے وی چه هغه به اولیاؤ د مقتول ته ادا کوی که دے چرته دا دیت ادا نکړی نو قاتل وژلے شی او دهٔ ته د هغه په وژلی کیدو باندے درد رسیږی۔

فوائد : بیع د (من یزید) د (لَا یَبِعْ اَحَدُکُمْ عَلٰی بَیْعِ اَخِیْهِ) نه مستثنیٰ ده۔ (٢) اوچت همت طرفته ترغیب ذکر شو۔ (٣) علم او درس د نفقے د ضرورت دپاره پریخودل جائز دی لیکن دائماً علم پریخودل جائز نهٔ دی لکه زمونږ زمانه کی خلك همیشه کار کوی څان علم، عبادت ته نهٔ وزګاروی پدے حدیث کی (خمسة عشر یومًا) راغلے ده۔ یعنی د

لږ وخت دپاره ځان غائب کړه او نفقه پیدا کړه بیا راځه دین زده کوه۔

(٤) الاهم فالاهم مقدم دے۔

(٥) حقوق العباد مقدم دی په حقوق الله ځکه چه حقوق العباد تنګ دی او د بندګانو حاجت دے۔

(٦) د غرونو لرګی د ټولو مسلمانانو دپاره مباح دی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، رواه ابوداود في الزكاة واحمد والبيهقي وابن ماجه وفي سنده ابوبكر الحنفي ونقل الترمذي عن البخاري انه قال : لا يصح حديثه (التلخيص : ٢٣٧)

- 1852(16) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ أَصَابَتْهُ فَاقَةٌ فَأَنْزَلَهَا بِالنَّاسِ لَمْ تُسَدَّ فَاقَتُهُ. وَمَنْ أَنْزَلَهَا بِاللهِ أَوْشَكَ اللهُ لَهُ بِالْغِنٰى إِمَّا بِمَوْتٍ عَاجِلٍ أَوْ غِنًى آجِلٍ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمايلی دی : چا ته چه فاقه (يعنی سخت حاجت) ورسيده او دۀ هغه په خلکو باندے نازله کړه (يعنی د خلکو نه ئے سوالونه شروع کړل) نو د هغه فاقه به بنده نکړے شی۔ (همدغه شان به هميشه ضرورت مند ګرځی) او چا چه فاقه په الله باندے نازله کړه (يعنی صرف د الله نه ئے د هغے په زائله کولو کی سوال کولو نو) په جلتی سره به ورکړی الله تعالیٰ دۀ ته بی پرواهی يا په جلتی سرۀ په مرګ باندے (چه مرګ به پرے راشی نو د دنيا د مشقتونو نه به خلاص شی) يا په روستو مالداریٔ سره (يعنی لږه موده بعد به ورته مالداری ورکړی نو اطمينان کی به شی) (ابوداودؒ، ترمذیؒ)

تشريح : يعنی چا چه د الله د طرفنه راغلے مصيبت خپل په خلکو واچولو د خلکو نه د هغے دفع کول غواړی نو ددۀ فقيری او حاجت به ختم نۀ شي بلکه هميشه به پرے وی کله چه يو حاجت پوره کيږی بل مصيبت به پرے رازی چه د هغے نه به سخت وی۔ نو د حديث مقصد دا دے چه پدے کی ترغيب دے چه مصيبتونه پټ ساتل پکار دی او الله تعالیٰ ته توجه پکار ده او دا د توحيد تقاضا ده۔

أَوْشَكَ اللهُ : ای اَسرَعَ وَعَجَّلَ۔ يعنی الله به ورله په جلتیٔ سره مالداری ورکړی يا دا

چه څوك خپلوان به ئے مړ شی نو دا به ترے میراث ویسی. یا دا چه دے به الله مړ کړی نو د مال نه به بی پرواه شی، پس د مرګ نه انسان په مال څه کوی. یا به ورته په خپله نیته او وخت سره مالداری ورکړی. په موجوده نسخه د ابوداود کی (غِنًی عَاجِلٍ) لفظ دے یعنی په جلتئ سره به ورله مالداري ورکړی.

شیخ البانی رحمه الله وائی : چه پدے حدیث کی د راویانو نه دوه قسمه الفاظ نقل دی یو (موت عاجل) او دا روایت حاکم او ابوداود او احمد دے. دویم (موت آجل) دے او دا بل روایت د احمد دے. پدے کی اول لفظ ډیر غوره دے. آه.

درجة الحدیث : اسناده صحیح، رواه أبوداود والترمذی واحمد وصححه الالبانی ایضاً.

الفصل الثالث

- 1853(17) عَنِ ابْنِ الْفِرَاسِيِّ أَنَّ الْفِرَاسِيَّ قَالَ: قُلْتُ لِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ أَسْأَلُ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : " لَا وَإِنْ كُنْتَ لَابُدَّ فَسَلِ الصَّالِحِيْنَ " رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : ابن فِراسیؒ وائی چه (زما والد محترم) فراسی ﷺ وویل: چه ما رسول الله ﷺ ته وفرمایل : اے د الله رسوله ! آیا زهٔ (د خلکو نه) سوال کولے شم ؟ (یعنی ما له سوال جائز دے؟) نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: نهٔ (بلکه په هر حالت کی په الله باندے بهروسه کوه) البته که ته خامخا (سوال کوے د سخت ضرورت په وجه) نو بیا د نیکانو خلکو نه سوال کوه. (ابوداودؒ، نسائیؒ)

تشریح: ابْنِ الْفِرَاسِيِّ : دا مصری صحابیؓ دے او بعض دهٔ ته الفراسی وائی ځکه چه د بنی فراس بن مالك د خاندان نه دے او حدیث ددهٔ د مصریانو سره دے، بعض بغیر د یاء نه ذکر کوی یعنی فراس. امام بخاری رحمه الله وائی دا فِراس صحابیؓ دے.

أَسْأَلُ : یعنی آیا زهٔ د بندګانو نه سوال کولے شم؟ نبی ﷺ ورته وفرمایل : د غیر الله نه هیڅ شے مهٔ غواړه ځکه چه په سوال کی ذلت دے او که خامخا سوال کوے ځکه چه د انسان ضرورت راځی نو بیا د نیکانو خلکو نه سوال کوه ❁ یا د هغه کسانو نه چه صلاحیت او قابلیت ددے لری چه ستا حاجت پوره کړی ❁ یا غوره خلك مراد دی

ځکه چه دوی سائلین نهٔ محرومَوی او د نفس په خوشحالئ سره ورکړه کوی او د حلال مال نه ورکړه کوی ځکه د الله حدود ورته معلوم وی او د سائلینو بی عزتی نهٔ کوی، فاسقان ورته وائی معاف کړه، او دوی به ورته دعا وکړی نو هغه به قبوله شی لکه ددے معانی مخکی په حدیث د سمره بن جندب ﷺ کی ذکر شوے۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، رواه ابوداود والنسائي واحمد والبيهقي والبخاري في تاريخه (١٣٧/٤) وسكت عنه ابو داود، وفي سنده مسلم بن مخشي وبكر بن سوادة وكلاهما مجهول.

1854- (18) وَعَنِ ابْنِ السَّاعِدِيِّ أَنَّهُ قَالَ : اِسْتَعْمَلَنِيْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَلَى الصَّدَقَةِ فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنْهَا وَأَدَّيْتُهَا إِلَيْهِ أَمَرَ لِيْ بِعُمَالَةٍ فَقُلْتُ إِنَّمَا عَمِلْتُ لِلّٰهِ وَأَجْرِيْ عَلَى اللهِ فَقَالَ خُذْ مَا أُعْطِيْتَ فَإِنِّيْ قَدْ عَمِلْتُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَعَمَّلَنِيْ فَقُلْتُ مِثْلَ قَوْلِكَ فَقَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " إِذَا أُعْطِيْتَ شَيْئًا مِنْ غَيْرِ أَنْ تَسْأَلَ فَكُلْ وَتَصَدَّقْ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَأَبُوْدَاوُدَ

ترجمه: او جناب ابن ساعدیؓ وائی چه زهٔ (امیر المؤمنین) عمر بن خطاب ﷺ د زکاة په وصول کولو باندے مقرر کړم، نو هرکله چه زهٔ د هغے نه فارغ شوم او ما دغه زکاة هغه ته ادا کړو نو ما دپاره ئے په اجرت (مزدورئ راکولو) باندے حکم وکړو نو ما وویل: ما خو دا عمل د الله دپاره کړیدے او زما اجر په الله تعالیٰ باندے دے۔ نو عمر فاروق وفرمایل: زهٔ چه څه درکوم دا واخله ځکه چه (زما قصه هم دغه شان وه) ما په زمانه د رسول الله ﷺ کی (د زکاة د وصولولو) کار وکړو نو هغه ما ته مزدوری راکړه نو ما ستا د خبرے په شان خبره (هغه ته) وکړه نو ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چه زهٔ تا ته څه شے درکوم بغیر ددے نه چه ته ئے وغواړے نو (خپله ئے هم) خوره او (په بل ئے هم) صدقه کوه۔ (مسلمؒ، ابوداودؒ)

تشریح: اِبْنِ السَّاعِدِيِّ: دا عبد الله بن السعدی دے او د سعدی نوم وقدان، یا عمرو دے او وقدان ئے نیکه دے او بعض وائی نوم ئے قُدامة بن عبد شمس بن عبدِ وُدِّ بن نصر بن مالك بن حسل بن عامر بن لُؤَیِ بن غالب دے او دهٔ ته ابن السعدی وائی ځکه چه

دهٔ پلار ته په بنو سعد بن بکر بن هوازن قبیله کې تے ورکړے شوے وو، دا عبد الله بن السعدي نبي ﷺ ته په وفد کې راغلے وو او د ډیر مخکې نه ورسره ملګرے شوے وو او په اُردن کې وسیدو د نبي ﷺ او د عمر بن الخطاب رضی الله عنه نه ئے حدیث د عُماله نقل کړے دا په مدینه کې په سنه (۵۷ هـ) کې وفات دے، او بعض وائي بلکه په خلافت د عمر فاروق رضی الله عنه کې وفات دے لیکن اول قول قوي دے۔

او دلته د مشکاة په نسخو کې (ابن الساعدي) راغلے دے دغه شان روایت د لیث بن سعد د بکیر بن الاشج عن بسر بن سعید راغلے دے لیکن عمرو بن الحارث عن بکیر په مسلم کې ابن السعدي لفظ استعمال کړیدے حافظ ابن حجرؒ وائي همدا نوم محفوظ دے۔ او دا صحابي قریشي عامري مالکيؒ دے۔

اِسْتَعْمَلَنِيْ عُمَرُ : یعني زهٔ عمر عامل (ګورنر) جوړ کړم د صدقے په راټولو او جمع کولو۔

بِعُمَالَةٍ : په ضمه د عین سره یعني مزدوري د عمل۔

فَعَمَّلَنِي : دا په تشدید د میم سره دے معنیٰ ئے ده ما ته ئے د خپل عمل مزدوري راکړه۔

فَكُلْ : یعني ځان له ئے خوره او صدقه هم ترے کوه۔ یا دا چه خپله ئے خوره کله چه ورته محتاج ئے او صدقه کوه ئے کله چه درنه زیات شي۔

فوائد الحدیث : ۱- علامه شوکانيؒ فرمائي : دا حدیث دلیل دے چه عمل د ساعي سبب دے د استحقاق د اجرت او مزدورئ لکه څنګه چه د فقر او مسکنت صفت سبب د استحقاق د زکاة او صدقه دے، او هرکله چه عمل سبب شو نو د شریعت د قواعدو مطابق دا تقاضا کوي چه ددے په مقابله کې دے اجرت واخستے شي۔

۲- دارنګه دا حدیث دلیل دے چه چا یو کار د الله د رضا په نیت کړے وي هغه له د عمَل نه روستو اُجرت اخستل جائز دي۔ (نیل الاوطار ٤/ ۲٤٠)

۳- امام منذريؒ وائي چه دا حدیث دلیل دے چه اُجرت (مزدوري) اخستل په اعمالو د مسلمانانو او په دیني او دنیوي منصبونو او ولایتونو جائز دي،

علامه ابن المنذر رحمه الله فرمائي : دا حدیث د ابن السعديؓ دلیل دے چه قاضیانو ته د صدقاتو نه تنخواه ګانے ورکول جائز دي۔ امام طبريؒ فرمائي : په حدیث د عمر رضی الله عنه

کی ښکاره دلیل دے چه څوك د مسلمانانو په یو کار باندے مشغول شو نو هغه په دغه عمل سره تنخواه اخستے شی لکه والیان، قاضیان او مال فئ راوړونکی، او صدقے راټولونکی او ددے په شان نور خلك څکه چه رسول الله ﷺ عمر فاروق رضی الله عنه ته مزدوری د هغه په عمل ورکړے وه۔ او ابن المنذرؒ ذکر کړیدی چه زید بن ثابت رضی الله عنه به په قضاء باندے تنخواه اخستله او ابوعبیدؒ پدے باره کی دا دلیل وئیلے دے چه الله تعالیٰ په زکاة باندے عاملینو دپاره حق په زکاة کی وئیلے دے د وجه د پروګرام او کوشش د دوی نه په راټولو د صدقاتو کی۔ انظر المرعاة (٦/٢٧٨)۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح، اخرجه مسلم والبخاری فی الاحکام فکان ینبغی للمصنف ان یقول: رواه البخاری ومسلم والنسائی وابوداود أو یقول متفق علیه)

- 1855 (19) وَعَنْ عَلِيٍّ رضی الله عنه اَنَّهُ سَمِعَ يَوْمَ عَرَفَةَ رَجُلًا يَسْأَلُ النَّاسَ فَقَالَ: أَفِيْ هٰذَا الْيَوْمِ: وَفِيْ هٰذَا الْمَكَانِ تَسْأَلُ مِنْ غَيْرِ اللهِ؟ فَخَفَقَهُ بِالدِّرَّةِ. رَوَاهُ رَزِيْنٌ

ترجمه : او د سیدنا علی رضی الله عنه په باره کی نقل شویدی چه دهٔ د عرفے په ورځ د یو سړی نه واوریدل چه د خلکو نه ئے سوالونه کول نو وے فرمایل: آیا پدے ورځ کی او پدے (اُوچت) ځای کی تهٔ د الله نه علاوه د بل چا نه سوال کوے؟ بیائے هغه شخص په دُره سره ووهلو۔ (رزینؒ)

تشریح : یعنی داسے عزتمنه ورځ چه دعا پکی زر قبلیږی او داسے ځای چه خلك پکی د الله نه امیدونه لری او د انسان ثناء قبلیږی او تهٔ معمولی شے د غیر الله نه غواړے او ددے په حکم کی مساجد هم دی څکه چه هغه د الله د بندګئ دپاره جوړ شویدی نهٔ د سوالونو دپاره، (طیبیؒ) لیکن د حدیث د عبد الرحمن بن ابی بکرؓ نه معلومیږی چه یو سائل په مسجد کی سوال وکړو او ابوبکر صدیق رضی الله عنه ورته د ډوډئ یوه قطره ورکړه نو په مسجد کی سوال کول او ورکړه کول دواړه جائز دی نو په مساجدو کی سوال ته حرام وئیل او ورکړه مکروه وئیل ددے حدیث خلاف دی۔ لکه ددے تفصیل ددے کتاب په اول جلد کتاب العلم کی ذکر شویدے۔

فَخَفَقَهُ : دا د باب د ضرب او نصر نه دے په آرام سره وهلو ته وائی (مِخفق) پلنے توړے ته وائی او مخفقه دُرّے ته وائی چه په هغے باندے وهل کیدے شی او دغه معنیٰ

د الدرة هم ده. طيبیٰ وائی : خفق په پلن شی باندے وهلو ته وائی.
بالدِّرَّة : په كسره د دال او تشديد د راء سره دے. هغه شی ته وائی وئيلے شی چه په هغے سره وهل کیږی. (قاموس)
دلته سیدنا علی ﷺ دره په دے شخص ځکه پورته کړه چه دهٔ تربیت ئے کولو په صحیح اخلاقو او توحید باندے او د بادشاه دپاره دا کار جائز وی.
درجة الحديث: رواه رزين واخرج رزين مثله عن عمر رضى الله عنه.

- 1856(20) وَعَنْ عُمَرَ ﷺ قَالَ : تَعْلَمُنَّ أَيُّهَا النَّاسُ أَنَّ الطَّمَعَ فَقْرٌ وَأَنَّ الإِيَاسَ غِنًى وأَنَّ الْمَرْءَ إِذَا يَئِسَ عَنْ شَيْءٍ اِسْتَغْنَى عَنْهُ. رَوَاهُ رَزِيْنٌ

ترجمه : او سیدنا عمر فاروق ﷺ فرمائی: اے خلکو ! تاسو ته معلومه ده چه طمع (لالچ) فقیری ده او (د خلکو نه) نا امیدی مالداری ده او یقیناً یو سړے چه د یو شی نه نا امیده شی نو د هغے نه بی پرواه شی. (رزینؔ)
تشريح: تعْلَمُنَّ : لام حذف شویدے ائ لَتعْلَمُنَّ. خامخا تاسو به پو هیږی اے خلکو!
أَنَّ الطَّمَعَ : یعنی د مخلوق نه طمع کول انسان فقر ته رسوی. د طمعے معنی ده په هغه شی باندے نظر ساتل (یعنی د هغه شی د حاصلولو خواهش کول) چه د هغے په حاصلیدو کی شك وی یعنی د یو شی په باره کی دا خیال کول چه د هغے مالك به ئے راکړی او که نهٔ، البته که د یو شخص سره د زیات تعلق او محبت په وجه د هغه دا یقین وی چه دا شے به ملاویږی نو دا طمع نهٔ ده.
ایاس په معنیٰ د (یأس) سره نا امیدیٔ ته وائی. طمع ته ئے ځکه فقر وئیلے دے چه په فقر کی احتیاج وی او په طمع کی زړه غیر ته محتاج وی. د طمع د حرمت وجه دا ده چه دے کی د زړه تعلق د غیر الله سره وی. دارنګه پدے کی تَرْكُ التَّوَكُّل (د توکل پریښودل) دی. دارنګه په دے کی حُبُّ الدُّنيَا (د دنیا محبت) دے. کله په کی چاپلوسی هم راشی، د ریاء سبب هم جوړیږی، د مداهنت سبب هم دے.
درجة الحديث: اسناده صحيح رواه رزين وابونعيم فى الحلية (١/ ٥٠) والغزالى فى احياء علوم الدين (٤/١٩٥) من غير ذكر المخرج، زبيد بن الصلت ادرك عمر فهو متصل.

- 1857(21) وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " مَنْ يَّكْفُلُ لِيْ أَنْ لَّا يَسْأَلَ النَّاسَ شَيْئًا فَأَتَكَفَّلَ لَهُ بِالْجَنَّةِ ؟ "فَقَالَ ثَوْبَانُ: أَنَا فَكَانَ لَايَسْأَلُ أَحَدًا شَيْئًا. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: او سیدنا ثوبان ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك زما دپاره ذمه واري اخلي ددے خبرے چه د خلکو نه به هیڅ شے نۀ غواړي نو زۀ به هغه ته د جنت ذمه واري ورکړم؟ نو ثوبان ﷺ وویل: زۀ، نو دۀ به (بیا) د هیچا نه هیڅ شے نۀ غوښتو. (ابوداوُد، نسائیؒ)

تشریح: مَنْ يَّكْفُلُ: په فتحه د یاء او ضمه د فاء سره. ذمه واري اخستلو ته وائي.

أَنْ لَّا يَسْأَلَ النَّاسَ: یعني د خلکو نه به د هغوی مالونه نۀ غواړي او نور خدمتونه به هم نۀ غواړي او مراد دا دے چه پدے کار به همیشوالے کوي ورنه کله نا کله د انسان ضرورت رازي. زۀ به ورله د جنت ذمه واریم یعني په اول کې به جنت ته داخلیږي هیڅ عذاب به ورته نۀ رسي او پدے کې اشاره ده چه خاتمه به ئے صحیح کیږي. نو ثوبانؓ دا ذمه واري قبوله کړه. په روایت د احمدؒ او ابن ماجهؒ کې راځي چه ثوبانؓ به په اوښ سور شو او د هغه نه به چابك پریوتو نو چا ته به ئے دا نۀ وئیل چه دا ما ته راکړه تردے چه خپله به راکوز شو او هغه به ئے اُوچت کړو. صحابه کرامؓ کې دومره سخته تابعداري وه.

نبي ﷺ دا کفالت ولے اخستو؟ نو ددے حکمت دا دے چه نبي ﷺ خپل صحابه کرامؓ ته اُوچت صفات ښودل چه پخپله ځان لره کار کوه دے دپاره چه بد اخلاقي انسان کې پیدا نشي، ځکه که بیا درله څوك خبره ونۀ مني نو غصه به نۀ درځي او که د بل نه دے خدمت اخستو نو که یوه ورځ هغه خلاف وکړي نو د هغه سره به دے کینه پیدا کیږي نو په انسان کې تکبر او بد اخلاقي راځي او د مسلمان سره کینه پیدا کیږي نو ددے بدو صفاتو نه خلاصیدل پدے سره کیږي چه انسان ځان له خپله کار کوي او دا اعلیٰ درجه تقوی ده اګر که بل باندے کار کول هم جواز لري. دارنګه پدے کې د توحید کمال دے چه په هر څه کې توجه صرف خپل رب ته کوي.

درجة الحديث: اسناده صحیح، رواه ابوداود واللفظ له والنسائي واحمد وابن ماجه

والحاكم والبيهقي، والمنذري في الترغيب: اسناده صحيح وصححه الحاكم ووافقه الذهبي۔

- 1858 (22) وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: دَعَانِي رَسُولُ اللهِ ﷺ وَهُوَ يَشْتَرِطُ عَلَيَّ: " أَنْ لَا تَسْأَلَ النَّاسَ شَيْئًا "قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: " وَلَا سَوْطَكَ إِنْ سَقَطَ مِنْكَ حَتَّى تَنْزِلَ إِلَيْهِ فَتَأْخُذَهُ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه: او سيدنا ابوذر ﷺ فرمائي: زۀ رسول الله ﷺ راوغوښتم چه هغه په ما باندے دا شرط لګولو چه تۀ به د خلکو نه هيڅ شے نۀ غواړے، ما وويل: آؤ، نبي ﷺ وفرمايل: نۀ به خپل چابك غواړے كه چرته ستا نه راپريوزي (اوتۀ په اس باندے سور ئے) تردے چه تۀ به ورته راكوزيږے او راخلے به ئے۔ (احمدؒ)

تشريح: وَهُوَ يَشْتَرِطُ: يعني پداسے حال كي چه نبي ﷺ ما ته په طريقه د شرط لګولو وئيل چه زۀ تاسره بيعت كوم پدے خبره چه د خلكو نه به هيڅ شے نۀ غواړے۔

وَلَا سَوْطَكَ: يعني د خلكو نه به چابك هم نۀ غواړے چه درنه پريوزي مګر خپله به ئے راپورته كوے۔ او دا ئے ورته دے دپاره وويل چه بيخي د سوال ماده پكي ختمه شي اګركه دا قسم سوال حرام نۀ دے۔

په بل روايت د احمدؒ كي داسے دي: چه نبي ﷺ دۀ ته وفرمايل: شپږ ورځے انتظار وكړه بيا پوهه شه ابوذرؓ چه زۀ درته د هغے نه روسته څه وايم، هركله چه اُومه ورځ شوه ويے فرمايل: تا ته د الله په تقوىٰ باندے وصيت كوم په پټه او په ښكاره حالت ستا كي او كله چه تۀ د چا سره بدي وكړے نو احسان كوه او د هيچا نه هيڅ شے مۀ غواړه اګركه ستا چابك پريوزي او هيڅ امانت مۀ اخله۔ (حديث حسن لغيره)

درجة الحديث: اسناده صحيح، رواه احمد (١٧٢/٥)



٥- باب الإنفاق وكراهية الإمساك

د خرچ کولو د فضیلت او د بخل د بدئ بیان

په (ن، ف، ق) کی د وتلو معنیٰ پرته وی. لکه اِنفَاق، نِفَاق (منافقت) نَفَق، (سُوری).
انفاق: مال د لاس نه ویستل دی. او امساكْ: بندول دی یعنی بخل کول.
بلکه هر هغه لفظ چه په اول سر کې ئې (ن، ف) وی لکه نفر، نفس، نفح، نفث، نفی، نفع وغیره نو پدیے کی معنیٰ د وتلو او تللو پرته وی.
بیا شریعت زکاة کم مقرر کړیدیے پدیے کی امتحان دیے چه آیا مؤمن د زکاة نه ماسویٰ نور انفاق کوی او که نهٔ؟ دا وجه ده په شریعت کی انفاق ته ډیر ترغیب ورکړیے شویدیے او دا د مؤمن صفت دیے، او د ایمان د شعبو نه یوه شعبه ده، دا په عامو حالاتو کی فرض نهٔ دیے لیکن الله تعالیٰ به د بنده نه ددیے په باره کی تپوس کوی چه مال مے درکړیے وو ولے دیے زما دپاره نهٔ دیے لګولے ځکه د الله حق ډیر دیے نو د خپل حق د وجے نه هغه تپوس کولے شی او پدیے به عذاب هم ورکوی که هغه وغواړی. پدیے وجه څوك چه ددیے باب احادیث واوری نو د هغه داسے جذبه پیدا کیږی چه څه پیسے راسره وی هغه ټولے خرچ کړم.
په انفاق سره انسان د مرض د بخل او مرض د محبت د غیر الله نه او مرض د محبت د دنیا نه خلاصیږی، الله تعالیٰ فرمائی: ﴿لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ﴾ (آلعمران:۹۲). یعنی جنت ته بغیر د انفاق نه بنده نشی داخلیدیے. او بغیر د انفاق د محبوب مال نه پوره نیك نشی ګرځیدلے.
انفاق د مؤمن صفت دیے یواځے د مالدارو نهٔ دیے لکه دا خبره به روستو راشی.

الفصل الأول

- 1859(1) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " لَوْ كَانَ لِيْ مِثْلُ أُحُدٍ ذَهَبًا لَسَرَّنِيْ أَنْ لَّا يَمُرَّ عَلَيَّ ثَلَاثُ لَيَالٍ وَعِنْدِيْ مِنْهُ شَيْءٌ إِلَّا شَيْءٌ أُرْصِدُهُ لِدَيْنٍ ". رَوَاهُ

الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: که ما دپاره د اُحد غر په اندازه سرۀ زر وی خامخا ما به دا خبره خوشحاله کوی چه په ما باندے درے شپے نسرے نشی پداسے حال کی چه ما سره د هغے نه څه شے باقی وی مګر هغه شے چه زۀ یے د قرض (ادا کولو) دپاره ساتم. (بخاری)

تشریح: یعنی که ما سره د اُحد غر په اندازه سرۀ زر وی نو زۀ پدے خوشحاله یم چه په درے ورځو کی دننه دننه هغه خرچ کړم او مسلمانانو ته یے ورکړم او ځان سره هیڅ پرینږدم مګر که د قرض ادا کولو دپاره څه شے پریږدم نو هغه به ترے مستثنی وی.

اُرْصِدُهُ لِدَيْنٍ: اى اَعُدُّهُ وَاَحْفَظُهُ يعنی زۀ یے تیاروم او ساتم د قرض د ادا کولو دپاره دا حدیث دلیل دے چه قرض ادا کول په انفاق باندے مقدم دی. او ډیر ناپوهه عوام او ظالمان خلک خیراتونه او صدقے کوی او حال دا چه په هغوی باندے د خلکو حقونه وی او هغے ته هیڅ توجه نۀ ورکوی او ډیر متصوفه ناپوهه په ریاضتونو او ډیرو طاعتونو او عبادتونو کی کوشش کوی او حال دا چه دوی باندے کوم قرضونه وی د هغے هیڅ پرواه نۀ لری (علی القاری) او ډیر دین ته منسوب خلک د مسلمانانو مالونه په ظلم، دهوکه، خیانت سره وخوری بیا حجونو او عُمرو ته زور ورکړی پدے طمع چه زمونږ ګناهونه به پدے سره معاف شی، هیڅکله پدے باندے دهوکه کیدل نۀ دی پکار ترڅو چه پردے حق ادا شوے نۀ وی د عبادتونو د قبلیدو امید ساتل لوی حماقت او جهالت دے.

نبی ﷺ چه دا حدیث وئیلے دے نو پدے کی اُمت ته لوی سبق پروت دے چه پردی حقونه ادا کول د هرڅه نه مهم دی.

فوائد الحدیث: ۱- په حدیث کی تیزی ده چه تاسو مالونه ولګوئ په نیکو کارونو کی. ۲- نبی ﷺ د زهد په ډیرو اعلی درجو کی وو چه هغه دا نۀ خوښوله چه د هغه په لاس کی د دنیا نه څه شے پاتی شی مګر هغه مال چه مستحق ته د ورکولو دپاره یے وساتی، یا د چا حق وی، یا قبلونکے نۀ وی موجود لکه دا په یو بل روایت کی راغلی دی: (اَجِدُ مَنْ يَّقْبَلُهُ). ۳- ددے نه دا معلومه شوه چه فرض زکاة روستو کول

جائز دی که چه څوك قبلونکے نۀ ملاویږی خو پدے شرط چه دغه واجبه حصه مال به د نور مال نه جدا کړی او کوشش به کوی چه څوك مسکین پیدا کړی او دغه مال ورته ورکړی. لیکن بلا ضرورته زکاة کی تاخیر منهی عنه دے لکه روستو به په حدیث د عقبه بن عامر ﷛ کی راشی۔

٤- حدیث نه معلومه شوه چه قرض ادا کول په نفلي صدقه باندے مقدم دی

٥- قرض اخستل جائز دی ٦- قرضونه او امانتونه ادا کول لازم دی

- 1860(2) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷛ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيْهِ إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُوْلُ أَحَدُهُمَا: اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَيَقُوْلُ الْآخَرُ: اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او سیدنا ابو هریره ﷛ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی. نشته یوه ورځ چه بندګان په هغے کی صبا کوی مګر دوه ملائك راکوزیږی نو یو د دواړو نه وائی: اے الله! انفاق (خرچ) کونکی ته بدله ورکړه (یعنی څوك چه په جائز ځای کی مال خرچ کوی هغه ته زیاته بدله ورکړه پدے طریقه چه یا خو په دنیا کی ددے خرچ کولو نه ډیر زیات مال ورکړه یا په آخرت کی اجر او ثواب ورکړه) او بل ملائك (بخیل ته ښیرے کولو سره) وائی اے الله! بند ساتونکی (یعنی بخیل) ته هلاکت (نقصان) ورکړه. (یعنی څوك چه مال جمع کوی او په جائز ځای کی خرچ نۀ کوی بلکه بی ځایه او بی مصرفه خرچ کوی نو د هغه مال هلاك او ضائع کړه) (بخاری ومسلم)۔

تشریح: سوال دا دے چه مونږ خو ددے ملائکو آواز نۀ آورو چه په هغے سره ترغیب او ترهیب حاصل شی نو بیا ددے خبرے څه فائده ده؟۔

جواب دا دے چه نبی ﷺ مونږ ته ووئیل چه هره ورځ دوه ملائك راکوزیږی او دغه آواز کوی نو عقلمند انسان لره پکار دی چه هره ورځ ځان ته دا آواز حاضر کړی او دا یقین وکړی چه اُوس به ملائك راکوز شوی وی او دا آواز به ئے کړے وی. بیا ددے نه دا عجیبه فائده معلومه شوه چه که یو انسان د یو عمل په فضیلت خبر هم نۀ وی او هغه عمل د الله د رضا دپاره وکړی نو هغه فضیلت به ورته ملاویږی۔

خلفًا: یعنی لوی عوض ورکړے یعنی نیکه بدله یا عوض په دنیا کی او بدل په

آخرت کی۔ کله انسان انفاق وکړی او زر مړ شي نو بیا ددے نه مراد د آخرت ثواب دے کوم چه الله دۀ له تیار کړیدے یا د هغه نه مصیبت او تکلیف دفعه کړی۔

تَلَفًا : اَیْ هَلَاکًا وَضِیَاعًا: یعنی هلاکت او ضائع کیدل۔

فائده : بخلاؤ ته ښیرے جائز دی۔

۔ 1861(3) وَعَنْ أَسْمَاءَ قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " أَنْفِقِيْ وَلَا تُحْصِيْ فَيُحْصِيَ اللّٰهُ عَلَيْكِ وَلَا تُوْعِيْ فَيُوْعِيَ اللّٰهُ عَلَيْكِ اِرْضَخِيْ مَا اسْتَطَعْتِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او اسماء رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: (د الله د رضا په ځایونو کی) مال خرچ کوه او مۀ ئے شماره (چه څومره خرچ وکړم؟ او څه خرچ کړم؟ یا ډیر مے خرچ کړل) ورنه الله تعالیٰ به ستا په باره کی وشماری (یعنی الله به ئے په شمار درکوی) او مال (چه د حاجت او ضرورت نه زیات وی هغه) په لوښی کی (د حاجتمندو نه) مۀ ساته ګنے الله به ستا په حق کی زیاتی (بخشش) بند وساتی۔ دارنګه څومره چه ستا وس وی لږ څه (د الله په لاره کی) خرچ کوه۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : وَلَا تُحْصِيْ : د احصاء نه دے یعنی مۀ ئے شماره چه څومره مے خرچ کړے بیا به ئے ډیرے وګڼرے نو الله به ئے هم په شمار درکوی۔ یا دا چه الله تعالیٰ به ستا د مال په باره کی د قیامت په ورځ تا سره حساب وکړی۔

وَلَا تُوْعِيْ : دا د اَوْعَیْتُ الْمَتَاعَ فِی الْوِعَاءِ) نه دے یعنی په لوښی کی ئے مۀ ساته او په لوښی کی د ساتلو نه مراد هغه نۀ خرچ کول دی۔

فَيُوْعِيَ اللّٰهُ : یعنی الله به ئے هم دغه شان بند بند درکوی۔ په بل روایت کی (لَا تُوْکِيْ فَيُوْکِيَ اللّٰهُ عَلَيْكِ) الفاظ دی، اِیْکَاء د لوښی خوله په تار باندے تړلو ته وائی۔

فیوعی دا او فَيُحْصِيَ دواړه منصوب دی جواب د نهی دی (فتح الباری)

دا حدیث دلیل دے چه سخاء د رزق دروازے راکولاوی او بخل ئے بند وی۔

امام نوویؒ ددے حدیث مطلب بیانوی فرمائی: پدے حدیث کی په طاعاتو کی په نفقه کولو باندے تیزی وزکول دی او د بند ساتلو او د بخل کولو منع نه ده۔

اِرْضَخِيْ : د باب د فتح نه، رَضْخ معمولی تحفے ته وائی یعنی لږه لږه خرچه کوه، یو څه ورکوه اګرکه لږ وی۔ یا معنیٰ ده: (أَنْفِقِيْ مِنْ غَیْرِ اِجْحَافٍ مَا دُمْتِ قَادِرَةً

مُسْتَطِيعَةً) (فتح الباری) یعنی د مال د بیخ گندئ نه بغیر چه څومره باندے قدرت لرے هغه خرچ کوه۔ یا ما موصوله یا موصوفه ده (ای اَلَّذِیْ اِسْتَطَعْتِهٖ اَوْ شَیْئًا اِسْتَطَعْتِهٖ)۔ خرچ کوه هغه شے چه تهٔ ئے طاقت لرے) (کرمانیؒ)

دے ته ئے په معمولی شی خرچ کولو باندے امر وکړو ځکه چه نبی ﷺ ته ددے حال معلوم وو چه دا په ډیر مال کی تصرف نشی کولے بغیر د اجازت د خاوند نه او هر چه معمولی شے دے چه خاوند ئے تپوس نهٔ کوی لکه قطره روتئ، ترکاری، کجوره یا هغه طعام چه په کور کی زیاتوی او د ساتنی دپاره نهٔ وی زر خرابیږی، ځکه چه په صحیح مسلم کی راځی چه اسماء د زبیر ؓ بی بی نبی ﷺ ته راغلہ وے وئیل اے د الله نبی! زما سره څه نشته مگر هغه چه زبیرئے ما ته راکړی نو آیا په ما به گناه وی چه زهٔ ترے څه معمولی شے خیرات کړم؟، نبی ﷺ وفرمایل: (اِرْضِخِیْ مَا اسْتَطَعْتُ وَلَا تُوْعِیْ فَیُوْعِیَ اللهُ عَلَیْكِ)۔

امام نوویؒ وائی دا محمول دے په هغه مال چه زبیر ؓ هغے ته د نفقے یا د بل څه دپاره ورکړی وی یا د زبیر مال وی لیکن هغه ترے معمولی صدقه عادةً بده نهٔ گنړی۔

امام نوویؒ وائی ددے معنیٰ دا ده چه هغه شے خرچ کوه چه په زبیر ؓ په هغے راضی وی او مطلب دا دے چه ستا دپاره په دغه معمولی ورکړه کی ډیر مراتب دی او پدے تولو باندے زبیر راضی وی نو په هغے کی په اعلیٰ مرتبه عمل کوه۔

- 1862(4) وَعَنْ أَبِیْ هُرَيْرَةَ ؓ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " قَالَ اللهُ تَعَالٰى: أَنْفِقْ يَا ابْنَ آدَمَ أُنْفِقْ عَلَيْكَ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او سیدنا ابو هریره ؓ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالیٰ فرمایلی دی: اے د آدم ځویه! (زما په لاره کی خپل مال) خرچ کړه، زهٔ به په تا باندے خرچه وکړم۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: أَنْفِقْ: امر مجزوم دے یعنی د الله په بندگانو او د دین په کارونو کی انفاق کوه او د انفاق دپاره ئے مفعول ذکر نکړو پدے کی تیزی ورکول دی په انفاق کولو باندے په هر قسمه کارونو د خیر کی، مدرسه، مسجد، جهاد، طالب العلم، عالمِ دین باندے خرچه، میلمه، دوستانو باندے خرچه کول، لاره، پل وغیره جوړول۔

أُنفِقْ : د همزې ضمه او د فاء كسره ده او قاف مجزوم دې جواب د امر دې. نو پدې كې دوه خبرې راغلې يو دا چه د خير په هر كار كې خرچه كوه، دويم زيرې دې چه الله به تا ته ددې غوره بدله دركوي.

فائده : جزاء من جنس العمل وي او دا د الله تعالىٰ وعده چه انتهائي رشتينې ده او پدې كې ډير ترغيب دې.

- 1863 (5) وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " يَا ابْنَ آدَمَ اَنْ تَبْذُلَ الْفَضْلَ خَيْرٌ لَكَ وَأَنْ تُمْسِكَهُ شَرٌّ لَكَ وَلَا تُلَامُ عَلٰى كَفَافٍ وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سيدنا ابوامامه ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: اې د آدم ځويه! كه ته (د خپل حاجت نه) زياتي مال (د الله د رضا كولو دپاره) خرچ كړې دا به ستا دپاره (په دنيا او آخرت كې) ډير غوره وي او كه ته ئې بند وساتې نو دا به ستا دپاره ډير بد وي. او ته به د كفايت په اندازه (مال ساتلو) باندې ملامته نه ئې. او (د خرچ كولو په سلسله كې) د خپل اهل وعيال نه ابتداء كوه. (يعنې اول خرچه په خپل بال بچ كوه). (مسلم)

تشريح :په صحيح مسلم كې دا الفاظ داسې راغلي دي: (يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ أَنْ تَبْذُلَ).

اَنْ تَبْذُلَ : ان په فتحه د همزه سره مصدريه دې مدخول په تاويل د مصدر سره ګرزوي نو دا مبتداء شوه او خير لك ئې خبر دې. دغه شان (ان تمسكه) واخله.

الْفَضْلَ : د حاجت نه زياتي شي ته وائي. او ان مصدريه دې سره د خپل مدخول نه مبتداء ده او (خيرلك) ئې خبر دې. او امام نوويؒ وائي چه دا أن مفتوحه مصدريه دې يعنې كه ته د خپل حاجت او د خپل اهل د حاجت نه زيات شې خرچ كړې دا به ستا دپاره ډير غوره وي ځكه چه ثواب ئې باقي دې او كه ودې ساتل نو دا ستا دپاره شر دې ځكه كه فرض شې ئې ساتلې وي نو د عذاب مستحق دې او كه مستحب شې ئې ساتلې وي نو ثواب ئې نقصاني شو او د آخرت په اعتبار سره ئې خپله فائده او مصلحت خراب كړو او دا ټول شر دې.

شرٌّ لك : يعنې زياتي شې ساتل ستا دپاره د الله او د خلكو په نيز بد دي.

وَلَا تُلَامُ عَلٰى كَفَافٍ : كفاف (يعنې سر په سر) هغه رزق دې چه انسان پرې د خلكو

د سوال نه بچ او بې پرواه وي. بعض وائي كفاف هغې ته وائي چه د خلكو د حاجت نه بندش راولي او قناعت ورسره وي او د حاجت نه زيات نهٔ وي. يعنې ستا بدې نهٔ وئيلې كيږي په بند ساتلو د كفاف (سر په سر رزق) باندې، يعنې كه تا خپل مال د خپل حاجت په اندازه وساتلو نو په تا به ملامتيا نهٔ وي او كه د حاجت نه زيات دې وساتلو نو ته به بخيل حساب شې او بخيل ملامته كړې شوې وي.

امام نووي وائي دا په هغه وخت كې دې چه كفاف ته شرعي حق متوجه نهٔ وي لكه چا سره نصاب وي او په هغه باندې زكاة واجب شي په خپلو شرطونو سره او دې دغه نصاب ته محتاج وي د وجه د كفاف نه نو په دهٔ باندې زكاة ويستل واجب دي او ددهٔ دپاره به دا مال ساتل جائز وي.

وابدأ بمن تعول : يعنې شروع د خرچې په هغه چا كوه چه ته د هغې عيالداري كوې لكه خپل نفس، ښځه او بچي او مور او پلار وغيره نو دوي باندې خرچه كول دوه اجره لري اجر د صدقې او اجر د خپلولۍ.

تعول : اى تمونه ويلزمك نفقته يعنې چه ته د هغوي مشقت برداشت كوې او په تا باندې د هغوي نفقه لازمه وي. نو پدې حديث كې دا راغلل چه عيال او خپلوان ډير لائق د صدقې دي د نور چا نه او پدې كې ابتداء ده په اهم فالاهم باندې.

- 1864(6) وعن أبي هريرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ : " مثل البخيل والمتصدق كمثل رجلين عليهما جنتان من حديد قد اضطرت أيديهما إلى ثديهما وتراقيهما فجعل المتصدق كلما تصدق بصدقة انبسطت عنه وجعل البخيل كلما هم بصدقة قلصت وأخذت كل حلقة بمكانها " متفق عليه

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي : د بخيل او صدقه كونكي مثال د دوه سړو په شان دې چه په هغوي باندې د وسپنې دوه زغرې وي، چه د هغوي دواړه لاسونه د هغوي د سينو او مريو پورې پيوسته شوي وي نو صدقه كونكې شروع شي هركله چه يو څه مال صدقه كړي نو دغه زغره كولاؤه شي ددهٔ نه او بخيل شروع شي هركله چه د صدقې وركولو قصد كوي نو د هغه د زغرې كړۍ نورې تنګې شي او هره كړۍ خپل ځاى راونيسي. (نوره كلكه شي) (بخاري

ومسلم)

تشريح : جُنَّتَانِ : تثنيه د جُنة ده، په اصل کې هر هغه شي ته وائي چه انسان ساتي او پټوي او حفاظت ئې کوي او دلته ترې مراد زغره ده، بعض وائي: جنه په اصل کې قلعه ته وائي او زغرې ته هم جنه پدې وجه وائي چه دا خپل صاحب ساتي.

قَدِ اضْطُرَّتْ : اَیْ شُدَّتْ وَضُمَّتْ وَاُلْصِقَتْ ـ (على القاريؒ) يعني ترلې شوې وي، يو ځاى شوې او پيوسته شوې وي لاسونه د دواړو سينو او مريو ته. يا اضطرار په خپله معنیٰ دې ځکه چه کله انسان صدقه کوي نو مال به د جيب نه راخلي او جيب خو په سينه باندې وي د مرئ سره نزدې نو لاسونه به سينې او مرئ ته محتاج کيږي.

او دا حديث دليل دې چه قميص اچول او بيا په هغې کې جيب ګنډل جائز بلکه سنت دي او د نبي ﷺ نه د قميص اغوستل په ډيرو روايتونو کې ثابت دي.

ثُدِيِّهِمَا : ثُدِیّ جمع د ثَدْیٌ ده سينې ته وائي.

وَتَرَاقِيهِمَا : جمع د تَرْقُوَة ده. مرئ.

پدې حديث کې اشاره ده چه د صدقې په وجه د انسان مال او سينه کې فراخي پيدا کيږي لکه قرآن کريم کې هم دي : ﴿ فَأَمَّا مَنْ أَعْطٰى وَاتَّقٰى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى ﴾ (الليل: ٥) مونږ به ورته لاره آسانه کړو، د هر څه لارې به ورته آساني شي او بخيل باندې به هر څه تنګ وي مال کې به ئې برکت نهٔ وي، سينه به ئې تنګه وي او دين کې به ئې فراخي نهٔ راځي، دا حديث د قرآن کريم نه ماخوذ دې.

قَلَصَتْ : اَیْ اِنْضَمَّتْ وَانْجَمَعَتْ وَانْقَبَضَتْ جُنَّتُهٗ عَلَيْهِ ـ يعني رايوځاى، راغونډه او رابنده شي په هغه باندې زغره د هغه.

مطلب دا دې چه سخي انسان چه کله د صدقې اراده وکړي نو سينه ئې فراخه شي او نفس ئې مزيدار او خوشحاله شي او د هغه لاسونه په انفاق باندې د هغه د زړه او احساساتو موافقت وکړي نو ورکړې ته اُوږده شي او تقویٰ، عبادت او نيکۍ کې زيادت راشي. او بخيل چه کله خپل زړه سره د صدقې خبرې وکړي نو نفس کې ئې بخل پيدا شي نو سينه ئې تنګه شي او لاسونه ئې راغونډ شي.

طيبي رحمه الله وائي : دلته ئې د بخيل په مقابله کې متصدق (صدقه ورکونکې) ذکر کړو نهٔ سخي پدې کې عجيبه اشاره ده چه اصل سخي خو هغه دې چه صدقې

كوى نۀ هغه څوك چه هسې فضول مالونه لګوى۔
امام منذرى رحمه الله وائى : د الله تعالىٰ نعمتونه او رزقونه ئې مشابه كړل د زغرې سره نو سخى چه كله انفاق كوى نو په هغه باندې نعمتونه رافراخه كيږى او كامل كيږى او زياتيږى تردې چه يوه پوره پرده ترې جوړه شى چه ټول بدن ورله پټ كړى او اثر ورله محوه كړى يعنى ګناه۔ او پټ كيدو كې اشاره حفاظت ته هم ده۔ او بخيل چه كله اراده وكړى چه انفاق وكړى نو شح او حرص او يره د كميدوئې د صدقې نه منع كړى نو دا په منع كولو سره دا غواړى چه په دۀ باندې نعمتونه زيات شى ليكن كه نعمتونه پرې هرڅومره زياتيږى خو دۀ سينه نۀ فراخه كيږى او په دۀ باندې پوره پرده نۀ اچوى۔ مطلب دا دې چه بخيل په ځان فراخى راولى په بنګله جوړولو او په ګاړى او چمنونو جوړولو سره ليكن د هغې په وجه نور تنګ شى او مشكلات ورته زيات شى۔

- 1865(7) وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " اِتَّقُوا الظُّلْمَ فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاتَّقُوا الشُّحَّ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ : حَمَلَهُمْ عَلٰى أَنْ سَفَكُوْا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوْا مَحَارِمَهُمْ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او سيدنا جابر ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : د ظلم نه ځان بچ كړئ ځكه چه ظلم د قيامت په ورځ ډيرې تيارى دى (چه په هغې كې به ظالم ګدوډ روان وى) او د بخل (شومتيا) نه ځان بچ كړئ ځكه چه بخل ستاسو نه مخكنى خلك هلاك كړيدى، هغوى ئې پدې كار راپورته كړل چه ديو بل وينې ئې توى كړې او د هغوى حرام ځيزونه ئې حلال وګڼل۔ (يعنى د هغوى عزتونه ئې حلال وګڼل) (مسلمٌ)
تشريح : ظلمات نه مراد يا حسى ظاهرى تيارى دى يا معنوى دى يعنى تكليفونه يا ددې نه مراد عذابونه او سزاګانى دى۔ او ټول مراد كيدې شى اوله معنىٰ ظاهره ده۔
الشُّحَّ : شح د بخل نه سخت دې نو د بخل او ددې ترمينځ ډير فرقونه دى (١) شح ديته وائى چه انسان كې بخل وى او د بخل سره ئې دا حرص وى چه مال جمع كړى او ويې ساتى۔ او بخل مال نۀ لګولو ته وائى۔
(٢) يا شح د بل په لاس كې موجود شى باندې بخل كولو ته وائى لكه يو انسان

وینی چه صدقه کوی نو دیے ورته ووائی چه دا کار مهٔ کوه، ستا مال به ختم شی او فقیر به شیے، مال وساته فائده به در کړی او بخل خپل مال نهٔ لګولو ته وائی۔
(۳) یا بخل په مال کی وی او شح په مال او غیر مال کی وی لکه نیکی او طاعت کی. (٤) یا شح په هغه شی بانديے حرص کولو ته وائی چه ددهٔ سره نهٔ وی او بخل حرص کول دی په هغه شی چه ددهٔ سره وی۔
(۵) بخل چا ته مال نهٔ ورکول دی او شح ډیر عام دیے عدم ارادة الخیر للغیر ته وائی۔
یعنی د بل دپاره د خیر اراده نهٔ لرل لکه یو تن ته فائده د بل چا د لاس نه رسی نو دیے پریے خفه وی چه فلانی ته ولے دا فائده زسیږی، یو مالدار سریے یو تن ته پیسے ورکوی او بل پریے خفه شی چه دا ولے ورکړیے شویے، دا خو دهٔ مزیے وکړیے، نو دا ډیر بد صفت دیے چه د انسان ایمان ختموی ځکه چه دهٔ کی نصیحت او خیرخواهی د مسلمان نشته او دین خو د خیرخواهیٔ نوم دیے بلکه د مسلمان په خوشحالیٔ او مالداریٔ او ښه کیدو باندیے خوشحالی پکار ده، الحمد لله پریے وئیل پکار دی، که مسلمان ته فائده ورسیده نو پدیے سره د مسلمانانو اقتصاد ته فائده رسی، کفار کوشش کوی چه یو بل ته فائده ورسوی لکه د یورپ والو ته وګوریٔ. او د شح لویه بدی دا هم ده چه دا انسان هلاکوی پخوانی خلك ئے هلاك کړیدی، او پدیے شح سره په معاشره کی ډیر لوی بد صفتونه پیدا کیږی، غیبتونه، تهمتونه، بهتانونه. فضول خبریے، د دنیا محبت او لالچ او بد خواهی او یو بل سره ورانول، صله رحمی پریکول پیدا کیږی۔
مَحَارِمَهُمْ : یعنی خان دپاره ئے حرام څیزونه او حرام مالونه حلال کړل، قتلونه ئے وکړل خپل ترونه او ماماګان ددیے دپاره وژنی چه مال ئے دهٔ ته پاتی شی۔

- 1866(8) وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : "تَصَدَّقُوْا فَإِنَّهُ يَأْتِيْ عَلَيْكُمْ زَمَانٌ يَمْشِيْ الرَّجُلُ بِصَدَقَتِهٖ فَلَا يَجِدُ مَنْ يَّقْبَلُهَا يَقُوْلُ الرَّجُلُ: لَوْ جِئْتَ بِهَا بِالْأَمْسِ لَقَبِلْتُهَا فَأَمَّا الْيَوْمَ فَلَا حَاجَةَ لِيْ بِهَا " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا حارثه بن وهب رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : صدقے کویٔ ځکه چه په تاسو باندیے به داسیے زمانه راشی (یعنی انسانی زندګیٔ کی داسیے زمانه راتلونکیے ده) چه یو سریے به خپله صدقه وباسی مګر څوك به نهٔ مونده کوی

چه هغه قبوله کړي، بلکه هر شخص به دا وائي چه که تا دا صدقه پرون راوړې وې خامخا ما به قبوله کړې وې او هرچه نن ورځ ده نو زما دې ته هيڅ ضرورت نشته (بخاري ومسلم)

تشريح : حارثه بن وهب الخزاعي ﷺ د عبدالله بن خطاب د مور د طرفنه ورور دے۔

"تصدَّقُوْا : يعني مال لګول او صدقه کول غنيمت وګڼرئ چه ښه دے چه داسے څوك موجود دي چه مال قبلوي او د فقيرانو احسان په ځان ومنئ ځکه چه داسے زمانه راتلونکے ده چه څوك به صدقه نۀ اخلي ځکه چه مالونه به زيات شي، کانونو کي به سرۀ او سپين او قيمتي جواهرات او کانړي راوځي خلك به مالداره شي

سوال دا دے چه يو انسان د کور نه صدقه راوباسي نو دۀ ته په نيت باندے ثواب ملاؤ شو اګر که څوك قبلونکے ورته ملاؤ نشي نو فضيلت خو ورته حاصل شو؟

جواب دا دے چه څوك صدقه قبلونکے مونده کړي د هغه دوه ثوابه وشو يو دا چه مال ئے خرچ کړو بل دا چه فضيلت هم ورته حاصل شو او د نيت کونکي صرف يو ثواب وشو نو اول شخص ترے ضرور غوره شو۔

دويم جواب : د خلکو په احوالو به يو هه شي او دا به ورته واضحه شي چه ټول خلك مالدار دي نو نيت به هم نۀ کوي نو ثواب به ورته نۀ حاصليږي۔ بعد العلم بحال الناس۔

زمانٌ : دا زمانه به قيامت ته نزدے وي چه هغه د مهدیؑ زمانه ده او د عيسى ﷺ د راکوزيدو زمانه ده۔

بعض وائي : کله چه د قيامت غټ علامات راښکاره شي يو به پکي دا هم وي۔

- 1867(9) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُوْلَ اللهِ أَيُّ الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ أَجْرًا ؟ قَالَ " أَنْ تَصَدَّقَ وَأَنْتَ صَحِيْحٌ شَحِيْحٌ تَخْشَى الْفَقْرَ وَتَأْمُلُ الْغِنَى وَلَاتُمْهِلُ حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ قُلْتَ : لِفُلَانٍ كَذَا وَلِفُلَانٍ كَذَا وَقَدْ كَانَ لِفُلَانٍ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سيدنا ابوهريره ﷺ فرمائي: يو سړي ووېل : اے د الله رسوله ! کومه صدقه ډير لوی اجر والا ده؟ وے فرمايل: دا چه ته صدقه وکړے په داسے حال کي چه ته روغ بدن والا ئے. بخل کونکے ئے. د غريبۍ نه يريږې او د مالدارئ اميد لرے او (په

صدقه كولو كې) تاخير مهٔ كوه تردې چه كله روح مرئ ته ورسيږي بيا تهٔ وائے چه د فلانى دپاره (زما د مال نه) دومره مال شو او د فلانى دپاره دومره- او حال دا چه هغه مال د بل چا (يعنى د وارث) شوے وى- (نو په پردى مال كى وصيتونه كوے) (بخارىؒ ومسلمؒ)

تشريح : صَحِيْحٌ : يعنى روغ بدن والا ئے، خطرناك هيبتناك مرض ورته نهٔ وى لګيدلے-

شَحِيْحٌ : يعنى مال سره ئے مينه وى ځكه چه مال ته ئے ضرورت وى- ابن الملك وائى چه (شحيح) تاكيد او بيان د (صحيح) دے ځكه چه سړے په حالت د صحت كى شحيح (حرص كونكے) وى-

وَتَأْمُلُ : د نصر ينصر نه دے-

يعنى ته د مالدارئ اميد لرے، دا وائے چه مال به كور كى پريدم دے دپاره چه مالداره شم او خلكو كى مے عزت پيدا شى- هر سړے د مالدارئ اميد لرى-

وَلَاتُمْهِلُ : د امهال نه دے دا يا منصوب دے په (تصدق) باندے عطف دے او د (ان) د لاندے دے يا مجزوم دے نهى ده يا مرفوع دے خبر د مبتداء دے يعنى صدقه مهٔ روستو كوه، او ځان ته مهلت مهٔ وركوه چه بيا به صدقه وكرم تردے چه كله ستا روح مرئ ته ورسيږى او د نزع او د غرغرے حالت شروع شى نو بيا د وصيت په طريقه صدقه شروع كړے چه د فلانى دپاره دومره وركړئ او فلانى له دومره او حال دا چه دغه مال اُوس ستا نهٔ دے بلكه هغه د بل چا ګرزيدلے دے ستا پكى صرف په دريمه حصه مال كى وصيت او حكم چليږى نور به ميراث خوروته پاتى وى نو په ټول مال كى ستا وصيتونه نهٔ چليږى او په دريمه حصه كى چه هم وصيت كوى نو په هغے كى به هم دومره ډير اجر او فضيلت نهٔ وى څومره چه د روغ حريص انسان وى چه هغه ورته په ژوند كى محتاج وى او د نفس سره مجاهده كوى چه مال د ځان نه جدا كوى نوكله چه انسان پداسے د حاجت په حالت كى صدقه كوى معلوميږى چه ددهٔ د نيك عمل سره ډيره مينه ده او ايمان ئے رشتينى دے نو دا به خامخا ډير اجر او فضيلت والا وى-

---

- 1868(10) وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍّ قَالَ : اِنْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ وَهُوَ جَالِسٌ فِيْ ظِلِّ الْكَعْبَةِ

فَلَمَّا رَآنِی قَالَ: " هُمُ الْأَخْسَرُوْنَ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ "فَقُلْتُ : فِدَاكَ أَبِی وَأُمِّی مَنْ هُمْ؟ قَالَ : " هُمُ الْأَكْثَرُوْنَ أَمْوَالًا إِلَّا مَنْ قَالَ: هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ وَعَنْ يَمِيْنِهٖ وَعَنْ شِمَالِهٖ وَقَلِيْلٌ مَّا هُمْ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابوذر ﷺ فرمائی : زهٔ نبی کریم ﷺ خوا ته پداسے حال کی ورسیدم چه هغه د کعبے په سوری کی ناست وو نو هرکله ئے چه زهٔ ولیدم وے فرمایل : دغه خلك تاوانیان دی قسم دے په رب د کعبه باندے، نو ما وویل : زما پلار او مور دے ستا نه قربان شی دغه خلك څوك دی؟ وے فرمایل : دا هغه خلك دی چه ډیر مالونه راجمع کونکی دی۔ مگر هغه څوك (به ددے تاوان نه بچ وی) چه خپل اخوا دیخوا او دے طرف یعنی مخکی او روسته، ښی او گس طرفته۔ (یعنی هر طرف او هر ځای کی د الله د رضا دپاره) خپل مال خرچ کوی مگر داسے خلك ډیر کم دی۔ (بخاری ومسلم)

تشریح : هُمُ الْأَخْسَرُوْنَ : دلته (هُمْ) ضمیر مبهم دے روستو (الاکثرون) تفسیر دے۔

هُمُ الْأَكْثَرُوْنَ أَمْوَالًا : یعنی د چا مال چه څومره زیات وی نو تاوان به ئے هم زیات وی۔

قَالَ: : دلته قال په معنیٰ د گوزارولو او ورکولو سره دے۔ ابوذر ﷺ دا قسم روایتونه آوریدلی وو پدے وجه ئے دا مذهب جوړ شوے وو چه مالونه ساتل حرام دی۔

فوائد الحدیث : (۱) امام نووئ فرمائی: پدے حدیث کی ډیر ترغیب دے صدقے ته او صدقه به په یوه نوعه د خیر پورے نهٔ خاص کوی بلکه د نیکئ په هر قسم کار کی به صدقے ته منډه وهی کوم چه حاضر شو او پدے وجه نبی ﷺ مخکی روستو، او شاته او ښی او گس طرفته اشاره وکړه۔ (۲) قسم خوړل جائز دی اگرکه چا ورله قسم نهٔ وی ورکړے بلکه دا کار مستحب دے کله چه په هغے کی مصلحت او فائده وی لکه دیو مهم کار د تاکید دپاره وی، د ښتنو دا خبره چه ((قسم په حقه او ناحقه دواړه ناروا دے)) غلطه ده۔

الفصل الثانی

- 1869(11) وَعَنْ أَبِی هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " اَلسَّخِیُّ قَرِيْبٌ مِنَ

اللهِ قَرِيبٌ مِنَ الْجَنَّةِ قَرِيبٌ مِنَ النَّاسِ بَعِيدٌ مِنَ النَّارِ، وَالْبَخِيلُ بَعِيدٌ مِنَ اللهِ بَعِيدٌ مِنَ الْجَنَّةِ بَعِيدٌ مِنَ النَّاسِ قَرِيبٌ مِنَ النَّارِ، وَلَجَاهِلٌ سَخِيٌّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ عَابِدٍ بَخِيلٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : سخی (مال لگونکے) الله ته نزدے دے، جنت ته نزدے دے، خلکو ته نزدے دے، د اُور نه وراندے دے. او بخیل د الله نه وراندے، د جنت نه وراندے، د خلکو نه وراندے دے، اُور ته نزدے دے او خامخا یو ناپوهه سخی الله تعالیٰ ته د عبادت گزار بخیل نه ډیر خوښ دے. (ترمذیؒ)

تشریح : د سخی نه مراد هغه شخص دے چه د الله رضائے په مال باندے غوره کړی وی او مال د الله د رضا دپاره خرچ کوی نو دا شخص د الله رحمت ته نزدے دے او جنت ته نزدے دے ځکه چه سخاء داسے سبب دے چه جنت ته رسول کوی او خلکو ته هم نزدے دے ځکه چه ټول خلك به ورسره مینه کوی اگرکه چا ته د هغه د سخاوت نه فائده هم نهٔ وی رسیدلی.

وَلَجَاهِلٌ سَخِيٌّ : دلته د جاهل نه مراد مقابل د عابد دے یعنی چه عابد نهٔ وی یعنی یو تن فرائض ادا کوی او نوافل نهٔ ادا کوی خو سخاوت کوی نو دا الله ته د هغه سړی نه ډیر غوره دے چه نوافل ډیر کوی خو بخیل وی ځکه چه محبت د دنیا د هرے گناه سر دے. یا پدے وجه چه جاهل سړے امر او نهی ته زر انقیاد کوی په خلاف د بخیل عالم نه چه هغه د زده کړے نه مور وی. (قاله المناوی، تحفة الاحوذی ١٩٨/٥)

درجة الحديث : اسناده :ضعيف جداً، رواه الترمذی وفيه سعيد الوراق قال ابن معين ليس بشیء. وله طرق كلها شديد الضعف واخرجه البيهقی فی الشعب وفيه تليد بن سليمان وسعيد بن مسلمة و كلاهما ضعيفان والخطيب فی ذم البخلاء وفيه خالد بن يحی القاضی عن غريب بن عبد الواحد وهما مجهولان،وانظر تفصيلها فی المرعاة (٢٩٤/٦).

- 1870 (12) وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " لَأَنْ يَتَصَدَّقَ الْمَرْءُ فِي حَيَاتِهِ بِدِرْهَمٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِمِائَةٍ عِنْدَ مَوْتِهِ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او سیدنا ابو سعید خدری ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : خامخا

چه يو شخص په خپل ژوند کې يوه روپۍ صدقه کړي (دا) ډيره غوره ده دهٔ لره ددے نه چه د مرګ په وخت کې سل روپۍ صدقه کړي۔ (ابوداودؒ)

تشريح : ددے وجه دا ده چه د مرګ په خت کې د انسان مال ته حاجت نهٔ وي او په ژوند کې ئے ورته حاجت وي نو په نفس باندے خپه اړدي او شيطان مغلوبه کوي او اميد لنډوي او اعتماد په الله کوي نو ځکه په ژوند کې صدقه کول ډير اجر لري او د مرګ په وخت کې د مال نه موړ شي نو اجرئے کم دے۔

درجة الحديث : اسناده حسن لغيره، رواه ابوداود في الوصايا وسكت عنه وفي سنده شرحبيل بن سعد الانصاري الخطمي مولاهم المدني كنيته ابوسعيد ولا يحتج به (منذري) وضعفه النسائي والدارقطني ولينه ابوزرعة وذكره ابن حبان في الثقات وخرج ابن خزيمة وابن حبان حديثه في صحيحيهما وقال ابن سعد : كان شيخاً قديما روى عن زيد بن ثابت وعامة الصحابة وبقي حتى اختلط واحتاج، وله احاديث وليس يحتج به وفي التقريب : صدوق اختلط بآخره۔

- 1871(13) وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَثَلُ الَّذِيْ يَتَصَدَّقُ عِنْدَ مَوْتِهِ أَوْ يُعْتِقُ كَالَّذِيْ يُهْدِيْ إِذَا شَبِعَ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَالتِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ

ترجمه : او سيدنا ابوذر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : مثال د هغه شخص چه د مرګ په وخت کې صدقه کوي يا غلام آزادوي پشان د هغه شخص دے چه (طعام) هديه کوي کله چه موړ شي۔ (يعني د حاجت نه ئے زيات شي) (احمدؒ، نسائيؒ، دارميؒ، ترمذيؒ، او امام ترمذيؒ دا حديث صحيح ګرځولے دے)۔

تشريح : يعني د موړ والي نه روستو صدقه کول دومره اجر نهٔ لري ځکه چه انسان د دغه شي نه بې حاجته شي او هغه ضائع کيږي نو دائے مجبوراً صدقه کړي نو ډير اجر نهٔ لري ځکه چه ډيره همدردي پکې نهٔ وي۔ او د لوږے په حالت کې صدقه کول ډير اجر لري۔

ځيني وائي : د موړ مثال ډير مشهور وو ورنه خبره برعکس غوره ده ځکه چه کله نا کله موړ انسانؒ بيرته طعام ته محتاج کيږي او مړ کيدونکے انسان بيرته دغه مال ته

حاجت نهٔ لری۔ لیکن دا په حدیث باندے اعتراض دے صحیح دا ده چه مثال صحیح دے او دلته ئے د مړی تشبیه د موړ سړه ورکړه نو دا تشبیه په بعض امورو کی ده چه هغه طعام په وخت د عدم حاجت کی صدقه کول ذی نو دغه شان دا مړ کیدونکے انسان هم دے چه مال ته ئے ضرورت نشته اُوس صدقه کوی۔

او علی القاریؒ فرمائی: ډیره ښکاره خبره دا ده چه ددے مطلب دا دے چه دا (ذکر شوے) مرتبه ناقصه ده ځکه چه صدقه او غلام آزادول په حالت د صحت کی ډیر افضل دی لکه څنگه چه سخاوت په وخت د لوږه کی ډیر اکمل دے۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، رواه احمد والنسائي والدارمي والترمذی وصححه ولكن في سنده ابو حبيبة وهو مجهول لا يعرف له راوٍ غير ابی اسحاق ولذلك قال الحافظ في التقريب: مقبول ای عند المتابعة والا فلين الحديث ولا متابع له فيما علمت (البانی)

- 1872 (14) وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " خَصْلَتَانِ لَا تَجْتَمِعَانِ فِيْ مُؤْمِنٍ: اَلْبُخْلُ وَسُوْءُ الْخُلُقِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه: او سیدنا ابوسعید خدری رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: دوه خویونه په مؤمن کی نهٔ راجمع کیږی یو بخل او بل بد اخلاقی۔ (ترمذیؒ)

تشریح: یعنی په کامل مؤمن کی دا دوه صفتونه نهٔ راجمع کیږی چه بخیل هم وی او بد اخلاقه هم وی۔ بعض علماؤ ددے مطلب داسے بیان کړیدے چه مراد دا دے چه دواړه خصلتونه پکی په داسے طریقه نشی جمع کیدے چه آخر سر ته رسیدلی وی او بیخی ترے په هیڅ حال کی نهٔ جدا کیږی او دا په دواړه خصلتونو راضی وی او هرچه هغه شخص دے چه کله بخل کوی او کله ترے جدا کیږی یا کله بد اخلاقی کوی او په بل وخت کی نیك اخلاق، یا په یو کار کی بد اخلاقی او په بل کی نیك اخلاقی، یا بد اخلاقی ترے کله کله صادریږی او بیرته پرے پښیمانه کیږی او ځان ملامته کوی نو هغه پدے حدیث کی نهٔ دے داخل او دا مطلب به په هغه حدیث کی هم وی چه فرمائی: ((شح او ایمان په زړهٔ د یو بنده کی هیڅ کله نهٔ راجمع کیږی))۔

طیبیؒ وائی: د سوء الخلق نه مراد هغه بد اخلاقی ده چه د ایمان مخالفه وی ځکه ښائسته اخلاق دیته وائی چه انسان په ماموراتو عمل کوی او د منهیاتو نه ځان ساتی

نۀ هغه چه خلك ئې په عرف كې استعمالوي ځكه چه عائشه رضى الله عنها فرمائي: د نبى ﷺ اخلاق قرآن كريم وو. نو بد اخلاق دا دى چه د يو مسلمان سره په ښه رويه نۀ ملاويږي، چا سره احسان نۀ كوي، په چا باندې سلام نۀ اچوي، صله رحمى نۀ كوي، يعنى د هغه كارونو خلاف ورزى كول د كومو چه اسلام تعليم ورکړيدې. نو سوء الخلق بى ايمانى ده او حسن الخلق ايمان دې. بيا دا مطلب نۀ دې چه چا كى بد اخلاقى راغله نو هغه به بى ايمانه وى خو بد اخلاقى داسې شے دې چه د انسان نه ايمان ختموى لكه ښائسته اخلاق انسان كى ايمان راولى. بيا كه پوره بد اخلاقى پكى وه نو مومن به نۀ وى او كه لږه پكى وه نو بيا به كامل مومن نۀ وى.

او بخل ئې د سوء الخلق نه جدا ذكر كړو او معطوف عليه ئې وګرزولو دا دليل دې چه بخل غټه بد اخلاقى ده.

بيا (خصلتان) نكره ده او (البخل الخ) د هغې نه بدل واقع شويدې نو په بدليت سره د نكرې ابتدائيت صحيح شو او خبر ئې (لا تجتمعان) دې. (ابن حجرؒ)

(٢) يا (خصلتان) موصوف او (لا تجتمعان) د هغې صفت مخصصه دې او خبر ئې البخل وسوء الخلق دې.

درجة الحديث : اسناده صحيح لغيره، فى سنده صدقة بن موسىٰ وهو ضعيف فى حفظه و صححه الالبانى لغيره فى صحيح الترغيب والترهيب (٢٦٠٨) وقال فى التقريب : صدوق له اوهام.

- 1873(15) وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ ﷺ قَالَ، قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ :" لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ خَبٌّ وَلَا بَخِيلٌ وَلَا مَنَّانٌ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سيدنا ابوبكر صديق ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: جنت ته به نۀ داخليږى رذيل (فسادى، مكار، دوكه باز) او نۀ بخيل او نۀ زبادنه كونكے. (ترمذیؒ).

تشريح : خَبٌّ : په فتحه د خاء يا په كسره سره لئيم، رذيل، فسادى چه د خلكو ترمينځ فساد پيدا كوى. منذرىؒ وائى: دا هغه دوكه باز انسان دے چه د خلكو ترمينځ شر او فساد راولى.

وَلَا بَخِيلٌ : چه واجب مال منع كوى، بعض وائى : زكاة منع كونكے مراد دے.

وَلَا مَنَّانٌ : هغه كس چه په فقيرانو د احسان زبادنه كوي دا معني به وي كه دا منّة (...) نه شي او كه د مَنٌّ نه شي په معنیٰ د قطع سره يعني صله رحمي پريكونكے۔

دا كسان به جنت ته نۀ داخليږي چه دا صفتونه پكي وي او كله چه ترے دا صفتونه وځي او پاك شي يا په توبه سره يا په عذاب سره په آخرت كي يا په معافئ د الله سره نو بيا به جنت ته ځي ځكه چه ايمان خو به پكي وي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، اخرجه الترمذي وفي سنده فرقد السبخي وهو لين الحديث كثير الخطأ (التقريب)

- 1874(16) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " شَرُّ مَا فِي الرَّجُلِ شُحٌّ هَالِعٌ وَجُبْنٌ خَالِعٌ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَسَنَذْكُرُ حَدِيْثَ أَبِي هُرَيْرَةَ : " لَا يَجْتَمِعُ الشُّحُّ وَالْإِيْمَانُ "فِي كِتَابِ الْجِهَادِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى.

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي : بد ترين هغه خوئي چه په سړي كي وي هغه بخل دے چه انتهاء ته رسيدلے وي (يا فرياد كونكے وي) او (بل خوئي) داسے بزدلي چه سخته وي۔ (يعني انتهائي بخل او انتهائي بزدلي)۔ (ابوداودؒ) او زردے چه مونږ به حديث د ابو هريره ﷺ چه نبي ﷺ فرمائي: ((بخل او ايمان په زړه د يو مومن كي نۀ راجمع كيږي)) په كتاب الجهاد كي ان شاء الله تعالىٰ ذكر كړو۔

تشريح : يعني بد صفتونه په سړي كي دا دي۔

شُحٌّ هَالِعٌ : داسے بخل وي چه جزع فزع كونكے وي د مال پسے۔

وَجُبْنٌ خَالِعٌ " : داسے بزدلي وي چه ډيره سخته وي گويا كه زړه ورله اُوباسي دومره كورئے پكي كړے وي، د قتال او د كافرانو سره د جنگ او په هغوي باندے د اقدام كولو طاقت ئے ختم شوے وي۔ بلكه د پيشو نه هم يريږي بلكه د خپل سوري نه هم يريږي۔

الشُّحُّ وَالْإِيْمَانُ : يو مقصد ددے مخكي ذكر شو۔

دوئم دا چه داسے شح د ايمان سره نۀ راجمع كيږي چه تول زړۀ شح ونيسي او غلبه پرے وكړي چه ايمان ته پكي څه ځاي پاتي نشي يعني چه انسان په طاعت باندے هم شح كوي او د الله احكامو ته غاړه نۀ ايږدي نو ايمان به د كوم ځاي نه راشي، نفس شح

خو په هر نفس کې شته خو مذموم هغه شح دے چه په زړه باندے غلبه وکړي. يا دا چه شح کې بد خواهي وي او ايمان کې نصح او خير خواهي وي نو دواړه به څنګه جمع شي؟!. او همدا دويم مطلب ظاهر دے.

درجة الحديث: اسناده صحيح، اخرجه ابوداود وقال المنذري قال محمد بن طاهر اسناد متصل وقد احتج مسلم بموسى بن علي عن ابيه.

الفصل الثالث

- 1875(17) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا أَنَّ بَعْضَ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ ﷺ قُلْنَ لِلنَّبِيِّ ﷺ أَيُّنَا أَسْرَعُ بِكَ لُحُوقًا ؟ قَالَ : " أَطْوَلُكُنَّ يَدًا فَأَخَذُوْا قَصَبَةً يَذْرَعُوْنَهَا فَكَانَتْ سَوْدَةُ أَطْوَلَهُنَّ يَدًا فَعَلِمْنَا بَعْدُ أَنَّمَا كَانَتْ طُوْلَ يَدِهَا الصَّدَقَةُ وَكَانَتْ أَسْرَعَنَا لُحُوْقًا بِهِ زَيْنَبُ وَكَانَتْ تُحِبُّ الصَّدَقَةَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ، وَفِيْ رِوَايَةِ مُسْلِمٍ قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : "أَسْرَعُكُنَّ لُحُوْقًا بِيْ أَطْوَلُكُنَّ يَدًا ". قَالَتْ : وَكَانَتْ يَتَطَاوَلْنَ أَيَّتُهُنَّ أَطْوَلُ يَدًا؟ قَالَتْ : فَكَانَتْ أَطْوَلَنَا يَدًا زَيْنَبُ ؟ لِأَنَّهَا كَانَتْ تَعْمَلُ بِيَدِهَا وَتَصَدَّقُ.

ترجمه: عائشه رضی الله عنها فرمائي: د نبي كريم ﷺ بعضو بيبيانو نبي كريم ﷺ ته وفرمايل: په مونږ کې به کوم يو په تا پسے زر پيوسته كيږي؟ (يعني زر به مري) نبي ﷺ (په وحي سره وفرمايل) په تاسو کې د اوږد لاس والا نو دوي يوه ډرمه (د بانس لرګے) راواخستو چه لاسونه ئې پرے کچ کول نو سودةؓ په دوي کې د اوږد لاس والا وه. (عائشهؓ فرمائي:) مونږ روستو پوهه شو چه د اوږد والي د لاس د زنانه نه مراد صدقه كول دي او په مونږ کې په جلتئ سره د نبي ﷺ سره پيوسته كيدونکے زينبؓ وه ځکه چه دے به صدقه خوښوله. (بخاريؒ) او په يو روايت د مسلم کې دي: عائشه رضي الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې په ما پسے زر پيوسته كيدونکے هغه زنانه ده چه ستاسو نه ئې لاس اوږد وي، عائشهؓ فرمائي: نو زنانو به لاسونه اوږد ول (او هغه به ئې ناپ کول) چه کومه يوه د دوي نه اوږد لاس والا ده، عائشه فرمائي: نو په مونږ کې د اوږد لاس والا زينبؓ وه ځکه چه دے به په خپل لاس سره كاروكسب كولو او (بيا به ئې د هغه مال نه) صدقه كوله.

تشريح: بَعْضَ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ : د ابن حبانؒ د روايت نه معلوميږي چه عائشهؓ فرمائي

: ما د نبي ﷺ نه تپوس وکړو چه په موږ بيبيانو کې به تا پسے زر څوك وفات کيږي؟ د دوي غرض پدے تپوس کې دا وو چه دوي دا خوښوله چه موږ د نبي ﷺ پسے زر وفات شي چه د هغه سره په جنت کې يو ځاي شي.

يَدًا : يعني د چا چه لاس اُوږد وي يعني احسانات او صدقے کوي. نو د نبي ﷺ د اوږدوالي د لاس نه مراد دا وو چه هر چا سره احسان کوي خلکو ته صدقے ورکوي او بيبيانو ترے ظاهري معنیٰ واخسته نو درمه (کنکے) ئے راواخستو او لاسونه ئے کچ کول شروع کړل نو اُوږدو لاسونو والا پکې سودۃؓ راوختله ليکن ډيرو صدقو والا پکې زينب بنت جحشؓ وه چه د نبي ﷺ د پلار د طرفنه د ترۀ لور وه او ددے په وجه باندے حجاب نازل شوے وو او مخکې د زيد بن حارثهؓ بي بي وه بيا هغه طلاقه کړه او نبي ﷺ ته الله تعالیٰ په نکاح ورکړه، ددے نوم مخکې برّه وو نبي ﷺ ورله زينب نوم کيخودو او عائشے رضي الله عنها په قصه د إفك کې ددے ډير ښائسته صفت کړے او دا الله تعالیٰ په افك کې د شريك کيدو نه په ورع او تقویٰ سره وساتله او دا ډيره نيکه، روژه داره، تهجد گوزاره وه دے به په خپل لاس کسب کولو، جامے به ئے رنگ کولے او گنډلے به ئے او د هغے نه به ئے د الله په لاره کې صدقے کولے حال دا چه دا د قد په لحاظ لنډۍ زنانه وه. واقديؒ وائي : نبي ﷺ چه ددے سره واده کولو نو ددے عمر پنځه ديرش (٣٥) کاله وو او شلم هجري کې وفات شوه چه عمرئے (٥٠) پنځوس کاله وو او عمر بن الخطاب ﷺ پرے جنازه وکړه رضي الله عنها وارضاها.

فوائد الحديث : (١) نبي ﷺ عالم الغيب نۀ دے ليکن هغه په وحي سره خبر ورکوي ځکه ترے بيبيانو تپوس وکړو. (٢) د نبوت لويه علامه پکې ښکاره شويده چه په اشارے سره ئے خبر ورکړو چه د اُوږد لاس والا به زر وفات کيږي.

(٣) مشترك لفظ استعمالول جائز دي کله چه يوه معنیٰ ئے هم متعينه نۀ وي د متکلم يوه مراد وي او مخاطب ترے بله معنیٰ فهم کړي لکه طول اليد دوه معنی دي، ظاهري لاس اُوږدوالے او صدقے کول. (٤) ابن المنيرؒ وائي : هرکله چه د دوي سوال د مقررے نيټے په باره کې وو او هغه خو صرف په وحي سره معلوميږي نو نبي ﷺ دوي ته په داسے الفاظو جواب ورکړو چه هغه صريح نۀ وو او حواله ئے کړو داسے وخت ته چه په آخره کې به معلوميږي.

(۵) كه يو تن يو كلام په خپل ظاهر باندے واخلي او د هغے مطابق عمل وكړي نو هغه به پدے كار ملامته نۀ وي اګركه د متكلم مراد د هغه كلام نه بله معنىٰ وي۔

(٦) صدقه كونكے الله ته ډير محبوب وي، نبي ﷺ ته هم نزدے وي پدے وجه زينبؓ زر وفات شوه او نبي ﷺ سره په جنت كي يو خاى شوه۔

(۷) كاروبار په دے نيت كول چه د هغے نه به صدقه كوى پدے كي اجر دے۔

- 1876(18) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : " قَالَ رَجُلٌ :لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهٖ فَوَضَعَهَا فِيْ يَدِ سَارِقٍ فَأَصْبَحُوْا يَتَحَدَّثُوْنَ تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلٰى سَارِقٍ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلٰى سَارِقٍ، لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهٖ فَوَضَعَهَا فِيْ يَدِ زَانِيَةٍ فَأَصْبَحُوْا يَتَحَدَّثُوْنَ تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلٰى زَانِيَةٍ فَقَالَ : اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلٰى زَانِيَةٍ، لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهٖ فَوَضَعَهَا فِيْ يَدِ غَنِيٍّ فَأَصْبَحُوْا يَتَحَدَّثُوْنَ تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلٰى غَنِيٍّ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلٰى سَارِقٍ وَعَلٰى زَانِيَةٍ وَعَلٰى غَنِيٍّ فَأُتِيَ فَقِيْلَ لَهٗ أَمَّا صَدَقَتُكَ عَلٰى سَارِقٍ فَلَعَلَّهٗ أَنْ يَّسْتَعِفَّ عَنْ سَرِقَتِهٖ وَأَمَّا الزَّانِيَةُ فَلَعَلَّهَا أَنْ تَسْتَعِفَّ عَنْ زِنَاهَا وَأَمَّا الْغَنِيُّ فَلَعَلَّهٗ يَعْتَبِرُ فَيُنْفِقُ مِمَّا أَعْطَاهُ اللهُ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَلَفْظُهٗ لِلْبُخَارِيِّ.

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: يو سړى (ځان سره) ووېل : خامخا زۀ به يوه صدقه كوم نو خپله صدقه ئے ويستله نو هغه ئے د يو غل په لاس كي كيخوده نو خلكو صبا كړو چه خبرے ئے كولے چه بيګاه شپه په غل باندے صدقه كړے شويده نو دے سړي ووېل : اے الله ! ستا دپاره د كمال صفتونه دى (زما صدقه واقع شوه) په غل باندے۔ خامخا زۀ به يوه صدقه كوم نو خپله صدقه ئے راويستله او هغه ئے د يوے زنا كارے ښځے په لاس كي كيخوده نو خلكو صبا كړو چه خبرے اترے ئے كولے چه بيګاه شپه په زنا كاره ښځه باندے صدقه شويده نو دۀ ووېل : اے الله ! ستا دپاره حمد دے (زما صدقه واقع شوه) په زنا كاره باندے۔ بيا ئے ووېل : خامخا زۀ به يوه صدقه وباسم نو خپله صدقه ئے راويستله نو هغه ئے د يو مالدار سړي په لاس كي كيخوده نو خلكو صبا كړو چه خبرے اترے ئے كولے چه بيګاه شپه صدقه

شویده په مالداره باندے نو دۀ وویل : اے الله ! ستا دپاره د کمال صفتونه دی (زما صدقه واقع شوه) په غل، په زناکاره او په مالداره باندے۔ (کله چه دا شخص اُوده شو نو په خوب کی) ورته راغلل ورته وویل شو چه (تا څو مره صدقے کړیدی هغه ټولے قبولے شویدی) هرچه ستا صدقه ده په غل باندے نو کیدے شی چه هغه د غلا نه ځان بچ وساتی او هرچه زناکاره ده نو کیدے شی چه هغه ځان د زنا نه پاك وساتی او هرچه مالداره دے نو کیدے شی چه نصیحت واخلی نو هغه هم خیرات وکړی د هغه مال نه چه هغه ته الله تعالیٰ ورکړیدے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ او الفاظ د بخاریؒ د روایت دی)

تشریح : قَالَ رَجُلٌ : دا سړے په بنی اسرائیلو کی وو لکه په روایت د احمدؒ کی ذکر دی۔

فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُوْنَ : یعنی دے سړی خلکو ته دا وویل چه زۀ بیګاه غلا له روان وم یو سړی را باندے صدقه وکړه بیرته راواپس شوم۔

اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلٰى سَارِقٍ، : یعنی زما صدقه واقع شوه په غل باندے چه مستحق د صدقے نۀ دے نو ستا حمد دے چه دا کار ستا په اراده وشو نۀ زما په اراده ځکه چه ستا اراده ښائسته ده او حکمت پکی وی، غلط کار نۀ دے شوے نو ستا دپاره حمدونه دی۔

فَأُتِيَ : ددے نه معلومیږی چه ددے سړی بیا هم اراده وه چه صدقه وکړی نو الله تعالیٰ ئے دا کرامت ښکاره کړو چه په خوب کی ورته د دغه صدقے فائده بیان شوه۔

مسئله : دلته صدقه نفلی او فرضی دواړو ته شاملیږی نو که چا په ناپوهه سره فرضی صدقه غیر مستحق ته ورکړه نو آیا دوباره به ئے ورکوی ؟ نو د امام احمدؒ نه یو روایت او د امام شافعیؒ نه یو روایت داسے نقل دے چه که زکاۃ ئے غیر مستحق ته ورکړو لکه غنی وغیره ته نو دوباره به ئے ورکوی ځکه چه واجب خپل مستحق ته نۀ دی رسیدلی نو ددۀ ذمه نۀ فارغیږی لکه یو انسان زکاۃ کافر ته ورکړی او دا قول د سفیان الثوریؒ، حسن بن صالحؒ، ابویوسفؒ او ابن المنذر رحمهم الله دے۔

(۲) دویم قول دا دے چه ددۀ نه زکاۃ ساقطیږی او دوباره ورکول واجب نۀ دی او که دوباره ئے ورکړو نو غوره ده۔ او دا مذهب د حسن بصری، ابوعبید او ابوحنیفه رحمهم الله دے او همدا د دلیل په اعتبار سره راجح دے یو دا حدیث الباب دلیل دے او دویم

مخکې تیر شو چه نبی ﷺ نه دوه کسانو سوال وکړو نو هغه ورته وفرمایل چه که ستاسو خوښه وی زۀ به ئې درله درکړم خو د مالداره او قوی بدن او کسب والا پکې حق نشته نو نبی ﷺ د هغوی په ظاهر باندې خبره بناء کړه او حقیقت له ئې اعتبار ورنکړو۔ (ابن قدامة) دارنګه حدیث د معن بن یزید پرې دلیل دې (لَكَ مَا اَخَذْتَ یَا مَعْنُ وَلَكَ مَا نَوَیْتَ یَا یَزِیْدُ) (بخاری:۱٤۲۲)۔

فوائد الحدیث : (۱) ددې سړی دا هره صدقه الله قبوله کړې وه لیکن ددۀ دا اراده وه چه زۀ به خامخا نیك سړی ته صدقه ورکوم۔ نو ددې نه معلومه شوه چه کله صدقه خپل صحیح ځای ته ونۀ رسی دوباره ورکول ئې افضل دی۔

(۲) په نیکانو خلکو باندې صدقه کول بهتر دی لیکن کله نا کله بدعتی له هم صدقه پدې نیت ورکول پکار دی چه هغه بدعات پریدی او صحیح دین ته راشی لکه نبی ﷺ به مؤلفة القلوب خلکو ته هم مال ورکولو دې دپاره چه په اسلام کې مضبوط شی۔ دا هله چه مبتدع معاند نۀ وی۔

(۳) د الله په کارونو او د بنده په غاړه کیخودو کې ځومره برکت دې چه الله ترې تولې صدقې قبولې کړې۔

(٤) د الله په تقدیر باندې بدی نۀ وئیل او تنګی نۀ ښکاره کول پکار دی لکه سلف صالحینؒ وائی : خدمت مۀ پریده اګرکه تا ته ئې نۀ قبلیدل ښکاره شی۔

(۵) خوب له اعتبار شته۔ او دا په درجه د تائید کې وی۔ مطلقاً د خوبونو تردید جهالت دې۔

(٦) دارنګه حلال مال خوړل سړې د ګناه نه منع کوی لکه سهلؒ وئیلی دی : (مَنْ أَکَلَ الْحَلَالَ أَطَاعَ اللّٰهَ شَاءَ أَمْ أَبٰی وَمَنْ أَکَلَ الْحَرَامَ عَصَی اللّٰهَ شَاءَ أَمْ أَبٰی ۔ (څوك چه حلال خوری د الله بندګی کوی خوښه ئې وی او که نۀ او څوك چه حرام خوری د الله نه نافرمانی به کوی خوښه ئې وی او که نۀ۔

- 1877(19) وَعَنْ أَبِی هُرَیْرَةَ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ : " بَیْنَا رَجُلٌ بِفَلَاةٍ مِنَ الْأَرْضِ فَسَمِعَ صَوْتًا فِی سَحَابَةٍ اِسْقِ حَدِیْقَةَ فُلَانٍ فَتَنَحّٰی ذٰلِكَ السَّحَابُ فَأَفْرَغَ مَاءَهُ فِی حَرَّةٍ فَإِذَا شَرْجَةٌ مِنْ تِلْكَ الشِّرَاجِ قَدِ اسْتَوْعَبَتْ ذٰلِكَ الْمَاءَ کُلَّهُ فَتَتَبَّعَ الْمَاءَ فَإِذَا رَجُلٌ قَائِمٌ

فِيْ حَدِيْقَتِهٖ يُحَوِّلُ الْمَاءَ بِمِسْحَاتِهٖ فَقَالَ لَهٗ يَا عَبْدَ اللّٰهِ مَا اسْمُكَ؟ فَقَالَ : فُلَانٌ، لِلْاِسْمِ الَّذِيْ سَمِعَ فِي السَّحَابَةِ، فَقَالَ لَهٗ يَا عَبْدَ اللّٰهِ لِمَ تَسْأَلُنِيْ عَنِ اسْمِيْ؟ فَقَالَ إِنِّيْ سَمِعْتُ صَوْتًا فِي السَّحَابِ الَّذِيْ هٰذَا مَاؤُهٗ يَقُوْلُ اِسْقِ حَدِيْقَةَ فُلَانٍ لِاسْمِكَ فَمَا تَصْنَعُ فِيْهَا؟ قَالَ أَمَّا إِذَا قُلْتَ هٰذَا فَإِنِّيْ أَنْظُرُ إِلٰى مَا يَخْرُجُ مِنْهَا فَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثِهٖ وَآكُلُ أَنَا وَعِيَالِيْ ثُلُثًا وَأَرُدُّ فِيْهَا ثُلُثَهٗ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷛ د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی فرمائی : (قصه دا ده) یو سړے د ځمکے په یوه دشته کی روان وو نو د وریځے نه ئے یو آواز واوریدو چه د فلانی شخص باغیچه خړوبه کړه نو دغه وریځ یو طرف ته لاړه او خپلے اُوبه ئے په یو کاڼرجنه ځمکه (خوړ) باندے راواړولے نو ناګهانه یو لښتی د دغه لښتو نه دغه ټولے اُوبه راجمعه کړے (او په یو طرف روانے شوے) نو دغه شخص د دغه اُوبو پسے روان شو (دے دپاره چه وګوری چه د کوم شخص باغ ته دا اُوبه ځی چه دا څوك دے؟) نو ناڅاپه دهٔ یو شخص په خپل باغ کی ولیدو چه اُوبه ئے په خپله بیلچه سره اړولے نو دهٔ ورته وویل : اے د الله بنده ! ستا څه نوم دے؟ هغه وویل: فلانے، هغه نوم ئے یاد کړو چه دهٔ په وریځه کی آوریدلے وو نو هغه ورته وویل : اے د الله بنده ! تهٔ زما نه زما د نوم په باره کی ولے تپوس کوے؟ نو دهٔ ورته وویل : یقیناً ما د وریځے نه چه دا د هغے اُوبه دی یو آواز واوریدو چه داسے ئے ویل : خړوبه کړه باغیچه د فلانی شخص، ستا نوم ئے یاد کړو نو (ما ته ووایه چه) تهٔ پدے باغ کی څه (نیك) عمل کوے؟ هغه وویل : هرکله چه تا دا خبره وکړه نو (زهٔ به هم درته حال ووایم) زهٔ ګورم هغه فصل ته چه ددے باغ نه راوځی نو دریمه حصه د هغے نه صدقه کوم او زهٔ او زما عیال یوه حصه خورو او بله دریمه حصه پدے باغ کی بیرته واپس کوم۔ (یعنی په باغ باندے ئے بیرته لګوم) (مسلمؒ)

تشریح : بَيْنَا : الف اشباعی دے ای بَيْنَ اَوْقَاتٍ۔ په یو وخت کی۔

فَتَنَحّٰى : يُقَالُ تَنَحَّيْتُ الشَّيْءَ وَانْتَحَيْتُهٗ وَنَحَوْتُهٗ اِذَا قَصَدْتُهٗ ۔ دا په هغه وخت کی وئیلے شی چه کله تهٔ د یو شی قصد او اراده وکړے۔ (نوویؒ) دلته ئے دا معنیٰ هم کیږی : لاړه دغه وریځ د هغه باغیچے ته۔

حَرَّةٍ : خوړ ته وائی چه تور کاڼری پکی وی۔ جمع ئے حرار ده۔

شَرْجَةٌ : لښتے، جمع ئے شِراج دہ۔
بِمِسْحَاتِهِ : بیلچه۔
فُلَانٌ، : په بعض ځایونو کې د نوم ذکر کولو کې فائده نۀ وی پدے وجه نبی ﷺ هم مبهم ذکر کړو۔

فوائد الحدیث : (۱) دا حدیث لوی ترغیب دے دے خبرے ته چه خپل مال درے حصے کول پکار دی، یوه حصه صدقه کول او یوه حصه په کاروبار لګول او یوه خپله نفقه کول نو پدے کې به انسان ډیر خیرونه او برکتونه وینی۔
(۲) د صدقے ډیر فضیلت او د مسکینانو او مسافرو سره احسان ډیر خیر لری۔
(۳) د خپل لاس کاروبار نه خوراك ډیر فضیلت لری۔
(٤) خپل اهل وعیال دپاره نفقه پیدا کول هم اجر لری۔
(٥) د صدقے په وجه د انسان کرامتونه ښکاره کیږی، ددے سړی نوم د ملائك د خولے نه واوریدلے شو۔ (٦) د خپلے صدقے پټول پکار دی لیکن کله چه درنه څوك تپوس وکړی او په جواب کې فائده وی نو ذکر کول ئے جائز دی۔

- 1878(20) وَعَنْ أَبِی هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِیَّ ﷺ يَقُولُ : " إِنَّ ثَلَاثَةً فِی بَنِی إِسْرَائِيلَ : أَبْرَصَ وَأَقْرَعَ وَأَعْمٰى فَأَرَادَ اللهُ أَنْ يَبْتَلِيَهُمْ فَبَعَثَ إِلَيْهِمْ مَلَكًا فَأَتَى الْأَبْرَصَ فَقَالَ أَیُّ شَیْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ لَوْنٌ حَسَنٌ وَجِلْدٌ حَسَنٌ وَيَذْهَبُ عَنِّی الَّذِی قَدْ قَذِرَنِی النَّاسُ "قَالَ : " فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ عَنْهُ قَذَرُهُ وَأُعْطِیَ لَوْنًا حَسَنًا وَجِلْدًا حَسَنًا قَالَ فَأَیُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ الإِبِلُ -أَوْ قَالَ الْبَقَرُ شَكَّ إِسْحٰقُ -إِلَّا أَنَّ الْأَبْرَصَ أَوِ الْأَقْرَعَ قَالَ أَحَدُهُمَا الإِبِلُ وَقَالَ الآخَرُ الْبَقَرُ قَالَ فَأُعْطِیَ نَاقَةً عُشَرَاءَ فَقَالَ بَارَكَ اللهُ لَكَ فِيهَا " قَالَ : " فَأَتَى الْأَقْرَعَ فَقَالَ أَیُّ شَیْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ شَعْرٌ حَسَنٌ وَيَذْهَبُ عَنِّی هٰذَا الَّذِی قَدْ قَذِرَنِی النَّاسُ، قَالَ : " فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ عَنْهُ وَأُعْطِیَ شَعْرًا حَسَنًا قَالَ فَأَیُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ ؟ قَالَ الْبَقَرُ فَأُعْطِیَ بَقَرَةً حَامِلًا قَالَ : " بَارَكَ اللهُ لَكَ فِيهَا " قَالَ : "فَأَتَى الْأَعْمٰى فَقَالَ : أَیُّ شَیْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ أَنْ يَرُدَّ اللهُ إِلَیَّ بَصَرِی فَأُبْصِرَ بِهِ النَّاسَ ". قَالَ : " فَمَسَحَهُ فَرَدَّ اللهُ إِلَيْهِ بَصَرَهُ قَالَ فَأَیُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ ؟ قَالَ الْغَنَمُ فَأُعْطِیَ

شَـاةً وَالِـدًا فَـأُنْتِـجَ هٰـذَانِ وَوَلَّدَ هٰذَا قَالَ فَكَانَ لِهٰذَا وَادٍ مِنَ الإِبِلِ وَلِهٰذَا وَادٍ مِنَ الْبَقَرِ وَلِهٰذَا وَادٍ مِنَ الْغَنَمِ ". قَالَ : " ثُمَّ إِنَّهُ أَتَى الْأَبْرَصَ فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ فَقَالَ رَجُلٌ مِسْكِينٌ قَدِ انْقَطَعَتْ بِيَ الْحِبَالُ فِي سَفَرِي فَلَا بَلَاغَ لِيَ الْيَوْمَ إِلَّا بِاللّٰهِ ثُمَّ بِكَ أَسْأَلُكَ بِالَّذِي أَعْطَاكَ اللَّوْنَ الْحَسَنَ وَالْجِلْدَ الْحَسَنَ وَالْمَالَ بَعِيرًا أَتَبَلَّغُ عَلَيْهِ فِي سَفَرِي فَقَالَ: اَلْحُقُوقُ كَثِيرَةٌ فَقَالَ لَهُ كَأَنِّي أَعْرِفُكَ أَلَمْ تَكُنْ أَبْرَصَ يَقْذَرُكَ النَّاسُ، فَقِيرًا فَأَعْطَاكَ اللّٰهُ مَالًا فَقَالَ إِنَّمَا وَرِثْتُ هٰذَا الْمَالَ كَابِرًا عَنْ كَابِرٍ فَقَالَ إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللّٰهُ إِلَى مَا كُنْتَ ". قَالَ : " وَأَتَى الْأَقْرَعَ فِي صُورَتِهِ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ مَا قَالَ لِهٰذَا وَرَدَّ عَلَيْهِ مِثْلَ مَا رَدَّ عَلَى هٰذَا فَقَالَ إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللّٰهُ إِلَى مَا كُنْتَ ". قَالَ : " وَأَتَى الْأَعْمَى فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ فَقَالَ رَجُلٌ مِسْكِينٌ وَابْنُ سَبِيلٍ اِنْقَطَعَتْ بِيَ الْحِبَالُ فِي سَفَرِي فَلَا بَلَاغَ لِيَ الْيَوْمَ إِلَّا بِاللّٰهِ ثُمَّ بِكَ أَسْأَلُكَ بِالَّذِي رَدَّ عَلَيْكَ بَصَرَكَ شَاةً أَتَبَلَّغُ بِهَا فِي سَفَرِي فَقَالَ قَدْ كُنْتُ أَعْمَى فَرَدَّ اللّٰهُ إِلَيَّ بَصَرِي فَخُذْ مَا شِئْتَ وَدَعْ مَا شِئْتَ فَوَاللّٰهِ لَا أَجْهَدُكَ الْيَوْمَ شَيْئًا أَخَذْتَهُ لِلّٰهِ فَقَالَ أَمْسِكْ مَالَكَ فَإِنَّمَا ابْتُلِيتُمْ فَقَدْ رَضِيَ عَنْكَ وَسَخِطَ عَلَى صَاحِبَيْكَ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : د سيدنا ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه دۀ د نبى كريم ﷺ نه آوريدلى چه فرمايل ئے : د بنى اسرائيلو نه درے كسان وو يو برگى مرض والا دويم گنجے او دريم ړوند۔ الله تعالىٰ اراده وكړه چه په دوى باندے امتحان وكړى نو دوى ته ئے يو ملائك وليږلو، نو ملائك برگى مرض والا ته راغلو ورته ئے وويل : تا ته كوم شے ډير خوښ دے ؟ هغه وويل : ښائسته رنګ او ښائسته څرمنه او چه لاړ شى ما نه هغه بيمارى چه (د هغے په وجه) زۀ خلكو گنده گنړلے يم۔ نبى ﷺ وفرمايل : نو ملائك په هغه باندے لاس راښكلو نو د هغه نه د هغه گندگى (بيمارى) لاړه او هغه ته ښائسته رنګ او ښائسته څرمنه وركړے شوه، ملائك ورته وويل : نو كوم مال تا ته ډير خوښ دے؟ هغه وويل : اُوښان۔ يا ئے اُوويل : غواګانے، اسحاق راوى شك كړيدے۔ مګر دومره ده چه برگى مرض والا يا گنجى په دوى دواړو كى يو تن وويل اُوښان او بل وويل : غواګانے۔ نبى ﷺ وفرمايل: نو هغه ته د لسو مياشتو بار داره اُوښه وركړے شوه بيا ملائك دا

دعا وکړه چه الله تعالیٰ دے تا له پدے کی برکت واچوی. نبی ﷺ وفرمایل: بیا ملائك گنجی ته راغلو نو هغه ته ئے وویل چه تا ته کوم شے ډیر خوښ دے؟ هغه وویل : ښائسته ویښته او چه لاړ شی ما نه هغه مرض چه (د هغے په وجه) زهٔ خلکو گنده گنړلے یم. نبی ﷺ فرمائی : نو ملائك په هغه باندے لاس راښکلو نو د هغه نه بیماری لاړه. نبی ﷺ وفرمایل : هغه ته ښائسته ویښته ورکړے شو، ملائك هغه ته وویل : تا ته کوم مال ډیر محبوب دے؟ هغه وویل : غواګانے، نو هغه ته حامله غوا ورکړے شوه ملائك وویل: الله دے تا له پدے کی برکت واچوی. نبی ﷺ وفرمایل : نو ملائك ړوند ته راغلو ورته ئے وویل : کوم شے تا ته ډیر خوښ دے؟ هغه وویل : چه ما ته الله تعالیٰ زما نظر راواپس کړی چه په هغے سره خلك وینم. نبی ﷺ فرمائی : نو ملائك په هغه باندے لاس راښکلو نو الله تعالیٰ هغه ته نظر راواپس کړو، هغه ته ئے وویل : تا ته کوم مال ډیر خوښ دے ؟ هغه وویل : گډے بزے نو هغه ته ډیر بچی راوړونکے گډه ورکړے شوه (ددے نه لږه موده روستو) برګی مرض والا او گنجی د اوښانو او غواگانو په ذریعه او ړوند د گډو په ذریعه بچی حاصل کړل (الله تعالیٰ د درے واړو په مال کی ډیر زیات برکت واچولو) تردے چه برګی مرض والا دپاره د اُوښانو یوه کنده (ځنګل) ډکه شوه او د گنجی دپاره د غواگانو نه کنده ډکه شو او د ړوند دپاره د گډو بزو نه کنده ډکه شوه. نبی ﷺ فرمائی : (دے نه روستو) ملائك بیا برګی مرض والا ته په خپل همغه شکل او صورت کی راغلو نو (ورته ئے) وویل : زهٔ یو مسکین سړے یم په ما باندے زما په سفر کی رسئ (اسباب) ختم شویدی (یعنی د سفر په وجه مے سامان ټول ضائع شویدے) پدے وجه (مقصد ته) رسیدل زما دپاره نن ورځ ممکن نهٔ دی مګر په الله سره (یعنی دا چه الله تعالیٰ مهربانی وکړی) او بیا تهٔ ذریعه جوړه شے. زهٔ ستا نه د هغه الله په نوم چه تا ته ئے ښائسته رنګ او ښائسته څرمن او مال درکړیدے یو اُوښ غواړم چه په خپل سفر کی پرے ځان (مقصد ته) ورسوم. نو هغه وویل : حقونه ډیر دی. نو ملائك ورته وویل: ګویا که زهٔ تا پیژنم، آیا تهٔ هغه برګے نهٔ وے چه خلکو به گنده ګنړلے، ته محتاج وے نو الله تعالیٰ تا ته مال درکړو نو هغه وویل : یقیناً ما ته دا مال د پلار او نیکه د طرف نه په میراث کی ملاؤ شویدے. نو ملائك ورته وویل: که تهٔ چرته دروغژن ئے نو الله تعالیٰ دے هغه حالت ته واړوه په کوم باندے

چه ته وي۔ نبي ﷺ فرمائي: بیا ملائك گنجي ته راغلو په خپل همغه مخکني شکل او صورت کې او هغه ته ئې هغه شان خبره وکړه کومه ئې چه برګي ته کړې وه او دۀ (هم) هغه جواب ورکړو کوم چه برګي ورکړې وو نو ملائك ورته ووېل: که ته چرته دروغژن ئې نو الله تعالیٰ دې هغه حالت ته واړوه په کوم باندې چه ته وې۔ نبي ﷺ فرمائي: بیا ملائك ړوند ته په خپل هغه مخکني شکل او صورت کې راغلو ورته ئې ووېل: زۀ یو مسکین سړې یم او مسافر یم ما باندې زما اسباب په خپل سفر کې ختم شویدي نو نشته (مقصد ته) رسیدل زما نن ورځ مګر په الله باندې دی بیا په تا باندې (چه ته راسره تعاون وکړې) زۀ تا نه د هغه الله په نوم چه تا ته ئې ستا نظر راواپس کړیدې یوه ګډه غواړم چه د هغې په ذریعه خپل ځان مقصد ته پدې سفر کې ورسوم۔ (یعني سفر پوره کړم) نو ړوند ووېل: (آؤ) یقیناً زۀ ړوند وم نو الله تعالیٰ ما ته زما نظر راواپس کړو نو واخله څه چه ستا خوښه وي او پریده څه چه ستا خوښه وي قسم په الله زۀ به تا ته نن ورځ څه شي باندې تکلیف نۀ درکوم چه تا د الله دپاره واخستو۔ نو ملائك ورته ووېل: (ستا مال دې مبارك وي) ته ځان سره خپل مال وساته (ما ته ستاسو د مال ضرورت نشته) یقیناً په تاسو باندې امتحان وکړې شو (یعني الله تعالیٰ ستاسو امتحان واخستو چه آیا تاسو ته خپل زوړ حالت یاد دې او که نۀ؟ او تاسو د الله تعالیٰ د درکړې شوي نعمتونو شکر کوئ او که نۀ؟ نو ته په امتحان کې پوره پریوتې) نو الله تعالیٰ ستا نه راضي او خوشحاله شو او ستا د هغه دوه (بد بخته) ملګرو نه ناراضه شو۔ (بخاري ومسلم)

تشریح: الْأَبْرَصَ: برګي مرض والا چه ظاهري څرمن ئې سپینه شوي وي د مزاج د فساد د وجه نه۔

أَنْ يَّبْتَلِيَهُمْ: یعني په دوی باندې ئې امتحان کولو چه دوی خپل ځانونه وپیژني او خلك ئې هم وپیژني چه دوی کې کوم یو شکرګزار دې؟۔

مَلَكًا: یعني د یو مسکین سړي په شکل ورته الله تعالیٰ ملائك راولیږلو۔

قَدْ قَذِرَنِيَ النَّاسُ: په فتحه د قاف او کسره د ذال سره، یعني ګنده ګڼړلې یم خلکو او د کوم شي د وجه نه ئې چه بد ګڼړلې یم چه هغه برګې مرض دې۔

قَذَرُهُ: په فتحه د قاف او ذال سره۔

عُشَرَاءَ : یعنی هغه اوښه چه په حمل باندے ئے لس میاشتے تیری شوی وی دا غوره مال دے، کله مطلقا حاملے ته وائی۔ امام نوویؒ وائی : عشراء هغه حامله ده چه ولادت ئے نزدے وی۔
شَاةٌ وَالِدًا : یعنی ګډه بچی راوړنکے۔یا هغه چه په ډیرو بچو راوړلو مشهوره وی۔
فَأَنْتَجَ هٰذَانِ : د انتاج نه دے اَیْ تَوَلَّی الْوِلَادَةَ۔ د هغے د پیدائش واکداری ئے وکړه۔ یعنی بچے راویستو دے دواړو د اوښانو او غواګانو نه۔ یعنی دے بچی راوړل او دا دواړه ورته د دائی په شان ولاړ وو۔
وَوَلَّدَ : د تولید نه دے دا هم انتاج او نتج ته وائی معنی د دواړو دا ده : بچی راوړل دے سړی د اوښے او غوا نه او بچی وزیږول د ګډو بزو نه دے بل شخص۔ ناتج د اُوښانو او مُولد د ګډو بزو وغیره دپاره داسے دے لکه د ښځو دپاره دائی۔
أَتَبَلَّغُ : د بُلْغَة نه دے یعنی ورسیږم پدے سره خپل مراد ته۔
فَخُذْ مَا شِئْتَ : دے دریم سړی لړ اخلاص وکړو نو الله ورته بیرته خپل مال هم راواپس کړو او الله هم ترے راضی شو۔
لَا أُجْهِدُكَ الْيَوْمَ : تا باندے مشقت نهٔ راولم۔
فوائد الحدیث : (۱) کله چه مالداره شوے نو مال لګوه، ځان نه سخت زړے او متکبر مهٔ جوړوه بلکه د الله حق وپیژنه۔
(۲) او د خپلے غریبئ حال په مالدارئ کی مهٔ هیروه نو په امتحان کی به کامیاب کیږے او دا رذیل انسان وی چه کله ورسره یو څو روپئ پیدا شی نو خپل زوړ حال ترے هیر شی۔
(۳) پدے کی د صدقے فضیلت ثابت شو او په ضعیفانو خلکو باندے نرمی کول او د هغوی اکرام کول او هغوی خپلو مقاصدو ته رسول او د هغوی په ضرورتونو پوره کولو باندے تیزی راغله۔
(٤) د بخل نه منع وشوه ځکه چه دا خپل صاحب په دروغو باندے راپورته کوی او د الله د نعمتونو نه انکار کوی۔
(۵) د الله حمدونه همیشه وئیل او د هغه شکر همیشه دپاره ادا کولو سره انسان ته نعمت باقی پاتی کیږی۔

(٦) بد دعائى نافرمان ته جائز ده۔ (فصيرك الله الى ما كنت)۔
(٧) د پخوانو قصے د نصيحت دپاره ذكر كول هم فائده كوى۔
(٨) كله يو نعمت د انسان دپاره امتحان وى۔
(٩) د الله تعالىٰ مطالبے غالباً امتحانى وى، عمل دير كم رازى لكه خندق غزا شوه يا تبوك چه جنګ ونشو ليكن اعصابى جنګ وو چه د كفارو كثرت او د مؤمنانو انتهائى قلت وو۔ دارنګه غالباً مطالبات دغه طريقے سره وى لكه احاديثو نه ثابت دى۔

- 1879(21) وَعَنْ أُمِّ بُجَيْدٍ قَالَتْ : قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ الْمِسْكِيْنَ لَيَقِفُ عَلٰى بَابِيْ حَتّٰى أَسْتَحْيِيَ فَلا أَجِدُ فِيْ بَيْتِيْ مَا أَدْفَعُ فِيْ يَدِهٖ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " اِدْفَعِيْ فِيْ يَدِهٖ وَلَوْ ظِلْفًا مُحْرَقًا ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ

ترجمه: او ام بجيد رضى الله عنها فرمائى: ما ووېل : يا رسول الله ! يقيناً يو مسكين زما په دروازه كى ودرېږى (سوال كوى) تردے چه ما ته حياء راشى ځكه چه زۀ په خپل كور كى نۀ مونده كوم هغه شے چه زه ئے د مسكين په لاس كى وركړم۔ (نو زۀ به څه كوم؟) نبى ﷺ وفرمايل : د هغه په لاس كى (معمولى څه) وركوه اګركه يو سوزيدلے خنګرے (خپه) وى۔ (احمدؒ، ابو داودؒ، ترمذىؒ)

تشريح : ام بُجَيد په انصارو كى د بنو حارث نه يوه زنانه ده۔ بعض وائى نوم ئے حواء ده او د هغه صحابياتو نه ده چه د رسول الله ﷺ سره ئے بيعت كړے وو۔

لَيَقِفُ عَلٰى بَابِيْ: يعنى زما په دروازه كى ودرېږى سوال كوى نو ما ته حيا راشى خو ليكن څه راسره نۀ وى چه ورته وركړم، نبى ﷺ وفرمايل : چه ضرور ورته څه وركوه اګركه د غوا يا چيلى سوزيدلے پانچه او خنګرے وى چه سائل ترے داسے خاص فائده هم نشى اخستے خو سائل محروم مۀ رخصتوه۔ دا حديث د هغه ضعيف روايت تائيد كوى چه په هغے كى دا دى : (لِلسَّائِلِ حَقٌّ وَإِنْ جَاءَ عَلٰى فَرَسٍ) د سوالګر دپاره ضرور حق شته اګركه دومره مالداره وى چه په اس باندے راغلے وى۔ (احمد ١٧٣٠ ابو داود ١٦٦٧ عن حسين بن على مرفوعا)۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، رواه احمد وابوداود والترمذى وقال هذا حديث حسن صحيح وهو كما قال۔

- 1880(22) وَعَنْ مَوْلًى لِعُثْمَانَ ﷺ قَالَ : أُهْدِيَ لِأُمِّ سَلَمَةَ بَضْعَةٌ مِنْ لَحْمٍ وَكَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُعْجِبُهُ اللَّحْمُ فَقَالَتْ لِلْخَادِمِ : ضَعِيْهِ فِي الْبَيْتِ لَعَلَّ النَّبِيَّ ﷺ يَأْكُلُهُ فَوَضَعَتْهُ فِيْ كُوَّةِ الْبَيْتِ. وَجَاءَ سَائِلٌ فَقَامَ عَلَى الْبَابِ فَقَالَ : تَصَدَّقُوْا بَارَكَ اللهُ فِيْكُمْ. فَقَالُوْا : بَارَكَ اللهُ فِيْكَ. فَذَهَبَ السَّائِلُ فَدَخَلَ النَّبِيُّ ﷺ فَقَالَ : " يَا أُمَّ سَلَمَةَ هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ أَطْعَمُهُ؟". فَقَالَتْ : نَعَمْ، قَالَتْ لِلْخَادِمِ :اِذْهَبِيْ فَأْتِيْ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ بِذٰلِكَ اللَّحْمِ. فَذَهَبَتْ فَلَمْ تَجِدْ فِي الْكُوَّةِ إِلَّا قِطْعَةَ مَرْوَةٍ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : " فَإِنَّ ذٰلِكَ اللَّحْمَ عَادَ مَرْوَةً لَمَّا لَمْ تُعْطُوْهُ السَّائِلَ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ

ترجمه : او د سیدنا عثمان ﷺ د آزاد کـرده غـلام نه روایت دے فرمائی: (ام المؤمنین) ام سلمه رضی الله عنها ته د غوښے څه ټکړه په تحفه کی راوړے شوه او نبی ﷺ ته به غوښه ډیره خوښه وه نو ام سلمہؓ خپلے خادمے (وینځے) ته وویل: دا په کوټه کی کیـده کیدے شی چه نبی کریم ﷺ ئے وخوری نو هغے دا د کوټے په طاقچه کی کیخوده۔ (پدے کی) یو سوالگر راغے او په دروازه کی ودریدو وے ویل : صدقه وکړئ الله تعالیٰ دے په تاسو کی برکت واچوی، نو کور والو جواب ورکړو، الله تعالیٰ دے تا ته برکت درکړی۔ (یعنی سائل ته ئے جواب ورکړو لکه زمونږ په معاشره کی چه کله څوک یو سائل ته څه نۀ ورکوی نو داسے ورته وائی چه معاف کړه) نو سائل واپس لاړو نو (پدے کی) نبی کریم ﷺ (کورته) رانٌنوتو نو وے فرمایل: اے ام سلمے! آیا تاسو سره څه شے شته چه زۀ ئے وخورم ؟ نو هغے وویل: آؤ، هغے خپلے خادمے ته وویل : لاړه شه رسول الله ﷺ ته هغه غوښه راوړه نو هغه لاړه نو په طاقچه کی ئے ونۀ موندله مگر ټکړه د بکرے (سپین کانړی) نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: یقیناً دا غوښه سپین کانړے جوړ شو پدے وجه چه تاسو دا سوالگر ته نۀ ده ورکړے۔ (بیهقیؒ دلائل النبوة)

تشریح : مَوْلًى لِعُثْمَانَ ﷺ ، د عثمان ډیر غلامان وو یو پکی حمران بن ابان او بل هانيء البربری، ابو صالح، ابو سهله، او یوسف وو دلته ئے تعیین نۀ دے شوے۔

كُوَّةِ الْبَيْتِ : په کاف باندے ضمه او فتحه دواړه جائز دی۔ د کوټے روشندان، طاقچه۔

هَلْ عِنْدَكُمْ : دا یا تعظیم دپاره جمع استعمالوی یا تغلیب دے۔ یا په مقام د خدمت

کې صیغه د جمع استعمالیږي عرفاً۔ د (زملوني، امکثوا) وغیره په شان۔

قِطْعَةَ مَرْوَةٍ : یعنی تېوته وه د بکرې (سپین کانړی)۔ د الله د نبي په کور کې به کله داسې ناشنا کار الله تعالیٰ کولو دې دپاره چه د خلکو دپاره نصیحت او عبرت شي۔

لَـمَّا لَمْ تُعْطُوْهُ السَّائِلَ : دا لام مکسور دې، په معنیٰ د علت سره۔ او ترجمه ددې مطابق شوېده۔ یا لَمَّا کلمه ده۔ نو معنیٰ به دا وي هرکله چه تاسو دا سائل ته ورنکړه نو بکره ترې جوړه شوه۔

درجة الحديث : لم اقف على سنده ولعله منقطع لان مولى عثمان لم يحضر القصة ولم يسم من حدثه بها (الباني)

- 1881(23) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : " أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِشَرِّ النَّاسِ مَنْزِلًا ؟ قِيْلَ : نَعَمْ قَالَ : اَلَّذِيْ يَسْأَلُ بِاللهِ وَلَا يُعْطِيْ بِهِ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه : او سیدنا عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی : نبی کریم ﷺ وفرمایل : آیا خبر نهٔ درکوم تاسو ته په ډیر بد ترین د خلکو نه په مرتبه کې؟ عرض وشو، آؤ (خبر راکړئ) وې فرمایل: هغه شخص چه د الله په نوم سره (د خلکو نه) غواړي او د الله په نوم ئې (بل ته) نهٔ ورکوي۔ (احمدؒ)

تشريح : يَسْأَلُ بِاللهِ : یعنی د خلکو نه د الله په نوم سوال کوي لیکن کله چه دهٔ نه د الله نوم یاد کړې شي نو بیا ورکړه نهٔ کوي۔ دا هله چه (يسأل او يعطى) دواړه د معلوم صیغې شي یا (يسئل بالله) صیغه د مجهول ده او (وَلَا يُعْطِيْ بِهِ) صیغه د معلوم ده او مطلب به دا وي چه دهٔ نه د الله په نوم څه شې وغوښتې شي او دا قادر وي او هیڅ نهٔ ورکوي بلکه هغه محروم واپس کوي نو دا بد ترین انسان دې۔ لیکن دا احتمال بعید دې او اول احتمال غوره دې ځکه چه دلته نبي ﷺ ددې شخص دوه قباحتونه ذکر کوي یو دا چه خپله خو د الله په نوم غوښتنه کوي او بیا چه کله ددهٔ نه د الله په نوم څه وغوښتې شي نو د الله د نوم احترام نهٔ کوي۔ د خپل لالچ دپاره د الله د نوم قدر او د بل د فائدې دپاره د الله د نوم بې عزتي کول بې وفائي ده۔

ابن حجرؒ وائي : (بالله) په معنیٰ د قسم سره یعنی دهٔ ته په الله باندې قسم وخوړلې شي

چه څه راکړه او دا ئے نۀ ورکوی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح رواه احمد والترمذی فی فضائل الجهاد وحسنه والنسائی فی الزكاة وابن حبان فی صحيحه باتم من هذا وسيأتی مطولا فی باب افضل الصدقة۔

- 1882 (24) وَعَنْ أَبِی ذَرٍّ أَنَّهُ اسْتَأْذَنَ عَلٰی عُثْمَانَ فَأَذِنَ لَهُ وَبِيَدِهِ عَصَاهُ فَقَالَ عُثْمَانُ : يَا كَعْبُ إِنَّ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ تُوُفِّیَ وَتَرَكَ مَالًا فَمَا تَرٰی فِيهِ ؟ فَقَالَ : إِنْ كَانَ يَصِلُ فِيهِ حَقَّ اللهِ فَلَا بَأْسَ عَلَيْهِ. فَرَفَعَ أَبُوذَرٍّ عَصَاهُ فَضَرَبَ كَعْبًا وَقَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ : " مَا أُحِبُّ لَوْ أَنَّ لِی هٰذَا الْجَبَلَ ذَهَبًا أُنْفِقُهُ وَيُتَقَبَّلُ مِنِّی أَذَرُ خَلْفِی مِنْهُ سِتَّ أَوَاقِیَّ ". أَنْشُدُكَ بِاللهِ يَا عُثْمَانُ أَسَمِعْتَهُ ؟ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. قَالَ : نَعَمْ. رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه : او د سيدنا ابوذر رضی الله عنه په باره کی نقل شويدی چه دۀ د سيدنا عثمان نه (د حاضريدو) اجازه طلب کړه نو هغه ورته اجازه ورکړه او د ابوذرؓ په لاس کی امسا وه، نو سيدنا عثمان (د کعب الاحبارؒ نه تپوس وکړو چه دۀ په مجلس کی حاضر وو) ورے ويل : اے کعبه ! عبد الرحمن بن عوفؓ وفات او مال ئے پريخودو نو ستا دۀ په باره کی څه رايه ده؟ (چه آيا دۀ دا ډير مال دۀ د ايمان دپاره مضر وو او که نۀ وو؟) نو هغه وويل : که عبد الرحمن پدے مال کی د الله حق ادا کړے وی نو هيڅ باك په دۀ باندے نشته نو (پدے وخت کی) ابوذرؓ خپله امسا راپورته کړه او کعب ئے پرے ووهلو او دا ئے وفرمايل: ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلی دی چه فرمايل ئے : زۀ دا نۀ خوښوم چه که زما دپاره دا غر (د اُحُد) سرۀ زر شی او هغه زۀ (د الله په لار کی) خرچ کړم او هغه زما نه قبول شی (دا نۀ خوښوم) چه زۀ د هغے نه د خپل ځان نه روستو شپږ اُوقيه (يعنی دوه سوه څلويښت درهم) پريږدم۔ بيا ابوذرؓ عثمانؓ ته متوجه شو ورے فرمايل : عثمانه ! زۀ تا ته په الله باندے قسم درکوم چه آيا تا دا ارشاد آوريدلے دے۔ ابوذرؓ درے کرته دا خبره وکړه، نو عثمان وفرمايل: آؤ، (ما هم دا ارشاد آوريدلے دے) (احمدؒ)

تشريح : د ابوذر رضی الله عنه مذهب دا وو چه د نن ورځے رزق او مال صبا ته ساتل حرام دی، بلکه هغه به صدقه کوی، د هغه مذهب د مساوات وو ډير خلك د مساوات دعوے

کوی لیکن عمل پرے نکوی او ابوذرؓ پرے خپله عمل کولو صبا ته به ئے هیڅ نهٔ ساتل او په امت باندے دا مذهب چلول ډیر گران کار دے عام مسلمانان پدے باندے عمل نشی کولے ځکه بیا زندگی خرابیږی پدے باندے صرف د ابوذر ﷺ په شان زاهدان عمل کولے شی چه په دنیا کی بیخی بی رغبته وی او په الله باندے ئے پوره توکل وی او دهٔ دا خپل مذهب د احادیثو نه معلوم کړے وو دهٔ آوریدلی وو چه نبی ﷺ وفرمایل: که زما دپاره د جُبل احد هومره سرهٔ زر شی زهٔ ئے درے ورځوته نهٔ پریدم تول صدقه کوم، مخکی تیر شو چه (الاخسرون هم الاكثرون اموالا)۔ ډیرو مالونو والا تاوانیان دی مگر چه مال هر طرفته ولگوی۔ دا قسم احادیث ئے آوریدلی وو نو ظاهره کی د ابوذر ﷺ سره احادیث وو لیکن نورو اصولو د دین ته به هم گورے، نور قسمه احادیث به هم ددے سره ملگری کوے بیا به نتیجه راوباسے، په دغه احادیثو کی نبی ﷺ خپل زهد اوبی رغبتی په دنیا کی ذکر کوی چه زهٔ مال نهٔ ساتم چه که ما سره د احد غر هومره سرهٔ شی نو ما په درے ورځو کی ختمول، یا هغه مستحب طریقه ده چه مال صدقه کړی فرض او لازم نهٔ ده بل طرفته امت ته ئے اجازه ورکړے ده چه تاسو که زکاة ورکولو نو د مال ساتل درله جائز دی (صحیح الترغیب (١٧١٩) (إِذَا أَدَّيْتَ زَكَاةَ مَالِكَ فَقَدْ قَضَيْتَ مَا عَلَيْكَ) (کله چه تا د خپل مال زکاة ادا کړو نو تا خپله ذمه واری ادا کړه) ځکه چه الله میراث مقرر کړے که مال ساتل حرام شی نو بیا به د هیچا نه میراث نهٔ پاتی کیږی، دارنگه د زکاة نظام به بیخی ختم شی۔ ددهٔ دا مذهب ددهٔ دپاره ښه دے په ډیره اعلیٰ تقویٰ باندے عمل کوی لیکن په امت باندے دا قسم مذهبونه لازمول مناسب نهٔ دی، دا په خپل مذهب دومره کلک ولاړ وو چه سرے ئے هم پکی وهلے دے۔ او صحابه کرامؓ به ددهٔ سره پدے مذهب کی بحثونه هم کول دا به ئے چیړلو هم۔

د سیدنا عثمان ﷺ په مجلس کی کعب الاحبار رحمه الله ناست وو پدے کی ابوذر ﷺ راننوتو نو عثمانؓ د کعب الاحبارؒ نه تپوس وکړو چه عبد الرحمن بن عوفؓ نه ډیر مال پاتے شو نو ستا په هغے کی څه رایه ده؟ ابوذر ته ئے خبره آورولہ نو کعب صحیح جواب ورکړو چه که عبد الرحمن پکی د الله حق ادا کولو نو خیر دے څه گناه پکی نشته نو ابوذر له غصه ورغله او ډنډه ئے په امسا باندے ووهلو چه ته ولے د ځان نه مسئلے کوے او بیا ئے دغه حدیث په دلیل کی پیش کړو او عثمان نه ئے هم اقرار

واخستو چه آيا تا دا حديث د الله د نبي نه نهٔ دے آوريدلے نو هغه وويل چه ما هم آوريدلے دے۔ عثمان ورته جواب ورنکړو ځکه چه هغوی به د حديث نه جوابونه نهٔ كول بلـه دا چه كله يو مشر انسان وی نو د هغه سره بحثونه كول مناسب نهٔ وی هغه خپل اجتهاد كی ننوتے وو بس په هغے باندے پرينښودل مناسب وو۔ مگر ددے تشريح مخكی تيره شوه چه پدے كی رسول الله ﷺ خپل زهد بيانوی۔ او د امت حكم پدے مسئله كی جدا دے يو د رسول الله ﷺ ذاتی عمل دے او بل د امت دپاره حكم دے نو امت له مال ساتل جائز دی پدے شرط چه زكاة ترے ادا كوی او رسول الله ﷺ ځان دپاره مال نهٔ ساتلو نو ابوذرؓ تول امت د نبي عليه السلام په شان كول غوښتل۔

أَذَرُ : دا په حذف د (ان) سره د (احب) دپاره مفعول دے نو د تولے جملے معنیٰ داسے ده: كه الله تعالىٰ دومره زيات مال راكړی او زهٔ هغه د الله په لاره كی خرچ كړم او بيا هغه د الله په دربار كی قبول هم شی نو بيا هم زهٔ دا نهٔ برداشت كوم چه د هغه مال نه كم از كم شپږ اوقيه خپل ځان نه روستو پريدم۔ يعنی زهٔ د ځان نه روستو هيڅ قسم مال پرينښودل نهٔ خوښوم اگركه دومره معمولی شان هم وی۔ دا آخری لفظ د ابوذرؓ د مذهب دپاره دليل دے چه لږ غوندے مال به هم نهٔ ساتی۔

أَوَاقِيَّ : په مسند احمدؒ كی (ست اواق) دے او دغه شان په مجمع الزوائد كی هم۔

درجة الحديث: اسناده متكلم فيه والحديث حسن، فيه ابن لهيعة وحديثه حسن فی المتابعات اخرجه احمد فی مسند عثمان، وفی مسند احمد (٥/١٤٥) فی معناه حديث آخر (المرعاة)

- 1883(25) وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ :صَلَّيْتُ وَرَاءَ النَّبِيِّ ﷺ بِالْمَدِيْنَةِ الْعَصْرَ فَسَلَّمَ ثُمَّ قَامَ مُسْرِعًا فَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ إِلٰى بَعْضِ حُجَرِ نِسَائِهِ فَفَزِعَ النَّاسُ مِنْ سُرْعَتِهِ فَخَرَجَ عَلَيْهِمْ فَرَاٰى أَنَّهُمْ قَدْ عَجِبُوْا مِنْ سُرْعَتِهِ قَالَ : " ذَكَرْتُ شَيْئًا مِنْ تِبْرٍ عِنْدَنَا فَكَرِهْتُ أَنْ يَحْبِسَنِيْ فَأَمَرْتُ بِقِسْمَتِهِ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهُ قَالَ : " كُنْتُ خَلَّفْتُ فِي الْبَيْتِ تِبْرًا مِنَ الصَّدَقَةِ فَكَرِهْتُ أَنْ أُبَيِّتَهُ "

ترجمه : او سيدنا عقبه بن حارث ؓ فرمائی : ما په مدينه كی د نبی كريم ﷺ نه

روستو د مازيگر مونځ وكړو نو هغه سلام وګرځولو بيا په جلتئ سره پاڅيدو او د خپلو بيبيانو بعضو حجرو طرفته ئې د خلكو په څټونو باندے خپے واړولے نو خلك د هغه د جلتئ نه ګبراؤ شو، نو نبي ﷺ دوى ته راووتو نو وے ليدل چه صحابه كرامو د هغه د جلتئ نه تعجب كړيدے وے فرمايل: ما د سرو زرو څه شے راياد كړو چه مونږ سره دے نو ما بده وګڼړله چه هغه ما بند كړى نو ما د هغے په تقسيمولو حكم وكړو. (بخاري) او په يو بل روايت د بخاريؒ كې داسے الفاظ دى: نبي كريم ﷺ وفرمايل: ما په كور كې د سرو زرو څه حصه چه په زكاة كې راغلے وه پريخے وه (چه د تقسيم نه پاتے شوے وه) نو ما بده وګڼړله چه زۀ هغه د يوے شپے دپاره د ځان سره وساتم.

تعارف د عقبة بن حارث بن عامر بن نوفل بن عبد مناف بن قصي القرشي النوفلي المكي ﷺ، په فتح د مكه كې ئې ايمان راوړے، دده كنيه ابو سِروعه ده دا هغه شخص دے چه د اسلام نه مخكې ئې خبيب بن عدى رضى الله عنه شهيد كړے مګر دا خپله وائي چه زۀ په هغه وخت كې ووړوكے وم ابو ميسره زما لاس راواخستو او خبيب ئې په نيزه ووهلو.

تشريح : تِبْرًا : د سرو زرو ټكړو او حصو ته وائي.

أَنْ أُبَيِّتَهُ : يعني شپه تيره كړم د هغے سره.

فوائد الحديث :(١) ددے نه دا فائده معلوميږى چه د ضرورت په وخت كې د مانځه نه روسته متصل پاڅيدل جواز لرى او اذكار به په لاره وكړى.

(٢) كله چه سخت ضرورت وى نو د بل چا په اُوګو باندے خپے اړول جواز لرى.

(٣) د پردى مال په ادائيګئ كې كوشش پكار دے،

(٤) په مانځه كې يو شے رايادېدل مونځ نۀ فاسدوى او غير اختيارى طريقے سره رايادېدل خشوع او كمال د مانځه نۀ خرابوى.

(٥) د نيكئ په كار كې جلتى پكار ده ځكه چه مصيبت راتلے شى او موانع راپيښ كيدے شى او د مرګ نه امن نشته او خبره روسته كول نۀ دى مناسب بلكه په جلتئ سره پردے امانت سپارل پكار دى.

(٦) په صدقه يا زكاة كې د بل چا د طرفنه نيابت كول جائز دى اګركه هغه پرے بنه قادر وى. (٧) د ضرورت په وجه د عام عادت خلاف تيز مزل كول جائز دى.

(۸) په زکاۃ کی بلا وجه تاخیر کول جائز نهٔ دی لکه فقه السنه او فتاوی الدین الخالص کی ئے تفصیل وگوره۔ بعض خلك زکاۃ کال پورے ساتی، لږ لږ ورکوی دا غلطه طریقه ده۔

- 1884(26) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : كَانَ لِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ عِنْدِيْ فِيْ مَرَضِهِ سِتَّةُ دَنَانِيْرَ أَوْ سَبْعَةٌ فَأَمَرَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَنْ أُفَرِّقَهَا فَشَغَلَنِيْ وَجَعُ نَبِيِّ اللهِ ﷺ ثُمَّ سَأَلَنِيْ عَنْهَا : " مَا فَعَلَتِ السِّتَّةُ أَوِ السَّبْعَةُ ؟ "قُلْتُ :لَا وَاللهِ لَقَدْ كَانَ شَغَلَنِيْ وَجَعُكَ فَدَعَا بِهَا ثُمَّ وَضَعَهَا فِيْ كَفِّهِ فَقَالَ : " مَا ظَنُّ نَبِيِّ اللهِ لَوْ لَقِيَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ وَهٰذِهٖ عِنْدَهٗ ؟ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی: د رسول الله ﷺ دپاره زما سره د هغه په بیماریٔ کی شپږ دیناره (د سرو زرو روپیٔ) وے یا اُوه وے۔ نو ما ته رسول الله ﷺ حکم وکړو چه زهٔ هغه تقسیم کړم نو زهٔ د الله د نبی بیماریٔ مشغوله کړم (نو ما هغه تقسیم نهٔ کړے) بیا نبی کریم ﷺ زما نه د هغے په باره کی تپوس وکړو: شپږو یا اوه دینارو سره څه وشو؟ ما وویل : (ما هغه لا تر اُوسه نهٔ دی تقسیم کړی) قسم په الله زهٔ ستا بیماریٔ مشغوله کړے یم، بیا نبی ﷺ هغه راوغوښتے بیا ئے په خپل تلی کی کیخودے او وے فرمایل: د الله د نبی به څه گمان وی که د الله سره ملاؤ شی او دا روپیٔ د هغه سره وی؟۔ (احمدؒ)۔

تشریح : طیبیؒ وائی د رسول الله ﷺ په لاس کی دغه روپیٔ کیخودل او بیا دا لفظ ذکر کول چه (نبی الله) بیا په (هذه) سره اشاره کول پدے کی دغه بد حالت راښکاره کول دی چه د یو نبی سره دا حالت ښه نهٔ ښکاری چه د الله سره ملاؤ شی پداسے حال کی چه د هغه سره دا سپك او رذیل شے وی، آه۔ یعنی دا د مقام د نبوت منافی خبره ده چه د الله نبی د دنیا نه رخصت شی او د هغه په کور کی مال او زر موجود وی۔ پدے کی عائشے رضی الله عنها ته دا تنبیه وه چه دا اشرفیٔ په کور کی پاتی کیدل ما ته بیخی خوښ نهٔ دی دا فوراً تقسیم کړه۔

(۱) د رسول الله ﷺ کثرتِ خوف (۲) او زهد (۳) او په نیکیٔ کی جلتی ترے معلومه شوه۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، اخرجه احمد وفی معناه رواية اخرى لعائشة ايضاً

- 1885(27) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ دَخَلَ عَلَى بِلَالٍ وَعِنْدَهُ صُبْرَةٌ مِنْ تَمْرٍ فَقَالَ :" مَا هٰذَا يَا بِلَالُ ؟ " قَالَ : شَيْءٌ اِدَّخَرْتُهُ لِغَدٍ. فَقَالَ: " أَمَا تَخْشَى أَنْ تَرَى لَهُ غَدًا بُخَارًا فِي نَارِ جَهَنَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنْفِقْ بِلَالُ وَلَا تَخْشَ مِنْ ذِي الْعَرْشِ إِقْلَالًا "

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: یقیناً نبي کریم ﷺ د بلال خوا ته تشریف راوړو او د هغه سره د کجورو یو ډیرئ پرته وه، نو وے فرمایل : اے بلاله! دا څه دی؟ هغه عرض وکړو : دا هغه شے دے چه ما د صبا (یعنی د راتلونکی ضرورت) دپاره جمع کړیدے. نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: آیا ته نهٔ یریږے چه ته ددے دپاره صبا له په اُور د جهنم کی د قیامت په ورځ بخار وینے، (بیا ئے وفرمایل:) اے بلاله ! خرچه کوه او د عرش د مالك نه د فقر او غریبئ نه مهٔ یریږه.

تشریح : صُبْرَةٌ مِنْ تَمْرٍ : ډیرے، پنډ د کجورو.

إِقْلَالًا: ای فَقْرًا وَإِعْدَامًا ۔ فقیر والے او ختمول. یعنی دا یره مهٔ کوه چه د عرش مالك به ما فقیر کړی او مال به مے ختم کړی او بیا به راته څه نهٔ ملاویږی.

دلته د ذی العرش لفظ راوړل ډیر په ښه موقعه کی استعمال شویدی یعنی آیا ته یریږے چه ستا په شان سړی لره به هغه ذات ضائع کړی چه د آسمان نه تر زمکے پورے د کارونو تدبیر او پروګرام کوی. او د عرش غوندے د لوی مخلوق مالك دے.

د (غَدًا) نه مراد د قیامت ورځ ده. او د بخار نه مراد اثر دے او مطلب دا دے چه آیا ته غواړے چه د قیامت په ورځ ددے په سبب د جهنم د اُور اثر تا ته ورسیږی ګویا که دا ددے خبرے نه کنایه ده چه ذخیره اندوزی جهنم ته نزدے ده او ددے حاصل دا دے چه که ته په الله باندے توکل نهٔ کوے او د فقر او افلاس د یرے نه ذخیره اندوزی کوے نو ددے په وجه سره به جهنم ته نزدے شے.

أَنْفِقْ بِلَالُ : یعنی ذخیره اندوزی مهٔ کوه بلکه کوم څه چه دے جمع کړیدی هغه د الله په نوم خرچ کړه، د فقر او افلاس نه یره مهٔ کوه بلکه په الله باندے اعتماد او بهروسه ساته څکه چه کوم قادر مطلق ذات چه لوی عرش پیدا کړیدے او ته ئے پیدا کړے ئے هغه به تا ته روزی هم رارسوی نو نبی ﷺ بلال ته د اعلیٰ مقام حاصلولو تعلیم ورکړو

چه هغه توکل او په لوی ذات باندے اعتماد کول دی۔
د بلال لفظ نه مخکی حرف نداء (یا) حذف ده۔
بیا ددے حدیث نه معلومیږی چه مال ذخیره کول صحیح نهٔ دی مگر اصل کی پدے کی امر دے په حاصلولو د کامل مقام ورنه د نورو روایاتو نه معلومیږی چه د یو کال پورے د اهل وعیال دپاره د مال ذخیره کول جائز دی۔ دا وجه ده چه بعض علماؤ وئیلی دی چه دا حدیث د اسلام په ابتدائی زمانه کی وئیل شویدے چه په هغه وخت کی د مال ذخیره کول حرام وو بیا دغه نهی منسوخ شوه او مال ساتل حلال شو او خلکو باندے چه اشتباه راځی نو دا پدے وجه چه په نسخ باندے ئے علم نهٔ وی (قاله السیوطیؒ) یا امر د استحباب دپاره دے، یا انفاق نهٔ کول د وجه د بدگمانئ نه په الله باندے غلط کار دے۔

درجة الحديث: اسناده حسن اخرجه البيهقي وكذا البزار وابويعلى والطبراني في الكبير والاوسط وفي رواية الطبراني الاولى محمد بن حسن بن زبالة وفي الثانية: طلحة بن زيد القرشي وكلاهما ضعيف، وقال الهيثمي في مجمع الزوائد (٤٧٠١): رواه الطبراني في الكبير وفيه مبارك بن فضالة وهو ثقة وفيه كلام وبقية رجاله رجال الصحيح ورواه الطبراني في الاوسط باسناد حسن وقال المنذري في الترغيب باسناد حسن وكذا قال الحافظ ابن حجر في زوائده: (اسناده حسن)

- 1886 (28) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " اَلسَّخَاءُ شَجَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ فَمَنْ كَانَ سَخِيًّا أَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْهَا فَلَمْ يَتْرُكْهُ الْغُصْنُ حَتّٰى يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ. وَالشُّحُّ شَجَرَةٌ فِي النَّارِ فَمَنْ كَانَ شَحِيْحًا أَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْهَا فَلَمْ يَتْرُكْهُ الْغُصْنُ حَتّٰى يُدْخِلَهُ النَّارَ ". رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه: او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: سخاوت په جنت کی یوه ونه ده نو څوك چه سخی وی هغه به د هغه ونے یوه څانګه ونیسی نو دغه څانګه به ئے نهٔ پریدی تردے چه جنت ته ئے داخل کړی او بخل په اُور کی یوه ونه ده نو څوك چه بخیل وی هغه به رانیسی یوه څانګه د دغه ونے نه نو دغه څانګه به دهٔ لره نهٔ پریدی تردے چه اُور ته به ئے ننباسی۔ (دا دواړه روایتونه بیهقیؒ په شعب الایمان کی

نقل کړیدی)۔

تشریح : سخاوت ئے د ونے سره مشابه کړو لکه څنګه چه ونه غټیږی او د هغے ډیرے څانګے او ښاخونه وی دغه شان سخاوت هم یو لوی صفت دے چه ددے هم ډیر شاخونه او قسمونه دی نو چا چه ددے نه یو شاخ ونیولو یعنی یو قسم ئے ونیولو نو نتیجه به ئے دا شی چه الله به ئے ددے په سبب جنت ته داخل کړی۔

بعض علماء وائی چه مطلب دا دے چه سخاء د ایمان په قوت باندے دلالت کوی څکه چه په دے کی دا عقیده وی چه الله تعالیٰ د رزق ذمه وار دے نو څوك چه په دے عقیده وفات شی نو جنت ته به ئے ورسوی او بخل د ایمان په کمزورتیا دلیل دے څکه چه د الله په ذمه واری باندے ئے اعتماد نۀ وی او دا انسان زاکاری د ذلت کور ته چه جهنم دے۔

درجة الحدیث: اسناده فیه کلام، رواه البیهقی فی الشعب وفیه عبد العزیز بن عمران الزهری ضعیف جدا واخرجه ابن عدی وفیه داود بن الحصین حدث عن الثقات بما لا یشبه حدیث الاثبات (ابن الجوزی) ولکنه من رجال الستة ثقة الا فی عکرمة وللحدیث شواهد بها یرتقی الی درجة الحسن ان شاء اللّٰه تعالیٰ وتفصیله فی المرعاة (٦/٣١٨)

- 1887(29) وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" بَادِرُوْا بِالصَّدَقَةِ فَإِنَّ الْبَلَاءَ لَا يَتَخَطَّاهَا ". رَوَاهُ رَزِيْنٌ

ترجمه : او سیدنا علی ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: په صدقه کولو باندے جلتئ وکړئ څکه مصیبت نۀ راتیریږی د صدقے نه۔ (یعنی د الله په لاره کی خرچ کولو سره مصیبتونه روستو کیږی) (رزین)

تشریح : "بَادِرُوْا : یعنی د مرګ او مرض او فقر نه مخکی په صدقه کولو جلتی وکړئ۔ فَإِنَّ الْبَلَاءَ لَا يَتَخَطَّاهَا " : مصیبت د صدقے نه نۀ تیریږی بلکه د هغے مخے ته ودریږی یا واپس کیږی او صاحب د صدقے ته هغه مصیبت نۀ رسیږی۔

درجة الحدیث: رواه رزین وعزاه الهیثمی والمنذری والسیوطی للطبرانی فی الاوسط قال الهیثمی فیه عیسی بن عبد اللّٰه بن محمد وهو ضعیف)

٦- باب فضل الصدقة

د صدقې د فضیلت بیان۔

اُوس د صدقې معنیٰ او فضائل بیانوی، مناسبت او فرق دا دے چه مخکې صرف د مال صدقه وه او دلته مطلق صدقه ذکر کوی چه هغه مال او غیر مال دواړو ته شامل ده لکه روستو رازی کولاؤ تندی باندے مسلمان سره ملاویدل هم صدقه ده، نیکے خبرے کول هم صدقه ده۔

او مشهوره معنیٰ د صدقې دا ده چه انسان ئے د خپل مال نه وباسی دپاره د ثواب او الله ته د نزدے کیدو، برابره ده چه فرضی صدقه وی او که نفلی دیته صدقه ځکه وائی چه پدے سره د بنده جنت سره رشتینی رغبت (مینه) معلومیږی یا په رشتینی ایمان باندے دلالت کوی۔

الفصل الأول

- 1888(1) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ تَصَدَّقَ بِعِدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ وَلَا يَقْبَلُ اللهُ إِلَّا الطَّيِّبَ فَإِنَّ اللهَ يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِيْنِهِ ثُمَّ يُرَبِّيْهَا لِصَاحِبِهَا كَمَا يُرَبِّيْ أَحَدُكُم فَلُوَّهُ حَتّٰى تَكُوْنَ مِثْلَ الْجَبَلِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه صدقه وکړه په اندازه د یوه کجوره د حلال کسب (مال) نه او (پدے خبره ځان پوهه کړئ چه) الله تعالیٰ نهٔ قبلوی مګر حلال نو یقیناً الله تعالیٰ دغه کجوره په خپل ښی لاس کی اروی بیائے د خپل صاحب دپاره زیاتوی لکه څنګه چه غټوی یو تن ستاسو بچے د اس خپل تردے چه دغه کجوره د غره په شان شی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ).

تشریح : بِعِدْلِ : دا په فتحه د عین سره مثل ته وائی چه د غیر جنس نه وی او

عِدل په کسره سره هغه مثل دے چه د جنس نه وی۔
کَسْبٍ : هغه مال ته وائی چه راجمع شوے وی نو د کسب طیب نه مراد هغه مال دے چه په حلاله طریقه سره راجمع شوے وی یعنی د شرعی اصولو مطابق په تجارت او صنعت، زراعت او ملازمت او وراثت وغیره طریقو سره حاصل شوے وی۔
نو د صدقے د قبلیدو دپاره ئے شرط ذکر کړو چه د پاك او حلال مال نه به وی بیا برابره ده چه په میراث کی پاتی وی او که خپل لاس باندے ئے گټلے وی یا ورته چا هبه کړے وی ځکه چه الله هم پاك ذات دے صرف پاك او حلال قبلوی نو الله تعالیٰ ئے په ښی لاس قبلوی، ښے لاس ئے ذکر کړو دا کنایه ده د ښائسته قبلولو نه او ددے نه چه دا صدقه په ډیره ښائسته موقعه کی واقع شوه چه هغه د الله د رضا موقعه ده او د الله دواړه لاسونه ښی دی نو ښے لاس ئے د تعظیم دپاره ذکر کړو۔
بیا ددے صدقے نه مراد هر قسمه صدقه ده چه د الله په لاره کی وی او که یو مسکین ته ورکړے شی یا په خپل اهل وعیال باندے خرچ شی نو یوه کجوره د غره نه زیاتیږی نو دا کرورونه هم زیات ثواب جوړیږی۔
فَلُوَّهُ : د فاء فتحه ده او د واو شد دے، پدے کی یو لغت د فاء کسره او د لام سکون هم راغلے دے۔ د اس بچی ته وائی کله چه د تی نه پریکړے شی نو پدے وخت کی دا د مور نه سِویٔ تربیت ته محتاج وی۔
بیا دا صدقه ولے د غر په شان کیږی او په بل روایت کی (حَتّٰی تَكُوْنَ أَعْظَمَ مِنَ الْجَبَلِ) د غر نه غټیږی؟ ددے وجه څه ده ؟ نو وجه دا ده چه د اس بچے چه کله د مور نه پریکړے شی نو مالك ئے ډیر خیال ساتی، وخت په وخت پرے نظر کوی نو زر زر تربیت اخلی او غټیږی نو دغه شان الله تعالیٰ چه کله د بنده دا صدقه په لاس کی واخلی نو وخت په وخت ورته گوری او په هر نظر کی پرے خپل رحمت راگوزاری تردے چه دا صدقه کمال ته ورسوی نو د غره نه هم زیاته غټه شی۔
په روایت د ابن جریرؒ کی دی : (حَتّٰی يُوَافِي بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَهِيَ أَعْظَمُ مِنْ أُحُدٍ) تردے چه الله تعالیٰ به ئے د قیامت په ورځ دے بنده ته پوره ورکړی او دا به د اُحد غر نه ډیره لویه وی۔ او په روایت د ترمذیؒ کی دی : (حَتّٰی إِنَّ اللُّقْمَةَ لَتَصِيْرُ مِثْلَ أُحُدٍ)
تردے چه یوه نوړیٔ د احد د غر په شان جوړیږی۔ بیا دا صدقه بعینهٖ د غره نه لویه

کیږی نو په میزان کی به ډیره درنه وی یا ددے ثواب مراد دے۔

حکمة : د صدقے د ډیروالی وجه دا ده چه کله مؤمن صدقه وکړی په یوه درجه الله تعالیٰ ته قبوله شی بیا چه کله وروسته نوز نیك اعمال کوی نو الله تعالیٰ هغه مخکی عمل ورسره ډیره وی، لکه یو سړے ستا اکرام وکړی ته وائے ښه سړے دے چه صبا بیا څه درکړی ته وائی چه ډیر ښه سړے دے چه بیا خدمت وکړی نو ستا په نیز د هغه وړوکے صدقه هم ډیره زیاته شی تردے چه کله سړے وائی فلانی که ما ته کنځل وکړی نو هم زهٔ به خفه نشم لکه الله تعالیٰ د بدریانو په باره کی وئیلی وو (اِعۡمَلُوۡا مَا شِئۡتُمۡ فَقَدۡ غَفَرۡتُ لَکُمۡ) کوئ چه څه مو وکړل یقیناً ما تاسو ته بخنه کړیده) دا ډیر عجیب مثال دے او پدے باندے دا قول د نبی ﷺ (کما یربی احدکم فلوّه) دلالت کوی۔

- 1889(2) وَعَنۡ أَبِیۡ هُرَیۡرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوۡلُ اللهِ ﷺ : " مَا نَقَصَتۡ صَدَقَةٌ مِنۡ مَالٍ شَیۡئًا وَمَا زَادَ اللهُ عَبۡدًا بِعَفۡوٍ إِلَّا عِزًّا وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلّٰهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ". رَوَاهُ مُسۡلِمٌ.

ترجمه : او سیدنا ابو هریرهٔ ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: صدقه د مال نه هیڅ شے نهٔ کموی او نهٔ زیاتوی الله تعالیٰ یو بنده لره په معافی د هغه سره مگر عزت (د هغه) او عاجزی نهٔ کوی یو تن د الله دپاره مگر الله تعالیٰ به ئے پورته کوی۔ (مسلمؒ)

تشریح : مَا نَقَصَتۡ : په ظاهره کی چه د سل روپو نه یوه روپئ ورکړی نو کم شو لیکن د الله نبی وائی چه دا په حقیقت کی نهٔ دے کم ځکه چه الله تعالیٰ به په دغه باقی روپو کی د سلو نه زیات برکت واچوی، یا به ددے په بدله کی په دنیا کی غوره بدله ورکړی یا به په آخرت کی لوی ثواب ورکړی نو د آخرت په لحاظ دے کمے نهٔ دے راوستے۔ دا په ظاهر کی د عقل خلاف ښکاری مگر پدے باندے ایمان لرل پکار دی چه الله به دغسے بدلے ورکوی۔

بِعَفۡوٍ : یعنی یو بنده باندے ظلم وشو او هغه معافی وکړه او ښه قادر وی چه د ظالم نه انتقام واخلی لیکن معاف ئے کړی نو دے به وائی چه زما بی عزتی وشوه لیکن د الله نبی فرمائی : خامخا پدے سره ددهٔ عزت زیاتیږی ځکه څوك چه په معافی باندے مشهور شی نو د خلکو په زړونو کی اُوچت ښکاره کیږی او ددهٔ عزت او اکرام

زیاتیږي. یا دا چه په آخرت کې به ئې عزت زیات کړي چه اجر او ثواب به زیات ورکړي یا په دنیا او آخرت دواړو کې مراد دے.

وَمَا تَوَاضَعَ : یعني یو تن د خپلے مستحقے مرتبے نه ځان راښکته کړي دے دپاره چه الله ته عاجزي کوي او هغه ته ځان نزدے کوي بل څه غرض ئې نهٔ وي نو دا به الله تعالی خامخا پورته کوي هرچه په دنیا کې ددهٔ اُوچتول دي نو د خلکو په زړونو کې به دا اُوچت ښکاره کړي او خلك به ئې عزت کوي او ددهٔ مرتبه به اُوچته ښکاره شي او هرچه په آخرت کې دے نو ددهٔ درجات او ثوابونه به پورته کړي یا په دنیا او آخرت دواړو کې مراد دے.

درے څیزونه ئې ذکر کړل دے کې فائده دا ده چه انسان د صدقے په وجه په سخاء او کرم سره ښائسته ښکاره کیږي او په معافي سره حِلم او قار پیدا کیږي او په تواضع سره ئې په دنیا او آخرت کې مرتبے او درجے پورته کیږي. (طیبیؒ)

- 1890(3) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ مِنْ شَيْءٍ مِنَ الْأَشْيَاءِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ دُعِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ وَلِلْجَنَّةِ أَبْوَابٌ فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلَاةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلَاةِ وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ ". فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ: مَا عَلٰى مَنْ دُعِيَ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ مِنْ ضَرُوْرَةٍ فَهَلْ يُدْعٰى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ كُلِّهَا ؟ قَالَ : " نَعَمْ وَأَرْجُوْ أَنْ تَكُوْنَ مِنْهُمْ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چه د څیزونو نه د یو شي دوه (یعنی جوړئ) د الله په لاره کې خرچ کړے (نو) د جنت د دروازو نه به راوبللے شي او د جنت دپاره (اته) دروازے دي نو څوك چه د مونځ ګزارو نه وي نو هغه به د مانځه د دروازے نه رابللے شي او څوك چه د جهاد والو نه وي نو د جهاد دروازے نه به رابللے شي او څوك چه د صدقے والو نه وي نو د صدقے د دروازے نه به رابللے شي او څوك چه د روژه دارو نه وي (نو) د ریان (مرخ) دروازے نه به رابللے شي. نو ابوبکر صدیق ﷺ وفرمایل : څوك چه د (بعض) دغه دروازو نه رابللے شي (د هغه) هیڅ

ضروت (پاتے) نشو۔ خو آیا (داسے) یو تن به (وی چه) د دغه ټولو دروازو نه رابللے کیږی؟ نبی ﷺ وفرمایل: آؤ، او زما امید دے چه ته به د دغه خلکو نه ئے (چه د ټولو دروازونه به ورته آواز کیدے شی)۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : زَوْجَيْنِ : یعنی د یو جنس نه څوك دوه څیزونه ورکړی لکه دوه کتابه، دوه روپۍ، دوه قلمونه د الله د رضا دپاره که په هر څه کی ئے ورکړی نو دا به د جنت د یوے دروازے نه رابللے کیږی ځکه چه په جنت کی یوه دروازه باب الصدقة ده۔

فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلَاةِ : پدے کی اُوس ترغیب ورکوی چه هغه انسان خو به ډیر بختور وی چه ددے ټولو دروازو نه ورته آواز کیږی نو د صدقے سره په بنده کی دغه صفتونه پیدا کیدل هم ضروری دی۔ چه د ټولو دروازونه ورته آواز وشی۔نو که دغه صدقے والا په هر عمل کی مخکی وو نو د ټولو دروازونه به ورته آواز کیږی۔ لکه ابوبکر صدیق رضی الله عنه سابق بالخیرات دے د هرے دروازے نه به ورته آواز کیږی۔

بیا پدے روایت کی دوه مطلبه دی یو مطلب مخکی بیان شو (٢) دویم مطلب دا چه څوك یو شے صدقه کړی نو هغه ته به صرف د باب الصدقے نه آواز کیږی نۀ د ټولو دروازو نه او که دوه څیزونه صدقه کړی نو د ټولو دروازونه به ورته آواز کیږی نو بناء پدے به (فمن کان من اهل الصلاة الخ)) ماسویٰ وی د هغه شخص نه چه دوه جوړه څیزونه صدقه کړی۔ لیکن اوله معنیٰ صحیح ده ځکه روستنه ابوبکر صدیق رضی الله عنه وائی چه (فهل یدعی احد من تلك الابواب کلها) دا سوال هله پیدا کیږی چه مخکی یوه دروازه مراد شی۔

بیا چه په چا کی کوم عمل زیات وی او په هغے کی مخکی وی نو په هغه دروازه به داخلیږی۔

- 1891(4) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " مَنْ أَصْبَحَ مِنكُمُ الْيَوْمَ صَائِمًا ؟ "قَالَ أَبُو بَكْرٍ :أَنَا قَالَ : " فَمَنْ تَبِعَ مِنكُمُ الْيَوْمَ جَنَازَةً ؟ "قَالَ أَبُو بَكْرٍ :أَنَا. قَالَ : " فَمَنْ أَطْعَمَ مِنكُمُ الْيَوْمَ مِسْكِينًا ؟ " قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَنَا. قَالَ :" فَمَنْ عَادَ مِنكُمُ الْيَوْمَ مَرِيضًا ؟. قَالَ أَبُو بَكْرٍ : أَنَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ :" مَا اجْتَمَعْنَ فِي امْرِئٍ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك ستاسو نه نن ورځ روژه دے؟ ابوبكر وفرمايل : زهٔ، وے فرمايل: تن ستاسو نه څوك د جنازے پسے تلے دے، ابوبكر ووبل : زهٔ، وے فرمايل: چا په تاسو كې نن ورځ مسكين ته خوراك وركړيدے؟ ابوبكر ووبل : ما، وے فرمايل: چا په تاسو كې نن ورځ د بيمار تپوس كړيدے؟ ابوبكر ووبل : ما، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: دا كارونه (په يوه ورځ كې) په شخص كې نهٔ راجمع كيږي مګر جنت ته به داخليږي۔ (مسلمؒ)

تشريح : مَا اجْتَمَعْنَ : يعني دا كارونه چه په يوه ورځ په يو بنده كې راجمع شي نو خامخا به جنت ته داخليږي كه مړ شو سيده به جنت ته ځي۔ دويمه معنیٰ دا هم كيدے شي چه دغه صفتونه چه چا كې په ژوند كې راجمع شي څه يو ورځ او څه بله ورځ او څه بله ورځ نو الله به ئے جنت ته داخل كړي د كومے دروازے نه چه غواړي لكه مخكې ذكر شو۔ ليكن اول مطلب ظاهر دے لكه (اليوم) لفظ پرے دليل دے۔

فوائد : (۱) پدے واقعه كې د ابوبكر صديق ﷺ فضيلت او د هغه علو (اُوچت) همت او د هغه كمال ذكر دے۔ (۲) دارنګه د يو شخص نه چه د عمل تپوس وشي هغه به جواب وركوي او دا رياكاري نهٔ ده۔

- 1892(5) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " يَا نِسَاءَ الْمُسْلِمَاتِ! لَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ فِرْسَنَ شَاةٍ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: اے مسلمانانو زنانو ! يوه ګاونډئ دے د بلے ګاونډئ (په تحفه او صدقه كې ليږلے شوے هيڅ شے) سپك نهٔ ګنړي اګركه د ګډے ښنګرے وي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : جَارَةٌ لِجَارَتِهَا : د اول جارے نه مراد صدقه كونكے ده يعني صدقه كونكے دے د خپلے ګاونډئ په حق كې معمولي شے هم سپك نهٔ ګنړي بلكه هغه دے هم صدقه كوي۔ يا د اولے جارے نه مراد هغه ښځه ده چه هغے ته د خپلے يوے ګاونډئ د طرف نه صدقه او هبه وركړے شي نو هغه دے هم معمولي نهٔ ګنړي اګركه داسے شے ئے وركړه راليږلے وي چه ډيره فائده ترے نهٔ اخستلے كيږي۔ تشه شوربا (خوروا) راليږل هم لوي شے دے۔

ښځو ته ئې خطاب وکړو ځکه چه ښځو کې دا صفت زيات دے چه د گاونډئ هديه سپکه گڼړي او پدے کې ترغيب دے چه ضرور چا ته څه هديه ورکوئ اگرکه معمولي وی۔
وَلَوْ فِرْسَنَ شَاةٍ : فرسن هغه هډوکے چه غوښه ئې کمه وی يعنی ښنگرے۔

- 1893(6) وَعَنْ جَابِرٍ وَحُذَيْفَةَ قَالَا: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: "كُلُّ مَعْرُوْفٍ صَدَقَةٌ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سيدنا جابر او حذيفه رضی الله عنهما فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: هره نيکی صدقه ده۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)
تشريح : يعنی هر نيك عمل په حکم د صدقه کی دے الله پرے د صدقے هومره اجر ورکوی۔ معروف : هر هغه شی ته وائي چه شرع او عقل دواړه ئې ښائسته گڼړي۔ بلکه په بعض اوقاتو کی يو نيك عمل د صدقے نه هم ډير ثواب لري۔

- 1894(7) وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: "لَاتَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوْفِ شَيْئًا وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلِيْقٍ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سيدنا ابوذر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د نيکئ نه هيڅ شے سپك مهٔ گڼړه اگرکه تهٔ د خپل ورور (مسلمان) سره په کولاؤ مخ ملاؤ شے۔ (دا هم لويه نيکی ده) (مسلمؒ)
تشريح : يعنی نيك کار سپك مهٔ گڼړه اگرکه يو وړوکے او آسان عمل وی لکه مثلاً مسلمان سره په کولاؤ مخ ملاويدل هم نيکی ده دا د خوش اخلاقئ نښه ده او مسلمان ته هم پرے خوشحالی رسيږی او مسلمان ته خوشحالی رسول هم نيکی ده۔

- 1895(8) وَعَنْ أَبِيْ مُوْسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ:قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ صَدَقَةٌ". قَالُوْا: فَإِنْ لَّمْ يَجِدْ ؟ قَالَ : " فَلْيَعْمَلْ بِيَدَيْهِ فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ وَيَتَصَدَّقُ ". قَالُوْا : فَإِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ ؟ أَوْ لَمْ يَفْعَلْ ؟ قَالَ : " فَيُعِيْنُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوْفَ ". قَالُوْا : فَإِنْ لَّمْ يَفْعَلْهُ ؟ قَالَ : " فَيَأْمُرُ بِالْخَيْرِ ". قَالُوْا: فَإِنْ لَّمْ يَفْعَلْ ؟ قَالَ :" فَيُمْسِكُ عَنِ الشَّرِّ فَإِنَّهُ لَهُ صَدَقَةٌ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابوموسی اشعری ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: په هر مسلمان باندے صدقه لازمه ده، صحابه كرامو عرض وكړو: كه (د صدقے دپاره څه) نهٔ مونده كوي؟ (نو څه به كوي؟) وے فرمايل: نو په لاسونو دے كاروبار وكړي نو ځان ته به فائده ورکړي او (په بل به) صدقه وكړي۔ صحابه كرامو عرض وكړو: كه ددے طاقت نهٔ لري (چه محنت مزدوري وكړي) يا ئے داسے وفرمايل: كه دا نشي كولے؟ وے فرمايل: نو مدد به وكړي د حاجتمند غمزده سره۔ صحابه كرامو عرض وكړو: كه دا هم ونهٔ كړي؟ وے فرمايل: نو په نيكئ دے حكم وكړي۔ صحابه كرامو عرض وكړو: كه دا هم نشي كولے؟ وے فرمايل: نو د شر (تكليف) نه (دے ځان يا بل) بند وساتي نو دا هم ددهٔ دپاره صدقه ده۔ (يعني د صدقے ثواب به ورته ملاويږي) (بخاريّ ومسلمٌ)

تشريح : فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ : يعني كه يو انسان په خپلو لاسونو كاروكسب كوي، مزدوري تجارت وغيره او د هغے نه په خپل ځان خرچه كوي او په هغه چا چه په دهٔ باندے ئے نفقه لازمه وي او په دے سره د سوال د ذلت نه خلاص شي نو دا هم ددهٔ دپاره صدقه شوه۔

اَلْمَلْهُوْفِ : غمزده، محتاج، سترے ستومانه، مظلوم ټولو ته شامل دے (نووي وغيره)

د مسلمان حاجت پوره كول، د هغه دپاره كاروبار پيدا كول پوره نيكياني دي خو د ماديانو پدے دور كي د لالچ نه بغير د مسلمان حاجت پوره كول خلكو ته د وخت ضائع كول ښكاري۔

فَيُمْسِكُ عَنِ الشَّرِّ : ليكن دے سره دا مراد دے چه د ثواب نيت به ئے وي پدے نيت به كور كي، مسجد كي يا يو طرف ته كيني چه چا ته مے شرونهٔ رسي۔

امام نووي رحمه الله پدے حديث باندے په «رياض الصالحين» كي داسے باب اينبودے دے بَابُ بَيَانِ كَثْرَةِ طُرُقِ الْخَيْرِ ۔ د خير او نيكئ ډيرے طريقي دي نو پدے حديث كي دا تيزي شوه چه چا ته يو نيك كار گران شو بل ته دے نقل شي، هيڅ حالت به ئے د نيكئ نه بچ نهٔ پاتي كيږي۔ او كه څوك د مالي صدقے نه عاجز شي نو نورے صدقے ورله شته هغه دے كوي۔

- 1896 (9) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " كُلُّ سُلَامٰى مِنَ النَّاسِ

عَلَيْهِ صَدَقَةٌ كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ فِيهِ الشَّمْسُ : يَعْدِلُ بَيْنَ الِاثْنَيْنِ صَدَقَةٌ وَيُعِينُ الرَّجُلَ عَلَى دَابَّتِهِ فَيَحْمِلُ عَلَيْهَا أَوْ يَرْفَعُ عَلَيْهَا مَتَاعَهُ صَدَقَةٌ وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ وَكُلُّ خُطْوَةٍ يَخْطُوهَا إِلَى الصَّلَاةِ صَدَقَةٌ وَيُمِيطُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: په هر جوړ د انسانانو باندے (یعنی د هغے د طرفنه) صدقه ورکول لازم دی، په هره ورځ چه نمر په هغے کی راخیژی، چه د دوه کسانو په مینځ کی انصاف وکړی (دا هم) صدقه ده او چه مدد وکړی د یو سړی سره د هغه په حیوان باندے چه هغه پرے سور کړی یا هغه ته په هغے باندے سامان ورپورته کړی (دا هم) صدقه ده او پاکه (نیکه) خبره صدقه ده او هر قدم چه مانځه طرفته ئے اخلی صدقه ده او د لارے نه چه ضرری شے لرے کړی صدقه ده۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : "کُلُّ سُلَامٰی : د ګوتو سرونو یا جوړونو ته وائی چه هغه د هر انسان په بدن کی درے سوه شپیته (۳٦۰) دی پدے کی واحد او جمع یو شان استعمالیږی بعض وائی جمع ئے سُلامیات ده۔ بعض وائی ددے نه مراد د بدن هر هډوکے دے۔ مطلب دا دے چه په هر مسلمان مکلف باندے په شمار د هر جوړ باندے صدقه ده چه د الله دپاره به ئے ورکوی دے دپاره چه د هغه شکر ادا کړی ځکه چه الله تعالیٰ په بنده دا عظیم احسان کړے چه ددهٔ په بدن کی ئے هډوکی او جوړونه پیدا کړی که دا نهٔ وے نو انسان به په ډیرو کارونو نهٔ وے قادر، نهٔ به ئے څه رانیولے شوے، نهٔ به ئے مزل کولے شوے، نهٔ به پاڅیدے، کیناستے شوے نهٔ به ئے دده لګولے شوے نو پدے هر جوړ باندے صدقه پکار ده چه انسان به ئے ددے د طرفنه ادا کوی۔

د ضُحیٰ په وخت کی دوه رکعاته کول ددے درے سوه شپیته جوړونو بدله خلاصوی لکه دا په بل روایت کی راغلی دی۔

يَعْدِلُ بَيْنَ الِاثْنَيْنِ : یعنی د دوه کسانو ترمینځ جوړجاړے راولی، یا د دوه جګړه مارانو ترمینځ فیصله وکړی یا دوه یو بل سره وران کسان روغ کړی۔ بعض وائی د يَعْدِلُ معنیٰ دا ده چه د دوه کسانو ترمینځ په عدل فیصله وکړی۔

(یعدل بین الاثنین) مبتداء ده په تاویل د مصدر سره او (صدقة) ئے خبر دے۔ یا په

خپله معنیٰ فعلی باندې دې۔

خُطْوَةٍ : په ضمه د خاء سره د دوه قدمونو ترمینځ فاصلې ته وائی او په فتحه د خاء سره مصدر دې قدم اخستو ته وائی۔

- 1897(10) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " خُلِقَ كُلُّ إِنْسَانٍ مِنْ بَنِي آدَمَ عَلٰى سِتِّيْنَ وَثَلَاثِمِائَةِ مِفْصَلٍ فَمَنْ كَبَّرَ اللّٰهَ وَحَمِدَ اللّٰهَ وَهَلَّلَ اللّٰهَ وَسَبَّحَ اللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَ اللّٰهَ وَعَزَلَ حَجَرًا عَنْ طَرِيْقِ النَّاسِ أَوْ شَوْكَةً أَوْ عَظْمًا أَوْ أَمَرَ بِمَعْرُوْفٍ أَوْ نَهٰى عَنْ مُنْكَرٍ عَدَدَ تِلْكَ السِّتِّيْنَ وَالثَّلَاثِمِائَةِ فَإِنَّهٗ يَمْشِيْ يَوْمَئِذٍ وَقَدْ زَحْزَحَ نَفْسَهٗ عَنِ النَّارِ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل : هر انسان د بنیادمانو نه په درې سوه شپیته جوړونو باندې پیدا کړې شوید ې نو چا چه الله اکبر وویلو، او الحمد لله ئې وویله او لا اله الا الله ئې وویله او سبحان الله ئې وویله او استغفر الله ئې وویله او د خلکو د لارې نه ئې یو کاڼړې یا ازغې یا هډوکې جدا کړو یا ئې په نیکئ باندې حکم وکړو یا ئې د بدو کارونو نه منع وکړه په شمار د دغه درې سوه شپیته (جوړونو) نو دې به په دغه ورځ ګرځی پداسې حال کی چه ځان به ئې د اُور نه بچ ساتلې وی۔ (مسلمؒ)

تشریح : مطلب دا دې چه ذکر شوی افعال کول او د خپل جسم د جوړونو په اندازه ذکر شوی کلمات لوستل په حقیقت کی د خپل جسم او د جسم جوړونه د جهنم د اور نه بچ کول دی۔

يَوْمَئِذٍ : هغه ورځ ته اشاره ده په کومه ورځ ئې چه دغه کارونه وکړل نو دا کلمات او دغه کارونه همیشه کول پکار دی چه د ګناهونو کفاره جوړه شی۔ خو افسوس چه ډیر کم خلک پدې باندې عمل کوی۔

- 1898(11) وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " إِنَّ بِكُلِّ تَسْبِيْحَةٍ صَدَقَةً وَكُلِّ تَكْبِيْرَةٍ صَدَقَةً وَكُلِّ تَحْمِيْدَةٍ صَدَقَةً وَكُلِّ تَهْلِيْلَةٍ صَدَقَةً وَأَمْرٍ بِالْمَعْرُوْفِ

صَدَقَةٌ وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ وَفِي بُضْعِ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ " قَالُوا : يَا رَسُولَ اللهِ أَيَأْتِي أَحَدُنَا شَهْوَتَهُ وَيَكُونُ لَهُ فِيهَا أَجْرٌ ؟ قَالَ : "أَرَأَيْتُمْ لَوْ وَضَعَهَا فِي حَرَامٍ أَكَانَ عَلَيْهِ فِيهِ وِزْرٌ؟ فَكَذٰلِكَ إِذَا وَضَعَهَا فِي الْحَلَالِ كَانَ لَهُ أَجْرٌ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سيدنا ابوذر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: يقيناً په هر تسبيح (يعني سبحان الله) وئيلو صدقه ده، او په هر تكبير (الله اكبر) وئيلو صدقه ده او هر تحميد (الحمد لله) وئيل صدقه ده او هر تهليل (لا اله الا الله) ويل صدقه ده او په نيكئ باندے حكم كول صدقه ده او د بدئ نه منع كولو كئ صدقه او په عورت د يو تن ستاسو كي صدقه ده۔ (يعني چه د خپلے بي بي يا وينځے سره صحبت وكړي) صحابه كرامو عرض وكړو يا رسول الله ! آيا يو تن په مونږ كي به خپل شهوت ته راتلل وكړي او ددۀ دپاره به په هغے كي (هم) اجر وي؟ (يعني دا خو د خپل خواهش مطابق كار دے نو دا څنګه عبادت وګرځي؟) وے فرمايل : خبر راكړئ كه چرته دے دا خپل عورت په حرام كي استعمال كړي آيا په دۀ باندے به پدے كي ګناه وي؟ (خامخا به وي) نو دغه شان كله چه دا عورت كيږدي په حلال كي نو ددۀ دپاره به پدے كي اجر وي۔ (مسلمؒ)

تشريح : د خپلے بي بي سره صحبت كول اګركه بذاتِ خود عبادت او صدقه نۀ ده پدے وجه صحابه كرامو ته هم دا اشكال راپيښ شو څكه چه دوي دا وګڼړله چه اجر خو په هغه شي كي وي چه د خواهش خلاف وي او صحبت خو د خواهش موافق دے ليكن چونكه پدے سره د بي بي حق ادا كيږي او نفس د حرام كارئ نه بچ كيږي نو د الله د حكم په وجه د حرامو نه ځان ساتل او حلالو ته ځان مائل كولو كي اجر مقرر شو۔

حكمت : نبي ﷺ د ټول امت پيغمبر دے او په امت كي دوه قسمه خلك وي (١) شهواتو خواهشاتو والا، نو هغوئ ئے د خواهشاتو نه منع كړيدي چه خواهش كي مۀ ننوزئ بلكه د خپل رب د رضا كوشش هم وكړئ۔ (٢) دويم قسم هغه خلك دي چه عبادتونه او د الله تعلق پرے غالب وي نو نبي ﷺ دوي ته نصيحت كوي چه په عبادتونو كي د هميشه مشغوله كيدو په وجه هسے نه چه تاسو د خپلو بيبيانو حقونه ضائع كړئ نو د هغوئ هم درباندے حق دے د هغے په ادا كولو كي هم اجر دے،

نو مؤمن سړے به د دين ټولو اصولو ته ګوري او يو طرفته به پوره نۀ مائله کيږي۔ دغه شان زنانه چه کله پدے باره کې د خاوند تابعداري کوي اګرکه د هغے توجه به صحبت ته نۀ وي يا به کمه وي نو هغے ته هم الله تعالیٰ پدے کې اجر ورکوي۔

(۲) دويم حکمت: شهوت که انسان په صحيح ځای کې استعمال نکړي نو په غلط ځای کې به ئے استعمالوي نو نبي ﷺ ترغيب ورکوي چه خپل شهوت په صحيح ځای کې استعمال کړئ چه ګناه درنه ونۀ شي۔ بيا ددے مطلب دا نۀ دے چه انسان به د خپلے بي بي نه قبله جوړه کړي وي او بس همدے کارونو ته به ناست وي او وائي به چه پدے کې-هم صدقه ده بلکه الاهم فالاهم به مقدم کوي او په عباداتو کې به پوره برخه اخلي۔

فائده: صحيح نيت په عباداتو او مباحاتو کې چليږي او د اجر سبب جوړيږي ليکن د ګناه په کار کې صحيح نيت نشي جوړيدے۔

- 1899(12) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " نِعْمَ الصَّدَقَةُ اللِّقْحَةُ الصَّفِيُّ مِنْحَةً وَالشَّاةُ الصَّفِيُّ مِنْحَةً تَغْدُوْ بِإِنَاءٍ وَتَرُوْحُ بِآخَرَ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: غوره صدقه هغه اُوښه ده چه ډير پئ ورکونکے وي چه په تحفه کې (چا ته) ورکړے شي (يعني عارية) او هغه ګډه چه ډيره پئ ورکونکے وي چه چا ته په تحفه کې ورکړے شي (دومره زيات پئ کوي) چه سهر وخت کې يو لوښے ډکوي او ماښام کې يو لوښے ډك ورکوي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح: اَللِّقْحَةُ: په کسره د لام سره او فتحه هم پکې جائز ده: هغه اوښه چه د پيو والا وي او نزدے بچے ئے پيدا شوے وي، ثعلبؒ وائي: دا هغه حيوان دے چه په بچي راوړلو ئے درے مياشتے تيرے شوي وي۔(مقدمة الفتح)

اَلصَّفِيُّ: (ډيره پئ کونکے) دا هغه اُوښه ده چه ډير پئ کوي اَیْ مُصْطَفَاةٌ مُخْتَارَةٌ يعني عمده او غوره کړے شوے۔

مِنْحَةً: يعني چه چا ته په تحفه کې ورکړے شي، يا په منيحه کې چا ته ورکړے شي، منيحه دے ته وائي چه يو پيو والا څاروے د يو کال د پاره چا ته ورکړي چه ددے نه پئ

ځانله لوشه او چه کله وُچه شوه بیرته به ئے ما ته راواپس کړے. نو دا بنه صدقه ځکه ده چه مسلمان به د هغے نه تول کال فائده اخلی داسے شوه لکه چه تا د یو کال پورے متواتر پئ صدقه کړی وی او د مسلمان حاجت دے پوره کړے وی.

تَغْدُوْ بِإِنَاءٍ وَتَرُوْحُ بِآخَرَ : یعنی په سهر کی یو لوښے د پیو ورکوی او ماښام کی بل. دا ولے غوره صدقه ده؟ ځکه چه پئ د اُوبو او غذاء دواړو په ځای کار ورکوی.

- 1900(13) وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ مِنْهُ إِنْسَانٌ أَوْ طَيْرٌ أَوْ بَهِيمَةٌ إِلَّا كَانَتْ لَهُ صَدَقَةً" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

- 1901(14) وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ عَنْ جَابِرٍ :" وَمَا سُرِقَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةٌ "

ترجمه : او سیدنا انس رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : نشته یو مسلمان چه څه بوټے نال کړی یا کوم فصل وکری او د هغے نه یو انسان یا یو مارغه یا یو حیوان خوراك وکړی مگر دا به د هغه دپاره صدقه وی. (بخاریؒ او مسلمؒ) او د مسلمؒ په یو روایت کی چه د جابر رضی الله عنه نه منقول دے دا الفاظ دی : او هغه څه چه ددے نه غلا کړے شی ددهٔ (یعنی مالك) دپاره به صدقه وی.

تشریح : مَا مِنْ مُسْلِمٍ : مسلمان ئے ذکر کړو پدے سره ئے کافر ویستلو ځکه چه ونو بوټو نه چه مارغان یا چارپیان خوراك کوی نو دا صرف د مسلمان دپاره صدقه وی نهٔ د کافر دپاره او مراد د صدقے نه دا چه په آخرت کی به ورته ددے په بدله کی ثوابونه ورکولے شی او دا ثوابونه د مسلمان پورے خاص دی البته که د کافرو د ونو نه انسانان، مارغان او څاروی خوراك وکړی نو دنیا کی ورته د هغے بدله ملاویږی او په کوم روایت د احمدؒ کی چه (مَا مِنْ رَجُلٍ) یا (مَا مِنْ عَبْدٍ) راغلے دے نو هغه مطلق دے پدے مقید به حمل کولے شی او مراد د مسلم نه جنس مسلمان دے سرے وی او که ښځه.

بیا ددے مطلب دا نهٔ دے چه انسان به د پردو بوټو او فصلونو نه بغیر د اجازت نه خوراك کوی او دا به ورله جائز وی. یعنی بالفرض که څوك ددے بوټی نه خوراك وکړی نو د مالك دپاره فائده شوه اگرکه د غلا کونکی دپاره نقصان دے.

يَغْرِسُ : د ضرب يضرب نه، غَرْسًا وَغِرَاسَةً وَغَرْسَةً اَیْ اَثْبَتَهٗ فِي الْأَرْضِ. یو شے په زمکه کی مضبوطول. غرس کله مصدر استعمالیږی یعنی کرل او نالول. او کله په معنیٰ د

مغروس سره وی یعنې هغه ونه چه کرلے شوی وی۔
حاصل د حدیث دا دے چه په هر سبب سره د مسلمان مال وخوړلے شی نو هغه ته ثواب رسی نو پدے کی مسلمان ته تسلی شوه چه د مال په نقصان باندے صبر وکړه اجر به درته ملاویږی۔
فائده : د عمل په ابتداء کی نیت کول پکار دی او د عمل تر آخره پورے د نیت همیشوالے لازم نهٔ دے۔

- 1902(15) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " غُفِرَ لِامْرَأَةٍ مُوْمِسَةٍ مَرَّتْ بِكَلْبٍ عَلٰى رَأْسِ رَكِيٍّ يَلْهَثُ كَادَ يَقْتُلُهُ الْعَطَشُ فَنَزَعَتْ خُفَّهَا فَأَوْثَقَتْهُ بِخِمَارِهَا فَنَزَعَتْ لَهُ مِنَ الْمَاءِ فَغُفِرَ لَهَا بِذٰلِكَ ". قِيْلَ : إِنَّ لَنَا فِي الْبَهَائِمِ أَجْرًا ؟ قَالَ : "فِيْ كُلِّ ذَاتِ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل : یوے زناکارے ښځے ته بخنه وکړے شوه چه هغه په یو سپی باندے ورتیره شوه چه هغه د یو کوهی په سر باندے وو تږکاه ئے وهله، نزدے وه چه تنده ئے مړ کړی نو دے زنانه خپله موزه ویستله او د خپلے لوپټے پسے ئے وتړله او ددے سپی دپاره ئے (پدے سره) اُوبه راویستلے نو دے ته پدے عمل سره بخنه وشوه۔ صحابه کرامو عرض وکړو : آیا زمونږ دپاره به په حیواناتو (سره احسان کولو) کی اجر وی؟ وے فرمایل: په هر لوند جګر والا (حیوان) کی اجر دے (یعنی چه په هغے باندے ترس او رحم وکړے شی) (بخاریؒ ومسلمؒ)
تشریح : فَأَوْثَقَتْهُ : یعنی وے تړله په لوپټه خپله۔
په دے معمولی خواریٔ باندے دے زنانه ته ډیره لویه بدله ورکړے شوه چه د زنا په شان لویه ګناه ورته معاف شوه ځکه چه دے د الله په مخلوق باندے رحم وکړو نو د الله په مخلوق باندے رحم کول د ګناهونو د معاف کیدو سبب دے او سخت زړونه الله تعالیٰ د اور دپاره پیدا کړیدی۔
فِيْ كُلِّ ذَاتِ كَبِدٍ : یعنی هر حیوان چه لوند جګر لری یعنی اوبو ته محتاج وی د هغے په خړوبه کولو کی اجر شته، ددے عموم نه هغه حیوانات خارج دی چه د هغے په وژلو حکم شویدے لکه مار لړم، تیس، مږه، کارغه وزغ وغیره شو۔

پدے حدیث کی پدے خبرہ تیزی دہ چہ د خلکو سرہ احسان کول پکار دی ځکہ چہ د سپی پہ خړوبہ کولو د گناھونو بخنہ کیږی نو د مسلمان پہ خړوبہ کولو بہ ضرور ډیر اجر وی۔ او پدے حکم کی خوراك ورکول هم شامل دی۔

او دا حدیث دلیل دے چہ کلہ کبیرہ گناہ د توبی نہ پہ غیر پہ بعض اعمالو سرہ هم معاف کیږی۔ بلکہ پہ باب الطهارة کی دا تفصیلًا ذکر شویدی۔

- 1903(16) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " عُذِّبَتِ امْرَأَةٌ فِيْ هِرَّةٍ أَمْسَكَتْهَا حَتّٰى مَاتَتْ مِنَ الْجُوْعِ فَلَمْ تَكُنْ تُطْعِمُهَا وَلَا تُرْسِلُهَا فَتَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابن عمر او ابو هریره رضی الله عنهما فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: یوے ښځے تہ (خالص) د پیشو پہ بارہ کی عذاب ورکړے شو چہ دے هغه بنده ساتلے وہ تردے چہ هغه د لوږے نہ مړہ شوہ ځکہ چہ دے ورتہ خوراك هم نۀ ورکولو او نۀ ئے پریخودلہ چہ د زمکے حشرات (حیوانات مږے وغیرہ) وخوری۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : ددے حدیث نہ دا معلومہ شوہ چہ د حیواناتو او څاروو سرہ بد سلوکی او بی رحمی کول د الله پہ عذاب کی خپل ځان گرفتار کول دی، او دا هم معلومه شوه چہ پہ صغیرہ گناہ باندے هم عذاب کیدے شی، ددے ښځے دا کار ظاهره ده چہ صغیرہ گناہ وہ۔

فِيْ هِرَّةٍ : یعنی پہ سبب د پیشو، یا د وجے د پیشو نہ یا پہ بارہ د پیشو کی۔

بیا د پیشو مثال ئے ذکر کړو ځکہ چہ پیشو سبع (یعنی درندہ) حیوان دے چہ غوښہ ئے نۀ خوړلے کیږی او سرہ ددے نہ چہ دے تہ عذاب ورکول ظلم دے نو د نورو حیواناتو او دارنگہ انسانانو تہ عذاب ورکول بہ پہ طریق اولیٰ ظلم وی۔

خَشَاش : د زمکے حشراتو او حیواناتو تہ وائی۔ پہ خاء باندے زبر، زیر او پیش درے وارہ وئیل صحیح دی۔ (فتح الباری)

- 1904(17) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ؓ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَرَّ رَجُلٌ بِغُصْنِ

شَجَرَةٍ عَلٰی ظَهْرِ طَرِیْقٍ فَقَالَ: لَأُنَحِّیَنَّ هٰذَا عَنْ طَرِیْقِ الْمُسْلِمِیْنَ لَایُؤْذِیْهِمْ فَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ

ترجمه: او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: یو سړے د یوے ونے په یوه څانګه ورتیر شو چه د لارے په مینځ کی وه نو دهٔ (خپل زړه کی) وویل: خامخا زهٔ به دا د مسلمانانو د لارے نه جدا کوم دے دپاره چه هغوی ته تکلیف ورنکړی نو (ددے په سبب) جنت ته داخل کړے شو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: مطلب دا دے چه دے شخص دغه څانګه د لارے د صفا کولو په اراده سره لرے کړه او دغه لاره ئے صفا کړه نو جنت ته داخل شو یا دا چه دغه شخص د خپل نیت او اخلاص په بناء د جنت مستحق وګرځیدو۔ د مؤمن نیت هم ډیرے ښے نتیجے راوړی۔

لَأُنَحِّیَنَّ: دا د تنحیه نه دے په ضمه د همزه او تشدید د حاء سره خامخا زهٔ به لرے کوم، یو سائید ته کوم به ئے۔ داسے ئے ونهٔ ویل چه پریکوم به ئے ځکه چه دا پردئ ونه وه یا دا چه میوه داره ونه وه۔ او د بخاری د باب المظالم په یو بل روایت کی دی چه یو سړے په یوه لاره تیریدو نو ازغیداره څانګه ئے ومونده په مینځ د لاره کی نو هغه ئے اخوا کړه الله تعالیٰ ورله دا عمل قبول کړو او بخنه ئے ورته وکړه۔

فوائد الحدیث: (١) په حدیث کی دا فضیلت راغلو چه د خلکو د لارے نه ضرری څیزونه لرے کول پکار دی، (٢) دارنګه کله په وړوکی نیك عمل باندے ډیر اجر ملاویږی۔ (٣) هر قسم ضرر د مسلمانانو نه دفع کول او لرے کول لوئی اجر لری او کوم شے چه مسلمان ته فائده رسوی هغه کار کول پکار دی۔ (٤) هرکله چه مسلمانانو نه ضرر دفع کول لوی اجر لری نو هغوی ته ضرر ورکول به لویه ګناه حسابیږی۔

- 1905(18) وَعَنْ أَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" لَقَدْ رَأَیْتُ رَجُلًا یَتَقَلَّبُ فِی الْجَنَّةِ فِیْ شَجَرَةٍ قَطَعَهَا مِنْ ظَهْرِ الطَّرِیْقِ کَانَتْ تُؤْذِی النَّاسَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: ما یو سړے ولیدو چه په جنت کی ئے چکرے وهلے (مزے ئے کولے) په سبب د یوے ونے سره چه دهٔ د مینځ

د لارې نه پريکړې وه چه هغې به خلکو ته تکليف ورکولو۔ (مسلمؒ)

تشريح : يَتَقَلَّبُ : يعني چکرې ئې وهلې او د جنت د نعمتونو نه ئې مزې اخستلې۔

فِيْ شَجَرَةٍ : يعني په باره د يوه ونه کې، يا په سبب د يوه ونه يا د وجې د يوې ونې نه۔ دا حديث په ډير تاکيد سره دا خبره ثابتوي چه ضرري شے وژل او د هغې زائل کول که په هره طريقه سره وي پکار ده۔ وړوکے عمل هم سپک نۀ دې گنړل پکار۔

- 1906(19) وَعَنْ أَبِىْ بَرْزَةَ ﷺ قَالَ: قُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللهِ عَلِّمْنِىْ شَيْئًا أَنْتَفِعُ بِهٖ قَالَ: "اِعْزِلِ الْأَذٰى عَنْ طَرِيْقِ الْمُسْلِمِيْنَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ، وَسَنَذْكُرُ حَدِيْثَ عَدِيِّ ابْنِ حَاتِمٍ : " اِتَّقُوا النَّارَ " فِىْ بَابِ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ

ترجمه : او سيدنا ابوبرزه ﷺ فرمائي: ما ووېل : اے د الله نبي ! ما ته داسے څه را زده کړه چه زۀ په هغې سره فائده واخلم، وے فرمايل : د مسلمانانو د لارے نه ضرري شے جدا کوه (مسلمؒ) او زر دے چه مونږ به حديث د عدي بن حاتم ﷺ (چه په هغې کې دي ((د اُور نه ځان وساتئ)) په باب د علاماتو د نبوت کې ذکر کړو۔

تشريح : أَنْتَفِعُ بِهٖ : دا مجزوم دے جواب د امر دے يا مرفوع دے صفت د شيئًا دے۔

اِعْزِلِ : د همزے په زير سره دے يعني لرے کړه/ جدا کړه۔

اَلْأَذٰى : نه مراد تکليف ورکونکے شے دے۔ لکه ازغے، کانړے، ونه وغيره۔

ابوبرزه اسلمي رضي الله عنه د لويو صحابه کرامو نه دے او نبي ﷺ ورته د ايمان په وړه ځانګه باندے وصيت وکړو پدے کې تنبيه ده په اعلىٰ باندے يعني د خير هيڅ عمل مۀ پريږده او دا تجربه ده چه کله انسان په وړو وړو خبرو عمل کوي نو الله ورته د غټو غټو عملونو توفيق ورکوي۔

او حديث د (اتقوا النار ولو بشق تمرة) د باب علامات النبوة سره زيات مناسب دے نو صاحب المشکاة به ئے هلته ذکر کړي۔

الفصل الثاني

- 1907(20) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ ﷺ قَالَ :لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ ﷺ الْمَدِيْنَةَ جِئْتُ فَلَمَّا تَبَيَّنْتُ وَجْهَهٗ عَرَفْتُ أَنَّ وَجْهَهٗ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ. فَكَانَ أَوَّلَ مَا قَالَ : " أَيُّهَا النَّاسُ

أَفْشُوا السَّلَامَ وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَصِلُوا الْأَرْحَامَ وَصَلُّوْا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : سیدنا عبد الله بن سلام ﷺ فرمائي: هرکله چه نبي کریم ﷺ مدینے ته تشریف راورو زهٔ ورتـه راغـلـم نو هرکله چه ما د هغه مخ ولیدو ما وپیژندل چه ددهٔ مخ دروغژن مخ نهٔ دے۔ نو اولنئ هغه خبره چه هغه وکړه هغه دا وه چه وے فرمایل: اے خلکو! سلام عام کړئ، او (خلکو ته) طعام ورکړئ، او صله رحمي قائمه کړئ او د شپے مونځونه کوئ په داسے حال کي چه خلك اُوده وي (نو) جنت ته به په سلامتیا سره داخل شئ۔ (ترمذيؒ، ابن ماجهؒ، دارميؒ)

تشریح : عبد الله بن سلام یو یهودي عالم وو د رسول الله ﷺ نه خبر شو چه یو نبي مدینے ته هجرت کړے او دے خپله په مدینه کي وسیدو، د کجورو میوو شوکولو دپاره په خپله زمکه کي وو د چا نهٔ واوریدل چه دلته یو شخص راغلے او ځان ته نبي وائي او دا خو د مخکي نه عالم وو چه آخري نبي به دے علاقے ته هجرت کوي نو دے راروان شو د کجورو پچئ ئے په سر وه او سیده د نبي ﷺ خوا تـه راغلو کور ته هم لاړ نشو، (دے نـه معلومیږي چه د حق په قبلولو کي به جلتي کولے شي ځکه چه د مصیبتونو او د مرګ نـه امـن نشتـه)، دے وائي کلـه چه زهٔ په نورو خلکو کي د نبي ﷺ خوا ته راغلم نو ما چه د هغـه مخ مبارك ولیدو زهٔ پوهه شوم چه دا دروغژن مخ نهٔ دے دا همغه نبي دے کوم چه په تورات کي لیکلے شوے وو نو رومبنئ خبرے چه نبي ﷺ خلکو ته وکړے او ما واوریدے هغه دا خبرے وے بیا ما په نبي ﷺ باندے درے سوالونه وکړل او دا مے ووئیل چه ددے درے سوالونو جواب صرف نبي تـه یاد وي (او بعض یهودیانو تـه د پخوانو کتابونو نه یاد وو او عرب خو د هغه کتابونو نه ناپوهه وو) په بخاري کي هغـه درے سوالونه ذکر دي د قیامت اولني علامات څه دي؟، ماشوم ولے کلـه د مور مشابه وي او کله د پلار؟ او جنتیان به اول کوم خوراك کوي؟ بیا نبي علیه السلام جوابونه ورکړل او دهٔ ایمان راوړو۔ بخاري بشرح فتح الباري (٢٠٩/٨)

أَفْشُوا : د افشاء نـه دے پـه معنیٰ د خورولو او عام کولو سره چه په هر چا باندے وي پیژني او که نهٔ او دا د قیامت د علاماتو نه ده چه صرف سلام به په هغه چا اچولے شي

چه پیژنی ئے۔

وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ : پدیے کي صدقه او هدیه او ضیافت (میلمستیا) ټول داخل دي۔

وَصِلُوا : په کسره د صاد د (وَصَلَ يَصِلُ وَصْلًا وَصِلَةً) نه دیے۔

الْأَرْحَامَ : جمع د رَحِم ده قرابت او خپلولئ ته وائي یعنی خپلوانو سره او نسب والا خلکو سره احسان کوئ او دوی سره نرمی او مهربانی کوئ۔

وَالنَّاسُ نِيَامٌ : یعنی د خلکو د غفلت په وخت د الله بندګی کولو کی ډیر اجر دیے ځکه چه یو خو پدیے کی د ریاء نه ورانديے والے وی او بل د نورو خلکو نه په عمل کی سبقیت هم دیے۔

بیا پدیے څلورو کارونو کی حقوق الله هم راجمع دی او حقوق العباد هم۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، اخرجه الترمذی وصححه وابن ماجه واللفظ له والدارمی والحاکم وصححه ووافقه الذهبی وصححه الالبانی فی الصحيحة (٥٦٩)

- 1908(21) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " اُعْبُدُوا الرَّحْمٰنَ وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَأَفْشُوا السَّلَامَ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه: او سیدنا عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: د رحمن بندګی کوئ او خلکو بانديے خوراك خورئ او سلام عام کړئ جنت ته به په سلامتیا سره داخل شئ۔ (ترمذیؔ، ابن ماجهؔ)

تشريح : بِسَلَامٍ : لکه څنګه چه دغه کارونه د سلامتیا والا دی نو ددیے بدله هم د سلامتیا والا ده۔ یا دا چه ملائك به په تاسو سلامونه اچوی۔

درجة الحديث : صحيح بما قبله: اخرجه الترمذی وصححه وابن ماجه فی الادب وابن حبان فی صحيحه بلفظ اعبدوا الرحمن وافشوا السلام واطعموا الطعام تدخلوا الجنان)

- 1909(22) وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ مِيتَةَ السُّوْءِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سیدنا انس ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: یقیناً صدقه خامخا د رب غضب یخوی (ختموی) او بد مرگ دفع کوی۔ (ترمذیؒ)

تشریح : مِیْتَةَ السُّوْءِ : په کسره د میم سره په معنیٰ د مرگ سره او دا په اصل کی موتة دے مصدر د نوع دپاره دے لکه د جِلْسَةٌ په شان او دا هغه حالت ته وائی چه انسان په هغے باندے د مرگ په وخت وی۔ او السوء کی فتحه د سین او ضمه دواړه جائز دی۔ یعنی بد او ناکاره۔ د بد مرگ نه مراد هغه بد حالت دے چه انسان په هغے باندے د مرگ په وخت کی وی چه د ډیرو دردونو په وجه انسان د نعمتونو په ناشکرئ کی راشی او په الله باندے اعتراضونه شروع کړی او د الله د ذکر نه غافله شی۔ او ددے نه ناڅاپی مرگ هم مراد کیدے شی۔

او په هغه حالت کی مرگ هم مراد دے چه انسان پکی د الله نه مشغول وی، تی وی ته ناست وی او مرگ پرے راشی خاتمه ئے خرابه شی۔

بعض وائی : ددے نه مراد دا دے چه د مرگ په وخت کی په انسان باندنے امتحانات راشی، یا مرگ ئے په گناه وشی نو په صدقه سره به ددے بدو حالتونو نه بچ کیږی یا دا چه په صدقه سره به ددهٔ مرگ ډیر مزیدار وی روغ رمټ به مری، د غرقیدو، سوزیدو، ایکسیډنټ، رارغبنتلو نه به محفوظ وی۔ او دا ټولے معانی مراد کیدے شی۔

علامه عراقیؒ وائی : دا هر هغه څه ته شامل دے چه نبی ﷺ د هغے نه پناهی غوښتے ده، سوزیدل، هدم (دیوال راپریوتل)، رارغبنتل، غرقیدل، د مرگ په وخت کی د شیطان وسوسه راتلل، د الله په لاره کی د دشمن نه د تیښتے په حالت کی مړ کیدل، ناڅاپی مرگ، په دار کیدل چه د ټولو خلکو په مخامخ ووژلے شی ددے ټولو نه به محفوظ وی انتهیٰ۔

درجة الحديث : اسناد الشطر الاول من الحديث صحيح وله طرق كثيرة ذكرها الشيخ الالباني فى الصحيحة رقم (۱۹۰۸) ، اخرجه الترمذى وقال حديث حسن واسناد الشطر الثانى ضعيف والتفصيل فى الصحيحة۔

- 1910 (23) وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" كُلُّ مَعْرُوْفٍ صَدَقَةٌ وَإِنَّ مِنَ الْمَعْرُوْفِ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ وَأَنْ تُفْرِغَ مِنْ دَلْوِكَ فِيْ إِنَاءِ أَخِيْكَ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ

وَالتِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سيدنا جابر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : هره نيكي صدقه ده او يقيناً بعض د نيكيو نه دا ده چه ته د يو ورور مسلمان سره په كولاؤ (فراخه) مخ ملاؤ شې او (دا چه) ته د خپلې بوكې نه د خپل ورور لوښي ته (اُوبه) واړوې۔ (دا هم نيكي ده) (احمدؒ، ترمذيؒ)

تشريح : طَلْقٍ : او طليق دواړه صحيح الفاظ دي يعني آزاد، كولاؤ،

وَأَنْ تُفْرِغَ : د افراغ نه دې اړولو ته وائي۔ يعني يو مسلمان لره يو لوښي ډكول هم صدقه ده، او كله چه ورسره لوښي نه وي او ته ورله د خپل لوښي نه اُوبه وركړې نو دا به د هغې نه هم ډير ثواب وي۔

درجة الحديث: اسناده صحيح اخرجه الترمذي وقال حسن صحيح وفيه منكدر بن محمد المنكدر تكلموا فيه من جهة حفظه ووثقه احمد وقال الحافظ : لين الحديث، وصححه الالباني ايضاً صحيح الترمذي (١٩٧٠)

- 1911(24) وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " تَبَسُّمُكَ فِيْ وَجْهِ أَخِيْكَ صَدَقَةٌ وَأَمْرُكَ بِالْمَعْرُوْفِ صَدَقَةٌ وَنَهْيُكَ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ وَإِرْشَادُكَ الرَّجُلَ فِيْ أَرْضِ الضَّلَالِ لَكَ صَدَقَةٌ وَنَصْرُكَ الرَّجُلَ الرَّدِيْءَ الْبَصَرِ لَكَ صَدَقَةٌ وَإِمَاطَتُكَ الْحَجَرَ وَالشَّوْكَ وَالْعَظْمَ عَنِ الطَّرِيْقِ لَكَ صَدَقَةٌ وَإِفْرَاغُكَ مِنْ دَلْوِكَ فِيْ دَلْوِ أَخِيْكَ لَكَ صَدَقَةٌ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او سيدنا ابو ذر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل : ستا مُسكې كيدل په مخ د ورور خپل كې صدقه ده او حكم ستا په نيكئ باندې صدقه ده او منع كول ستا د بدئ نه صدقه ده او لاره خودل ستا يو سړي ته په بې نښو زمكه كې (يعني چه هيڅ نوم او نشان نه وي چه خلك پكې ورك كيږي) ستا دپاره صدقه ده۔ او مدد ستا د يو سړي سره چه كمزوري نظر والا (يا ړوند) وي ستا دپاره صدقه ده او لرې كول ستا يو كاڼي او ازغي او هډوكي د لارې نه ستا دپاره صدقه ده او (اُوبه) اړول ستا د خپلې بوكې نه په بوكه د خپل ورور كې (هم) ستا دپاره صدقه ده۔ (ترمذيؒ روايت كړيدې او وئيلي

ئے دی چه دا حدیث غریب دے)

تشریح : الرَّدِیْءَ الْبَصَرِ : یعنی چه نظرئے نهٔ وی یا نظرئے کم وی د هغه سره مدد کول هم صدقه ده۔ په دے روایت کی تفصیل د امورو د خیر دے چه خلك ئے نیکی نهٔ گنړی مگر رسول الله ﷺ فرمائی: دا هم عظیمی نیکئ دی۔

درجة الحدیث : صحیح، اخرجه الترمذی فی البر والصلة وحسنه والبخاری فی الادب المفرد وابن حبان فی صحیحه وصححه الالبانی فی الصحیحة (٥٧٢) والترغیب (٢٦٨٥).

- 1912(25) وَعَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ ﷺ قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ أُمَّ سَعْدٍ مَاتَتْ فَأَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ : " اَلْمَاءُ ". فَحَفَرَ بِئْرًا وَقَالَ: هٰذِهٖ لِأُمِّ سَعْدٍ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : او سیدنا سعد بن عباده ﷺ وفرمایل: اے د الله رسوله! یقیناً زما مور مړه شوه (او د هغے د صدقے اراده وه) نو کومه یوه صدقه (د هغے د طرفنه) ډیره غوره ده؟ وے فرمایل : اُوبه۔ نو هغه کوهے وکنستو او وے ویل چه دا کوهے د ام سعد (د سعد د مور) دپاره دے۔ (ابوداوّدؒ، نسائیؒ)

تشریح : أُمِّ سَعْدٍ : یعنی ددے سعد بن عباده ﷺ مور ده نوم ئے عَمره بنت مسعود بن قیس بن عمرو بن زید مناة بن عدی بن عمرو بن مالك بن النجار صحابیهٌ ده او د نبی ﷺ سره ئے بیعت کړے او د نبی ﷺ په زمانه کی وفات شویده په پنځم هجری کی دا چه مړه شوه نبی ﷺ په غزوه د دُومة الجندل کی وو د ربیع الاول میاشت وه۔

ددے څلور خویندے وے د ټولو عَمره نوم وو او ټولو بیعت کړے او ایمان ئے راوړے وو۔

فَأَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ : یعنی د هغے دپاره زهٔ کومه صدقه وکړم چه د هغے ثواب ور ورسیږی؟ دیته ایصال ثواب وائی، دا صرف د مور او پلار دپاره په احادیثو کی ثابت دی او د نورو خلکو دپاره نهٔ ده ثابته لکه ددے تفصیل په اول جلد کتاب العلم کی تیر شویدے۔

مور او پلار چونکه په انسانانو کی د بندهٔ سره ډیر احسان کونکے دی پس د رسول الله ﷺ نه پدے وجه د هغوی سره احسان کول ډیر لوی اجر لری نو پدے وجه سعد ﷺ

د مور د طرفنه صدقه کول غواړي او چونکه په مدینه کې د اُوبو ډیر ضرورت وو او دا لویه صدقه جاریه وه پدې وجه نبي ﷺ ورته دا وښودله، لهذا کوم شی ته چه ډیر ضرورت وي نو په هغې کې د مور او پلار د طرفنه صدقه کول پکار دي۔

درجة الحدیث: اسناده حسن، او صحیح لغیره، رواه ابوداود والنسائی الاسناد صحیح لولا الانقطاع بین سعید بن المسیب وسعد وفی روایة اخری بین الحسن البصری وسعد ولکن له شاهد فی التعلیق الترغیب (٢/٥٢/٥٣) به یرتقی الحدیث الی الحسن)،

- 1913 (26) وَعَنْ أَبِیْ سَعِیْدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " أَیُّمَا مُسْلِمٍ کَسَا مُسْلِمًا ثَوْبًا عَلٰی عُرْیٍ کَسَاهُ اللهُ مِنْ خُضْرِ الْجَنَّةِ وَأَیُّمَا مُسْلِمٍ أَطْعَمَ مُسْلِمًا عَلٰی جُوْعٍ أَطْعَمَهُ اللهُ مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ، وَأَیُّمَا مُسْلِمٍ سَقَا مُسْلِمًا عَلٰی ظَمَأٍ سَقَاهُ اللهُ مِنَ الرَّحِیْقِ الْمَخْتُوْمِ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِیُّ.

ترجمه : او سیدنا ابوسعید ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم مسلمان چه یو مسلمان ته د هغه په بربنډوالي جامه واغوندوي نو الله تعالیٰ به دهٔ ته د جنت د شنو شنو جامونه واغوندي، او کوم مسلمان چه یو مسلمان ته (د هغه) په لوږه باندې خوراك ورکړي نو الله تعالیٰ به دهٔ ته د جنت د میوو نه خوراك ورکړي۔ او کوم مسلمان چه یو مسلمان ته (د هغه) په تنده اُوبه ورکړي نو الله تعالیٰ به دې د رحیق مختوم (مهرزده شرابو) نه خړوبه کړي۔ (ابوداوٗد، ترمذیؒ)

تشریح : عُرْیٍ : په ضمه د عین او سکون د راء سره۔ یعنې په حالت د بربنډوالي د هغه کې یا د هغهٔ د بربنډوالي د دفعه کولو دپاره ۔

خُضْرِ : جمع د اَخْضَر ده یعنې هغه شنې جامې چه په جنت کې دي۔ په جنت کې دا ښائسته رنګ دې۔

الرَّحِیْقِ الْمَخْتُوْمِ : (مهربند شراب) یعنې الله تعالیٰ به دهٔ ته د جنت هغه شراب ورکړي چه د مهر وهلو په ذریعه به هغه د تبدل او تغیر نه محفوظ وي او د هغه شخص دپاره مخصوص وي د هغه نه علاوه به بل چا ته نشي ورکولې نو دا د شرابو غوره والي ته اشاره ده۔

درجة الحدیث : له اسنادان احدهما ضعیف جدا والآخر حسن، اخرجه ابوداود

والترمذي وفي سنده ابوالجارود الاعمى الكوفي وهو رافضي كذبه ابن معين وعطية العوفي صدوق يخطئ كثيرا شيعيَ مدلس ورواه ابوداود بسند آخر فيه ابوخالد الدالاني قال المنذري: قد اثنى عليه غير واحد وتكلم فيه غير واحد وقال في الترغيب: حديثه حسن (المرعاة) وضعفه الالباني، ولَيَّنَه الحافظ ابن حجر في بلوغ المرام)

- 1914(27) وَعَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " إِنَّ فِي الْمَالِ لَحَقًّا سِوَى الزَّكَاةِ " ثُمَّ تَلَا: (لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ) الْآيَة. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: او فاطمه بنت قيس رضى الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: يقيناً په مال كى د زكاة نه سِوئ (هم) حق شته، بيا ئے (دا آيت) ولوستو: ليس البر: ترجمه: دا پوره نيكى نۀ ده چه تاسو مخونه مشرق يا مغرب ته وګرځوئ) آيت ئے آخر پورے (ولوستلو).

تعارف: فاطمه بنت قيس بن خالد القرشيه الفهريه رضى الله عنها د ضحاك بن قيس امير خور ده، لس مياشتے ترے مشره ده مشهوره صحابيه ده او د اولنو مهاجراتو نه ده او ډيره ښائسته، د عقل او كمال خاونده وه او د عمر فاروق ﷺ د قتل په وخت اصحاب شورئ د دوى په كور كى راجمع شوى وو او تقريرونه ئے كړى وو۔ دا د ابوعمر بن حفص المخزومي ﷺ په نكاح كى وه بيا هغه طلاقه كړه نو اسامه بن زيد ﷺ په نكاح واخسته او دا هغه زنانه ده چه د جساسے قصه ئے اُوږده نقل كړيده۔

تشريح: په روايت د ترمذيؔ كى دى چه فاطمے د نبى ﷺ نه د زكاة په باره كى تپوس وكړو نو نبى ﷺ ورته دا ارشاد وفرمايلو چه په مال كى د زكاة نه سوئ هم حق شته۔ لكه قيدى آزادول، محتاج ته طعام وركول، محترم انسان راخلاصول نو دا د زكاة نه علاوه واجب دى ليكن ددے وجوب عارضى دے (مناوىؔ) يا لكه سائل به نۀ محروموى، د كور نور سامانونه به نۀ منع كوى لكه كتهوئ، كاسه، جام وغيره او نۀ به د چا نه اُوبه، مالګه، اُور وغيره منع كوى (طيبيؔ، قاريؔ)

او كوم روايت كى چه راغلى دى چه (لَيْسَ فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ) (په مال كى د زكاة نه سوى حق نشته) نو دا خطاء دے هيڅ سند نۀ لرى كما قال البيهقي۔

ظاهر دا ده چه په ابن ماجه کی دغه په بعض نسخو کی د ناسخینو نه خطائی واقع شویده ځکه چه په اکثرو نسخو کی دغه الفاظ نشته، او هغه نسخے موافقی دی د روایت د ترمذی، دارمی وغیره سره۔ او کوم روایت کی چه راغلی دی چه ((کله تا د خپل مال زکاة ادا کړو نو تا هغه حق ادا کړو کوم چه تا باندے وو)) یا (مَا اُدِّیَ زَکَاتُهٗ فَلَیْسَ بِکَنْزٍ)) (یعنی هغه مال چه زکاة ترے ادا شی نو هغه کنز نهٔ دے) نو د هغه روایت او ددے روایت تعارض نشته وجه دا ده چه د مال حق په زکاة سره ادا کیږی مگر د نورو حقوقو او اسبابو په وجه په مال کی حق باقی پاتی کیږی لکه خپلولی، سرسایه، زوجیت، سائل ته څه ورکول وغیره اسبابو د وجه نه واجبیږی او همیشه نهٔ واجبیږی بلکه هغه عارضی وی او د زکاة په شان لازم نهٔ دی چه هر کال کی به ئے ورکوی بلکه د یو یے موقعے او مناسبت په وجه سره دی۔

ثُمَّ تَلَا : ددے آیت (سورة البقره : ۱۷۷) نه د دلیل نیولو طریقه دا ده چه الله تعالیٰ پدے کی د مال ورکړه ذکر کړیده د دغه کسانو دپاره چه ذوی القربیٰ او یتیمانان او مسکینان او مسافر دی بیا ئے وروسته زکاة ذکر کړیدے نو دا دلیل دے چه په مال کی د زکاة نه علاوه هم حق شته او زکاة ئے عطف کړیدے په ایتاء المال باندے او عطف تقاضا د مغایرت کوی نو معلومه شوه چه د زکاة نه سویٰ هم حق شته۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف اخرجه الترمذی و ابن ماجه و الدارمی من طريق شريك عن ابی حمزة ميمون عن الشعبی عن فاطمة وقال الترمذی: هذا حديث اسناده ليس بذلك وابو حمزة ميمون الاعور يضعف وروی بيان و اسماعيل بن سالم عن الشعبی هذا الحديث قوله وهذا اصح آه۔ وله شواهد كلها ضعيفة انظر المرعاة) ومعناه صحيح معلوم من رواية : ((ليس المؤمن الذی يشبع و جاره جائع الی جنبه)) (ابو يعلی، الادب المفرد و الحاكم ـو سنده صحيح)

- 1915 (28) وَعَنْ بُهَيْسَةَ عَنْ أَبِيْهَا قَالَتْ: قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِیْ لَايَحِلُّ مَنْعُهٗ؟ قَالَ: " اَلْمَاءُ ". قَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِیْ لَا يَحِلُّ مَنْعُهٗ ؟ قَالَ: " اَلْمِلْحُ ". قَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِیْ لَايَحِلُّ مَنْعُهٗ ؟ قَالَ: " أَنْ تَفْعَلَ الْخَيْرَ خَيْرٌ لَكَ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او بهيسةٌ د خپل پلار نه روايت كوي فرمائي چه هغه (يعني زما پلار) ووېل : اې د الله رسوله ! څه دې هغه شې چه د هغې منع كول جائز نهٔ دي؟ وې فرمايل: اُوبه، هغه عرض وكړو : اې د الله نبي! څه دې هغه شې چه د هغې منع كول جائز نهٔ دي؟ وې فرمايل : مالگه۔ هغه عرض وكړو : اې د الله نبي! څه دې هغه شې چه د هغې منع كول جائز نهٔ دي؟ وې فرمايل: نيك كار (ښيگړه) كول ستا دپاره غوره دي۔ (ابوداوٌد)

تعارف : بُهَيسة د بنی فزاره قبيلې نه ده، تقريب كې وائي چه دا د طبقه وُسطیٰ د تابعينو نه ده او مجهوله ده او بعض وائي چه دا صحابيهٌ ده۔ ابن حبانٌ او ذهبيٌ وائي چه صحابيه ده، ابن الاثيرٌ په اُسد الغابه كې ليكي چه دې نبي ﷺ موندلې دې او د پلار نه ئې روايتونه نقل كړيدي۔ او د پلار نوم ئې عُمير دې دا هم صحابي دې۔

تشريح : اَلْمَاءُ : اُوبه ئې ذكر كړې دا مثال دې د معمولي څيزونو چه د محتاج او گاونډي نه په نشتي منع كولې۔ پدې وجه ئې په آخِر د حديث كې ذكر كړل چه د خير كار كوه دا درله غوره ده او خير مهٔ منع كوه۔ او دا حديث د قرآن كريم موافق دې چه د منافقانو خوئي دا دې چه ﴿ وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ﴾ معمولي څيزونه منع كوي۔

درجة الحديث : اسناده حسن، رواه ابوداود وفيه جهالة بهيسة ولكنها ذكرها ابن حبان وغيره في الصحابة وقال الشوكاني ولحديثها شواهد اى ما روى ابن ماجه (٢٤٧٣) بسند صحيح من حديث ابي هريرة : (ثلاث لا يمنعن الماء، والملح والنار) ومن حديث ابن عمر بسند صحيح عند الطبراني بلفظ : المسلمون شركاء في ثلاث في الماء والكلأ والنار) (المرعاة٦/ ٣٥١) وضعفه الالباني وقال هذا اسناد ضعيف مسلسل بالمجهولين، بهيسة فمن دونها)

- 1916(29) وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ أَحْيَى أَرْضًا مَيْتَةً فَلَهُ فِيْهَا أَجْرٌ وَمَا أَكَلَتِ الْعَافِيَةُ مِنْهُ فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ " . رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او سيدنا جابر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چه مړه (يعني شاړه) زمكه ژوندئ كړه نو ددهٔ دپاره به په هغې كې اجر وي او هغه څه چه وخوري مارغان د هغې نه نو هغه به ددهٔ دپاره صدقه وي۔ (نسائيٌ، دارميٌ)۔

تشريح : أَرْضًا مَيْتَةً : يعني چا چه يوه زمكه وكرله، بوټي ئې پكې نال كړل نو پدې

كي هم اجر دے۔

الْعَافِيَةُ : د رزق طلبګار خلقو ته وائي انسانان وي که مارغان، یا نور ځاروي وي۔

مِنْهُ : يعني د حاصل د زمکے نه،/ يا د خوړلے شوي، /يا د نبات (ګياه) نه۔

خو دا اجر به هله کيږي چه انسان پدے راضي وي او صبر کونکے وي او دا ثواب ګټونکے وي او دا اجر صرف د مسلمان دپاره دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، اخرجه الدارمي و كذا اخرجه احمد و النسائي في الكبرىٰ و ابن حبان و الضياء في المختارة۔

- 1917(30) وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ مَنَحَ مِنْحَةَ لَبَنٍ أَوْ وَرِقٍ أَوْ هَدٰى زُقَاقًا كَانَ لَهُ مِثْلُ عِتْقِ رَقَبَةٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سيدنا براء بن عازب ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چه د پيو والا حيوان عاريةً (يعني په تحفه کي) ورکړي يا چاندي (يعني روپۍ وغيره چا ته قرض ورکړي) يا يو لاره ورک شوي (يا ړوند) شخص ته لاره وښائي نو ددهٔ دپاره به د يو غلام د آزادولو په شان اجر وي۔ (ترمذيؒ)

تشريح : زُقَاقًا : زقاق په ضمه د زاء سره لارے ته وائي يعني چا چه چا ته د پيو منيحه ورکړه يا ئے ورک شوي يا ړوند انسان ته لاره وښودله نو دومره اجر به ئے وشي لکه غلام چه ئے آزاد کړے وي۔ ورق : ددے نه مراد د پيسو قرض ورکول دي۔

بعض وائي: د زقاق نه د کجورو يو صف مراد دے او هدىٰ دهَدِيَّة نه دے يعني چا چه د کجورو يو صف چا ته هديه او صدقه کړه۔ ليکن اوله معنىٰ غوره ده ځکه چه هَدىٰ د هدايت نه دے نۀ د هدية نه۔ اګرکه په بل روايت کي د (اَهْدٰى زُقَاقًا) لفظ دے هلته بيا دويمه معنىٰ مراد ده۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، رواه الترمذي واحمد وابن حبان والبغوي في شرح السنة)

- 1918(31) وَعَنْ أَبِيْ جُرَيِّ جَابِرِ بْنِ سُلَيْمٍ قَالَ: أَتَيْتُ الْمَدِيْنَةَ فَرَأَيْتُ رَجُلًا يَصْدُرُ النَّاسُ عَنْ رَأْيِهِ لَا يَقُوْلُ شَيْئًا إِلَّا صَدَرُوْا عَنْهُ قُلْتُ مَنْ هٰذَا؟ قَالُوْا: هٰذَا رَسُوْلُ اللهِ

ﷺ قُلْتُ : عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَرَّتَيْنِ قَالَ : " لَا تَقُلْ عَلَيْكَ السَّلَامُ فَإِنَّ عَلَيْكَ السَّلَامُ تَحِيَّةُ الْمَيِّتِ قُلْ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ " قُلْتُ : أَنْتَ رَسُوْلُ اللهِ ؟ قَالَ :" أَنَا رَسُوْلُ اللهِ الَّذِيْ إِذَا أَصَابَكَ ضُرٌّ فَدَعَوْتَهُ كَشَفَهُ عَنْكَ وَإِنْ أَصَابَكَ عَامُ سَنَةٍ فَدَعَوْتَهُ أَنْبَتَهَا لَكَ وَإِذَا كُنْتَ بِأَرْضٍ قَفْرٍ أَوْ فَلَاةٍ فَضَلَّتْ رَاحِلَتُكَ فَدَعَوْتَهُ رَدَّهَا عَلَيْكَ ". قُلْتُ: اِعْهَدْ إِلَيَّ. قَالَ : " لَا تَسُبَّنَّ أَحَدًا " قَالَ فَمَا سَبَبْتُ بَعْدَهُ حُرًّا وَلَا عَبْدًا وَلَا بَعِيْرًا وَلَا شَاةً. قَالَ: " وَلَا تَحْقِرَنَّ شَيْئًا مِنَ الْمَعْرُوْفِ وَأَنْ تُكَلِّمَ أَخَاكَ وَأَنْتَ مُنْبَسِطٌ إِلَيْهِ وَجْهُكَ إِنَّ ذٰلِكَ مِنَ الْمَعْرُوْفِ وَارْفَعْ إِزَارَكَ إِلٰى نِصْفِ السَّاقِ فَإِنْ أَبَيْتَ فَإِلَى الْكَعْبَيْنِ وَإِيَّاكَ وَإِسْبَالَ الْإِزَارِ فَإِنَّهَا مِنَ الْمَخِيْلَةِ وَإِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْمَخِيْلَةَ وَإِنِ امْرُؤٌ شَتَمَكَ وَعَيَّرَكَ بِمَا يَعْلَمُ فِيْكَ فَلَا تُعَيِّرْهُ بِمَا تَعْلَمُ فِيْهِ فَإِنَّمَا وَبَالُ ذٰلِكَ عَلَيْهِ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ مِنْهُ حَدِيْثَ السَّلَامِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ : " فَيَكُوْنُ لَكَ أَجْرُ ذٰلِكَ وَوَبَالُهُ عَلَيْهِ"

ترجمه : او سيدنا ابو جُرى چه نوم ئے جابر بن سليم ﷺ دے وائى چه زۀ مدينے ته راغلم نو ما يو سړے وليدو چه خلك به د هغه د رائے نه راواپس كيدل (يعنى خلكو به د هغه په عقل باندے بهروسه كوله) هغه هيڅ خبره نۀ كوى مګر خلك د هغے نه راواپس كيږى (يعنى مقابله ئے نۀ كوى) ما تپوس وكړو: دا شخص څوك دے؟، خلكو وويل : دا د الله رسول دے۔ (زۀ هغه ته ورغلم) ما دوه كرته ووېل : عليك السلام يا رسول الله۔ (په تا باندے دے سلام وى اے د الله رسوله !) نبى ﷺ وفرمايل: عليك السلام مۀ وايه، (ځكه) عليك السلام د مړى دپاره سلام (دعا) ده بلكه السلام عليك وايه، (دا بهتره ده) (بيا) ما ووېل : آيا تۀ د الله رسول ئے؟ هغه وفرمايل : زۀ د هغه الله رسول يم چه كه چرته تا ته تكليف در ورسى او د هغه نه دے دعا وغوښته نو هغه به درنه لرى كړى او كه تا ته قحط سالى ورسيده او د هغه نه دے دعا وغوښته نو (په زمكه كى به) ستا دپاره سبزيانى (غلے) رازرغونے كړى او كله چه تۀ په يوه شاړه زمكه (چه هلته اُوبه او ونے نۀ وى) يا په يو دشته كى ئے (چه هغه د آبادئ نه جدا وى) او ستا نه ستا اُوښه وركه شى او د هغه الله نه دعا وغواړے نو هغه به درته راواپس كړى۔ ما ووېل : ما ته (څه) وصيت (نصيحت) وكړه، وے فرمايل: هيچا ته كنځلے (بد رد) مۀ

وايه، جابرؓ وائی : ددیے نه بعد ما هیچا ته بد رد نۀ دی وئیلی نۀ آزاد ته، نۀ غلام ته، نۀ اُوښ تـه او نۀ ګډیے بزیے ته۔ (لکه د عامو خلکو دا عادت وی) نبی ﷺ ورته وفرمایل : او د نیـکـئ هیـڅ شے سپك مۀ ګنړه، او (بله دا چه) تۀ د ورور (مسلمان) سره خبریے اتریے کـویے نـو پـداسے حال کی چه تۀ کولاؤ مخ والائے د هغه سره (یعنی کله چه د هغه سره بی مـلاؤ شے نـو پـه عاجزئ او ښائسته خبرو او روڼ تندی ملاویږه دیے دپاره چه ستا د خـوش اخـلاقـئ په وجه د هغه زړه خوشحاله شی) (څکه چه) دا هم یوه نیکی ده او تۀ خپـل لـنـګ (یعنی پاجامه پرتوګ، پټکے وغیره) د نیمائی پونډئ پوریے پورته کړه، که دومـره اُوچـت سـاتـل نۀ خوښویے نو ګیټو پوریے وساته (مګر) ځان وساته د خکته کولو (زوړندولو) د لنګ نه (د ګیټو نه) څکه چه دا کار د تکبر (علامه) ده، او الله تعالیٰ تکبر نۀ خوښوی او که یو سړیے تا ته کنځلے وکړی (بد رد ووائی) او پیغور درکړی (عیب درله بیان کړی) په هغه کار چه په تا کی ئے پیژنی نو تۀ (انتقاماً) هغه ته پیغور مۀ ورکوه په هـغـه کـار چه تا ته په هغه کی معلوم وی څکه چه ددیے (پیغور) ګناه به په هغه باندیے وی۔ (ابـوداوؒد) او تـرمذیؒ ددیے صرف ابتدائی حصه نقل کړیده چه په هغے کی د سلام ذکر دیے (باقی روایت ئے نۀ دیے نقل کړیے) او (د ترمذیؒ) په یو بل روایت کی دا الفاظ دی : ”نو ستا دپاره به پدیے کار باندیے اجر وی او ګناه ددیے به په هغه باندیے وی“۔

تعارف : ابوجُری جابر بن سلیم ﷺ بـعض وائی سلیم بن جابر الهُجَیمی التمیمی د بلهجیم بـن عـمـرو بـن تـمـیـم مشهور صحابیؓ دیے، ابوتمیمه الهجیمی او محمد بن سیـریـن تـریے روایـت نـقـل کوی۔ حافظؒ وائی : بخاریؒ وائی چه ددۀ په نوم کی جابر بن سلیمؓ ډیر صحیح دیے۔

تشریح : يَصْدُرُ النَّاسُ : یـعـنـی خـلـك د هغه په رایه باندیے عمل کوی او هیڅوك پریے اعتراض نۀ کوی او هغه چه څه خبره وکړی نو ملګری ئے پوره تابعداری کوی۔

لَا تَـقُلْ عَلَيْكَ السَّلَامُ : ددیے نـه دا مـعـلـومـه شوه چـه پـه ابتداء د سلام کی (عَلَيْكَ السَّلَامُ) وئـیـل صـحـیـح نـۀ دی بلکه لفظ د سلام به په علیك او علیکم باندیے مخکی کوی (السلام علیکم) به وائی پدیے وجه نبی ﷺ جابرؓ منع کړو چه علیك السلام سره بـه سـلام نـۀ کـویے، البته په جواب د سلام کی علیك السلام وئیلے شی لیکن هغه به هـم په واو سره وائی۔ او هرچه دا خبره د نبی ﷺ ده چه علیك السلام د مړو سلام دیے

نو ددے مطلب دا دے چه شاعران او د جاهلیت زمانے والا خلك چه په مړو باندے سلام اچوی نو علیك السلام وائی لکه یو شاعر وائی :

عَلَيْكَ سَلَامُ اللّٰهِ قَيْسَ بْنَ عَاصِمٍ	وَرَحْمَتُهُ إِنْ شَاءَ أَنْ يَتَرَحَّمَا

شماخ وائی :

عَلَيْكَ سَلَامٌ مِنْ أَمِيرٍ وَبَارَكَتْ	يَدُ اللّٰهِ فِيْ ذَاكَ الْأَدِيْمِ الْمُمَزَّقِ

نو ددے دا مطلب نهٔ دے چه په مړو باندے به په اسلام کی السلام علیکم نشی وئیلے بلکه صرف علیك السلام به وئیلے شی، نهٔ بلکه د نبی ﷺ نه د مړو په باره کی هم د ژوندو په شان سلام راغلے دے (السلام علیکم دار قوم مومنین الخ). لکه ددے خبرے تفصیل شیخ الاسلام ابن قیم الجوزیة رحمه الله په زاد المعاد (۲/۴۲۱) کی ذکر کړیدے۔

بعض علماؤ چه دا خبره کړیده چه نبی ﷺ جابرؓ څکه منع کړو چه علیك السلام به جاهلیت والو استعمالولو نو په اسلام کی اګرکه دا هم جائز دے لیکن دے دپاره ئے منع کړو چه د جاهلیت والو نه امتیاز راشی نو دا خبره خطاء ده بلکه په ابتداء د سلام کی (علیك السلام) په احادیثو کی نهٔ دے ثابت بلکه پدے روایت کی پرے رد راغلے۔

بله دا چه که جائز شی نو بیا امتیاز رانغلو؟۔

الَّذِیْ إِذَا أَصَابَكَ : دا صفت د الله دے نهٔ د رسول الله (ﷺ)، یعنی زهٔ د هغه الله رسول یم چه کله درته څه مصیبت او تکلیف ورسی او د هغه نه دے دعا وغوښته نو هغه به ئے درنه لرې کړی۔

فَدَعَوْتَهُ : دلته ورسره بدعتیان دا قید وائی چه زما په وسیله دعا وکړه نو الله به ئے درواپس کړی دا ورسره په حدیث کی نشته دا دروغ دی چه اهل بدع ئے د احادیثو سره یو ځای کوی. لکه د مشکاة په لاندے نکته کی ئے دا لیکلے دے۔

اِعْهَدْ إِلَيَّ : یعنی ما ته وصیت وکړه۔

وَارْفَعْ إِزَارَكَ : دلته ئے ورته دا مسئله هم وکړه څکه چه دا په اسلام کی ډیر اهمیت لری چه د سړو او د زنانو فرق به وی، سړی به د ګیټو نه جامه نهٔ خکته کوی پدے باندے ورته الله تعالیٰ څلور قسمه عذاب ورکوی او دهٔ ته ئے دا مسئله څکه وکړه چه په یو روایت کی راغلی دی دا وائی زهٔ چه نبی ﷺ ته راغلم نو ما د مالو چو نه جوړ لنګ

اچولے وو چه طرفونه ئے خوارۀ وارۀ وو او د ګیټونه خکته وو۔

(الاسماء والکنی للدولابی رقم: ۳۷۱)

فَإِنَّهَا مِنَ الْمَخِيْلَةِ : په فتحه د میم او کسره د خاء سره۔ ددے نه عجیبه فائده معلومه شوه هغه دا چه لنګ او پرتوګ د ګیټو نه ښکته کول خپله تکبر دے او د تکبر نښه ده نو که د چا په زړه کښې تکبر نۀ وی هم دا کار د تکبر دے کبیره ګناه ده، ځان ساتل ترے لازم دی، پدے سره د هغه خلکو عذر ختم شو چه وائی لنګ خکته کول د تکبر په نیت ناروا دی او که تکبر نۀ وی بیا روا دی نو دا حدیث په دغه قسم خلکو صریح رد دے، پدے باندے بوطامی کتاب لیکلے دے ((الاسبال لغیر الخیلاء)) یعنی په غیر د تکبر نه جامه زوړندول هم حرام دی۔

فَلَا تُعَيِّرْهُ : پدے سره په انسان کښې ډیر ښکلے د ضبط او صبر ماده پیدا کیږی دا د انسان د مزاج خلاف ده چه څوك پیغور ورکړی او هغه جواب ورنکړی، ددے پیغور څه ضرر انسان ته نۀ رسی تو له ګناه د پیغور ورکونکی وشوه او په روایت د احمدؒ کښې راغلی دی چه پدے سره پیغور ورکړے شوی ته اجر ملاویږی۔ لیکن دا حکم استحبابی دے او په قرآن کریم کښې د بدلے اخستو اجازه هم راغلے ده: ﴿ وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ ﴾ (النحل:١٢٦)۔

درجة الحديث : اسناده صحيح اخرجه ابوداود والترمذی واحمد وابن حبان فی صحيحه وصححه الترمذی والنووی ونقل المنذری تصحيح الترمذی واقره)

- 1919 (32) وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهُمْ ذَبَحُوا شَاةً فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : " مَا بَقِيَ مِنْهَا ؟" قَالَتْ: مَا بَقِيَ مِنْهَا إِلَّا كَتِفُهَا قَالَ : " بَقِيَ كُلُّهَا غَيْرَ كَتِفِهَا " . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی: چه دوی (اهل بیتو یوه ورځ) ګډه ذبح کړه (کله چه تقسیم شوه نو) نبی کریم ﷺ وفرمایل : ددے نه څه باقی پاتی شویدی؟ عائشہؓ وفرمایل : ددے نه صرف ددے اوګه باقی پاتے شویده۔ نبی کریم ﷺ وفرمایل : ټوله باقی پاتے شویده سوی د اوګے ددے نه۔ (دا ترمذیؒ روایت کړیدے او دے ته ئے صحیح وئیلے دے)

تشريح : یعنی صحابه کرامو یا د نبی ﷺ کور والو یوه ګډه ذبحه کړه بیا ئے

تقسیم کړه بیا ئے تپوس وکړو چه څومره پکې باقي پاتے شوه؟ عائشہؓ جواب ورکړو چه صرف یوه اوګه پاتے شوه چه دا صدقه نشوه نو نبی ﷺ ورته جواب ورکړو چه کومه صدقه شوه هغه باقي پاتے شوه او کومه چه تا سره ده دا نۀ ده باقي پدے کې اشاره دے آیت ته: ﴿مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ﴾ (النحل : ٩٦)

یعنې د دنیا څیزونه ختمیدونکي دي او د الله سره چه کوم شے پاتے شو چه هغه اجر دے هغه باقي دے او د هغے فائدے باقي دي. د نبي ﷺ طریقه دا وه چه د خپلو ملګرو توجه به ئے آخرت ته پیدا کوله.

درجة الحديث: اسناده صحيح، اخرجه الترمذي و صححه)

- 1920 (33) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : " مَا مِنْ مُسْلِمٍ كَسَا مُسْلِمًا ثَوْبًا إِلَّا كَانَ فِيْ حِفْظٍ مِنَ اللهِ مَادَامَ عَلَيْهِ مِنْهُ خِرْقَةٌ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے : نشته یو مسلمان چه یو مسلمان ته جامه واغوندی مګر دے به د الله په حفاظت کې وی ترڅو پورے چه د هغه مسلمان په بدن باندے ددے جامے نه یوه ټکړه وی. (احمدؒ، ترمذیؒ).

تشريح : په دے روایت کې دا قصه ده چه عبد الله بن عباسؓ ته یو سائل راغے نو هغه ترے د توحید او د رسالت او د مونځونو په باره کې تپوس وکړو نو هغه اقرار وکړو بیا ابن عباسؓ وفرمایل : ستا په مونږ باندے ضرور حق شته بیا ئے حکم وکړو چه دۀ ته یوه جامه ورکړئ او دا ارشاد ئے وفرمایلو چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دي چه څوك مسلمان ته یوه جامه ورواغوندوی نو دا به د الله په حفاظت کې وی ترڅو پورے چه د هغے نه یوه چیرړه باقي وی. (المعجم الكبير للطبراني)

درجة الحديث: اسناده ضعيف اخرجه الترمذي والحاكم مثله وحسنه الترمذي وقال الحاكم صحيح الاسناد وتعقبه الذهبي فقال : خالد بن طهمان ضعيف، آه ، صدوق رمي بالتشيع ثم اختلط (التقريب)

- 1921 (34) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ يَرْفَعُهُ قَالَ : " ثَلَاثَةٌ يُحِبُّهُمُ اللهُ : رَجُلٌ قَامَ

مِنَ اللَّيْلِ يَتْلُوا كِتَابَ اللهِ وَرَجُلٌ يَتَصَدَّقُ بِصَدَقَةٍ بِيَمِيْنِهِ يُخْفِيهَا أُرَاهُ قَالَ : مِنْ شِمَالِهِ وَرَجُلٌ كَانَ فِي سَرِيَّةٍ فَانْهَزَمَ أَصْحَابُهُ فَاسْتَقْبَلَ الْعَدُوَّ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَيْرُ مَحْفُوْظٍ أَحَدُ رُوَاتِهِ أَبُوْبَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ كَثِيْرُ الْغَلَطِ.

ترجمه : او سيدنا عبد الله بن مسعود ﷺ دا روايت رسول الله ﷺ ته پورته كوي چه هغه فرمائي: درے كسان دي چه الله تعالىٰ ورسره مينه كوي : (۱) يو هغه سړے چه د شپے راپاڅيږي د الله تعالىٰ كتاب لولي. (۲) دويم هغه سړے چه په ښي لاس سره صدقه وركړي چه پټه وي ئے -راوي وائي زما گمان دے چه داسے ئے وفرمايل: (هغه) - د خپل ښي لاس نه (پټه ساتي). (۳) او دريم هغه شخص دے چه (د مجاهدينو) په يو لښكر كي وي او ددۀ ملګري شكست وخوري او دے دشمن ته مخامخ شي. (او جنګ ورسره جاري وساتي). (دا روايت امام ترمذيؒ نقل كړيدے او وئيلي ئے دي چه دا حديث غير محفوظ (ضعيف) دے، ددے يو راوي ابوبكر بن عياش دے چه ډيره غلطي كوي.

تشريح : يَرْفَعُهُ : يعني عبد الله بن مسعود ﷺ دا حديث نبي ﷺ ته پورته كوي. يعني مرفوع حديث دے.

بِيَمِيْنِهِ : نه د صدقے ادب ته اشاره ده چه صدقه دے په ښي لاس وركړے شي يا دا چه اول هغه شخص ته صدقه او خيرات وركول پكار دي چه د بنده ښي طرف ته وي. اول مطلب ظاهر دے.

فَاسْتَقْبَلَ الْعَدُوَّ : يعني دا دشمن ته مخامخ شي او جنګ ورسره شروع كړي دے دپاره چه د الله دين غالبه كول غواړي. ددے تشريح روستو حديث كي رازي.

درجة الحديث : اسناده ضعيف، رواه الترمذي وقال هذا حديث غير محفوظ احد رواته ابوبكر بن عياش كثير الغلط آه، اى فى الحديث وان كان اماما فى القراءة، وهو ثقة عابد الا انه لما كبر ساء حفظه و كتابه صحيح)، لكن يشهد له الحديث الآتى فهو حسن لغيره)

- 1922(35) وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍّ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " ثَلَاثَةٌ يُحِبُّهُمُ اللهُ وَثَلَاثَةٌ يُبْغِضُهُمُ اللهُ فَأَمَّا الَّذِيْنَ يُحِبُّهُمُ اللهُ فَرَجُلٌ أَتَى قَوْمًا فَسَأَلَهُمْ بِاللهِ وَلَمْ يَسْأَلْهُمْ بِقَرَابَةٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمْ فَمَنَعُوْهُ فَتَخَلَّفَ رَجُلٌ بِأَعْيَانِهِمْ فَأَعْطَاهُ سِرًّا لَا يَعْلَمُ بِعَطِيَّتِهِ إِلَّا اللهُ وَالَّذِيْ أَعْطَاهُ وَقَوْمٌ

سَارُوْا لَيْلَتَهُمْ حَتّٰى إِذَا كَانَ النَّوْمُ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِمَّا يُعْدَلُ بِهٖ فَوَضَعُوْا رُءُوْسَهُمْ فَقَامَ يَتَمَلَّقُنِيْ وَيَتْلُوْ آيَاتِيْ وَرَجُلٌ كَانَ فِيْ سَرِيَّةٍ فَلَقِيَ الْعَدُوَّ فَهُزِمُوْا وَأَقْبَلَ بِصَدْرِهٖ حَتّٰى يُقْتَلَ أَوْ يُفْتَحَ لَهٗ. وَالثَّلَاثَةُ الَّذِيْنَ يُبْغِضُهُمُ اللّٰهُ: اَلشَّيْخُ الزَّانِيْ وَالْفَقِيْرُ الْمُخْتَالُ وَالْغَنِيُّ الظَّلُوْمُ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: او سیدنا ابوذر ﷛ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: درے کسان دی چه الله تعالیٰ ورسره مینه کوی او درے کسان دی چه الله تعالیٰ ورسره بُغض کوی، هر چه هغه کسان دی چه الله تعالیٰ ورسره مینه کوی نو یو هغه سړے دے چه یو قوم ته راغے او د هغوی نه ئے د الله په نوم سره سوال وکړو او د هغوی نه ئے د هغه خپلولئ د وجه نه سوال ونکړو کوم چه ددهٔ او د هغوی ترمینځ ده نو هغوی ترے منع کړی (یعنی څه ورنکړی) نو یو تن (ددے قوم) نه روستو پاتی شی او دغه سائل ته په پټه (خیرات) ورکړی چه ددهٔ په ورکړه باندے صرف الله تعالیٰ خبردار وی او هغه شخص چه دهٔ ورته ورکړه کړی وی۔ او بل هغه خلك دی چه د شپے مزل کوی تردے چه کله خوب دوی ته د ټولو هغه څیزونو نه زیات محبوب شی چه د خوب سره برابر دی، نو ټول ملګری سرونه کیږدی (اُوده شی) نو دا سړے راپاځیږی چه ما ته چاپلوسی (زاری) کوی او زما آیتونه لولی۔ او بل هغه سړے دے چه په لښکر کی وی او د دشمن سره ملاؤ شی او ملګری ئے شکست وخوری او دے خپله سینه (دشمن ته) مخامخ کړی (جنګ کوی) تردے چه شهید شی یا دهٔ ته فتح ملاؤ شی۔ او هغه درے کسان چه الله تعالیٰ ورسره بُغض کوی یو بوډا زناکار او دویم غریب تکبر کونکے او دریم هغه مالدار چه ظلم کونکے دے۔ (یعنی دا شخص د دولت سره سره قرض ورکونکی ته خپل قرض نهٔ ادا کوی یا د خلکو سره بله کومه معامله د ظلم کوی). (دا روایت امام ترمذیؒ او نسائیؒ نقل کړیدے او نسائیؒ هغه درے کسان نهٔ دی ذکر کړی چه الله تعالیٰ ورسره بغض کوی)۔

تشریح: فَرَجُلٌ: ظاهر ددے دا دے چه سائل یو د دغه درے کسانو نه دے چه الله ورسره مینه کوی خو خبره داسے نهٔ ده بلکه پټه صدقه ورکونکے مراد دے نو دلته مضاف حذف دے ای مُعْطِیْ رَجُلٍ۔ (ورکونکے یو سړی ته)۔

وَأَقْبَلَ بِصَدْرِهِ : دا ډیره مبالغه ده مراد تری نه دا دے چه جنګ شروع کړی او شا راوانهٔ ړوی نو دا ډیرے قربانئ والا شخص وی چه دا په میدان جنګ کی اعلیٰ مرتبه ده اګرکه ددهٔ دپاره خپلے قرارګاه ته واپس کیدل جواز لری۔

ددے روایت نه غلط مطلب بعضو اخستے دے هغه دا چه په یو ملك کی یواځے جهاد شروع کول چه شا ته ورپسے هیڅ طاقت نهٔ وی دا استدلال غلط دے بلکه د جهاد دپاره اصول او ضوابط دی یو د هغے نه قدرت دے چه دشمن وژلے شی یا ځان تری خلاصولے شی، زخمی، شهید سنبالولے شی او تفصیل ئے په کتاب الجهاد د فتاوی الدین الخالص کی وګوره۔

اَلشَّيْخُ الزَّانِيُّ : ددے درے کسانو دے ګناهونو ته هیڅ ضرورت نشته پدے وجه دوی ددے ګناهونو کولو په وجه ډیر لوی مجرمان دی۔ زنا خو د شهوت نه کیږی او د بوډا شهوات مړهٔ وی او فقیر سره مال نهٔ وی او تکبر خو په مال کیږی او مالداره سړی سره ورکړه مناسب ده نهٔ دا چه تال متبول وکړی او په خلکو ظلم وکړی۔

فائده : یتملقنی : پدے کی د قرآن کریم د لوستلو ناشنا ادب دے لکه ددے تفصیل په الفوائد (٣) کی شویدے، هلته ئے وګورئ۔

درجة الحديث : حديث صحيح، رواه الترمذی والنسائی وصححه الترمذی والحاكم ووافقه الذهبی وضعفه الالبانی بزيد بن ظبيان فانه تفرد عنه ربعی بن حراش ولكن وثقه ابن حبان وتوبع له كما فی مسند احمد برقم (٢١٣٤٠) ولذلك صححه معلق المسند)

- 1923(36) وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ الْأَرْضَ جَعَلَتْ تَمِيدُ فَخَلَقَ الْجِبَالَ فَقَالَ بِهَا عَلَيْهَا فَاسْتَقَرَّتْ فَعَجِبَتِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ شِدَّةِ الْجِبَالِ فَقَالُوْا يَا رَبِّ ! هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْجِبَالِ؟ قَالَ : نَعَمْ، اَلْحَدِيْدُ، قَالُوْا يَا رَبِّ ! هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْحَدِيْدِ؟ قَالَ : نَعَمْ، اَلنَّارُ فَقَالُوْا يَا رَبِّ هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ النَّارِ؟ قَالَ: نَعَمْ، اَلْمَاءُ. قَالُوْا يَا رَبِّ! فَهَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْمَاءِ ؟ قَالَ نَعَمْ، اَلرِّيْحُ فَقَالُوْا يَا رَبِّ ! هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الرِّيْحِ؟ قَالَ: نَعَمْ، اِبْنُ آدَمَ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ بِيَمِيْنِهِ يُخْفِيْهَا مِنْ شِمَالِهِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا

حَدِيثٌ غَرِيبٌ. وَذُكِرَ حَدِيثُ مُعَاذٍ: " اَلصَّدَقَةُ تُطْفِىءُ الْخَطِيئَةَ " فِي كِتَابِ الإِيمَانِ.

ترجمه: او سیدنا انس بن مالك ﷺ د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی چه هغه فرمائی: هر کله چه الله تعالیٰ زمکه پیدا کړه نو هغه شروع شوه چه خوزیدله نو الله تعالیٰ غرونه پیدا کړل نو هغه ئې په زمکه باندې ودرول نو زمکه په آرام شوه (په ځای ودریده) نو ملائکو د غرونو د سخت والی نه تعجب وکړو نو وې ویل اې ربه! آیا ستا د مخلوق نه څه داسې شې شته چه د غرونو نه ډیر سخت وی. الله وفرمایل: آؤ وسپنه ده. نو ملائکو عرض وکړو: اې ربه زمونږ! آیا ستا د مخلوق نه څه شې شته چه د وسپنې نه ډیر سخت وی؟ وې فرمایل: آؤ، اُور دې، ملائکو عرض وکړو: اې ربه! آیا ستا د مخلوق نه څه شې شته چه د اُور نه سخت وی؟ وې فرمایل، آؤ، اُوبه دی، ملائکو بیا عرض وکړو: اې ربه! آیا ستا د مخلوق نه څه شې شته چه د اُوبو نه سخت وی؟ وې فرمایل: آؤ، هواء ده، ملائکو بیا عرض وکړو: اې ربه! آیا ستا د مخلوق نه څه شې شته چه د هواء نه ډیر سخت وی؟ وې فرمایل: آؤ، بنیادم دې چه یوه صدقه په ښی لاس ورکړی چه د ګس لاس نه ئې پته کړی. (دا روایت ترمذیؒ نقل کړې او وئیلی ئې دی چه دا حدیث غریب دې) او ذکر شویدې حدیث د معاذ چه ((صدقه ګناه ختموی)) په کتاب الایمان کې.

تشریح: فَقَالَ بِهَا: دلته قال په معنیٰ د امر او اشارې رازی دارنګه قال د افعال عامو نه دې په معنیٰ د ودرولو سره هم رازی لکه دلته په همدې معنیٰ سره دې یعنی غرونو ته ئې حکم او اشاره وکړه چه په زمکه باندې مضبوط شئ. او دلته په معنیٰ د ودرولو سره هم صحیح دې یعنی غرونه ئې پرې ودرول.

فَاسْتَقَرَّتْ: زمکه په آرام شوه.

اَلْحَدِيدُ: وسپنه غرونه ماتوی او اُور وسپنه ویلی کوی او اُوبه اُور وژنی او هواء اُوبه هم پورته کولې شی او ددې تولو نه د مسلمان صدقه ډیره طاقت والا ده او ددې طاقت وجه بعض علماؤ داسې وئیلې ده چه په انسان کی شح او بخل او د شیطان تابعداری او د نفس خوا هشات دی او ددې کارونو لرې کول ډیر سخت دی نو کله چه انسان صدقه ورکوی او دا تول کارونه د الله د رضا په خاطر لرې کوی او په نفس باندې خپه ایږدی نو دا ډیر ګران دی ځکه ئې دې انسان ته ډیر قوی وئیلې دې. لیکن صحیح وجه دا ده چه

دلته ئې د انسان نيك عمل او دې صدقې ته د تولو څيزونو نه قوي وئيلې ده وجه دا ده چه په نيك عمل كې الله تعالىٰ د غرونو او وسپنو او هرڅه نه ډير طاقت اچولې دې دا وجه ده چه د جهنم د اور نه مضبوط هيڅ شې بل نشته او د نيك عمل په وجه انسان د هغې نه بچ كيږي دارنګه د الله نبي وائي كه مومن جهنم ته د ګناهونو په وجه لاړ شي نو د سجدې ځايونه (تندې مخ، لاسونه، خپې او زنګنونه) ورله نشي سيزلې حال دا چه دا ډير نازك اندامونه دي نو په سجده كې دومره طاقت شو چه د جهنم اور ئې هم ورله نشي سيزلې.

دارنګه دموع (بحار جهنم) د جهنم دريابونه مړه كوي. دارنګه درې بچي چه د چا مړۀ شي او صبر وكړي لكه نبي كريم ﷺ يو ې ښځې ته وئيلي وو: (لَقَدِ احْتَظَرْتِ بِحِظَارٍ شَدِيْدٍ مِنَ النَّارِ) تا د اور نه ډيره مضبوطه پرده ونيوله). او د نيك اعمالو اثر په دين كې معلوم دې.

درجة الحديث : اسناده ضعيف، رواه الترمذی وقال هذا حديث غريب لا نعرفه مرفوعا الا من هذا الوجه،آه، وفيه سليمان بن ابی سليمان قال الذهبی لا يكاد يعرف وقال ابن معين لا اعرفه فحديثه حسن اذا توبع او يروی عنه اثنان)

الفصل الثالث

- 1924(37) عَنْ أَبِیْ ذَرٍّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُنْفِقُ مِنْ كُلِّ مَالٍ لَهٗ زَوْجَيْنِ فِیْ سَبِيْلِ اللهِ إِلَّا اسْتَقْبَلَتْهُ حَجَبَةُ الْجَنَّةِ كُلُّهُمْ يَدْعُوْهُ إِلٰى مَا عِنْدَهٗ ". قُلْتُ: وَكَيْفَ ذٰلِكَ ؟ قَالَ :" إِنْ كَانَتْ إِبِلًا فَبَعِيْرَيْنِ وَإِنْ كَانَتْ بَقَرَةً فَبَقَرَتَيْنِ ". رَوَاهُ النَّسَائِیُّ

ترجمه : سيدنا ابوذر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل : نشته يو بنده مسلمان چه خرچ كړي د هر مال ددۀ نه دوه څيزونه (جوړۍ) د الله په لاره كې (يعني د الله د رضا په كارونو كې) مګر ددۀ استقبال ته به د جنت دربانچيان (ملائك) راځي، ټول به دۀ لره هغه څيزونو (يعني نعمتونو) طرف ته رابلي چه د هغه سره وي. ابوذر ﷺ فرمائي: ما عرض وكړو: دا كار به څنګه وي؟ (يعني دوه دوه څيزونه خرچ كولو مطلب څه دې؟) وې فرمايل: كه د (بنده مال) اُوښان وي نو دوه اوښان (خرچ كړي) او كه غواګانې وي نو دوه غواګانې (خرچ كړي). (نسائی)

تشریح :فِيْ سَبِيْلِ اللهِ : یعنی د الله د رضا او د هغه د مخ د خاطره ئے ورکړی،
إِلٰى مَا عِنْدَهٗ : یعنی د جنت هر دربانچی به ئے هغه نعمتونو ته راغواړی کوم چه د هغه سره دی هر یو به ورته دعوت ورکوی چه زما خوا ته راشه او زما په دروازه ورداخل شه، هریو به پدے کی شرافت گنړی چه دا شخص د هغه په دروازه ورداخل شی۔
سوال : مخکی په باب فضل الصدقة کی تیر شو چه صدقه خپله باب دے او دلته د صدقے په وجه د تولو ابوابو نه آواز کیږی؟
جواب دا دے چه دلته حَجَبَة الجنة (د جنت دربانچیان) آواز کوی او هلته باب ذکر دے او د دواړو ترمینځ فرق دے۔ یا دا چه هغه حدیث کی هم دوه معانی وے فانظره۔
إِنْ كَانَتْ : یعنی که دده مال اُوښان وی یا غواگانے وی نو د هغے نه دوه ورکړی۔ دغه شان که د چا سره کپړے وی نو دوه ترے د الله دپاره مسکینانو ته ورکړی او دغسے نور څیزونو نه واخله۔
درجة الحدیث : اسناده صحیح، رواه النسائی واحمد وابن حبان والحاکم وصححه مع موافقة الذهبی۔

- 1925(38) وَعَنْ مَرْثَدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ : حَدَّثَنِيْ بَعْضُ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ أَنَّهٗ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ :" إِنَّ ظِلَّ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَدَقَتُهٗ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او جناب مرثد بن عبد الله رحمه الله وائی چه ما ته د رسول الله ﷺ بعض ملگرو بیان کړیدی چه هغه د رسول الله ﷺ نه آوریدلی چه فرمایل ئے : یقیناً د قیامت په ورځ به د مؤمن سړی سورے د هغه صدقه وی۔ (احمدؒ)
تشریح : بَعْضُ أَصْحَابِ : دا عقبه بن عامر رضی الله عنه دے لکه په روایت د احمد وغیره کی ددے په شان سند مرثد بن عبد الله عن عقبة عامر راغلے دے۔
د قیامت میدان ډیرے سختے گرمئ والا دے، انسان به سوری ته محتاج وی نو صدقه به پرے راشی او په دهٔ باندے به سورے وکړی د گرمائش نه به ئے بچ کړی او په قیامت کی نیك اعمال جثه حاصلوی نو دا به د سوری په شکل کی راځی۔
درجة الحدیث : اسناده صحیح، اخرجه احمد وابن خزیمة ایضاً کما فی الترغیب)

- 1926(39) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ وَسَّعَ عَلٰى عِيَالِهٖ فِي النَّفَقَةِ يَوْمَ عَاشُوْرَاءَ وَسَّعَ اللهُ عَلَيْهِ سَائِرَ سَنَتِهٖ ". قَالَ سُفْيَانُ : إِنَّا قَدْ جَرَّبْنَاهُ فَوَجَدْنَاهُ كَذٰلِكَ. رَوَاهُ رَزِيْنٌ

- 1927(40) وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ عَنْهُ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ وَأَبِيْ سَعِيْدٍ وَجَابِرٍ وَضَعَّفَهٗ. ________________________________

ترجمه : او سيدنا عبد الله بن مسعود ﷛ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چه په خپل اهل وعيال بانديے د عاشوريے په ورځ په خرچه کي فراخي راوسته (نو) الله تعالیٰ به په ده باندیے ټول کال فراخي راولي۔ سفيان ثوريؒ وائي: مونږ دديے تجربه کريده نو دغه شان مو موندليے ده۔ (دا روايت رزين بن معاويهؒ نقل کريے او بيهقيؒ په شعب الايمان کي د ابن مسعود او د ابو هريره او د ابو سعيد او جابر رضی الله عنهم نه نقل کريے او ديے ته ئے ضعيف وئيلي ديے)۔

تشريح : بيهقيؒ خو ديے روايت ته ضعيف وئيلي ديے ليکن بيا ئے ورسره داسے هم وئيلي دي چه اګرکه دديے طرق ضعيف دي ليکن چه د يو بل سره يو ځای شي نو تقويت ورته حاصليږي۔ نو د هغه په نيز دا حديث حسن درجے ته رسيږي۔ نو مصنف پديے مقام کي اختصار کريدے۔

مسئله: اختلاف : آيا دا حديث ثابت ديے ؟ نو دلته د علماؤ اختلاف ديے۔

(۱) د شيخ الاسلام ابن تيميه، او ابن القيم او ابن الجوزي في الموضوعات، زرکشي، او عقيلي رحمهم الله رايه دا ده چه دا روايت موضوع ديے او دلته اګرکه سفيان الثوريؒ خپله تجربه ذکر کريده مګر دا شرعي قانون ديے چه حکم شرعي په تجربو سره نۀ ثابتيږي۔ ابن الجوزيؒ فرمائي: چه د رسول الله ﷺ نه پديے باره کي هيڅ مُسند حديث ثابت نۀ ديے۔ دارقطنيؒ وائي : اَلْحَدِيْثُ غَيْرُ مَحْفُوْظٍ وَلَا يُثْبَتُ ۔ (التذكره في الاحاديث المشتهرة لبدر الدين الزركشي (ص : ۱۸۸)

(۲) سيوطيؒ وائي: هيڅ کله داسے نۀ ده بلکه دا حديث صحيح ديے۔ او د حافظ ابو الفضل العراقيؒ نه ئے نقل کريدي چه هغه په خپل امالي کي وئيلي دي: حديث د ابو هريرهؓ په ډيرو سندو نقل ديے چه بعض د هغے نه حافظ ابو الفضل بن ناصرؒ صحيح

کړیدی او ابن الجوزیؒ په موضوعات کی راوړیدے د طریق د سلیمان بن ابی عبد الله نه او سلیمان ته ئے مجهول وئیلے دے لیکن سلیمان ابن حبان په ثقاتو کی ذکر کړیدے نو دا حدیث د ابن حبان په رایه سره حسن دے، بیا ئے وئیلی دی چه ابن عبد البرؒ په ((الاستذکار)) کی ددے یو سند د جابرؓ نه په روایت د ابو الزبیرؓ سره نقل کړیدے او هغه پکی ډیر صحیح سند دے علی شرط مسلم دے۔ او دارنګه دا د عمر فاروقؓ نه موقوفاً دارقطنیؒ په الافراد کی نقل کړیدے اخرجه ابن عبد البر بسند جید۔

(الدرر المنتثرة فی الاحادیث المشتهرة للسیوطی ص (۱۸)

(۳) د امام بیهقیؒ او امام سخاویؒ په ((المقاصد الحسنه)) کی دا رایه ده چه دا حدیث حسن لغیره دے، بیل بیل سندونو کی کلام دے لیکن په جمعیت سره یوه معنیٰ ورکوی او دا رایه علامه ابو الحسن المبارکفوریؒ په مرعاة المفاتیح (٦/٣٦٤) کی غوره کړیده۔

شیخ البانی رحمه الله په السلسلة الضعیفه کی ددے څلور سندونه ذکر کړیدی او تولو ته ئے ضعیف وئیلی دی او بیا ئے په بیهقیؒ باندے رد کړیدے چه په کثرت د طرقو سره قوت هله پیدا کیږی چه کله ضعف زیات نۀ وی او دلته هر یو ډیر ضعیف دے لهذا دا د عمل قابل نۀ دی۔ لکه تفصیل ئے د شیخ البانیؒ په السلسله الضعیفه رقم (٦٨٢٤) کی وګوره۔ البته د تجربے په درجه کی پدے باندے عمل کول جائز دی لیکن سنت به ئے نۀ ګڼړی۔

- 1928(41) وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ : قَالَ أَبُو ذَرٍّ : يَا نَبِيَّ اللهِ أَرَأَيْتَ الصَّدَقَةَ مَاذَا هِيَ ؟ قَالَ :" أَضْعَافٌ مُضَاعَفَةٌ وَعِنْدَ اللهِ الْمَزِيدُ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه : او سیدنا ابو امامه ﷺ فرمائی: ابو ذر ﷺ وفرمایل: اے د الله نبی ! خبر راکړه چه صدقه څه شئ وی؟ (یعنی ددے څومره ثواب دے؟) نبی کریم ﷺ وفرمایل: (ددے ثواب) په چندونو چندونو دے او د الله تعالیٰ سره (ددے نه هم) زیات شته۔ (احمدؒ)

تشریح : أَضْعَافٌ : یعنی د صدقے ثوابونه په ډیرو چندونو سره ملاویږی یعنی اووه سوه پورے او د هغے نه هم زیات لکه په آیت کی دی: ﴿لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ﴾ (یونس: ٢٦) او آیت کی دی: ﴿وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ﴾ (البقرة: ٢٦١) الله ئے

زياتوی چا له چه وغواړی د اوه سوو نه به هم زيات شی، څومره چه اخلاص زيات وی نو اجرئے هم زيات وی۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، ومعناه صحيح، رواه احمد (٥/٢٦٥) والطبراني في الكبير وفي اسناده عندهما علي بن يزيد الالهاني وفيه كلام وثقه احمد وابن حبان وقال البخاري منكر الحديث، والدارقطني : متروك، ابوزرعة : ليس بقوي)



۷- باب أفضل الصدقة

د غوره صدقې بیان

الفصل الاول

- 1929(1) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَحَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " خَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ "رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ عَنْ حَكِيمٍ وَحْدَهُ.

ترجمه: او سیدنا ابو هریره او سیدنا حکیم بن حزام رضی الله عنهما فرمائي: رسول الله ﷺ فرمایلي دي: غوره صدقه هغه ده چه په بې پرواهۍ سره ورکړې شي او (د صدقې) ابتداء د هغه چا نه وکړه چه تۀ د هغې عیالداري کوې (یا په هغه چا چه په تا باندې د هغه نفقه لازمه ده)۔ (دا روایت بخاريؒ راوړیدې او امام مسلمؒ یواځې د حکیم بن حزام ﷺ نه روایت کړیدې)۔

تشریح: ظَهْرِ غِنًى: اَیْ مَا کَانَ عَفْوًا قَدْ فَضُلَ عَنْ غِنًى۔ یعنې هغه مال چه زیاتې وي او د مالدارۍ نه پاتې شوې وي۔ یا مَا یُبْقِيْ بَعْدَهٗ غِنًى۔ یعنې هغه صدقه غوره ده چه انسان صدقه وکړي او د هغې نه روستو هم ورسره څه ناڅه روپۍ وي چه هغه دۀ او دۀ د اهل وعیال پکار راشي، ظهر غنی ځکه وائي چه داسې تولې روپۍ خرچه کول چه خپله بیا سوال کوي صحیح نۀ دي بلکه دومره خرچه ورسره وي چه خپله هم محتاج نشي۔

یا ددې نه مراد دا دې چه غنیٰ په معنیٰ د بې پرواهۍ سره دې لکه په ترجمه کې دا معنی مراد شویده۔ او دیته غنائے نفس وائي۔

وَابْدَأْ: یعنې اول خرچه په هغه چا پکار ده چه انسان د هغې د نفقې او خرچې ذمه واري پورته کوي لکه خپل بال بچ او مور او پلار دوي باندې اول صدقه کول غوره دي، پدې کې د صدقې او صله رحمۍ دوه قسمه اجر ملاویږي۔

- 1930(2) وَعَنْ أَبِي مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " إِذَا أَنْفَقَ الْمُسْلِمُ نَفَقَةً عَلَى أَهْلِهِ وَهُوَ يَحْتَسِبُهَا كَانَتْ لَهُ صَدَقَةً " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابومسعود ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چه یو مسلمان په خپل اهل باندے خرچه وکړی او دے ئے ثواب گنړی نو دا به ددهٔ دپاره صدقه وی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : پدے کی د مومن دپاره یو بل خیر بیانوی چه انسان په خپل اهل وعیال باندے کومه خرچه کوی او بیا دا ثواب گنړی نو پدے کی هم ورله اجر دے، ددے بیا دا مطلب نهٔ دے چه انسان به ټولے روپئ راوړی او په خپل اهل به ئے لگوی او نورو مسکینانو او محتاجو ته به هیڅ نهٔ ورکوی، نهٔ بلکه چه د اهل وعیال گوزاره روانه وه نو بیا په نورو محتاجو باندے صدقه کول پکار دی۔

طبریؒ وائی ددینه معلومه شوه چه په خپل اهل باندے انفاق واجب دے او دیته ئے صدقه هم ووئیله ځکه چه واجب هم ده، ذمه ئے هم فارغه کیږی او د صدقے اجرئے هم کیږی بلکه دا د نفلی صدقو نه ډیره غوره ده۔

او پدے کی ترغیب دے دے خبرے ته چه واجبه صدقه به په نفلی صدقاتو باندے مخکی کولے شی۔

- 1931(3) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " دِيْنَارٌ أَنْفَقْتَهُ فِي سَبِيْلِ اللهِ وَدِيْنَارٌ أَنْفَقْتَهُ فِي رَقَبَةٍ وَدِيْنَارٌ تَصَدَّقْتَ بِهِ عَلَى مِسْكِيْنٍ وَدِيْنَارٌ أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ أَعْظَمُهَا أَجْرًا الَّذِي أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا ابوهریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: یوه روپئ چه تهٔ ئے د الله په لار کی خرچ کړے او یوه روپئ چه تهٔ ئے په آزادولو د غلام کی خرچ کړے او یوه روپئ چه تهٔ په هغے سره په مسکین باندے صدقه وکړے او یوه روپئ چه تهٔ ئے په خپل اهل باندے خرچ کړے پدے کی لوی اجر والا هغه روپئ ده چه تهٔ ئے په خپل اهل باندے خرچ کړے۔ (مسلمؒ)

تشریح : په خپل اهل باندے انفاق کولو ته ئے ډیر غوره وویلو د انفاق فی سبیل الله

او د انفاق د مریانو د آزادولو او مسکین ته د ورکولو نه وجه دا ده چه دا انفاق واجب او فرض دے او فرض د نفلو نه غوره وی او پدے کی صدقه او صله رحمی دواړه دی۔ دویم دا په هغه وخت کی مراد دے چه کله تعارض راشی ددے څیزونو ترمینځ نو بیا چه په کوم سره د بندګانو حقوق ادا کیږی نو هغه به مقدم کولے شی۔ او هغه به غوره وی۔

فائده : په دے حدیث کی نبی کریم ﷺ امت ته د صحیح نیت ترغیب ورکړے دے او نفقه ئے ورته آسانه کړیده ځکه چه څوک ثواب ګنړی بیا د اهل په نفقه سره نۀ خفه کیږی ورنه تنګیږی۔

- 1932(4) وَعَنْ ثَوْبَانَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " أَفْضَلُ دِيْنَارٍ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ دِيْنَارٌ يُنْفِقُهُ عَلٰى عِيَالِهٖ وَدِيْنَارٌ يُنْفِقُهُ عَلٰى دَابَّتِهٖ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَدِيْنَارٌ يُنْفِقُهُ عَلٰى أَصْحَابِهٖ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او سیدنا ثوبان ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: غوره روپۍ چه سړے ئے خرچ کوی هغه روپۍ ده چه په خپل اهل وعیال ئے خرچ کوی او بله (غوره) روپۍ چه خرچ ئے کړی په خپل اس باندے د الله په لار کی او بله (غوره) روپۍ چه په خپلو ملګرو باندے ئے د الله په لار کی خرچ کړی۔ (مسلم)

تشریح : یعنی دا درے قسمه روپۍ خرچ کول د نورو روپو او ځایونو په نسبت ډیر غوره دی، فی سبیل الله یعنی هغه اس باندے خرچه کوی چه د الله دپاره ئے د جهاد دپاره وقف کړے وی۔ دغه شان نوره وسله او د کاری خرچه او د الله دپاره وقف شوی څیزونه پکی داخل دی۔

أَصْحَابِهٖ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ : ددے نه مراد هغه ملګری چه جهاد فی سبیل الله کوی یا ددے نه مراد هر د دین کار دے د دین طالب علمانو ته هم شامل دے، حجاجو او معتمرینو ته هم شامل دے۔

بعض علماء وائی چه پدے حدیث کی پدے ترتیب سره انفاق غوره دے که انسان سره یوه روپۍ وی نو اول به ئے په اهل وعیال خرچ کوی۔

- 1933(5) وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ أَلِيَ أَجْرٌ أَنْ أُنْفِقَ عَلٰى بَنِيْ أَبِيْ

سَلَمَةَ ؟ إِنَّمَا هُمْ بَنِيَّ فَقَالَ : " أَنْفِقِيْ عَلَيْهِمْ فَلَكِ أَجْرُ مَا أَنْفَقْتِ عَلَيْهِمْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ام سلمه رضی الله عنها فرمائی: ما وویل : اے د الله رسوله ! آیا زما دپاره به پدے کی اجر وی چه زهٔ د ابوسلمه په بچو خرچه وکړم ځکه چه دا خو زما (هم) بچي دی؟۔ نو وے فرمایل : دوی باندے خرچه کوه نو ستا دپاره به اجر وی د هغے چه تهٔ په دوی باندے خرچ کوے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : ابوسلمه عبد الله بن عبد الاسد د ام سلمے اول خاوند وو چه هغه وفات شو نو رسول الله ﷺ پرے جرگه وکړه او بیا ئے په نکاح واخسته۔ د ابوسلمه رضی الله عنه ئے سَلَمه، عمر، محمد او زینب او دُرّه په نوم اولاد پیدا شوی وو۔

نو د ابوسلمه د خرچے نه چه کوم څه پاتی وو ام سلمےؓ به هغه په خپلو بچو خرچ کولو یا دا چه دا د ام سلمه خپل مال وو د میراث وغیره لکه همدا خبره ظاهره ده او په روایت د شرح السنه (۱۶۷۹) کی دی چه ام سلمه دا تپوس په هغه وخت کړے وو چه کله ابوسلمه وفات شوے وو او د هغه بچي یتیمانان پاتی شوی وو او دا ئے وفرمایل: چه د دوی دپاره څه مال نشته چه زهٔ پرے هغه خرچ کرم نو آیا زهٔ چه پرے خپل مال خرچ کوم نو پدے کی به زما اجر کیږی ؟نبی علیه السلام ورته وفرمایل : آؤ په دوی خرچه کوه ستا به هم اجر وی۔

فَلَكِ أَجْرُ مَا أَنْفَقْتِ عَلَيْهِمْ : اجر مضاف دے ما ته او (ما) موصوله ده۔ یعنی ستا دپاره به اجر د هغه مال وی چه تا په دوی باندے خرچ کړے وی۔ یا اجرٌ باندے تنوین دے او ما ظرفیه ده۔ یعنی ستا دپاره به اجر وی ترڅو پورے چه تهٔ خرچه کوے په دوی باندے۔

- 1934(6) وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " تَصَدَّقْنَ يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ وَلَوْ مِنْ حُلِيِّكُنَّ " قَالَتْ فَرَجَعْتُ إِلَى عَبْدِ اللهِ فَقُلْتُ إِنَّكَ رَجُلٌ خَفِيْفُ ذَاتِ الْيَدِ وَإِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَدْ أَمَرَنَا بِالصَّدَقَةِ فَأْتِهِ فَاسْأَلْهُ فَإِنْ كَانَ ذٰلِكَ يُجْزِئُ عَنِّيْ وَإِلَّا صَرَفْتُهَا إِلَى غَيْرِكُمْ قَالَتْ فَقَالَ لِيْ عَبْدُ اللهِ بَلْ ائْتِيْهِ أَنْتِ قَالَتْ فَانْطَلَقْتُ فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ بِبَابِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ حَاجَتِيْ حَاجَتُهَا قَالَتْ وَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ قَدْ أُلْقِيَتْ عَلَيْهِ الْمَهَابَةُ. فَقَالَتْ فَخَرَجَ عَلَيْنَا بِلَالٌ فَقُلْنَا لَهُ ائْتِ رَسُوْلَ

اللهِ ﷺ فَأَخْبِرْهُ أَنَّ امْرَأَتَيْنِ بِالْبَابِ تَسْأَلَانِكَ أَتُجْزِئُ الصَّدَقَةُ عَنْهُمَا عَلَى أَزْوَاجِهِمَا وَعَلَى أَيْتَامٍ فِي حُجُورِهِمَا وَلَا تُخْبِرْهُ مَنْ نَّحْنُ. قَالَتْ فَدَخَلَ بِلَالٌ عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَسَأَلَهُ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " مَنْ هُمَا. "فَقَالَ: امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَزَيْنَبُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " أَيُّ الزَّيَانِبِ"؟. قَالَ: امْرَأَةُ عَبْدِ اللهِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " لَهُمَا أَجْرَانِ أَجْرُ الْقَرَابَةِ وَأَجْرُ الصَّدَقَةِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَاللَّفْظُ لِمُسْلِمٍ.

ترجمه: او زینب رضی الله عنها چه د عبد الله بن مسعود ﷺ بی بی ده فرمائی: رسول الله ﷺ (ښځو ته نصیحت کولو کی) وفرمایل: ای د ښځو ډلے! تاسو صدقه کوئ اګر که ستاسو د ګانړے نه ولے نهٔ وی! زینب رضی الله عنها وائی چه زهٔ (دے آوریدو سره د رسول الله ﷺ د مجلس نه) عبد الله بن مسعود ته راغلم او هغه ته مے وویل: تهٔ یو خالی لاسونو والا سړے ئے. (یعنی غریب ئے) او رسول الله ﷺ مونږ ته په صدقه سره حکم کړیدے نو تهٔ هغه ته ورشه او تپوس ترے وکړه که دا کار (یعنی په تا باندے صدقه کول) زما د طرفنه کافی کیږی (نو زهٔ به تاسو ته صدقه درکړم) او که نهٔ وی نو زهٔ به ئے ستاسو نه سوی بل چا ته ورکړم، زینب وائی ما ته عبد الله وفرمایل: چه بلکه تهٔ نبی ﷺ ته ورشه، دا وائی: زهٔ لاړم (چه ورسیدم) نو دغه وخت د انصارو نه یوه ښځه د رسول الله ﷺ په دروازه باندے حاضره وه چه د هغے ضرورت زما د ضرورت په شان وو، زینب وائی: او رسول الله ﷺ باندے ډیر رعب اچولے شوے وو (یعنی رعب والا وو چه خلك به ترے یریدل) زینب وائی: نو مونږ ته بلال راووتو نو مونږ هغه ته وویل چه تهٔ رسول الله ﷺ ته ورشه او دا خبر ورکړه چه په دروازه کی دوه ښځے حاضرے دی دواړه ستا نه دا تپوس کوی چه آیا صدقه د دوی د طرف نه د دوی په خاوندانو باندے او په هغه یتیمانو باندے چه د دوی په تربیت (کفالت) کی دی کافی کیږی؟ او هغه ته دا خبر مهٔ ورکوه چه مونږ څوك یو. (یعنی زمونږ حال ورته مهٔ وایه) زینب وائی: نو بلال رسول الله ﷺ ته ورننوتو، او د هغه نه ئے تپوس وکړو نو هغه ته رسول الله ﷺ وفرمایل: دا دواړه ښځے څوك دی؟ بلال وویل: د انصارو یوه ښځه ده او بله زینب ده. نبی کریم ﷺ وفرمایل: کومه زینبه، بلال وویل: د عبد الله بن مسعود (ﷺ) بی بی، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: ددے دواړو دپاره به دوه اجرونه وی یو اجر د

خپلولئ (ځکه پدې کې صله رحمي ده) او بل اجر د صدقې. (بخاريؒ ومسلمؒ او الفاظ د مسلمؒ دي).

تشريح : **فَرَجَعْتُ** : يعني زهٔ چه د تقرير نه خپل کور ته راغلم نو خپل خاوند عبد الله بن مسعود ته مې وويل.

خَفِيْفُ ذَاتِ الْيَدِ : يعني ستا مال کم دے او فقيرئې. لاس نه دے خالي دې.

امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ : بعض وائي : ددې نه مراد د ابي مسعود عقبه بن عمرو انصاري ﷺ ښځه زينب ده لکه په اسد الغابه د ابن الاثيرؒ کې راغلي دي.

وَعَلٰى أَيْتَامٍ : د دوي د يتيمانانو نه څوك مراد دي؟ نو پدې روايت کې ددې بيان نهٔ دې ذکر شوے مګر په روايت د طيالسي کې دي چه دائې وريرونه او خوريينه وو. يا د ابن مسعودؓ د بلې ښځې بچي وو.

عَلَيْهِ الْمَهَابَةُ : يعني رسول الله ﷺ ته الله تعالىٰ ډير هيبت او رعب ورکړے وو چه خلك به ترې پريدل په اَله آسانه به چا ورسره خبرې نشوې کولې.

مَنْ نَحْنُ : **سوال** دا دے چه بلال ولې د زينب امانت (راز) ښکاره کړو ؟

جواب دا دے چه صحابه کرامو ته دا معلومه وه چه کله د الله د رسول خبره راشي نو د هيچا خبرې له اعتبار نشته او دلته ترې نبي ﷺ تپوس وکړو چه کومه زينبه ده؟ نو هغه به ضرور حال وائي.

حُجُوْرِهِمَا : جمع د حِجر ده په فتحه د حاء او کسره هم جائز ده. يعني په تربيت د دوي کې وو.

فوائد الحديث : (۱) د صحابه کرامو عقيده وه چه نبي ﷺ په غيب عالم نهٔ وو. (۲) د ښځو تپوس د سړي نه جائز دے. (۳) د زنانه خبرې د سړي سره جائز دي او د هغې آواز عورت نهٔ دے. (٤) د صحابه کرامو عادت دا وو چه کله به ئې اختلاف راغلو نو په سنت بيانولو سره به ختم شو (فردوه الى الله والرسول) لکه دلته د زينب او د ابن مسعود اختلاف په څه ختم شو؟ د اختلاف د ختميدو ښه ذريعه احاديث نبويه دي.

مسئله : آيا خاوند ته د ښځې زکاة ورکول صحيح کيږي او که نهٔ ؟

پدې کې دوه قوله دي (۱) ابو حنيفةؒ او مالكؒ او احمدؒ په يو روايت کې وئيلي دي چه ښځه به خاوند ته زکاة نهٔ ورکوي. **دليل** دا وائي چه د ښځې او د خاوند يو بل سره په

مال کې آزادي وی نو داسې ده لکه خپل ځان ته زکاة ورکول، یا داسې وائي چه که ښځه خاوند ته زکاة ورکړي نو بیرته به خاوند په نفقه کې دغه زکاة ښځې ته ورکوي نو ګویا که زکاة بیرته ښځې ته راواپس شو او ښځې ونهٔ ویستو. لیکن دا خبره مردوده ده وجه دا ده چه بیا خو به نفلي صدقه ورکول هم ورته حرام شي ځکه چه هغې کې هم احتمال شته چه بیرته ښځې ته راواپس شي او هغه خو بالاتفاق جائز ده نو دا قیاس خطاء دے۔

بیا دوی دا وائي چه دلته د صدقې نه مراد نفلي صدقه ده نهٔ فرضي، دلیل دا وائي چه طحاوي کې راغلي دي چه دے ښځې به په لاسونو کار کولو او د هغې په وجه به ئې په خاوند هم نفقه کوله او د هغه په اولادو هم او هرچه پدے روایت کې دا راغلي دي (ایجزئ عنی) آیا دا به ما نه کافي شي چه خاوند ته ئې ورکړم؟ نو ددے مقصد دا وو چه ګڼے پدے کې به ما ته ثواب ملاؤ نشي چه زهٔ خاوند ته نفلي صدقه ورکړم۔ لیکن دا جواب ضعیف دے وجه دا ده چه صحابه کرامؓ ته دا معلومه وه چه نفلي صدقه په کافر هم کیږي پاتې لا دا چه خاوند وی، نو دلته فرضي صدقه مراد ده، او دغه (یجزئ) نه معلومیږي چه دلته غاړه آزادیدل مراد کوي چه آیا زما نه به فرض پدے سره ساقط شي او که نهٔ ؟ او پدے باندے امام بخاري باب تړلے دے (باب الزکاة علی الزوج والایتام) په خاوند او یتیمانانو باندے زکاة کیږي۔

(۲) امام شافعيؒ، ثوريؒ، صاحبینؒ او یو روایت د مالكؒ او احمدؒ نه دا دے چه ښځه خاوند ته زکاة ورکولے شي او دا حدیث ئې دلیل نیولے دے۔ او وائي چه دا صدقه عامه ده نفلي او فرضي دواړو ته شامله ده لکه مخکې ذکر شو۔

دویم دلیل : آیت: ﴿إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ﴾ دا عام دے هر فقیر او مسکین ته شامل دے که د ښځې خاوند وی او که بل څوك وی۔ او تخصیص باندے ئې صحیح دلیل نشته۔ **دلیل** : ښځه باندے د خاوند نفقه نهٔ ده واجبه نو خاوند فقیر دے او د ښځې په مالدارئ باندے نهٔ غني کیږي۔ او دا قول د اکثرو اهل سنت والجماعة دے لکه ابن المنذرؒ او امام بخاريؒ وغیره۔

نو راجح دا ده چه کله خاوند غریب وی نو د ښځې زکاة ورکول ورته صحیح کیږي۔

مسئله : آیا خاوند ښځې ته زکاة ورکولے شي؟ پدے کې هم دوه قوله دي (۱) اول قول دا دے چه خاوند ښځې ته زکاة نشي ورکولے ځکه چه د ښځې نفقه په سري باندے

واجبه ده نو كه زكاة وركړي هغه به ورته په نفقه كې حساب شي نو ښځه به د نفقې نه مستغني شي نو فائده ئې بيرته خاوند ته راواپس شوه. البته كه ښځه غارمه وه (يعنى د څه مصلحت په بنياد ئې قرض كړے وو او په هغې كې تاواني شوے وه نو بيا ورته خاوند زكاة وركولے شي چه خپل قرض پرے خلاص كړي، دا په ﴿وَالْغَارِمِيْنَ﴾ كې داخل ده. (المغنى لابن قدامه ۵۱۳/۲) او پدے باندے ابن قدامهؒ د ابن المنذرؒ وغيره نه د اجماع دعوىٰ نقل كړيده. (۲) قول ثاني دا دے چه د خاوند زكاة په ښځه باندے كيږي او دا قول امام شوكانيؒ په نيل الاوطار كې غوره كړيدے او د محمد بن الحسن او د عباس نه ئې نقل كړيدے. شيخ البانيؒ نه تپوس وشو چه آيا خپلے ښځے ته زكاة وركول جائز دي كله چه د غارمينو نه وي؟ نو هغه وفرمايل: كله چه پدے باره كې د نفس څه برخه نۀ وي نو ښځه ډيره لائقه ده چه زكاة وركړے شي. (د نفس د برخے نه مقصد دا دے چه سړے ئې پدے نيت ورنكړي چه ما نه به ئې نفقه ساقطه شي)

دليل: حديث كې دي: (اَلصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِيْنِ صَدَقَةٌ وَهِيَ عَلٰى ذِي الرَّحِمِ ثِنْتَانِ صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ) (احمد) (په مسكين باندے صدقه د صدقے ثواب لري او په خپلوان باندے دوه اجره لري، د صدقے او د صله رحمیٔ). او په بل روايت كې دي: (اَفْضَلُ الصَّدَقَةِ عَلٰى ذِي الرَّحِمِ الْكَاشِحِ) (احمد، طبراني، ابن خزيمه واسناده صحيح – الباني).

غوره صدقه هغه ده چه په هغه رشته داران باندے وشي چه پټه دشمني كونكے وي.

نو پدے حديث كې صدقه عامه راغلے ده فرض او نفل دواړو ته شامل ده. او دليل دے چه زكاة خپلوانو ته وركول جائز دي برابره ده چه د هغوى نفقه په دۀ باندے لازمه وي يا نۀ وي.

۲- **دليل**: د جواز بل دليل روايت د بخاري دے: (زَوْجُكِ وَوَلَدُكِ اَحَقُّ مَنْ تَصَدَّقْتِ بِهٖ عَلَيْهِمْ) ستا خاوند او اولاد ډير لائق دي د هغه چا نه چه تۀ پرے صدقه كوے. او د احتمال په ځاى كې تفصيل نۀ كول دا داسے وي لكه خبره چه عامه كړے شوى وي. نو دلته مقام د بيان دے او نبي عليه السلام پكې تفصيل ونكړو چه نفلي صدقه يا فرضي مراد ده او نۀ ئې دا بيان وكړو چه په تا باندے ئې نفقه لازمه وي يا نۀ وي.

۳-**دليل**: اصل دا ده چه پدے باره كې هيڅ مانع نشته نو څوك چه وائي چه قرابت (خپلولي) او د نفقے لازميدل مانع دي د زكاة وركولو نه نو په هغه باندے دليل

راوړل لازم دي او هيڅ دليل نشته۔ علامه شوكانیؒ فرمائي : پدې مسئله کې هيڅ اجماع نشته ځکه چه د امام مالكؒ او محمد بن الحسنؒ وغيره نه خلاف ثابت دے۔

نيل الاوطار (٤/٢٤٨)

وَعَلَى اَيْتَامٍ فِيْ حُجُوْرِهِمَا : آيا اولادو ته زكاة وركول جائز دي ؟

دا هم اختلافي مسئله ده (١) جمهور اهل علم وائي چه بچو ته زكاة وركول جائز نۀ دي **دليل** دا دے چه په پلار باندې د بچو نفقه واجبه ده او دغه شان برعكس هم ده نو دوی د يو بل په مالدارئ باندې مالداره دي۔

٢- دليل : پدې سره نفقه د پلار نه ساقطيږي او زكاة او نفقه دواړه نۀ جمع كيږي۔ ددې تفصيل دا دے چه الله تعالىٰ په پلار باندې دا لازم كړيده چه د زكاة نه علاوه ددۀ په مال کې د نفقې وغيره حقوق دي نو كله چه دا خپلو بچو ته زكاة وركوی يا بچي ئې پلار ته وركوي نو دوی په زكاة سره دغه حقوق ساقطوی او يو فرض د دوه فرضونو نه جائز كرځوی او دا صحيح نۀ ده۔

٣- دليل : نبی ﷺ فرمائي : (أَنْتَ وَمَالُكَ لِاَبِيْكَ) (وَاِنَّ اَوْلَادَكُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ) (ترمذی) ته او ستا مال ستا د پلار دي)، (او ستاسو اولاد ستاسو د كسب نه دي) نو داسې شوه لكه چه خپل ځان ته زكاة وركوی۔

(٢) **قول ثاني** دا دے چه هر قسمه خپلوانو ته زكاة وركول جائز دي او دا قول امام شوكانیؒ غوره كړيدے او دائې د محمد بن الحسنؒ او عباسؒ نه نقل كړيدے۔

١- دليل : د نبی عليه السلام دا قول (اَلصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِيْنِ صَدَقَةٌ وَهِيَ عَلَى ذِي الرَّحِمِ ثِنْتَانِ صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ) (رواه احمد) په مسكين باندې صدقه كول صرف صدقه ده او په خپلوان باندې كول دوه اجره دي صدقه او صله رحمي)۔

٢- دليل : حديث د بخاري کې دي نبی ﷺ زينب د عبد الله بن مسعود ښځې ته وفرمايل : (زَوْجُكِ وَوَلَدُكِ اَحَقُّ مَنْ تَصَدَّقْتِ بِهِ عَلَيْهِمْ) ستا خاوند او اولاد ډير لائق دي چه تۀ پرې صدقه وكړې۔ نو دلته ئې هم صدقه کې تخصيص ونكړو، هر قسمه صدقه فرضي او نفلي دواړه وركول جائز دي۔

٣- بل طرفته په دې خبره هيڅ دليل نشته چه خپلولي او د نفقې لازميدل مانع دي د زكاة نه او د ابن عباس رضي الله عنهما نه چه دا نقل دي چه ((تۀ زكاة مۀ وركوه هغه

چا تـه چه په تا باندې ئې نفقه لازمه وی)) (رواه الاثرم فی سننه، نیل الاوطار) نو علامه شوكانیؒ ددې نه دا جواب وركړیدې چه دا د صحابیؓ كلام دې او اجتهاد ئې كړیدې او د اجتهاد دپاره پدې مسئله كی مداخلت شته، لهذا دا د هغه رایه ده. او دغه روایت په كتاب الاموال كی ابوعبيدؒ ذكر كړیدې چه په هغې كی (حجاج اخبرنا ابن جریج عن عطاء) سره عنعنعه د ابن جریج ده او ابن جریج مدلس راوی دې لهذا دغه اثر هم ضعیف دې.

(۳) **دریم قول** : هغه اولادو ته زكاة وركول جائز دی چه په بيل كور كی وسيږی او جدا ژوند تيروی، يا لور وادهٔ شويده او خاوند ئې غريب وی نو هغې ته زكاة وركول جائز دی او دا قول شيخ الاسلام ابن تيميهؒ او شيخ البانیؒ غوره كړیدې او كله چه په يو كور كی وسيږی او خرچه ئې شريكه وی د يو كټوئ نه خوراك كوی نو په دغه وخت كی به ورته زكاة نهٔ وركوی او دا قول راجح معلوميږی پدې كی جمع د ټولو احاديثو ده.

او شيخ الاسلام پـه الاختيارات الفقهية ص (١٠٤) كـی د صحيح ابن خزيمه (١٠٨/٤) نـه د عمرو بـن شعيب عن ابيه عن جده روايت راوړيدې : (اِنَّ رَجُلًا تَصَدَّقَ عَلٰى وَلَدِهٖ بِاَرْضٍ فَرَدَّهَا اِلَيْهِ الْمِيْرَاثُ فَذُكِرَ ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ لَهٗ: وَجَبَ اَجْرُكَ وَرَجَعَ اِلَيْكَ مِلْكُكَ) . يـو سړی خپل ځوی ته يوه زمكه په صدقه كی وركړه بيا دغه ځوی وفات شو او په ميراث كی بيرته پلار ته واپس شوه، نبی ﷺ ته دا خبره ذكر شوه هغه وفرمايل : ستا اجر ثابت شو او خپل ملكيت درته بيرته راواپس شو).

معلومه شوه چه كه بچی ته پلار زكاة وركړی او هغه ئې بيرته په څه موقعه كی په پلار بـانـدې ولګوی هم نـاروا نـهٔ ده. تفصيل دپاره رجوع وكړه مجموع الفتاوی (٩٠/٢٥) وفتاوی الدين الخالص (٢٢٦/٨) والموسوعة الفقهية الميسرة (١٣١/٣) للشيخ عودة.

- 1935 (7) وَعَنْ مَيْمُوْنَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ: اَنَّهَا اَعْتَقَتْ وَلِيْدَةً فِیْ زَمَانِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ : " لَوْ اَعْطَيْتِهَا اَخْوَالَكِ كَانَ اَعْظَمَ لِاَجْرِكِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او د ام المؤمنين ميمونه بنت الحارث رضی الله عنها نه روايت دې چه دې

په زمانه د رسول الله ﷺ کی یوه وینځه آزاده کړه نو دائے رسول الله ﷺ ته ذکر کړه (چه ما وینځه آزاده کړه) نو هغه وفرمایل: که تا دا (وینځه) خپلو ماماگانو ته ورکړے وے نو دا (کار) به ستا د اجر ډیر لوی کونکے وے. (یعنی اجر به درته زیات ملاؤ شوے وے) (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : په روایت د نسائیؒ کی دی چه د میمونی رضی الله عنها یوه توره وینځه وه آه. هغهٔ ئے د نبی ﷺ په ژوند کی آزاده کړه او د نبی ﷺ نه ئے اجازه نهٔ وه اخستے، بیا کله چه د نبی ﷺ نمبر ددے سره راغے نو هغه ته ئے د هغے آزادول ذکر کړل نبی ﷺ ورته وفرمایل : چه دا دے خپلو ماماگانو ته ورکړے وے پدے کی به ستا ډیر اجر شوے وے.

أَخْوَالَكِ : جمع د خال ده ماماگان ئے هم د بنی هلال نه وو او ددے د مور نوم هند بنت عوف بن زهیر بن الحارث وو.

دا حدیث دلیل دے چه خپلوانو ته هدیه ورکول د غلام او د وینځے د آزادولو نه هم زیات اجر دے. (ابن بطالؒ) لیکن دا خبره هم همیشه نهٔ ده بلکه د حالاتو په مختلف کیدو سره دا مختلف کیږی او په روایت د نسائیؒ کی ددے ماماگانو ته د ورکولو د افضیلت وجه ذکر ده هغه دا چه هغوی خدمت ته محتاج وو، نو دلته آزادول مناسب نهٔ وو بلکه د هغوی سره تعاون پکار وو.

ددے حدیث نه دا مسئله هم معلومه شوه چه د مور د طرفنه د خپلوانو اکرام او حقوقو لحاظ به هم ساتلے شي او پدے سره د مور په نیکئ کی زیاتوالے پیدا کیږی. دارنگه دا هم معلومه شوه چه ښځه چه کله هوښیاره وی نو د خاوند د اجازے نه په غیرِ هم په خپل مال سره تبرع او احسان کولے شي.

نو دا ترے معلومه شوه چه چه نبی ﷺ ته په هر څه کی رجوع پکار ده ورنه انسان به په خساره کی واقع شي لکه دلته شو. او لکه آیت کی دی ﴿ فَرِحُوا بِمَا عِندَهُم مِّنَ الْعِلْمِ ﴾ (المؤمن:۸۳) د نبی په مقابله کی په خپل علم او پوهه باندے خوشحالی نهٔ ده پکار. ددے فائدے زیات تفصیل به په تفسیر حکمة القرآن کی راشي ان شاء الله تعالیٰ.

- 1936 (8) وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ لِيْ جَارَيْنِ فَإِلٰى أَيِّهِمَا أُهْدِيْ؟ قَالَ

:" إِلَى أَقْرَبِهِمَا مِنْكَ بَابًا ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها وفرمايل : اے د الله رسوله ! زما دوه ګاونډيان دي نو کوم يو ددے دواړو ته زهٔ تحفه ولیږم (یعنی اول یا زیات کوم یو ته ورکړم؟) نبی کریم ﷺ وفرمايل: پدے دواړو کی چه د کوم دروازه تا ته ډيره نزدے وی. (بخاريّ)

تشريح : أُهْدِىْ ؟ : دا اهداء نه دے یعنی کوم یو ګاونډی ته اول هديه او تحفه ليږم ؟ وے فرمايل د چا دروازه چه ستا کور ته نزدے وی یعنی ډیر نزدے وی.

ددے حکمت بعض علماؤ دا ذکر کړیدے چه نزدے ګاونډی د انسان د کور حالات وینی او هغه ډیر اختلاط والا وی او د هرڅه نه خبرېږی تردے چه د ترکاریٔ او د هديه او میلمه هرڅه نه خبرېږی نو کوم کس چه څه وینی هغه ډیر حقدار دے د هغه چا نه چه څه ئے نهٔ وی لیدلی۔ دارنګه نزدے ګاونډی د انسان سره په مصيبت کی زر رارسیږی او مدد کوی نو دا ډیر مستحق دے.

او دا ترتیب مستحب دے لازم نهٔ دے که لرے ګاونډی ته ئے ورکړه هم ثواب ئے کیږی اګرکه غوره دا ده چه نزدے ګاونډی ته ئے اول ورکړی.

بیا د ګاونډی توب اندازه څومره ده؟ نو د علی ﷺ نه نقل دی چه څوك آواز آوری هغه ګاونډی دے، د عائشے رضي الله عنها نه نقل دی چه د هر طرفنه څلویښت کورونه ګاونډیان دی، د سيدنا كعب بن مالك ﷺ نه طبرانی مرفوعاً په ضعيف سند نقل کړیدی چه څلویښت کورونه ګاونډیان دی، ابن شهاب زهریّ وائی: د څلورو طرفونو نه څلویښت کورونه مراد دی نو دے کی دا احتمال شته چه د هر طرفنه لس لس کورونه مراد وی۔ (المرعاة)

- 1937(9) وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍّ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِذَا طَبَخْتَ مَرَقَةً فَأَكْثِرْ مَاءَ هَا وَتَعَاهَدْ جِيْرَانَكَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سيدنا ابوذر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چه تهٔ خوروا پخوے نو د هغے اوبه زیاتے کړه او د خپلو ګاونډیانو لحاظ ساته. (مسلمؒ)

تشريح : مَرَقَةٌ : په فتحه د میم، راء او قاف سره د غوښې ښوروا ته وائی.
یعنی کله چه ښوروا پخوے نو د خپلے اندازے نه پکی اوبه زیاتے کړه دے دپاره چه ګاونډیانو ته هم پکی حصه ملاؤ شی ځکه که اوبه کمے وی نو بیا به د ګاونډیانو لحاظ ونۀ ساتلے شی.
وَتَعَاهَدْ : تعهد : د یو شی ساتنه او د هغې سره د زمانے نوے کول دی. یعنی د هغه نګرانی او خیال ساته.

الفصل الثانی

- 1938 (10) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ ؟ قَالَ : "جُهْدُ الْمُقِلِّ وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ وفرمایل: اے د الله رسوله ! کومه صدقه زیاته غوره ده؟ وے فرمایل: د غریب سړی کوشش او د (صدقے) ابتداء په هغه چا وکړه چه تۀ ئے عیالداری کوے. (د نفقے ذمه واری ئے اخلے) (ابو داوُد)
تشريح : "جُهْدُ الْمُقِلِّ : جُهد په معنیٰ د وسع او طاقت او کوشش سره او مقل هغه سړی ته وائی چه مال ئے کم وی او غریب وی. یعنی هغه صدقه غوره ده چه غریب سړے د خپل وسع او طاقت موافق صدقه وکړی لکه غریب سړے د سلو روپو نه لس روپۍ ورکړی دا ډیر شے دے او مالداره که د یو لاکه روپو نه زر روپۍ ورکړی دا کمی دی، ځکه مالداره ته دا دومره زور نۀ ورکوی او غریب ته دغه لږے هم ډیر زور ورکوی.
سوال دا دے چه مخکی ئے وویل چه هغه صدقه غوره ده چه د مالدارۍ نه وی او دلته وائی د غریب صدقه غوره ده ؟ **جواب** دا دے چه دا فضیلت په اعتبار د اشخاصو سره مختلف کیږی د چا توکل او یقین چه مضبوط وی د هغه صدقه غوره ده او د چا یقین او توکل چه ضعیف وی نو که هغه ډیر څه ولګوی هم دومره فضیلت نۀ لری.
بعض کسان په فقر او سختۍ باندے ډیر صبر کولے شی او معمولی شے هم ورله کافی کیدے شی او بعض کسان په ډیره هم اکتفاء نشی کولے. نو څوك چه په فقر باندے صبر کولے شی نو د هغه دپاره ورکړه افضله ده اګرکه هغه به هغه مال او خوراك ته محتاج هم وی او څوك چه بې صبره وی نو که هغه ټول مال خیرات کړی بیا به د

خلکو نه سوالونه کوی نو د هغه دپاره دا غوره ده چه دومره مال خرج کړی چه روستو مالداری پریدی۔

او صحیح دا ده چه د دواړو حدیثونو ترمینځ هیڅ منافات نشته ځکه چه جهد المقل ددے سره منافات نهٔ لری چه د صدقے ورکولو نه روستو د سړی سره مالداری پاتی وی۔ یعنی د خپل وس مطابق ورکړه وکړی او داسے نهٔ وی چه هیڅ ئے لاس کی پاتے نشی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، اخرجه ابو داود واحمد ايضاً وصححه ابن خزيمة وابن حبان والحاكم والذهبي۔

- 1939 (11) وَعَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " اَلصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِيْنِ صَدَقَةٌ وَهِيَ عَلٰى ذِي الرَّحِمِ ثِنْتَانِ : صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او سیدنا سلمان بن عامر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: په مسکین باندے صدقه کول یوه صدقه ده (یعنی یو اجر ئے دے) او دا صدقه (چه) په خپلوان (وشی نو) دوه اجره دی، یو صدقه ده او بل صله رحمی ده۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشریح : دا سلمان بن عامر بن اوس بن حجر بن عمرو بن الحارث الضبی صحابیؓ دے په بصره کی وسیدلے او د نبی ﷺ په زمانه کی بوډا وو د معاویه ﷺ د خلافت دور پورے ژوندے وو۔ دولابیؒ وائی دا په جنګ جمل کی وژل شویدے او د سلو کالو په عمر وو۔

د مشکاة المصابیح په موجوده نسخو کی دا سلیمان بن عامر لیکلے شویدے لیکن دا د لیکونکو خطائی ده۔ پدے نوم صحابی نهٔ دے موجود۔

پدے حدیث کی تیزی ده پدے خبره چه په خپلوانو صدقه وکړئ او د هغوی اهتمام وکړئ چه دوه اجرونه مو وشی۔ علامه عزیزیؒ وائی چه دا خبره غالبی ده ځکه چه کله حالت ددے تقاضا کوی چه په پردو صدقه وکړے شی نهٔ په خپلوانو۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، اخرجه احمد والترمذي والنسائي وابن ماجه

والدارمی وفی اسنادهم الرباب ام الرائح بنت صليع بن عامر ابنة اخی سلمان محهولة ولكن له شاهدا فی صحیح البخاری كما مر حدیث زینب امرأة عبد الله وفيه (لهما اجران اجر القرابة واجر الصدقة) فبه صح الحديث والحمد لله،

- 1940 (12) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ : عِنْدِىْ دِيْنَارٌ فَقَالَ : " أَنْفِقْهُ عَلٰى نَفْسِكَ " قَالَ : عِنْدِىْ آخَرُ قَالَ : " أَنْفِقْهُ عَلٰى وَلَدِكَ " قَالَ : عِنْدِىْ آخَرُ قَالَ : " أَنْفِقْهُ عَلٰى أَهْلِكَ " قَالَ : عِنْدِىْ آخَرُ قَالَ : " أَنْفِقْهُ عَلٰى خَادِمِكَ " قَالَ : عِنْدِىْ آخَرُ قَالَ : " أَنْتَ أَعْلَمُ " . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ .

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائی : يو سړے نبی کريم ﷺ ته راغے وے فرمايل : ما سره يو دينار دے، نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل: په خپل ځان ئے خرچ کره، هغه ووېل: ما سره بل دينار دے، وے فرمايل: په خپل بچو ئے خرچ کره هغه ووېل: ما سره بل دينار دے، وے فرمايل: په خپله ښځه (او مور او پلار) ئے خرچ کره۔ هغه ووېل : ما سره بل دينار دے وے فرمايل: په خپل خادم ئے خرچ کره، هغه ووېل: ما سره بل دے، وے فرمايل: ته ښه پوهه ئے (چه کوم تا ته نژدے وی هغے باندے ئے خرچ کره) (ابوداودؔ، نسائیؔ)

تشریح : دا حديث دليل دے چه په پلار باندے لازمه ده چه د غريب تنګدست ځوی نفقه به ورکوی که ماشوم وی نو پدے اجماع ده او که لوی وی نو پدے کی اختلاف دے لکه مخکی تير شو۔

أَهْلِكَ : دا دليل دے چه خپل بچی نفقے ته زيات محتاج دی د ښځے نه ځکه چه ښځه که طلاقه شی نو ممکن ده چه بل خاوند په نکاح کری هغه به خرچه ورکوی او نبیؑ چه دا ترتيب ذکر کړے نو په همدے طريقه عمل کول بهتر دی۔

أَنْتَ أَعْلَمُ : يعنی بيا ته ښه پوهيږے چه کوم درته مستحق ښکاره کيدو هغه له ئے ورکره۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، رواه ابو داود والنسائی وفی سنده محمد بن عجلان وهو صدوق الا انه اختلطت عليه احاديث ابی هريرة كما فی التقريب وصححه الالبانی رحمه الله، وخرج له مسلم ثلاثة عشر حديثا كلها فی الشواهد) (ذهبی) وقال ابن حجر :

اصله فی الصحیح).

- 1941(13) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ النَّاسِ ؟ رَجُلٌ مُمْسِكٌ بِعِنَانِ فَرَسِهٖ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ. أَلا أُخْبِرُكُمْ بِالَّذِيْ يَتْلُوْهُ ؟ رَجُلٌ مُعْتَزِلٌ فِيْ غُنَيْمَةٍ لَهٗ يُؤَدِّيْ حَقَّ اللهِ فِيْهَا. أَلا أُخْبِرُكُمْ بِشَرِّ النَّاسِ رَجُلٌ يَسْأَلُ بِاللهِ وَلَا يُعْطِيْ بِهٖ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: آیا زهٔ تاسو ته د خلکو نه د ډیر غوره شخص خبر نهٔ درکوم؟ هغه سړے دے چه د الله په لاره کی ئے د خپل اس واگے نیولی وی۔ آیا زهٔ تاسو ته د هغه سړی خبر نهٔ درکوم چه ددهٔ پسے (دویمه مرتبه کی) وی؟۔ هغه سړے دے چه د خپلو لږے شان گډو بزو سره د (خلکو نه) جدا شوے وی، او د الله تعالیٰ حق په هغے کی ادا کوی۔ آیا زهٔ تاسو ته د خلکو نه په ناکاره شخص باندے خبر نهٔ درکوم؟ هغه سړے دے چه خلکو نه د الله په نوم سوال کوی او بیا خپله د الله په نوم ورکړه نهٔ کوی۔ (ترمذیؒ، نسائیؒ، دارمیؒ)۔

تشریح : بِعِنَانِ : په کسره د عین سره وارد دے۔ او په فتحه د عین سره وریځے ته وائی۔

غُنَيْمَةٍ : دا تصغیر د غَنَم دے یعنی لږے شان گډے بزے ورسره وی دا ځکه وائی چه د ډیرو سنبالښت انسان د عبادتونو نه وباسی نو د کوم مقصد دپاره چه اعتزال شوے وی بیا هغه نهٔ حاصلیږی۔

بیا د نبی ﷺ په زمانه کی اعتزال (د خلکو نه یو طرفته کیدل دے دپاره چه د خلکو د شرونو نه محفوظ شی او خلك ددهٔ د شر نه محفوظ شی) منع وو ځکه چه هغه د خیر او د جهادونو زمانه وه او په هر چا باندے خپل نبی ته هجرت لازم وو نو اعتزال صحیح نهٔ وو، مگر د نبی ﷺ د زمانے نه روستـه اعتزال جائز دے لکه سفیان ثوریؒ وائی چه قسم په الله زما په زمانه کی اعتزال جائز دے چه انسان غرونو ته لاړ شی او گډے بزے ورسره وی او یوائے د الله بندگی کوی او د فتنو نه محفوظ وی۔

د اعتزال متعلق تحقیق دا دے چه بعض انسانان کمزوری وی هغوی په گناهونو کی زر واقع کیږی نو د هغوی دپاره یو طرفته کیدل غوره وی دے دپاره چه د خپل رب بندگی په آرام سره وکړی او خوا کی چه څوك ورسره وی د هغوی خدمت وکړی او

دعوت ورته کوی او د خپل رب په بندګۍ کی مصروف وی او د بعض انسانانو نه خیر
ډیر ولاړیږی، عالم او داعی وی او د فتنو په وخت کی هم د خپل رب عبادت کولے شی
نو هغه له د خلکو تربیت کول پکار دی، البته په آخره زمانه کی به داسے وخت راشی
چه دعوت به هیڅ اثر نۀ کوی او هرځای به شر شر وی نو په هغه وخت کی به اعتزال
غوره وی۔ بلکه لازم به وی لکه حدیث کی دی: (عَلَيْكَ بِنَفْسِكَ وَدَعْ اَمْرَ الْعَامَّةِ) رواه
الترمذی) د خپل ځان غم کوه او عام خلک په خپل حال پریده۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، الترمذی، والنسائی والدارمی۔

- 1942(14) وَعَنْ أُمِّ بُجَيْدٍ قَالَتْ:قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" رُدُّوا السَّائِلَ وَلَوْ بِظِلْفٍ
مُحَرَّقٍ". رَوَاهُ مَالِكٌ وَالنَّسَائِيُّ وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوٗدَ مَعْنَاهُ

ترجمه : او سیده ام بُجید رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو
سوالګر واپس کړئ اګر که په سوزیدلے پانچے سره وی۔ (مالكؒ، نسائیؒ) او امام ترمذیؒ
او ابوداوُدؒ ددے معنیٰ روایت کړیده۔

تشریح : یعنی د سوال ګر حق شته هغه ته به خامخا څه ورکولے شی اګر که
معمولی څه وی خو خالی لاسونه به ئے نۀ واپس کوی۔

بِظِلْفٍ : په کسره د ظاء سره د ګدے بزے او غوا پانچے ته وائی چه د هغے نه څه دومره
فائده هم نشی اخستے کیدے نو پدے کی مبالغه ده چه سائل ته ضرور څه ورکوئ۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، رواه مالك فی الموطأ، والنسائی، وروی الترمذی
وابوداود معناه

- 1943(15) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : "مَنِ اسْتَعَاذَ مِنْكُمْ بِاللهِ
فَأَعِيْذُوْهُ وَمَنْ سَأَلَ بِاللهِ فَأَعْطُوْهُ وَمَنْ دَعَاكُمْ فَأَجِيْبُوْهُ وَمَنْ صَنَعَ إِلَيْكُمْ مَعْرُوْفًا فَكَافِئُوْهُ
فَإِنْ لَّمْ تَجِدُوْا مَا تُكَافِئُوْهُ فَادْعُوْا لَهٗ حَتّٰى تُرَوْا أَنْ قَدْ كَافَأْتُمُوْهُ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوٗدَ
وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : او سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: چا
چه ستاسو نه پناهی طلب کړه په الله سره نو هغه ته پناهی ورکړئ او چا چه ستاسو نه

د الله په نوم سوال وکړو نو هغه ته ئې ورکړئ او چا چه تاسو ته دعوت درکړو نو دعوت ورله قبول کړئ او چا چه تاسو سره احسان (ښیگړه) وکړو نو بدله ورکړئ، که تاسو نهٔ موندئ کوئ هغه شے چه تاسو پرے بدله ورکړئ نو هغه دپاره دعا وغواړئ تردے چه ستاسو یقین راشي چه تاسو د هغه بدله خلاصه کړه. (احمدؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ)

تشریح : فَأَجِيبُوهُ : که د وادهٔ ولیمه وه نو د هغے اجابت واجب دے او باقي دعوتونه مستحب دي، بعض وائي: د مسلمان دعوت قبلول مطلقاً واجب دي هر څنګه دعوت چه وي خو پدے شرط چه شرعي مانع پکې نهٔ وي لکه د اولے ورځے او څلویښتي خیرات وي یا په واده کې واده والا دمتوب کړے وي، یا نذر د غیر الله وي، یا نور بدعي او شرکي خیراتونه وي نو دا د انسان په زړه باندے بد اثر کوي ددے خوراك نهٔ دے پکار.

فَادْعُوا لَهُ : یعني چا چه درسره احسان وکړو نو دومره دعا ورته وکړه چه ستا یقین راشي چه د احسان بدله ئې خلاصه شوه او دعا هم یو قسم احسان دے پدے وجه عائشه رضي الله عنها به چه کله په چا باندے صدقه وکړه او هغه به ورته دعا وکړه نو عائشے به هم ورته دعا کوله دے دپاره چه د صدقے بدله په دعا سره ختمه نشي. او په حدیث د ترمذيؒ وغیره کې راغلي دي چه ((چا سره چه احسان وکړے شو او هغه احسان کونکي ته داسے وویل: جزاك الله خیراً نو دهٔ ورله پوره صفت وکړو)) نو ددے روایت نه معلومه شوه چه چا احسان کونکي ته یو کرت (جَزَاكَ اللهُ خَيْرًا) وویل نو دهٔ بدله خلاصه کړه اګرکه د هغه حق ډیر وي. والحمد لله علی نعمته.

درجة الحديث: اسناده صحیح، رواه احمد وابوداود والنسائي.

- 1944(16) وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" لَا يُسْأَلُ بِوَجْهِ اللهِ إِلَّا الْجَنَّةُ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : او سیدنا جابر رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله تعالیٰ په مخ سره به نشي غوښتلے کیدے مګر جنت.

تشریح : یعني د الله نه به د هغه په مخ سره لوی لوی څیزونه غوښتلے شي او جنت ئې په مثال کې ځکه ذکر کړو چه دا خو آخري مقصد دے نو کله چه بنده د الله په مخ سوال کوي نو هغه شے به غواړي چه د هغے لوی شان وي لکه هدایت صراط مستقیم

تہ، د اُور نہ حفاظت او دینی اُوچتے مرتبے وغیرہ او معمولی څیزونہ بہ د لوی ذات پہ مخ سرہ نۂ غواړی، لوی ذات بہ ورو کی شی تہ نشی وسیلہ کولے لکہ د دنیا څیزونہ شو، داسے بہ نۂ وائی: اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُ بِوَجْهِكَ الْمَالَ ۔ یا یو بل تہ د اللہ مخ پہ یو معمولی څیز کی پیش کړی دا بہ نۂ کوی۔

درجة الحديث: اسنادہ متکلم فیہ، رواہ ابوداود وضعفہ الالبانی بسلیمان بن معاذ وهو سیء الحفظ ثم قال فی السلسلة الصحیحة (ولکن النظر الصحیح یشهد له، فانه ثبت وجوب الاعطاء لمن سأل به تعالیٰ کما تقدم) وقال الشیخ عبد المحسن العباد فی شرحه لابی داود: وبعض العلماء یشیر الی تحسینه وسلیمان بن معاذ اخرج له البخاری تعلیقاً ومسلم وابوداود والترمذی والنسائی)

الفصل الثالث

- 1945(17) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: كَانَ أَبُوْ طَلْحَةَ أَكْثَرَ الْأَنْصَارِ بِالْمَدِيْنَةِ مَالًا مِنْ نَخْلٍ وَكَانَ أَحَبُّ أَمْوَالِهِ إِلَيْهِ بَيْرُحَاءَ وَكَانَتْ مُسْتَقْبِلَ الْمَسْجِدِ وَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَدْخُلُهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَاءٍ فِيْهَا طَيِّبٍ قَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا نَزَلَتْ (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ) قَامَ أَبُوْ طَلْحَةَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ اللهَ تَعَالٰى يَقُوْلُ: (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ) وَإِنَّ أَحَبَّ مَالِيْ إِلَيَّ بَيْرُحَاءُ وَإِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلّٰهِ أَرْجُوْ بِرَّهَا وَذُخْرَهَا عِنْدَ اللهِ فَضَعْهَا يَا رَسُوْلَ اللهِ حَيْثُ أَرَاكَ اللهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " بَخٍ بَخٍ ذٰلِكَ مَالٌ رَابِحٌ وَقَدْ سَمِعْتُ مَا قُلْتَ وَإِنِّيْ أَرٰى أَنْ تَجْعَلَهَا فِي الْأَقْرَبِيْنَ". فَقَالَ أَبُوْ طَلْحَةَ أَفْعَلُ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَقَسَمَهَا أَبُوْ طَلْحَةَ فِيْ أَقَارِبِهِ وَفِيْ بَنِيْ عَمِّهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او سیدنا انس بن مالک رضی اللہ عنہ فرمائی: پہ مدینہ کی ابو طلحہ (رضی اللہ عنہ) د انصارو نہ پہ مال د کجورو کی زیات وو او هغہ تہ د هغہ د مالونو نہ بیرحاء (باغ) ډیر خوښ وو او دا د مسجد نبوی قبلے طرفتہ وو او رسول اللہ ﷺ بہ دے تہ داخلیدو او پدے کی بہ ئے مزیدارے (پاکے) اُوبہ څکلے۔ سیدنا انس رضی اللہ عنہ فرمائی: هرکلہ چہ دا آیت نازل شو: (لن تنالوا البر) ترجمہ: هیچرے تاسو جنت تہ نشئ رسیدلے تردے چہ تاسو خرچ وکړئ د هغے مالونو نہ چہ تاسو تہ محبوب دی۔ نو ابو طلحہ راپاڅیدو عرض ئے

وکړو اے د الله رسوله ! یقیناً الله تعالیٰ وائی : (لن تنالوا البر حتی تنفقوا مما تحبون) (تاسو نیکئ نشئ حاصلولے تردے چه خرج کړئ د هغے مالونو نه چه تاسو ته خوښ دی) او ما ته په خپلو مالونو کی ډیر خوښ بیرحاء (باغ) دے (نو) دا د الله دپاره صدقه شوه زۀ ددے د نیکئ او ذخیرے د الله په نیز امید لرم (چه الله به ئے زما دپاره په آخرت کی ذخیره کرځوی) نو تۀ دا په هغه (مستحق) ځای کی استعمال کړه چه کوم ځای تا ته الله تعالیٰ درخودلے دے۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: شاباش، شاباش! دا (باغ) فائده رسونکے مال دے، تا چه څه وویل هغه ما واوریدل او زما رایه دا ده چه تۀ دا په خپلو خپلوانو کی تقسیم کړے نو ابو طلحه رضی الله عنه وفرمایل: زۀ به دا کار وکړم اے د الله رسوله ! نو ابو طلحه دا باغ په خپلو خپلوانو او ترونو ځامنو کی تقسیم کړو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح : ابو طلحه ددۀ زید بن سهل الخزرجی الانصاری نوم دے، جلیل القدر صحابی دے، د انس بن مالك پلندر او د ام سلیم خاوند وو۔

أَمْوَالِهِ : نه مراد باغونه دی، ابن عبد البر رحمه الله لیکی چه د ابو جعفر المنصور خلیفه کور او هغے ته نزدے کور نه واخله تر د بنی حدیله قصر پورے د ابو طلحه باغونه دی۔

د مال د محبت نسبت ئے یو لوی عالم صحابی ته وکړو پدے کی څه نقصان نشته ځکه مال د هر انسان محبوب وی لکه آیت کی دی : ﴿ وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ﴾ دا فطری محبت دے مگر هغه محبت ناروا دے چه هغے ته په دین باندے غلبه ورکړے شی۔

بَيْرُحَاءَ : اُوس چه باب مجیدی په کوم ځای دے دلته دا باغ وو، او دا د کجورو باغ وو۔

بَخْ بَخْ ذٰلِكَ : دا کلمه د خبرے د غټوالی او د یو شی د ښائست نه د تعجب په وخت وئیلے کیږی او د رضا او د خوشحالئ او مدح په وخت وئیلے کیږی۔

رَابِحٌ : اَیْ ذُوْ رِبْحٍ۔ یعنی گټور مال دے یعنی ددے مالك به په آخرت کی گټے والا وی۔ پدے کی یو لفظ رَائِحٌ دے یعنی دا مال دے چه راواپس کیدونکے دے تا ته ددے اجر او فائده په آخرت کی، یعنی نزدے فائدے والا مال دے چه تا ته به ئے فائده هر بیگاه رسیږی۔ یا دا چه صبا او بیگاه به ئے تا ته اجر رارسیږی۔

فِيْ أَقَارِبِهِ : ابو طلحه رضی الله عنه دغه باغ خپلوانو او ترونو ځامنو کی تقسیم کړو حسان بن

ثابت ﷺ او د هغه ورور او د هغه وراره شداد بن اوس او ابی بن کعب او نبیط بن جابر رضی الله عنهم له ئے ورکړو، حسان ورسره په دریم نیکه کی شریك دے او ابی بن کعب او نبیط ورسره په شپږم نیکه کی. بیا حسان خپله حصه په یو لاکهـ درهم سره په معاویه علیه السلام باندے خرڅه کړه، ددے نه معلومه شوه چه ابو طلحه دا باغ پدے کسانو نهٔ وو وقف کړے بلکه دوی ته ئے صدقه کړے وو پدے وجه د دوی دپاره خرڅول جائز وو.

فوائد الحدیث : ۱- نفلی صدقه د زکاة د نصاب نه زیاته ورکول هم جائز دی.

۲- روغ انسان د ثلث (دریمے حصے) نه زیاته صدقه هم ورکولے شی ځکه چه نبی علیه السلام د ابو طلحه ﷺ نه دا تپوس ونکړو چه دا باغ ستا د مال څومره اندازه دے.

۳- آیت کی انفاق عام دے واجب او مستحب دواړو ته شامل دے. ٤- د علماؤ او غوره خلکو سره د صدقے په کیفیت او طریقه کی مشوره کول پکار دی.

۵- کله چه یو انسان د یوے مشهورے زمکے صدقه کوی او د هغے حدود بیان نکړی دا هم جائز ده.

٦- انسان په صدقه کی دا وئیلے شی چه دا مال زما صدقه شو او تعیین دے بیا روستو وکړی چه په څه کی به ئے لگوی.

۷- په صدقه کی دا واجبه نهٔ ده چه خامخا به ئے نزدے خپلوان ته ورکوی بلکه د نزدے سره لرے خپلوان ته ئے هم ورکولے شی.

۸- په صله رحمیٔ کی به د وراندے خپلوانو لحاظ هم ساتلے شی. (نوویؒ، حافظ ابن حجرؒ) ۹- د صحابه کرامو د الله سره څومره محبت وو چه محبوب شے د هغه دپاره خرچ کوی، او د الله په حکم عمل کوی.

۱۰- کله چه څوك صدقه وکړی نو د هغه د مال صفت کول پکار دی او هغه ته د خوشحالیٔ کلمات وئیل پکار دی. (بخ بخ).

- 1946(18) وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ :قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" أَفْضَلُ الصَّدَقَةِ أَنْ تُشْبِعَ كَبِدًا جَائِعًا ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او سیدنا انس بن مالك ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: غوره صدقه دا ده چه تهٔ اوږے جگر موړ کړے. (بیهقیؒ شعب الایمان)

تشریح : هر ساه والا مخلوق ته خوراك ځكاك وركول بهترينه صدقه ده برابره ده انسان وي او كه حيوانات، بيا مؤمن وي او كه كافر، خو دا هله چه حربي كافر نۀ وي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، والحديث صحيح: البيهقي في الشعب، وابو الشيخ في الثواب والاصبهاني من رواية زربي بن عبد الله الازدي وهو منكر الحديث على قلته وقال الترمذي له احاديث مناكير عن انس وغيره، قال البخاري فيه نظر، وقال السيوطي للحديث شواهد كثيرة تقتضي تحسينه منها حديث جابر : ان من موجبات المغفرة اطعام المسلم الشبعان) آه قلت : وقد ورد : (خيار كم من اطعم الطعام (السلسلة الصحيحة ٤٤) ، وتقدم : (في كل ذات كبد رطبة اجر)



٨- باب صدقة المرأة من مال الزوج

د سړي د مال نه د ښځې د صدقې بيان

د مشكاة په بعضو نسخو کې (بَابُ مَا تُنْفِقُهُ الْمَرْأَةُ مِنْ مَالِ زَوْجِهَا) دے او په بعضو کې صرف (بابٌ) لفظ دے۔

پدے باره کې مختلف احاديث راغلي دي، په بعض احاديثو کې دي چه ښځه چه د خاوند د مال نه څه صدقه ورکوي نو دے ته هم الله تعالىٰ نيم اجر ورکوي او نيم خاوند ته۔ او ځينو کې دي چه ښځه به د خاوند د اجازے نه بغير مال نۀ لګوي او په بعضو کې دي چه هغه مال خرچ کولے شي (ما يتسارع اليه الفساد) چه زر خرابيږي او په ځينو کې دا دي چه مکمل اجر هر يو ته ملاويږي۔

نو ددے تطبيق داسے کيدے شي چه ښځه د خاوند مال لګولے شي خو په اجازه د خاوند سره او دا اجازه عامه ده صراحةً وي او که دلالةً، ورنه د خاوند مال جدا دے او د ښځې جدا، ښځه د خاوند په مال کې تصرف نشي کولے په غير د اجازت د هغه نه،

(۲) يا ددے نه مراد هغه مال دے چه پوخ کړے طعام وغيره وي ځکه چه په عرف او عادت کې دا خبره روانه ده چه خاوند په پوخ کړې طعام صدقه کولو باندے نۀ خفه کيږي کله چه ډير کنجوس او بخيل نۀ وي نو کوم احاديثو کې چه دا دي چه ښځې ته الله اجر ورکوي په مال لګولو نو دا هله چه د خاوند اجازه ورسره وي يا دا چه پخ کړے طعام وي۔ (۳) بعض اهل علم وائي چه دا په محمول وي پدے چه خاوند ښځې ته د مياشتے خرچه ورکړي مثلًا دوه زره روپۍ نو ښځه راولګی په زرو روپو ګوزاره وکړي او زر روپۍ صدقه کړي نو پدے کې ښځې او خاوند دواړو ته اجر ملاويږي ځکه چه د خاوند مال دے او ښځه د هغې نائبه شوه۔

(٤) بعض وائي: ښځه او غلام او خادم چه مال لګوي ددے نه مراد دا دے چه د کور د مالك په اهل وعيال ئے ولګوي نو پدے کې ګناه نشته يعني ښځه راولګی د خاوند په بچو او د هغه په ضرورياتو کې ئے ولګوي نو پدے کې ګناه نشته بلکه دے ته هم الله

تعالیٰ اجر ورکوی۔ دا تول مصداقات په دے حدیثونو کی چلیږی او تول مراد کول صحیح دی څکه تناقض نشته۔

الفصل الأول

- 1947(1) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ طَعَامِ بَيْتِهَا غَيْرَ مُفْسِدَةٍ كَانَ لَهَا أَجْرُهَا بِمَا أَنْفَقَتْ وَلِزَوْجِهَا أَجْرُهُ بِمَا كَسَبَ وَلِلْخَازِنِ مِثْلُ ذٰلِكَ لَايَنْقُصُ بَعْضُهُمْ أَجْرَ بَعْضٍ شَيْئًا " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ام المؤمنين عائشه رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چه ښځه د خپل کور د خوراك نه خرچه وکړی پداسے حال کی چه نۀ وی خرابونکے (، نقصان رسونکے مال د خاوند ته) نو ددے دپاره به د هغے اجر وی په هغه خوراك چه دے خرچ کړے دے او ددے خاوند ته به اجر وی په سبب د هغه کسب چه دۀ کړیدے او خزانچی ته به ددے په شان اجر وی، نۀ به کموی بعض د دوی نه اجر د نورو هیڅ شے۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)

تشریح : غَيْرَ مُفْسِدَةٍ : دا قید څکه لګوی چه دومره مال به نۀ صدقه کوی چه د خاوند د مال بیځکندی وکړی او خاوند غربت ته کینوی، او دلته ئے طعام ذکر کړو اشاره ده چه پدے کی د خاوند اجازه که صراحةً نۀ وی هم خیر دے څکه چه عرفاً خاوند ددے اجازه ورکوی او ددے په حکم کی هغه شے هم دے چه خاوند اجازه کړی وی صراحةً یا دلالةً۔

وَلِلْخَازِنِ : پخوانو خلکو به خپل مال غلامانو سره ساتلو۔ یا ددے نه خادم او د کور مشر انتظام چلونکے مراد دے۔

مِثْلُ ذٰلِكَ : امام نوویؒ فرمائی: ددے احادیثو معنیٰ دا وی چه څوك په یو طاعت کی شریك شی نو دوی به په اجر کی هم شریك وی او د شرکت معنیٰ دا ده چه ددۀ دپاره به اجر وی لکه څنګه چه د هغه دپاره اجر وی او ددے معنیٰ دا نۀ ده چه د هغه سره به په اجر کی مزاحمه کوی او د هغه برخه ثواب به څانته راکاږی بلکه په اصل ثواب کی شرکت مراد دے نو ددۀ به هم ثواب کیږی او د هغه به هم کیږی اګرکه یو به په ثواب کی د بل نه زیات وی او دا لازمه نۀ ده چه د دوارو د ثواب اندازه برابره وی بلکه کله به

د یو ثواب زیات وی او کله به برعکس وی انتهیٰ۔

- 1948(2) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ كَسْبِ زَوْجِهَا مِنْ غَيْرِ أَمْرِهِ فَلَهَا نِصْفُ أَجْرِهِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چه ښځه د خاوند د کسب (مال) نه د هغه د حکم نه بغیر خرچه وکړی نو د هغې دپاره به د هغې نیمائی اجر وی۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)

تشریح : بعض اهل علم وائی چه ددے تشریح داسے ده چه کله چه ښځه د خاوند د مال نه د هغې د نفقې نه زیات واخلی او هغه صدقه کړی نو دے باندے به تاوان راځی او دا به گناهگاره وی په زیادت کی بیا کله چه خاوند پدے باندے پوهه شو او راضی شو نو ښځے ته به نیم اجر ملاویږی چه هغې د خپلې نفقې نه خیرات کړیدے او نیم اجر به سړی ته ملاویږی ځکه چه ښځے د خپلې نفقې نه زیات خیرات کړیدے او دغه زیات خو حق د خاوند وو۔ (علی القاریؒ)

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : غوره دا ده چه دا حدیث پدے صورت باندے حمل کړے شی چه خاوند ښځے ته د هغې خصوصی نفقه ورکړی بیا ښځه راولگی د هغې نه صدقه کوی په غیر د اجازت د خاوند نه نو دا چونکه د خاوند مال وو نو هغه ته هم اجر ملاویږی او ښځے نفقه او خیرات کړو نو هغې ته هم اجر ملاو شو۔

بعض وائی : ددے حدیث او د عائشےؓ د حدیث تطبیق داسے دے چه کله ښځه د خاوند په اجازه سره صدقه وکړی نو پوره اجر به ورته ملاویږی او چه اجازه نهٔ وی او معمولی مال ئے لگولے وی چه غالباً خاوند د هغې په لگولو نهٔ خفه کیږی نو نیمائی اجر به ورته ملاویږی ځکه نیت او احتساب ئے کم دے۔

بعض وائی د دواړو پوره پوره اجر کیږی او د نیمائی معنیٰ دا ده چه دواړه اجرونه راجمع کړے شی نو هریو نیمائی نیمائی گرځی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

- 1949(3) وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" اَلْخَازِنُ الْمُسْلِمُ الْأَمِيْنُ الَّذِي يُعْطِي مَا أُمِرَ بِهِ كَامِلًا مُوَفَّرًا طَيِّبَةً بِهِ نَفْسُهُ فَيَدْفَعُهُ إِلَى الَّذِي أُمِرَ لَهُ

بِهٖ أَحَدُ الْمُتَصَدِّقَيْنِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سيدنا ابو موسىٰ اشعري ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه خزانچي چه مسلمان او امانتدار وي چه مالك ورته په كوم مال وركولو حكم كړے وي هغه كامل او پوره وركړي چه په هغې باندے ئے زړه خوشحاله وي او د چا په باره كي چه ورته حكم كړے شوے وي همغه ته ئے وركړي (نو) دا د دوه صدقه كونكو نه يو دے۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : د حديث مطلب دا دے چه يو شخص د چا د مال خزانچي وي او امانتدار وي او مالك ورته حكم وكړي چه فلاني ته دومره مال وركړه او دا ئے پوره پوره ادا كړي او زړه ئے هم پدے صدقه او وركړه باندے خوشحاله وي چه ښه دے چه يو مسلمان ته دا خير رسيږي نو دا داسے شو لكه چه دا صدقه دهٔ د خپل مال نه كړي وي۔ يعني مالك او دا خزانچي په اجر كي شريك شو۔ ليكن پدے كي ئے څلور شرطونه ذكر كړي يو دا چه د مالك اجازه به موجوده وي لكه د (مَا أُمِرَ بِهٖ) نه معلوميږي دويم دا چه د كوم مال حكم ورته شوے وي هغه به پوره پوره ادا كوي نقصان به پكي نهٔ كوي، دريم دا چه زړه به ئے پدے صدقه باندے خوشحاله وي دا ځكه وائي چه بعض خزانچيان او خادمان خپله كنجوسه وي نو د مالك د مال په لګولو هم خفه وي او مسكين ته هم غصه وي او دا كار پرے بوج وي نو بيا ئے اجر نهٔ كيږي۔ څلورم دا چه همغه شخص ته ئے وركړي د كوم حكم چه مالك كړيدے نهٔ بل مسكين ته۔ نو (فالخازن) مبتدا ده او (المسلم الامين) وغيره ئے صفات دي او (احد المتصدقين) ئے خبر دے۔

الْمُتَصَدِّقَيْنِ : پدے كي مشهور قراءت دا دے چه دا د تثنيه صيغه ده، يعني يو صدقه كونكے مالك شو او بل صدقه كونكے دا خزانچي شو۔ يعني په اصل اجر كي شريك شو اګركه اندازه به مختلفه وي مثلاً كه مالك يو خادم ته سل روپئ وركړے چه بهر دروازه كي فقير ته دا وركړه نو د مالك اجر زيات وشو او كه لس روپئ يا د دوؤ تيكلے خادم ته وركړي چه دا فلاني علاقه كي مسكين ته وركړه او د لارے مزل د شلو روپو وي او د تيكلي نه زيات وي نو بيا به د خادم اجر زيات وي د مالك نه او كه برابر وي نو د دواړو اجر به برابر وي۔

او پدے كي كسره د دال هم جائزده بيا صيغه د جمعے ده۔ يعني په صدقه كونكو

کی دا خزانچی هم شمار شو۔

مسئله : معلومه شوه چه کومه صدقه د کوم مقصد دپاره متعین شی هغه به په بل ځای کی مصرف کول جائز نهٔ وی مگر په اجازه د صدقه کونکی یا وقف کونکی نو څوك چه چنده د مسجد دپاره وکړی بیائے په بل کار خیر کی استعمالوی دا به جائز نهٔ وی، آؤ البته ابدال الوقف بخیر منه جائز دے یعنی وقف شے په غوره شی باندے بدلول جائز دی لکه کتاب البیوع د فتاوی الدین الخالص (۱۱/۴۷۱) وگوره۔

- 1950(4) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: إِنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ ﷺ : إِنَّ أُمِّيَ افْتُلِتَتْ نَفْسُهَا وَأَظُنُّهَا لَوْ تَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ فَهَلْ لَهَا أَجْرٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا ؟ قَالَ : نَعَمْ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی: یو سړی نبی کریم ﷺ ته ووئیل : زما مور ناڅاپی مړه شوه او زما گمان دے چه که دے خبرے کړے وے صدقه ئے کوله نو آیا ددے دپاره به (پدے کی) اجر وی چه زهٔ د هغے د طرفنه صدقه وکړم؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: آؤ۔ (بخاری ومسلم)

تشریح : رَجُلًا : ددے نه مراد یا سعد بن عباده ﷺ دے او د مور نوم ئے عمره بنت مسعود دے۔

اُفْتُلِتَتْ : یعنی ناڅاپی مړه شوه۔ عرب وائی : رَأَيْتُ الْهِلَالَ فَلْتَةً ۔ یعنی ما سپوږمئ ناڅاپي ولیده چه قصد د لیدلو مے نهٔ وو۔

وَأَظُنُّهَا : یعنی زما گمان دے چه هغے د خیر اراده کوله ځکه چه د خیر سره ئے ډیره مینه وه۔

لَوْ تَكَلَّمَتْ : ددے تکلم نه مراد په صدقه باندے خبرے کول دی دلیل دا دے چه موطأ، نسائی او حاکم د سعید بن عمرو بن شرحبیل روایت راوړیدے چه سعد بن عباده ﷺ د نبی ﷺ سره بعض غزواتو ته ووتلو او د هغه مور ته وفات په مدینه کی حاضر شو نو هغے ته چا ووئیل چه وصیت وکړه نو هغے ووئیل : په څه وصیت وکړم، مال خو تول د سعد دے نو هغه د سعد د راتللو نه مخکی وفات شوه، هرکله چه سعد بن عبادهؓ راغلو دا خبره ورته ذکر شوه نو سعدؓ وفرمایل اے د الله رسوله ! آیا هغے ته به

فائده ورکری چه زهٔ د هغې د طرفنه صدقه وکړم؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: آؤ، نو سعد ووېل: زما فلانے فلانے باغ د هغې د طرفنه صدقه شو، د يو باغ نوم ئے واخستو۔
نو ددے نه معلومه شوه چه مور ئے په وخت د وفات کی خبرے کړے وے ليکن په صدقه باندے ئے تکلم نهٔ وو کړے۔
بعض وائی چه دا حديث د جدا سړی واقعه وه او د سعد بن عباده ﷺ واقعه جدا وه۔ لکه دے خبرے ته عينیؒ په عمدة القاری کی ميلان کړيدے۔
دا حديث دليل دے چه مور او پلار ته د بچی د طرفنه صدقه رسيږی کله چه بچے د هغے ثواب مور يا پلار ته بخښنی او په احاديثو کی صرف مور او پلار ذکر دی نو د بل چا د طرف نه صدقے کول صحيح او غوره نهٔ دی لکه تفصيل ئے مخکی په کتاب العلم کی ذکر شويدے۔
دارنګه ددے حديث نه دا ثابتيږی چه څوك ناڅاپی مړ شی نو مستحب ده چه د هغه د طرف نه د هغه بچی صدقه وکړی۔ دا د (وَأَنْ لَّيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعٰى) خلاف نهٔ ده ځکه چه حديث کی دی (إِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ) (احمد، ترمذی، ابن ماجه باسناد صحيح) ستاسو اولاد ستاسو کسب دے)۔
او معلومه شوه چه د مومن دپاره ناڅاپی مرګ عيب نهٔ دے ځکه چه نبی ﷺ پدے باندے څه خفګان ښکاره نکړو۔

الفصل الثانی

- 1951 (5) عَنْ أَبِىْ أُمَامَةَ قَالَ :سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ فِىْ خُطْبَتِهٖ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ : " لَاتُنْفِقُ امْرَأَةٌ شَيْئًا مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا ". قِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ وَلَا الطَّعَامَ ؟ قَالَ :" ذٰلِكَ أَفْضَلُ أَمْوَالِنَا ". رَوَاهُ التِّرْمِذِىُّ

ترجمه: سيدنا ابو امامه ﷺ فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه د حجة الوداع په کال باندے ئے په خپله خطبه کی وفرمايل: هيڅ ښځه به د خپل خاوند د کور نه هيڅ شے نهٔ خرچ کوی مګر په اجازه د خپل خاوند سره، عرض وشو اے د الله رسوله! او طعام به (هم) نهٔ (خرچ کوی)؟ وے فرمايل: دا خو زمونږ په مالونو کی بهتر مال دے۔ (ترمذیؒ)

تشریح: دے حدیث کی د اذن نه مراد اذن صریحی یا دلالةً مراد دے لکه دا خبره مخکی تفصیلاً ذکر شوه۔

ذٰلِكَ أَفْضَلُ أَمْوَالِنَا: یعنی هرکله چه د طعام نه بنکته شے په غیر د اجازے د خاوند نه ښځه نشی صدقه کولے نو طعام خو ډیر افضل دے پدے کی به خامخا اجازه غواړی۔

د طعام اطلاق په غنمو او وریشو کیږی نو د راتلونکی حدیث سره منافات نهٔ رازی هلته رطب (لامده څیزونه) مراد دی۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح، اخرجه الترمذی وابن ماجه والبیهقی من طریق اسماعیل بن عیاش الحمصی وهو صدوق فی روایته عن اهل بلده عن شرحبیل بن مسلم الخولانی الشامی عن ابی امامة وصححه الالبانی فی صحیح الترغیب)۔

- 1952(6) وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ: لَمَّا بَايَعَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ النِّسَاءَ قَامَتِ امْرَأَةٌ جَلِيْلَةٌ كَأَنَّهَا مِنْ نِسَاءِ مُضَرَ فَقَالَتْ:يَا نَبِيَّ اللهِ إِنَّا كَلٌّ عَلٰى آبَائِنَا وَأَبْنَائِنَا وَأَزْوَاجِنَا فَمَا يَحِلُّ لَنَا مِنْ أَمْوَالِهِمْ ؟ قَالَ: " الرَّطْبُ تَأْكُلْنَهُ وَتُهْدِيْنَهُ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه: او سیدنا سعد بن ابی وقاص ﷺ فرمائی: هرکله چه رسول الله ﷺ د ښځو سره بیعت وکړو نو یوه لوی شان والا ښځه راپاځیده گویا که هغه د مضر قبیلے د ښځو نه وه نو هغے ووئیل: اے د الله نبی! مونږ په خپلو پلارانو او ځامنو او خاوندانو باندے بوج یو نو زمونږ دپاره د دوی د مالونو نه څه حلال دی؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: لامده څیزونه تاسو خوړلے شئ او هدیه کولے شئ۔ (ابوداوٗد)

تشریح: ددے سعد نه مراد سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه دے۔

جَلِيْلَةٌ: یعنی لوی قدر او شان والا۔ یا اوږد قامت والا، یا اوږد عمر والا یعنی بوډئ۔ والثانی هو الاصح۔

مُضَرَ: د عربو لویه قبیله ده۔

إِنَّا كَلٌّ: یعنی بوج یو، او پلاران او ځامن او خاوندان زمونږ عیالداری کوی زمونږ تکلیف د هغوی په غاړه دے نو زمونږ دپاره د هغوی د اجازت نه په غیر څه شے جائز دے؟۔

الرُّطَبُ : په فتحه د راء او سکون د طاء یعنی لامدهٔ څیزونه او هغه طعامونه چه زر خرابیږی او نهٔ ساتلے کیږی، پدے کی عادةً خلك مسامحه کوی او نهٔ ئے منع کوی پدے وجه پدے کی ئے اجازت غوښتل لازم نهٔ کړل۔

وَتُهْدِيْنَهُ : یعنی هدیه کولے ئے شئ۔

• محدثین وائی چه دا قسم احادیث محمول دی په عرف او عادت د اهل حجاز باندے چه هغوی به پدے کار نهٔ خفه کیدل چه ښځه ئے طعام هدیه کړی۔

بیا دلته ئے ښځو ته د طعام د صدقه کولو اجازه ورکړه او مخکی حدیث کی ئے منع کړے، نو تطبیق دا دے چه دا په مختلفو علاقو او مختلفو طبیعتونو باندے حمل دے یعنی بعض علاقو کی او بعض طبیعتونو باندے طعام بغیر دا جازت نه خرچ کول هم عیب شمارلے کیږی نو هلته به اجازه ضروری وی او بعض علاقو کی د طعام صدقه کول عادت او معمولی شے وی نو د هغے اجازت ته ضرورت نهٔ وی۔ نو که خاوند خفه کیدو نو اجازت به غواړی او که نهٔ خفه کیدو نو طعام بغیر د اجازت نه خرچ کول هم ورله جائز دی۔

(۲) دویم دا چه بعض طعامونه لامده وی نو د هغے خرچ کول جائز دی لکه پدے حدیث کی دا راغلل او بعض طعامونه وچ وی چه ساتلے شی لکه غنم، جوار، وریشے، کرخے دال وغیره نو د هغے په غیر د اجازت نه صدقه کول او هدیه کول جائز نهٔ دی۔

درجة الحديث: اسناده حسن، رواه ابوداود فی الزكاة واخرجه ابن خزيمة فی صحيحه وفی سنده محمد بن سوار وقد وثقه ابن حبان وسكت عنه ابوداود والمنذری وقال فيه الذهبی (وُثِّقَ) وقال ابن حجر : صدوق يغرب، وثبت معناه من الحديث المتفق عليه كما مر۔

الفصل الثالث

- 1953(7) عَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى آبِي اللَّحْمِ قَالَ: أَمَرَنِيْ مَوْلَایَ أَنْ أُقَدِّدَ لَحْمًا فَجَاءَ نِيْ مِسْكِيْنٌ فَأَطْعَمْتُهُ مِنْهُ فَعَلِمَ بِذٰلِكَ مَوْلَایَ فَضَرَبَنِيْ فَأَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لَهُ فَدَعَاهُ فَقَالَ : " لِمَ ضَرَبْتَهُ ؟ " فَقَالَ يُعْطِيْ طَعَامِيْ بِغَيْرِ أَنْ آمُرَهُ فَقَالَ : " اَلْأَجْرُ بَيْنَكُمَا ". وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ : كُنْتُ مَمْلُوْكًا فَسَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ: أَأَتَصَدَّقُ مِنْ مَالِ

مَوَالِيَّ بِشَيْءٍ؟ قَالَ: " نَعَمْ وَالْأَجْرُ بَيْنَكُمَا نِصْفَانِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: عُمیر چه د آبی اللحم آزاد کرده غلام دے فرمائی: ما ته زما مولا (مالك) حکم وکړو چه زهٔ غوښه (د وچولو دپاره) ټکړے ټکړے کړم نو ما ته مسکین راغے نو ما هغه ته د هغے نه څه ورکړه نو پدے باندے زما مولیٰ پوهه شو نو زهٔ ئے ووهلم نو زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم ما ورته دا قصه ذکر کړه نو هغه (زما مولی) راوغوښتو ورته ئے وفرمایل: دا دے ولے وهلے دے؟ هغه وویل: دے زما طعام ورکوی بغیر ددے نه چه زهٔ ورته حکم وکړم نو نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل: اجر به ستاسو د دواړو ترمینځ شریك وی او په یو روایت کی دی فرمائی: زهٔ غلام وم نو ما د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړو: آیا زهٔ د خپلو مالکانو د مال نه څه (معمولی شان) شے (چه عام طور سره د هغے اجازه وی) صدقه کولے شم؟ وے فرمایل: آؤ، او جر به ستاسو د دواړو ترمینځ نیمائی وی. (مسلم)

تشریح: عمیر ددهٔ سیرت او ترجمه په باب الاستسقاء کی ذکر شویده، هغے ته رجوع وکړه.

اُقَدِّدَ: د تقدید نه دے پریکولو ته وائی چه په اُوږدو باندے وی.

وَالْأَجْرُ بَيْنَكُمَا: یعنی که تهٔ پدے باندے رضائے نو دهٔ له د دومره غوښے ورکول جائز دی چه په هغے کی غالباً خلك آسانی کوی او دا مطلب نهٔ دے چه غلام ته وائی چه ستا دپاره د مالك د اجازے نه بغیر ورکړه جائز ده. دلته نبی ﷺ غلام ته اجازه نهٔ ورکوی بلکه ددهٔ د مولیٰ دا کار ئے بد وګنړلو چه دهٔ خپل غلام په هغه کار باندے ووهلو چه په هغے کی غلام باندے دومره عیب نشته بلکه هغه په کی حق ته رسیدلے دے نو مالك ته ئے تیزی ورکړه چه ددهٔ نه اعراض وکړه او دا اجر غنیمت وګنړه نو پدے کی تعلیم او ارشاد دے ابو اللحم ته نهٔ ثابتول د کار د غلام انتهیٰ ما قال الطیبی والتوربشتی).

نِصْفَانِ: یعنی دوه قسمه اجر به وی یو به د مالك او بل به د غلام.



۹- باب من لا يعود فى الصدقة

بیان د هغه چا چه په صدقه کی رجوع نهٔ کوی

صدقه چه چا ته ورکړی بیرته پکی رجوع کول ناروا دی، بیرته به ئے ترے نهٔ اخلی که چا واخستـه نـو داسے کارئے وکړو لکه سپے چه التیٔ وکړی او بیرته ئے وختی، مگر که بیرتـه تـا تـه پـه میراث کی راواپس شوه نو اخستل ئے جواز لری۔ دارنگه د خوی نه صدقه واپس اخستل جواز لری لکه ددے بیان به روستو راشی۔ دریم دا چه مسکین هدیه بیرته مُهدِی ته راولیږی دا هم جائز ده لکه په حدیث د ام عطیهؓ کی راغلی دی۔

الفصل الاول

- 1954(1) عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ قَالَ: حَمَلْتُ عَلٰى فَرَسٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَأَضَاعَهُ الَّذِيْ كَانَ عِنْدَهٗ فَأَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِيَهٗ وَظَنَنْتُ أَنَّهٗ يَبِيْعُهٗ بِرُخْصٍ فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ: " لَا تَشْتَرِهٖ وَلَا تَعُدْ فِيْ صَدَقَتِكَ وَإِنْ أَعْطَاكَهٗ بِدِرْهَمٍ فَإِنَّ الْعَائِدَ فِيْ صَدَقَتِهٖ كَالْكَلْبِ يَعُوْدُ فِيْ قَيْئِهٖ ". وَفِيْ رِوَايَةٍ: " لَا تَعُدْ فِيْ صَدَقَتِكَ فَإِنَّ الْعَائِدَ فِيْ صَدَقَتِهٖ كَالْعَائِدِ فِيْ قَيْئِهٖ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: سیدنا عمر بن خطاب ﷺ فرمائی: ما (یو سړی) د الله په لاره کی په اس بـاندے سور کړو (یعنی هغه ته مے اس ورکړو چه جهاد دپاره پرے سورلی کوه) نو هغه شخص چه دا اس ورسره وو هغه ئے ضائع کړو نو ما اراده وکړه چه زهٔ ئے ترے (په پیسو) واخلم او ما گمان وکړو چه دے به ئے ارزان خرخوی (چه ددے په وجه زما په زړه کی شك راپیدا شو) نو ما د نبی کریم ﷺ نه تپوس وکړو، نو هغه وفرمایل: دا مهٔ اخله او په خپله صدقه کی مهٔ واپس کیږه اگرکه دائے تا ته په یو درهم درکوی ځکه چه په خپله صدقه کی راواپس کیدونکے داسے دے لکه سپے چه خپل قیء (اُلټو) ته راواپس کیږی۔ (او هغه څټی) او په یو روایت کی دی: په خپله صدقه کی رجوع مهٔ کوه ځکه

چه په خپله صدقه کې واپس کیدونکے داسے دے لکه خپل قئ ء ته واپس کیدونکے۔
(بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : حَمَلْتُ : حمل علی الفرس دیته وائی چه یو اس چا ته د الله دپاره ورکړی چه ته پرے جهادونه کوه او دا الله په لاره کې پرے سوریږه او ته ئې مالك شوے۔
بِرُخْصٍ : په ضمه د راء او سکون د خاء سره د باب د کرم نه ارزانئ ته وائی په ضد د غَلَاء (گرانئ) کې استعمالیږی۔
لَا تَشْتَرِهِ : یعنی بیرته ئې د دغه شخص نه مهٔ اخله اگرکه ارزان ئې درکوی وجه دا ده چه هغه به ئې په تا باندے ارزان خرڅوی ځکه چه تا ورله هبه او صدقه ورکړیده نو پدے سره انسان په سود کې واقع کیږی۔ دویمه وجه دا ده چه پدے کې د سپی سره مشابهت راځی اگرکه په پیسو ئې هم واخلې اُوس که هغه سړے ئې په بل چا باندے خرڅ کړی او ته ئې د هغه بل شخص نه واخلې نو بیا خیر دے جواز لری ځکه چه په تبدل د ملك سره تبدل په عین شئ کې راځی۔
فَإِنَّ الْعَائِدَ فِيْ صَدَقَتِهِ كَالْكَلْبِ : په صدقه کې رجوع کونکے ئې مشابه کړو د ډیر خسیس (رذیل) حیوان سره چه په ډیر بیکاره حالت کې وی دے دپاره چه ددے کار نه نفرت ورکړی او ددے کار سخت قباحت بیان کړی۔
مصابیح کې وائی چه پدے کې دلیل دے چه په صدقه کې رجوع کول منع دی ځکه چه دا مشتمل دے په سخت تنفیر باندے ځکه چه واپس کیدونکے ئې د سپی سره مشابه کړو او کوم مال کې چه رجوع کیږی هغه ئې د القو سره مشابه کړو او دا واپسی ئې مشابه کړه د سپی د واپسئ سره چه قئ ء ته بیرته واپس کیږی۔ انتهیٰ۔
قتاده رحمه الله وائی: قئ ء حرام دے آه، او دا اگرکه کار د سپی دے لیکن دغه انسان ئې ورسره مشابه کړو دا دلیل دے چه په صدقه کې رجوع کول حرام دی ځکه چه د سپو سره ځان مشابه کول حرام دی او په یو روایت کې دی چه (لَيْسَ لَنَا مَثَلُ السَّوْءِ)۔ (زمونږ بد مثال نهٔ وی)۔ پدے کې احنافو رئیلی دی چه په صدقه کې رجوع جائز ده او دا قسم احادیث محمول دی په کراهت تنزیهی سره یعنی ښه کار نهٔ دے چه رجوع وکړی مگر که وے کړه نو دغه مال ورله نهٔ حرامیږی۔ لیکن دا قول ضعیف دے هیڅ دلیل پرے نشته۔ او تفصیل به په باب العطایا کې راشی ان شاء الله۔ او تفصیلا

الدين الخالص (۱۱و۱۲) جلد وګوره۔

1955 (2) وَعَنْ بُرَيْدَةَ ﷺ قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ إِذْ أَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللهِ! إِنِّيْ كُنْتُ تَصَدَّقْتُ عَلٰى أُمِّيْ بِجَارِيَةٍ وَإِنَّهَا مَاتَتْ قَالَ: " وَجَبَ أَجْرُكِ وَرَدَّهَا عَلَيْكِ الْمِيْرَاثُ ". قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّهُ كَانَ عَلَيْهَا صَوْمُ شَهْرٍ أَفَأَصُوْمُ عَنْهَا؟ قَالَ: " صُوْمِيْ عَنْهَا ". قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّهَا لَمْ تَحُجَّ قَطُّ أَفَأَحُجُّ عَنْهَا؟ قَالَ: " نَعَمْ حُجِّيْ عَنْهَا ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او سیدنا بریده ﷺ فرمائی: زهٔ د نبی کریم ﷺ سره ناست وم پدے کی هغه ته یوه زنانه راغلله وے ویل: اے د الله رسوله! یقیناً ما په خپلے مور باندے یوه وینځه صدقه کړے وه او زما مور مره شوه۔ نبی کریم ﷺ وفرمایل: ستا اجر ثابت شو او میراث تا ته دا وینځه راواپس کړه۔ هغې وویل: اے د الله رسوله! زما په مور باندے د یوے میاشتے روژے وے آیا نو زهٔ د هغے د طرفنه روژے ونیسم؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: (آؤ) روژے ونیسه د هغے د طرفنه۔ هغے عرض وکړو اے د الله رسوله! هغے هیڅکله حج نهٔ وو کړے آیا نو زهٔ د هغے د طرفنه حج وکړم؟ وے فرمایل: آؤ، د هغے د طرفنه حج وکړه۔ (مسلمؒ)

تشریح: وَرَدَّهَا عَلَيْكِ الْمِيْرَاثُ: یعنی ما مورته وینځه په صدقه کی ورکړے وه بیا هغه وفات شوه او د هغے بل څوک میراث خور نهٔ وو سویٔ زما نه نو دغه وینځه ما ته بیرته په میراث کی پاتے کیدل صحیح دی او که نهٔ؟ (اګرکه لور ته د میراث تول مال نهٔ پاتے کیږی بلکه نیمائی مال خو دلته کیدے شی چه ددے نور مال هم وو)

نبی ﷺ وفرمایل چه پدے سره ستا اجر هم وشو او بیرته درته وینځه هم راواپس شوه د میراث په طریقه۔ نو مخکنی روایت کی چه نهی راغلے وه نو هغه د اخستلو نه وه او که په میراث طریقه سره هدیه او صدقه راواپس شی نو جائز ده۔

صُوْمِيْ عَنْهَا: **مسئله**: پدے کی اختلاف دے چه د مړی دطرفه روژے نیول جائز دی او که نهٔ؟ (۱) امام احمدؒ وائی چه د مړی د طرفه روژے نیول جائز دی که چرته دا روژه د نذر یا د قضاء وی او دا د ابن عباس رضی الله عنهما نه هم نقل دے۔

(۲) د امام شافعي رحمه الله نه نقل دي چه نفل او فرض دواړه نيولے شي۔
(۳) د امام مالك او ابوحنيفةً رايه دا ده چه د مړي د طرفه روژه نهٔ كيږي ځكه دا عبادتِ بدنی دے د بل چا د طرفه نهٔ ادا كيږي۔
۲- دليل : په موقوف حديث د ابن عمر او د ابن عباس رضي الله عنهما كې راغلي دي : (لَايَصُوْمُ اَحَدٌ عَنْ اَحَدٍ) يو تن به د بل چا د طرفنه روژے نهٔ نيسي۔
مګر ظاهره دا ده چه روژے نيول جواز لري۔ امام احمدؒ وائي ۱- دا حديث دليل دے او د ابن عمرؓ د دغه روايت نه په جواب روستو د باب القضاء په فصل ثاني كې راشي۔
۲- او دويم دليل : (مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ) كما في باب القضاء۔ او دوی جواب كوي چه دا اقوال د صحابه كرامو دي او د ابن عمرؓ نه روايت ضعيف دے لكه روستو به راشي او د ابن عباس رضي الله عنهما نه اګركه روايت صحيح دے ليكن هغه د نذر په باره كې دے ځكه چه د هغه په نيز د نذر روژه كې نيابت جائز دے بالفرض كه دواړه ثابت شي نو بيا هم د مرفوع حديث په مقابله كې نشي چليدے۔
بيا احناف دلته تاويل كوي لكه نكتو والا هم ليكي : (صُوْمِيْ عَنْهَا) اَیْ بِالْفِدْيَةِ وَالتَّصَدُّقِ) يعني د هغے د طرفنه روژے ونيسه يعني فديه وركړه او صدقه وركړه۔ دا تاويل خطاء دے د حديث نص بدلول او تحريف كول دي۔
نو ددے ځاى نه دا نادره فائده معلومه شوه چه بعض خلك اسقاطونه كوي نو دے حديث كې د هغوی رد دے ځكه چه د مونږ نو اسقاط نشته او د روژو په باره كې يا روژے نيول دي د مړي نه لكه دا خبره راجح ده يا فديه وركول دي لكه په اثر د ابن عباسؓ كې راغلي دي۔
مصنف په آخر كې د صوم والا حديث راوړو اشاره ده چه اوس باب الصوم شروع كيږي او داسے كار دهٔ په ډيرو ځايونو كې كړيدے لكه په آخر د جلد ثاني كې به راځي : تتمون سبعين والا حديث ئے راوړيدے اشاره ده چه اوس كتاب تمام شو او دا د مصنف كمال دے چه دغه شان مناسبتونو ته اشارے كوي او دے ته براعة الاختتام وائي۔



٤- كتاب الصوم

د روژے بیان

صوم او صیام په لغت کې مطلق امساك (بندولو، نیولو) ته وائي۔
په شریعت کې ددے دوه تعریفه دی (١) هُوَ الْإِمْسَاكُ عَنِ الْمُفْطِرَاتِ الثَّلَاثَةِ (اَكْلٍ وَشُرْبٍ وَجِمَاعٍ) بِشَرَائِطَ مَخْصُوصَةٍ مَعَ النِّيَّةِ مِنْ طُلُوْعِ الْفَجْرِ اِلٰى غُرُوْبِ الشَّمْسِ ۔ یعنی د صبا د راختلو نه تر نمر پریوتو پورے د روژے په نیت سره د خوراك څکاك او جماع نه بندیدلو ته وائي دارنګه د روژه دار مسلمان کیدل او د جنابت او حیض او نفاس نه پاکیدل ددے د صحیح کیدو شرائط دی۔ (٢) امام ابن حزمؒ وائي چه دا قسم روژه خو کافر هم نیولے شي اصل شرعي روژه دا ده چه هُوَ الْإِمْسَاكُ عَنِ الْمُفْطِرَاتِ الثَّلَاثَةِ وَعَنْ كُلِّ مَعْصِيَةٍ، اَىْ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ ۔ د درے څیزونو او د هر قسمه ګناهونو (لغو او د بي حیائي خبرو) نه ځان بند ساتلو ته روژه وائي، دلیل پرے دا حدیث د نبي ﷺ دے (مَنْ لَّمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّوْرِ وَالْعَمَلَ بِهٖ فَلَيْسَ لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِيْ اَنْ يَّدَعَ طَعَامَهٗ وَشَرَابَهٗ)۔ دا تعریف ښه دے لیکن ډیر ګران دے اصل دا ده چه په ګناه سره روژه نیمګړے کیږي اګرکه غاړه به آزادیږي۔

پدے باب کې فرضي او نفلي روژے او د هغې متعلقات چه لیلة القدر او اعتکاف او ذکر اذکار وغیره دی هغه به هم ذکر کوو۔

بیا روژه داسے عبادت دے چه ددے امت خصوصیت نۀ دے بلکه پخوانو امتونو باندے هم روژے فرض وے۔

بیا اختلاف دے چه ابتداء کې څومره روژے فرض وے ؟ دوه قوله دی :

(١) احناف وائي اول د عاشورے ورځ فرض وه بیا منسوخ شوه۔

(٢) جمهور وائي چه د عاشورې ورځې روژه مخکې هم مستحب وه او اُوس هم مستحب ده۔ ليکن مخکې ئې استحباب مؤکد وو او روستو دومره مؤکد نۀ دے۔ د احنافو مذهب د حديث د مسلمؒ نه معلوميږي چه صحابه کرام (انس بن مالك ﷺ) وائي مونږ به په ماشومانو هم د عاشورې روژه نيوله۔ ليکن هغه د زيات تاکيد د استحباب دپاره وه۔

فوائد الصيام : (١) د غريبانو د حال او د هغوى د لوږې او د حاجت احساس کول۔

(٢) تضييق مجاري الشيطان (د شيطان د لارو (يعني رگونو) تنگول دى بيا پکې شيطان تلل راتلل نشي کولے۔ (٣) التواضع لله۔ په روژه سره په انسان کې د الله دپاره عاجزي پيدا کيږي۔ (٤) انسانان پکې تهجد او ډير عبادتونه کوي۔

(٥) ډيرے بيمارياني په روژه نيولو ښے کيږي نو دا د پرهيز په شان ده په دے کې ډير ديني او صحي فوائد دی۔ (٦) اندامونه د گناهونو نه په بند ساتلو اموخته شي۔

(٧) په زړونو کې تقوىٰ پيدا کولے شي۔

(٨) په انسان کې صبر او تحمل او مضبوطوالے پيدا کيږي ځکه چه کله بنده مالوفات (محبوب څيزونه) پريدى په خپله خوښه سره نو د گناهونو نه به پکې صبر پيدا شي۔

(٩) انسان په نفسِ اماره بالسوء باندے غلبه حاصلوى۔

(١٠) انسان ته نور عبادتونه آسانوى۔

(١١) روژه د انسان زړه نرموى او د الله ذکر ته ئې تابع کوى او د نورو مشغلو نه ئې قطع کوى۔

(١٢) د طاعاتو سره ئې محبت پيدا کيږي او د گناهونو نه ئې نفرت پيدا شي۔ (اتحاف اهل الايمان بدروس رمضان للشيخ صالح الفوزان)

(١٣) انسان د جنت د دروازے (باب الريان) مستحق گرځي الله ترے راضي کيږي۔ او الله ئې په خپله بدله ورکوى۔

(١٤) روژه انسان ته دا سبق او درس ورکوى چه د الله لحاظ په پټه او په ښکاره کې وکړه۔

(١٥) په روژه سره اراده او عزم قوى کيږي او ذهن صفا کيږي او فکر مضبوطيږي۔

لقمان حکیم خپل ځوی ته وائی : يَا بُنَيَّ إِذَا امْتَلَأَتِ الْمِعْدَةُ نَامَتِ الْفِكْرَةُ وَخَرِسَتِ الْحِكْمَةُ وَقَعَدَتِ الْأَعْضَاءُ عَنِ الْعِبَادَةِ (اے بچیه ! کله چه معده ډکه شی نو فکر اوده شی او د حکمت خبرے ختمے شی او اندامونه د عبادت نه کینی).

(١٦) په روژه کې د مسلمانانو د وحدت او اتفاق احساس حاصلیږی چه ټول مومنان په مشرق او مغرب کی د یو الله په بندګۍ کی په یو وخت کی مصروف دی. (الفقه الاسلامی وادلته ٣/٣)

بیا روژه په دویم کال د هجرت فرض شوه د شعبان لسم تاریخ وو او یونیم کال د هجرت شوے وو او پدے وخت کی قبله کعبے ته بدله شوے وه او رسول الله ﷺ په خپل ژوند کی نهه رمضانه روژه ونیوله په اجماع د علماؤ سره.

د روژو نه منکر انسان کافر دے لکه د مرتد په شان معامله به ورسره کولے شی د توبے مطالبه به ترے کولے شی که توبه ئے وبستله قبوله به وی او که نۀ ئے وباسی نو په طریقه د حد سره به وژلے شی کله چه نوے مسلمان نۀ وی او که بغیر د عذر نه د سستوالی په وجه روژے نۀ نیسی او د هغے د وجوب نه انکار نکوی نو بیا فاسق دے او کافر نۀ دے. (الفقه الاسلامی)

انواع الصیام :

روژه په څلور قسمه ده (١) واجب، (٢) تطوع (نفلی) (٣) حرام (٤) مکروه. واجب په درے قسمه ده (١) یو هغه ده چه په زمانه کی لازمه شوی وی لکه روژے د رمضان.

(٢) دویم هغه چه د یو سبب او علت د وجه نه واجب شوی وی لکه روژے د کفاراتو شوے. (٣) او بل هغه دی چه بنده په ځان واجب کړی وی لکه نذری روژے.

او حرامے روژے لکه د ښځے نفلی روژه نیول کله ئے چه خاوند حاضر وی بغیر د اجازے د هغے نه ځکه چه ددے نه منع راغلے ده. او د شك د ورځے د روژے نه هم منع راغلے ده. یا د اخترونو په ورځ کی روژه کیدل شو، د حائضے او نفساء روژه نیول.

او مکروه روژے دا دی چه ټول عمر روژه نیسی، یا صرف د جُمعے په ورځ یا صرف د خالی په ورځ روژه نیول، د مسافر روژه نیول کله ئے چه سفر په تکلیف کی کوی.

احناف وائی : روژه اته قسمه ده (١) فرض معین لکه روژے د رمضان شوے په طریقه د اداء باندے. (٢) فرض غیر معین لکه قضاء د رمضان او روژے د کفاراتو شوے. (٣)

واجب معین لکه نذر معین (٤) واجب غیر معین لکه نذر مطلق۔ (٥) نفل مسنون لکه روژه د عاشورې او د نهمې ورځې د محرم۔ (٦) نفل مندوب (مستحب) لکه ایام البیض د هرې میاشتې شوې۔ (۷) مکروه تحریمي لکه د اخترونو د ورځو روژه نیول۔ (۸) مکروه تنزیهي لکه یواځې د عاشورې روژه نیول او یواځې د خالي ورځ روژه نیول۔ (مګر صحیح دا ده چه یواځې د خالي ورځې نه منع راغلې ده نو دا روژه حرامه ده) (الفقه الاسلامي وادلته) و جلسات رمضانیة للشیخ ابن عثیمین)

شروط الصیام : د روژې دپاره شپږ شرطونه دي

(۱) الاسلام، په کافر باندې روژه نیول نشته مګر اسلام به راوړي بیا به روژه نیسي۔

(۲) البلوغ : په ماشوم باندې روژه فرض نهٔ ده۔

(۳) العقل : که یو انسان لیونے وي په هغه باندې فرض نهٔ ده۔

(٤) القدرة : که یو انسان قدرت نهٔ لري لکه ډیر بوډا یا داسې بیمار چه امید د رغیدو ئې نهٔ وي لکه جذام والا یا سرطان والا۔ نو دوي باندې روژه لازم نهٔ ده ځکه چه دوي عاجز دي د روژې نیولو نه لیکن په دوي باندې دا لازمه ده چه طعام به ورکوي د هرې ورځې په بدله کې یو مسکین ته او د طعام ورکولو دوه طریقې دي یو دا چه (۱) صبا او بیګاه طعام تیار کړي او مسکین ته ئې ورکړي او صبا او بیګاه خو د رمضان نه روستو وي لکه دا کار به انس بن مالك رضي الله عنه کولو کله چه بوډا شو۔ (۲) دویمه طریقه دا ده چه د هرې روژې په بدل کې یو مد د وریژو ورکړي او بهتره دا ده چه دې سره غوښه وغیره ترکاري یو ځای کړي۔

(٥) شرط : اقامت دے، که یو انسان مسافر وي په هغه باندې روژه لازم نهٔ ده البته روستو به قضاء راوړي۔

(٦) مانع به نهٔ وي لکه حیض او نفاس وغیره۔ په زنانه باندې په حالت د حیض او نفاس کې روژه لازم نهٔ ده او نهٔ ترې نیول صحیح کیږي۔ هکذا قاله ابن عثیمین في جلسات رمضانیة)۔

رمضان : د رمض نه دے او رمض سختې ګرمۍ ته وائي چه په هغې کې خپې سوزي او رمضاء هغه ګټې ته وائي چه په نمر باندې سخته ګرمه شوې وي۔ او رمضان ته رمضان ځکه وائي چه دا هم په سخته ګرمۍ کې واقع شوے وو ځکه هرکله چه عربو

د پخوانی لغاتو نه د میاشتو نومونه رانقل کول نو د هغه زمانو نومونه ئے ورته ورکړل په کوم کی چه دغه میاشتے واقع شوے وے نو دا میاشت د سختے گرمئ سره موافق شوه نو رمضان نوم ورله ورکړے شو۔ یا کله چه ددے روژے فرض کیدلے نو دغه میاشتے د گرمئ وے نو ځکه ورته رمضان وویلو شو (ابن الاثیرؒ، عینیؒ)

او د رمضان لفظ ددے میاشتے دپاره استعمال جائز دے کومو کسانو چه منع کړے هغه صحیح نهٔ ده۔

الفصل الاول

- 1956(1) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ فُتِحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ ". وَفِيْ رِوَايَةٍ : " فُتِحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِيْنُ ". وَفِيْ رِوَايَةٍ : " فُتِحَتْ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چه د رمضان میاشت داخله شی (نو) د آسمان دروازے پرانستلے شی۔ او په یو روایت کی دی: د جنت دروازے پرانستلے شی او د جهنم دروازے بندے کړے شی او شیطانان په زنځیرونو وترلے شی۔ او په یو بل روایت کی دی : د رحمت دروازے راکولاوے شی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : فوائد الحدیث : (۱) جنت او جهنم د مخکی نه پیدا دی او ددے په پیدائش کی ډیرے فائدی دی یو دا چه یره کونکی او طمع کونکی یره او طمع وکړی۔ او په رمضان کی کولاویږی او روستو بندیږی۔

(۲) ابواب السماء، او ابواب الجنة او ابواب الرحمة دا روایت بالمعنیٰ دے د ټولو مطلب یو دے چه د جنت دروازے کولاوی شی او رحمتونه د الله رافراخه شی۔

(۳) پدے روایت کی الشیاطین راغلی دے او په بل روایت کی (مَرَدَةُ الْجِنِّ) (یعنی سرکش پیریان) راغلی دی نو تعارض نشته وجه دا ده چه شیطانان خو ټول تړی او په جناتو کی چه کوم سرکشان وی هغه په رمضان کی وترلے شی۔

(٤) مشهور سوال چه هرکله چه شیطانان ترلے شویدی نو خلك بیا په رمضان کی گناهونه ولے کوی؟ ددے دوه جوابه دی (۱) یو جواب دا دے چه شیطان په بنده باندے

یو ولس میاشتے محنت کرے وی نو بنده ئے خراب کرے وی او په گناه ئے عادت کرے وی نو په رمضان کی هم د هغه اثر جاری وی نو د شیطان دغه خواری سبب د گناه وی لیکن دا جواب ضعیف دے۔ دویم جواب دا دے چه د گناه اسباب ډیر دی یواځے شیطان نهٔ دے بلکه نفس اماره بالسوء هم د گناه حکم کوی نو نفس کی هم شر وی هغه په انسان باندے گناهونه کوی نوکه شیطان پیدا هم نهٔ وے نو انسانانو به د نفس امارهٔ د وجه نه گناهونه کولے، دا وجه ده بنده به په ځان باندے همیشه بد گمان کوی چه په ما کی شر شته، بیا هم په روژه کی گناهونه کم شی ځکه چه د گناه یو سبب چه شیطان دے هغه تړلے شوے وی، عام فساق هم نیك اعمال شروع کړی، تهجد کوی، پنځه وخته مونځونو کی شرکت کوی نو د شیطان د تړلو فائده بیا هم شته۔

- 1957 (2) وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " فِي الْجَنَّةِ ثَمَانِيَةُ أَبْوَابٍ مِنْهَا : بَابٌ يُسَمَّى الرَّيَّانَ لَا يَدْخُلُهُ إِلَّا الصَّائِمُوْنَ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا سهل بن سعد (ساعدی) ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : په جنت کی اته دروازے دی د هغے نه یوه دروازه ده چه هغے ته ریان وائی، په هغے باندے به صرف روژه دار ننوزی۔

تشریح : د جنت اته دروازے دی (۱) باب الصدقه، (۲) باب الصلاة (۳) باب الریان (٤) باب الجهاد (٥) باب التوبه (٦) باب الضحیٰ (۷) باب الراضین بالقضاء (۸) باب الایمن۔ (المرعاة ٤٢٣/٦) وزاد المعاد (۹۳/۱) دا تهول په احادیثو کی ثابت دی د څلورو دروازو نومونه په باب فضل الصدقة کی هم تیر شویدی۔

الرَّیَّانَ : د روژے والا دروازے ته ئے باب الصوم نوم ورنکړو ځکه چه بیا گمان ونشی چه هلته به هم روژے نیسو، نو (ریان) ئے ورته ووئیله چه دا د مړو دروازه ده چه دلته ننوزی نو بس تنده ختمه شوه په دنیا کی تنده وه اُوس به همیشه مړخ وی پریشانی به نهٔ وی۔

بیا دا اجر د فرضی روژو والا دپاره دے او نفلی روژو والا دپاره په طریقه اولیٰ باندے دے۔ یا داسے وویه چه الصائمون هغه چاته وائی چه فرضی نفلی دواړه قسمه روژه نیسی

- 1958(3) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ، وَمَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ، وَمَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چه د رمضان روژه د ايمان او د ثواب گنړلو په حالت كې ونيوله (نو) دهٔ ته به ددهٔ مخكني گناهونه وبخلے شي او چا چه د رمضان تراويح د ايمان او د ثواب د وجه نه وكړے (نو) دهٔ ته به ددهٔ مخكني گناهونه وبخلے شي۔ او څوك چه د ليلة القدر په شپه (د عبادت دپاره) ودريدو د ايمان او د ثواب د وجه نه نو دهٔ ته به ددهٔ مخكني گناهونه وبخلے شي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : إِيْمَانًا : ددے نه علماء دا ثابتوي چه د رمضان دپاره نوے ايمان راوړل پكار دي او هغه دا چه خپل ايمان به تازه كړي د الله تعالىٰ د عظمت او د هغه د حكم استحضار به وكړي او د ايمان د وجے نه به روژو دپاره تيار شي۔

وَاحْتِسَابًا : دا دويم شرط دے چه دا به ثواب گنړي او هسے د ورزش په نيت به ئے نهٔ نيسي دارنگه د څه حكمت وغيره د وجه نه به ئے نهٔ نيسي بلكه دا به د الله حكم گنړي او ددے په نيولو كې به د الله رضا او د هغه ثواب گنړي۔

مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ : دلته ئے قيد د وړے او غټے گناه نهٔ دے لگولے نو ظاهر دا ده چه ټول گناهونه ئے معاف كيږي۔

د سنن كبرىٰ د نسائيؒ په بعض صحيح رواياتو كې د قتيبه بن سعيدؒ نه دا الفاظ هم ثابت دي (وَمَا تَأَخَّرَ) يعني روستني گناهونه به ئے هم معاف شي بعض علماؤ دے زيادت ته منكر وئيلے دے لكه ابن عبد البرؒ ليكن حافظؒ وئيلي دي چه دا صحيح روايت دے او قتيبه پكې متفرد هم نهٔ دے بلكه يو جماعت د راويانو د هغه متابعت كړيدے ليكن دے باندے **اشكال** دا دے چه راتلونكي گناهونه خو لا شوي نهٔ دي نو څنگه به معاف شي ؟ ددے **جواب** دا دے چه ددے معنىٰ دا ده چه كه دغه گناهونه واقع كيږي نو معاف كيږي به۔ (۲) بعض وائي دا كنايه ده ددے نه چه الله تعالىٰ به ئے په مستقبل زمانه كې د كبارو گناهونو نه وساتي نو د دوي نه به روستو لوي لوي

گناهونه نهٔ کیږی۔ د روژو دومره لوی ثوابونه دی۔

لَیْلَةَ الْقَدْرِ : په لیلة القدر کی چه څومره عبادت وکړے شی او کوم عبادت وکړے شی نو د هغې مطابق به ورته اجر ملاوېږی مثلاً چا چه په لیلة القدر کی صرف دوه رکعاته یا یوه ګینټه عبادت وکړو نو څلور آتیا کاله به ورته د دوه رکعاتو یا د یوے ګینټې اجر ملاوېږی۔ لیکن افضله طریقه دا ده چه توله شپه عبادت وشی، باقی احکام د لیلة القدر روستو رازی ان شاء الله تعالیٰ۔

- 1959(4) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ يُضَاعَفُ، الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ قَالَ اللهُ تَعَالَى : إِلَّا الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِيْ وَأَنَا أَجْزِيْ بِهِ يَدَعُ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ مِنْ أَجْلِيْ لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ: فَرْحَةٌ عِنْدَ فِطْرِهِ وَفَرْحَةٌ عِنْدَ لِقَاءِ رَبِّهِ وَلَخَلُوْفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيْحِ الْمِسْكِ وَالصِّيَامُ جُنَّةٌ وَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَصْخَبْ، فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي امْرُؤٌ صَائِمٌ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابوهریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: د بنیادم هر عمل دوچنده کولے شی، (پدے طریقه چه) یوه نیکی په لس چنده تر اوه سوه چندونو پورے کیږی۔ الله تعالیٰ فرمائی: سویٔ د روژے نه چه دا زما دپاره ده او زهٔ به (پخپله) ددے اجر ورکوم (یعنی ددے اجر صرف ما ته معلوم دے هیڅ ملائك ته نهٔ دے معلوم نو د هغوی په واسطه به نهٔ ورکړے کیږی) دے خپل خواهش او خوراك زما د وجے نه پریدی، د روژه دار دپاره دوه خوشحالیانی دی، یوه خوشحالی د هغه د روژه ماتی په وخت ده او بله خوشحالی کله چه د خپل رب سره ملاو شی۔ او خامخا د روژه دار د خولے بد بوئی د الله په نیز باندے د مشکو د خوشبوئی نه هم ډیره مزیداره ده، او روژه (د اُور نه) ډهال دے او کله چه ستاسو د یو تن د روژے ورځ وی نو هغه دے بی حیاء خبرے نهٔ کوی او نهٔ دے شور کوی، که ده ته څوك بد رد (کنځل) وکړی یا ورسره جنګ وکړی نو دے دے ورته داسے ووائی چه زهٔ روژه داریم۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : فَإِنَّهُ لِيْ : یعنی روژه هغه عبادت دے چه اخلاص پکی زیات وی ځکه چه بنده کولے شی چه د خلکو ترمینځ خوله بنده کړی او په پټ ځای کی خوراك وکړی او

ووائی چه زهٔ روژه یم مګر هرکله چه بنده دا کار نهٔ کوی نو دے الله تعالیٰ په خپل ځان باندے حاضر ناظر ګنړی او د هغه دپاره دا عمل کوی نو پدے کی ریاء او شرك غالباً نهٔ واقع کیږی نو ځکه دا روژه د الله دپاره وی، د روژے په ظاهره کی څه شکل او صورت نهٔ وی چه انسان پکی ریاء وکړی او خلك هم پرے غالباً نهٔ خبریږی۔

بعض وائی : فانه لی : معنیٰ دا ده چه د روژے د ثواب مقدار او اندازه او دوچند والے ما ته راسپارل شویدے زهٔ د هغے په اندازه پو هه یم چه دا څومره ډیر بی حسابه اجر دے نو پدے وخت کی به د روژے د نورو اعمالو سره مقابله صحیح وی چه د نورو اعمالو د ثوابونو اندازے بندګانو ته معلومی دی او د روژے د ثواب اندازه صرف الله تعالیٰ ته معلومه ده۔

وَأَنَا أَجْزِیْ بِهٖ : (۱) یعنی زهٔ به ددے بدله خپله ورکوم او د نورو اعمالو بدله به الله تعالیٰ د ملائکو په ذریعه ورکوی۔ نو پدے کی اشاره ده چه دا بدله به ډیره لویه وی او بی حسابه او بی شماره به وی ځکه چه د عظیم ذات دپاره نیولے شویده چه د هغه د عظمت څه انتهاء نشته۔ ❁ دے کی دا مطلب هم دے چه روژه د مخلوق دپاره نهٔ نیول کیږی صرف د الله تعالیٰ دپاره وی په خلاف د سجدے او ذبح وغیره چه هغه د غیر الله دپاره هم خلك کوی۔ اګرکه هغه شرك دے۔ ❁ یا په روژه کی تشبه بالاله زیاته ده، الله تعالیٰ صمد دے او روژه دار هم خوراك څکاك نهٔ کوی۔

(۲) پدے کی یو قراءت دا هم دے چه وَأَنَا أُجْزیٰ بِهٖ) یعنی زهٔ به ددے په بدله کی واقع کیږم۔ یعنی په روژه سره انسان ته الله تعالیٰ او د هغه دیدار ملاویږی او چه الله درته ملاؤ شو نو بیا هرڅه درته ملاؤ دی نو د روژے ډیر فضیلت شو چه د نورو عملونو بدله جنت وغیره وی او ددے بدله الله تعالیٰ دے۔ او روژه د الله دپاره ځکه ده چه بنده کله خوله بنده کړه نو دهٔ تشبه بالاله وکړه (په اصطلاح د فلاسفهؤ او دیته بعض علماء تخلق باخلاق الله وائی) چه ځان ئے د شهواتو نه بند کړو نو ځکه ورله الله خپله هم جزاء ورکوی۔

وَلَـخُلُوْفُ فَمِ الصَّائِمِ : ددے نه دا فائده معلومیږی چه د روژه دار د خولے د بد بوئی اثر د الله په نیز د جهاد د اثر نه هم زیات بهتر دے ځکه چه د شهید د وینے په باره کی ئے وئیلی دی چه ددے خوشبوئی د مشکو د خوشبوئی په شان ده او د روژه دار د خولے

بوئي د الله تعالىٰ په نيز د مشكو نه هم زياته مزيداره ده، ددې وجه دا ده چه روژه فرض عين ده او جهاد فرض كفايه دې او د فرض عين ضرورډير اجروي. يا دا چه روژه جهاد النفس والشيطان دې او هغه ډير گران دي په نسبت د جهاد د كافرانو سره.

وَالصِّيَامُ جُنَّةٌ : يعنى روژې ساتونكى دي او ډهال دې د گناهونو نه او د جهنم د اوړ نه.

وَلَايَصْخَبُ : يعنى چغې دې نهٔ وهي او جگړې دې نكوي، بعض وائى : په فضول خبرو دې آواز نهٔ پورته كوى. دا كارونه بغير د روژې نه هم صحيح نهٔ دي مگر په روژه كې په تاكيد سره منع دي.

فَلْيَقُلْ : يعنى ځان سره دې ووائى او دا فكر دې وكړى چه ما خو روژه نيولې ده او روژه كې خو دا كارونه ناروا دي نو پدې وجه به ددې بد اعمالو نه بچ كيږى او بل ته وينا مقصد نهٔ ده ځكه كه خپل مقابل ته ووائى چه زما روژه ده نو هغه به ورته ووائى چه ستا لا روژه ده او ما سره جگړې كوې نو نور فساد ترې جوړيږى نو د ځان سره به ووائى. او كله دا هم كولې شي چه هغه ته ووائى : زهٔ روژه يم تا سره بحث كول نهٔ غواړم نو هغه به غلې شي.

الفصل الثاني

- 1960(5) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" إِذَا كَانَ أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ صُفِّدَتِ الشَّيَاطِيْنُ وَمَرَدَةُ الْجِنِّ وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ فَلَمْ يُفْتَحْ مِنْهَا بَابٌ وَفُتِحَتْ بَابُ الْجَنَّةِ فَلَمْ يُغْلَقْ مِنْهَا بَابٌ وَيُنَادِيْ مُنَادٍ : يَا بَاغِيَ الْخَيْرِ أَقْبِلْ وَيَا بَاغِيَ الشَّرِّ أَقْصِرْ، وَلِلّٰهِ عُتَقَاءُ مِنَ النَّارِ وَذٰلِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

- 1961(6) وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ رَجُلٍ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چه د رمضان د مياشتې اوله شپه شى (نو) شيطانان او سركش پيريان وتړلې شى او د دوزخ دروازې بندې كړې شى، نو د هغې نه يوه دروازه هم نهٔ كولاويږى او د جنت دروازې كولاوې كړې شى نو د هغې نه يوه دروازه هم نهٔ شى بندولې او يو آواز كونكې (ملائك) آواز كوى : اې د خير طلبگاره متوجه شه او اې د شر طلب كونكيه بند شه، او د الله

دپاره د اُور نه آزادیدونکی خلك وی (یعنی الله تعالیٰ بندګان د اُور نه آزادوی) او دا هره شپه وی۔ (ترمذیؔ، ابن ماجهؔ) او امام احمدؔ دا د یو سړی نه روایت کړیدے او امام ترمذیؔ وئیلی دی چه دا حدیث غریب دے۔

تشریح : صُفِّدَتِ : اَصْفَاد : زنځیرونو او طوقونو ته وائی او صُفدت یعنی وتړلے شی په زنځیرونو سره۔

وَمَرَدَةُ : جمع د مارد دے لکه طلبة او طالب۔ سرکشانو ته وائی۔

یَا بَاغِیَ الْخَیْرِ : باغی په معنیٰ د طالب سره یعنی د خیر طلبګار ته وائی چه متوجه شه نیکو کارونو ته ځکه چه په رمضان کی ډیرے نیکیانی کیږی۔

أَقْصِرُ : یعنی بند شه، اقصار دیته وائی چه انسان په یو کار قادر وی لیکن ځان ترے بند کړی او قصر دیته وائی چه انسان د یو کار نه د عاجز کیدو په وجه بند شی۔ یعنی اے د شر طلبګاره د ګناهونو نه بند شه او الله ته توبه اُوباسه ځکه چه د توبی وخت راغلے او د الله د بخښنے وخت دے۔

او چونکه الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته د ملائکو ددے آواز اثر رسوی پدے وجه باندے نیکان او بدان ټول په رمضان کی د الله تعالیٰ طاعت ته راځی او د ګناهونو نه توبه وباسی او الله ته متوجه کیږی دا وجه ده چه ماشومان هم روژے نیسی او ډیر فاسقان مونځونو ته حاضریږی۔ دا آواز مونږ نهٔ دے آوریدلے لیکن د نبی کریم ﷺ د تصدیق د وجه نه ګویا که داسے دے لکه چه مونږ آوریدلے وی۔

وَ لِلّٰهِ عُتَقَاءُ : یعنی الله تعالیٰ هره شپه خلك د اُور نه آزادوی نو کیدے شی اے انسانه ! ته هم د هغوی نه حساب شے نو توبه وباسه او متوجه شه۔

کُلَّ لَیْلَةٍ : یعنی دا آوازونه په هره شپه د رمضان کی کیږی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، رواه الترمذی وابن ماجه وابن خزيمة والحاكم والبيهقی وصححه الالبانی ومن قبله الحاكم وابن حبان ورواه احمد عن رجل من اصحاب النبی ﷺ۔

الفصل الثالث

- 1962(7) عَنْ أَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" أَتَاكُمْ رَمَضَانُ شَهْرٌ مُبَارَكٌ فَرَضَ اللهُ عَلَیْكُمْ صِیَامَهُ تُفْتَحُ فِیْهِ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَتُغْلَقُ فِیْهِ أَبْوَابُ الْجَحِیْمِ

وَتُغَلُّ فِيهِ مَرَدَةُ الشَّيَاطِينِ لِلّٰهِ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ مَنْ حُرِمَ خَيْرَهَا فَقَدْ حُرِمَ ".
رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ۔

ترجمه : سیدنا ابو هریره رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو ته د رمضان میاشت راغله چه دا مبارکه میاشت ده، الله تعالیٰ په تاسو باندے ددے روژے فرض کړیدي، پدے کی د آسمان دروازے کولاوے کړے شي او د جهنم دروازے بندے کړے شي او پدے کی سرکش شیطانان وتړلے شي، پدے کی د الله د طرفنه یوه شپه ده چه د زرو میاشتو نه غوره ده، څوك چه ددے د خیرونو نه محروم شو نو هغه (پوره) محروم شو۔ (احمدؒ، نسائیؒ)

تشریح : وَتُغَلُّ : د اغلال نه دے په لام باندے شد دے، اَغَلَّ فُلَانًا اَدْخَلَ فِيْ عُنُقِهٖ اَوْ يَدِهٖ الْغُلَّ۔ اَغَلَّ په معنیٰ د څټ یا لاس کی طوق داخلولو ته وئیلے شي، جمع د غُل اِغلال راځي۔ (قاموس)

مَرَدَةُ الشَّيَاطِيْنِ : ددے نه معلومیږی چه سرکش شیطانان تړلے کیږی په زنځیرونو او عام شیطانان په غیر د طوقونو او زنځیرونو نه بندولے کیږی۔ یا دا چه په مخکی حدیث کی (مردة الجن) عطف تفسیر او بیان وو د (الشیاطین) دپاره۔ یعنی صرف لوی شیطانان سرکشان تړلے کیږی او واړه شیطانان نهٔ تړلے کیږی لیکن مخکی حدیث کی عموم دے (الشیاطین ومردة الجن)۔ والله اعلم۔

فَقَدْ حُرِمَ : یعنی څوك چه د لیلة القدر د خیر نه محروم شو چه د عبادت توفیق ورته ملاؤ نشو نو دے د ټولو خیرونو نه محروم شو۔ نو پدے کی ډیر تاکید او مبالغه ده ځکه چه د لیلة القدر نه محرومه کیدل داسی دي لکه څلور اتیا کاله عبادت نه بنده محرومه شي۔ دارنګه پدے شپه چه کوم عامه بخښنه کیږی د هغے نه د انسان محرومیدل لوی تاوان دے۔ شرط او جزاء ئے دواړه یو شان ذکر کړل پدے کی اشاره ده په لوی والی د جزاء باندے یعنی دے د داسے خیر نه محروم شو چه د هغے اندازه څوك نشي لګولے په غیر د الله تعالیٰ نه۔ (طیبیؒ)

درجة الحدیث : اسناده صحیح، رواه احمد والنسائی وقال الشیخ احمد شاکر فی شرح المسند اسناده صحیح، وصحح الالبانی لغیره فی صحیح الترغیب.

- 1963(8) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو : أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : " اَلصِّيَامُ وَالْقُرآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ يَقُوْلُ الصِّيَامُ :أَىْ رَبِّ إِنِّىْ مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ فَشَفِّعْنِىْ فِيْهِ وَيَقُوْلُ الْقُرآنُ :مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ فَشَفِّعْنِىْ فِيْهِ فَيُشَفَّعَانِ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِىُّ فِىْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ.

ترجمه : او سيدنا عبد الله بن عمرو رضى الله عنهما فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل : روژه او قرآن دواړه به د بنده دپاره سفارش كوى، روژه به وائى : اے ربه ! ما دے د خوراك او شهواتو نه د ورځے منع كړے وو نو زما سفارش ددهٔ په باره كى قبول كړه او قرآن به وائى : ما دے د شپے د خوب نه منع كړے وو نو زما سفارش ددهٔ په باره كى قبول كړه نو د دواړو سفارش به قبولے شى. (بيهقىؒ شعب الايمان).

تشريح : "اَلصِّيَامُ : يعنى د رمضان روژے او نفلى روژے دواړه مراد دى.

وَالْقُرْآنُ : يعنى د قرآن كريم قراء ت. طيبىؒ وائى چه قرآن نه مراد دلته تهجد او قيام الليل دى لكه روستو (مَنَعْتُهُ بِاللَّيْلِ) نه معلوميږى.

فَيُشَفَّعَانِ : بعض وائى چه ددے نه به جثه جوړيږى او هغه به خبرے كوى ځكه په قيامت كى به معنوى څيزونه او اعمال د جسمونو په شكل راځى، يا دا چه يو ملائك به الله تعالىٰ راوليږى چه د دوى په ژبه به خبرے كوى، يا شفاعت بلسان الحال مراد دے ليكن اول احتمال راجح دے ځكه ظاهر الحديث دے او ظاهر او حقيقت پريخودل بلا دليله جائز نهٔ دى.

درجة الحديث: اسناده صحيح، رواه البيهقى واحمد والحاكم على شرط مسلم ووافقه الذهبى واخرجه الطبرانى فى الكبير ورجاله محتج بهم فى الصحيح كذا فى الترغيب،

- 1964(9) وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: دَخَلَ رَمَضَانُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" إِنَّ هٰذَا الشَّهْرَ قَدْ حَضَرَكُمْ وَفِيْهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ مَنْ حُرِمَهَا فَقَدْ حُرِمَ الْخَيْرَ كُلَّهُ وَلَا يُحْرَمُ خَيْرَهَا إِلَّا كُلُّ مَحْرُوْمٍ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه

ترجمه : او سيدنا انس بن مالك ﷺ فرمائى : (كله چه) د رمضان مياشت راغله نو

رسول الله ﷺ وفرمایل : دا میاشت تاسو ته حاضره شوه او پدے کی یوه شپه ده چه د زرو میاشتو نه غوره ده څوك چه ددے (د خیرونو نه) محروم شو نو هغه د تولو خیرونو نه محروم شو او ددے د خیر نه نهٔ محرومیږی مګر هر پوره محروم۔ (ابن ماجة)

تشریح :مَنْ حُرِمَهَا : یعنی څوك چه ددے د لطف او توفیق او خیر نه او د عبادت نه محروم شو نو د تولو خیرونو نه محروم شو کوم چه پدے شپه باندے بندګانو ته ورکړے کیږی۔

دا حدیث دلیل دے چه د هر عمل موقعه راځی نو عالِم دپاره د هغے ترغیب ورکول پکار دی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، رواه ابن ماجه وفيه عمران بن داور ابو العوام وثقه عفان والعجلى وابن حبان وقال ابن عدى ارجو انه لا بأس به، وصححه الألبانى)

- 1965(10) وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ : خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْ آخِرِ يَوْمٍ مِنْ شَعْبَانَ فَقَالَ: " يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ أَظَلَّكُمْ شَهْرٌ عَظِيْمٌ مُبَارَكٌ شَهْرٌ فِيْهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ جَعَلَ اللهُ تَعَالٰى صِيَامَهُ فَرِيْضَةً وَقِيَامَ لَيْلِهِ تَطَوُّعًا، مَنْ تَقَرَّبَ فِيْهِ بِخَصْلَةٍ مِنَ الْخَيْرِ كَانَ كَمَنْ أَدّٰى فَرِيْضَةً فِيْمَا سِوَاهُ وَمَنْ أَدّٰى فَرِيْضَةً فِيْهِ كَانَ كَمَنْ أَدّٰى سَبْعِيْنَ فَرِيْضَةً فِيْمَا سِوَاهُ وَهُوَ شَهْرُ الصَّبْرِ وَالصَّبْرُ ثَوَابُهُ الْجَنَّةُ وَشَهْرُ الْمُوَاسَاةِ وَشَهْرٌ يَزْدَادُ فِيْهِ رِزْقُ الْمُؤْمِنِ مَنْ فَطَّرَ فِيْهِ صَائِمًا كَانَ لَهُ مَغْفِرَةً لِذُنُوْبِهِ وَعِتْقَ رَقَبَتِهِ مِنَ النَّارِ وَكَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَّنْقُصَ مِنْ أَجْرِهِ شَيْءٌ" قُلْنَا: يَا رَسُوْلَ اللهِ لَيْسَ كُلُّنَا يَجِدُ مَا يُفَطِّرُ بِهِ الصَّائِمَ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" يُعْطِي اللهُ هٰذَا الثَّوَابَ مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا عَلٰى مَذْقَةِ لَبَنٍ أَوْ تَمْرَةٍ أَوْ شَرْبَةٍ مِنْ مَاءٍ وَمَنْ أَشْبَعَ صَائِمًا سَقَاهُ اللهُ مِنْ حَوْضِيْ شَرْبَةً لَا يَظْمَأُ حَتّٰى يَدْخُلَ الْجَنَّةَ وَهُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ وَمَنْ خَفَّفَ عَنْ مَمْلُوْكِهِ فِيْهِ غَفَرَ اللهُ لَهُ وَأَعْتَقَهُ مِنَ النَّارِ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ.

ترجمه : او سیدنا سلمان رضی الله عنه فرمائی : مونږ ته رسول الله ﷺ د شعبان په آخری ورځ خطبه ووېله نو وے فرمایل: اے خلکو تاسو باندے لویه مبارکه میاشت راغله

پدے کی یوه شپه ده چه د زړو میاشتو نه غوره ده، الله تعالیٰ ددے روژے فرض گرځولی دی او ددے قیام اللیل (تراویح) ئے نفل (گرځولی دی)، څوك چه پدے كی د نیکئ په یو خوئی سره (الله تعالیٰ ته) ځان نزدے کړی نو دے به داسے وی لکه چه دهٔ بله میاشت کی فرض ادا کړی وی او چا چه پدے کی فرض ادا کړل داسے به وی لکه چه په بله میاشت کی ئے اویا فرضه ادا کړی وی او دا د صبر میاشت ده او د صبر ثواب جنت دے او دا د غمخورګئ (همدردئ) میاشت ده او داسے میاشت ده چه پدے کی د مؤمن رزق زیاتیږی، چا چه پدے کی روژه دار ته روژه ماتے ورکړو (نو) دا به ددهٔ دپاره ددهٔ د گناهونو د بخنے او د اُور نه ددهٔ د خلاصي آزادولو (سبب) شی او ددهٔ دپاره به د هغه (روژه دار) په شان اجر وی په غیر ددے نه چه د هغه د اجر نه څه شے کم شی۔ مونږ وویل : اے د الله رسوله ! په مونږ کی هر سړے نهٔ مونده کوی هغه خوراك چه په هغے سره روژه دار ته روژه ماتے ورکړی۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالیٰ دا ثواب هغه چا ته هم ورکوی چا چه روژه دار ته د پیوو په گوټ یا په کجوره یا د اُوبو په گوټ سره روژه ماتے ورکړو۔ او څوك چه روژه دار موړ کړی نو الله تعالیٰ به ئے زما د حوض نه داسے خړوبه کړی چه نهٔ به تږے کیږی تردے چه جنت ته داخل شی او دا داسے میاشت ده چه اول ئے رحمت دے او مینځ ئے بخنه ده او آخرئے د اُور نه آزادي ده، او څوك چه پدے میاشت کی د خپل غلام (یا خادم) باندے آسانی راولی نو الله به دهٔ ته بخنه وکړی او د اُور نه به ئے آزاد کړی۔ (بیهقیؒ)۔

تشریح : وَقِيَامَ لَيْلِهِ تَطَوُّعًا : یعنی پدے کی تراویح الله تعالیٰ نهٔ دی لازمی کړی بلکه دا ئے مستحب گرځولی دی، په کولو کی ئے ډیر خیر دے، بنده ته پدے سره گناهونه معاف کیږی۔

كَانَ كَمَنْ أَدَّى سَبْعِيْنَ فَرِيْضَةً : ځکه د زمانے او د وخت د خیریت په وجه په عمل کی خیریت راځی لکه د ذی الحجے په لسو ورځو کی عبادت د جهاد فی سبیل الله نه هم ډیر غوره دے کما فی الحدیث الصحیح۔

مَنْ فَطَّرَ : یعنی روژه ماتے ئے ورکړو یو روژه دار ته۔ یعنی څه خوراك څکاك ورکړی۔

مَذْقَةِ لَبَنٍ : گوټ د پیوو چه کله ورسره اوبه یو ځای شوی وی یعنی د پیوو شربت۔

د رمضان اولے عشرے ته رحمت ووئیل شو یعنی دا هغه زمانه وی چه د الله تعالیٰ

عام رحمتونه پکښې نازليږي، بنده ګانو ته د عبادتونو او روژو او تراويحو توفيق ملاويږي۔

يَزْدَادُ فِيهِ رِزْقُ الْمُؤْمِنِ : ددې وجه دا ده چه د عبادت ډير والے د رزق د فراخئ يقيني سبب دے دا وجه ده چه قرآن کښې الله تعالیٰ رزق او عبادت جمع کړی (اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ مَا اُرِيْدُ مِنْهُمْ مِنْ رِزْقٍ) ﴿فَابْتَغُوْا عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوْهُ وَاشْكُرُوْا لَهٗ﴾ ﴿وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَهٗ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَايَحْتَسِبُ﴾ ﴿وَاْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَانَسْئَلُكَ رِزْقًا﴾

حَتّٰى يَدْخُلَ الْجَنَّةَ : دا څکه وائي چه جنت ته څوك داخل شي نو بيا د هغې نه روسته به دده داسې تنده نۀ وي لکه د دنيا په شان چه انسان پريشانه کړي او دا مطلب نۀ دے چه تنده به ورته نۀ لګيږي بيا خو هلته د اُوبو خوند ختم شو۔

وَاَوْسَطُهٗ مَغْفِرَةٌ : څکه مغفرت د عمل صالح نه روستو وي او د مغفرت نه روستو انسان د عتق من النار مستحق ګرزي۔

وَمَنْ خَفَّفَ : يعني چا چه د خپلو غلامانو خادمانو نه پدې کښې بوج سپك کړو مطلب دا چه روژه دار په رمضان کښې د خپلو خدمتګارو سره انتهائي د مروّت او محبت او رحمت معامله وکړي او د هغه د خدمت په کارونو کښې ورسره آساني وکړي او ډير بوج پرې د نورو ورځو په شان وانۀ چوي نو الله به ورته بخنه وکړي او د اور نه به ئې آزاد کړي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، اخرجه ابن خزيمة ومن طريقه البيهقي وفي سنده اياس بن ابي اياس مجهول وحديثه غير محفوظ (اللسان) ورواه ابوالشيخ وفي اسانيدهم ايضاً علي بن زيد بن جدعان وهو ضعيف، (المرعاة) وضعفه الالباني وقال ابن خزيمة ان صح الخبر)

- 1966 (11) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ أَطْلَقَ كُلَّ أَسِيْرٍ وَأَعْطَى كُلَّ سَائِلٍ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ

ترجمه : او سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي: رسول الله ﷺ به چه کله د رمضان مياشت راغله (نو) هر قيدي به ئې آزاد کړو او هر سائل (سوالګر) ته به ئې

ورکړه کوله۔ (بيهقیؒ)

تشريح : مطلب دا چه کوم قيدي به ئے د کافرانو نه نيولے وو نو کله چه به رمضان مياشت راغله نو هغه به ئے همداسے پريښودو احسان به ئے پرے وکړو۔ او د نبی ﷺ ذاتي قيديان نۀ وو مګر د کافرانو نه به ئے نيول نو په رمضان کی به ئے هغه هم نۀ ساتل۔

وَأَعْطٰى : يعنی په رمضان کی به نبی ﷺ د رالوتلے هواء نه هم ډير سخي وو، نو پدے روايت کی په رمضان کی د مريانو آزادولو فضيلت ثابت شو او په فقيرانو باندے فراخي راوستل او د هغوی سره احسان کولو مستحب والے معلوم شو۔

او د کثرت انفاق او خلکو ته د فائدے او خيرونو ورکولو فضيلت ترے معلوم شو۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف جداً، رواه البيهقي وذكره الهيثمي في مجمع الزوائد (۲/۱۵۰) ونسبه الى البزار وقال فيه ابوبكر الهذلي وهو ضعيف انتهى، واسمه سلمى بن عبد الله بن اخبارى، منكر الحديث متروك)،

- 1967 (12) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : " إِنَّ الْجَنَّةَ تُزَخْرَفُ لِرَمَضَانَ مِنْ رَأْسِ الْحَوْلِ إِلٰى حَوْلٍ قَابِلٍ ". قَالَ : " فَإِذَا كَانَ أَوَّلُ يَوْمٍ مِنْ رَمَضَانَ هَبَّتْ رِيحٌ تَحْتَ الْعَرْشِ مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ عَلَى الْحُوْرِ الْعِيْنِ فَيَقُلْنَ : يَا رَبِّ اجْعَلْ لَنَا مِنْ عِبَادِكَ أَزْوَاجًا تَقَرُّ بِهِمْ أَعْيُنُنَا وَتَقَرُّ أَعْيُنُهُمْ بِنَا ". رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ فِي شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او سيدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائي: چه نبی کريم ﷺ وفرمايل: يقيناً جنت د رمضان دپاره د يو کال د سر نه تر بل راتلونکی کال پورے ښائسته کولے شي۔ نبی کريم ﷺ فرمائي: نو کله چه د رمضان اوله ورځ شي (نو) د عرش نه لاندے د جنت د پاڼو نه په غټو سترګو والا حورو باندے هوا راوالوزی نو هغوی وائي: اے ربه ! زمونږ دپاره ستا د بندګانو نه خاوندان مقرر کړه چه تۀ په هغوی سره زمونږ سترګے يخے کړے او د هغوی سترګے په مونږ باندے يخے کړے۔ (بيهقیؒ دا مخکنی درے واړه روايتونه په شعب الايمان کی راوړيدی)

تشريح : يعنی د جنت ښائسته کول د کال د اول نه شروع کيږی او د راتلونکی کال پورے په اول د محرم کی ختميږي او ددے حاصل دا دے چه جنت په ټول کال کی د اول

نه تر آخره پورې د رمضان د وجې نه ښائسته کولې شي۔ يا مطلب دا دے چه د جنتيانو په نيز کال د رمضان نه روستو شروع کيږي نو د رمضان نه روستو د راتلونکي رمضان دپاره جنتِ ښائسته کولې شي۔ حافظ ابن حجرؒ فرمائي: کيدے شي چه مراد د کال نه دا وي چه ملائك د شوال د اول سر نه د جنت په ښائست شروع وکړي او هميشه وي تر اول د رمضان پورې نو په دغه وخت کې د جنت دروازې پرانستلې شي دے دپاره چه ملائك په هغه څه خبر شي په کوم باندې چه مخکې خبر نۀ وو دے دپاره چه هغوي ته دا خبردارے ورکړي چه د رمضان لوي شرافت دے او د روژو په سبب ددے امت شرافت او بدلے ډيرے مزيداري دي او عظيم او ښکاره نعمتونه دي۔ انتهیٰ۔

"فَإِذَا كَانَ : يعني د عرش نه لاندې هوا راوالوزي چه د هغې مزيداره خوشبوئي په حورو ولګي نو هغوي دغه ارمان وکړي۔

الْحُوْرِ الْعِيْنِ : حور : جمع د حوراء ده د حَوَر نه دے تك سپينوالي ته وائي چه په تك تور والي کې وي او دا ډېر ښکاره سپينوالے وي او العين جمعه د عَيْناء ده د عَيِنَ يَعْيَنُ عَيناً نه دے د سترګو د تور والي سره سره د هغې غټوالي ته وائي۔

په جنت کې دعاګانې شته، په آخرت کې په ډيرو مقاماتو کې د دعا اهميت راغلے دے، حورے هم انسانان دي خاوندانو ته ضرورت لري۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، رواه البيهقي والطبراني في الكبير وفيه الوليد بن الوليد القلانسي الدمشقي ضعفه الدارقطني وغيره ووثقه ابوحاتم بقوله صدوق، وقال الدارقطني وغيره متروك، وقال الالباني والعيني : حديث منكر وباطل، واورده ابن الجوزي في الموضوعات وآفته جرير بن ايوب وله شاهد ضعيف ذكره المنذري ونسبه للبيهقي، (مرعاة)

- 1968(13) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ : " يُغْفَرُ لِأُمَّتِهِ فِي آخِرِ لَيْلَةٍ فِي رَمَضَانَ " . قِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ أَهِيَ لَيْلَةُ الْقَدْرِ ؟ قَالَ : " لَا وَلَكِنَّ الْعَامِلَ إِنَّمَا يُوَفّٰى أَجْرَهُ إِذَا قَضَى عَمَلَهُ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي : د رسول الله ﷺ نه روايت کوي چه هغه وفرمايل: چه په رمضان کې په آخري شپه باندې د هغه امت ته ګناهونه بخلې شي۔

تپوس وشو اے د الله رسوله ! آیا دغه شپه لیلة القدر ده ؟ وے فرمایل: نهٔ لیکن یو عمل کونکی ته پوره اجر ورکولے شی کله چه هغه عمل پوره کړی۔ (احمدؔ)

تشریح :لِأُمَّتِهِ : دذے نه مراد روژه دار دی په مسند احمد (۷۹۰٤) کی (وَيُغْفَرُ لَهُمْ) الفاظ دی مګر دا مصنف خپل تصرف کړیدے او اصل عبارت (لامتی) دے۔

"لَا : یعنی د بخښے سبب دا نهٔ دے چه ګڼے دا لیلة القدر ده بلکه د بخښے سبب دا دے چه دا آخری شپه ده او کله چه یو مزدور مزدوری وکړی نو هغه ته په آخره کی د هغه د مزدورئ بدله ورکولے شی او دوی هم مزدوری پوره کړه۔

مسئله : د اجرت مستحق کیدل د کار نه روستو وی آؤ په اشتراط سره تقدیم د اجرت هم جواز لری لکه فتاوی الدین الخالص (۱۱) وګوره باب الاجارات)

درجة الحديث : اسناده ضعيف جدا، رواه احمد والبزار وابو الشيخ فی الثواب وفيه هشام بن ابی هشام وهو هشام بن زياد القرشی ابوالمقدام متفق علی ضعفه ومحمد بن محمد بن الاسود مجهول الحال وله شاهد من حديث جابر عند البيهقی فی الشعب (۳٦۰۳) واسناده ضعيف،



١- باب رؤية الهلال

د مياشتے د ليدلو بيان۔

هلال د مياشتے د اولے ورځے او د دويمے ورځے سپوږمۍ ته وائى (از هرىّ) بعض وائى دريے ورځو پورے هلال وى روستو ورته قمر وائى (جو هرىّ) وجه دا ده چه د (أهل) معنىٰ ده آواز اُوچتول او د دريے ورځو پورے خلق وائى هغه ده سپوږمۍ راختلے ده بيا څوك ورته گورى هم نهٔ۔

زمونږ د مسلمانانو په شريعت كى دا قانون دے چه احكام شرعيه په حساب بناء نهٔ دى پدے وجه نبى عليه السلام فرمائى : (نَحنُ اُمَّةٌ اُمِيَّةٌ لَا نَكْتُبُ وَلَانَحْسِبُ) مونږ ان پړه امت يو ليكل او حساب نشو كولے۔ نو په جنتريانو باندے حساب كولو سره روژه نيول او ماتول صحيح نهٔ دى بلكه د مياشتے ليدلو له اعتبار دے۔ البته هسے دغه حساب كول جائز دى ليكن د روژے نيول او ماتول په هغے صحيح نهٔ دى۔

مسئلة اختلاف المطالع - (يعنى د سپوږمۍ په مختلفو ځايونو كى ليدلو له اعتبار شته او كه نهٔ په يو ځاى (په يو ښار) كى وليدل شوه نو عام مسلمانان به د هغوى سره روژه او اختر كوى)۔

پدے مسئله كى د پخوا زمانے نه اختلاف راروان دے مشهور دوه قوله دى :

(١) **القول الاول** : د احنافو بلكه د اكثرو حنابلو، مالكيه ؤ او بعض شوافعو رايه دا ده چه ټوله دنيا كى مياشت هر چا وليدله نو په نورو ملكونو باندے به روژه او اختر لازم وى، نزدے ښارونه وى او كه لرے۔

دلائل : (١) آيت : ﴿فَمَنْ شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾ (البقره آيت : ١٨٤) دا آيت دليل دے چه چا باندے رمضان راغلو او دے روغ رمتِ بالغ او مسلمان وى نو په دهٔ باندے روژه نيول واجب دى، برابره ده چه دهٔ مياشت ليدلى وى يا ددهٔ بل ورور مسلمان۔

(٢) – حديث كى (صُومُوا لِرُؤيَتِهٖ وَاَفْطِرُوا لِرُؤيَتِهٖ) الفاظ راغلى دى۔ يعنى د مياشتے په ليدلو روژه نيسئ او د مياشتے په ليدو روژه ماتوئ) اختر كوئ۔ او دا خطاب د امت

ټولو مسلمانانو ته دے که په مشرق کې وي او که مغرب کې، دلته ئې د يو ښار بل ښار تخصيص نهٔ دے کړے۔

(۳) دليل : حديث کې دي : (حَتَّى تَرَوُا الْهِلَالَ) دلته هم ټول امت ته خطاب دے۔

(٤) پدے کار کې د مسلمانانو وحدت او اتفاق دے چه په يوه ورځ روژه او په يوه ورځ اختر شي او اتفاق غوره دے د اختلاف نه۔

(٥) ربعي بن حراش رحمه الله د بعض صحابه کرامو رضی الله عنهم نه نقل کوي چه هغه فرمائي : اَصْبَحَ النَّاسُ صِيَامًا عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ لِتَمَامِ ثَلَاثِيْنَ، قَالَ فَجَاءَ اَعْرَابِيَانِ فَشَهِدَا اَنَّهُمَا اَهَلَّا الْهِلَالَ بِالْاَمْسِ، فَاَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ النَّاسَ فَاَفْطَرُوْا (مسند احمد ٥/٣٦٢) رقم (٢٣١١٩) صححه شعيب الارناووط، ورواه البيهقي في الكبرىٰ (٤/٢٤٨) وعبد الرزاق (٧٣٣٥) وتهذيب الآثار للطبرى (٢/٧٦٧) رقم (١١٣٩) ونحوه حديث ابى عمير بن انس عن عمومة لى من الانصار من اصحاب رسول الله ﷺ اخرجه احمد (١٣٤٦٣) النسائى (١٥٣٩)

(د رسول الله ﷺ په زمانه کې په ديرشتمه ورځ د رمضان باندے خلك روژه وو نو پدے کې دوه باندو چيان راغلل او دا گواهي ئې وکړه چه دوی پرون د اختر مياشت ليدلے وه نو رسول الله ﷺ خلکو ته حکم وکړو نو خلکو روژه ماته کړه)۔

او دغه شان گواهي د عمر فاروق په دور کې دوه باندو چيانو کړے وه هغه هم د روژے ماتولو حکم ورکړو۔ (تهذيب الآثار)

نو رسول الله ﷺ ترے دا تحقيق ونکړو چه تاسو کوم ځاى ليدلے ده آيا مدينه کې يا د مدينے خواؤ شا کې يا د لرے نه راغلي يئ۔

(٦)- مشاهده گواهي ورکوي چه د سعودي په څوارلسمه شپه سپوږمۍ په پاکستان کې پوره وي او حال دا چه هغه د پاکستان دولسمه شپه وي او دغه شان په اولسمه شپه د سعودي په حساب سپوږمۍ کې نقصان راغلے وي او دلته د پاکستان والو پنځلسمه شپه وي نو په پنځلسمه شپه څنگه سپوږمۍ ناقصه شي، ډيره عجيبه خبره ده!! دا تجربه وکړئ۔

(۷) که د پاکستان په عامو علاقو کې د سپوږمۍ د ليدلو اهتمام وشي نو ضرور د سعودي سره يو شان کيږي لکه پدے باندے مونږ بار بار تجربي کړيدي چه مونږ او زمونږ ملگرو په پيښور مردان، صوابۍ وغيره کې سپوږمۍ وينى او په هغه شپه په

سعودي کې هم ليدلے شوی وی۔

٢- دويم قول : په هر ښار او کلي والو باندے لازم ده چه خپل ځان له به اهتمام کوی او د بل کلي د خلکو په ليدلو به اکتفاء نۀ کوی او د هر ښار خپل خپل رؤيت ضروري دے، او که په يو ښار کې وليدلے شي نو د بل ښار په خلکو لازم نۀ ده چه د دوی سره روژے ونيسي ترڅو چه هغوی خپله ليدلی نۀ وی۔ او دا قول د امام شافعيؒ دے۔ بيا دا قول والا مختلف دی چه د دواړو ښارونو ترمينځ څومره فاصله وی نو د هر يو به جدا جدا ليدل وی ؟ نو پدے کې مختلف اقوال دی :

(١) بعض وائي چه دومره فاصله وی چه د سفر احکام پرے بدليږی يعنی (٤٨) ميله لکه مثلًا د پيښور نه مردان پورے بنده مسافر حسابيږی نو د مردان به جدا ليدل وی او د پيښور جدا۔ (٢) بعض وائي چه د مدينے نه تر شام پورے ځکه چه دا په حديث د کُريب کې روستو راځي ليکن دا قول دومره ښه نۀ دے ځکه چه په دغه روايت کې دا په طريقه د تحديد نۀ دے خودلے شوے۔

(٣) او بعض وائي چه هغه ښارونه چه په يو جهت پراته دی نو د هغوی ليدل به يو بل دپاره معتبر وی۔

دلائل : ١- دليل : حديث د مسلم (٢٤٨/١) کې دی : عَنْ كُرَيْبٍ اَنَّ أُمَّ الْفَضْلِ بِنْتَ الْحَارِثِ بَعَثَتْهُ اِلٰى مُعَاوِيَةَ بِالشَّامِ قَالَ : فَقَدِمْتُ الشَّامَ فَقَضَيْتُ حَاجَتَهَا وَاسْتَهَلَّ عَلَيَّ رَمَضَانُ وَاَنَا بِالشَّامِ، فَرَاَيْتُ الْهِلَالَ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ ثُمَّ قَدِمْتُ الْمَدِيْنَةَ فِيْ آخِرِ الشَّهْرِ، فَسَأَلَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبَّاسٍ ثُمَّ ذَكَرَ الْهِلَالَ فَقَالَ مَتٰى رَاَيْتُمُ الْهِلَالَ؟ فَقُلْتُ : رَاَيْنَاهُ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ فَقَالَ : اَنْتَ رَاَيْتَهُ؟ فَقُلْتُ : نَعَمْ، وَرَاهُ النَّاسُ وَصَامُوْا وَصَامَ مُعَاوِيَةُ فَقَالَ : لٰكِنَّا رَاَيْنَاهُ لَيْلَةَ السَّبْتِ فَلَا نَزَالُ نَصُوْمُ حَتّٰى نُكْمِلَ ثَلَاثِيْنَ اَوْ نَرَاهُ، فَقُلْتُ اَلَا تَكْتَفِيْ بِرُؤْيَةِ مُعَاوِيَةَ وَصِيَامِهِ؟ فَقَالَ : لَا، هٰكَذَا اَمَرَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ (ترمذی، وابن خزيمة)

کريبؒ وائي ام الفضل بنت الحارث رضی الله عنها زۀ د معاويه ﷺ خوا ته شام ته وليږلم، هغه وائي : زۀ شام ته راغلم او د هغې حاجت مے پوره کړو او په ما باندے د رمضان مياشت داخله شوه او زۀ شام کې وم، نو ما د جمعے په شپه سپوږمۍ وليدله بيا د مياشتے په آخر کې مدينے ته راغلم، نو ما نه عبد الله بن عباس تپوس وکړو او د سپوږمۍ تذکره ئے وکړه ورے وئيل : تاسو مياشت کله ليدلے ده؟ نو ما ورته ووئيل : مونږ د

جمعے په شپه ليدلے، نو وے وئيل: تا خپله ليدلے وه؟ ما وويل: آؤ، او خلكو هم ليدلے وه او هغوی روژه شوی وو او معاويه (رضی الله عنه) هم روژه شو؟ نو هغه وويل: ليكن مونږ خو د هفتے په شپه ليدلے نو مونږ به هميشه رَوژه يو تردے چه ديرش ورځے پوره كړو يا ئے خپله وينو، ما ورته وويل: آيا ته د معاويه په ليدلو او د هغه په روژو اكتفاء نهٔ كوے؟ نو هغه وويل: نهٔ، دغه شان مونږ ته رسول الله ﷺ حكم كړيدے۔

وائی چه دلته ابن عباس رضی الله عنهما د معاويه ﷺ په ليدلو باندے اكتفاء ونكړه او د هرے علاقے ليدل ئے جدا جدا ضروری كړل او بيا ئے دا وويل چه دغه شان رسول الله ﷺ مونږ ته حكم كړيدے يعنی چه هر ښار والا به جدا جدا ليدل كوی۔

جواب: ددے روايت نه علامه شوكانی رحمه الله په نيل الاوطار كی ډير جوابونه ـريدی او د، ئے ثابته كړيده چه دا روايت د مرفوع احاديثو معارض نشی كيدے۔ لكه بعض جوابونه دا دی (۱) يو خو دا حديث موقوف دے او د صحابی قول دے چه د مرفوع معارض نشی كيدے۔ (۲) عبد الله بن عباس رضی الله عنهما په (هٰكَذَا اَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ) څه ته اشاره كړيده هغه نهٔ دے ذكر او د رسول الله ﷺ الفاظ ئے هم نهٔ دی ذكر كړی چه هغه په څه خبره امر كړے، مگر ابن عباسؓ اشاره كوی دے قول ته چه (فَلَا نَزَالُ نَصُوْمُ حَتّٰى نُكْمِلَ ثَلَاثِيْنَ) او د رسول الله ﷺ امر پدے الفاظو سره په صحيحينو كی ثابت دے: (لَاتَصُوْمُوْا حَتّٰى تَرَوُا الْهِلَالَ وَلَا تُفْطِرُوْا حَتّٰى تَرَوْهُ فَاِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاَكْمِلُوْا الْعِدَّةَ ثَلَاثِيْنَ) او دا حكم خو د يوے علاقے والو پورے خاص نهٔ دے بلكه دا خطاب ټولو مسلمانانو ته دے نو پدے كی بعينهٖ دليل دے ددے خبرے چه كله د يوے علاقے مسلمانانو مياشت وليدله نو په نورو مسلمانانو لازمه ده چه روژه به نيسی ځكه چه مسلمانانو مياشت وليدله او دهٔ ته خبر راورسيدو نو پدے حديث كی خو دا نشته چه هر يو تن به ئے جدا جدا وينی او د هرے علاقے دپاره جدا جدا ليدل دی۔

۳- دا د ابن عباس رضی الله عنهما اجتهاد دے چه د دغه روايت نه ئے استدلال كړيدے او اجتهاد حجت نهٔ وی مگر صرف د مجتهد دپاره۔

٤- كيدے شی د ابن عباسؓ هم دا رايه وی چه اختلاف د مطالعو معتبر دے۔

٥- شيخ البانی رحمه الله داسے جواب كوی چه ابن عباسؓ ته خبر په آخر د مياشت كی رارسيدلے وو نو (هكذا) به اشاره وی دے ته چه چا ته خبر په مينځ د مياشت كی

راورسي يا په آخر د مياشت نو هغه دپاره په خپلو ليدلو اكتفاء كول دي او د بل چا رؤيت ورله نهٔ كافي كيږي نو دا حديث د ابن عباسؓ د هغه چا دپاره دليل دے چه هغه د خپل كلي والو په ليدلو روژه نيولې وي بيا ورته په مينځ د مياشت كي دا خبر راورسي چه خلكو په بل كلي كي يوه ورځ مخكي مياشت ليدلے وه نو پدے حالت كي به دا شخص د خپل كلي والو سره په روژه كي هميشه روان وي تردے چه ديرش ورځے پوره كړي يا خپله مياشت ويني نو پدے سره اشكال زائل شو او حديث د ابو هريره ﷺ په خپل عموم باندے پاتي شو چه په هغے كي دا خبره ده چه هر هغه څوك چه هغه ته د مياشت د ليدلو خبر ورسيږي چه د اقليم په هر ښار كي وي په غير د تحديد د مسافت نه نو په هغه باندے لازم دي چه روژه به نيسي او دا كار نن صبا ډير آسان دے خو كه چرته اسلامي حكومتونه ددے اهتمام وكړي او دا واقعي حقيقت دے۔ آه۔

او كه چرته بالفرض اسباب موجود وے او معاويه ﷺ د جهاز يا تيليفون په ذريعه ابن عباس ته خبر وركړے وے نو آيا هغه به روژه نهٔ نيولے لكه چه اوس د شام، دمشق بلكه عام اسلامي ممالك ټول د سعودي عرب په آواز باندے روژه نيسي او اختلاف د مطالعو لره اعتبار نهٔ وركوي۔

او پدے حديث د كريبؒ باندے نن صبا تقريباً هيڅ ملك عمل نهٔ كوي نهٔ په پاكستان كي او نهٔ په سعودي كي ځكه چه د مدينے او د شام ترمينځ مسافت اوه سوه ميله ده او هلته ابن عباس اختلاف د مطالعو معتبر كړو او سعودي خپل مينځ كي ښارونو فاصله ددے نه هم زياته ده او حال دا چه ټول خلك د يو كلي په ليدلو عمل كوي دغه شان كراچۍ والا خلك د پيښور والا خلكو په ليدلو باندے روژه نيسي او ماتوي ئے حال دا چه د دوارو ترمينځ (١٧٠٠) اُولس سوه كيلو ميتره فاصله ده۔ او عجيبه لا دا ده چه د طورخم د بادر نه اخوا روژه وي او ديخوا په پاكستان كي بوزه وي حال دا چه ټول د دوه مينټو فاصله نهٔ ده نو دا كوم دين دے؟! ـ

او ابن الهمامؒ وائي : (واذا ثبت في مصر (اى بلد) لزم سائر الناس فيلزم اهل المشرق في رؤية اهل المغرب في ظاهر المذهب) (فتح القدير ٢/٣١٣)

او كله چه په يو ښار كي مياشت وليدلے شي نو په ټولو خلكو به روژه (يا كوجه) لازمه وي نو مشرق والو باندے لازم دي چه د مغرب والو په ليدلو به عمل كوي او

همدا د امام ابو حنيفةؒ ښکاره مذهب دے۔

۲- دليل : عبد الله بن سعيدؒ فرمائی: په مدينه کی خلکو د مياشتے د ليدلو تذکره وکړه او ورے وئيل چه اَستاره علاقے والا خلکو مياشت ليدلے ده نو قاسم بن محمدؒ او سالمؒ وويل: (مَالَنَا وَلِأَهْلِ أَسْتَارَه) ۔ يعنی مونږ د استارے والو سره څه کار دے، يعنی د هغوی خپل ليدل دی او دلته ئے دے گواهئ له هم اعتبار ورنکړو او دا دواړه ثقه تابعيان دی۔

جواب دا دے چه قول د تابعی حجت نۀ وی او کيدے شی چه د دوی هم دا مذهب وی چه اختلاف د مطالعو له اعتبار شته او دليل ئے نۀ دے پيش کړے۔

يا ورته په (قيل) سره خبر رارسيدلے دے، صحيح گواهان ورته نۀ وو راغلی۔ بله دا چه استاره د مدينے نه (۲۰۰) کيلو ميټره وراندے وه او د هغوی ليدل ئے معتبر نکړل نو اُوس پدے باندے څوك عمل کوی ؟

۳- دريم دليل : د فلکياتو ماهرين علماء وائی چه اختلاف د مطالعو په حس او حقيقت باندے بناء دے نو په مغرب کی د مياشتے ليدل د مشرق په نسبت يوه يا دوه ورځے مخکی راځی۔

الجواب : ددے جواب دا دے چه دا خبره خو يقينی ده چه مطالعو کی اختلاف شته ليکن آيا دا په حکم باندے اثر غورځوی او که نۀ نو کوم علماء چه اختلاف د مطالعو له اعتبار نۀ ورکوی نو هغوی وائی چه پدے سره حکم نۀ بدليږی اگرکه د مطالعو اختلاف به وی نو دوی مثلاً د حجاز والو ليدلو له اعتبار ورکوی اگرکه په پاکستان کی نۀ وی ليدلے شوی او خبر راورسيږی بلکه فلکيات والا داسے ثابته کړيده چه عام اسلامی ممالکو کی اختلاف مطالع نۀ رازی۔ او علامه احمد شاکر په خپل کتاب کی وئيلی دی چه دا خبره بديهی ده چه هيڅ دليل ته محتاج نۀ ده چه د مياشتو اوائل د اقطارو او د هغے په تباعد سره نۀ مختلف کيږی اگرکه د سپوږمۍ مطالع به مختلف وی۔ (بيان حکم اختلاف المطالع لسامی وديع عبد الفتاح القدومی)

الفصل الاول

- 1969(1) عَنْ عُمَرَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" لَا تَصُوْمُوْا حَتّٰى تَرَوُا الْهِلَالَ وَلَا تُفْطِرُوْا حَتّٰى تَرَوْهُ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدُرُوْا لَهٗ ". وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ : " اَلشَّهْرُ

تِسۡعٌ وَعِشۡرُوۡنَ لَيۡلَةً فَلَا تَصُوۡمُوۡا حَتّٰى تَرَوۡهُ فَإِنۡ غُمَّ عَلَيۡكُمۡ فَأَكۡمِلُوا الۡعِدَّةَ ثَلَاثِيۡنَ " مُتَّفَقٌ عَلَيۡهِ

ترجمه : سیدنا عمر فاروق ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو روژه مهٔ نیسئ تردے چه تاسو میاشت وینئ او روژه مهٔ ماتوئ تردے چه تاسو میاشت وینئ او که په تاسو باندے (میاشت) پټه شی نو دِ هغې دپاره اندازه ولګوئ او په یو روایت کی دی چه رسول الله ﷺ وفرمایل : (کله) میاشت د نهه ویشتو شپو وی نو تاسو روژه مهٔ نیسئ تردے چه تاسو میاشت وینئ (یعنی که میاشت ښکاره نشوه نو روژه مهٔ نیسئ) او که په تاسو باندے (د وریځے او ګرد اوغبار په وجه) پټه پاتے شی (او میاشت ونهٔ لیدلے شی) نو شمار دیرش ورځے پوره کړئ۔ (یعنی میاشت د دیرش ورځو وګنړئ)۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : حَتّٰى تَرَوُا الۡهِلَالَ : اَیۡ حَتّٰى يَثۡبُتَ عِنۡدَكُمۡ رُؤۡيَةُ الۡهِلَالِ ۔ یعنی تردے چه ستاسو په نیز د میاشتے لیدل ثابت شی نو ددے نه دا مسئله ثابته شوه چه د ټولو مخاطبینو لیدل شرط نهٔ دے بلکه چه بعض مسلمانانو ولیدله نو د میاشتے لیدل ثابت شو نو ددے حدیث حکم متوجه شو چه روژه نیولے شی یا به ماتولے شی۔ او پدے خبره باندے اجماع ده۔

مسئله : بیا د څو کسانو ګواهی معتبره ده؟ (۱) نو د جمهورو په نیز د یو تن ګواهی هم کافی ده برابره ده چه په آسمان کی وریځ وی او که نهٔ او د شوال دپاره د دوه کسانو ګواهی ضروری ده۔ (۲) او د امام مالک په نیز د دوه کسانو ګواهی ضروری ده برابره ده چه د رمضان میاشت وی او که د شوال۔ (۳) او د احنافو په نیز کله چه په آسمان کی څه علت (وریځه، غبار) وغیره وی نو بیا د یو تن ګواهی هم کافی ده او کله چه آسمان کولاوے فضاء والا وی نو جم غفیر (لویه ډله) کافی ده چه د هغوی په خبره باندے علم یقینی ثابتیږی۔ (حافظ ابن حجرؒ)۔

(٤) ابوثور، ابن حزم او شوکانی رحمهم الله وائی چه د رمضان او د شوال دوارو دپاره د یو یو تن ګواهی هم کافی ده۔ راجح قول د جمهورو دے۔

او قول د جمهورو د حدیث د ابوداودؒ په وجه صحیح دے، او په فرق د احنافو باندے هیڅ صحیح دلیل نشته۔ (ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی : خلکو میاشت لیدله نو

ما رسول الله ﷺ ته خبر ورکړو چه ما وليدله نو هغه روژه ونيوله او خلکو ته ئے د هغے په روژو حکم وکړو او امام ابوداودؒ پدے باندے باب تړلے دے (باب في شهادة الواحد على رؤية الهلال)۔ (ابوداود ۲/٤٤٦) باسناد صحيح)۔

او د شوال د مياشتے د ليدلو ګواهان به دوه عادلان ضروری وی۔

دليل : مسند احمد (۳۲۱/٤) نسائی (۳۰۰/۱) او دارقطنی کی دی چه حسين بن الحارث الجدليؒ د عبد الرحمن بن زيد بن الخطاب نه نقل کوی چه هغه خلکو ته په هغه ورځ خطبه وکړه چه په کومه ورځ شك وو (چه د رمضان نه به وی او که د شوال نه) نو هغه ووئيل : چه خبردار زهٔ د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو سره ناست وم او ما ترے تپوس کړے او هغوی ما ته دا حديث بيان کړے چه رسول الله ﷺ فرمايلی دی : (صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ وَانْسُكُوا لَهَا فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا ثَلَاثِينَ فَإِنْ شَهِدَ شَاهِدَانِ فَصُومُوا وَأَفْطِرُوا) (زاد احمد : مُسْلِمَانِ، وَالدَّارقطني (ذَوَا عَدْلٍ) واسناده صحيح)۔(د مياشتے په ليدو روژه نيسئ او د مياشتے په ليدلو روژه ماتوئ نو که تاسو باندے پټه شی بيا د رمضان ديرش ورځے پوره کړئ بيا که دوه ګواهانو ګواهی ورکړه نو روژه نيسئ او ماتوئ)۔ پدے روايت کی ورسره دا هم راغلل چه د دوه ګواهانو په ګواهئ سره د رمضان روژے نيسئ ليکن دا نفی د يو نهٔ کوی او که بالفرض ومنو چه په مفهوم سره نفی د يو کوی نو بيا د حديث د ابن عباسؓ او ابن عمرؓ منطوق دلالت کوی چه د يو ګواهی هم کافی ده لکه چه مخکی تير شو۔

فائده : اسلامی مياشتے کله نهه ويشت وی اوکله ديرش وی، او نبی ﷺ پدے جملے سره ((چه مياشت د نهه ويشتو شپو هم وی)) دا ترغيب ورکوی چه په نهه ويشتم تاريخ مياشت تلاش کول پکار دی او په مسلمانانو دا لازم دی چه پدے شپه به تلاش کوی ليکن د اکثرو مسلمانانو نه دا فريضه پاتے ده او د خبرونو او اخبارونو انتظار کوی۔

حَتّٰى تَرَوْهُ : ددے نه معلومه شوه چه د رمضان نه مخکی احتياطی روژے نيول صحيح نهٔ دی، د شکی روژے نه احاديثو کی منع راغلے ده۔

(حتی تروه) ای هِلَالَ شَوَّالَ يعنی تردے چه تاسو د شوال مياشت وينئ۔

مسئله : حافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله ليکی چه دا حديث دليل دے ددے

خبرے چه روژه او کوجه په هغه چا واجب ده چه یواځے ځانله میاشت وینی او د هغه ګواهی قاضی قبوله نکړی او دا قول د ائمه اربعهؒ دے په روژه نیولو کی او هرچه د روژه ماتولو (یعنی د شوال د میاشتے په لیدلو کی دے) نو پدے کی اختلاف دے (۱) امام شافعی رحمه الله فرمائی: چه خپله به روژه ماته کړی او پټه به ئے وساتی دے دپاره چه تهمت پرے رانشی او اکثر علماء وائی چه احتیاطاً به د خلکو سره روژه نیسی انتهی. مګر احتیاط نۀ بلکه خامخا به روژه نیسی او دا قول د عمر فاروق او عائشه رضی الله عنهما هم دے او د هغوی مخالف په صحابه کرامو کی نۀ دے موجود نو دا اجماع سکوتی شوه.

۱ - **دلیل** پدے باندے حدیث د ترمذی دے (اَلصَّوْمُ يَوْمَ تَصُوْمُوْنَ وَالْفِطْرُ يَوْمَ تُفْطِرُوْنَ وَالْاَضْحٰى يَوْمَ تُضَحُّوْنَ) الصحيحة (۱/ ۴۴۰).

روژه به په هغه ورځ نیسئ چه عام خلك روژه وی او بوزه به په هغه وخت وی چه په کومه ورځ عام خلك بوزه کیږی او قربانی (لوی اختر) به په هغه ورځ وی چه عام خلك قربانی (لوی اختر) کوی.

ددے حدیث نه ثابتیږی چه کله عام خلك روژه وی نو روژه به نیسی.

(۲) **دلیل** : مسروقؒ وائی زۀ عائشے رضی الله عنها په خدمت کی حاضر شوم د عرفے په ورځ نو هغے وویل : اِسْقُوْا مَسْرُوْقًا سَوِيْقًا وَاَكْثِرُوْا حَلْوَاهُ، قَالَ : فَقُلْتُ : اِنِّىْ لَمْ يَمْنَعْنِىْ اَنْ اَصُوْمَ الْيَوْمَ اِلَّا اَنِّىْ خِفْتُ اَنْ يَّكُوْنَ يَوْمَ النَّحْرِ، فَقَالَتْ عَائِشَةُ : اَلنَّحْرُ يَوْمَ يَنْحَرُ النَّاسُ، وَالْفِطْرُ يَوْمَ يُفْطِرُ النَّاسُ) (په مسروق باندے ستوان وڅکئ او خوږه پکی زیاته کړئ، هغه وائی ما وویل : نن ورځ زۀ روژه کیدم خو یریدم چه نن به د اختر ورځ وی، نو عائشے رضی الله عنها وفرمایل : لوی اختر به په هغه ورځ وی چه عام خلك اختر کوی او وړوکے اختر به په هغه ورځ وی چه عام خلك کوجه وی) اخرجه البيهقى وسنده جيد. شیخ البانی رحمه الله فرمائی: بعض اهل علم ددے حدیث داسے تفسیر کړیدے چه روژه او کوجه به د عامو او اکثرو خلکو سره وی. او دغه شان خبره امیر صنعانیؒ په سبل السلام (۲/ ۷۲) کی کړیده.

۳- **دلیل** : ابو قلابه رحمه الله وائی دوه کسانو په سفر کی میاشت ولیدله نو صبا له مدینے ته راغلل نو دواړو عمر فاروقؓ ته خبر ورکړو، نو هغه یو ته وویل : آیا تۀ روژه ئے؟

هغه وویل : آؤ، ما بده وګنړله چه خلك روژه وی او زهٔ بوزه یم، ما د خلكو خلاف بد وګڼړلو، او بل ته ئے وویل : تهٔ ؟ هغه وویل : ما سهر روژه ماته کړه ځکه چه ما میاشت لیدلے وه، نو عمر فاروق هغه ته وویل : که دا شخص (یعنی روژه نیونکے) نهٔ وے نو ما به ستا سر دردمند کړے وے او ستا ګواهی به مو رد کړے وے بیا ئے خلکو ته حکم وکړو نو خلکو روژه ماته کړه او په یو روایت کی دی : اول ته ئے وویل (يَا لَكَ فِقْهًا) ستا په پوهه او فقاهت باندے تعجب دے۔

(البیهقی وعبد الرزاق وتهذیب الآثار للطبری والمحلی ٤/٣٧٨)

ددے اثر نه هم ثابته شوه چه یو تن به یواځے روژه نهٔ ماتوی خو پدے شرط چه خواو شا کی ئے خلك وی او که چرته یواځے ځنګل او دشته کی وی نو بیا ورله روژه ماتول جائز دی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

فَاقْدُرُوْا لَهٗ : ددے یوه معنی دا ده چه دغه میاشت چه تاسو پکی روان یئ ددے دیرش ورځے اندازه کړئ یعنی میاشت د اول نه حساب کړئ او دیرش ورځے پوره کړئ۔

(۲) دویم دا د قَدَرَ یَقْدِرُ (ضرب یضرب) نه دے په معنیٰ د تنګوالی سره یعنی تنګی وکړئ ددے میاشتے دپاره یعنی شعبان نهه ویشت ورځے وګرځوئ او دا تفسیر ابن عمرؓ په خپل عمل سره کړیدے او هغه ددے حدیث راوی دے او هغه ددے په معنیٰ ښه پوهیږی۔ (المغنی لابن قدامه)

(۳) بعض وائی چه دا خطاب هغه کسانو ته دے چه هغوی د سپوږمئ په حسابونو او اندازو باندے خبر وی نو هغوی ته وائی چه تاسو ورله منازل مقرر کړئ او اندازهٔ ئے کړئ لیکن دا معنیٰ ضعیفه ده لکه روستو د حدیث د ابن عمرؓ نه معلومیږی چه دا امت د حساب او لیکلو والا نهٔ دے۔ او عامو علماؤ پدے معنیٰ باندے رد کړیدے۔

- 1970 (2) وَعَنْ أَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" صُوْمُوْا لِرُؤْيَتِهٖ وَأَفْطِرُوْا لِرُؤْيَتِهٖ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوْا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِيْنَ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو د میاشتے په لیدلو روژه نیسئ او د (شوال) میاشتے په لیدو سره کوچه کړئ او که په تاسو باندے میاشت (د ګرد وغبار او وریځے په وجه) پټه شی نو د شعبان میاشتے شمار دیرش ورځے

پوره کړئ۔ (بخارئ ومسلمؒ)

تشریح : لرؤیته : یعنی د هلال (میاشتې) د لیدلو د وجې نه روژه نیسئ او د لیدلو د وجه نه روژه ماتوئ او دا مطلب نۀ دے چه کله ولیدلے شي نو د هغه وخت نه به روژه شروع وي۔

امام ترمذی رحمه الله فرمائي: پدے مسئله کښ دا احادیث او قواعد تقاضا کوي چه هره میاشت چه پته کړے شي نو هغه به دیرش پوره کولے شي او پدے کښ رمضان او شعبان او نورے میاشتے برابري دی نو بناء پدے چه دا قول: (فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ) دواړو جملو ته راجع دے یعنی (صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ او أَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ) ته۔

- 1971(3) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " إِنَّا أُمَّةٌ أُمِّيَّةٌ لَا نَكْتُبُ وَلَا نَحْسُبُ، اَلشَّهْرُ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا ". وَعَقَدَ الإِبْهَامَ فِي الثَّالِثَةِ. ثُمَّ قَالَ: " اَلشَّهْرُ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا ". يَعْنِي تَمَامَ الثَّلَاثِيْنَ يَعْنِي مَرَّةً تِسْعًا وَعِشْرِيْنَ وَمَرَّةً ثَلَاثِيْنَ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: مونږ امي امت یو چه لیکنه او حساب نشو کولے (یعني حساب کتاب نۀ پیژنو)، میاشت دومره او دومره او دومره وي۔ او په دریم کرته ئے غټه ګوته بنده کړه بیا ئے وفرمایل: میاشت دومره او دومره او دومره وي یعني پوره دیرش شپے۔ مطلب ئے دا وو چه کله میاشت د نهه ویشتو شپو وي او کله د دیرشو شپو وي۔ (بخارئ ومسلمؒ)

تشریح : عربو ته امي پدے وجه ووئیل شو چه دوی به څنګه د مور نه پیدا کیدل همغه شان به وسیدل او لوستل او لیکل به ئے نۀ کول مګر نبي ﷺ دا د اکثرو په اعتبار سره وئیلي دي ځکه چه په عربو کښ تعلیم عام نۀ وو او اکثریت پکښ ناخوانده وو مګر څه ناڅه کسان بیا هم د علم په زیور باندے ښائسته وو او ددے جملے مطلب دا دے چه هرکله چه مونږ ناخوانده یو نو پدے وجه الله تعالیٰ مونږ په حساب د اهل نجومو او په حساب د نمر باندے نۀ یو مکلف کړي کوم چه ګران دے بلکه مونږه ئے د قمري میاشتو په حساب مکلف کړي یو چه دا ښکاره حساب دے او هرعقلمند انسان ته اګرکه ناخوانده وي زده کیږي۔

بیا د امة امیة مطلب دا نۀ دے چه ددے امت سره علم نشته بلکه صحیح علم ددے امت سره دے خو امیة ورته وئیل شویدے په اعتبار د حساب کتاب سره نۀ په اعتبار د عقل او فطرت او علمونو د وحی سره۔

- 1972(4) وَعَنْ أَبِىْ بَكْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " شَهْرَا عِيْدٍ لَايَنْقُصَانِ : رَمَضَانُ وَذُو الْحِجَّةِ "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابوبکره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: د اختر دواړه میاشتے یعنی رمضان او ذی الحجه نۀ کمیږی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : ددے حدیث یو څو معانی دی (١) یوه معنیٰ دا چه دا دوه میاشتے په فضیلت او ثواب کی نۀ کمیږی اګرکه د نهه ویشتو راشی نو داسے به نۀ وائے چه میاشت کمه شوه نوثواب به ئے کم وی نو د نهه ویشتو روژو هم پوره اجر دے۔

نوویؒ وائی چه همدا مطلب ئے صحیح او غوره دے۔

(٢) دویم دا چه داسے نۀ شی کیدے چه د رمضان او ذو الحجے دواړه میاشتے نهه ویشت نهه ویشت راشی بلکه چه یوه میاشت د دیرشو شوه نو بله به د نهه ویشتو وی۔ او دا هم بناء ده په اکثریت باندے ځکه چه کله کله دواړه کمی کیدلے شی۔

(٣) بعض وائی دا یو خاص کال ته اشاره وه چه په کوم کال کی نبی ﷺ دا حدیث وئیلے وو چه ددے کال دواړه میاشتے به کمے نۀ راځی بلکه پوره کیږی به دا قول محب الدین الطبریؒ د ابوبکر بن فورکؒ نه نقل کړیدے لیکن غوره نۀ دے۔

(٤) بیهقیؒ او طحاویؒ وائی چه (لَايَنْقُصَانِ اَیْ فِی الْاَحْكَامِ)۔ یعنی په احکامو کی دواړه میاشتے نۀ کمیږی یعنی د نهه ویشتو ورځو به هغه احکام وی کوم چه د دیرشو ورځو وو۔ یعنی که د نهه ویشتو راشی او که د دیرشو نو څه احکام پرے نۀ بدلیږی۔

(٥) بعض وائی چه دواړه په فضیلت کی د یو بل نه کم نۀ دی ځکه چه د رمضان میاشت هم غوره ده د روژو په وجه او د ذی الحجے لس ورځے په تولو ورځو کی بهتری دی لکه نبی ﷺ په بل حدیث کی داسے فرمایلی دی : (مَا مِنْ اَیَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِیْهِنَّ اَحَبُّ اِلَی اللّٰهِ مِنْ هٰذِهِ الْاَیَّامِ الْعَشْرِ)۔

(٦) بعض وائی : (لاینقصان) معنیٰ دا ده چه ددے دواړو میاشتو کی چه څوك عمل

وکړی نو د هغوی اجر به نهٔ کمیږی برابره ده چه دا میاشتے کله په ژمی کی راځی نو لنډیے وی او کله په اوړی کی راځی نو اوږدے وی خو اجرئے یو شان دے۔

پدے تولو کی دویمه معنیٰ ظاهره ده۔

- 1973(5) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ :" لَا يَتَقَدَّمَنَّ أَحَدُكُمْ رَمَضَانَ بِصَوْمِ يَوْمٍ أَوْ يَوْمَيْنِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَجُلٌ كَانَ يَصُومُ صَوْمًا فَلْيَصُمْ ذٰلِكَ الْيَوْمَ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کی دے یو تن د رمضان نه د یوے یا دوه ورځو روژه مخکی نهٔ نیسی مګر که یو سړے وی چه هغه به (دمخکی نه) روژے نیولے (یعنی عادت وی) نو دغه ورځ دے (هم) روژه ونیسی۔ (یعنی عادت والا له جائز دی) (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : شعبان چه کله د پنځلسو ورځو نه واوړی نو نبی ﷺ د نفلی روژو نه منع کړیده مګر که یو تن په روژو نیولو عادت وی مثلاً د پیر او د جمعرات ورځ روژه نیسی نو بیا ورله جائز ده او دا تحقیقی قول دے۔

او ددے حدیث نه معلومه شوه چه په نیت د احتیاط باندے د رمضان نه یوه یا دوه ورځے مخکی روژه نیول صحیح نهٔ دی چه داسے وائی چه که رمضان داخل وو نو فرض به حساب شی او که رمضان نهٔ وی نو بیا به نفل حساب شی نو دا کار نبی ﷺ منع کړیدے۔ او د منع وجه دا ده چه پدے کی تشبه د اهل کتابو ده چه هغوی باندے یو میاشت روژے فرض وے نو هغوی به لږے لږے زیاتولے تردے چه پنځوسو تهٔ ورسولے۔

(۱) پدے کی د احنافو مذهب دا دے چه د خواصو دپاره احتیاطی روژه نیول بهتر دی او دا د امام احمدؒ نه هم نقل دی چه هغه دے ته جائز وائی۔

(۲) او د جمهورو علماؤ رایه دا ده چه د شکی ورځے روژه نیول ناروا دی ځکه چه حدیث د عمار بن یاسرؓ او د نورو صحابه کرامو پکی راغلی دی چه پدے کی د رسول الله ﷺ مخالفت دے چه څوک دا روژه نیسی او همدا قول ظاهر دے چه پدے ورځ د هیڅ دپاره روژه نیول جائز نهٔ دی۔ او حافظ ابن القیم رحمه الله په زاد المعاد (۲/۲ ٤)

کی بعض آثار راجمع کړیدی چه بعض صحابه کرامو به د شك د ورځې روژه نیوله او خاصکر چه کله به د وریځې والا ورځ وه، لکه د عمر بن الخطاب، علی بن ابی طالب، عبد الله بن عمر، انس بن مالك، ابو هریره، معاویه، عمرو بن العاص، اسماء بنت ابی بکر او عائشه رضی الله عنهم نو ظاهر دا ده چه دغه صحابه کرامو رضی الله عنهم ته به دا حدیث د رسول الله ﷺ نۀ وو رسیدلے ځکه ئې دغه روژه په خپل اجتهاد سره نیوله مګر د امت دپاره ئې نیول ناروا دی ځکه چه صریح احادیثو کی ترے منع راغلے ده۔

الفصل الثاني

- 1974(6) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" إِذَا انْتَصَفَ شَعْبَانُ فَلَا تَصُوْمُوْا". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چه شعبان (میاشت) نیمائی ته ورسیږی نو تاسو روژے مۀ نیسئ۔ (ابوداوّد، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشریح : د روایاتو نه معلومیږی چه نبی ﷺ به د رمضان روژو د استقبال دپاره د اکثر شعبان روژے نیولے ځکه چه دا د هغه عادت وو او امت ئې منع کړے چه تاسو به د شعبان د نیمائی نه دیخوا روژے نۀ نیسئ ځکه چه بنده بیا فرض روژو ته کمزورے کیږی مګر که د یو انسان عادت وی بیا ورله نیول جائز دی۔ او هر حکمت چه وی خو شریعت منع کړیده برابره ده که یو انسان د نصف شعبان د روژو په نیولو کمزورے کیږی او که نۀ۔ او پدے کی احتمال د زیادت په صوم رمضان کی رازی۔

درجة الحديث : اسناده صحیح، رواه ابو داود وسکت عنه وفی سنده العلاء بن عبد الرحمن وفیه مقال وصححه ابن حبان وابو احمد الحاکم وابن حزم واحتج بالعلاء مسلم فی صحیحه وکذلك فعل البخاری وحدث عنه الامام مالك، واحتج به سفیان، وشعبة ومسعر بن کدام ......الخ (المحلی۷/۲٦) وصححه ابن العربی فی عارضة الاحوذی (۲/۱٤۸) وابن دقیق العید فی الالمام (۱/۳٥۹) والالبانی ایضاً،

- 1975(7) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" أَحْصُوْا هِلَالَ شَعْبَانَ

لِرَمَضَانَ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د شعبان مياشت د رمضان دپاره وشمارئ۔ (ترمذيّ)

تشريح : أُحْصُوا : د احصاء نه دے په معنیٰ د شمارلو سره مطلب دا چه د شعبان د مياشتے ورځے د رمضان د وجه نه وشمارئ يا پدے وجه چه د رمضان د روژو حفاظت وشي، يعني د سپوږمئ منازل او مطالع (ځايونه د راښکاره کيدو) کي کوشش وکړئ دے دپاره چه د رمضان روژے په ښه بصيرت او پوهه سره لاندے کړئ او څه درنه فوت نشي ځکه چه د رمضان مياشت هله صحيح معلوميږي چه د شعبان صحيح معلومات وشي۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، ترمذی، حاكم، الدارقطني، وصححه البيهقي وابن العربي في العارضة والنووي في المجموع (٦/٤٠٧) وابو الحسن المباركفوري في المرعاة (٦/٤٤٣) والمباركفوري في التحفة (٣/١٠٠) وحسنه الحافظ في تخريج المشكاة والالباني في صحيح الترمذي۔

- 1976(8) وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَصُومُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ إِلَّا شَعْبَانَ وَرَمَضَانَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجه

ترجمه : او ام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها فرمائي: ما نبي کريم ﷺ نۀ دے ليدلے چه دوه مياشتے پرلـه پسے ئے روژه نيولي وي سوئ د شعبان او رمضان نه۔ (ابوداودؒ، ترمذيؒ، نسائيؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : ددے روايت نه ثابتيږي چه نبي ﷺ د رمضان نه علاوه د شعبان توله مياشت روژه نيولے ده او د عائشه رضي الله عنها نه په صحيح سند ثابت دي چه رسول الله ﷺ د رمضان نه سوئ توله مياشت روژه نۀ ده نيولے؟ نو ددے تطبيق دا دے چه نبي عليه السلام به د شعبان اکثرے روژے نيولے نو ام سلمهؓ اکثر له حکم د کل ورکړيدے ځکه ئے په بل روايت کي د کل لفظ استعمال کړيدے يعني تول شعبان ئے نيولي دي او عرب اکثر په حکم د کل کي شماري۔

بيا دلته بل سوال دے چه مخکې نه معلومه شوه چه نبي ﷺ د رمضان نه يوه يا دوه ورځې مخکې روژے نيول ناروا کړيدي او دلته نه ثابته شوه چه نبي عليه السلام به د ټول شعبان روژے نيولے نو ددے تطبيق علامه شوکانيؒ داسے کړيدے چه ددے دواړو حديثونو ترمينځ هيڅ تعارض نشته ځکه چه حديث د نهي حمل دے په هغه چا چه عادت نۀ وي او پدے ورځو کې روژے نيسي او احاديث د جواز په هغه چا حمل دي چه عادت ئے وي لکه په هغه روايتونو کې ورسره داسے الفاظ هم راغلي دي : (اِلَّا اَنْ يَّكُوْنَ رَجُلٌ كَانَ يَصُوْمُ صَوْمًا) (مګر که د مخکې نه ئے يو تن د عادت په طريقه نيسي نو بيا د رمضان نه مخکې نيول ئے هم جائز دي يعني د خپل عادت سره ئے دغه ورځے موافقي شي نو بيا خير دے).

درجة الحديث : حديث صحيح ابوداود، والترمذي وصححه هو وابن حبان والدارقطني والحكم والذهبي (صحيح ابي داود)

- 1977(9) وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ : " مَنْ صَامَ الْيَوْمَ الَّذِيْ يُشَكُّ فِيْهِ فَقَدْ عَصٰى اَبَا الْقَاسِمِ ﷺ ". رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او سيدنا عمار بن ياسر رضى الله عنهما فرمائي: چا چه په هغه ورځ روژه ونيوله چه په هغې کې شك وي (چه د رمضان نه به وي او که د شعبان نه) نو يقيناً چه دۀ د ابوالقاسم ﷺ نه نافرماني وکړه. (ابوداودؒ، ترمذيؒ، نسائيؒ، ابن ماجةؒ، دارميؒ)

تشريح : په ترمذيؒ کې ددے روايت سره قصه ذکر ده چه صله بن زفر رحمه الله وائي چه مونږ د عمار بن ياسر ﷺ سره ناست وو نو وريت کړے شوے ګډ راوړے شو، نو عمار وفرمايل: خورئ نو بعض خلك روستو شو او وے وئيل چه مونږ روژه يو نو عمار وفرمايل : چا چه د شك په ورځ روژه ونيوله نو دۀ د ابوالقاسم ﷺ خلاف وکړو.

يُشَكُّ فِيْهِ : صيغه د مجهول ده يعني په کوم ورځ کې چه د خلکو شك وي چه آيا دا به د رمضان نه حساب وي او که د شعبان نه نو په دغه ورځ روژه نيول ناروا دي.

د صيام الشك د روژو د نهي په علتونو کې اختلاف دے

(۱) بعض علماء وائي چه د شك د ورځو نه په هغه وخت کې منع ده چه پدے نيت ئے

نیسی چه دا به د رمضان نه شماری او کله چه د شعبان په نیت ئے نیسی یعنی نفل نیت وکړی او د شعبان نه ئے گنړی نو دا روژه ورله جائز ده او دا قول د مالك بن انسؒ، اوزاعیؒ، او اصحاب الرأیؒ دے لکه مخکښی ذکر شو او پدے کی امام احمدؒ او اسحاقؒ هم پدے طریقه رخصت ورکړے. لیکن دا قول ضعیف دے ځکه چه مخکښی تیر شو چه د رمضان نه مخکښی یوه یا دوه ورځے مخکښی روژه نیولو نه نبی ﷺ منع فرمایلے ده. (۲) بعض وائی چه پدے ورځ به نۀ فرض روژه نیسی او نۀ نفل بلکه دا به همداسے پریدی دے دپاره چه د شعبان او د رمضان ترمینځ فرق راشی عکرمۃ وائی دا معنیٰ د ابو هریرةؓ او ابن عباسؓ نه نقل ده.

(۳) امام شافعی رحمه الله فرمائی: که دغه ورځ د عادتی روژے سره موافقه شوه نو نیول ئے جائز دی او که نۀ وی روژه به نۀ نیسی. او همدا قول د مخکښی تیر شوی حدیث سره سمون خوری. او د امام احمدؒ نه پدے باره کی اقوال مختلف دی چه ابن الجوزیؒ په التحقیق او حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کی ذکر کړیدی.

(٤) بعض وائی: د شك د ورځے نه منع په هغه وخت کی ده چه کله آسمان صفا وی، وریځ او دوړه او گردونه نۀ وی. او کله چه د سپوږمئ مخے ته څه شے حائل واقع شی نو دے ته شك نۀ وائی. (قاله ابن قدامۃ)

مگر راجح دا ده چه یوم الشك هغه ورځ ده چه آسمان کی گرد او غبار وی، وریځ وی او خلك پکی سپوږمئ ونۀ وینی او دا دیرشتمه ورځ د شعبان وی، یا بی اعتماده خلك د هغے په لیدو گواهی ورکړی چه د هغوی گواهی نشی قبلیدے نو دا د شك ورځ ده پدے ورځ روژه ناروا ده نۀ په نیت د رمضان او نۀ په نیت د نفلو مگر که د عادتی ورځو سره موافق شی یا د نذر یا د کفارے یا د قضاء روژه پکی راشی نو بنده پکی روژه نیولے شی. وانظر المرعاة (٦/٤٤٦)

درجة الحدیث: اسناده صحیح، ابوداود، ترمذی، نسائی، وابن ماجه والدارمی) قال البیهقی فی المعرفة: اسناده صحیح وصححه الالبانی

- 1978(20) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: " جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ: إِنِّيْ رَأَيْتُ الْهِلَالَ يَعْنِيْ هِلَالَ رَمَضَانَ فَقَالَ: " أَتَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰـهَ إِلَّا اللّٰهُ؟ " قَالَ: نَعَمْ، قَالَ:

"أَتَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ؟ " قَالَ : نَعَمْ، قَالَ : " يَا بِلَالُ! أَذِّنْ فِي النَّاسِ أَنْ يَصُوْمُوْا غَدًا ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: نبی کریم ﷺ ته یو باندچی راغے عرض ئے وکړو : ما میاشت یعنی د رمضان میاشت لیدلے ده، نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل: آیا ته دا گواهی کوے چه نشته حقدار د بندگئ سوئ د الله تعالیٰ نه؟ هغه ووېل: آؤ، نبی کریم ﷺ وفرمایل: آیا ته دا گواهی کوے چه محمد (ﷺ) د الله رسول دے؟ هغه ووېل: آؤ، (نو) نبی کریم ﷺ وفرمایل: اے بلاله ! خلکو کی اعلان وکړه چه دوی صبا له روژه ونیسی۔ (ابوداودؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ، ابن ماجہؒ، دارمیؒ)

تشریح : "جَاءَ أَعْرَابِيٌّ : په روایت د ابوداود کی دی چه د حره نه راغلے وو او په روایت د ابن خزیمہؒ او ابن حبانؒ کی دی چه دهٔ ووېل : نن شپه ما میاشت ولیدله او دارقطنیؒ او حاکمؒ نقل کړیدی چه دا د رمضان په اوله شپه راغلے وو۔

فوائد الحدیث : (١) ددے حدیث نه ثابته شوه چه د میاشتے په لیدلو کی د یو تن گواهی هم کافی ده برابره ده چه په آسمان کی وریځ وی او که نهٔ لکه دا د جمهورو مذهب دے او تفصیل ئے مخکی تیر شویدے۔ او دا ممکن ده چه یو تن دے وینی او نور ملگری ئے د ونهٔ وینی لکه انس بن مالك میاشت ولیدله هغه فرمائی: زهٔ تیز نظر والا وم نو ما میاشت ولیدله نو عمر فاروقؓ ته ئے ووېل: آیا ته ئے نهٔ وینی نو هغه ووېل چه زر دے چه زهٔ به ئے هم وینم۔

۔ (صحیح مسلم (٢٨٧٣) مسند احمد (١٨٢) والطیالسی (٤٠) ابی یعلی (١٤٠) والمشکاة کتاب عشرة النساء)

(٢) په گواهئ کی الفاظ د گواهئ وئیل ضروری نهٔ دی بلکه اخبار ورکول هم کافی دی او نهٔ دعوئ ته ضرورت شته۔ (٣) نبی علیه السلام د هغه نه د اسلام تپوس وکړو دا دلیل دے چه په گواهئ کی مسلمان کیدل شرط دے۔

(٤) خبر واحد باندے عمل کول او یقین کول واجب دی، دلته نبی علیه السلام ددے یو تن په خبره یقین وکړو او بیا ئے پرے عمل هم وکړو۔ او ددے حدیث اصل مضمون د روستو حدیث نه ثابتیږی۔

درجة الحديث : حديث صحيح، اخرجه ابوداود، والترمذى والنسائى وابن ماجه والدارمى) وصححه الحاكم قال : وقد احتج البخارى باحاديث عكرمة واحتج مسلم باحاديث سماك وقال ابن حبان لم يتفرد به سماك لان الحديث ثابت مرفوعاً من حديث ابن عمر يعنى الحديث الآتى۔ وقال ابن العربى فى العارضة : سماك تارة يرسل وتارة يسند وهذا ليس بعيب فى الحديث وقال الشوكانى حديث ثابت، وضعفه الالبانى،

- 1979(11) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: تَرَاءَى النَّاسُ الْهِلَالَ فَأَخْبَرْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ أَنِّي رَأَيْتُهُ فَصَامَ وَأَمَرَ النَّاسَ بِصِيَامِهٖ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او سيدنا ابن عمر رضى الله عنهما فرمائى: خلكو مياشت ليدله۔ (يعنى د مياشتے د ليدو دپاره جمع شو) نو ما رسول الله ﷺ ته خبر وركړو چه ما وليدله نو نبى كريم ﷺ (هم) روژه ونيوله او خلكو ته ئے د هغے په روژو نيولو حكم وكړو۔ (ابوداوٗد، دارمىؒ)

تشريح : دلته هم صرف عبد الله بن عمر رضى الله عنهما مياشت ليدلے ده او رسول الله او عامو صحابه كرامو د هغه په خبره عمل كړيدے او نورو نهٔ ده ليدلے او دهٔ په ليدلو ئے اكتفاء كړيده نو معلومه شوه چه د روژے مياشتے په ليدلو كى د يو تن گواهى هم كافى ده۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود والدارمى والدارقطنى والحاكم والبيهقى وابن حزم وصححه ابن حبان والحاكم والذهبى وابن حزم وابن الملقن فى البدر المنير والحافظ ابن حجر فى تخريج المشكاة والالبانى وقال النووى اسناده على شرط مسلم

الفصل الثالث

- 1980(12) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَتَحَفَّظُ مِنْ شَعْبَانَ مَالَا يَتَحَفَّظُ مِنْ غَيْرِهٖ، ثُمَّ يَصُوْمُ لِرُؤْيَةِ رَمَضَانَ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْهِ عَدَّ ثَلَاثِيْنَ يَوْمًا ثُمَّ صَامَ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ

ترجمه : او ام المؤمنين عائشه رضى الله عنها فرمائى: رسول الله ﷺ به د شعبان د

ورځو دومره احتیاط سره شمار کولو چه د بلې میاشتې به ئې دومره حفاظت سره شمار نۀ کولو. بیا به هغه د رمضان د میاشتې په لیدو روژه نیوله نو که (په نهه ویشتم تاریخ به) میاشت په هغه باندې (د ګرد او وریځې په وجه) پټه پاتې شوه نو دیرش ورځې به ئې (پوره) وشمارلې بیا به ئې روژه نیوله. (ابو داوٗد)

تشريح : يعنى رسول الله ﷺ به د شعبان د ورځو په شمارلو کې ډیر حفاظت کولو او تکلیف به ئې تیرولو دے دپاره چه د رمضان د روژو حفاظت وشي او د دے لحاظ به ئې ساتلو نۀ د نورو میاشتو ځکه چه د هغوی پورې به څه شرعی حکم نۀ وو متعلق او په شعبان پورې به د رمضان د روژو حکم متعلق وو.

بیا که به نبی ﷺ په دیرشتمه شپه د رمضان میاشت ولیدله نو روژه به شو او که چرته په آسمان کې به وریځ او ګرد وو او میاشت به ئې ونۀ لیدله نو د شعبان به ئې دیرش ورځې پوره کړې او بیا به ئې د رمضان روژې نیول شروع کړل.

درجة الحديث: اسناده صحيح على شرط مسلم رواه ابوداود وسكت عنه وصححه الدارقطنى وابن الملقن وفيه معاوية بن صالح الحضرمى الحمصى وان تكلم فيه بعضهم فقد احتج به مسلم فى صحيحه وكان عبد الرحمن بن مهدى واحمد وابوزرعة يوثقونه وهو صدوق ثقة.

- 1981 (13) وَعَنْ أَبِى الْبَخْتَرِيِّ قَالَ : خَرَجْنَا لِلْعُمْرَةِ فَلَمَّا نَزَلْنَا بِبَطْنِ نَخْلَةَ تَرَاءَيْنَا الْهِلَالَ. فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ : هُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ . وَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ : هُوَ ابْنُ لَيْلَتَيْنِ فَلَقِيْنَا ابْنَ عَبَّاسٍ فَقُلْنَا : إِنَّا رَأَيْنَا الْهِلَالَ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ : هُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ : هُوَ ابْنُ لَيْلَتَيْنِ. فَقَالَ : أَيَّ لَيْلَةٍ رَأَيْتُمُوْهُ ؟ قُلْنَا : لَيْلَةَ كَذَا وَكَذَا. فَقَالَ : إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ مَدَّهُ لِلرُّؤْيَةِ فَهُوَ لِلَيْلَةٍ رَأَيْتُمُوْهُ. وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنْهُ. قَالَ: أَهْلَلْنَا رَمَضَانَ وَنَحْنُ بِذَاتِ عِرْقٍ فَأَرْسَلْنَا رَجُلًا إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ يَسْأَلُهُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " إِنَّ اللهَ تَعَالَى قَدْ أَمَدَّهُ لِرُؤْيَتِهِ فَإِنْ أُغْمِيَ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جناب ابو البختری (تابعیؒ) فرمائی : مونږ د عمرې دپاره ووتلو نو هرکله چه مونږ په بطن نخله کې پړاؤ واچولو نو مونږ د میاشتې لیدل شروع کړل. نو بعض خلکو وویل : چه دا میاشت د درې شپو ده او بعضو وویل: دا د دوه شپو ده نو مونږ د

ابن عباس رضي الله عنهما سره ملاؤ شو نو مونږ ورته وویل: مونږ میاشت ولیدله نو بعض خلکو وویل : دا د دریے شپو ده او بعضو وویل چه د دوه شپو ده۔ نو هغه وفرمایل: په کومه شپه تاسو لیدلے وه؟ مونږ وویل : په فلانئ فلانئ شپه۔ نو وے فرمایل: رسول الله ﷺ د رمضان موده د میاشتے په لیدو موقوف کړیده۔ نو دا میاشت د هغه شپے ده چه تاسو (په کومه شپه) لیدلے ده۔ او په روایت کی د ابو البختريؒ نه داسے نقل دی، فرمائی: مونږ د رمضان میاشت ولیدله پداسے حال کی چه مونږ په ذات عِرق کی وو (چه دا بطن نخله مقام ته نزدے دے) نو مونږ یو سړے ابن عباس رضی الله عنهما ته ولیږلو چه د هغه نه تپوس وکړی نو ابن عباس رضی الله عنهما (ورته) وفرمایل: چه رسول الله ﷺ د شعبان میاشت د رمضان د سپوږمئ د لیدو پورے اُوږده کړیده لهذا که په تاسو باندے (په نهه ویشتم تاریخ) میاشت (د ګرد او غبار په وجه) پټه پاتی شی نو شمار پوره کړئ۔ (یعنی د شعبان دیرش ورځے)۔ (مسلمؒ)

تعارف : ابو البختری ددهٔ نوم سعید بن فیروز بن ابی عمران الطائی دے د طئ قبیلے مَولیٰ دے د کوفی وسیدونکے دے، ثقه ثبت راوی دے مګر لږ تشیع پکی وو، کثیر الارسال دے او د اوساط التابعینو نه دے په جماجم کی په سنه (۸۳) کی وفات دے۔

تشریح : په یو حدیث کی دی: د قیامت د علاماتو نه دا ده چه سپوږمئ به وړیږسیږی۔ (صحیح الجامع) ددے حدیث نه دا ثابتیږی چه کله عام مسلمانان سپوږمئ وینی او ګواهی ورکړی نو که سپوږمئ غټه هم ښکاری دا به د اولے ورځے سپوږمئ حسابولے شی او دا مطلب نهٔ دے چه یو انسان به کوټه کی ناسته وی او عامو خلکو به لیدلي وی او دا به ئے په بله ورځ وینی او دا حدیث به دلیل کی پیش کوی چه د سپوږمئ غټ والی له اعتبار نشته۔

أَمَدَّهُ : یعنی رسول الله ﷺ دا را اوږده کړیده دپاره د لیدلو یعنی رسول الله ﷺ دا فرمایلی دی چه روژه به هله نیسئ چه سپوږمئ وینئ او تاسو اوس ولیدله لویه وی او که وړه وی خو تر اوسه پورے په تاسو روژے نهٔ وے اوس نه شروع شوے۔

او په بعضو نسخو د صحیح مسلم کی داسے دی: رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالیٰ دا سپوږمئ ستاسو د لیدلو دپاره را اوږده کړیده)) یعنی همدا ئے اولنئ شپه ده شك پکی مهٔ کوئ۔

باب

یعنی دا باب په بیان د مختلفو مسائلوکی دے د کتاب الصوم نه۔ دلته عنوان داسے دے: بَابٌ فِيْ مَسَائِلِ الصَّوْمِ۔

د مخکی سره ئے من وجه مناسبت دے ځکه چه پدے کی د روژه ماتی او پیشمنی بحث دے۔

الفصل الأول

- 1982(1) عَنْ أَنَسٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " تَسَحَّرُوْا فَإِنَّ فِي السَّحُوْرِ بَرَكَةً " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : سیدنا انس بن مالك ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو پیشمنے کوئ ځکه چه په پیشمنی کی برکت دے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : تسحروا : د سحر نه دے د صبا نه لږ مخکی وخت ته وائی بعض وائی تسحر په دغه وخت کی خوراك کولو ته وائی۔

مسئله : پیشمنے څه حکم لری؟ (۱) اهل ظواهر وائی چه پیشمنے کول واجب دی ځکه چه د الله نبی پرے امر کړیدے او د پیشمنی نه بغیر روژه نهٔ صحیح کیږی مګر دا مذهب ضعیف دے۔ (۲) د جمهورو رایه دا ده چه پیشمنے کول مستحب دی او دلیل د استحباب دا دے چه دلته ئے علت ذکر کړیدے چه په پیشمنی کی برکت دے۔ نو که یو سړے برکت نهٔ اخلی نو د هغه خوښه ده مګر خیر به ترے پاتی شی۔

دویمه وجه دا ده چه رسول الله ﷺ او صحابه کرامو صوم الوصال نیولے ده۔

السَّحُوْرِ : د سین په زبر سره هغه خوراك څکاك ته وائی چه په پیشمنی کی استعمالولے شی او د سین په پیش سره خوراك کولو ته وائی او پدے روایت کی دواړه الفاظ صحیح دی۔

بَرَكَةً : په پیشمنی کی یو برکت دا دے چه اجر او زیات ثواب به ورته ملاؤ شی ځکه چه سنت باندے عمل کولو سره اجر زیاتیږی۔ (۲) ځوك چه پیشمنی ته

راپاخیږی نو نور ډیر اعمال کولے شی لکه تهجد، تلاوت، ذکر اذکار دعاء (۳) دارنګه د ورځے په دینی کارونو کی قوت حاصلیږی ځکه چه کله انسان وږے وی نو اعمال په ډیره غوره طریقه سره نشی کولے۔ (٤) د انسان نه د ورځے بد اخلاقی نهٔ کیږی کوم چه د لوږے د وجه نه راپیدا کیږی۔ داسے نور فوائد هم په کی دی۔

- 1983 (2) وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ :قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " فَصْلُ مَا بَيْنَ صِيَامِنَا وَصِيَامِ أَهْلِ الْكِتَابِ أُكْلَةُ السَّحَرِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا عمرو بن العاص ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: زمونږ د روژو او د اهل کتابو (یهود او نصاراؤ) د روژو ترمینځ فرق (جدائی) د پیشمنی خوراك دے۔ (مسلمؒ)

تشریح : أُكْلَةُ السَّحَرِ : په ضمه د همزے سره یوه نوړیٔ ته وائی۔ او په فتحه سره یو ځل خوړلو ته وائی اګرکه خوراك پکی ډیر وکړے شی۔ امام نوویؒ وائی حقه دا ده چه دلته فتحه مراد کړے شی ځکه چه دلته هم دا مقصود دے۔

او قرطبیؒ وائی فتحه ځکه غوره ده که په ضمه سره شی نو بیا ئے معنیٰ ددے مقام سره پوره نهٔ لګیږی ځکه چه دلته مقصد دا نهٔ دے چه یوه نوړیٔ به کوی ځکه چه پدے معنیٰ کی بُعد دے۔

علامه سندیؒ وائی چه که په ضمه د همزه سره شی نو بیا به پدے کی اشاره وی چه زمونږ او د اهل کتابو د روژو د فرق دپاره د پیشمنی په وخت یوه نوړیٔ هم کافی ده۔

ددے نه هم معلومیږی چه پیشمنے کول مستحب دی ځکه چه پدے کی مخالفت دے د اهل کتابو او پدے مخالفت سره د انسان په عمل کی اجر زیاتیږی۔ او په دے مقام کی مخالفت واجب نهٔ دے بلکه مستحب دے۔

اهل کتاب په خپلو روژو کی پیشمنے نهٔ کوی او په مونږ باندے په ابتداء د اسلام کی حرام وو بیا الله تعالیٰ تر صبا پورے جائز کړو او اهل کتاب چه به کله اوده شو نو دوی باندے هم خوراك حرام وو یا مطلقاً ورله حرام وو۔ نو زمونږ مخالفت د هغوی سره پدے طریقه راځی چه کله مونږ پیشمنے کوو نو ګویا که مونږ ددے نعمت شکر وکړو چه هغوی ترے محروم دی۔ (المرعاة ٦/٤٥٥)

بیا د اهل کتابو مخالفت کله فرض وی د ایمان په درجه کی وی او کله د هغوی مشابهت گناه کبیره وی او کله صغیره وی او کله مخالفت مستحب وی لکه دلته شو۔

اهل تصوف خلك د پیشمنی بدی بیانوی او وائی چه دا د روژو د حکمت خلاف دے ځکه چه مقصد د روژے د خیتے او عورت شهوت ماتول دی او پیشمنے ددے خلاف دے لیکن د دوی دا خبره صحیح نهٔ ده، په ظاهره کی ددے حدیث خلاف ده اگرکه په پیشمنی کی دومره ځان مړهٔ ول چه انسان بیخی د ورځے وږے نهٔ شی هم مناسب نهٔ دی حاصل دا چه پیشمنے د انسانانو د احوالو او د هغوی د خوراکونو د اندازے د مختلف والی په وجه مختلف کیږی۔

- 1984(3) وَعَنْ سَهْلٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" لَا يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سهل بن سعد ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: ترڅو پورے چه خلك په روژه ماتولو کی جلتی کوی نو دوی به په خیر باندے روان وی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : شاه ولی الله الدهلوی رحمه الله فرمائی: پدے کی اشاره ده چه دا یوه داسے مسئله ده چه پدے کی د اهل کتابو نه تحریف واقع شویدے او د هغوی په مخالفت کولو سره او د هغوی د تحریف په رد کولو سره دین اسلام قائمیږی۔ آه۔ نو څومره چه انسان کی د اهل کتابو مخالفت راځی د هغه دین به پوره کیږی او د کفارو نه به وړاندی کیږی۔ زمونږ مسلمانانو نه ولے دین ووتو؟ ځکه چه د کفارو چال چلن او لباس او طرز او طریقهٔ اختیار کړه نو ډیر پکی بی دینه شو او کله چه انسان د کفارو مقابله کی ولاړ وی نو په دین به مضبوطیږی۔

ابو هریره ﷺ فرمائی: یهود او نصاریٰ ناوخته روژه ماتوی آه، او دا دومره ناوخته کوی تردے چه ستوری راښکاره شی۔

تورپشتیؒ وئیلی دی چه کله یو انسان روژه ماتے روسته کړی او په نوافلو مشغول شی او مقصد ئے پدے کی نفس له ادب ورکول وی او د نفس خواهش ماتول وی او د

روستو کولو د وجوب عقیده نۀ لری نو دا کار ورله جائز دے هیڅ ضرر ورته نۀ رسی۔ ملا علی القاری رحمه الله پرے رد کړے او وائی چه بلکه ضرر ورته ورکوی ځکه چه سنت ترے پاتے شو او یو ګوټ اُوبه څکلو سره د نفس ادب نۀ خرابیږی او نۀ نوافل قضاء کیږی او د نفس ادب دا دے چه انسان د الله او د هغه د رسول په خبره عمل وکړی۔

د توریشتی د خبرو په شان خبرو نه غالباً بدعت پیدا کیږی۔

او د وختے روژه ماتولو معنیٰ دا نۀ ده چه د نمر پریوتو نه مخکی ئے ماته کړی بلکه مطلب دا دے چه د نمر پریوتو سره سمدست روژه ماته کړی او دومره ئے ناوخته نۀ کړی چه ستوری راښکاره شی۔

- 1985 (4) وَعَنْ عُمَرَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ مِنْ هٰهُنَا وَأَدْبَرَ النَّهَارُ مِنْ هٰهُنَا وَغَرَبَتِ الشَّمْسُ فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا عمر فاروق ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی : کله چه شپه ددے (مشرق) طرفنه رامخامخ شی (یعنی تیاره راپورته شی) او ورځ ددے (مغرب) طرفنه شا واړوی او نمر پریوزی نو یقیناً روژه دار روژه ماته کړه۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : اُوس پدے حدیث کی دا بیانوی چه بنده به په روژه ماتولو کی څومره جلتی کوی نو هغه دا چه شپه راوخیژی او نمر پریوزی نو بس وخت د روژے ماتولو راغلو برابره ده چه اذان شوے وی او که نۀ بلکه اذان د وخت د راتللو نښه وی۔

د (هٰهُنا) نه مراد مشرق دے او د مشرق نه د شپے رامخامخ کیدو مطلب دا دے چه ستا سر پورے د شپے د تیاری اثر راشی او رڼا د نمر ختمه شی نو بس وخت داخل شو او دا هغه چه انسان مشرق طرفته ګوری ورنه که مغرب طرفته وګوری نو هلته خو رڼا ښکاری۔

أَفْطَرَ الصَّائِمُ : یعنی د روژه دار روژه شرعاً ماته شوه اوس به ورته روژه دار نۀ وئیلے کیږی ځکه چه شپه د روژے محل نۀ دے (نوویؒ) یعنی په حکم کی مُفطر او بوزه شو اګرکه ظاهراً ئے روژه نۀ وی ماته کړی۔

حافظ ابن حجرؒ معنیٰ کوی : فقد دخل فی وقت الفطر یعنی په وخت د روژے ماتولو

کې روژه دار داخل شو او ده له جائز دي چه روژه ماته کړي. لکه عرب وائي : (أَصْبَحَ اَیْ دَخَلَ فِیْ وَقْتِ الصَّبَاحِ). اصبح معنیٰ ده : په وخت د صبا کې داخل شو.
ابن خزیمه رحمه الله فرمائي : دا خبر دے او معنیٰ ئے امر ده یعنی فَلْیُفْطِرِ الصَّائِمُ : یعنی روژه دار له پکار دي چه روژه ماته کړي. او مقصد پدے کې ترغیب ورکول دي په جلتيئ سره روژه ماتولو ته. او که دغه مخکنئ معنیٰ واخلو نو بیا پکې دا ترغیب نهٔ حاصلیږي.

- 1986 (5) وَعَنْ أَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ قَالَ : نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ الْوِصَالِ فِی الصَّوْمِ. فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ : إِنَّكَ تُوَاصِلُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : وَأَیُّكُمْ مِثْلِیْ إِنِّیْ أَبِیْتُ یُطْعِمُنِیْ رَبِّیْ وَیَسْقِیْنِیْ " مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ د پرله پسے روژو نه منع وفرمایله. نو هغه ته یو سړي وویل : اے د الله رسوله! تاسو چه وصال کوئ (یعنی په روژه باندے روژه نیسئ) (نو) هغه وفرمایل : (پدے باره کې) په تاسو کې کوم یو تن زما په شان کیدے شي، ځکه زهٔ داسے شپه تیروم چه ما ته زما رب خوراك او څکاك راکوي. (یعنی زما لوږه او تنده ختموي). (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشریح : د وصال روژه (یعنی اُوږده روژه، یا په روژه باندے روژه نیول) د رسول الله ﷺ په دوه سوه خصوصیاتو کې یو خصوصیت وو او وصال روژه دیته وائي چه انسان نن ورځ روژه وي ماښام له روژه ماته نکړي صبا له هم روژه شي بیا بل ماښام له روژه ماته کړي یا دریم ماښام له یا څلورم ماښام له لکه نبي ﷺ به کله دوه ورځے متواتر روژه وو کله به درے ورځے او کله څلور ورځے او دا د هغه خصوصیت دے، دا وجه ده چه کله صحابه کرامو د نبي ﷺ پدے باب کې تابعداری کوله نو هغه منع کړل چه په تاسو کې کوم یو پدے صفت کې زما په شان کیدے شي ځکه چه ما ته الله تعالیٰ خوراك او څکاك راکوي او تاسو ته ئے هغه شان نهٔ درکوي پدے کې اشاره وه چه زما د خپل رب سره یو خاص شان دے چه هغه ستاسو نشته هغه زما تربیت کوي د لوږے او تندے نه مے ساتي.
نبي ﷺ به وصال کولو او صحابه کرامؓ به ئے منع کول چه تاسو ئے مهٔ نیسئ تاسو

باندے مشقت راځي مګر صحابه کرامؓ به بیا هم نیوله نو یوه ورځ ورته نبی ﷺ وفرمایل چه روژه راسره ونیسئ نو یوه ورځ ئے پرے روژه ونیوله بیا ئے دویمه ورځ هم پرے ونیوله بیا د اختر میاشت ولیدلے شوه یعنی رمضان ختم شو نبی ﷺ وفرمایل که دا میاشت نهٔ وے راختلے نوما تاسو باندے دا روژه نوره هم اُوږدوله، دوی ته ئے زورنه ورکوله چه زما د منع نه پس تاسو ولے روژه نیسئ او زما په خصوصیت کی تاسو نهٔ شئ شریك کیدے. (وَاَصۡلُ الۡحَدِیۡثِ فِیۡ صَحِیۡحِ الۡبُخَارِیِّ وَمُسۡلِمٍ).

ددے نه معلومیږی چه دا د شفقت منع وه چه امت په مشقت کی واقع نشی. او د حرمت منع نهٔ وه ځکه صحابه کرامؓ په دے مقصد پوهیدل پدے وجه ئے د نهی نه روستو هم دا روژه نیوله.

(یُطۡعِمُنِیۡ رَبِّیۡ وَیَسۡقِیۡنِیۡ) علماؤ ددے ډیر مطلبونه بیان کړیدی (۱) ځینی علماء وائی چه دا په خپل ظاهر او حقیقت باندے بناء دے چه نبی ﷺ ته به کرامةً په وخت د وصال کی د جنت نه خوراك څکاك راتللو او د جنت نه خوراك څکاك راتللو باندے د دنیا احکام نهٔ جاری کیږی لکه یو انسان په روژه کی په هیره سره خوراك څکاك وکړی نو روژه ئے نهٔ ماتیږی.

(۲) جمهور علماء وائی چه دا په معنوی خوراك څکاك باندے حمل دے بیا څوك وائی چه ددے نه مراد لازم د طعام او شراب دے یعنی ما ته د خوراك څکاك قوت او قدرت راکړے کیږی چه تاسو ته هغه نشته ځکه چه د نبی ډیر لوی طاقت وی د څلویښتو کسانو طاقت لری، اګرکه وږے تږے وی خو بیا هم په عبادتونو کی قوی او مضبوط وی د نور چا په شان د لوږے په وجه په عبادت کی نهٔ کمزورے کیږی.

(۳) دریم دا چه الله تعالیٰ په ما کی د اُوبو او د خوراك نه موړ والے پیدا کوی نو زهٔ لوږه او تنده نهٔ محسوس کوم یعنی طاقت مے په بدن کی راشی او لوږه او تنده ختمه شی. لیکن دا مقصد د نبی ﷺ د حال نه لږ شان وړاندے دے ځکه چه په هغه باندے به لوږه او تنده راتلله.

(٤) بعض وائی : نبی ﷺ به د الله تعالیٰ په عظمت کی فکر کولو او د هغه په مناجات کی به مستغرق کیدو او هغه سره به ئے داسے مناجات او محبت او تعلق قائمولو چه دے به ئے د خوراك څکاك نه بی پرواه کړے وو یعنی الله تعالیٰ په هغه

باندے داسے علوم او د هغه په زړه باندے د عبادت داسے خوند راچوی او د الله په قرب او محبت ئے سترگے داسے یخی وی چه په هغے سره د هغه لوږے او تندے ته هیڅ فکر نهٔ وو ځکه چه د الله په عبادت او د هغه په تعلق کی یو عجیب قوت او لذت حاصلیږی دا وجه ده چه په کومه روژه کی د الله بندگی زیاته وشی او د فضول خبرو نه انسان ځان وساتی نو روژه پرے ډیره آسانه وی ځکه چه کله روحانیت قوی شی نو ډیر خوراك ته ضرورت نهٔ راپیښیږی او روحانیت چه څومره کمزورے کیږی هغومره انسان خوراك څکاك ته ډیر حاجت لری دا وجه ده چه نبی ﷺ او صحابه کرامو به په یوه کجوره هم روژه نیوله تر ډیرے مودے پورے او مونږ په یو کریټ کجورو هم روژه نشو نیولے ترڅو چه مو ډوډئ نهٔ وی خوړلی، او دا قول حافظ ابن القیم رحمه الله غوره کړیدے۔

مسئله : د وصال په حکم کی د علماؤ اختلاف دے

(۱) اهل ظواهرؒ وائی چه دا حرام دے او دا قول ابن حزمؒ ذکر کړیدے او د مالکیه ؤ ابن العربیؒ صحیح گنړلے دے او شوافع دوه قوله کوی، یو دا چه حرام دے دویم دا چه دا کراهتِ تنزیهی دے یعنی خلاف اولیٰ دے۔ لیکن د هغوی په نیز راجح او اصح قول دا دے چه حرام دے ځکه چه ظاهراً نهی پکی راغلے ده۔ (۳) امام مالكؒ، احمدؒ، ابوحنیفهؒ او د دوی اتباع وائی چه وصال مکروه تنزیهی دے او حرام نهٔ دے۔

(٤) یو جماعت د سلفو وائی چه وصال مطلقاً جائز دے۔

(٥) بعض وائی چه د هغه چا دپاره حرام دے چه دا پرے گران او مشقت وی او مباح دے د هغه چا دپاره چه ورته آسان وی۔ او دا قول صاحب د مرعاة غوره کړیدے او وئیلی ئے دی چه دا تفصیل په صحابه کرامؓو کی د عبد الله بن زبیرؓ نه نقل دے چه هغه نه ابن ابی شیبهؒ په صحیح سند نقل کړیدے چه هغه به پنځلس ورځو پورے وصال کولو او د ابوسعید الخدری ﷺ خور به هم وصال کولو او په تابعینو کی به عبد الرحمن بن انعمؒ او عامر بن الزبیرؓ او ابراهیم بن یزید التیمیؒ او ابو الجوزاءؒ نه ابونعیمؒ په حلیة الاولیاء کی او طبریؒ نقل کړیدی۔ او د دوی دلیل دا دے چه نبی ﷺ صحابه کرامؓ د وصال نه منع کړل لیکن هرکله چه هغوی د وصال نه منع نشو نو د نهی نه روستو ئے په صحابه کرامؓو باندے وصال وکړو تر دوه ورځو پورے بیا میاشت ولیدلے شوه نو نبی ﷺ دوی ته زورنه ورکړه چه که میاشت نهٔ وے ختمه شوے نو ما تاسو

بانـدے زيـات وصال كولو (سم زور مے دركولو) نو كه چرته دا نهى د تحريم دپاره وے نو نبي ﷺ بـه پـه دوى بانـدے د نهى نه روستو وصال نهٔ كولے، نو دا زورنه وركول دليل وو چـه دا نهـى د رحـمـت او شـفـقـت او پـه امت بانـدے د آسانوالى راوستو د وجه نه وه لكه پـدے خبـره بانـدے عائشه رضى الله عنها په روايت د صحيحينو كى تصريح كړيده چه نبي ﷺ د وصال نه منع كړيده دپاره د رحم كولو په دوى باندے۔

او ددے مثال داسے دے لكه نبي ﷺ صحابه كرامؓ پـه مسجد كى په جمعے سره د تـرايـحـو كـولـو نـه منع كړل دے دپاره چه په امت بانـدے فرض نهٔ شى۔ او په كوم شخص بـانـدے چه تكليف نهٔ وى او نبي ﷺ د هغـه د وصال نه خبر شويدے نو هغه باندے ئے انـكـار نهٔ دے كړے نو معلومه شوه چه چا باندے وصال گران نهٔ وى او د اهل كتابو سره مـوافـقـت ئے مقصد نهٔ وى او د روژه ماتى په جلتئ سره كولو سنت نه اعراض نهٔ كوى نو د هغه دپاره وصال منع نهٔ دے۔

۲- **دليل** : عَنْ رَجُلٍ مِنَ الصَّحَابَةِ : قَالَ : نَهَى النَّبِيُّ ﷺ عَنِ الْحِجَامَةِ وَالْمُوَاصَلَةِ وَلَمْ يُحَرِّمْهُمَا اِبْقَاءً عَلٰى أَصْحَابِهٖ) وَاِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ عِنْدَ الْحَافِظِ ابْنِ حَجَرٍ، البانى، اميرصنعانى (اخرجه ابوداود)۔ يـو صـحـابـى رضى الله عنه فرمائى: نبي ﷺ د حـجـامـت او وصال روژو نـه مـنـع كـړيـده او دا دواړه ئے كـلـك حرام نكړل دپاره د رحم كولو په خپلو ملگرو باندے)۔ دا دليل دے چه د وصال نه منع د شفقت او رحمت دپاره وه۔

۳- **دليل** : عامو صحابه كرامو هم د نهى نه روستو په وصال عمل كړے نو دا دليل دے چه دوى هـم د نهـى نـه حـرمـت نـهٔ دے فـهـم كـړے ورنه دوى به د نهى نه روستو په وصال باندے اقدام نهٔ كولے۔ او نور دلائل په المرعاة (۶/۴۵۸) كى وگوره۔

او كـوم عـلـمـاء چـه نـهى د تحريم دپاره گنړى هغوى وائى چه كه وصال جائز شى نو پـدے سره مـخـالـفـت راځـى د امـر د رسـول الله ﷺ نـه چه هغه فرمائى : كله چه نمر پـريـوزى نـو د روژه دار روژه مـاتـه شـوه ځكه چه شپه محل د روژے نهٔ ده۔ او د عائشےؓ د قول نه جواب كوى چه نهى د رحمت دپاره دا منافات د تحريم سره نهٔ لرى يوشے د حرام هم وى او پدے حراموالى كى دے په امت باندے شفقت او رحمت هم وى او ددے رحمت د وجه نه ئے حرام كړے هم دے۔ او نبي ﷺ د نهى نه روستو چه كومو صحابه كرامو عمل كړے نو نبي ﷺ ورلـه زجر پدے وجه وركړو چه دا كار حرام وو۔ دارنگه د رسول

الله ﷺ ددے الفاظو نه د وصال خصوصیت معلومیږی چه (لَسْتُ کَهَیْئَتِکُمْ) زۀ پدے باره کښې ستاسو په شان نۀ یم۔ لیکن غوره قول اول دے بلکه بخاری کښې تصریح ده (اَیُّکُمْ یُوَاصِلُ فَلْیُوَاصِلْ اِلَی السَّحَرِ) که په تاسو کښې څوك وصال کوی نو د پیشمنی پورے دے وکړی او دا د نهی نه روستو وئیلے شویدی او دا رایه د بخاریؒ او امام احمدؒ هم ده۔

دویم قسم وصال : یو بل قسم وصال دے هغه هم په احادیثو کښې ثابت دے هغه جائز دے هغه ذ یو پیشمنی نه بل پیشمنی پورے دے، لکه حدیث کښې دی (که په تاسو کښې څوك وصال کوی نو پیشمنی پورے دے وصال وکړی) لکه مخکښې ذکر شو۔

ددے په حکم کښې هم اختلاف دے (۱) امام مالك رحمه الله وائی دا هم مکروه دے ځکه نهی عامه ده لیکن قول ئے ضعیف دے د مخکښې حدیث د وجه نه۔

(۲) امام احمدؒ وائی دا نۀ دے مکروه بلکه جائز دے لیکن روژه په جلتئ سره په ماښام کښې ماتول افضل دی یعنی وصال الی السحر اولیٰ او غوره نۀ دے۔

(۳) احناف او شوافع وائی چه وصال تر سحر پورے هیڅ شے نۀ دے۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : امام احمدؒ، اسحاقؒ، ابن المنذرؒ، ابن خزیمهؒ او یو جماعت د مالکیهٔ ؤ نه (او بخاریؒ او یوه ډله د اهل الحدیث) وائی چه وصال تر سحر پورے جائز دے د وجه د حدیث د ابو سعیدؓ نه کوم چه ذکر شو۔ او پدے وصال کښې هغه ضرر نشته کوم چه په اوږد وصال کښې وو چه په هغې کښې بالکلیه دوه ورځې خوراك څکاك پریدی ځکه چه ددے حقیقت دا دے چه دهٔ خپله ناشته په اول د شپه کښې پریښودہ او په آخر د شپه کښې ئے وکړه او دا کار ددهٔ بدن دپاره تهجدو او تراویحو کښې ودریدو دپاره آسانونکے دے خو پدے شرط چه په دے وصال کښې په روژه دار باندے مشقت نۀ راځی او که مشقت راتلو نو بیا به دا ثواب نۀ وی، (٤) حافظ ابن تیمیه رحمه الله وائی چه وصال الی السحر مستحب دے۔ راجح قول د امام احمدؒ وغیره ؤ دے۔

او کومو احادیثو کښې چه تعجیل الفطر ته ترغیب راغلے دے نو ددے نه معلومیږی چه ماښام کښې روژه ماتے کول غوره دی او تاخیر الی السحر جائز دے یا دا په حق د هغه چا کښې دے چه وصال ورته مشقت ورکوی لکه عام انسانان یا دا چه وصال الی السحر سنت عمل نۀ دے مگر که یو انسان په ځان مشقت راوستو او پکښې فائده ورته ښکاره

کیدله نو د پیشمنی پورے وصال کولو باندے به هم الله تعالیٰ اجر ورکوی ان شاء الله تعالیٰ۔ والله تعالیٰ اعلم۔

الفصل الثانی

- 1987(6) عَنْ حَفْصَةَ رَضِیَ اللهُ عَنهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ لَّمْ يُجْمِعِ الصِّيَامَ قَبْلَ الْفَجْرِ فَلَا صِيَامَ لَهٗ ". رَوَاهُ التِّرمِذِیُّ وَأَبُوْدَاوٗدَ وَالنَّسَائِیُّ وَالدَّارِمِیُّ وَقَالَ أَبُوْدَاوٗدَ : وَقَفَهٗ عَلٰى حَفْصَةَ مَعْمَرٌ وَالزُّبَيْدِیُّ وَابْنُ عُيَيْنَةَ وَيُوْنُسُ الْأَيْلِیُّ كُلُّهُمْ عَنِ الزُّهْرِیِّ

ترجمه : ام المؤمنین حفصه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه د صبا د راختو نه مخکی د روژو نیت ونکړو نو د هغه روژه نۀ کیږی۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، دارمیؒ) او ابوداودؒ وائی : معمرؒ او زبیدیؒ او ابن عیینۃؒ او یونس الایلیؒ ټولو دا د زهریؒ نه نقل کړے او په حفصه رضی الله عنها باندے ئے موقوف کړځولے دے۔

تشریح : لَّمْ يُجْمِعِ : دا د اجماع نه دے په معنیٰ د کلکے ارادے سره یعنی چا چه د روژو کلك نیت نۀ وی کړے د صبا د راختلو نه مخکی نو د هغه روژے نۀ کیږی نو د نمر پریوتو نه تر صبا راختلو پورے د روژے نیت ضروری دے ځکه چه روژه عمل دے او دارومدار د عملونو په نیت سره دے او نیت د زړه ارادے ته وائی۔

او دا حدیث دلیل دے د مذهب د جمهورو علماؤ چه هغوی وائی چه د هرے روژے دپاره د شپے نه نیت لازم دے او بغیر د نیت د شپے نه روژه صحیح نۀ ده او دا مذهب د ابن عمر رضی الله عنهما، جابر بن زید، مالك، مُزنی او داود ظاهری او ابن الحزم ظاهری رحمهم الله دے ځکه چه پدے حدیث کی صیام مطلق ذکر دی نفل او فرائض ټولو ته شامل دے۔

(۲) امام شافعی او احمد رحمهما الله فرمائی: په فرضو کی د صبا د راختلو نه مخکی نیت فرض دے او په نفلو کی د صبا نه روستو هم نیت کول جائز دی او دا رایه قوی معلومیږی ځکه چه په نفلی روژو کی به نبی علیه السلام د ورځے تپوس وکړو چه کور کی څه خوراك شته ؟ که نۀ به وو نو ویه ئے وئیل چه زۀ روژه یم۔ (الصحیحین عن عائشة) او د فرضو په باره کی دا حدیث دلیل دے۔

اګرکه مالکیه ددے حدیث د عائشۀؓ نه جواب کوی چه نبی ﷺ به د شپے نه د نفلی

روژے نیت کرے وو لیکن کله چه به د روژو نه کمزورے شو نو د ماتولو اراده به ئے وکړه، او دوی وائی چه پدے حدیث د عائشہؓ کی دا خبره نشته چه نبی ﷺ د شپے نه نیت نۀ وو کړے حال دا چه نبی ﷺ خپله فرمائی چه چا د شپے نه د روژے نیت ونکړو نو د هغه روژه نۀ کیږی۔

(۳) امام ابوحنیفہؒ وائی چه د رمضان او د نذر معین روژو دپاره د صبا نه روستو هم نیت کول جائز دی او دغه شان د نفلی روژو حکم هم دے۔

دوی ددے حدیث د حفصہؓ نه جوابونه کوی یو دا چه ددے حدیث په رفع او وقف کی اختلاف دے او په سند کی ئے سخت اضطراب دے۔

جواب دا دے چه رفع زیادت د ثقه راوی دے او زیادت د ثقه مقبول وی او نفس اختلاف په حدیث کی اضطراب نۀ پیدا کوی۔

(۲) کله وائی چه دا حدیث په باره د هغه روژو کی دے چه واجب غیر معین وی لکه قضاء د رمضان او کفاره او نذر مطلق لیکن پدے باندے دلیل نشته او کوم حدیث د ربیع او سلمه بن الاکوع کی چه راغلی دی (کما فی الصحیحین) چه نبی ﷺ د اسلم قبیلے یو سړی ته د عاشورے په ورځ حکم وکړو چه په خلکو کی اعلان وکړی چه چا خوراك کړے وی نو هغه دے باقی ورځ روژه ونیسی او چا چه خوراك نۀ وی کړے نو روژه دے شی۔ نو دے نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ د عاشورے په ورځ د عاشورے د روژے حکم وکړو او د عاشورے ورځ په ابتداء د اسلام کی فرض وه۔

نو ددے جواب دا دے چه دا په هغه صورت باندے حمل دے چه هغه ته د فرضی روژے معلومات په مینځ د ورځ کی وشی لکه د میاشتے د لیدلو نه په ورځ کی خبر شی۔ یا دا چه دغه حدیث د عاشورے په باره کی د اسلام په ابتداء کی وو او د شپے نیت کولو والا حدیث په مدینه کی وئیل شویدے لهذا دغه حکم منسوخ شویدے نو دا حدیث د حفصہؓ د حدیث معارض نۀ واقع کیږی۔

شیخ البانی رحمه الله په السلسلة الصحیحه (۱۲۳/٦) کی وائی چه د دواړو حدیثونو تعارض نشته ددے (من لم یجمع الصیام) نه دغه حدیث د عاشورے مستثنیٰ دے دغه حدیث په باره د هغه چا کی دے چه د ورځے ورته د روژے خبر ملاؤ شی نو اګرکه خوراك څكاك ئے کړے وی هم دغه روژه به نیسی او دغه صحابه کرامو

تـه د شپې نه دغه روژه معلومه نۀ وه نو د دوی دپاره د ورځې نیت هم کافي کیږي۔ (یا یو مجنون روغ شي یا بیهوشه انسان رابیدار شي نو دغه حکم ئې دے) نو د ضرورت په وخت کې د فرضي روژو دپاره د ورځې نه نیت هم کافي کیږي خو ددے نه دا نۀ لازمیږي چه بغیر د ضرورت نـه بـه هم د فرضي روژو دپاره د ورځې نیت کافي وي۔ او صحیح قول د امام شافعيؒ دے۔

مسئله : په کوم وخت کې به دا نیت کوي ؟ نو د حدیث د حفصےؓ نه ظاهر دا معلومیږي چه د شپې په هره حصه کې نیت وشي تر صبا پورے نو نیت وشو او د هرے ورځې دپاره به د نمر پریوتو نه تر صبا راختلو پورے نیت کوي۔ نوکه چا د صبانۍ ورځې دپاره نـن مازیګر نیت وکړو نو دا نیت ئې صحیح نۀ دے۔ او دا قول د احمد، شافعي او ابو حنیفه رحمهم الله دے۔ (۲) مالك او اسحاق رحمهما الله وائي چه د رمضان په اوله شپه کې نیت د ټول رمضان د طرفنه کافي کیږي، نو دا یو نیت کافي دے۔ مګر اول قول صحیح دے۔

بیا احمدؒ مالكؒ او شافعيؒ وائي چه په هره فرضي روژه کې به دا مضبوط نیت کوي چه صبا لـه د رمضان یا د قضاء یا د کفارے یا د نذر روژه نیسم یعنی تعیین به کوي او احناف وائي چه تعیین شرط نۀ دے۔ راجح قول د ائمه ثلاثو دے ځکه مذکوره حدیث پرے دلیل دے۔

د نیت طریقه دا ده چه زړه کې به راولي چه د الله د حکم د وجه نه دا روژه نیسم او پیشمنی ته راپاځیدل او خوراك کول نیت دے۔ او په خوله باندے د نیت الفاظ لوستل بدعت دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، رواه الترمذى وابوداود والنسائى والدارمى وصححه الالبانى فى الصحيحة وفى صحيح ابى داود) و التفصيل هناك وفى التلخيص الحبير) وابوداود والنسائى والترمذى اختاروا وقفه ولكن ابن حزم والبيهقى والدارقطنى اختاروا الرفع قالوا : عبد الله بن ابى بكر من الثقات الاثبات وزيادة الثقة مقبولة و ابن عمر تارة رواه مسنداً ومرة روى عن حفصة) وتفصيله فى المرعاة والمحلى والنووى وصحح المرفوع ابن خزيمة وابن حبان والحاكم (الشوكانى فى السيل الجرار والدرارى المضية)

- 1988(7) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " إِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ

أَحَدُكُمْ وَالإِنَاءُ فِيْ يَدِهِ فَلا يَضَعُهُ حَتّٰى يَقْضِيَ حَاجَتَهُ مِنْهُ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوْدَ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چه یو تن ستاسو اذان واوری او لوښے د هغه په لاس کی وی نو نهٔ دے اړدی تردے چه د هغے نه خپل حاجت پوره کړی۔ (ابوداودؒ)

تشریح : د نداء نه مراد د سهار اذان دے دا چه کله ئے انسان واوری او د روژے اراده ئے وی او په لاس کی ئے لوښے وی یا نوړئ وی نو په اذان کی دننه خوراك کولے شی خو دا هله چه اذان په اول وخت کی شوے وی۔ یا داسے اسلامی حکومت وی چه ټول اذانونه په یو وخت کیږی، د اذان وخت معلوم وی، په پاکستان کی خو د اذان وخت نهٔ دے معلوم، ګډوډ کیږی نو پدے اذانونو انسان خطا کیږی نو احتیاط به کوی۔

(۱) بعض علماء لکه امام بیهقیؒ او خطابیؒ وغیره وائی چه ددے نه مراد اول اذان دے یعنی د تهجدو اذان کوم چه به بلالؓ کولو د صبا د راختلو نه مخکی نو مطلب به دا وی چه کله تاسو د بلالؓ اذان واوریدو نو د خوراك څکاك نه ځان مهٔ بندوئ لکه په بل روایت کی راغلی دی چه خوراك څکاك کوئ تردے چه ابن ام مکتوم اذان (د صبا دپاره) وکړی۔ لیکن دا تاویل د روستو الفاظو (وَالْإِنَاءُ فِيْ يَدِهِ) د وجه نه صحیح نهٔ معلومیږی ځکه چه د لوښی په لاس کی کیدل دلیل دے چه د صبا د راختلو دپاره اذان مراد دے۔

(۲) بعض وائی چه دا په باره د هغه چا کی دے چه اذان واوری او د صبا د راختلو په باره کی ئے شك وی چه آیا شپه به باقی وی او که صبا به راختلے وی نو دهٔ دپاره خوراك څکاك جائز دے ځکه چه اصل د شپے باقی پاتی کیدل دی تردے چه په یقین یا غالب ګمان سره صبا صادق راښکاره شی۔

(۳) بعض وائی چه مقصد د حدیث دا دے چه د خوراك څکاك حراموالے د صبا د راختلو پورے متعلق دے نهٔ د اذان پورے، ځکه کله مؤذن په اذان باندے جلتی وکړی او د فجر د راختلو نه مخکی ئے وکړی ځکه چه نظر ئے کمزورے وی یا بی احتیاطه وی مګر دا حکم به د خاص هغه خلکو دپاره وی چه هغوی د صبا راختل پیژنی او عوام خلك چه د صبا د راختلو معلومات ورته نهٔ کیږی نو هغوی باندے احتیاط لازم دے۔

(٤) بعض وائی دا حکم د ماښام په باره کی دے چه کله اذان واوری او لوښے ئے په لاس

کی وی چہ رتہ ئے وری نو د هغه لوښی نه دے په جلتئ سره روژه ماته کړی او روژه ماتے دے دے ته نه روستو کوی چه لوښے کیدی۔ یعنی پدے کی ترغیب دے چه روژه ماتے وختی او په جلتئ سره کوئ۔

(۵) بعض وائی : دا حدیث د هغه علماؤ د قول مطابق دے چه هغوی وائی د خوراك څکاك د حراموالی په باره کی معتبر د صبا ښه رانبکاره کیدل دی نهٔ نفس راختل نو اذان په اول د صبا راختلو کی مشروع دے او دا د خوراك څکاك نه مانع نهٔ دے۔

علامه ابوالحسن عبید الله المبارکفوری رحمه الله د فتح الودود نه نقل کړیدی چه چا پدے حدیث کی سوچ وکړو دارنگه په حدیث : (کُلُوا وَاشْرَبُوا حَتّٰی یُؤَذِّنَ ابْنُ اُمِّ مَکْتُوْمٍ) او دغه شان په ظاهر د آیت ﴿حَتّٰی یَتَبَیَّنَ لَکُمُ الْخَیْطُ الْاَبْیَضُ مِنَ الْخَیْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ﴾ (البقره :۱۸۷) کی، نو دهٔ ته به معلومه شی چه په روژه کی دارومدار د صبا رانبکاره کیدل دی او دا (خیط ابیض) د صبا د راختلو نه لږ شان روستو وی و مؤذن خو د صبا د راختلو په انتظار کی وی نو پدے وجه هغه په اوائلو د صبا کی اذان کوی نو د اذان په وخت کی خوراك څکاك جائز دے تردے چه صبا ښه ښکاره شی۔ او دا مذهب د جمهورو علماؤ خلاف دے چه د هغوی په نیز روژه د صبا د راختلو سره سمدست شروع کیږی۔ انتهیٰ۔ غوره پدے کی پنځم قول دے بیا څلورم بیا دریم۔

درجة الحديث : اسناده صحیح، ابوداود واحمد والدارقطنی والحاکم والبیهقی وصححه الحاکم علی شرط مسلم ووافقه الذهبی والالبانی فی السلسلة الصحیحة (۱۳۹٤) (۳۸۱/۳)

- 1989(8) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" قَالَ اللهُ تَعَالٰى : أَحَبُّ عِبَادِيْ إِلَيَّ أَعْجَلُهُمْ فِطْرًا ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالیٰ فرمائی : ډیر محبوب د بندګانو زما نه ماته هغه خلك دی چه په جلتئ سره (یعنی د وخت په داخلیدو) روژه ماتے کوی۔ (ترمذیؒ)

تشریح : یعنی هغه څوك الله تعالیٰ ته ډیر ګران دی چه د ماښام روژه وختی ماتوی یعنی د یهودو سره مشابهت نهٔ کوی۔ ددے نه ثابتیږی چه وصال الی السحر افضل نهٔ

دے او نبی ﷺ ددے حکم نه بهر دے هغه ته په وصال باندے ډیر اجر ملاویدو۔

درجة الحديث: ضعيف، اخرجه الترمذي وحسنه واخرجه احمد وابن خزيمة وابن حبان والبيهقي وفي سنده قرة بن عبد الرحمن سيء الحفظ وانظر ارواء الغليل (٤٤٣)

- 1990(9) وَعَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " إِذَا أَفْطَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيُفْطِرْ عَلٰى تَمْرٍ فَإِنَّهُ بَرَكَةٌ فَإِنْ لَّمْ يَجِدْ فَلْيُفْطِرْ عَلٰى مَاءٍ فَإِنَّهُ طَهُوْرٌ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوٗدَ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ. وَلَمْ يَذْكُرْ : " فَإِنَّهُ بَرَكَةٌ "غَيْرُ التِّرْمِذِيِّ

ترجمه: او سیدنا سلمان بن عامر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چه یو تن په تاسو کی روژه ماتوی نو هغه له پکار دی چه په کجوروئے ماته کړی ځکه دا برکت دے، او که کجورے نۀ مونده کوی نو په اُوبو دے ئے ماته کړی ځکه چه دا پاکونکی دی۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ) او دا الفاظ چه (دا برکت دے) صرف ترمذیؒ ذکر کړیدی۔

تشریح: معلومه شوه چه په کجوره کی ډیر خیر دے پدے باندے روژه ماتول افضل دی بیا که هغه نۀ وی نو اُوبه هم کافی دی ځکه چه دا هم بدن پاکوی،

بعض وائی چه دے باندے به روژه ماته کړی تفاولا دے دپاره چه ظاهر او باطن ئے دواړه پاك شی۔

ددے دواړو حکمت دا دے چه کله معده خالی وی نو خوږ شے طبیعت ښه غواړی او طاقتونه ترے ډیره فائده اخلی خاصکر قوت باصره پرے قوی کیږی او هرچه اُوبه دی نو د روژے په وجه سره جګر ته یو قسم وچوالے حاصل شوے وی نو کله چه معدے ته اول اُوبه لاړی شی نو پدے سره جګر د خوراك نه ښه فائده اخلی۔ او اُوبه او کجورو له د زړونو په روغ والی کی یو خاص تاثیر دے چه په هغے باندے صرف د زړونو طبيبان پوهیږی۔ (حافظ ابن القیمؒ)۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، اخرجه احمد والترمذي وابوداود وابن ماجه والدارمي)

- 1991(10) وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُفْطِرُ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ عَلٰى رُطَبَاتٍ فَإِنْ

لَمْ تَكُنْ فَتُمَيْرَاتٌ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تُمَيْرَاتٌ حَسٰى حَسَوَاتٍ مِنْ مَاءٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او سیدنا انس بن مالك ﷛ فرمائي : نبی کریم ﷺ به د مانځه نه مخکی په کجورو باندے روژه ماتوله او که کجورے به نهٔ وے نو په چوارو (وچو کجورو) باندے به ئے ماتوله او که چوهارے به نهٔ وے نو د اوبو نه به ئے یو څو گوتونه وکړل. (ترمذیؒ، ابوداودؒ) او امام ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث حسن غریب دے.

تشریح : یعنی د ماښام د مانځه نه مخکی به ئے روژه ماته کړه پدے کی اشاره ده چه نبی ﷺ به د روژے په ماتولو کی جلتی کوله نو روژه ماتی کی جلتی کول مستحب دی.

رُطَبَاتٍ : په ضمه د راء او فتحه د طاء سره.

تُمَيْرَاتٌ : تصغیر د تمرات دے. یعنی وچے کجورے یعنی چوهارے.

حَسٰى : حَسْوَةٌ : د اوبو گوټ ته وائی. او د خولے ډکوالی ته.

درجة الحديث: اسناده حسن صحيح، ابوداود والترمذی وقال حديث حسن غريب و صححه الالبانی و جعفر بن سليمان صدوق زاهد حسن الحديث لكنه يتشيع.

- 1992(11) وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا أَوْ جَهَّزَ غَازِيًا فَلَهٗ مِثْلُ أَجْرِهٖ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ وَمُحْيِي السُّنَّةِ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ وَقَالَ صَحِيْحٌ.

ترجمه : او سیدنا زید بن خالد ﷛ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه روژه دار ته روژه ماتے ورکړو یا ئے غازی له سامان تیار کړو نو دهٔ دپاره به د هغه په شان اجر وی. (دا روایت بیهقیؒ په شعب الایمان او محی السنةؒ په شرح السنة کی نقل کړے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث صحیح دے).

تشریح : د غازی تیارول دا دی چه هغه ته د سفر اسباب او سامان ورکړی او هغه څه ورکړی چه هغه ورته په جنگ کی محتاج کیږی لکه وسله، اس او نفقه. روژه دار او غازی ئے دواړه په یو اجر کی شمار کړل ځکه چه د دواړو په کار کی د الله د دشمنانو سره

مجاهده ده او جهاد اکبر ئے مقدم کړو۔ (طیبی)۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، البيهقي في الشعب والبغوی فی شرح السنة۔

- 1993(12) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ :كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا أَفْطَرَ قَالَ : " ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوْقُ وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللهُ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او سیدنا ابن عمر رضي الله عنهما فرمائی : نبی ﷺ به چه کله روژه ماته کړه (نو داسے به ئے) وئیل : ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوْقُ وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللهُ۔ یعنی تنده لاړه او رګونه لامدهٔ شو او که الله وغواړی نو اجر ثابت شو۔ (ابوداودٌ)

تشريح : قَالَ : یعنی رسول الله ﷺ به د روژه ماتی نه روستو دا دعا وئیله۔ بعض خلك ئے د روژه ماتی نه مخکی وائی دا غلطه ده۔

الْعُرُوْقُ : جمع د عِرق ده رګونو ته وائی، تنده ئے ذکر کړه ځکه چه د عربو زمکه ګرمه وه نو د طعام په کموالی صبر کیدے شو لیکن تنده باندے نهٔ، یا هر انسان په روژه کی تږے زیات وی او لوږه کمه وی۔

وَثَبَتَ الْأَجْرُ : یعنی ستړی والے او مشقت ختم شو او ثواب حاصل شو او کله چه د انسان مشقت او تکلیف ختم شی او بیا ورته اجر ملاؤ شی نو پدے کی ډیر خوند وی۔

إِنْ شَاءَ اللهُ : دا ورسره وائی دپاره د تبرك او برکت حاصلولو یا پدے وجه چه بنده ته د عمل اجر ورکول په الله باندے لازم نهٔ دی نو پدے کی رد دے په معتزله ؤ باندے یا (ان) په معنیٰ د (اذ) سره دے نو بیا دا د مخکنو ټولو څیزونو سره متعلق دے یعنی دغه کارونه وشول ځکه چه الله تعالیٰ ئے اراده کړے وه۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، ابوداود، والدارقطني والحاكم وابن السني والبيهقي واقره الذهبي وصححه الالباني ايضاً)

- 1994(13) وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ زُهْرَةَ قَالَ : إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا أَفْطَرَ قَالَ : " اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلٰى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ مُرْسَلًا

ترجمه : او معاذ بن زهره ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ چه به کله روژه ماته کړه

داسې به ئې فرمایل : اې الله ! ما خاص ستا دپاره روژه نیولې او خاص ستا په رزق باندې روژه ماتوم۔ (ابوداوَدٌ په طريقه د ارسال نقل کړيدې)

تشريح : مُعَاذِ بْنِ زُهْرَةَ : تقريب کې وائي دا مقبول راوی دې د اوساط التابعين نه او دهٔ يو مرسل حديث ذکر کړيدې نو چا په خطايئ سره په صحابه کرامو کې ذکر کړيدې۔

ددې روايت الفاظ منقول دی او باقي الفاظ ورسره څوك د ځان نه زياتوی لکه داسې وائی : اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ نو دا الفاظ ورسره نشته۔

دا حديث ابوداودٌ مرسل نقل کړيدې ليکن طبرانیٌ په اوسط کې د انسؓ نه او دارقطنیٌ او طبرانیٌ د ابن عباسؓ نه په متصل سند سره ذکر کړيدې ليکن دواړه ضعيف دی البته ددې حديث تائيد کوی نو حسن درجه کې ګرځی (مرعاة)۔

مګر شيخ البانی رحمه الله فرمائی چه هغه دواړه ډير ضعيف دی او شرط د تائيد دا دې چه ډير ضعف به نهٔ وی ځکه چه په حديث د انس کې داود بن زبرقان متروك الحديث دې او اسماعيل بن عمرو متفرد دې او ضعيف هم دې او روايت د ابن عباسؓ کې عبد الملك بن هارون ضعيف جداً دې۔ لهٰذا نورې صحيح دعاګانې شته هغه لوستل پکار دی۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، معاذ بن زهرة مجهول مع ارساله للحديث (ابوداود) وانظر تفصيله في ارواء الغليل) واخرجه ابوداود مع ان ابا معاذ مستور الحال فالحديث خبر ضعيف والادعية الصحيحة غيرها كثيرة)

الفصل الثالث

- 1995 (14) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " لَا يَزَالُ الدِّيْنُ ظَاهِرًا مَا عَجَّلَ النَّاسُ الْفِطْرَ لِأَنَّ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى يُؤَخِّرُوْنَ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : دين (اسلام) به هميشه ښکاره (يا غالب) وی ترڅو چه خلك روژه ماتې په جلتئ سره کوی ځکه چه يهود او نصاریٰ (په روژه ماتولو کې) تاخير کوی۔ (ابوداوَدٌ، ابن ماجهٌ)

تشريح : ظَاهِرًا : اى غَالِبًا وَعَالِيًا ۔ يعنی دين به هميشه غالب او اُوچت وی او په

روایت د ابن ماجهٔ کی دی : (لَا يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ) خلك به همیشه په خیر روان وی ترڅو چه روژه ماتے وختی کوی۔ یهود او نصاریٰ روژه ماتے تر ستورو راګنړ کیدو پورے روستو کوی او پدے زمانه کی شیعه ګانو هم د هغوی تابعداری کړیده، ددے نه معلومه شوه چه څو پورے مسلمانان د الله تعالیٰ د دشمنانو خلاف کوی نو الله تعالیٰ به د دوی سره مدد کوی او د دوی دین به غالبه کوی۔

درجة الحديث : صحيح، رواه ابوداود وابن ماجه وابن خزيمة وابن حبان والحاكم وقال صحيح على شرط مسلم واقره الذهبى وقال المنذرى : واخرجه البخارى ومسلم والترمذى والنسائى وابن ماجه من حديث سهل بن سعد بنحوه انتهى

- 1996(15) وَعَنْ أَبِي عَطِيَّةَ قَالَ: دَخَلْتُ أَنَا وَمَسْرُوقٌ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْنَا: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِيْنَ رَجُلَانِ مِنْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ ﷺ أَحَدُهُمَا يُعَجِّلُ الْإِفْطَارَ وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ وَالْآخَرُ: يُؤَخِّرُ الْإِفْطَارَ وَيُؤَخِّرُ الصَّلَاةَ. قَالَتْ: أَيُّهُمَا يُعَجِّلُ الْإِفْطَارَ وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ؟ قُلْنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ. قَالَتْ : هٰكَذَا صَنَعَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَالْآخَرُ أَبُوْ مُوْسَى. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جناب ابوعطیهٔ وائی : زهٔ او مسروق (رحمه الله) د عائشے خوا ته ورغلو نو مونږ وویل : اے ام المؤمنین ! د محمد ﷺ د ملګرو نه دوه سړی دی یو په جلتئ سره (وختی) روژه ماتے کوی او مونځ (هم) په جلتئ سره کوی۔ او بل روژه ماتے روستو کوی او مونځ (هم) روستو کوی۔ (نو پدے دواړو کی کوم یو غوره دے؟) هغے تپوس وکړو : کوم یو د دوی دواړو نه روژه ماتے په جلتئ سره او مونځ په جلتئ سره کوی؟ مونږ ووېل : عبد الله بن مسعود۔ هغے وفرمایل : همدغه شان کار رسول الله ﷺ کړیدے۔ او بل تن ابوموسیٰ اشعری ﷺ دے۔ (مسلمؒ)

تعارف : ابوعطیه الوادعی الهمدانی الکوفی نوم ئے مالك بن عامر یا ابن ابی عامر یا ابن عوف دے د کبار التابعین نه ثقه دے، ابن معینؒ، ابوداودؒ، ابن سعدؒ او ابن حبانؒ ورته ثقه وئیلے دے د علی رضی الله عنه سره جنګونو کی ملګرے وو او په خلافت د عبد الملك بن مروان کی په حدودو د (۷۰ هـ) کی وفات دے۔

تشریح : مطلب دا دے چه پدے دوه کسانو کی عبد الله بن مسعود ﷺ هغه شخص

وو چه روژه ماتے وختی کول او مونځ هم وختی کول ئے غوره کولو او بل ابو موسی اشعری ﷺ وو چه هغه به دا دواړه کارونه لږ روسته کول نو پدے دواړو کی اول شخص غوره وو ځکه چه هغه په سنت او په عزیمت باندے عمل کولو او دویم شخص په رخصت عمل کولو۔ لکه د عمر او عثمان رضی الله عنهما نه هم په صحیح سند سره نقل دی چه هغوی به روژه ماتے او مونځ ناوخته کولو۔ (دپاره د بیان د جواز کما قال الشافعی رحمه الله)۔ کما فی الموطأ لمالك (٦٣٦) والبیهقی فی الکبریٰ (٤٤٨/١)

دا اختلاف که عملی شی نو دغه ئے تطبیق دے او که دا اختلاف صرف قولی وی نو بیا تطبیق دا دے چه ابن مسعودؓ به په تعجیل کی مبالغه غوره کوله او ابو موسیٰ به عدم مبالغه غوره کوله او د دواړو عمل به یو شان وو۔ مګر اول تطبیق غوره دے۔

بیا بهتره طریقه د سنت موافق دا ده چه مختصر روژه ماتے وشی په کجورو یا اُوبو سره بیا مونځ وشی بیا روسته خوراك وشی او دا د نبی ﷺ فعل وو او پدے کی خیر او برکت زیات دے۔ بعض خلك مونځ ډیر ناوخته کوی۔

- 1997(16) وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ قَالَ: دَعَانِیْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِلَى السَّحُوْرِ فِیْ رَمَضَانَ فَقَالَ: " هَلُمَّ إِلَى الْغَدَاءِ الْمُبَارَكِ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوْدَ وَالنَّسَائِیُّ

ترجمه : او سیدنا عرباض بن ساریه ﷺ فرمائی : زهٔ رسول الله ﷺ په رمضان کی پیشمنی ته راوغوښتم نو داسے ئے وفرمایل: د برکت والا خوراك ته راشه۔ (ابوداودؔ، نسائیؔ)

تشریح : غداء اصل کی هغه خوراك ته وائی چه په اول د ورځ کی خوړل شی یعنی ناشته دلته ئے پیشمنی ته غداء ووئیلو ځکه چه روژه دار خو په اول د ورځ کی خوراك نشی کولے۔ خطابیؔ وائی دے ته ئے غداء پدے وجه ووئیله چه پدے سره روژه دار د ورځے په روژه باندے قوی کیږی لکه ګویا که چه هغه د ورځے په اول سر کی خوراك کړے وی۔ او معلومه شوه چه په پیشمنی کی برکت شته نو ددے کول افضل دی۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح، رواه ابوداود والنسائی وصححه ابن خزیمة وابن حبان

- 1998(17) وَعَنْ أَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" نِعْمَ سَحُوْرُ

الْمُؤْمِنِ التَّمْرُ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل : ډير ښه خوراك د پيشمنى د مؤمن دپاره كجورى دى۔ (ابوداوؒد)

تشريح : يعنى په پيشمنى وخت كى كجورے استعمالول بهترين شے دے ځكه چه پدے وخت كى هم بركت دے او بيا په كجورو كى هم بركت دے نو دوه بركتونه جمع شو۔ او پدے سره په معده كى يو قوت پيدا كيږى۔ يا دا چه پدے كى امت ته تسلى ده چه كه انسان ته په پيشمنى كى نور څه نۀ ملاويږى نو كجورے ورله ډير بهتر شے دے دا دے استعمال كړى ليكن اول قول غوره دے۔

سحور: دلته به په سين باندے صرف فتحه وئيلے شى۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، رواه ابوداود وابن حبان وصححه الالبانى فى السلسلة الصحيحة (٥٦٢) (٩٩/٢)



۳- باب تنزيه الصوم

د روژے د پاك ساتلو بيان۔

يعنى په روژه كى داسے كارونه نۀ كول چه په هغے سره په روژه كى نقصان راځى يا ئے ثواب باطليږى يا بيخى ختميږى۔

الفصل الأول

- 1999(1) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّوْرِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِيْ أَنْ يَّدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چه (د روژے په حالت كى) د دروغو وينا او په دروغو باندے عمل پرينخودو نو د الله هيڅ ضرورت نشته دے ته چه دے خپل خوراك او څكاك پريدى۔ (بخارىؒ)

تشريح : الزُّوْرِ : هر بے باطلے خبرے تـه وائى چه په هغے كى گناه وى، يا كذب او بهتان تـه وائى او پـدے كى هر عيبژن كار داخل دے غيبت، تهمت، كنځلے ښيرے او لعنتونه وئيل۔

وَالْعَمَلَ : يعنى په فاحشو اعمالو عمل نۀ پريدى يا په زُوْر باندے عمل نۀ پريدى۔ دا وريسے څكه وائى چه كله انسان دروغ نۀ وائى باطلے خبرے نۀ كوى ليكن د بدن نه ئے وران اعمال راوځى۔

فَلَيْسَ لِلّٰهِ : يعنى څوك چه په روژه كى بدے خبرے او بد اعمال نۀ پريدى نو الله تعالىٰ دهٔ خوراك او څكاك پريښودو له هيڅ اعتبار نۀ وركوى او څه توجه ورته نۀ كوى او دا كنايه ده د نۀ قبلولو د الله تعالىٰ نه۔ ورنه د الله تعالىٰ هيڅ بندگانو ته هيڅ حاجت نشته او حاجت لفظ ئے نفى كړو څكه چه الله تعالىٰ د بنده نيك عمل ته ډيره توجه وركوى او ډير پرے خوشحاليږى لكه د يو انسان چه د يو شى حاصلولو ته ضرورت وى، پدے كى اشاره ده چه اے بنده ته عمل ډير په ښائسته طريقه ادا كړه ستا عمل ته الله تعالىٰ

ډیره توجه ورکوی۔

بیا دا مسئله مخکې تیره شوه چه د جمهورو په نیز باندې پدې کارونو کولو سره روژه کې نقصان راځي، ثواب ئې کمیږي او بعض علماء وائي لکه ابن الحزمؒ چه که چا په روژه کې ګناه وکړه ددې رجوع قضائي به راوړي او د ثوري او اوزاعي رحمهما الله نه هم دا نقل دي چه په غیبت سره روژه فاسدیږي۔ ظاهر دا ده چه مفتي به ورته د روژې د راګرزولو حکم نۀ کوي مګر ثواب ئې نۀ دې شوې او کوم فضائل چه د روژې دي هغه ورته نۀ حاصلیږي او ددې کارونو تخصیص ئې وکړو دا اګرکه په غیر د روژو نه هم حرام دي لیکن په روژه کې ډیر بد تاثیر لري، ضرور ثواب ته نقصان ورکوي۔

- 2000 (2) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُقَبِّلُ وَيُبَاشِرُ وَهُوَ صَائِمٌ وَكَانَ أَمْلَكَكُمْ لِأَرَبِهٖ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ به (خپلې بیبیانی) ښکلولې او (هغوی به ئې) د خپل بدن سره یو ځای کولې پداسې حال کې چه روژه به وه او هغه ستاسو نه د خپل شهوت دپاره ډیر کنټرول (قابو) والا وو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : وَيُبَاشِرُ : یعني نبي علیه السلام به د بعضو بیبیانو سره بدن لګولو لکه اننګې یو بل سره وجنګوي یا نور بدن ولګوي، یا ګوتې وروړي او ددې نه مراد جماع نۀ ده، علامه شوکاني رحمه الله وائي چه پدې حدیث کې د مباشرت نه مراد عام دې ښکلولو وغیره کارونه کول ترڅو چه د جماع حد ته نۀ وي رسیدلي نو دا جائز دي نو د (یباشر) روستو د (یقبل) نه ذکر کول ذکر د عام دې روستو د خاص نه، ځکه چه مباشرت په اصل کې دوه څرمنې یو بل سره لګولو ته وائي۔

لِأَرَبِهٖ : ارب په فتحه د همزه او راء سره : حاجت د نفس ته وائي دلته ترې مراد د جماع حاجت دې۔ ځیني وائي چه په کسره د همزه سره (إرب) حاجت او ذکر (اندام مخصوصه) دواړو ته وائي۔ لیکن دا دویم تفسیر ئې د ادب نه خلاف دې او د عائشې د شان سره مناسب نۀ دې خاصکر چه د سرو مخکې ئې ذکر کوی کما قال القاري والتوربشتي)

وَكَانَ أَمْلَكَكُمْ لِأَرَبِهِ : ددے دوه مطلبه دی (۱) يو دا چه عائشه رضی الله عنها فرمائی: چه رسول الله ﷺ د خپل شهوت ډیر کنټرول کونکے وو او بیا به هم هغه په حالت د روژه کی خپلی بیبیانی ښکلولے او تاسو خو کمزوری یئ نو ستاسو دپاره هم جائز دی۔ لکه دا د عائشهؓ د فتوی نه معلومیږی چه مسروقؒ ته ئے فتویٰ ورکړه چه د روژه دار دپاره سویٰ د جماع نه هرڅه جائز دی۔ (عبد الرزاق باسناد صحیح)۔

او دغه شان فتویٰ ئے عبد الله بن عبد الرحمن بن ابی بکر ته هم ورکړے وه (موطأ مالك عن ابی النضر)

(۲) دویم دا چه عائشهؓ امت منع کوی د ښکلولو نه فرمائی چه رسول الله ﷺ ځکه په روژه کی ښکلول کړیدی چه هغه د خپل حاجت کنټرول کونکے وو د هغه نه جماع نهٔ واقع کیدله او تاسو خو کمزوری یئ که ښکلول وکړئ نو کیدے شی چه په ځان مو کنټرول ونشی او جماع درنه واقع شی اول مطلب ئے ډیر غوره دے۔

د مباشرت حکم

د جماع نه په غیر د روژه دپاره په ښکلولو او مباشرت کی اختلاف دے :

(۱) اول قول دا دے چه دا مطلقاً مکروه ده او دا د مالکیه ؤ مشهور قول دے او ابن ابی شیبهؒ په صحیح سند سره د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه نقل کړیدے۔

(۲) دویم قول : دا حرامه ده او دلیل ئے دا دے چه آیت کی دی : ﴿ فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ ﴾ (البقره :۱۸۷) یعنی د شپے مباشرت جائز دے او د ورځے ناجائز شو۔

ددے **جواب** دا دے چه نبی ﷺ په خپل عمل سره ددے آیت تشریح کړیده چه د مباشرت نه مراد جماع ده او هرچه په ورځ د روژه کی کوم مباشرت او تقبیل کیږی نو هغے نه مراد ماسویٰ د جماع نه دی ځکه چه نبی ﷺ د روژے په ورځ کی دغه تقبیل او مباشرت کړیدے۔

او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه هم دا فتویٰ ده چه څوك په روژه کی ښکلول وکړی نو روژه ئے ماته ده (مجمع الزوائد (۳/۱٦٦) والبیهقی (٤/۲۳٤)۔

(۳) دریم قول : دا مطلقاً مباح دی۔ حافظؒ وائی : دا صحیح منقول دی د ابو هریرهؓ نه او دا قول د سعیدؒ او سعد بن ابی وقاصؓ او یو ے ډلے دے بلکه اهل ظاهرو (یعنی ابن حزمؒ) دا مبالغه کړیده چه دا مستحبه ده او د سنت طریقو نه یو سنت دے او د الله د

نزديكت سبب دے)۔

(٤) څلورم قول دا دے چه پدے کی تفصیل دے د ځوان دپاره مکروه ده او د بوډا دپاره مباح ده او دا مشهور قول د ابن عباسؓ دے مالك او سعيد بن منصورؒ وغيره ذکر کړيدے او پدے باره کی درے مرفوع احاديث راغلی دی :

(١) يو ابوداودؒ راوړيدے چه روستو به د ابو هريرهؓ نه په فصل ثانی کی ذکر شی۔

(٢) دويم روايت امام احمد (٢/١٨٥) د عبد الله بن عمرو بن العاصؓ نه راوړيدے چه مونږ د نبی ﷺ سره ناست وو يو ځوان راغلو وے ويل : اے د الله رسوله ! آيا زهٔ ښکلول کولے شم کله چه زهٔ روژه يم ؟ نبی ﷺ وفرمايل : نه، دے وائی : يو بوډا راغے وے ويل: آيا زهٔ چه روژه يم ښکلول کولے شم ؟ وے فرمايل: آؤ، نو مونږ يو بل ته وکتل نو نبی ﷺ وفرمايل : زهٔ پوهه شوم چه تاسو يو بل ته ولے کورئ، يقيناً بوډا سړے د خپل ځان مالك وی (کنټرول والا وی)۔ (فيه ابن لهيعة فاسناده حسن– البانی) ۔

(٣) حديث : عائشه رضی الله عنها فرمائی: (اِنَّ النَّبِیَّ ﷺ رَخَّصَ فِی الْقُبْلَةِ لِلشَّيْخِ وَهُوَ صَائِمٌ وَنَهٰی عَنْهَا الشَّابَّ وَقَالَ : اَلشَّيْخُ يَمْلِكُ اَرَبَهٗ والشابُّ يُفْسِدُ صَوْمَهٗ) ۔

(نبی ﷺ د بوډا دپاره په ښکلولو کی رخصت ورکړيدے کله چه دے روژه وی او ځوان ئے ددے نه منع کړيدے او وئيلی ئے دی چه بوډا د خپل حاجت (شهوت) مالك وی او ځوان پدے سره خپله روژه خرابوی)۔ (البيهقی ٤/٢٣٢) وقال الزرقانی والقسطلانی باسناد صحيح وحسنه الالبانی)۔

(٥) پنځم قول دا دے چه که انسان د خپل ځان په کنټرول کی وی نو قُبله (ښکلول) ورله جائز دی او که نهٔ وی نو ندی جائز۔ لکه پدے روايت د عائشه کی دے ته اشاره ده،

(٦) قول : په نفلو کی مباح ده او په فرضو کی مکروه ده او دا روايت ابن وهبؒ د امام مالك نه نقل کړيدے۔ صاحب د مرعاة (٦/٤٨٣) دا شپږ اقوال نقل کړيدی او بيا ئے وئيلی دی چه پدے اقوالو کی ډير معتدل او قوی قول د امام شافعیؒ او د هغه د موافقينو دے چه فرق وکړے شی د هغه چا ترمينځ چه د خپل ځان اختيار لری او په مينځ د هغه چا کی چه اختيار نهٔ لری او پدے باندے د مختلفو احاديث جمع او تطبيق رازی او دا تفريق د مخکنو دواړو حديثونو د عبد الله بن عمرو بن العاص او د عائشے نه معلوميږی۔ او د شيخ او د شاب فرق هم دے ته راجع کيږی ځکه چه يو کنټرول لری او

بل ئے نۀ لري۔

فائده : هرکله چه د روژه دار دپاره قُبله او مباشرت جائز شو نو که د هغه نه مني یا مذي خارج شي آیا پدے سره به د هغه روژه خرابیږي او قضاء به راوړي او که نۀ ؟ نو کوفیین او امام شافعي رحمه الله فرمائي: چه کله ئے انزال وشو نو د روژے قضاء به راوړي او که مذي ترے خارجه شوه نو قضاء پرے نشته۔

(۲) امام مالك او اسحاقؒ وائي : که مباشرت وکړي یا ښکلول وکړي یا نظر وکړي او انزال ئے وشي یا ترے مذي لاړه شي نو پدے تولو کي به قضاء هم لازمه وي او کفاره هم مگر په صورت د مذي تللو کي به صرف قضاء راوړي۔ ابن قدامه رحمه الله وائي : که ښکلول ئے وکړل او انزال ئے وشو نو روژه ئے ماته ده په اتفاق سره۔ لیکن د اتفاق نقل کول ئے غلط دي ځکه چه ابن حزمؒ پدے کي اختلاف کړیدے۔

(۳) هغه وئیلي دي چه روژه ئے نۀ ماتیږي اگرکه انزال ئے وشي او دا خبره ددۀ د دلائلو په اعتبار سره قوي ده بلکه هغه لا دا هم وئیلي دي چه که قصداً مني خارجه کړي یا غیر اختیاري ترے مني لاړه شي بغیر د جماع کولو نه نو هم ددۀ روژه نۀ ده ماته (المحلی ٣٤٢/٤) او دا قول علامه شوکاني او شیخ الباني رحمهما الله غوره کړیدے او شیخ البانيؒ په تمام المنه کي په سید سابقؒ صاحب د فقه السنه باندے رد کړیدے چه هغه وئیلي دي چه خروج المني سره روژه ماتیږي هغه وئیلي دي چه هیڅ دلیل په ماتیدلو باندے نشته او دا انزال او خروج المني د جماع سره پیوسته کول ظاهر نۀ دي۔ (تمامه المنه : ٤١٨) او دا قول د احنافو نه صاحب د درمختار په باب مفسدات الصوم (٣٩٩/٢) کي هم کړیدے۔

او دغه شان حکم د هغه چا هم دے چه هغه استمناء بالید وکړي اگرکه دا کار حرام دے لیکن ظاهر دا ده چه پدے سره روژه نۀ ماتیږي، دلیل په ماتیدلو باندے نشته او قیاس ئے په جماع باندے قیاس مع الفارق دے چه تفصیل ئے په فتاوی الدین الخالص (٢٨٨/٨) او محلیٰ (٢٧٥/٦) او تمام المنه (٤١٨) کي وگوره۔او روستو د حدیث د عائشےؓ نه معلومیږي چه جنابت د روژے سره منافي نۀ دے۔

او ددے روایت د عائشے رضی الله عنها نه معلومیږي چه د کوم انسان په ځان باندے کنټرول نۀ وي نو هغه له د خپلے بي بي خوا ته نزدے کیدل نۀ دي پکار او نۀ ښکلول

پکار دی سداً للذریعه ځکه کیدے شی چه په جماع کی به واقع شی ځکه چه څوك د چراګاه خوا ته څروِل کوئ کیدے شی چه چراګاه کی څروِل وشی۔

مسئله : آیا په ستنه لګولو (انجکشن کولو) باندے روژه ماتیږی ؟ نو ظاهر دا ده چه په انجکشن سره روژه نۀ ماتیږی برابره ده چه د رګ وی او که د غوښے ځکه چه پدے سره معدے ته څه نۀ داخلیږی او د ډراپ (سیرم) نه ځان ساتل پکار دی ځکه چه هغه ډیرے اُوبه وی چه د هغے اثر معدے ته ضرور رسی۔

- 2001(3) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُدْرِكُهُ الْفَجْرُ فِيْ رَمَضَانَ وَهُوَ جُنُبٌ مِنْ غَيْرِ حُلْمٍ فَيَغْتَسِلُ وَيَصُوْمُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی: په رمضان کی به په رسول الله ﷺ باندے صبا راتللو او هغه به د خوب نه بغیر (یعنی د بیبیانو په وجه) جنب (یعنی د ناپاکئ په حالت کی) وو نو هغه به (مانځه ته) غسل کولو او روژه به ئے نیوله۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : یعنی په بعض اوقاتو کی به نبی علیه السلام د جماع په وجه په رمضان میاشت کی د شپے نه جنب وو او بیا به ئے مانځه ته غسل وکړو او روژه به شو نو دا دلیل دے چه د هغه چا روژه صحیح ده چه د جنابت (ناپاکئ) په حالت کی په صبا کی داخل شی د احتلام په وجه یا د خپل اهل د جماع په وجه او دا مذهب د جمهورو دے او ائمه اربعه هم ددے قائل دی۔ او ددے علماؤ سره نور هم ډیر دلائل دی کما فی المرعاة (۴۸۶/۶)

(۲) ابو هریره رضی الله عنه به وئیل: څوك چه صبا کړی او دے په حالت د جنابت کی وی نو ددۀ روژه نۀ کیږی۔

(۳) حسن بصریؒ او سالم بن عبد اللهؒ فرمائی : روژه به پوره کړی او بیا به قضاء راوړی۔

(٤) امام نخعیؒ وائی: په فرضو کی به قضاء راوړی او په نفلو کی پرے قضاء نشته۔

(٥) عروه او طاوس رحمهما الله وائی : که په رمضان کی په خپل جنابت پو هه شو او غسل ئے ونکړو تردے چه صبا پرے راوختلو نو روژه ئے ماته شوه او که پو هه نۀ وو نو بیا روژه دار دے (ابن قدامهؒ)

حافظ ابن حجرؒ فرمائی چه د ابو هریره ﷺ په قول باندې بعض تابعین باقی پاتی شوی وو لکه ترمذیؒ هغه بغیر د نوم اخستلو نه ذکر کړیدی بیا دا اختلاف ختم شو او ددې په خلاف باندې اجماع وشوه چه روژه ئې نهٔ ماتیږی۔ آه۔

ابو هریره ﷺ به اول کې دغه شان فتوئ ورکوله او دا به ئې وئیل چه نبی ﷺ فرمائی: (کله چه د صبا دپاره اذان وشی او یو تن په تاسو کې جنب وی نو په دغه ورځ دې روژه نهٔ نیسی) (احمد وابن حبان) بسند صحیح)۔

لیکن عبد الرحمن بن الحارث رحمه الله د عائشےؓ او ام سلمےؓ نه ددې په باره کې تپوس وکړو نو هغوی ورته د نبی علیه السلام عمل ذکر کړو چه نبی علیه السلام به په غیر د خوب لیدلو نه د جنابت په حالت کې صبا کولو او بیا به ئې روژه نیوله۔ نو هر کله چه عبد الرحمن ابو هریره ته دا قصه ذکر کړه چه هغوی خو داسې وائی نو ابو هریره ﷺ وفرمایل: هغوی پدې مسئله ښه پوهیږی۔

او په صحیح مسلم (٢٦٤٥) او نسائی وغیره کې دی چه ابو هریره ﷺ وفرمایل: ما دا مسئله د رسول الله ﷺ نه خپله نهٔ ده آوریدلې بلکه ما د فضل بن عباسؓ نه آوریدلې چه هغه به داسې وئیل۔

نو جمهور علماء د دغه حدیث د ابو هریرهؓ نه داسې جواب کوی چه دغه منسوخ دې او ابو هریره ﷺ د هغې نه رجوع وکړه کله چه ورته د عائشےؓ او د ام سلمےؓ حدیث ورسیدلو او بیائې د دوی دواړو په وینا باندې فتوئ ورکړه، ابن خزیمه رحمه الله فرمائی : دغه حدیث منسوخ دې ځکه چه الله تعالیٰ د روژو د فرض کیدو په شروع کې د روژې په شپه د خوراك څکاك او جماع نه د خوب نه روستو منع کړې وه۔ نو کیدې شی چه حدیث د فضل بن عباسؓ په دغه وخت کې وئیل شوې وی بیا الله تعالیٰ دا تول تر طلوع الفجر پورې مباح وګرځول نو د جماع کونکی دپاره دا جائز دی چه تر راختلو د صبا پورې جماع وکړی نو ددې نه دا لازمیږی چه ددهٔ غسل به د صبا د راختلو نه روستو واقع کیږی نو دا دلیل شو چه حدیث د عائشےؓ ناسخ دې د حدیث د فضلؓ دپاره او فضلؓ او ابو هریرهؓ ته ناسخ نهٔ وو معلوم پدې وجه ابو هریرهؓ به خپله فتوئ ورکوله بیا ئې ترې رجوع وکړه کله چه ورته ناسخ ورسیدو۔

او دا د رسول الله ﷺ خصوصیت هم نهٔ دې بلکه هغه یو صحابی ته داسې فتوئ

وركړه چه په ما باندې د مانځه وخت راځي او زۀ جنب یم نو روژه نیسم هغه صحابي وفرمايل : يا رسول الله ! تۀ خو زمونږ په شان نۀ ئې، تا ته الله تعالیٰ مخکنی روستنی ټول ګناهونه معاف کړیدي نو نبي ﷺ وفرمایل : قسم په الله زۀ امید لرم چه زۀ په تاسو کې د الله نه زيات يريږم او ډير ښه پوهه یم په هغه څه چه زۀ ترې ځان ساتم۔ (مسلم، مالك، ابوداود، نسائي، ابن خزيمه وابن حبان)

- 2002 (4) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ اِحْتَجَمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ وَاحْتَجَمَ وَهُوَ صَائِمٌ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي: نبي كريم ﷺ به ښکر لګولو پداسې حال کې چه هغه به په حالت د احرام کې وو او ښکر به ئې لګولو پداسې حال کې چه روژه به وو۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : اِحْتَجَمَ : یعني حجامۃ ئې طلب کړو حِجامة په کسره د حاء سره د حجم نه دې چوپلو او راښکلو ته ويلې شي۔ يُقَالُ حَجَمَ الصَّبِيُّ ثَدْيَ اُمِّهٖ۔ عرب وائي : ماشوم د مور سینه په خولې سره راښکله۔ او ددې نه مِحْجَم اخستې شويدې چه دا هغه آله ده (ښکر دې) چه په هغې کې وينه جمع کيږي په وخت د راښکلو د وینه کې او دې کار ته حِجامة وائي په کسره د حاء سره يعني ښکر لګول۔

پدې حدیث کې مسئله دا ده چه رسول الله ﷺ په حالت د احرام او په حالت د روژه کې ښکر لګولې دې، نو ددې نه ثابته شوه چه محرم سرې له ښکر لګول جائز دي۔ او تفصيل د مسئلې به په كتاب الحج باب ما يجتنبه المحرم کې راشي ان شاء الله تعالیٰ۔

مسئله : په ښکر لګولو سره روژه ماتیږي ؟ (١) نو جمهور علماء (چه د دوی نه مالكؒ، شافعيؒ، ابوحنيفةؒ دي) وائي چه کله د بدن کمزورتيا ته خطره نۀ وي نو ښکر لګول جائز دي او پدې سره بيخي روژه نۀ ماتيږي او د دوی دلیل دا حدیث د ابن عباسؓ دې۔ (٢) عطاء، اوزاعي، احمد، اسحاق، ابوثور، ابن خزيمه، ابن المنذر، ابوالوليد النيسابوري او ابن حبان رحمهم الله وائي چه د ښکر لګونکي او لګولې شوي دواړو روژه ماتيږي او په دوی دواړو باندې قضاء واجب ده او عطاءؒ پکې شذوذ کړيدې هغه کفاره هم واجبه کړيده۔ دوی دليل نيولې په روستو فصل ثاني کې راتلونکي حدیث د

شداد بن اوس باندے چه (أَفْطَرَ الْحَاجِمُ وَالْمَحْجُوْمُ) چه د ښکر لګونکی او لګولے شوی دواړو روژه ماته شوه۔

د اول قول والا چه قائل دی په عدم افطار باندے ددے حدیث د (أَفْطَرَ الْحَاجِمُ وَالْمَحْجُوْمُ) نه په دوه طريقو جواب ورکړيدے (۱) يو دا چه د نسخے دعوه ئے کړيده۔

ابن عبد البر رحمه الله فرمائی : دا حديث د شدادؓ منسوخ دے په حدیث د ابن عباسؓ باندے ځکه چه حديث د شدادؓ وغيره کی دا خبره ده چه نبی ﷺ په دۀ باندے تیر شو په بقيع کی په کال د فتح د مکه باندے او چه اتلس ورځے د رمضان تيرے شوے وے نو دا ئے ووئیل چه (أَفْطَرَ الْحَاجِمُ وَالْمَحْجُوْمُ) او ابن عباسؓ د رسول الله ﷺ سره په حجة الوداع کی حاضر وو او د هغه حجامت ته هم حاضر شوے کله چه هغه په روژه کی حجامت کولو آه۔ او دا خبره د امام شافعیؒ نه بیهقیؒ په «معرفة السنن والآثار» او السنن الكبرىٰ (٤/٢٦٨) کی نقل کړيده۔ او حجة الوداع روسته د فتح د مکے نه۔

ليكن پدے خبره باندے دا اعتراض دے چه ۱- حدیث د ابن عباسؓ کی فعل د نبی ﷺ ذکر دے او فعل د نبی ﷺ د هغه د قول دپاره ناسخ نشی واقع کيدے۔

۲- دا رنګه پدے وخت کی نبی ﷺ په حجة الوداع کی په سفر کی وو او د مسافر دپاره خو دا جائز دی چه خپله روژه په حجامت او خوراك او څكاك او جماع سره ماته کړی۔

۳- دا رنګه په حديث د شداد کی وخت هم مختلف نقل شويدے په روايت د بيهقیؒ کی دی چه دا په کال د فتح د مکه کی وو او نبی ﷺ په دغه وخت کی په مکه کی وو او په روايت د ابو داود او بيهقیؒ کی دی چه دا په بقيع کی وو او هغه خو په مدينه کی دے نو په دعوه د نسخ کی نظر دے۔

نو راجح تطبيق هغه دے چه کوم علامه شوكانیؒ کړيدے چه هغه وائی حدیث د ابن عباسؓ ددے قابل نۀ دے چه احاديث د افطار منسوخ کړی ځکه چه روستوالے نۀ دے معلوم، آؤ حدیث د ابن ابی ليلیٰ او انس او ابو سعيد دلالت کوی چه حجامة حرام نۀ دے او نۀ د ښکر لګونکی او ښکر لګولے شی روژه ماتونکے دے نو جمع ددے حدیثونو به داسے وکړے شی چه حجامت مکروه دے په كراهت تنزيهی سره په حق د هغه چا کی چه د حجامت په وجه ئے بدن کمزورے کیږی او سخت كراهت به وی په هغه وخت کی چه کله ددۀ ضعف داسے حد ته ورسيږی چه سبب د روژه ماتولو وګرزی او د هغه

چا په حق کی به حجامت مکروه نهٔ وی چه پدے سره نهٔ کمزورے کیږی۔
بیا وائی : علی کل حال د روژه دار دپاره د حجامت نه په روژه کی ځان ساتل غوره دی نو د (اَفطَرَ الحَاجِمُ وَالمَحجُومُ) معنیٰ به ددے حدیثونو په وجه داسے کوو چه حجامت کونکے په خطره کی دے چه د وینی د رابنکلو په وجه به ئے څه شے خیټے ته ورسیږی۔ او د حجامت کړے شوی روژه پدے وجه ماتیږی چه د هغه بدن کمزورے کیږی نو دا سبب د روژے ماتولو ګرځی۔ لکه دا تاویل به علامه فراء بغوی رحمه الله روستو فصل ثانی کی ذکر کړی۔ او د ډیرو صحابه کرامؓ نه داسے نقل دی چه هغوی به په روژه کی حجامت کولو۔
فائده : د جنب په حکم کی حائضه او نفاسه هم ده چه کله ئے وینه د شپے ودریږی بیا د غسل کولو نه مخکی صبا راوخیژی نو دا به هم روژه نیسی پدے شرط چه د شپے نه ئے نیت کړے وی او دا د ټولو علماؤ مذهب دے سوئ د بعضو سلفو نه چه د هغوی نه دا نقل شویدی چه ددے روژه صحیح نهٔ ده۔
علامه ابن قدامه رحمه الله فرمائی : چه د حائضے حکم د جنب په شان دے پدے شرط چه د شپے وینه د صبا د راختلو نه مخکی ودریدلی وی ځکه که یو جزء د هغے نه په ورځ کی موجود شو نو روژه ئے فاسده ده او قضاء به راوړی او بل شرط ورله دا دے چه د وینی د ودریدو نه پس به ئے د شپے نه ورله نیت کړے وی ځکه چه د هغه چا روژه نهٔ کیږی چه د شپے نه د روژے دپاره نیت ونکړی۔ یا د دغه صبا نه مخکی هم نیت صحیح دے (لِمَنْ لَمْ يُجْمِعِ الصِّيَامَ مِنَ اللَّيْلِ) لفظ پرے دلیل دے۔
اوزاعیؒ، حسن بن حیؒ، عبد الملك بن ماجشونؒ او عنبریؒ وائی چه قضائی به راوړی برابره ده چه په غسل کی ئے کوتاهی کړی وی او که نهٔ لیکن د دوی دا خبره ضعیفه ده ځکه چه زنانه په ورځ کی پاکه ده صرف غسل پرے پاتے دے نو د ورځے په اجزاؤ کی غسل ادا کولے شی او روژه ئے صحیح ده لکه د جنابت په شان الخ۔

- 2003 (5) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ نَسِيَ وَهُوَ صَائِمٌ فَأَكَلَ أَوْ شَرِبَ فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللهُ وَسَقَاهُ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: چا نه چه د روژے

په حالت کې هیره وشي او (په هیره سره) خوراك یا څکاك وکړي نو هغه دې روژه پوره کړي ځکه چه الله تعالیٰ هغه ته خوراك او څکاك ورکړو۔ (یعنی دا د الله د طرفنه دی نو الله پرې رانیول نهٔ کوي)۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : دا حدیث دلیل دې چه څوك په هیره سره روژه ماته کړي نو ددهٔ روژه نهٔ ده ماته او قضاء پرې لازمه نهٔ ده او دا مذهب د جمهورو امامانو د امت دې لکه شافعی، احمد، ابو حنیفه، اسحاق، اوزاعی، ثوری، عطاء، او طاووس رحمهم الله۔

۲- امام مالك رحمه الله فرمائی : په نسیان سره روژه ماته ده او په سړی باندې قضاء راوړل واجب دی او دا قول د امام مالك د شیخ (ربیعة الرأیؒ) او ټولو شاګردانو د مالك دې لیکن هغوی د فرض او د نفلو فرق کړیدې۔

مګر د امام مالكؒ قول ددې حدیث د ظاهر نه خلاف دې کیدې شی چه هغه ته به دا حدیث نهٔ وی رسیدلې، او د جمهورو دلیل دا حدیث الباب دې چه پدې کی نبی ﷺ حکم کړیدې په اتمام باندې او ګوم شې چه دغه شخص پوره کوی هغې ته ئې روژه ووئیله او ددې روژې نه مراد حقیقت شرعی دې او د روستو (فَاِنَّمَا اَطْعَمَهُ اللّٰهُ وَسَقَاهُ) د ذکر کولو نه معلومیږی چه روژه صحیح ده ځکه چه پدې کی دا خبردارې ورکړې شویدې چه ګوم کار ددهٔ نه صادر شویدې نو ددې نسبت ئې دهٔ ته ونکړو بلکه الله ته ئې نسبت وکړو او که د روژې د ماتیدلو حکم وکړو نو بیا خو به نسبت دهٔ ته وشی۔

(ابن دقیق العید ۲/۲۱۲)

او دغه شان حکم د خطائی هم دې چه کله انسان په روژه کی خولې ته اُوبه اچوی یا پوزې ته او په خطاء سره اُوبه تیری شی نو روژه نهٔ ده ماته، لکه په صحیحینو کی راغلی دی چه څه صحابه کرامؓ به په روژه کی خوراك څکاك کولو تردې چه دوی ته به سپین تار د تور تار نه ښکاره شو یعنی تارونه به ئې د بالخت لاندې ایښودی وو او هغې ته به ئې وخت په وخت کتل او دا د دوی اجتهاد وو او نبی ﷺ دوی ته په قضاء راوړلو باندې حکم نهٔ وو کړې نو دوی ته شرعی حکم نهٔ وو معلوم پدې وجه په خطاء سره ئې روژه خوړلې وه۔

عمر فاروق ؓ روژه ماته کړه ځکه وریځ راغلې وه بیا لږ ساعت روستو نمر را ښکاره شو نو عمر فاروقؓ وفرمایل : مونږ به قضائی نهٔ راوړو ځکه چه مونږ د ګناه د وجه نه د

حق نه نهٔ یو اوړیدلی۔ انظر مجموع الفتاوی لشیخ الاسلام ابن تیمیه (۲۰/۵۷۲)
ابن ابی شیبهٔ د حسنؒ او عطاءؒ او جابر بن زیدؒ نه نقل کړیدی چه دوی وئیلی دی : کله چه یو انسان اَودس کوی او د هغه حلق ته اُوبه ننوزی نو هیڅ شے پرے نشته او روژه دے پوره کړی۔ (مصنف ابن ابی شیبة ۲/۷۰)
او حدیث کی دیٔ : (اِنَّ اللّٰهَ وَضَعَ عَنْ اُمَّتِیَ الْخَطَأَ وَالنِّسْیَانَ وَمَا اسْتُکْرِهُوْا عَلَیْهِ) (ابن ماجه، حاکم، دارقطنی وابن حبان) باسناد صحیح)۔
الله تعالیٰ زما د امت نه خطائی او هیره او هغه شے چه دوی باندے پرے زور وکړے شی معاف کړیده۔ نو کوم احناف چه د نسیان او خطاء فرق کوی چه هغوی د خطاء په صورت کی قضاء وائی نهٔ د نسیان په صورت کی نو غلطه ده۔

- 2004 (6) وَعَنْ أَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ قَالَ :بَیْنَمَا نَحْنُ جُلُوْسٌ عِنْدَ النَّبِیِّ ﷺ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: یَا رَسُوْلَ اللهِ هَلَکْتُ. قَالَ : " مَالَكَ؟ " قَالَ : وَقَعْتُ عَلَى امْرَأَتِیْ وَأَنَا صَائِمٌ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " هَلْ تَجِدُ رَقَبَةً تُعْتِقُهَا ؟ ". قَالَ: لَا قَالَ : " فَهَلْ تَسْتَطِیْعُ أَنْ تَصُوْمَ شَهْرَیْنِ مُتَتَابِعَیْنِ ؟ ". قَالَ:لَا، قَالَ :" هَلْ تَجِدُ إِطْعَامَ سِتِّیْنَ مِسْکِیْنًا ؟". قَالَ: لَا. قَالَ : " اِجْلِسْ " وَمَکَثَ النَّبِیُّ ﷺ فَبَیْنَا نَحْنُ عَلٰی ذٰلِكَ أُتِیَ النَّبِیُّ ﷺ بِعَرَقٍ فِیْهِ تَمْرٌ –وَالْعَرَقُ الْمِکْتَلُ الضَّخْمُ– قَالَ : " أَیْنَ السَّائِلُ ؟ ". قَالَ: أَنَا. قَالَ : "خُذْ هٰذَا فَتَصَدَّقْ بِهٖ". فَقَالَ الرَّجُلُ: أَعَلٰی أَفْقَرَ مِنِّیْ یَا رَسُوْلَ اللهِ؟ فَوَاللهِ مَا بَیْنَ لَابَتَیْهَا یُرِیْدُ الْحَرَّتَیْنِ أَهْلُ بَیْتٍ أَفْقَرُ مِنْ أَهْلِ بَیْتِیْ. فَضَحِكَ النَّبِیُّ ﷺ حَتّٰی بَدَتْ أَنْیَابُهُ ثُمَّ قَالَ : " أَطْعِمْهُ أَهْلَكَ " مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی : (یو ځل) مونږ د نبی کریم ﷺ سره ناست وو چه پدے کی یو سړے هغه ته راغلو نو وے ویل : اے د الله رسوله ! زهٔ هلاك شوم۔ نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل: څه وشو؟ هغه وویل : زهٔ په ښځه باندے واقع شوم (هغے سره مے نزدیکت وکړو) پداسے حال کی چه زهٔ روژه وم۔ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : آیا تهٔ یو غلام مومے چه آزاد ئے کړے؟ هغه وویل : نهٔ، نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل: آیا تهٔ طاقت لرے چه دوه میاشتے پرله پسے روژه ونیسے؟۔ هغه وویل : نهٔ، نبی کریم

ﷺ وفرمايل : آيا تهٔ شپيته مسكينانو ته خوراك وركول مومے؟ هغه ووېل : نهٔ، نبي كريم ﷺ وفرمايل : كېنه، بيا نبي كريم ﷺ څه وخت تير كړو نو پدے كې مونږ په دغه حالت كې وو چه نبي كريم ﷺ ته يو عَرَق راغلو چه په هغې كې كجورے وے او عَرَق غټے پچےٴ ته وائي (چه د كجورو د پټو نه جوړه شوې وي)، وے فرمايل: سائل چرته دے؟ هغه ووېل : زهٔ دا حاضر يم، ورته ئے وفرمايل : دا واخله او دا (د الله په لاره كې په محتاجانو باندے) صدقه كړه۔ هغه سړي ووېل : اے د الله رسوله ! آيا (زهٔ دا خيرات كړم) په ډير فقير باندے د خپل ځان نه، (يعني زهٔ خو خپله د تولو نه زيات محتاج يم، نورو ته ئے څنګه وركړم؟) قسم په الله نشته په مابين د دواړو طرفونو يعني خوړونو د مدينه كې يو داسے كورنۍ چه زما د كورنۍ نه زيات محتاج وي، نو نبي كريم ﷺ په خندا شو تردے چه انياب غاښونه ئے ښكاره شو بيا ئے وفرمايل: (ښه) دا (كجورے) په خپل اهل وعيال باندے وخوروه۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : جَاءَهُ رَجُلٌ : ددے رجل نه بعض وائي سلمه بن صخر البياضي دے ليكن صحيح خبره دا ده چه د هغه جدا واقعه ده چه هغه د خپلے ښځے نه په رمضان كې ظهار كړے وو بيا ئے د شپے ورسره نزديكت وكړو او دا واقعه د يو اعرابي ده او دا دواړه د بني بياضه قبيلے نه وو او دواړه يو شان غريبانان وو او د دواړو د مسئلو حكم او كفاره هم يو شان وه۔ نو ځكه په بعض علماؤ باندے التباس راغلے دے۔

هَلَكْتُ : د بخاري په يو روايت كې داسے نقل دي چه دهٔ ووېل :(اِحْتَرَقْتُ) زهٔ وسوزېدم۔ بعض علماؤ ددے الفاظو نه دا دليل نيولے دے چه دے اعرابي جماع په قصد او ارادے سره كړے وه او دا نسيان نهٔ وو ځكه هلاكت او احتراق كنايه ده د هغه عصيان (نافرماني) نه چه بنده هلاكت او سوزولو ته رسوي نو ګويا كه متوقع ئے د واقع په شان ګرزولے دے او بيا ئے دا مبالغه كړے چه تعبير ئے ددے نه په لفظ د ماضي سره كړے۔ نو بناء پدے باندے دا دليل نشي نيولے چه په نسيان سره په جماع كولو باندے به كفاره لازمه وه لكه دا مشهور قول د امام مالكؒ او جمهوروؒ دے چه دوي وائي چه په ورځ د رمضان كې په هيره سره جماع كولو باندے كفاره نهٔ لازميږي۔

(۲) او امام احمدؒ او بعض مالكيهٔ وائي چه په هيره سره جماع كولو باندے هم كفاره لازميږي دوي دا دليل پيش كړے چه نبي ﷺ ددے اعرابي نه دا تپوس ونكړو چه دهٔ

دا جماع قصداً وه او که په هیره وه او د یو فعل په باره کی تپوس نهٔ کولو نه داسے عموم معلومیږی لکه څنګه چه د قول نه معلومیږی۔ او دے شخص چه (اِحۡتَرَقۡتُ) او (هَلَكۡتُ) الفاظ وئیلی دی نو دا دلیل دے چه دا په تحریم باندے عالِم وو او دا کارئے قصداً کړیدے۔ معلومه شوه په قصد سره جماع کولو باندے به کفاره لازمه وی او په نسیان سره نهٔ لازمیږی، ابن دقیق العید رحمه الله فرمائی : د جماع په باره کی هیره ډیره بعیده ده ځکه چه انسان کله جماع کوی نو د هغے نه مخکې ډیر مقدمات کوی چه هغه انسان ته ضرور روژه یاده وی نو نسیان پدے باره کی ډیر بعید دے پدے وجه نبی ﷺ ددهٔ نه تفصیل ونهٔ تپوسلو۔

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: ددے حدیث نه دا فائده معلومه شوه چه څوك یوه داسے ګناه وکړی چه په هغے کی حد نهٔ وی او بیا دغه شخص د تپوس دپاره راشی نو هغه ته به تعزیر نشی ورکولے ځکه چه نبی ﷺ دغه شخص ته سزا ورنکړه سره ددے نه چه هغه په جرم باندے اقرار هم وکړو او امام بخاریؒ پدے باره کی په کتاب الحدود کی باب قائم کړیدے۔ او ددے وجه دا ده چه هرکله چه دا شخص د تپوس دپاره راځی نو معلومیږی چه دے پښیمانه دے او توبه تائب دے او تعزیر خو ددے دپاره وی چه د بنده اصلاح وشی او هرکله چه ددهٔ اصلاح شویده نو تعزیر ته به ضرورت نهٔ وی۔

دارنګه که دهٔ ته سزا ورکړے شی نو آینده کی به د مسئلے تپوس نهٔ کوی نو پدے کی د مخکې نه لوی فساد راځی۔ هکذا قرره ابن دقيق العيد انتهىٰ۔ مګر دا په هغه صورت کی چه پښیمانه شوے وی او کله چه ترے د پښیمانتیا څه آثار نهٔ وی ښکاره شوی نو په شرح السنه کی دی چه تعزیر به هم ورکولے شی انتهىٰ۔

او دا د رسول الله ﷺ ډیره حکیمانه طریقه وه چه تائب او نادم (پښیمانه) ته به ئے څه نهٔ ویل او غافل او جرئ ته به ئے قهر کولو۔ (يَعۡمِدُ اَحَدُكُمۡ اِلٰى جَمۡرَةٍ فَيَجۡعَلُهَا فِيۡ يَدِهٖ) (مسلم) یو سړی ته ئے ښیرے وکړے کله چه هغه په ګس لاس خوراك کولو۔ (لا استطعت)۔

قَالَ : " مَالَكَ ؟ " : اَیۡ اَیُّ شَیۡءٍ حَصَلَ اَوۡ وَقَعَ لَكَ۔ څه وشو؟

مسئله : په روایت د مسلم وغیره کی داسے الفاظ دی: (اِنَّ رَجُلًا اَفۡطَرَ فِیۡ رَمَضَانَ فَاَمَرَهُ النَّبِیُّ ﷺ الحدیث) ۔ یو سړی په رمضان کی روژه ماته کړه نو نبی ﷺ ورته د

كفارې حكم وكړو. نو ددې وجه نه اختلاف دې چه څوك په هر سبب سره فرض روژه ماته كړي، خوراك څكاك وي او كه جماع وي نو آيا كفاره به پرې راځي او كه نهٔ ؟

(۱) احناف او مالكيهٔ وائي چه خوراك څكاك په جماع باندې قياس دي نو څنګه چه په صورت د جماع كې قضاء او كفاره ده نو په صورت د خوراك څكاك كې به هم قضاء او كفاره وي او دا قول د عطاء، حسن بصري، ثوري، زهري، اوزاعي او اسحاق، مالك، ابوحنيفه او صاحبينو رحمهم الله دې،

(۲) سعيد بن جبير، نخعي، ابن سيرين، حماد، امام شافعي، احمد او اهل الظاهر وائي چه كفاره صرف په صورت د جماع كې لازمه ده او دا قول غوره دې. د اول قول والا دليل دغه مخكنې الفاظ د روايت د مسلم دي او بل قياس دې.

مګر دويم قول والا جواب وركوي چه (افطر) لفظ په دغه روايت كې مطلق ذكر دې مګر په بل روايت كې د هغې تقييد شويدې په افطار بالجماع سره يعني چه په جماع سره ئې روژه ماته كړه نو نبي ﷺ ورته د كفارې حكم وكړو. او هرچه قياس دې نو هغې ته ضرورت نشته او دا قياس مع الفارق دې ځكه په خوراك څكاك باندې ماتولو او په جماع سره ماتولو ترمينځ ډير فرق دې ځكه چه جماع روژې ته ډير ضرر وركوي په نسبت د خوراك څكاك ځكه چه په جماع سره ماتولو په صورت كې د روژې ډير سپكاوې راځي چه دومره په خوراك څكاك كولو سره نهٔ راځي دا وجه ده چه جماع كله حرامه وي نو په هغې باندې حد واجبيږي. دارنګه حج په جماع سره فاسديږي نهٔ په نورو محظوراتو د احرام سره او د جماع په وجه سره په حج كې بدنه (اوښه) لازميږي، دارنګه په جماع سره غالباً د دوه كسانو روژه خرابيږي نهٔ په خوراك څكاك سره قاله ابن قدامه رحمه الله. او دې قول ته صاحب د فتح الملهم شرح صحيح مسلم هم ترجيح وركړيده، د ابن الهمام تقرير ئې نقل كړې او بيائې وئيلي دي چه په جماع سره روژه فاسدول د مظاهر په شان دي ځكه چه مظاهر په خپل ځان باندې ښځه په ډير غليظ تحريم سره حرامه كړه په فاحشه وينا سره بيا د خپلې خبرې نه رجوع كوي نو په دهٔ باندې كفاره د ظهار راځي نو دغه شان په رمضان كې روژه دار چه كله په خپل ځان باندې جماع حرامه كړه په غليظ تحريم سره چه نيت ئې د روژې وكړو او په دغه مبارك شريف وخت كې شروع شو بيا په دغه تحريم كې واقع شو نو دا په شان د مظاهر شو او

د دوارو حکم يو شو او څوك چه په خپل ځان باندے خوراك يا څكاك په ډيرو غليظو خبرو سره حرام کړي بيا پکې حانث شي نو په دۀ باندے هغه څه نۀ لازميږي کوم چه په مظاهر باندے لازميږي نو خوراك څكاك او جماع جدا جدا څيزونه شو نو په خوراك سره روژه ماتيدل د مظاهر سره په وجوب د كفاره کې شريکول صحيح نۀ شو۔ انتهىٰ۔

او ظاهر دا ده چه كفاره ورکول عبادت دے او عبادتونه په قياساتو باندے نۀ ثابتيږي۔ بيا امام شافعي رحمه الله وائي چه ددے روژے قضائي پرے نشته کله ئے چه په صورت د جماع کې خرابه کړه مګر د نورو دلائلو نه معلوميږي چه قضاء به هم راوړي او كفاره به هم ورکوی۔ او قضاء په حديث کې ذکر ده۔ ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ (مجامع) ته ووېل: (اِقْضِ يَوْمًا مَكَانَهُ) ددے ورځے په ځاى قضاء راوړه۔ (ابو داود ۲۳۹۳) ابن خزيمة (١٩٥٤) البيهقي (٢٢٦/٤)

"هَلْ تَجِدُ رَقَبَةً : دلته ئے رقبه مطلق ذکر کړيده نو كافر غلام آزادول هم جائز دي په نيز د امام ابوحنيفةؒ او ابن حزمؒ باندے او ائمه ثلاثهؒ وائي چه مومن غلام ازادول ضروري دي او دوی مطلق حمل کوی په مقيد باندے قياس کوی په كفاره د قتل باندے چه هلته مومن قيد ورسره راغلے دے نو دلته به هم مومن مراد وی اول قول صحيح دے ځکه چه الله تعالىٰ مطلق ذکر کړيده او قياس ته حاجت نشته۔

"اِجْلِسْ " : نبي ﷺ دا ولے کينولو؟ بعض علماؤ ددے حکمت دا ښودلے دے چه دۀ په حق کې نبي ﷺ د وحي انتظار کولو يا دا چه نبي ﷺ ته دا معلومه شوه چه کيدے شي څوك به څه راوړي چه دۀ مدد پرے وکړي۔

۲- **مسئله** : ددے حديث نه دا مسئله هم ثابته شوه چه بنده خپله هم كفاره ورکولے شي او بل څوك ئے هم دۀ د طرف نه ادا کولے شي لکه ددے شخص نه نبي عليه السلام كفاره ادا کړه۔

۳- **مسئله** : يو حق د الله دے او بل د بندګانو، كفاره د الله حق دے او د بندګانو حقوق ادا کول مخکې دي د الله د حق د ادا کولو نه، دا ترے ځکه معلوميږي چه ددے شخص بچي او کور والا وړي دي او په دۀ كفاره ده نو اول به خپل بچي او اهل ماړۀ کړي بيا که د كفارے پيسے پاتې وی نو ادا به ئے کړي او که نۀ وی نو پاتي به وی نو دلته

اول دۀ خپل اهل ته دغه کفاره ورکره۔

٤- **مسئله** : بیا په دے کی اختلاف دے چه آیا په دے شخص باندے کفاره وه او که نۀ وه ؟ (۱) اول قول دا دے چه په دۀ باندے کفاره نۀ وه رسول الله ﷺ ددۀ نه ساقطه کره او ددۀ ذمه ئے فارغه کره دا وجه ده چه دۀ ته ئے دا حکم ونکرو چه په تا باندے کفاره پاتے ده او دا کجورے ستا په کفاره کی نۀ کافی کیږی۔ او دا قول د اوزاعیؒ او د بعض شوافعو او یو روایت د احمدؒ نه دے۔ یعنی کفاره خپل اهل ته ورکره او ادا شوه او دا قول د بخاریؒ دے او همدا راجح دے۔

(۲) قول ثانی دا دے چه په دۀ باندے کفاره لازمه وه لیکن دلته ئے الاهم فالاهم مقدم کرو ځکه چه دلته د نفقے او د کفارے تعارض راغلو او دا قانون دے چه په داسے وخت کی نفقه مقدم وی په کفاره باندے ځکه چه نفقه د بندګانو حق دے او کفاره د الله، او بندګانو حق ادا کول مقدم وی نو دلته ئے ضروری مقدم کرو او دا مطلب نۀ دے چه ګنے ددۀ نه بیخی کفاره ساقطه شوه لکه د نورو اصولو د شرع نه معلومیږی چه په دۀ باندے به کفاره پاتی وی، نو په عجز سره واجبه کفاره نۀ ساقطیږی لکه باقی کفارات۔

او دا دویم روایت د امام احمدؒ نه دے او دا قول د ابوحنیفهؒ، ثوریؒ، او ابوثور رحمهم الله دے۔ ابن قدامه رحمه الله وائی چه دا حدیث صریح دلیل دے د اول قول والو دپاره او قیاس په باقی کفاراتو باندے صحیح نۀ دے ځکه چه دا په قیاس سره نص غورزول دی بس په نص باندے به عمل کول لازم وی۔

مګر دویم قول والا وائی چه اول سر د حدیث دلیل دے چه د عاجز نه هم کفاره نۀ ساقطیږی او دلته ئے اهم مقدم کړیدے او په حدیث کی دا تذکره نشته چه ستا نه کفاره په دے سره ساقطه شوه لکه څنګه چه دا تذکره هم نشته چه کفاره ادا شوه بلکه دلته ئے اهم او ضرورت مقدم کرو او هرچه کفاره ده نو هغه په خپل اصل حالت د وجوب باندے پاتی ده۔ او په دے کی تاخیر البیان عن وقت الحاجة هم دلیل ګرزول صحیح نۀ دی ځکه چه وجوب د کفارے د مخکی نه دے سری ته معلوم وو نو هغه ئے ورته ځکه ذکر نکرو۔ اول قول ډیر صحیح دے۔

فائده : په دے روایت کی ئے دے شخص ته د قضاء راګرزولو حکم ونکرو مګر په روایت د ابوداود، بیهقیؒ او دارقطنیؒ کی د ابوهریرةؓ نه او حدیث د عمرو بن شعیب کی

په روايت د بيهقي کې امر په قضاء باندې ثابت دے نو د دغه ورځې چه جماع ئې پکې کړې وي د هغې قضاء به هم راوګرزوي او که کفاره په روژو سره ورکوي نو دوه مياشتې پرله پسې به هم ونيسي او په هغې کې فوريت شرط نۀ دے ځکه چه (يوماً مکانه) لفظ ئې نکره ذکر کړو۔

فائده : که ښځې باندې په جماع کولو زور شوے وي نو د هغې روژه نۀ دۀ ماته او نۀ پرې کفاره شته او که هغه ورسره رضا وي نو بيا په هغې هم قضاء او کفاره دواړه راځي۔

فائده٢ : په بعض رواياتو د احمد (٥١٦/٢)، دارقطني (٢٥٢) او بيهقي (٢٢٢/٤) کې راغلي دي چه په دغه پچۍ کې پنځلس صاعه کجورې وې او په بعض روايتونو د ابن خزيمهؒ کې شك سره نقل دي چه پنځلس يا شل صاعه وو او په بعض مرسل روايتونو کې شل په جزم سره نقل دي مګر اول روايت راجح دے۔

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي : پدے کې رد دے په کوفيينو (ابوحنيفهؒ او صاحبينؒ) باندې چه هغوي وائي په دۀ باندې د غنمو نه ديرش صاعه او د نورو خيزونو نه شپيته صاعه لازم دي او په عطاءؒ باندې هم رد دے چه هغه وائي که په خوراك سره ئې روژه ماته کړه نو شل صاعه به ورکوي او که په جماع سره وه نو پنځلس صاعه او په اشهبؒ باندې رد دے چه هغه وائي که صبا او بيګاه ئې مسکينانو ته خوراك ورکړو نو هم کافي ده ځکه چه پدے سره هم اطعام لفظ صادقيږي انتهیٰ۔

بيا په بعض روايتونو د مسلمؒ کې د عائشې رضي الله عنها نه داسے هم راغلي دي چه نبي ﷺ ته دوه پچۍ راوړے شوے او پدے روايت کې داسے دي چه يوه پچۍ وه، امام بيهقيؒ دعوه کړيده چه دا دوه واقعے وے ليکن حافظ ابن حجرؒ فرمائي صحيح دا ده چه يوه واقعه ده ځکه راوي او مخرج ئې يو دے نو غوره تطبيق دا دے چه دا کجورے د يوے پچۍ په اندازه وے ليکن دۀ په دوه پچو کې اچولے وے دے دپاره چه په اوښه باندے په آسانۍ سره بار کړے شي نو دا احتمال لري چه راوړونکي به په ابتداء کې دوه کړې وي او چه کله راورسيدو نو په يو کې به ئې اچولي وي۔

الْحَرَّتَيْنِ : مدينه د دوه خوړونو ترمينځ واقع ده چه يو مشرق طرفته دے او بل مغرب طرفته، او حره هغه زمکے ته وائي چه تور تور کاڼړي پکې وي۔

فَضَحِكَ النَّبِيُّ ﷺ : نبي عليه السلام دۀ په حال باندے تعجب کولو نه وخاندل

ځکه چه ددے سرې حال کې ناشنا تباین وو چه اول کې په خپل ځان باندے یریدونکے راغلو او یره ئے کوله چه هرځو مره ممکن وی چه ددهٔ د طرفنه فدیه ادا کړے شي لیکن هرکله ئے چه رخصت وموندلو نو طمع ئے پیدا شوه چه دهٔ ته کومے کجورے د کفارے دپاره ورکړے شوے چه دا وخوری۔

(۲) بعض وائی د سړی د خبرو په انداز او په ښائسته ترتیب او خطاب او په ښائسته طریقه سره خپل مقصد ته رسیدلو باندے ئے وخاندل۔

(۳) ځینی وائی چه د الله تعالیٰ د رحمت نه ئے وخاندل چه الله تعالیٰ پدے بنده باندے رحمت وکړو او فراخی ئے پرے راوسته او دغه طعام ئے دهٔ ته ورسولو او دهٔ ته ئے حلال کړو پس د هغے نه چه دهٔ ته وویل شو چه دا بل چا له ورکړه۔

نکته : علامه حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کې فرمائی چه دا حدیث د ډیرو فائدو نه ډک دے تردے چه بعض متأخرینو علماؤ پدے باندے دوه جلدونه کتاب لیکلے چه ددے احکام او مسائل او فوائد ئے پکې جمع کړیدی۔ ځینی علماء وائی چه پدے کې درے سوه مسئلے دی۔

الفصل الثانی

- 2005(7) عَنْ عَائِشَةَ : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ :كَانَ يُقَبِّلُهَا وَهُوَ صَائِمٌ وَيَمُصُّ لِسَانَهَا. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی: نبی کریم ﷺ به د روژے په حالت کې هغه ښکلوله او د هغے ژبه به ئے په خوله کې نیوله۔ (ابوداوُد)

تشریح : ددے نه معلومه شوه چه په روژه کې د خپلے ښځے ژبه ښکلول جائز دی مګر د هغے لارے به نهٔ تیروی په هغے سره روژه ماتیږی ځکه پردیٔ لارے داسی دی لکه اوبه شکل او پدے باندے د علماؤ اجماع ده او دا روایت ضعیف دے او که صحیح شی نو پدے کې دا خبره نهٔ ده راغلے چه نبی ﷺ به د هغے لارے تیرولے بلکه امکان لری چه هغه ئے په خوله کې جمع کړی وی او بیرته ئے ګوزار کړی وی مګر نفس ښکلولو جواز د نورو صحیح روایاتو نه معلوم دے۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف اخرجه احمد فی المسند (۶/۱۲۳،۲۳۴) وابوداود (۲۳۸۶) فی اسناده ابویحیی المعرقب وهو ضعیف وقد وثقه العجلی (تلخیص

الحبیر ۲/۱۹٤/۱۱) وفی اسنادہ ایضاً محمد بن دینار الطاهی، قال ابن معین : ضعیف، وسعد بن اوس بصری ضعیف)

- 2006(8) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ ﷺ عَنِ الْمُبَاشَرَةِ لِلصَّائِمِ فَرَخَّصَ لَهُ، وَأَتَاهُ آخَرُ فَسَأَلَهُ فَنَهَاهُ فَإِذَا الَّذِي رَخَّصَ لَهُ شَيْخٌ وَإِذَا الَّذِي نَهَاهُ شَابٌّ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی : یو سړی د نبی کریم ﷺ نه د روژه دار دپاره (د خپلې بي بي سره) د بدن لګولو په باره کې تپوس وکړو نو هغه ته ئې اجازه ورکړه او بل يو سړے ورته راغلے او د هغه ته ئې (همدغه شان) تپوس وکړو نو هغه ئې منع کړو. نو کوم شخص ته ئې چه اجازه ورکړه هغه بوډا وو او کوم شخص ئې چه منع کړو هغه ځوان وو. (ابوداوَد).

تشریح : دا روایت دلیل دے چه د ځوان او د بوډا فرق به کولے شی په باب د روژه کې ځکه چه د ځوان نه کنټرول نۀ کیږي او بوډا په کنټرول باندے وی او دا د رسول الله ﷺ حکمت دے چه هر یو ته ئې د هغه د شان مطابق جواب ورکړو او باقی ددے مسئلے تفصیل مخکی تیر شویدے.

درجة الحديث : اسناده صحیح، ابوداود (۲۳۸۷) والبیهقی (٤/۲۳۱،۲۳۲)

- 2007(9) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ:قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ وَهُوَ صَائِمٌ فَلَيْسَ عَلَيْهِ قَضَاءٌ وَمَنِ اسْتَقَاءَ عَمْدًا فَلْيَقْضِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ :هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ لَانَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيْثِ عِيْسَى بْنِ يُوْنُسَ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ يَعْنِي الْبُخَارِيَّ لَا أُرَاهُ مَحْفُوْظًا.

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل : چا ته چه قیء (التمی) راشي او هغه روژه وی نو په دۀ باندے قضاء نشته او څوك چه قصداً قیء وکړی نو قضاء دے راوړی. (ترمذیؒ، ابوداوَدؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ) او امام ترمذیؒ ویلی دی چه دا حدیث غریب دے مونږه ئے صرف د حدیث د عیسی بن یونسؒ نه پیژنو او محمدؒ یعنی

امام بخاریؒ ویلی دی چه زهٔ دا محفوظ نهٔ ویئم۔

تشریح : دا حدیث د هغه علماؤ دلیل دے چه وائی چا ته چه قیء غیر اختیاری راغے اګرکه په ډکه خوله وی نو د هغه روژه نهٔ ده باطله بلکه صحیح ده ځکه چه هرکله پرے قضاء لازمه نهٔ شوه نو دا دلیل دے چه روژه ئے صحیح ده او اګرکه څه حصه قیء ئے بیرته تیر هم شی ځکه چه حدیث مطلق ذکر دے۔ او د هغه چا روژه به ماته وی چه قصداً قیء راولی ځکه چه هغه ته ئے د قضاء راګرزولو حکم وکړو او دا مذهب د جمهورو علماؤ (شافعیؒ، احمدؒ، مالکؒ، اسحاقؒ) دے۔ او همدا مذهب حق دے۔

(۲) ابن عباس، ابن مسعود رضی الله عنهما، ربیعه او عکرمه رحمهما الله وائی چه په قیء سره مطلقاً روژه نهٔ ماتیږی برابره ده په قصد سره شوے وی او که غیر اختیاری وی ترخو پورے چه په خپل اختیار سره د هغے نه څه شے خیتے ته واپس نه کړی او دا یو روایت د امام مالکؒ نه هم نقل دے۔

(۳) بعض علماء وائی چه قیء سره مطلقاً روژه ماتیږی لږ وی که ډیر، په قصد سره شوے وی او که غیر اختیاری وی او دلیل کی روستو راتلونکے حدیث پیش کوی چه نبی ﷺ قیء وکړو نو روژه ئے ماته کړه او د هغے تشریح روستو راځی۔

(٤) بعض احناف پکی باب د قیء کی ډیر تعمقات کړیدی، قیء ئے تقسیم کړیدے چه یا به ئے غیر اختیاری کړے وی یا به ئے قصداً کړے وی او په هر صورت یا به په ډکه خوله سره وی یا به کم وی او هر یو د څلورو صورتونو نه یا به خپله خیتے ته واپس تلے وی یا به ئے قصداً واپس کړے وی یا به ئے بهر ارتولی وی او پدے تولو صورتونو کی روژه نهٔ ماتیږی بناء په صحیح قول سره مګر په صورت د اعاده او قصداً قیء کولو کی په شرط د ډکه خوله باندے ماتیږی (طحطاوی ص (۳۶۲)

نو دے تقسیمونو ته هیڅ ضرورت نشته او پدے حدیث کی مسئله واضحه بیان شویده۔ او کوم حدیث کی چه وارد دی : (ثَلَاثٌ لَایُفْطِرْنَ الصَّائِمَ: اَلْحِجَامَةُ وَالْقَیْءُ وَالْاِحْتِلَامُ) (ترمذی عن ابی سعید)

درے خیزونه روژه نهٔ ماتوی، ښکر لګول، قیء کول، خوب کی جنب کیدل) نو هغه روایت د سند په اعتبار سره ضعیف دے په هغے کی عبد الرحمن بن زید بن اسلم دے او که بالفرض ثابت شی نو ددے معنیٰ به دا وی چه قیء فی نفسه روژه نهٔ ماتوی او

هله روژه ماتوی چه کله ئے قصداً کړے وی جمعاً بین الروایتین۔

درجة الحديث : اسناده صحيح احمد فی المسند (۲/۴۹۸) والدارمی (۲/۱۴) وابوداود (۲۳۸۰) والترمذی (۷۲۰) وصححه الالبانی فی الارواء (۹۳۰) والارناووط في تحقيق صحيح ابن حبان (۳۵۱۸) وحسنه ابن الملقن فی البدر المنير (۵/۶۵۹)

- 2008 (10) وَعَنْ مَعْدَانَ بْنِ طَلْحَةَ أَنَّ أَبَا الدَّرْدَاءِ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَاءَ فَأَفْطَرَ. قَالَ : فَلَقِيْتُ ثَوْبَانَ فِيْ مَسْجِدِ دِمَشْقَ فَقُلْتُ: إِنَّ أَبَا الدَّرْدَاءِ حَدَّثَنِيْ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَاءَ فَأَفْطَرَ. قَالَ: صَدَقَ وَأَنَا صَبَبْتُ لَهٗ وَضُوْءَهٗ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او جناب معدان بن طلحہؒ وائی چه ابودرداء ؓ هغه ته (دا) حدیث بیان کړے چه رسول الله ﷺ قئ (التئ) وکړے نو روژه ئے ماته کړه۔ معدان وائی : بیا زهٔ د دمشق په مسجد کی د ثوبان (د رسول الله ﷺ آزاد کرده غلام) سره ملاؤ شوم نو ما (ورته) ووئیل : ابودرداء (ؓ) ما ته دا حدیث بیان کړیدے چه رسول الله ﷺ قئ وکړو نو روژه ئے ماته کړه۔ هغه ووئیل : ابودرداء رشتیا وئیلی دی۔ او (په هغه موقعه کی) ما نبی کریم ﷺ ته اُوبه د اوداسه ورا چولی دی۔

تشريح : پدے حدیث کی مسئله دا ده چه څوك قئ وکړی او ناجوړه شی نو د هغه دپاره روژه ماتول جائز دی ځکه چه قئ مریض انسان کوی نو دلته قئ سره روژه ماتیدل نهٔ دی ذکر بلکه داسے ئے وئیلی دی چه رسول الله ﷺ قئ وکړو او بیا ئے روژه ماته کړه نو دا حدیث نص صریح نهٔ دے پدے خبره چه قئ سره روژه ماتیږی ځکه چه احتمال شته چه (فافطر) کی فاء د تعقیب دپاره وی او د سببیت دپاره نهٔ وی۔لکه امام طحاوی رحمه الله هم وئیلی دی چه پدے کی دلیل نشته چه قئ روژه ماتونکے دے بلکه پدے کی صرف دا خبره ده چه نبی ﷺ قئ وکړو او د هغے نه روستو ئے روژه ماته کړه، هغه فرمائی : جائز ده چه ددے قول (قاء فافطر) معنیٰ دا وی چه قے ئے وکړو نو پدے سره ئے بدن ضعیف شو بس روژه ئے ماته کړه آه۔

او امام ترمذی رحمه الله فرمائی : ددے معنیٰ دا ده چه نبی ﷺ نفلی روژه وو نو په قئ کولو سره کمزورے شو پدے وجه ئے روژه ماته کړه او بیا ئے وئیلی دی چه په بل

روایت کی ئے دغه شان تفسیر راغلے دے۔ انتهیٰ۔

علامه احمد شاکر رحمه الله فرمائی: که دلته فاء د سببیت هم شی بیا هم دا په روژه ماتولو باندے دلیل نهٔ گرځی ځکه چه کله انسان قیء وکړی نود هغے په سبب ورته د بدن کمزورتیا او سستوالے راپیښ شی چه بیا د روژے برداشت نشی کولے، یا د ضرر او د مرض نه یرېږی نو قیء ورله سبب شی لیکن دا سبب عادی طبیعی دے او دا به شرعی سبب هله گرزی چه د شارع د طرف نه نص صریح راشی۔

حافظ ابن حجر رحمه الله وائی چه د قاء معنیٰ دلته دا ده چه نبی ﷺ نفلی روژه وو او قصداً ئے قیء وکړو۔ (التلخیص الحبیر : ۱۸۸) او ددے تائید په حدیث د ابوالدرداء کی دے چه په مسند احمد (۶/۴۴۹) داسے الفاظ دی: (اِسْتَقَاءَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَأَفْطَرَ فَأُتِيَ بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ) یعنی رسول الله ﷺ قصداً قیء وکړو۔

بعض علماؤ وئیلی دی چه دا حدیث مضطرب دے نو استدلال پرے صحیح نهٔ دے لیکن دا خبره بی تحقیقه ده، روایت صحیح دے لیکن دغه مخکنی مطلبونه ئے دی۔

پدے حدیث کی ورسره دا قید هم راغے چه نبی ﷺ د قیء نه روستو اودس هم وکړو نو پدے سره دا دلیل نیول صحیح نهٔ دی چه گنے قیء سره اودس ماتیږی بلکه کیدے شی چه د بل څه وجه نه ئے اودس کړے وی یا ئے د مخکی نه اودس نهٔ وی یا ئے د بدن د تازه گئ دپاره کړے وی یا دا چه قیء نه روستو اودس کول مستحب دی لیکن په اودس ماتیدلو باندے ئے دلیل نشته۔ دارنگه په وجوب الوضوء باندے دا دلیل نهٔ دے ځکه یو فعل دے او بل محتمل دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : المسند (۵/۱۹۵، ۲۷۷) (۶/۴۴۳) والدارمی (۲/۱۴) وابوداود (۲۳۸۱) والترمذی (۸۷) والنسائی فی الکبری (۳۱۲۰) قال ابن مندة : اسناده صحیح متصل)

- 2009 (11) وَعَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ : رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ مَا لَا أُحْصِيْ يَتَسَوَّكُ وَهُوَ صَائِمٌ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او سیدنا عامر بن ربیعه ﷛ فرمائی: ما نبی کریم ﷺ دومره (دیر کرته) لیدلے چه زهٔ ئے شمارلے نشم چه مسواك به ئے په داسے حال کی وهلو چه روژه به وو۔

(ترمذیؒ، ابوداودؒ)

تشریح : مسئله : امام شافعی رحمه الله وئیلی دی چه په رمضان کی د ماسپښین نه روسته په روژه کی مسواك وهل نهٔ دی پکار ځکه چه پدے سره خلوف فم الصائم (د روژه دار د خولے بد بوئی) لری کیږی کومه چه الله تعالیٰ ته د مشکو نه هم زیاته مزیداره ده او د الله تعالیٰ محبوب شے به په مسواك سره نهٔ زائله کوی۔

(۲) اکثر علماء وائی چه هر وخت مسواك وهل مستحب دی په اول د ورځ کی وی او که په آخر کی، نفلی روژه وی او که فرضی، مسواك لوند وی که وچ وهل ئے سنت عمل دے او همدا مذهب حق دے او دے باندے امام بخاریؒ باب قائم کړیدے۔ دلیل دا دے چه په احادیثو کی د مسواك وهلو امر مطلق دے او خصوصی پکی دا حدیث دلیل دے او هرچه د خولے بد بوئی ده نو هغه د معدے د خالی والی نه راپیدا کیږی او د مسواك په وهلو سره هغه نهٔ زائل کیږی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف ابوداود (۲۳٦٤) والترمذی (۷۲۵) وقال حسن، وفی اسناده عاصم بن عبيد الله العمری وهو ضعيف وقال البخاری وغيره : منكر الحديث ومعنی الحديث صحيح ثابت من الاحاديث المطلقة واثر معاذ فيه صريح كما فی التلخيص والدين الخالص (۱)۔

- 2010 (12) وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " اِشْتَكَيْتُ عَيْنِيْ أَفَأَكْتَحِلُ وَأَنَا صَائِمٌ ؟ قَالَ : " نَعَمْ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ وَأَبُوْعَاتِكَةَ الرَّاوِيُّ يُضَعَّفُ.

ترجمه : او سیدنا انس بن مالك ﷛ فرمائی : یو سړے نبی کریم ﷺ ته راغے عرض ئے وکړو : زما سترګے خوږیږی آیا زهٔ رانجه مړلے شم پداسے حال کی چه زهٔ روژه یم؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: آؤ، (دا روایت امام ترمذیؒ نقل کړے او ویلی ئے دی چه ددے سند قوی نهٔ دے او ابوعاتکه راوی په حدیثونو کی ضعیف ګڼړلے شی)۔

تشریح : دا حدیث دلیل دے چه د روژه دار دپاره رانجه لګول مکروه نهٔ دی او دا قول د اکثرو علماؤ دے برابره ده چه په مرئ کی د هغے نه خوند وموندلے شی یا نهٔ۔

(۲) ثوری، ابن المبارك، احمد او اسحاق رحمهم الله وائی چه د روژه دار دپاره رانجه

لګول مکروه دي د امام احمدؒ نه يو روايت دا هم دے چه که په مرئ کي د رانجو خوند ومونډلو نو روژه ئې ماته ده۔

(۳) عطاء، حسن بصري، نخعي، اوزاعي، ابوحنيفه، او ابوثور رحمهم الله وائي چه رانجه لګول بغير د کراهت نه جائز دي او پدے سره روژه نۀ ماتيږي برابره ده چه خوند ئې ومومي يا نۀ۔

(٤) ابن المنذرؒ د سليمان التيميؒ، منصور بن المعتمرؒ، ابن شبرمهؒ او ابن ابي ليلىؒ نه نقل کړيدي چه هغوي وئيلي دي : روژه ئې ماتيږي۔

(٦) سنن ابي داود کي دي چه اعمشؒ وائي ما هيڅ يو ملګرے نۀ دے ليدلے چه د روژه دار دپاره ئې رانجه لګول مکروه ګڼړلي وي۔ آه۔

او حق مذهب دا دے چه په رانجه لګولو سره روژه نۀ مکروه کيږي ځکه چه د سترګے نه لاره خيټے يعني معدے ته نۀ ده وتلے او د جواز دپاره ئې دا روايت دليل دے دا اګرکه ضعيف دے ليکن د ډيرو شواهدو په وجه پدے باندے استدلال کيدل صحيح دي چه هغه شواهد حافظ په التلخيص (۱۸۹) او زيلعيؒ په نصب الرايه (۲/۴۵۶) کي ذکر کړيدي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف: (ترمذی (۷۲٦) وقال حديث ليس اسناده بالقوی ولا يصح عن النبی ﷺ فی هذا الباب شيء وابوعاتكة ضعيف ابوداود (۲۳۷۸) وله شواهد ذكرها المباركفوری فی المرعاة وصحّح الالبانی حديث عائشة : اكتحل رسول الله ﷺ وهو صائم) الروض النضير (۷۵۹) وسنن ابن ماجة (۱٦۷۸)

- 2011(13) وَعَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: لَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ بِالْعَرْجِ يَصُبُّ عَلَى رَأْسِهِ الْمَاءَ وَهُوَ صَائِمٌ مِنَ الْعَطَشِ أَوْ مِنَ الْحَرِّ. رَوَاهُ مَالِكٌ

ترجمه : او د نبي کريم ﷺ د بعض صحابه کرامو نه روايت دے چه فرمائي : ما نبي کريم ﷺ په عَرَج علاقه کي وليدو چه د روژے په حالت کي ئې د تندے يا د ګرمۍ نه په خپل سر باندے اُوبه اچولے۔ (مالك)

تشريح : بِالْعَرْجِ : دا د مکے او د مدينے ترمينځ يو ځاى دے، ځيني وائي چه مدينه کي يو ځاى دے بعض وائي د مدينے نه درے مرحلے وړاندے دے۔ ځيني وائي: دا د فرع

علاقې د اطرافو نه یوه علاقه ده چه د مدینې نه ورته څو ورځې مزل دے۔(عون المعبود)

دا حدیث دلیل دے چه روژه دار دپاره د ګرمۍ او د تندے زائله کولو دپاره غسل کول او په سر باندے اوبه اچول یا لوند څادر اغوستل بغیر د کراهت نه جائز دی۔

امام ابوحنیفةؒ ته منسوب دی چه لوند څادر د ځان نه تاوول په روژه کې مکروه دی ځکه چه دا د روژے نه نفرت او ځان تنګول دی او دا مکروه کار دے لیکن صحیح دا ده چه دا کار جائز دے کله چه بنده په الله باندے اعتراض نهٔ کوی او روژه ورته بد نهٔ ښکاری او د نبی ﷺ عمل پکی موجود دے لهذا دیته مکروه وئیل مناسب نهٔ دی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، موطأ مالك (١/٢٩٤) رقم (٢٢) ومسند احمد (٣/٤٧٥) (٤/٦٣) وابوداود (٢٣٧٨) وقال ابن حجر : لا بأس باسناده وصححه شعيب والالباني)

- 2012(14) وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ ﷺ : أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ أَتٰى رَجُلًا بِالْبَقِيْعِ وَهُوَ يَحْتَجِمُ وَهُوَ آخِذٌ بِيَدِيْ لِثَمَانِيْ عَشْرَةَ خَلَتْ مِنْ رَمَضَانَ فَقَالَ : " أَفْطَرَ الْحَاجِمُ وَالْمَحْجُوْمُ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ، قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِى السُّنَّةِ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ : وَتَأَوَّلَهُ بَعْضُ مَنْ رَخَّصَ فِي الْحِجَامَةِ : أَيْ تَعَرَّضَا لِلْإِفْطَارِ : اَلْمَحْجُوْمُ لِلضُّعْفِ وَالْحَاجِمُ لِأَنَّهُ لَا يَأْمَنُ مِنْ أَنْ يَصِلَ شَيْءٌ إِلٰى جَوْفِهِ بِمَصِّ الْمَلَازِمِ.

ترجمه : او سیدنا شداد بن اوس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ په بقیع (مقبره) کی یو سړی ته راغے پداسے حال کی چه هغه ښکر لګولو او نبی کریم ﷺ زما لاس نیولے وو چه د رمضان نه اتلس شپے تیرے شوے وے نو وے فرمایل: ښکر لګونکی او ښکر لګولے شوی روژه ماته کړه۔ (ابوداودؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ) شیخ امام محی السنة رحمه الله وائی : بعض هغه علماؤ چه (په روژه کی) د ښکر لګولو اجازه ئے ورکړیده ددے حدیث داسے تاویل کړیدے : چه دے دواړو روژه ماتولو ته ځان پیش کړو، (یعنی افطار ته نزدے شو) چا له چه ښکر لګولے شی د کمزورتیا د وجه نه (چه هغه پدے کار سره کمزورے کیږی) او ښکر لګونکی (پدے وجه) چه هغه ددے نه په امن کی نهٔ دے چه ددهٔ خیټے ته به څه (وینه) ورسیږی په راښکلو د ښکر (یعنی شیشے) سره۔

تشریح : یعنی رسول الله ﷺ په یو سړی باندے په بقیع کی ورتیر شو چه هغه حجامت کولو یعنی ښکرئے لګولو، دا د هغه علماؤ دلیل دے چه وائی د روژه دار دپاره حجامت کول حرام دی او پدے سره ئے روژه ماتیږی لیکن مخکی تفصیل تیر شو چه روژه ئے نهٔ ماتیږی ځکه چه رسول الله ﷺ پدے باندے خپله په روژه کی عمل کړیدے او روژه ئے نهٔ ده ماته شوے او نبی د امت سره په احکامو کی شریك وی نو پدے وجه پدے روایت کی مونږ محتاج یو چه تاویل وکړو او صحیح مطلب ئے بیان کړو دے دپاره چه د دوارو روایتونو په ظاهر کی تعارض ختم شی ورنه احادیث د تاویلاتو شے نهٔ دے بلکه د عمل شے دے۔

البته د احادیثو نه معلومیږی چه په روژه کی سخت ضرورت کله نهٔ وی نو حجامت نهٔ دے پکار خو که چا وکړو نو روژه ئے نهٔ ده ماته۔

بمَصّ : مص چوپلو او راښکلو ته وائی۔

اَلْمَلَازِمِ : جمع د مِلْزَمَة ده په کسره د میم سره د حجام قارورے (شیشے) ته وائی چه په هغے کی وینه جمع کیږی۔ دے ته ملازم ځکه وائی چه دا د ځای پورے کلك انښلی۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح : مسند الشافعی (۶۸۵) وعبد الرزاق (۷۵۲۰) واحمد (۱۲۳/۴، ۱۲۴) والدارمی (۱۴/۲) وابوداود (۲۳۶۹) وابن ماجه (۱۶۸۱) وصححه الالبانی وشعیب وحسین سلیم اسد وحسنه الاعظمی۔

- 2013(15) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ رُخْصَةٍ وَلَا مَرَضٍ لَمْ يَقْضِ عَنْهُ صَوْمُ الدَّهْرِ كُلِّهٖ وَإِنْ صَامَهٗ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوٗدَ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ وَالْبُخَارِيُّ فِيْ تَرْجَمَةِ بَابٍ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : سَمِعْتُ مُحَمَّدًا يَعْنِي الْبُخَارِيَّ يَقُوْلُ : أَبُوالْمُطَوِّسِ الرَّاوِيُّ لَا أَعْرِفُ لَهٗ غَيْرَ هٰذَا الْحَدِيْثِ.

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چه د رمضان یوه ورځ د رخصت او د مرض نه په غیر ماته کړه (نو) کافی به نهٔ شی ددهٔ نه روژه د ټول عمر اګرکه دا تمام عمر روژه ونیسی۔ دا روایت امام احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ،

دارميّ او بخاريّ په ترجمة الباب كې راوړيدے او ترمذيّ وئيلي دي چه ما د محمد يعني د بخاريّ نه واوريدل چه فرمايل ئې : د ابو المطوس راوي دپاره زۀ ددے حديث نه سوئ بل نۀ پيژنم۔

تشريح : يعني بغير د رخصت د سفر يا د مرض نه كه څوك د رمضان روژه وخوري نو كه تول عمر نفلي روژے نيسي نو د دغه يوے روژے فضيلت ته به ونۀ رسيږي۔

بعض علماؤ پدے حديث باندے دليل نيولے دے چه كه چا روژه د خوراك څكاك په وجه ماته كړه نو هغه باندے قضاء نشته بلكه دا روژه به ددۀ په ذمه باندے پاتې وي دپاره د زياتے سزا څكه چه قضاء خو ددے دپاره وي چه گناه ختمه شي او دا قول د ابن مسعود او علي او د ابو هريره رضي الله عنهم نه نقل دے او دا رايه د ابن حزمؒ هم ده او امام بخاريّ په خپل صحيح كې غوره كړيده ليكن اكثر علماء وائي چه د يوے روژے په بدله كې به يوه ورځ قضاء راوړي او د روژے په خوړلو سخت گناهگار دے۔ او همدا قول غوره دے دپاره د احتياط۔

درجة الحديث: أسناده ضعيف مسند احمد (۲/۳۸٦،٤٤۲،٤٥۸،٤۷۰) والدارمي (۲/۱۰،۱۱) وابوداود (۲۳۹٦) (۲۳۹۷) والترمذى (۷۲۳) وابن ماجه (۱٦۷۲) وفي اسناده ابو المطوس ضعيف بكل حال۔

- 2014(16) وَعَنْ أَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " كَمْ مِنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهٗ مِنْ صِيَامِهٖ إِلَّا الظَّمَأُ وَكَمْ مِنْ قَائِمٍ لَيْسَ لَهٗ مِنْ قِيَامِهٖ إِلَّا السَّهَرُ ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: ډير روژه دار شته چه د هغه دپاره د هغه د روژو نه نۀ وي مگر تنده او ډير (عبادت ته) ولاړ شته چه د هغه دپاره د هغه د ودريدو نه نۀ وي مگر بې خوبي۔ (يعني بندگي ئې نۀ قبليږي هسے ځان بې خوبه كوي)۔ (دارميّ)

تشريح : مِنْ صِيَامِهٖ اَىْ مِنْ اَجْلِ صِيَامِهٖ ـ يعني ډيركرت به يو روژه دار وي چه هغه ته به د روژو په وجه صرف تنده حاصله شوي وي او نور به ئې هيڅ اجر نۀ وي اگر كه غاره به ئې آزاده وي او د هغے وجه به دا وي چه په خپله روژه كې به د گناهونو نه ځان نۀ ساتي، رياء كار به وي، فضول خبرے او كنځلے به كوي، تې وي، او كيبل ته به ناست

وی۔ دارنګه په قیام اللیل کې به ریاء کوی یا په غفلت باندې به ولاړ وی یا به ئې په عقیده کې فرق وی۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، احمد في المسند (۲/۳۷۳، ٤٤١) والدارمی (۲/۳۰۱) وابن ماجه (۱٦٩۰) وابن خزيمة (۱۹۹۷) والمستدرك (۱/٤٣١) وقال صحيح على شرط البخاری واقره الذهبی)

الفصل الثالث

- 2015(17) عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " ثَلَاثٌ لَا يُفَطِّرْنَ الصَّائِمَ الْحِجَامَةُ وَالْقَيْءُ وَالْاِحْتِلَامُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَيْرُ مَحْفُوْظٍ وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ زَيْدٍ الرَّاوِيُّ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيْثِ

ترجمه : سیدنا ابوسعید خدری ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: درې څیزونه دی چه د روژه دار روژه نه ماتوی۔ یو ښکر لګول۔ دویم قئ (التیئ) کول او دریم احتلام۔ (د خوب په حالت کې جنب کیدل)۔ (دا روایت امام ترمذیؒ راوړیدې او وئیلی ئې دی چه دا حدیث محفوظ نهٔ دې او عبد الرحمن بن زید راوی په حدیثو کې ضعیف ګنړلے شی)۔

تشریح : پدې درې څیزونو باندې روژه نهٔ ماتیدل د نورو احادیثو نه معلوم دی لکه د بعضو تفصیل مخکې وشو۔ احتلام کې اګرکه جماع ئې یاده وی او منی وینی هم روژه نهٔ ماتیږی او دا اګرکه په معنیٰ د جماع دې لیکن دا د بنده په اختیار کې نهٔ دې پدې وجه که څوك د ورځې اوده شو او خوب کې ئې جماع وکړه نو روژه ئې نهٔ ده ماته او نهٔ پرې قضاء شته۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، الترمذی وضعيف الجامع الصغير (۲۰٦۷) فيه عبد الرحمن بن زيد بن اسلم)

- 2016(18) وَعَنْ ثَابِتِ الْبُنَانِيِّ قَالَ: سُئِلَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ: كُنْتُمْ تَكْرَهُوْنَ الْحِجَامَةَ لِلصَّائِمِ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ ؟ قَالَ: لَا إِلَّا مِنْ أَجْلِ الضَّعْفِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او جناب ثابت بُنانی وائی : د انس بن مالك (ﷺ) نه تپوس وشو : آیا تاسو

د روژه دار دپاره د رسول الله ﷺ په زمانه کی حِجامة (ښکر لګول) بد ګنړل ؟ هغه وفرمايل : نهٔ مګر د وجه د کمزورتيا نه۔ (بخاريؒ)

تشريح : دا حديث هم د جمهورو دليل دے چه په حجامت سره روژه نهٔ ماتيږی مګر په روژه کی ئے کول نهٔ دی پکار ځکه چه بدن ورسره کمزورے کيږی۔او دغه شان قول د ابوسعيد خدريؓ نه هم بيهقی (٢٥٤/٤) نقل کړيدے : (اِنَّمَا كُرِهَتِ الْحِجَامَةُ لِلصَّائِمِ مَخَافَةَ الضُّعْفِ) د روژه دار دپاره ښکر لګول د هغه د کمزوری کيدو په وجه بد ګنړلے شويدے)۔

- 2017(19) وَعَنِ الْبُخَارِيِّ تَعْلِيقًا قَالَ: كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَحْتَجِمُ وَهُوَ صَائِمٌ ثُمَّ تَرَكَهُ فَكَانَ يَحْتَجِمُ بِاللَّيْلِ.

ترجمه : او امام بخاريؒ په طريقه د تعليق سره نقل کړيدی چه سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما به د روژے په حالت کی ښکر لګولو بيا ئے (دا کار) پريښودو نو هغه به د شپے ښکر لګولو۔

تشريح : عبد الله بن عمر رضی الله عنهما به د شپے ښکر پدے وجه لګولو چه د ورځے په روژه کی د کمزورتيا نه يريدلو يا پدے وجه چه (افطر الحاجم والمحجوم) حديث ور رسيدلے وو پدے وجه ئے احتياط کولو چه روژه کی حجامت ونکړی۔ دا روايت امام مالك په موطأ کی موصولاً ذکر کړيدے۔

- 2018(20) وَعَنْ عَطَاءٍ قَالَ:إِنْ مَضْمَضَ ثُمَّ أَفْرَغَ مَا فِيْ فِيْهِ مِنَ الْمَاءِ لَا يَضِيْرُهُ أَنْ يَزْدَرِدَ رِيْقَهُ وَمَا بَقِيَ فِيْ فِيْهِ وَلَا يَمْضَغُ الْعِلْكَ فَإِنِ ازْدَرَدَ رِيْقَ الْعِلْكِ لَا أَقُوْلُ : إِنَّهُ يُفْطِرُ وَلٰكِنْ يُنْهٰى عَنْهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِيْ تَرْجَمَةِ بَابٍ

ترجمه : او جناب عطاء رحمه الله وائی : که يو شخص مضمضه وکړه (يعنی خوله ئے اُوبه واچولے) بيا ئے هغه اُوبه توی کړے کوم ئے چه په خوله کی وی نو دهٔ ته دا ضرر نهٔ ورکوی چه د هغے لاړے تيرے کړی او هغه څه چه د هغه په خوله کی پاتی وی۔ او جاوله به نهٔ ژوی، بالفرض که د جاولے لاړے ئے تيرے کړے نو زهٔ نهٔ وايم چه ددهٔ روژه ماته شوه ليکن ددے نه به منع کولے شی۔ (دا روايت امام بخاريؒ په ترجمة الباب

كې نقل كړيدي)۔

تشريح : عطاء رحمه الله يو جليل القدر تابعي دے، ددهٔ قول په امت باندے حجت نهٔ دے ليكن امام بخارىؒ په خپل ترجمة الباب كې د علماؤ اقوال راوړى اشاره كوى چه اقوال د علماؤ حجت نهٔ دے ليكن دومره ده چه دا به شاته نهٔ غورزوئ، دا اُوچت خلك وو دوى ته الله تعالىٰ په دين باندے پوهه وركړے وه، تقوىٰ پكى وه، الله تعالىٰ دير كمالات وركړى وو نو كله چه دوى يوه خبره وكړه او د كتاب او سنت خلاف نهٔ وى نو د هغے منل پكار دى دا زمونږ دپاره تائيد كيدے شى، د علماؤ د اقوالو او د هغوى د بزرگىٔ نه فائده اخلو او داسے نهٔ ده لكه چه بعض ناپوهه خلكو ته چه كله د يو عالِم قول پيش شى نو هيڅ اعتبار ورله نهٔ وركوى او داسے به هم نشى كولے چه ددے علماؤ نه انبياء جوړ كړے شي او هره خبره ئے د كانړى كربنه وگنړلے شى، د كتاب او سنت په خلاف هم مقلدين د خپلو امامانو اقوال منى دا هم هلاكت او گمراهى ده، پدے كې اعتدال نشه دے او دغه اعتدال د سلف صالحينو مذهب او منهج دے او الحمد لله اهل الحديث اهل السنة پدے طرز باندے چليږى۔

ازْدَرَدَ : په اصل كې اِزْتَرَدَ وو د زَرْد نه ماخوذ دے يو شے تيرولو ته وائى۔

الْعِلْكِ : ددے نه مراد هغه جاوله ده چه د ونو د ستو پورے انبنتى وى يعنى كهاند چه پيكه وى او صرف د غابنونو د صفائى دپاره استعمالولے شى لكه مصطگى يا لبان وغيره شو، او ددے نه مراد نن صبا جاولے نهٔ دى كومے چه دكاندارانو سره خرڅيږى ځكه چه دا خو چينى ده ددے خوړلو سره روژه ماتيږى نو عطاء رحمه الله فرمائى: چه ددے جاولے جولو نه هم ځان ساتل پكار دى مگركه چا دغه د ونے جاوله خوله كې واچوله او لاړے ئے تيرے شوے نو روژه ئے نهٔ ماتيږى ځكه چه خپلے لاړے ئے تيرے كړے بل څه شے ئے خيټے ته نهٔ دے تلے ليكن بيا هم لاړے تيرول نهٔ دى پكار، ددے كار نه به منع كولے شى او دا نهى تنزيهى ده نهٔ تحريمى ځكه چه د علماؤ په اقوالو سره تحريم نهٔ راځى۔ دا جاوله جول نهٔ دى پكار ځكه چه دا انسان تږے كوى او خوله اُوچوى مگر كه بيا هم وجوى نو جائز دى او عائشے رضى الله عنها به ددے په جولوٗ كې اجازه وركوله ځكه چه ددے مثال داسے دے لكه كانړے چه خوله كې واچوى۔

درجة الحديث: اخرجه البخاري وقال الحافظ ابن حجر : وصله سعيد بن منصور)

٤- باب صوم المسافر

د مسافر د روژے بیان۔

پہ سفر کی د روژے پہ بارہ کی مختلف قسم احادیث راغلی دی کلہ وائی چہ مسافر روژہ نیولے شی او کلہ وائی چہ کہ روژہ ئے ونیولہ گناهگار دے، دا د سرہ نیکی نۂ دہ؟ نو تطبیق د احادیثو دا دے چہ پہ سفر کی فرضی او نفلی دوارہ روژے نیول جائز دی پہ دوہ شرطونو (١) یو شرط دا دے چہ د الله رخصت بہ قبلوی یعنی دا عقیدہ بہ لری چہ پہ سفر کی روژہ نۂ نیول هم جائز دی لیکن زۂ ئے نیسم پدے وجہ چہ زما پرے وسعہ کیږی لکہ بعض کسان پہ سفر کی روژہ ماتونکی تہ ډیر بد گوری او ورتہ وائی چہ تۀ تکلیف نشتہ او تۀ روژہ ماتوے دوی د الله تعالیٰ رخصت نۂ منی۔

(٢) دویم دا چہ دا مسافر بہ پہ بل مسلمان باندے تکلیف نۂ جوړیږی کہ ددۀ روژہ پہ مسلمان بوج وہ چہ هغوی ددۀ خدمت تہ مجبورہ کیدل نو بیا پہ داسے وخت کی روژہ بہ نۂ نیسی بلکہ روژہ ماتول بہ غورہ وی بلکہ لازم بہ وی۔

٢- **مسئله** : پدے کی اختلاف دے چہ پہ سفر کی روژہ نیول غورہ دی او کہ ماتول ؟ (١) یو قول دا دے چہ سفر کی روژہ ماتول غورہ دی ځکہ چہ حدیث کی راغلی دی چہ د الله تعالیٰ رخصت قبول کړئ نو حکم راغلے پہ قبلولو د رخصت اگرکہ هیڅ تکلیف پکی نۂ وی خو پدے رخصت باندے عمل کولو سرہ الله تعالیٰ رضا کیږی، ځکہ چہ الله تعالیٰ پدے خوشحالیږی چہ د هغہ پہ رخصتونو باندے عمل وکړے شی کما فی الحدیث۔ او دا قول د اوزاعی، احمد او اسحاق بن راهویہ رحمهم الله دے۔

(٢) **قول ثانی** دا دے چہ کلہ تکلیف نۂ وی یا د ملگرو خدمت مقصد نۂ وی یا پہ بل باندے بوج جوړیدل نۂ وی یا د الله تعالیٰ د رخصت نہ نفرت نۂ وی یا پہ تکبر او عجب کی واقع کیدل نۂ وی نو روژہ نیول بهتر دی ځکہ چہ رمضان غورہ میاشت دہ او پہ عزیمت باندے عمل کول د رخصت نہ غورہ وی او کہ دغہ شرطونہ نۂ وی نو بیا روژہ ماتول افضل دی۔ مگر کلہ نا کلہ پہ رخصت باندے عمل کول پکار دی دے دپارہ

چه د انسان مزاج د شریعت موافق شي۔ او دا قول د مالك، شافعي او ابوحنيفه رحمهم الله دے۔ بعض علماء فرمائي چه مسافر ته کوم آسان وي په هغے باندے عمل كول افضل دي او دا قول د عمر بن عبد العزيزؒ دے او ابن المنذرؒ غوره كريدے۔

الفصل الأول

- 2019 (1) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: إِنَّ حَمْزَةَ بْنَ عَمْرٍو الْأَسْلَمِيَّ قَالَ لِلنَّبِيِّ ﷺ أَصُومُ فِي السَّفَرِ؟ وَكَانَ كَثِيرَ الصِّيَامِ. فَقَالَ: "إِنْ شِئْتَ فَصُمْ وَإِنْ شِئْتَ فَأَفْطِرْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او ام المؤمنين عائشه رضى الله عنها فرمائي: حمزه بن عمرو اسلمي (رضی الله عنه) نبی کریم ﷺ ته وفرمايل: آيا زهٔ په سفر کی روژے نيولے شم؟ او (دا تپوس ئے څکه وکړو چه) هغه ډيرو روژو والا وو۔ نو نبی کریم ﷺ ورته وفرمايل: كه خوښه دے وی روژه نيسه او كه خوښه دے وی کوجه کوه۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تعارف: حمزه بن عمرو بن عويمر الاسلمي جليل القدر صحابي دے ابوصالح يا ابومحمد ئے كنيه ده، نهه احاديث ترے ثابت دي، په تكه توره شپه كى ددهٔ د گوتو نه رڼا ختله دا ددهٔ كرامت وو، دهٔ به پرله پسے ډيرے روژے نيولے نو څكه ئے د رسول الله ﷺ نه د سفر په حالت كى د روژو نيولو تپوس وكړو، په سنه (٦١ هـ) كى د (٧١) يا (٨٠) كالو په عمر وفات شويدے۔

تشريح: أَصُومُ: دلته همزه استفهاميه پټه ده يعنى زهٔ روژے په سفر كى نيولے شم؟ او ددے به څه حكم وى؟ ما باندے به ددے گناه وى يا به ما له ثواب وى؟۔

په بل روايت د بخاري او مسلم كى (أَسْرُدُ الصَّوْمَ) راغلے تو ددے نه بعض علماؤ دليل نيولے دے چه پرله پسے تول عمر روژے نيول مكروه نهٔ دی ليكن صحيح دا ده چه دا دليل پدے خبره پوره نهٔ دے څكه چه په بل روايت كى د كل عمرى روژے نيولو نه منع ثابته ده او دلته د (سَرْد) نه ډير عمر پرله پسے روژے نيول مراد دى لكه د (وَكَانَ كَثِيرَ الصِّيَامِ) لفظ نه معلوميږى او ډير عمر پرله پسے روژے نيولو ته هم سرد وائى۔

وَكَانَ كَثِيرَ الصِّيَامِ: دا جمله معترضه ددے دپاره ذكر شوه چه حمزه اسلميؓ دا تپوس څكه وكړو چه دا ډيرو روژو نيولو والا وو۔

- 2020 (2) وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ ﷺ قَالَ : غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ لِسِتَّ عَشْرَةَ مَضَتْ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ فَمِنَّا مَنْ صَامَ وَمِنَّا مَنْ أَفْطَرَ فَلَمْ يَعِبِ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ وَلَا الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا ابوسعیدر خدری ﷺ فرمائی : مونږ د رسول الله ﷺ سره جهاد ته روان شو چه د رمضان د میاشتې نه شپاړس ورځې تیرې شوې وې۔ نو په مونږ کی بعض کسانو روژه ونیوله او په مونږ کی بعضو ماته کړه نو روژه دار په کوجه باندې عیب ونهٔ وئیلو او نهٔ کوجه په روژه دار باندې۔ (مسلمؒ)

تشریح : غَزَوْنَا : ددې غزوې نه مراد د فتح د مکې غزا ده۔

ددې حدیث نه هم معلومه شوه چه په سفر کی روژه نیول او نهٔ نیول دواړه جائز دی مګر که څوك په روژه قادر وی نو نیول ئې بهتر دی لکه قرآن کریم کی دی : ﴿ وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ (البقره :١٨٤) روژې نیول درله غوره دی، د رمضان فضیلت به ومومئ، او ذمه به موهم فارغه شی۔

- 2021 (3) وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فِي سَفَرٍ فَرَأَى زِحَامًا وَرَجُلًا قَدْ ظُلِّلَ عَلَيْهِ فَقَالَ :" مَا هٰذَا ؟ " قَالُوا :صَائِمٌ. فَقَالَ : " لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصَّوْمُ فِي السَّفَرِ "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا جابر ﷺ فرمائی: (یو ځل) رسول الله ﷺ په یو سفر کی وو نو ګنړه ئې ولیدله او یو سړے ئې (ولیدو) چه په هغه باندې سوری کړے شوے وو نو وې فرمایل : دا څه دی؟ خلکو ورته ووئیل : روژه دار دے۔ نو وې فرمایل: په سفر کی روژې نیول نیکی نهٔ ده۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : ددې روایت نه ثابته شوه چه کوم انسان په سفر کی د روژې په نیولو سره بل ته تکلیف ورکوی، اختیاری یا غیر اختیاری طریقې سره نو ددهٔ دا روژه نیول نیکی نهٔ ده بلکه پدې وخت کی په رخصت باندې عمل کول لازم دی۔ نو دلته په الصوم کی الف لام عهدی دی یعنی دا قسم روژه نیکی نهٔ ده چه خپله هم ددې په وجه په حرج کی وی او نور ملګری ئې هم په حرج کی واقع کړی وی او که چا ته پکی حرج نهٔ وی نو

بيا نيول ئې بهتر دي۔ نو پدې سره به دا دليل نهٔ نيولې کيږي چه په سفر کې روژه منع ده لکه اهل ظواهر دا منع کوي او پدې حديث دليل نيسي هغوي وائي چه عبرت عام الفاظو لره دې نهٔ خاص سبب لره ليکن ثا وپيژندل چه دلته مراد دا دې چه دغه قسم حالت د حرج کې روژه نيول نيکي نهٔ ده لکه څنګه چه دې سړي ځان او ملګري په حرج کې واقع کړي وو ځکه چه روژه خو عبادت دې او طاعت به حرج درجې ته نهٔ رسوي۔

امام طحاويؒ وائي د البر نه مراد اَبَرُّ الْبِرِّ (يعني کامله نيکي) ده يا اعلیٰ مراتب د نيکئ مراد دي او دا مطلب نهٔ دې چه په سفر کې روژه نيول بيخي نيکي نهٔ ده که په حالت د حرج کې هم چا په سفر کې روژه ونيوله نو روژه ئې وشوه ليکن اعلیٰ کارئې ونکړو بلکه کوجه کول ورله اعلیٰ وو۔

امام شافعي رحمه الله پدې حديث کې (البر) حمل کړيدې په انکار د قبول د رخصت باندې يعني که څوک په سفر کې روژه نيولو رخصت نه انکار کوي او روژه نيسي نو ددهٔ دا روژه نيکي نهٔ ده۔

- 2022(4) وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي السَّفَرِ فَمِنَّا الصَّائِمُ وَمِنَّا الْمُفْطِرُ فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا فِي يَوْمٍ حَارٍّ فَسَقَطَ الصَّوَّامُوْنَ وَقَامَ الْمُفْطِرُوْنَ فَضَرَبُوا الْأَبْنِيَةَ وَسَقَوُا الرِّكَابَ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " ذَهَبَ الْمُفْطِرُوْنَ الْيَوْمَ بِالْأَجْرِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سيدنا انس بن مالك ﷺ فرمائي: مونږ د نبي کريم ﷺ سره په يو سفر کې وو نو په مونږ کې بعض روژه دار وو او بعض کوجه وو، بيا مونږ يو ځاى کې دمه وکړه چه ورځ ګرمه وه نو روژه دار پريوتل او کوجه خلك راپاڅيدل نو خيمې ئې ووهلې او اُوښان ئې خړوبه کړل نو رسول الله ﷺ وفرمايل: نن ورځ کوجه خلکو اجر ويوړو۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : ددې حديث نه معلوميږي چه بنده به خپل حال ته ګوري که په سفر کې روژې سره ئې نيکي ډيره کولې شوه نو روژه نيول پکار دي او که په کوجه کولو سره ئې خدمت او نيکي ډيره کولې شوه نو بيا به کوجه کول بهتر وي، خاصکر چه کله د جهاد سفر وي چه په کوجه کولو سره بدن قوي کول مقصد وي نو بيا روژه ماتول بهتر دي۔

- 2023 (5) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مِنَ الْمَدِيْنَةِ إِلٰى مَكَّةَ فَصَامَ حَتّٰى بَلَغَ عُسْفَانَ ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَرَفَعَهٗ إِلٰى يَدِهٖ لِيَرَاهُ النَّاسُ فَأَفْطَرَ حَتّٰى قَدِمَ مَكَّةَ وَذٰلِكَ فِيْ رَمَضَانَ. فَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُوْلُ : قَدْ صَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَأَفْطَرَ. فَمَنْ شَاءَ صَامَ وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ - 2024 (6) وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ عَنْ جَابِرٍ ﷺ أَنَّهٗ شَرِبَ بَعْدَ الْعَصْرِ.

ترجمه : او سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي: رسول الله ﷺ د مدینے نه مکے طرفته ووتلو نو روژه وو تردے چه عسفان علاقے ته ورسیدو بیا ئے اُوبه راوغوښتے او خپل لاس ته ئے راپورته کړے دے دپاره چه خلك ئے وینی نو روژه ئے ماته کړه (په توله لاره) تردے چه مکے ته راغلو او دا کار په رمضان کی وو۔ (پدے وجه) ابن عباس رضی الله عنهما به فرمایل: (په سفر کی) رسول الله ﷺ روژه نیولے او روژه ئے ماته کړے (هم) ده نو د چا چه خوښه وی روژه دے نیسی او د چا چه خوښه وی روژه دے ماته کړی۔ (بخاری ومسلم) او د مسلم په یو روایت کی د جابر ﷺ نه نقل دی چه نبی کریم ﷺ د مازیګر نه روستو اُوبه وڅکلے۔

تشریح : یعنی رسول الله ﷺ په رمضان کی د فتح د مکے دپاره د مدینے نه مکے طرفته روان شو کله چه عسفان ته ورسیدو چه دا مکے ته په دوه پړاؤ کی نزدے ځای دے ددے او د مکے ترمینځ اتیا (۸۰) کیلو میتره مزل دے د مکے په شمالی طرف دے او د مدینے په لاره دے۔ (المعالم الاثیرة ۱/۱۶۵)

امام نووی وائی چه ددے او د مکے ترمینځ څلور څلویښت میله فاصله ده نو رسول الله ﷺ روژه ماته کړه، اُوبه ئے په لاس کی پورته کړے او خلکو ته ئے وښودلے چه زهٔ روژه ماتوم بیا ئے روژه ماته کړه تردے چه مکے ته راغلو۔ په بعض روایتونو د بخاری کی دی چه د پیوو لوښے ئے راوغوښتو او په بعضو کی اُوبه ذکر دی، نو احتمال لری چه یو ځل ئے اُوبه راغوښتی وی بیا ئے پئ او پدے کی د نبی ﷺ غرض دا وو چه صحابه کرامو ته دوه کرته د روژے ماتول وښائی ځکه چه خلك ګنړ وو۔ او دا کار نبی ﷺ د مازیګر نه روستو وکړو چه ماښام ته وخت نزدے وو دے کی ډیر تاکید ته اشاره ده چه خلکو ته دا وښائی چه په سفر کی روژه ماتول جائز دی بلکه که مشقت

وي، نو غوره دي۔

د مسلم د بل روايت نه معلوميږي جابر ﷺ فرمائي : چه نبي ﷺ ته وويل شو چه په خلكو باندې د روژې تكليف دے او هغوى ستا عمل ته گوري نو رسول الله ﷺ د مازيگر نه روستو د اُوبو يوه پيالئ راوغوښته۔

بيا ددې حديث نه دا معلومه شوه چه په سفر كې مطلقاً روژه ماتول جائز دي اگركه په سفر كې ئې روژه نيول شروع كړې وي يا مخكې نه مُقيم وي او روژه وي او روستو په ورځ كې سفر شروع كړي تولو حالتونو كې ورله ماتول جائز دي۔ بلكه شيخ الباني رحمه الله پدې باره كې يوه رساله ليكلې (تصحيح افطار الصائم قبل السفر) چه د يو انسان د سفر اراده وي نو د مخكې نه په كور كې هم روژه ماتول جائز دي بيا به سفر ته روان شي او پدې باره كې ډير احاديث راغلي دي لكه په فتاوى الدين الخالص (١٣٢/٦) كې ئے وگوره، البته قصر په كور كې نشي كولے۔ انظر الموسوعة الفقهية الميسرة (٢٢٩/٣)۔

الفصل الثاني

- 2025 (7) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ الْكَعْبِيِّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " إِنَّ اللهَ وَضَعَ عَنِ الْمُسَافِرِ شَطْرَ الصَّلَاةِ وَالصَّوْمَ عَنِ الْمُسَافِرِ وَعَنِ الْمُرْضِعِ وَالْحُبْلٰى ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : او سيدنا انس بن مالك كعبي ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: يقيناً الله تعالىٰ د مسافر نه نيمائي مونځ ايخے دے (يعني معاف كړے ئے دے) او روژه ئے د مسافر او تے وركونكے زنانه او حمل والا زنانه نه (ايخے ده) (ابوداودؒ، ترمذيؒ، نسائيؒ، ابن ماجهؒ)۔

تشريح : دا بل انس بن مالك دے د عبد الله بن كعب قبيلے نه يو صحابيؓ دے او مشهور انصاري صحابي نهٔ دے، د عبد الله بن سواده او ابو قلابه رحمهما الله استاذ دے ابو اُميه ئے كنيه ده، بعض وائي ابو اُميمه، په بصره كې پاتے شويدے۔

كومه زنانه چه ماشوم ته تے وركوي يا حمل والا زنانه وي نو كه هغې ته په روژه نيولو كې تكليف وي، يا د ماشوم پې نهٔ پوره كيږي په هغه باندې پرېږي نو هغې ته

هم اجازه ده چه روژه ماته کړي بيا به قضاء راوړي او که فديه به ورکوي ؟
نو پدے کې اختلاف دے (۱) **يو قول** دا دے چه پدے دواړو باندے قضاء نشته بلکه فديه ورکول ددے نه کافي کيږي ځکه چه پدے حديث او دغه شان په نورو حديثونو کې ددے دواړو قضائي نۀ ده ذکر، که څوك سوال وکړي چه پدے حديث کې خو مسافر هم ذکر دے او په هغه باندے خو قضاء راوړل لازم دي ؟ نو جواب دا دے چه د مسافر دپاره قضاء په بل نص باندے ثابته ده او د مُرضعے او حاملے په باره کې بل نص نشته.
او د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه هم دغه شان فتوىٰ نقل ده فرمائي :
کله چه حامله په خپل ځان او مُرضعه (تیٔ ورکونکے ښځه) په خپل بچي باندے په رمضان کې يريږي نو دواړه به روژه ماته کړي او د هرے ورځے په بدله کې به يو مسکين ته خوراك ورکړي او قضائي به نۀ راوړي (طبری باسناد صحيح كما فی الارواء : ١٩/٤) وانظر نحوه فی الدارقطنی واسناده صحيح - او دغه شان فتوی د ابن عمر رضی الله عنهما هم ده چه هغه خپلے لور ته ورکړے وه- انظر ارواء الغليل (١٩/٤) والموسوعة الفقهية (٢٢٢/٣)- والبزار والدارقطنی والبيهقی ومالك وابن ابی حاتم)
(۲) **دويم قول** دا دے چه حامله او مرضعه به صرف قضاء راوړي او فديه به نۀ ورکوي علامه ابن قدامة په المغنی (٨٠/٢) کې فرمائي: پدے باره کې مونږ ته د اهل علمو په مينځ کې اختلاف نۀ دے معلوم ځکه چه دا دواړه په منزله د هغه مريض دي چه په خپل ځان يريږي او روژه ماته کړي نو قضاء به راوړي او دليل دا هم وائي چه آيت ﴿فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ﴾ (البقرة : ١٨٤) عام الفاظ دي چه څوك مريض او مسافر وي نو هغه باندے قضاء راوړل لازم دي او مرضعه او حامله هم په مريضانو کې داخل دي- او دا قول د عطاء، زهري، حسن بصري، سعيد بن جبير، نخعي، ابوعبيد، ابوثور، ابوحنيفه او د هغه د ملګرو او د اوزاعي او سفيان الثوري (رحمهم الله) دے- او د دوي دليل هم دا حديث الباب دے چه دلته ئے حامله او مرضعه د مسافر سره شريك ذکر کړيدي چه د دواړو ته الله تعالىٰ د روژے ماتولو اجازه ورکړيده لکه څنګه ئے چه مسافر ته ورکړے وه او مرضع او حبلىٰ ئے په مسافر باندے عطف کړيدي نو د دواړو حکم به هم يو وي او په مسافر باندے خو صرف قضاء ده فديه پرے نشته نو دغه شان به په حامله او مرضعه باندے هم قضاء وي نۀ فديه.

(۳) **قول** دا دے چه دواړه به قضاء راوړي او طعام به هم ورکوي او دا مشهور مذهب د امام شافعيؒ دے او دويم قول د امام مالكؒ دے او مذهب د امام احمدؒ دے۔

(٤) **قول** دا دے چه حامله به قضاء راوړي او طعام به نهٔ ورکوي او مرضعه به قضاء راوړي او طعام به هم ورکوي او دا قول د ليث بن سعدؒ دے او مشهور قول د امام مالكؒ دے ځکه چه مرضعے دپاره ممکنه ده چه د خپل بچي دپاره بل څوك تے ورکونکے ښځه ونيسي نو کله چه دا د بچي دپاره روژه ماتوي نو دواړه کاره به کوي په خلاف د حاملے نه ځکه چه حمل د زنانه سره پيوسته وي نو دا داسے دے لکه د بدن په بعض اندامونو باندے پريدل۔

(٥) **قول** دا دے چه دواړه به طعام ورکوي او قضاء پرے نشته مگر که دواړه غواړي قضاء هم راوړے شي او طعام ورکول به پرے نهٔ وي او دا قول امام ترمذيؒ د اسحاق بن راهويهؒ نه نقل کړيدے نو د هغه په نيز به د قضاء او د طعام په مينځ کي جمع والے نهٔ کوي۔ علامه شاه ولي الله الدهلوي رحمه الله په المصفى کي دا قول د دلائلو د تطبيق دپاره مناسب گنړلے دے، او علامه ابوالحسن المباركفوري رحمه الله په المرعاة (١٦/٧) کي دويم قول غوره گنړلے دے او همدغه راجح معلوميږي ځکه دا نور اقوال دليل نهٔ لري۔

درجة الحديث: اسناده حسن، مسند احمد (٣٤٧/٤) (٢٩/٥) وابوداود (٢٤٠٨) والترمذي (٧١٥) وقال حديث حسن والنسائي (١٨٠/٤) وابن ماجه (١٦٦٧) وهو في صحيح الجامع (١٨٣٥)

- 2026(8) وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْمُحَبِّقِ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ كَانَ لَهُ حَمُوْلَةٌ تَأْوِيْ إِلَى شِبَعٍ فَلْيَصُمْ رَمَضَانَ مِنْ حَيْثُ أَدْرَكَهُ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او سيدنا سلمه بن محبق رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا سره چه داسے سورلي وي چه هغه منزل ته په آسانئ او آرام سره ورسوي نو هغه دے د رمضان روژه ونيسي کوم ځاي کي ئے چه رالاندے کړي۔ (ابوداودؒ)

تعارف : سلمه بن محبق هغه صحابي دے چه دهٔ ته اصحاب بابا وائي تاريخ د بلاذري ليکلي دي چه دا په چغرمتئ پشاور علاقه کي وفات شويدے او دلته دفن

شـويـدے، ددهٔ سره نـور ډير ملګرى هم پدے مقام كى شهيدان شويدى او يو ځاى خخ شـويـدى يـو اُوږد قبر پرے جوړ شويدے چه مشركانو اوس د هغے نه عبادت خانه جوړه كړيده۔

تشريح : ددے روايت نـه دا مـعـلـومه شوه چه چا ته په سفر كى مشقت وى نو روژه مـاتـول ورلـه جائـز دى او كـه مشقت نهٔ وى نو روژه به نهٔ ماتوى فرمائى : كه د چا سره داسے سورلئ موجوده وى چه هغه پرے خوراك يا موړ والى ته رسيدلے شے يعنى داسے ځاى تـه رسيـدلے شى چه هلته په مړيدلو باندے قادر وى يعنى داسے سورلئ وى چه كـور تـه ئے رسولے شى په حـالـت د مـوړ والى كى او په سفر كى ورته څه مشقت او تـكـليف نهٔ راپيښيـږى نـو هـغـه بـانـدے چـه كـوم ځاى كى رمضان راغـے نو روژے به نيسى۔

آسان مطلب ئے دا دے چه سورلئ ئے مره وى بس دا ددهٔ كور شو روژه به نيسى۔

دا روايت ضـعـيف دے او د نـورو صـحـيـح روايتـونـو مـخـالف دے چـه پـه هغے كى د مسافر دپاره مطلقاً روژه نيول او نهٔ نيول دواړه جائز شويدى۔

حَمُولَةٌ : پـه فـتـحـه د حـاء سـره هغه حيوان ته وائى چه په هغے باندے سورلى كيدے شى۔

تَأْوِىْ : دا لازم او متـعـدى دواړه قسـمـه استعماليږى اَوَى الْبَيْتَ وَإِلَى الْبَيْتِ اَىْ نَزَلَ فِيْهِ۔ يـعـنـى كور كى نازل شو۔ يعنى داسے سورلئ وى چه نازلوى ئے داسے ځاى ته چه هلته موړوالے حاصليږى۔

شِبْعٌ : موړ والى ته وائى مراد ترے نه دا دے چه په سفر كى ورته مشقت نهٔ وى)

درجة الحديث : اسناده ضعيف، مسند احمد (٤٧٦/٣) (٧/٥) وابوداود (٢٤١٠) (٢٤١١) وفى اسناده عبد الصمد بن حبيب العوزى البصرى ضعفه احمد وقال البخارى : منكر الحديث)

الفصل الثالث

- 2027(9) عَنْ جَابِرٍ ﷺ: أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ خَرَجَ عَامَ الْفَتْحِ إِلٰى مَكَّةَ فِىْ رَمَضَانَ فَصَامَ حَتّٰى بَلَغَ كُرَاعَ الْغَمِيْمِ فَصَامَ النَّاسُ ثُمَّ دَعَا بِقَدَحٍ مِنْ مَاءٍ فَرَفَعَهٗ حَتّٰى نَظَرَ النَّاسُ إِلَيْهِ ثُمَّ شَرِبَ فَقِيْلَ لَهٗ بَعْدَ ذٰلِكَ إِنَّ بَعْضَ النَّاسِ قَدْ صَامَ. فَقَالَ : " أُولٰئِكَ الْعُصَاةُ

أُولٰئِكَ الْعُصَاةُ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : سيدنا جابر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ په رمضان مياشت كې د فتح په كال مكې مكرمې طرفته ووتلو نو روژه ئې ونيوله تردې چه كراع الغميم علاقې ته ورسيدو نو خلك هم روژه شو بيا نبي كريم ﷺ د اُوبو يوه پياله راوغوښته او هغه ئې راپورته كړه تردې چه خلكو هغې ته وكتل بيا ئې وڅكلې نو هغه ته ددې نه روستو وويل شو چه بعض خلكو (اُوس هم) روژه نيولې ده نو وې فرمايل : دغه خلك نافرمان دي، دغه خلك نافرماني دي۔ (مسلمؒ)

تشريح : كراع الغميم دا په حِجاز مقدس كې يوه وادي (ميدان) دې چه سرئې عسفان ته نزدې رسيدلې دې، نهايه كې دي چه دا د مكې او مدينې ته ترمينځ يو ځاى دې۔ آه، د مكې نه د مدينې په لاره واقع دې چه د مكې نه (٦٤) كيلوميټره جدا دې او د عسفان نه (١٦) كيلوميټره راديخوا دې۔ (المعالم الاثيرة ١ / ٢٠٠)

دا حديث دليل دې چه مسافر دپاره روژه ماتول جائز دي اگركه روژه ئې شروع كړې وي۔

رسول الله ﷺ دا الفاظ استعمال كړل چه «دغه روژه نيونكي خلك نافرمان دي» وجه دا وه چه رسول الله ﷺ دا روژه ددې دپاره ماته كړه چه خلكو ته په سفر كې د روژې د ماتولو جواز معلوم شي نو كله چه دغه ملگرى روژه نيسي نو دا مصلحت پوره طريقې سره نۀ حاصليږي نو ځكه ئې دوى ته سخته خبره وكړه، يا دا چه نبي ﷺ دوى ته جزمي او مضبوط حكم كړې وو چه روژه خامخا ماته كړئ پدې وجه ئې دغه پياله د خلكو په مخامخ خولې ته پورته كړله وجه دا وه چه په صحابه كرامو باندې روژه سخته شوې وه نو نبي ﷺ ورته حكم وكړو چه په داسې حالت د مشقت كې روژه نيول صحيح نۀ دي بلكه د الله تعالىٰ په رخصت باندې عمل كول لازم دي او پدې كې دا سبق هم پروت وو چه كله د الله نبي يو كار كوي نو د هغه تابعداري واجب دي او د هغه نه ځان زيات بزرگ ښكاره كول صحيح نۀ وو۔

- 2028(10) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " صَائِمُ رَمَضَانَ فِي السَّفَرِ كَالْمُفْطِرِ فِي الْحَضَرِ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه

ترجمه : اَو سيدنا عبد الرحمن بن عوف ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل : په

سفر کې د رمضان روژه نیونکے داسے دے لکه په حضر (کلي) کې روژه ماتونکے۔ (ابن ماجة)

تشریح : پدے حدیث کې ډیره مبالغه ده چه څوك په سفر کې روژه نیسي نو دا دومره ګناهګار دے لکه په حضر کې ئے چه روژه ماته کړي وي خو دا محمول دے په هغه حال باندے چه انسان د روژے په نیولو قادر نۀ وي او سخت ضرر ورته رسیږي۔

یا دا چه د الله په رخصت باندے عمل کولو نه نفرت کوي، دا خبره څکه کوو چه د نورو حدیثونو سره ئے تطبیق او جمع والے راشي او اهل ظواهرو (داود بن علي رحمه الله) ددے حدیث په ظاهر باندے عمل کړیدے او عبد الله بن عباس او عبد الله بن عمر رضی الله عنهم به وئیل چه په سفر کې روژے نیول جائز نۀ دي۔

عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائي : که چا په سفر کې روژه ونیوله نو په حضر کې به ئے قضاء راوړي۔ التمهید (٢/١٧٠) المفهم (٩/١٣٠) لابی العباس القرطبی (مرعاة المفاتیح٧/١٨)

مګر مخکې د ابن عباسؓ استدلال ذکر شو چه هغه وئیلي دي چه په سفر کې د رسول الله ﷺ نه روژه نیول او نۀ نیول دواړه ثابت دي نو اختیار دے نو کیدے شي چه د ابن عباس رضی الله عنهما اول مذهب د منع وي بیا د جواز۔

علامه سندیؒ فرمائي: د (کالمفطر فی الحضر) یو مطلب دا دے چه د رمضان نه علاوه وخت کې روژه ماتونکي په شان دے نو ددے نه معلومیږي چه په سفر کې روژه نیول خلافِ اولیٰ دي۔ یا (کالمفطر فی رمضان) مراد دے یعنې داسے دے لکه په رمضان کې ئے چه روژه ماته کړي وي نو بیا به په سفر کې روژه نیول حرام وي لیکن اول احتمال غوره دے او سره ددے نه په نیز د جمهورو دا حمل دے په دغه مخکنې خاص حالت باندے چه روژه ورته سخت تکلیف ورکوي انتهیٰ۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف، اخرجه ابن ماجه (١٦٦٦) وهو فی ضعیف الجامع الصغیر (٣٤٥٦) والضعیفة (٤٩٨) وفی الاسناد انقطاع بین ابی سلمة وعبد الرحمن ابیه) وصحح الحافظ وقفه علی عبد الرحمن فهو مع انقطاعه معلوّل بالوقف)

- 2029(11) وَعَنْ حَمْزَةَ بْنِ عَمْرٍو الْأَسْلَمِيِّ أَنَّهُ قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ اِنِّيْ أَجِدُ بِيْ

قُوَّةً عَلَى الصِّيَامِ فِي السَّفَرِ فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ؟ قَالَ: " هِيَ رُخْصَةٌ مِنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَمَنْ أَخَذَ بِهَا فَحَسَنٌ وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يَصُومَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا حمزه بن عمرو اسلمی ﷺ وفرمایل: ای د الله رسوله ! زهٔ په خپل ځان کی د سفر په حالت کی په روژو باندې قوت مونده کوم نو آیا په ما باندې به څه گناه وی (چه زهٔ روژې ونیسم یا ونهٔ نیسم؟) نبی کریم ﷺ وفرمایل : دا د الله تعالیٰ د طرفنه رخصت دې نو چا چه پدې باندې عمل وکړو ښه کارئې وکړو او څوك چه غواړی چه روژه ونیسی نو هیڅ گناه پرې نشته۔ (مسلمؒ)

تشریح : ددې حدیث نه معلومه شوه چه په سفر کی روژه نیول او ماتول دواړه جائز دی البته ماتول ئې ډیر غوره دی ځکه چه د الله تعالیٰ په رخصت باندې عمل راځی او الله تعالیٰ دا کار خوښوی او که څوك ئې نیسی نو هیڅ گناه پرې نشته۔

ځینی علماء وائی چه دویم صورت کی ئې نفی د جناح (گناه) وکړه نو ددې نه دا نهٔ معلومیږی چه گنې روژه نیول غوره نهٔ دی بلکه دا په جواب د دغه سوال کی راغلې چه هغه وویل آیا په ما به گناه وی ؟ نو نبی ﷺ وفرمایل: په تا هیڅ گناه نشته او نفی د جناح د لاندې وجوب، ندب، اباحت او کراهت ټول داخلیدې شی۔

نو دا حدیث د مسلم ئې په آخر کی ددې دپاره راوړو چه پدې سره د ټولو حدیثونو تطبیق راشی هغه داسې چه که طاقت دې وو نو روژه نیسه او د الله تعالیٰ دا رخصت به منې او که نهٔ ئې نیسې هم ستا خوښه ده۔ او په کوم ځای کی چه روژه نیونکو ته عصاة (نافرمان) وئیل شویدی نو دا په خاص شرائطو او خاص موانعو سره مراد دی کله چه هغه نهٔ وی نو روژه نیول جائز دی۔



٥ - باب القضاء

د روژے د قضاء راوړلو حکم او آداب بیانوی۔

د روژے د ماتولو صورتونه: پدے کی انسانان یو څو قسمه دی:

(۱) یو شیخ خَرِف دے چه دومره بوډا شی چه عقل ئے ختم شی، په خبره نهٔ پوهیږی نو په دهٔ باندے روژے فرض نهٔ دی نو نهٔ پرے قضاء شته او نهٔ فدیه۔

(۲) دویم شیخ فانی دے چه په خبره پوهیږی، رایه ورکولے شی، عقل ئے په ځای وی لیکن روژے نیول ورته تکلیف رسوی نو ددهٔ په باره کی احتیاطی قول دا دے چه فدیه ورکړی او روژه دے نهٔ نیسی او د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما اثر ددهٔ په باره کی په بخاری کی راغلے دے چه دا به فدیه ورکوی او روژه ورته معاف ده۔ اگرکه ددهٔ د فدیه په باره کی مرفوع حدیث نهٔ دے راغلے۔

(۲) قول ثانی دا دے چه په دهٔ باندے روژه فرض نهٔ ده ځکه چه هرکله دے روژه نهٔ نشی نیولے نو روژه پرے فرض نهٔ ده نو فدیه هم پرے نشته۔

علامه صدیق حسن خان رحمه الله فرمائی چه مرفوع حدیث پدے باب کی نهٔ دے راغلے، د الله رسول په کی څه نهٔ دی وئیلی او وائی چه د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما اثر باندے که چا عمل وکړو صحیح ده او که وے نهٔ کړو نو څه حرج پرے نشته وائی چه دین هغے ته وائی چه د الله د رسول نه نقل وی، مگر احتیاط پدے کی دے چه د ابن عباسؓ دے فتوے ته اعتبار ورکړے شی۔ ځکه چه قرآن کریم کی ورته اشاره راغلے ده۔ ﴿وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍ﴾ (البقرة : ١٨٤)

(۲) دویم : حامله او مرضعه که روژه وخوری د حمل یا د بچی په یره نو ظاهر قول دا دے چه په دوی باندے قضاء راګرځول دی اگرکه دویم رمضان هم پرے راشی او فدیه ورکول نشته۔ او ددے تفصیل په مخکی روایت کی وشو۔ که دے دواړو قضاء رانهٔ وړه او موقعه ورته د قضاء ملاؤ شوے وه بیا مړهٔ شول نو په وخت د مرګ کی به وصیت وکړی او د دوی وارثان به د دوی د طرفنه د روژو قضائی راوړی۔ یا دا چه د دوی طرفنه به

د هرې روژې په بدله کې یو مد (یعني نیمه کیلو) غنم یا وړه ورکړي۔ او دغه شان حکم د مسافر او مریض هم دے۔

(۳) مریض او مسافر دپاره په حالت د مرض او سفر کې روژه ماتول جائز دي خو دوی به فدیه نۀ ورکوی بلکه قضائي به راګرزوي خو شرط پرے دا دے چه کله مریض روغ شو او مسافر مقیم شو او وخت ورته ملاؤ شو نو قضائي پرے لازمه ده او که مسافر په سفر کې او مریض په حالت د مرض کې مړ شو نو په دوی باندے نۀ فدیه شته او نۀ قضائي، ځکه چه قرآن کې ﴿فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾ (بقره : ۱۸۴) راغلے دے او دوی ته د نورو ورځو موقعه نۀ ده ملاؤ شوے نو هیڅ پرے نشته نو د دوی اسقاط ورکول هم صحیح نۀ شو۔ او که موقعه ورته ملاؤ شوے وه نو بیا ئے حکم مخکې تیر شو چه یا به وارثان ترے روژه ونیسي یا به فدیه ورکړے شي۔

الفصل الأول

- 2030 (1) عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : كَانَ يَكُونُ عَلَيَّ الصَّوْمُ مِنْ رَمَضَانَ فَمَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَقْضِيَ إِلَّا فِي شَعْبَانَ. قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ : تَعْنِي الشُّغْلَ مِنَ النَّبِيِّ أَوْ بِالنَّبِيِّ ﷺ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائي : په ما باندے به د رمضان روژے (د حیض د وجه نه) لازمیدلے نو ما به طاقت نۀ لرلو چه زۀ قضائي راوړم مګر په شعبان میاشت کې۔ یحیی بن سعیدؒ (چه ددے روایت یو راوي او لوی امام دے) فرمائي: چه د عائشے غرض دا دے چه زۀ به د نبی کریم ﷺ په خدمت مشغوله وم۔ یا به د نبی کریم ﷺ د خدمت سره مشغوله وم۔ (پدے وجه به ما قضائي نشوه راوړلے)۔

تشریح : كَانَ دلته د شان دپاره دے۔ مطلب دا دے چه عائشه رضی الله عنها فرمائي په ما باندے به د رمضان د روژو قضائي پاتے وه پدے وجه چه ما نه به د حیض په سبب یا د بل مرض په وجه فوت شوے وے نو ما به په نورو وختونو کې د هغې قضائي نشوه راوړے ځکه چه د نبی ﷺ په خدمت کې به مشغوله وم مګر کله چه به شعبان راغلو نو ما به قضائي راوړه ځکه چه نبی ﷺ به پدے میاشت کې ډیرے روژے نیولے نو په کور کې به د روژو ماحول جوړ شو نو ما دپاره به روژه نیول آسان شو۔

د یحیی بن سعیدؒ پدے تعلیل ذکر کولو باندے دا اشکال شویدے (حافظ فرمائي چه

دا دليل دے په ضعف د زيادت مذكوره باندے) چه عائشه د نبى ﷺ په خدمت څنګه مشغوله وه حال دا چه نبى ﷺ د خپلو بيبيانو ترمينځ نمبر اېښودے وو او په هغے كې به ئے انصاف كولو او نبى ﷺ به يوے بى بى ته د هغے د نمبر نه بغير هم نزدے كيدو هغه به ئے ښكلوله او د جماع نه سِوئ به ئے ورسره بدن لګولو نو د عائشے پدے كار سره مشغوله كيدل د روژے نه مانع نهٔ واقع كيږى ځكه چه پدے كار سره روژه نهٔ ماتيږى البته دا وجه كيدے شى چه عائشے به د نبى ﷺ د اجازت نه په غير روژه نهٔ نيوله لكه دا به روستو حديث كې راشى او نبى ﷺ پدے وجه اجازه نهٔ وركوله چه كيدے شى د هغه ورته ضرورت راپيښ شى نو كله چه وخت تنګ شو نو هغے ته ئے د روژے نيولو اجازه وركړه او نبى ﷺ به په شعبان كې روژے زياتے نيولے نو پدے وجه عائشے به هم ورسره شركت كولو۔ انتهىٰ ما قاله الحافظ۔

مِنَ النَّبِيِّ أَوْ بِالنَّبِيِّ ﷺ : من اجليه دے او باء سببيه ده۔ يعنى د وجه د نبى عليه السلام نه يا په سبب د مشغولتيا د نبى عليه السلام باندے۔

قَالَ يَحْيَى : ددے نه مراد يحيى بن سعيد الانصارى دے نهٔ يحيى بن سعيد القطان ځكه چه القطان د ابوسلمه بن عبد الرحمن سره نهٔ دے ملاؤ شوے او حال دا چه ددے روايت په سند كې د يحيى شيخ ابوسلمه دے او دارنګه پدے سند كې د يحيى شاګرد زهير بن معاويه دے او حال دا چه د يحيى القطان شاګرد زهير بن معاويه نهٔ دے بلكه هغه ئے استاذ دے۔

مسئله: د رمضان په قضاء كې اختلاف :

(۱) د جمهورو مذهب دا دے چه د روژو په قضاء راوړلو كې تقديم بهتر دے په ﴿فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ﴾ باندے عمل راځى او تاخيرئے جائز دے مګر د بل رمضان نه مخكې به ئے نيسى كه وے نهٔ نيولے تردے چه بل رمضان پرے داخل شو بيا هم قضاء پرے لازمه ده او نهٔ ساقطيږى او د روستو كولو په وجه پرے هيڅ فديه نشته او دے قول ته امام بخارىؒ په خپل صحيح كې ترجيح وركړيده۔

او بعض علماؤ پدے باندے فديه هم وئيلے ده لكه په موطأ كې امام مالك د قاسم بن محمد رحمه الله نه او دارقطنىؒ د ابو هريره ﷺ نه نقل كړيدى او دا قول د امام مالك، شافعىؒ، او احمدؒ دے ليكن دا قول بى دليله دے ځكه چه قرآن كريم كې (فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ

اُخَر) مطلق راغلي دے چه روستو نورے ورځے دے وشماری او دا عامی دی چه ددے کال ورځی وی او که د راتلونکی کال۔ امام بخاریؒ وائی چه په هغے کی فدیه نهٔ ده ذکر۔

(۲) اهل ظواهرؒ وائی چه تاخیر د قضاء نا جائز دے، د رمضان نه روستو به ئے سمدست نیسی او هغوی په عامو ادله ؤ باندے استدلال کړیدے او ددے حدیث نه دا جواب کوی چه دلته (فَمَا اَسْتَطِيْعُ) لفظ راغلے دے او چه کله وس نهٔ وی نو بیا تاخیر جائز دے۔ لیکن اول قول غوره دے ځکه چه په تقدیم باندے نص صریح نهٔ دے موجود او په ادله عامه ؤ باندے استدلال کول کله چه ورسره خصوصی نص موجود نهٔ وی صحیح نهٔ وی۔

- 2031 (2) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" لَا يَحِلُّ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَصُوْمَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ وَلَا تَأْذَنُ فِيْ بَيْتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: د ښځے دپاره دا جائز نهٔ دی چه (نفلی) روژه ونیسی پداسے حال کی چه د هغے خاوند (د هغے سره) حاضر وی مگر په اجازه د هغه سره او اجازه به نهٔ ورکوی د هغه په کور کی (هیچا ته) مگر په اجازه د هغه سره۔ (مسلمؒ)

تشریح : دا حدیث په باره د نفلی روژو کی دے چه د خاوند د اجازے نه بغیر به روژه نهٔ نیسی ځکه چه امکان لری چه د خاوند ورته د ورځے ضرورت راپیښ شی او دا په روژو مشغوله وی نو د خاوند حق کی به نقصان راشی پدے وجه د خاوند نه به اجازه اخلی خو دا پخوانئ زنانه وے چه د عبادتونو سره به ئے مینه وه اُوس خو زنانو کی ډیره سستی راغلے ده نو کومه زنانه چه روژه نیسی خاوند له پکار دی چه اجازه ورکړی۔

وَلَا تَأْذَنُ : یعنی د خاوند کور ته به هغه چا له اجازه ورکوی او هغه څوك به پریدی چه خاوند ورته اجازه وکړی یعنی خاوند پرے رضا وی۔ امام نووی رحمه الله فرمائی : پدے حدیث کی اشاره ده چه ښځه به په خاوند باندے دا جرأت نهٔ کوی چه د هغه د اجازے نه په غیر چا ته د راننوتو اجازه ورکړی خو دا په هغه صورت باندے محمول دے چه ښځے ته د خاوند رضا معلومه نهٔ وی او کله چه ښځے ته د خاوند رضا معلومه وی نو بیا په ښځه څه حرج نشته لکه د خاوند عادت دا وی چه میلمانه هغه ځای

(بیتهك) تـه رانـنباسـی چـه هـغـوی لـه تیـار شوـے وی برابره ده چه خاوند حاضر وی یا غائب نو د میلمنو راننویستل د خاوند خاص اجازے ته ضرورت نهٔ لری لنده دا ده چه د خاوند اجازه ضروری ده یا تفصیلًا یا اجمالًا۔

- 2032(3) وَعَنْ مُعَاذَةَ الْعَدَوِيَّةِ أَنَّهَا قَالَتْ لِعَائِشَةَ: مَا بَالُ الْحَائِضِ تَقْضِي الصَّوْمَ وَلَا تَقْضِي الصَّلَاةَ ؟ قَالَتْ عَائِشَةُ: كَانَ يُصِيبُنَا ذٰلِكَ فَنُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّوْمِ وَلَا نُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّلَاةِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. ___

ترجمه : او معـاذه عـدویـه رحمة الله علیها (چه جلیل القدر تابعیه ده او کنیت ئے ام الـصهبـاء دے) په باره کی نقل شویدی چه دے عائشے رضی الله عنها ته وویل : څه وجه ده حائضے لره چه د روژو قضاء راګرځوی او د مانځه قضاء نهٔ راګرځوی (سره ددے نه چه مونځ ډیر غوره دے د روژے نه) عائشے رضی الله عنها ورته وفرمایل: مونږ (زنانو) ته به دا حالت رارسیدو نو مونږ ته به د روژے د قضائی راوړو حکم کیدو او د مانځه د قضائی راوړو حکم به نهٔ کیدو۔ (یعنی داسے نبوی حکم دے ددے تابعداری پکار ده) (مسلمٌ)

تشریح :معـاذه بـنت عبـد الله الـعـدویـه د بـنـی عدی بن کعب قبیلے نه ده چه دا د قریشـو یـوه قبیـلـه ده، ددے زنـانـه اسم کنیه أم الصهباء دے او د عائشے رضی الله عنها خصوصی شاګرده ده۔

حـائـضـه زنـانه به روژه نهٔ نیسی او نهٔ به مونځ کوی مګر د روژے قضاء به راوړی او د مانځه قضاء پرے نشته۔

د حـدیـث مـطلب دا دے چه معاذے د عائشے رضی الله عنها نه تپوس وکړو چه دا څه وجـه ده چه حـائـضـه ښځه د روژے قضاء راوړی او د مانځه نهٔ ؟ حال دا چه مونځ خو د روژے نـه ډیر غـوره دے ؟ نـو پـه روایـت د بـخاری (۳۲۱) او مسلم کی راغلی دی چه عـائشے رضی الله عنها ورته وویل : (أَحَرُورِيَّةٌ أَنْتِ) یـعـنـی تـهٔ هم د خوارجو نه شوے، څکه چه داسے تپوسونه خو د خوراجو کار دے (حروریه یوه ډله وه چه په حَرُوْرَاء علاقه کی پـه عـراق کی پیدا شوے وه د کوفے پـه خوا کی، دا خوارج وو دوی بـه وئیل چه حـائـضـه به د مانځه قضاء هم راوړی او عقل به ئے جنګولو چه مونځ خو د روژے نه ډیر غـوره دے) نـو څکه عائشے رضی الله عنها دغه زنانه ته وویل چه تهٔ هم د حروراء والا په

شان اعتراضونه کوے؟ نو هغے وویل : د خوارجو نه نۀ یم بلکه تپوس کول غوارم یعنی ځان پوهه کوم؟ نو عائشہؓ ورته جواب ورکړو په طریقه د اسلوب الحکیم سره یعنی ورته ئے وویل چه د علتونو په باره کی تپوس مۀ کوه بلکه ستا دپاره دا اهم کار دے چه د نص او د شریعت تابعداری وکړے او شریعت ته غاړه کیدے نو مونږ زنانو ته په د نبی ﷺ په زمانه کی حیض راتللو او مونځ به مو نۀ کولو او د هغے د قضائی حکم به راته نۀ کیدو لهذا مونږ پدے باره کی د پیغمبر تابعداری کوو۔ او د روژو د قضاء حکم به راته کیدو۔

محدثین ددے جواب نه دا نکته راوباسی چه عائشہؓ معاذہؒ ته دا جواب ورکړو پدے کی ئے د هغے دماغ کولاؤ کړل چه د دین د مسئلو علتونه او سببونه لټولو په ځای تابعداری کول پکار دی، دارنګه که یو تن د یوے مسئلے په حکمت باندے پوهه نشو نو هغه له د هغے قبلول او هغے ته تسلیمیدل پکار دی۔ او دا ایمان دے او عائشہؓ هم ایمانی جواب ورکړیدے۔

عائشہؓ دلته حکمت ذکر نکړو، محدثینؒ فرمائی : ددے حکمت دا دے چه مونځ په ورځ او شپه کی پنځه کرته تکراریږی او روژه په ټول کال کی یو کرت وی نو د مانځه په قضاء راګرزولو سره زنانه په تکلیف کی پریوزی ځکه چه هغه به د خاوند، بچو او کور په خدمت کی هم مصروفه وی او پنځه وخته مونځونه به هم کوی او که ددے سره د حیض د پنځه ورځو یا شپږو یا اووه ورځو د مونځونو قضاء هم راوړی نو هغے ته به زیات تکلیف شی نو رحیم ذات ورته مونځونه معاف کړل۔

بله دا چه د مانځه بدل شته چه هغه ذکر اذکار دی او د روژو بدل نشته۔ بله دا چه روژو سره د کور او خاوند کار کیږی په خلاف د مانځه نه۔

- 2033(4) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ:قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صَوْمٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چه مړ شو او په هغه باندے روژے وی (نو) د هغه د طرفنه به ئے ولی ونیسی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح : وَعَلَيْهِ صَوْمٌ : دا حديث عام دے هرے روژے ته شامل دے که انسان مرشی او په هغه باندے روژه وی فرضی وی یا نذری نو د هغه د طرفنه به وارث روژه ونیسی او پدے باب کی ولی د مړی د طرفنه نائب جوړیږی او دا اگرکه بدنی عبادت دے لیکن د الله نبی پدے کی نیابت په دے موقعه کی جائز کړیدے۔ او دا یو قول د امام شافعی رحمه الله دے او دا قول د ابوثورؒ، او یو جماعت د محدثین شوافعؒ دے او د عامو محدثینوؒ دے او امام بیهقیؒ په «الخلافیات» کی وئیلی دی چه دا مسئله ثابته ده او ماته د محدثینو په مینځ کی ددے په صحت کی اختلاف نۀ دے معلوم نو پدے باندے عمل واجب دے بیا ئے د امام شافعیؒ نه نقل کړیدی چه زۀ کومه خبره وکړم او د نبی ﷺ نه د هغے خلاف نقل شی نو حدیث واخلئ او زما تقلید مۀ کوئ آه۔

پدے باندے یو دا حدیث دلیل دے او بل حدیث د ابن عباس رضی الله عنهما دے چه یوے ښځے ووئیل اے د الله رسوله! زما مور وفات شوه او په هغے باندے د نذر روژے وے نو آیا زۀ د هغے د طرفنه روژه ونیسم؟ نبی ﷺ وفرمایل خبر راکړه که ستا په مور باندے قرض وے او تا ادا کولے آیا دا به د هغے د طرفنه ادا کیدے شوے؟ هغے ووئیل : آؤ، نو وے فرمایل: د خپلے مور د طرفنه روژے ونیسه۔ او دغه شان بل روایت د بریدةؓ نه په مسلم، ابوداود، ابن ماجه او بیهقی کی راغلے ...... چه یوے ښځے ووئیل : زما مور وفات شوه او په هغے باندے د یوے میاشتے روژے وے نو آیا زۀ د هغے د طرفنه روژے ونیسم؟ نبی علیه السلام وفرمایل : د هغے د طرفنه روژے ونیسه۔

(۲) د امام شافعیؒ نوے قول او د امام مالك او ابوحنیفةؒ نه نقل دی چه د مړی د طرفنه روژے نیول نۀ صحیح کیږی او دوی دلیل نیولے په راتلونکی حدیث د ابن عمرؓ باندے چه فدیه به ورکوی۔ مگر صحیح دا ده چه دا موقوف روایت دے او د ابن عمر رضی الله عنهما اجتهاد دے ځکه چه پدے مسئله کی اجتهاد دپاره دخل شته نو پدے باندے استدلال کول صحیح نۀ دی، دویم دا چه پدے کی منع نشته او په کوم روایت کی ئے چه منع ذکر کړیده لکه روستو فصل ثالث کی مصنفؒ د مالك نه بلاغاً نقل کړیدی ابن عمرؓ فرمائی : هیڅوك به د بل چا د طرفنه روژه نۀ نیسی) نو ددے جواب دا دے چه د عبد الله بن عمرؓ نه په بخاری کی تعلیقاً ددے مخالف قول هم نقل دے نو د هغه خبره پدے باب کی مختلفه شوه نو هیڅوك پدے باندے دلیل نشی نیولے، علاوه

لا دا چه دغه روایت موقوف دے او دا حدیث صحیح مرفوع دے او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: (وَالْحَدِيْثُ الصَّحِيْحُ اَوْلٰى بِالْاِتِّبَاعِ) صحیح حدیث د تابعدارئ ډیر لائق دے)۔ او دغه شان د ابن عباس رضی الله عنهما نه هم مختلف دوه قولونه راغلی دی منع او جواز دواړه کما فی المرعاة (۲۸/۷) نو په هغے باندے هم استدلال کول مخدوش دی کما قال العینیؒ۔ او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: ددے تطبیق داسے هم کیدے شی چه د مړی په حق کی جواز دے او د ژوندی په حق کی منع ده۔ یعنی ژوندے د ژوندی د طرفنه روژه نۀ شی نیولے او د مړی د طرفنه ئے نیولے شی۔ او همدا صحیح خبره ده۔

او ځینو علماؤ روژه په مانځه قیاس کړیده چه دواړه بدنی عبادتونه دی نو د بل د طرفنه نۀ صحیح کیږی لیکن صحیح دا ده چه قیاس د نص په مقابله کی باطل دے۔

لیکن مونږ جواب کوو که د عبد الله بن عمر او ابن عباس رضی الله عنهما نه فدیه ثابته ده نو دا هم صحیح ده ځکه چه د مړی د طرفنه د روژو په قضاء کی دوه طریقی ثابتی دی یو دا چه وارث ترے روژه ونیسی او دویم دا چه د هغه د طرفنه فدیه ورکړے شی او دواړه مستقلے طریقے دی یو به په بل باندے نشی رد کولے۔

ځینی پدے حدیث د عائشہؓ کی دا تاویل کوی چه د (صام عنه ولیه) معنیٰ دا ده چه وارث دے ترے داسے کار وکړی چه هغه د روژے په ځای قائم شی چه هغه طعام ورکول دی۔ لیکن پدے کی لفظ د خپل ظاهر نه په غیر د لیل نه اړول دی چه صحیح نۀ دی بلکه د ابن عمر، ابن عباس او عائشه رضی الله عنهم نه آثار نقل دی چه هغوی دا روژه په خپله حقیقی معنیٰ کی اخستے ده او دغه تاویل د دوی د خلاف دے۔

او صاحب د فتح الملهم وائی چه د نبی علیه السلام دا الفاظ : (صُوْمِیْ عَنْهَا اَوْ فَصُوْمِیْ عَنْ اُمِّكِ) په جواب د دغه ښځه کی وئیل شویدی نو ګویا که نبی ﷺ دغه زنانه په خپل سوال باندے مضبوط طه کړه او دغه زنانه حقیقی روژه نیول مراد کړی وو نو نبی ﷺ هم ورته د حقیقی روژے نیولو اجازه ورکړه۔ (فتح الملهم)

(۳) لیث بن سعدؒ، احمد بن حنبلؒ، اسحاقؒ او ابوعبیدؒ وائی چه ولی صرف د نذر روژے نیولے شی نۀ فرضی روژے او وائی چه دا حدیث په باره د نذر کی دے، **دلیل** دا وائی چه دا حدیث د عائشےؓ مطلق دے او حدیث د ابن عباسؓ مقید دے په نذر باندے

لکه په ابن ابی شیبه کې په صحیح سند د هغه نه نقل دي چه صرف نذري روژې د مړي د طرفنه نیول جائز دي۔ او مطلق به په مقید باندې حمل وي او ددې روژو نه مراد به نذري روژې وي۔ لکه ددې تفصیل علامه ابن القیمؒ په اعلام الموقعین او شیخ البانیؒ په احکام الجنائز ص (١٧٠) کې کړیدې۔

جواب دا دې چه د دواړو حدیثونو ترمینځ هیڅ تعارض نشته ځکه چه د ابن عباسؓ په حدیث کې د یو خاص مستقل صورت په باره کې تپوس شویدې او د هغې جواب ورکړې شویدې او په حدیث د عائشهؓ کې یوه عامه قاعده بیان شویده او په حدیث د ابن عباسؓ کې دې عامې قاعدې ته اشاره ده چه (فَدَيْنُ اللّٰهِ أَحَقُّ اَنْ يُقْضٰى) د الله تعالیٰ قرض ډیر لائق دې چه ادا کړې شي (قاله الحافظ العسقلانیؒ)

امام شوکانیؒ فرمائي : د ابن عباس حدیث ته ئې مستقل صورت وویلو مطلب دا چه دا تصریح ده په بعض افرادو د عام نو پدې سره په عام کې تخصیص نشي کیدلې او نهٔ تقیید د مطلق کولې شي لکه دا خبره په اصولو کې ثابته شویده آه۔

نو عام دلته (صام عنه ولیه) دې او (وعلی امی صوم شهر) یعنې زما مور د میاشت روژو نذر کړې نو دا یو فرد دې د دغه حدیث نه او تنصیص په بعض افرادو د عام باندې تخصیص په عام کې نهٔ راولي۔

(ولیه) بیا ددې ولي نه څوك مراد دې ؟ ځیني وائي چه هر خپلوان مراد دې وارث وي او که عصبه او که بل څوك وي، بعض وائي : خاص وارث مراد دې۔ او ځیني وائي : عصبه مراد دي حافظؒ وائي اول قول راجح دې او دویم نزدې دې او دریم مردود دې په قصه د هغه ښځه سره چه د مور د نذر په باره کې ئې تپوس کړې وو ځکه هغه عصبه نهٔ ده۔ امام نوویؒ او کرمانيؒ وائي چه اول صحیح دې۔

بیا راجح دا ده چه دا روژې صرف ولي نیولې شي نهٔ اجنبي شخص ځکه چه په حدیث کې ددهٔ تصریح شویده۔

دویمه طریقه دا ده چه څوك مړ شي او په هغه باندې روژه وي نو د هغه د طرفنه به فدیه ورکړې شي لکه چه په روستو حدیث کې راروانه ده۔

الفصل الثاني

- 2034(5) عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: " مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامُ شَهْرٍ

رَمَضَانَ فَلْيُطْعَمْ عَنْهُ مَكَانَ كُلِّ يَوْمٍ مِسْكِيْنٌ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : وَالصَّحِيْحُ أَنَّهُ مَوْقُوْفٌ عَلَى ابْنِ عُمَرَ.

ترجمه : او نافعؒ د ابن عمر رضی الله عنهما نه هغه د نبی کریم ﷺ نه روایت نقل کوی چه هغه فرمایلی دی: څوك چه مړ شو او په هغه باندے د رمضان میاشتے روژے وی نو د هغه د طرفنه دے د هرے ورځے په بدله کی یو مسکین ته خوراك ورکړے شي۔ (دا روایت ترمذیؒ نقل کړیدے او وئیلی ئے دی چه صحیح دا ده چه دا په ابن عمر رضی الله عنهما باندے موقوف دے۔ (یعنی دا د ابن عمرؓ وینا ده نهٔ د نبی کریم ﷺ)۔

تشریح : پدے روایت کی مرفوعاً کلام دے لکه روسته راځی او موقوف ثابت دے او که مرفوع هم ثابت شی نو مطلب ئے دا دے چه دا دویمه طریقه ده چه د مړی د طرفنه فدیه ورکړے شی۔ نو ددے حدیث او د مخکنی حدیث د عائشےؓ هیڅ تعارض نشته فتدبر۔

پدے حدیث باندے احنافو او مالکیانو دلیل نیولے دے چه څوك مړ شی نو وارث به د هغه د طرفنه د هرے ورځے په مقابله کی فدیه ورکوی خو پدے شرط چه مړی وصیت کړے وی او که وصیت ئے نهٔ وی کړے نو فدیه لازم نهٔ ده۔

(۲) امام شافعی رحمه الله فرمائی: فدیه ورکول شته برابره ده چه وصیت ئے کړے وی او که نهٔ۔ علی القاریؒ وائی : که وصیت ئے وکړو نو په وارث باندے د هغے ویستل لازم دی کله چه دغه د ثلث (دریمے حصے) د مال نه ویستلے شی او که دا فدیه د دریمے حصے د مال د مړی نه زیاته وی نو بیا په وارث باندے د هغے ویستل لازم نهٔ دی که په خپله خوښه ئے تریے وباسی نو جائز ده کذا قاله ابن الهمام۔

فائده : پدے حدیث کی د طعام اندازه نهٔ ده ذکر او په روایت د بیهقی (٤/٢٥٤) کی د ابن عمرؓ نه مرفوعاً ثابت دی چه دا نیمائی صاع د غنمو دے لیکن امام بیهقیؒ وئیلی دی چه دا روایت خطاء دے اصل کی ابن عمرؓ (مُدًّا مِنْ حِنْطَةٍ) وئیلے دے یعنی یو مد (یوه لپه، یعنی نیمه کیلو) د غنمو نه دی۔ (السنن الکبریٰ للبیهقی٤/٢٥٤)

او دغه شان موطأ امام مالك هم راوړیدے

او پدے باندے امام مالك، شافعیؒ او احمدؒ عمل کړیدے او په اولنو الفاظ باندے احنافو دلیل نیولے دے چه نیمائی صاع به ورکوی د غنمو نه او د غنمو نه سویٰ کی به

پوره صاع (يعني پاؤ باندے دوه كيلو) وركوي۔
مگر صحيح خبره دا ده چه پدے باره كي د نبي ﷺ نه په صحيح سند سره هيڅ اندازه نۀ ده نقل او په قرآن كريم كي ﴿فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ﴾ (بقره:١٨٤) ذكر شويدے (يعني مسكين ته د ورځے په بدله كي خوراك وركول دي)۔
البته پدے باره كي د صحابه كرامو آثار نقل دي۔ د ابن عباس رضي الله عنهما نه يو مد (نيمه كيلو) غنم نقل دي د ابو هريره رضي الله عنه نه هم دغه شان نقل دي چه څوك بوډا وي او د روژو طاقت نۀ لري نو هغه باندے د هرے ورځے په بدله كي يو مد غنم لازم دي۔(دارقطنيؒ) انس بن مالك رضي الله عنه يو كال (په بوډا والي كي) د روژو نيولو نه كمزورے شو نو طعام ئے تيار كړو (يوه كاسه) او ديرش مسكينان ئے راوغوښتل او هغوي ئے پرے ماړۀ كړل۔ (الدارقطني ٢٣٩٠) باسناد صحيح) او دا قول د مالك او شافعيؒ دے لكه چه مخكي تير شو۔
درجة الحديث: اسناده ضعيف، الترمذي (٧١٨) وابن ماجه (١٧٥٧) وهو في ضعيف الجامع الصغير (٥٨٥٣) وفي سنده اشعث بن سوار النجار ومحمد بن عبد الرحمن بن ابي ليلى كلاهما ضعيف والصحيح انه موقوف على ابن عمر وصحح الموقوف كل من ابن العربي في عارضة الاحوذي (٢/١٧٧) وابن حزم في المحلي (٦/٢٦١) والعسقلاني في الدراية (١/٢٨٣) والبيهقي والدارقطني) وفي جزء ابي الجهم العلاء بن موسىٰ (٢٢) قال : ثنا العلاء بن موسى، ثنا الليث بن سعد عن نافع اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ يَقُوْلُ مَنْ اَفْطَرَ مِنْ رَمَضَانَ اَيَّامًا وَهُوَ مَرِيْضٌ ثُمَّ مَاتَ قَبْلَ اَنْ يَّقْضِيَ فَلْيُطْعِمْ عَنْهُ مَكَانَ كُلِّ يَوْمٍ مِنْ تِلْكَ الْاَيَّامِ مِسْكِيْنًا مُدًّا مِنْ حِنْطَةٍ وسنده صحيح قاله عبد الرحيم بن محمد بن احمد القشقري محقق الجزء ابي جهم (طبع مكتبة الرشيد، الرياض)

الفصل الثالث

- 2035 (6) عَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَسْأَلُ:هَلْ يَصُومُ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ أَوْ يُصَلِّيَ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ ؟ فَيَقُولُ:لَا يَصُومُ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ، وَلَا يُصَلِّيَ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ. رَوَاهُ فِي الْمُوَطَّإِ

ترجمه : او امام مالك ته دا خبره رسيدلے ده چه عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه به تپوس كيدے شو چه آيا يو تن د بل تن د طرف نه روژه نيولے شي يا يو تن د بل تن د طرف نه

مونځ کولے شی؟ نو هغه به فرمایل: یو تن به روژه د بل چا د طرف نه نهٔ نیسی او نهٔ به یو تن مونځ د بل چا د طرفنه کوی۔ (موطأ مالك)

تشریح : دا روایت د ابن عمر ﷺ نه منقطع دے د مالك او د ابن عمرؓ ترمینځ نو قابل د استدلال نهٔ دے بله دا چه موقوف روایت دے او که ثابت شی نو دا د ابن عمر رضی الله عنهما رایه ده، دریم دا چه که ثابت شی نو ددے بنه مطلب دا دے چه یو ژوندے انسان د بل ژوندی انسان د طرفنه روژے نشی نیولے لکه څنګه چه مونځ د هغه د طرفنه نهٔ کیږی او همدا مطلب ئے متعین دے لکه د سوال نه هم دغسے معلومیږی۔ نو بناء پدے باندے به دا روایت د مرفوع حدیث خلاف نهٔ وی۔

درجة الحديث : اسناده منقطع، مالك فى الموطأ والبيهقى فى الكبرى (٤/٢٥٤)



٦- باب صيام التطوع

د نفلي روژو بيان۔

زمونږ د اسلام فراخي دا ده چه فرائض ئې هم مقرر کړي او نوافل هم، دے دپاره چه بندګان د الله بندګي وکړي او دويم ددے دپاره چه که په فرائضو کې څه نقصان وشي نو په نوافلو به هغه پوره کړے شي نو نفلي روژے په بندګانو لوی نعمت دے چه خپل فرضي روژے پرے پوره کوي۔ او د نفلي روژو دپاره ئې هم دفعات او قوانين مقرر کړيدی او دا د اسلام کمال دے چه هغه پدے باب کې ذکر کيږي۔

بل په نوافلو مقررولو کې حکمت دا دے چه بندګان ځان له جمع وکړي، د آخرت دپاره تجارت وکړي۔ دارنګه چه د محبين او غير محبين ترمينځ تميز راشي، څوک د الله تعالىٰ سره زيات محبت لري او څوک بې غمه وي که صرف فرائض وے بيا به انسانان ټول يو شان وے۔

الفصل الأول

- 2036 (1) عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَصُوْمُ حَتّٰى نَقُوْلَ: لَا يُفْطِرُ وَيُفْطِرُ حَتّٰى نَقُوْلَ: لَا يَصُوْمُ وَمَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اِسْتَكْمَلَ صِيَامَ شَهْرٍ قَطُّ إِلَّا رَمَضَانَ وَمَا رَأَيْتُهُ فِيْ شَهْرٍ أَكْثَرَ مِنْهُ صِيَامًا فِيْ شَعْبَانَ. وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَتْ: كَانَ يَصُوْمُ شَعْبَانَ كُلَّهُ وَكَانَ يَصُوْمُ شَعْبَانَ إِلَّا قَلِيْلًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : ام المؤمنين عائشه رضی الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ به (نفلي) روژے (دومره ډيرے) نيولے تردے چه مونږ به ووئيل : نۀ کوجه کوي او کوجه به وو تردے چه مونږ به ووئيل چه روژه نۀ نيسي۔ او ما رسول الله ﷺ نۀ دے ليدلے چه يو مياشت روژه ئے پوره نيولي وي سوئ د رمضان نه او ما نۀ دے ليدلے چه په هيڅ مياشت کې ئے زياتې روژے نيولي وي د شعبان نه او په يو روايت کې دي : عائشه رضی الله عنها فرمائي : نبي کريم ﷺ به ټول شعبان روژه نيوله او هغه به د شعبان روژے نيولے مګر

لړے (به ئے نۀ نیولے)۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : حَتّٰی نَقُوْلَ : ددے نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ به درمیانه روی کوله، همیشه به ئے روژے توله میاشت نۀ نیولے بلکه کله به ئے ډیرے ونیولے بیا به کوجه شو تردے چه مونږ به ووئیل چه روژه نۀ نیسیٰ او نبی ﷺ د رمضان نه سویٰ توله میاشت روژے نۀ دی نیولی دے دپاره چه څوك د هغے د فرضیت او د وجوب گمان ونکړی او په شعبان کی به ئے زیاتی روژے نیولے پدے سره به ئے د رمضان استقبال کولو،

بیا دا سوال نۀ پیدا کیږی چه په روایت د بخاری وغیره کی د عائشہؓ نه نقل دی چه د نبی ﷺ عمل به همیشه وو او دلته وائی چه کله به ئے په یوه میاشت کی ډیرے روژے ونیولے او کله به ئے ډیرے نۀ نیولے نو ددے وجه دا ده چه د نبی ﷺ عملونه دوه قسمه وو یو هغه چه ځانله ئے مقرر کړی وو هغے ته راتب عمل وائی، دویم مطلق نفل وو نو کوم چه به مقرر کړی وو هغه به ئے همیشه کول او عام نوافلو کی به ئے ناغه کوله۔

بیا نبی ﷺ د شعبان روژے ولے ډیرے نیولے؟ محدثین شراحو ددے ډیرے وجے لیکلی دی، (١) ځینی وائی چه نبی ﷺ به هره میاشت کی درے روژے نیولے مگر کله به د سفر د وجه نه پاتے شوے نو په شعبان کی به ئے د هغے قضاء راگرزوله لکه دا په یو ضعیف روایت د طبرانیؒ کی د عائشہؓ نه نقل دی لیکن په سند کی ئے ابن ابی لیلیٰ ضعیف دے۔ (٢) ځینی وائی چه پدے سره ئے د رمضان تعظیم کولو لکه ترمذیؒ د انس بن مالك رضی الله عنه نه نقل کړیدی لیکن په سند کی ئے صدقه بن موسیٰ د محدثینو په نیز ضعیف دے۔

(٣) حافظؒ وائی چه غوره وجه هغه ده چه په روایت د نسائیؒ کی راغلے ده او ابن خزیمہؒ ورته صحیح وئیلے دے اسامه بن زیدؓ د نبی ﷺ نه د شعبان د ډیرو روژو نیولو تپوس وکړو نو هغه وفرمایل : ﴿ذٰلِكَ شَهْرٌ يَغْفُلُ النَّاسُ عَنْهُ بَيْنَ رَجَبَ وَرَمَضَانَ وَهُوَ شَهْرٌ تُرْفَعُ فِيْهِ الْأَعْمَالُ إِلٰى رَبِّ الْعَالَمِيْنَ﴾ ۔ دا داسے میاشت ده چه د رجب او د رمضان په مینځ کی ده خلك ددے نه غافله کیږی او حال دا چه پدے میاشت کی رب العالمین ته د بندگانو عملونه پورته کیږی نو زۀ خوښوم چه زما عمل پورته شی او زۀ پکی روژه یم۔ او د عملونو د پورته کیدو نه مراد خاص پورته کیدل دی ورنه هر سهر او ماښام د بندگانو عملونه پورته کیږی یا اجمالی پورته کیدل مراد دی۔

ځينې علماء وائي چه كيدے شي چه نبي ﷺ ددے تولو حكمتونو د وجه نه د شعبان روژے زياتے نيولے۔

كان يصوم شعبان كله : دا روايت د ماقبل روايت مخالف معلوميږي چه په هغے كي وائي د رمضان نه سوئ ئے بله مياشت پوره روژے نۀ دي نيولي او دلته وائي چه شعبان به ئے ټول نيولو۔ جواب دا دے چه ددے (كله) بيان په روستو الفاظو (الا قليلا) سره شويدے چه نبي ﷺ به د شعبان اكثرے روژے نيولے او اكثر لره حكم د كل وي او په كل سره ئے ترے تعبير ځكه وكړو چه پريخودے شوے ورځے به دومره كمے وے چه گمان كونكي به گمان كولو چه ټوله مياشت روژه دے او د لږو به په كي پته نۀ لگيده او هغه په منزله د نيشت وے۔

بعض علماؤ جواب داسے كړے چه په يو كال به ئے ټول شعبان روژه نيوله او په بل كال به ئے اكثر۔ ليكن دا جواب د دغه حديث د اول سر خلاف دے ځكه چه اول كي وائي چه ما نبي ﷺ نۀ دے ليدلے چه د رمضان نه سوئ ئے ټوله مياشت روژه نيولي وي۔

- 2037(2) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ شَقِيْقٍ قَالَ : قُلْتُ لِعَائِشَةَ: أَكَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَصُوْمُ شَهْرًا كُلَّهٗ ؟ قَالَ: مَا عَلِمْتُهٗ صَامَ شَهْرًا كُلَّهٗ إِلَّا رَمَضَانَ وَلَا أَفْطَرَهٗ كُلَّهٗ حَتّٰى يَصُوْمَ مِنْهُ حَتّٰى مَضٰى لِسَبِيْلِهٖ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جناب عبد الله بن شقيق رحمه الله فرمائي: ما عائشے رضي الله عنها ته وويل : آيا نبي كريم ﷺ به (د رمضان نه علاوه) ټوله مياشت (نفلي) روژے نيولے ؟ هغے وفرمايل: زۀ په نبي كريم ﷺ نۀ يم خبر چه هغه ټوله مياشت روژے نيولي وي سوئ د رمضان نه او نۀ (يم خبره په نبي كريم ﷺ باندے چه) هغه ټوله مياشت كوچه كړي وي تردے چه د مياشتے نه به ئے (څه) روژے نيولے تردے چه په خپله لاره لاړو۔ (يعني وفات شو) (مسلمؒ)۔

تشريح : دا روايت هم دليل دے چه په مخكني روايت د عائشهؓ كي د (يصوم شعبان كله) نه مراد اكثرے ورځے مراد دي۔

مَضٰى لِسَبِيْلِهٖ : يعني تردے چه په خپله لاره لاړو))، دا كنايه ده د مرگ نه ځكه چه ټول انسانان په دغه لاره روان دي۔ او د حديث د الفاظو نه معلوميږي چه مستحب دا

ده چه هره میاشت د څه نا څه روژو نه خالي نشي ځکه چه هرکله نبي ﷺ د رمضان نه علاوه هیڅ میاشت توله روژه نهٔ ده نیولې نو بعض به ئې خامخا نیولې. او هرکله ئې چه توله میاشت کوچه کړې نهٔ ده نو ضرورئې بعض نیولی دی.

- 2038 (3) وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ : أَنَّهُ سَأَلَهُ أَوْ سَأَلَ رَجُلًا وَعِمْرَانُ يَسْمَعُ فَقَالَ : " يَا أَبَا فُلَانٍ ! أَمَا صُمْتَ مِنْ سَرَرِ شَعْبَانَ ؟ " قَالَ : لَا قَالَ : " فَإِذَا أَفْطَرْتَ فَصُمْ يَوْمَيْنِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا عمران بن حصین ﷺ د نبي کریم ﷺ نه نقل کوی چه نبي کریم ﷺ د عمران نه تپوس وکړو یا ئې د یو بل سړي نه تپوس وکړو او عمران آوریدو چه اے د فلانی شخص پلاره ! آیا تا د شعبان د میاشتې آخری روژه نهٔ ده نیولې؟ هغه ووېل : نهٔ، نبي کریم ﷺ وفرمایل : کله چه تهٔ (د رمضان روژو نه) فارغ شې نو دوه ورځې روژه ونیسه. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشریح : سَأَلَ رَجُلًا : حافظ وائي : دا شك د مطرف راوي د طرفنه دے چه هغه د عمران نه په شك سره نقل کوی او په مسند احمدکې په طریق د سلیمان التیميؒ کې دی : قَالَ لِعِمْرَانَ ((نبي ﷺ عمران ته ووېل)). نو پدے کې ئې شك نهٔ دے ذکر کړے.

سَرَرِ شَعْبَانَ : سین باندے ضمه، فتحه او کسره درے واړه لوستل جائز دی جمع د سُرَّةٌ ده، فراءؒ وائي فتحه پکې افصح ده او دا تول د استسرار نه دے پټوالی ته وائي او ددے معنیٰ ده آخر الشهر. د میاشتې آخر. او دا قول د جمهورو اهل لغتو دے. او دے ته سرر ځکه وائي چه میاشت پکې پټیږی او دا اته ویشتمه، نهه ویشتمه او دیرشتمه شپه ده. بیا مخکې تیر شویدی چه د رمضان نه یوه یا دوه ورځې مخکې روژه نیول صحیح نهٔ دی؟ نو جواب دا دے چه دا احتمال شته چه ددے سړي د شعبان دا روژوے عادت وے یا دا چه دا ئې نذر کړے وے پدے وجه ورته نبي ﷺ د قضاء راوړلو حکم وکړو. لکه دا خبره علامه مجد بن تیمیهؒ په المنتقیٰ او خطابيؒ په معالم السنن (٩٦/٢) کې ذکر کړیده. ظاهر دا ده چه دا سړے عادت وو.

فَصُمْ يَوْمَيْنِ : یعني کله چه رمضان تیر شي او د اختر ورځې ختمې شي نو بیا ددے ورځو قضائي راوړه.

ځيني علماء وائي چه د هغه سرې دا عادت وو چه د هرې مياشتې آخري دوه ورځې به ئې نفلي روژه نيوله نو يو ځل هغه د شعبان د آخري دوه ورځو روژه نۀ وه نيولې نو نبي كريم ﷺ هغه ته په طريقه د استحباب وفرمايل چه د رمضان نه روستو ددې دوه روژو قضائي راوړه۔

نو ددې نه معلوميږي چه د نوافلو قضاء راوړل هم مستحب دي نو د فرائضوخو به په طريقه اولىٰ سره لازم وي۔

او ځيني علماء وائي چه دې تپوس كونكي په طريقه د نذر په ځان باندې د هرې مياشتې آخري دوه ورځې روژې نيول واجب كړي وو نو يو ځل ئې د شعبان آخري دوه ورځې روژه نۀ وه نيولې نو نبي كريم ﷺ ورته فرمايل: چه كله د رمضان مياشت ختمه شي نو د شعبان د آخري دوه ورځو په بدله كې دوه روژې ونيسه۔

ځيني علماء ليكي چه (سَرَر) د مياشتې اول ته وائي لكه دا قول د اوزاعيؒ او سعيد بن عبد العزيزؒ دې چه ابوداوُدؒ د دوی نه نقل كړيدې ليكن خطابي رحمه الله پرې رد كړې چه دا په اعتبار د لغت سره خطاء دې او كيدې شي چه پدې نقل كې څه نقصان شوې وي لكه بيهقيؒ وائي چه د ابوداوُدؒ نه علاوه علماؤ د اوزاعيؒ نه دا نقل كړي چه سرر آخر د مياشت ته وائي او همدا صحيح ده۔ ځيني وائي چه سرر د مياشتې مينځ ته وائي نو ددې نه ايام البيض مراد دي كما في المرعاة او دا نوويؒ راجح ګرځولې دې هغه وائي ځكه چه په روايت د مسلم كې لفظ د (سُرة) راغلې دې او هغه مينځ د مياشت ته وائي۔ مګر حافظ وائي په ټولو طرقو د حديث كې دغه لفظ نۀ دې نقل بلكه امام احمدؒ لفظ د (سِرار او سَرَر) نقل كړې نو دا دليل دې چه آخر د مياشت مراد دې۔ انتهىٰ۔

- 2039 (4) وَعَنْ أَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " أَفْضَلُ الصِّيَامِ بَعْدَ رَمَضَانَ شَهْرُ اللهِ الْمُحَرَّمُ وَأَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ صَلَاةُ اللَّيْلِ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د رمضان نه روستو ډيرې غوره روژې د الله تعالىٰ د محرم مياشتې روژې دي او د فرضي مونځ نه روستو غوره مونځ د شپې مونځ دې۔ (مسلمؒ)

تشريح : دلته سوال دا دے چه هر کله د رمضان د میاشتے نه روستو د محرم روژے بهترے دی نو رسول الله ﷺ ولے په شعبان کی زیاتے روژے نیولے ؟ ددے دوه جوابه دی (۱) یو دا چه کیدے شی چه نبی علیه السلام ته د محرم د میاشتے فضیلت د ژوند په آخر کی معلوم شوے وی او بیا په محرم کی د زیاتو روژو نیولو باندے قادر شوے نهٔ وی او اول کی ئے د شعبان میاشتے روژے زیاتے نیولے۔ (۲) یا دا چه کیدے شی چه محرم میاشت کی رسول الله ﷺ ته څه داسے عذرونه (د سفر یا د مرض وغیره) راپیښ شوی وی چه په هغے سره په محرم کی د زیاتو روژو نیولو نه بند شوے وی۔(نوویؒ)

بعض شوافع او حنابله وائی چه د رمضان د روژو نه روستو غوره روژے د شعبان دی ځکه چه نبی ﷺ د هغے د روژو محافظت کړے او زیاتی ئے نیولی دی او هرچه دا حدیث دے چه پدے کی د محرم د میاشتے روژو ته غوره وئیل شویدی نو دا په مطلق نفلو باندے حمل دی۔ او ددے وجه جافظ ابن رجب رحمه الله دا ذکر کړیده چه غوره نوافل هغه دی چه رمضان ته نزدے وی یا مخکی وی یا روستو وی نو دا روژے هم د رمضان سره پیوسته کیږی ځکه چه دا رمضان ته نزدے دی او ددے مثال داسے کرزی لکه چه سنت رواتب چه د فرائضو نه مخکی یا روستو مقرر دی نو هغه د فرائضو سره په فضیلت کی پیوسته کیږی او د فرائضو تکمله او مکملات وی نو دغه شان د رمضان نه مخکی یا روسته روژے دی نو لکه څنګه چه سنن رواتب د مطلق نفل مونځونو نه بهتر دی نو دغه شان د رمضان نه مخکی او روسته روژے د مطلق نفلی روژو نه بهتر دی۔ مګر ظاهر دا ده چه نبی علیه السلام قولاً محرم روژو ته غوره وئیلی دی او خپله ئے زیاتی نهٔ دی نیولی د وجه د مخکنو عذرونو نه فتدبر۔

او کله رسول الله ﷺ یو شی ته ترغیب ورکوی او خپله ئے نشی کولے ځکه نوافل ډیر زیات دی او د دین بیان ضروری دے لکه افضل الصیام صیام داود راغلے دے او نبی ﷺ وفرمایل : زما دا طاقت نشته لهذا دا د اشکال خبره نهٔ ده۔

وَأَفْضَلُ الصَّلَاةِ : دا حدیث دلیل دے چه د شپے نوافل د ورځے د نوافلو نه غوره دی۔ او ابو اسحاق المروزی رحمه الله او د هغه موافقینو وئیلی دی چه د شپے مونځ د سنن رواتبو نه هم ډیر غوره دے او همدا ظاهر ددے حدیث دے۔ اکثرو علماؤ وئیلی دی چه سنن رواتب غوره دی ځکه چه هغه د فرائضو مشابه دی لیکن اول قول ډیر قوی او د

حدیث ډیر موافق دے انتھیٰ۔ او کوم علماء چه سنن رواتب غوره گنړی د تهجدو نه نو هغوی دلته دا تاویل کوی چه پدے کی غوره والے د شپے د مانځه دے په مطلق نفلو باندے نهٔ په سنن رواتبو باندے او د بعد الفریضه سره دا قید لګوی : (یعنی د فرضو او د توابعو د هغے نه چه سنت مؤکده دی د هغے نه روستو ډیر غوره مونځ د شپے مونځ دے) لیکن ظاهر د حدیث پریخودل صحیح نهٔ دی۔

- 2040 (5) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَتَحَرّٰى صِيَامَ يَوْمٍ فَضَّلَهٗ عَلٰى غَيْرِهٖ إِلَّا هٰذَا الْيَوْمَ: يَوْمَ عَاشُوْرَاءَ وَهٰذَا الشَّهْرَ يَعْنِيْ شَهْرَ رَمَضَانَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: ما نبی کریم ﷺ نهٔ دے لیدلے چه کوشش ئے کړی وی په روژو د یوه ورځ چه هغه ئے په نورو باندے غوره کړی وی مګر دا ورځ چه هغه د عاشورے ورځ ده او دا میاشت چه د رمضان میاشت ده۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : یعنی رسول الله ﷺ به د عاشورے او د رمضان د روژے ډیر کوشش کولو او دا به ئے په نورو ورځو غوره ګڼړلے۔ ددے روایت د ابن عباسؓ نه دا معلومیږی چه رسول الله ﷺ په نفلی روژو کی د عاشورے روژے نه سویٰ بله ورځ دومره غوره نهٔ ده ګڼړلے مګر دا د ابن عباس رضی الله عنهما د علم مطابق خبره ده پدے وجه هغه وائی چه ما نهٔ دے لیدلے نو پدے کی د بل صحابی د علم نفی نشته ځکه چه نورو صحابه کرامو د نبیؑ نه د ټول محرم غوره والے ذکر کړے لکه چه مخکی تیر شو دغه شان روستو به راشی چه د عرفے ورځے سره د دوه کالو ګناهونه معاف کیږی او د عاشورے د روژے سره د یو کال ګناه معاف کیږی نو ددے نه معلومیږی چه د عرفے روژه د عاشورے د روژے نه هم زیاته غوره ده دغه شان د پنجشنبے او د دوشنبے (پیر) د ورځو روژے به ئے غوره ګڼړلے لکه پدے باره کی ګڼړ احادیث رارسیدلی دی۔

نو پدے باره کی د صحابه کرامو مزاج او عادت زده کول پکار دی چه هغوی به کله یوه خبره واوریدله یا به ئے ولیدله نو ډیره جوخته به ئے بیانوله چون وچرا به ئے نهٔ کوله پدے وجه په بعضو خبرو کی به د یو بل سره ظاهراً تعارض هم راتللو۔

- 2041 (6) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : حِيْنَ صَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَوْمَ عَاشُوْرَاءَ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّهُ يَوْمٌ يُعَظِّمُهُ الْيَهُوْدُ وَالنَّصَارٰى، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : "لَئِنْ بَقِيْتُ إِلٰى قَابِلٍ لَأَصُوْمَنَّ التَّاسِعَ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: هرکله چه رسول الله ﷺ د عاشورے ورځے روژه ونیوله او ددے په روژه باندے ئے حکم وکړو نو صحابه کرامو عرض وکړو اے د الله رسوله! دا یوه داسے ورځ ده چه یهود او نصاریٰ ددے تعظیم کوی، نو رسول الله ﷺ (د دوی د مخالفت دپاره) وفرمایل : که چرته زهٔ راتلونکی کال ته (ژوندے) پاتے شوم خامخا (د محرم) په نهم تاریخ به روژه نیسم (یعنی د لسم سره). (مسلم)

تشریح : ددے نه معلومیږی چه د عاشورے روژه د اسلام په ابتدائی زمانه کی فرض وه، نبی ﷺ ددے په نیولو حکم کړے وو او صحابه کرامؓ فرمائی چه مونږ به په ماشومانو باندے په ډیر اهتمام سره نیوله کله چه به هغوی خوراك وغوښتو نو مونږ به ورله په لاس کی ګوډئ او نینزکے ورکړے چه په هغے باندے مشغول شی او روژه پوره کړی. ددے نه معلومیږی چه دا فرض وه ځکه ئے دومره اهتمام کولو بیا د رمضان د میاشتے په فرض کیدو سره د هغے فرضیت ختم شو او استحباب ئے اُوس هم باقی دے. او جمهور وائی چه فرض نهٔ وه صرف مؤکد استحباب وو ځکه چه په ماشومانو باندے فرضیت نهٔ رازی.

لَأَصُوْمَنَّ التَّاسِعَ : لیکن نبی علیه السلام کال ته پاتے نشو.

مسئله : پدے کی اختلاف دے چه د عاشورے څو ورځی دی؟ نو پدے کی یو څو قوله دی (۱) یو قول دا دے چه صرف لسمه ورځ ده او نبی ﷺ کال ته نهٔ دے پاتے شوے او همیشه ئے لسمه ورځ روژه نیولے ده. او که نهمه ورسره ونیسی نو هغه مستحب ده. دا ادنیٰ قول دے ځکه چه نبی ﷺ اراده د نهمے ورځے هم کړے وه او اګرکه پاتے نشو لیکن اراده د نبی ﷺ هم دین دے او بله دا چه د یهودو نه مخالفت کول هم ضروری دی او د دوه روژو په باره کی ګڼړ احادیث دی کما سیأتی.

(۲) دویم تحقیقی قول دا دے چه دوه روژے نیول دی د عاشورے (لسمه ورځ) روژه او

د هغې نـه مـخکې نهمه ورځ روژه نیول دي او دلته چه نبي ﷺ وفرمایل: چه که زهٔ کال له پاتې شوم نو نهمه به نیسم یعني د لسمې سره نو اصل روژه لسمه ده او نهمه ئې پدې وجه نیوله چه د یهودو مخالفت راشي او پدې باره کې ډیر احادیث راغلي دي او په همدې باندې عمل پکار دې۔ لکه یو حدیث په دریم قول کې روستو رازي۔ او یو موقوف روایت د ابن عباس کې دي: (صُوْمُوْا التَّاسِعَ وَالْعَاشِرَ خَالِفُوا الْيَهُوْدَ) (البيهقي ٢٨٧/٤) والترمذی رقم (٧٥٥) وعبد الرزاق (٧٨٣٩) وتعليق زاد المعاد (٦٦/٢)

یعني تاسو نهمه او لسمه ورځ روژه شئ د یهودو مخالفت وکړئ۔

(٣) دریم: د بعض صحابه کرامو نه دا هم نقل دي چه کله ترې نهمه ورځ فوت شي نو د عاشورې سره دې یو لسمه روژه یو ځای کړي دې دپاره چه د یهودو مخالفت راشي۔ او په یو مرفوع حدیث کې راغلي دي [صُوْمُوْا قَبْلَهٗ يَوْمًا اَوْ بَعْدَهٗ يَوْمًا] ۔ (د عاشورې نه یوه ورځ مخکې روژه ونیسئ یا یوه ورځ روسته) (واسناده جيد رواه البيهقي والطحاوی (٣٦٦/١) واللفظ للبيهقي وفي رواية له قَالَ ﷺ : لَئِنْ بَقِيْتُ لَاٰمُرَنَّ بِصِيَامِ يَوْمٍ قَبْلَهٗ اَوْ يَوْمٍ بَعْدَهٗ - يَوْمِ عَاشُوْرَاءَ) واسناده صحيح كما في الموسوعة (٢٦٠/٣) وقال في الفتح الرباني (١٨٥/١٠) واسناده جيد) ولكن في اسناده ابن ابي ليلى وهو صدوق سيء الحفظ واخرجه ابن خزيمة (٢٩٠/٣) وضعفه الالباني)۔

(نبي علیه السلام وفرمایل: که زهٔ پاتې شوم خامخا د عاشورې نه په یوه ورځ مخکې یا یوه ورځ روسته روژه باندې به حکم کوم) او ددې حدیث تائید په مخکني حدیث (اَفْضَلُ الصِّيَامِ بَعْدَ رَمَضَانَ شَهْرُ اللّٰهِ الْمُحَرَّمُ) دې۔ یعني د رمضان نه روستو بهترینې روژې د محرم دي او هغه یولسمې ورځې ته هم شامل دې۔

(٤) ځینې علماء وائي چه د عاشورې روژه نهمې ته نقل شویده او دا خبره ئې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ته منسوب کړیده چه هغه نه یو سائل (حکم بن الاعرج) د عاشورې په باره کې تپوس وکړو نو هغه ورته وفرمایل: کله چه تهٔ د محرم میاشت وینې نو شمار شروع کړه او د نهمې ورځې په سهر باندې روژه شه، هغه وائي ما ورته وویل: آیا دغه شان محمد ﷺ به روژه نیوله ؟ هغه وویل :-آؤ، (صحيح مسلم واللفظ لابن ابي شيبة)۔

مګر دا قول د صحیح احادیثو او آثارو او د شریعت د فقاهت نه لرې دې او نهٔ د ابن

عباسؓ مراد او مقصد دے بلکه د هغه نه ددے مخالف حديث ثابت دے لکه هغه فرمايلى دى : (أَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِصِيَامِ يَوْمِ عَاشُوْرَاءَ يَوْمَ الْعَاشِرِ) (مسند البزار رقم : ١٢٢) ورجاله رجال الصحيح وصححه الالبانى فى الترمذى (٧٥٥)۔

رسول الله ﷺ د عاشورے يعنى د لسمے ورځے په روژو باندے حکم کړيدے۔

لکه حافظ ابن القيم رحمه الله په زاد المعاد کى ليکى چه که چا په مجموعه رواياتو د ابن عباسؓ کى سوچ وکړو هغه ته به ښکاره شى چه ابن عباسؓ نهمه ورځ د عاشورے نۀ ده ګرځولے بلکه سائل ته ئے صرف دا وويل چه نهمه ورځ روژه ونيسه او دا خبره ئے د سائل په علم باندے پريښوده چه د عاشورے ورځ لسمه ورځ وى يعنى لسمه خو به هسے هم نيسے خو نهمه ورسره ونيسه۔

(٥) حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح البارى (٢٤٦/٤) کى د عاشورے د روژے درے مرتبے ذکر کړيدى، ادنىٰ دا چه يوه ورځ روژه شى، ددے نه بره دا ده چه نهمه هم ورسره ونيسى او ددے نه پورته دا ده چه نهمه، لسمه او يولسمه درے واړه ونيسى۔ او دا تقسيم شيخ البانى رحمه الله حق او صواب ګڼړلے دے او وئيلى ئے دى دا ځکه چه د رمضان نه روستو غوره روژے د محرم دى، هغه فرمائى که د حائضے زنانه نه يا د ناخبرئ په وجه د انسان نه نهمه ورځ پاتے شوه نو لسمه او يولسمه دے ونيسى پدے سره به د يهودو مخالفت راشى ځکه چه د محرم مياشت د روژو محل دے او د رمضان نه روستو غوره روژے د محرم مياشتے دى۔ وانظر الموسوعة الفقهيه الميسرة (٢٦٠/٣) او (قبله يوما او بعده يوماً) والا حديث په دوه الفاظو نقل دے يو دغه الفاظ او دويم (قَبْلَهٗ يَوْمًا وَبَعْدَهٗ يَوْمًا) په واو سره۔ نو دا دويم الفاظ دليل دے ددے قول دپاره۔

مګر علامه ابوالحسن المبارکفورىؒ فرمائى چه په دغه روايت د احمدؒ باندے دليل نيولو کى زما په نيز نظر دے ځکه چه دلته واو په معنىٰ د (او) سره دے۔

پدے ټولو کى ډيره غوره طريقه دويمه ده بيا دريمه طريقه عند الضرورة بيا اوله ده۔

وانظر التفصيل فى فتاوى الدين الخالص (٢٢٨/٨) والمرعاة (٤٦/٧)

نو اُوس چه بعض کوم علماء وائى چه د عاشورے ورځ نهمه ده نو دا قول د تحقيق خلاف دے او بعض احاديث پريخودل دى۔

- 2042 (7) وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ: أَنَّ نَاسًا تَمَارَوْا عِنْدَهَا يَوْمَ عَرَفَةَ فِيْ

صِيَامِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَ بَعْضُهُمْ :هُوَ صَائِمٌ وَقَالَ بَعْضُهُمْ :لَيْسَ بِصَائِمٍ فَأَرْسَلْتُ إِلَيْهِ بِقَدَحِ لَبَنٍ وَهُوَ وَاقِفٌ عَلَى بَعِيرِهِ بِعَرَفَةَ فَشَرِبَهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ام الفضل بنت الحارث رضی الله عنها فرمائی: څه کسانو ددې په خوا کې د عرفې په ورځ د رسول الله ﷺ په روژه کې اختلاف وکړو (چه آیا پدې ورځ روژه دې او که نهٔ؟) نو بعضو وویل : نبی کریم ﷺ روژه دې او بعضو وویل : روژه نهٔ دې. نو ام الفضل نبی کریم ﷺ ته د پیو یوه پیاله ولیږله چه هغه د خپل اُوښ دپاسه په عرفات کې ولاړ وو نو هغه یې وڅکل. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : د ام الفضل نوم لبابه ده دا د سیدنا عباس ﷺ بی بی او د میمونې رضی الله عنها خور ده.

تَمَارَوْا : یعنی اختلاف یې وکړو یا په بل روایت کې دی : شك یې وکړو.

یعنی د بعض صحابه کرامو اختلاف شو چه آیا رسول الله ﷺ د عرفې په ورځ روژه وو او که نهٔ؟ کومو کسانو چه وویل روژه وو شاید چه د هغوی دلیل دا وو چه رسول الله ﷺ به په حضر کې دا روژه نیوله او خاصکر رسول الله ﷺ به ددې روژو ډیر اهتمام کولو او چا چه وویل چه روژه نهٔ دې هغه سره دلیل دا وو چه رسول الله ﷺ مسافر وو او رسول الله ﷺ په سفر کې د فرض روژې د ماتولو اجازه ورکړې پاتې لا نفلي روژه.

نو ام الفضلؓ دا مسئله حل کړه پدې طریقه چه رسول الله ﷺ ته یې پیۍ ولیږل او هغه د اُوښ دپاسه د عرفې په ورځ وڅکل.

د عرفې د ورځې روژه نیولو ډیر لوی فضیلت روستو روایت کې راروان دې چه د دوه کالو ګناهونه ورسره معاف کیږي لیکن د حاجي دپاره نیول یې مکروه دي ځکه چه د الله د بندګۍ او فرضي اعمالو نه کمزورې کیږي نو نهٔ به یې نیسي ځکه چه څوك فرض خرابوي او نفلي اعمالو له زور ورکوي نو دا مکروه کار کوي ددې وجه نه رسول الله ﷺ دلته د خلکو مخامخ پیۍ وڅکل چه خلکو ته وښائي چه پدې ورځ روژه نیول غوره نهٔ دی. نو نبی ﷺ د خپل ځان دپاره کوجه والې غوره کړې نو دا د امت دپاره هم غوره ده. او دا د اکثرو اهل علمو رایه ده.

او د بعض صوفیاؤ نه نقل دی چه پدې ورځ په عرفات کې روژه نیول بهتر دی. مګر

دا قـول ضعیف دے۔ ځکه چه په حدیث د ابن خزیمه او حاکم کی د ابو هریره ﷺ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ په عرفات کی د عرفے د روژے نه منع فرمایلے ده۔

دارنګه د عرفے ورځ د عرفات والو دپاره د اختر ورځ ده ځکه چه دوی پکی راجمع وی لکه څنګه چه خلك په اختر کی راجمع کیږی لکه دا په حدیث د ابوداود (٢٠٩٠) کی راغلی دی : يَوْمُ عَرَفَةَ وَيَوْمُ النَّحْرِ وَأَيَّامُ التَّشْرِيْقِ عِيْدُنَا اَهْلِ الْإِسْلَامِ وَهِيَ اَيَّامُ اَكْلٍ وَشُرْبٍ) (وسنده صحیح- البانی) ـ د عرفے او د لوی اختر او د تشریق ورځے زمونږ د مسلمانانو اختر دے او دا د خوراك څکاك ورځے دی)۔

قتاده رحمه الله فرمائی : کله چه یو انسان د دعا نه نهٔ کمزورے کیږی نو په روژه نیولو هیڅ باك نشته۔ عطاء رحمه الله فرمائی: زهٔ په ژمی کی په عرفات کی روژه نیسم او په اوړی کی ئے نهٔ نیسم۔ مگر عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی : ما د نبی ﷺ او د ابوبکر صدیق او د عمر فاروق او عثمان سره حج وکړو دوی یو هم د عرفے روژه نهٔ وه نیولے۔ نو غوره دا ده چه د عرفے ورځے روژه ونهٔ نیسی۔

فَأَرْسَلْتُ : دا صیغه د متکلم هم صحیح ده او د غائب هم او په روایت د مسلم کی دی چه (فارسلت الیه میمونة) ددے نه معلومیږی چه میمونے دا پیاله لیږلے ده حافظ وائی احتمال لری چه دا دوه جدا جدا واقعے وی یا احتمال لری چه دواړو په یو ځای لیږلی وی ځکه چه دا دواړه خویندے وے او کیدے شی چه میمونے به لیږلی وی او ام الفضل به ترے دا مطالبه کړی وی۔

بِقَدَحِ لَبَنٍ : د نبی علیه السلام پئ زیات خوښ وو ځکه ئے دا ور ولیږل ځکه چه پئ د خوراك څکاك دواړو په ځای کار ورکوی او پدے سره د ام الفضل مقصد دا وو چه د نبی ﷺ د روژے حال معلومیږی چه روژه دے او که کوچه۔ که وے څکی نو کوچه به وی او که وے نهٔ څکی نو دلیل به وی چه روژه دے یا به ترے تپوس وکړی چه ولے دے ونهٔ څکل نو دا به سبب د تپوس شی۔

فوائد الحدیث : (١) د خلکو په مخکی او په مجلسونو کی روتئ خوړلو کی هیڅ کراهت نشته۔ ٢- د تپوس کولو نه بغیر په یو حکم باندے د ځان خبرولو دپاره طریقه جوړول جائز دی۔

٣- د ام الفضل هوښیارتیا معلومه شوه چه هغے پدے باریکه وسیله سره چه د

وخت مناسب ده حکم شرعي راښکاره کړو ځکه چه دا د غرمې وخت وو او سخته ګرمه ورځ وه۔
٤- عرفات کې دعاء په سورلئ هم کولے شي او په زمکه هم۔
٥- د فرضو حق ډيرے په نفلو باندے۔
٦- د بعض عباداتو په وخت کې چائے، پئ وغيره څکل جائز دي۔

2043 - (8) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: مَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ صَائِمًا فِي الْعَشْرِ قَطُّ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها وائي : ما رسول الله ﷺ هيڅکله نۀ دے ليدلے چه په لسو ورځو د ذى الحجه کې روژه وى۔ (مسلم)

تشريح : دا د عائشے رضي الله عنها د علم مطابق خبره ده چه هغے د ذي الحجے اولنئ لس ورځو کې رسول الله ﷺ نۀ دے ليدلے چه روژه ئے نيولې وى ليکن روستو په فصل ثالث کې د حفصے رضي الله عنها حديث کې دى چه رسول الله ﷺ دا نۀ دى پريښودى۔

دا رنګه پدے ورځو کې د عمل فضيلت خو په قولي حديث د رسول الله ﷺ کې ثابت دے نو ددے نه ثابته شوه چه کله د نفي او اثبات تعارض راشي نو اثبات له به اعتبار وى ځکه چه څوك نفي کوى هغه سره زيات علم نۀ وى او چه څوك اثبات کوى هغه سره زيات علم وى لکه دا خبره بار بار تيره شويده۔ او ددے حکمت دا دے چه رسول الله ﷺ به کله نا کله يو عمل پدے وجه پريښودو چه څوك ددے د وجوب او د فرضيت ګمان ونکړى نو د امت د آسانئ دپاره ئے پريښودو پدے وجه عائشے رضي الله عنها نۀ دے ليدلے۔

يا به دلته دا تاويل وکړو چه نبي ﷺ دا لس ورځے د ذي الحجے روژه نۀ ده نيولے د وجه د عارض د سفر يا د مرض وغيره نه يعني د ضرورت په وجه ئے نۀ دي نيولې۔

ځينى وائي چه د عائشے مطلب دا دے چه د ذي الحجے لس واړه ورځے چه اختر هم ورسره واخلي ددے روژه نبي ﷺ هيڅ کله نۀ ده نيولے او هرچه بعض ورځے دى نو د هغے د روژو نفي پکې نشته۔

- 2044(9) وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ : أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ كَيْفَ تَصُوْمُ فَغَضِبَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مِنْ قَوْلِهِ. فَلَمَّا رَأَى عُمَرُ ؓ غَضَبَهٗ قَالَ رَضِيْنَا بِاللهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ غَضَبِ اللهِ وَغَضَبِ رَسُوْلِهِ فَجَعَلَ عُمَرُ ؓ يُرَدِّدُ هٰذَا الْكَلَامَ حَتّٰى سَكَنَ غَضَبُهٗ فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ بِمَنْ يَّصُوْمُ الدَّهْرَ كُلَّهٗ قَالَ : " لَا صَامَ وَلَا أَفْطَرَ ". أَوْ قَالَ : " لَمْ يَصُمْ وَلَمْ يُفْطِرْ ". قَالَ كَيْفَ مَنْ يَّصُوْمُ يَوْمَيْنِ وَيُفْطِرُ يَوْمًا قَالَ : " وَيُطِيْقُ ذٰلِكَ أَحَدٌ ". قَالَ كَيْفَ مَنْ يَّصُوْمُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا قَالَ : " ذَاكَ صَوْمُ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ " قَالَ كَيْفَ مَنْ يَّصُوْمُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمَيْنِ قَالَ : " وَدِدْتُ أَنِّيْ طُوِّقْتُ ذٰلِكَ". ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " ثَلَاثٌ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَرَمَضَانُ إِلٰى رَمَضَانَ فَهٰذَا صِيَامُ الدَّهْرِ كُلِّهٖ، صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللهِ أَنْ يُّكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِيْ قَبْلَهٗ وَالسَّنَةَ الَّتِيْ بَعْدَهٗ وَصِيَامُ يَوْمِ عَاشُوْرَاءَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللهِ أَنْ يُّكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِيْ قَبْلَهٗ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا ابوقتاده ؓ فرمائی : یو سړے نبی کریم ﷺ ته راغلو عرض ئے وکړو : تهٔ څنګه روژه نیسے ؟ نو رسول الله ﷺ ددهٔ په وینا غصه شو هرکله چه عمر فاروقؓ د نبی کریم ﷺ غصه ولیدله وے ویل : مونږ د الله په رب جوړیدو او په اسلام د دین جوړیدو او په محمد ﷺ د نبی جوړیدو باندے راضی یو۔ مونږ په الله سره د الله تعالیٰ د غضب نه او د هغه د رسول د غضب نه پناهی طلب کوو، نو عمرؓ شروع وو چه دا خبره به ئے بار بار کوله تردے چه د رسول الله ﷺ غصه په آرام شوه۔ نو عمر فاروقؓ وفرمایل: اے د الله رسوله ! څه حکم دے د هغه چا چه تول عمر روژه نیسی؟ وے فرمایل: نهٔ ئے روژه ونیوله او نهٔ کوچه شو۔ (د راوی شك دے چه لا صام ولا افطر ئے وویل او که لم یصم او لم یفطر ئے وویل او د دواړو معنیٰ یوه ده) عمر فاروق عرض وکړو : څه حکم دے د هغه چا چه دوه ورځے روژه وی او یو ورځ کوچه وی؟ وے فرمایل: آیا ددے طاقت څوك لرلے شی؟۔ عمر فاروق عرض وکړو : څه حکم دے د هغه چا چه یوه ورځ روژه نیسی او یوه ورځ کوچه وی؟ وے فرمایل: دا (خو) د داود علیه السلام روژه ده۔ عمر فاروق عرض وکړو : څه حکم دے د هغه چا چه یوه ورځ روژه نیسی او دوه ورځے کوچه وی؟۔ وے فرمایل: زهٔ دا خوښوم چه ما ته ددے طاقت راکړے شی۔ بیا

رسول الله ﷺ وفرمایل: دریے ورځے د هریے میاشتے نه او یو رمضان تر بل رمضان پوریے دا تول عمر روژه شوه (یعنی ددیے ثواب د همیشه روژو نیولو د ثواب برابریږی) او عرفے روژه نیول (د غیر حاجی دپاره) زهٔ گمان کوم په الله باندیے چه دا به د هغه کال گناهونه ختم کړی چه ددیے نه مخکی وی او د هغه کال چه ددیے نه روستو وی۔ (یعنی د تیر شوی او راتلونکی کال گناهونه رژوی) او د عاشوریے د ورځے روژه زما گمان دیے په الله باندیے چه دا به د تیر شوی کال گناهونه ختم کړی۔ (مسلمؒ)

تشریح : کَیْفَ تَصُوْمُ ؟ اے د الله رسوله ! تهٔ څنګه روژه نیسے ؟ پدیے تپوس باندیے رسول الله ﷺ ولے غصه شو حال دا چه رسول الله ﷺ خو ډیر نرم انسان وو؟

جواب دا دیے چه د نبی علیه السلام د غصے وجه دا وه چه دیے سائل له داسے تپوس نهٔ وو پکار چه تهٔ څنګه روژیے نیسے؟

(ددیے مثال داسے دیے لکه یو سړیے د یو عالِم نه تپوس وکړی چه مولوی صاحب ! ستا پدیے مسئله کی څه خیال دیے ؟ دا تپوس خطاء دیے بلکه داسے پکار ده چه پدیے کی د الله حکم څه دیے؟۔)

څکه که نبی علیه السلام دهٔ ته خپل عمل ښکاره کړی نو دا به ئے د هغه اقتداء او تابعداری کوی مګر هغه به ګران وی نو دیے به تریے عاجز شی او په زړه کی ئے به ګران وګنړی نو روژه به ئے بی اخلاصه شی۔

دارنګه نبی علیه السلام خو به په روژو کی وصال هم کولو او هغه امت د وصال نه منع کړیدیے او دغه شان نبی علیه السلام به بعض نوافل پریښودل دیے دپاره چه که امت ئے اقتداء وکړی هغه به په دوی فرض شی۔

امام نووی رحمه الله فرمائی: سبب د غصے دا وو چه نبی علیه السلام ددهٔ سوال بد وګنړلو څکه چه دا یره وه چه ددهٔ د جواب نه فساد پیدا شی هغه دا چه ډیر کرته ددیے سائل به د هغه کار د وجوب او فرضیت عقیده جوړه شی یا به ئے کم وګنړی یا به صرف په همدغه باندیے اکتفاء وکړی او ددهٔ حال به ددیے نه د زیات عمل تقاضا کوی او نبی علیه السلام به دغه عمل کم پدیے وجه کړیے وی چه هغه ته به د امت مصلحتونو کی مشغولتیا وره په غاړه وی او د مسلمانانو حقوق او د هغه د بیبیانو او د میلمونو او وفدونو حقوق وی او دیے دپاره چه نور خلك د هغه اقتداء ونکړی نو

بعضو ته په کې تکلیف ورسي نو دے سائل له پکار وو چه داسې تپوس ئے کړے وے چه زۀ څو مره او څنګه روژه ونیسم نو سوال به ئے د خپل ځان په باره کې کړے وے دے دپاره چه ددۀ د حال مطابق جواب ورکړے شوے وے. لکه روسته عمرؓ دا کار وکړو.

فلما : یعني هرکله چه عمر فاروق ﷺ ولیدل چه رسول الله ﷺ پدے سوال باندے خفه او غصه شو او وه یریدو چه پدے سوال سره رسول الله ﷺ ته تکلیف نۀ وی رسیدلے نو د ادب او د اکرام دپاره او په سائل باندے د شفقت او د هغه د طرفنه د عذر او رضا کولو دپاره ئے وفرمایل چه مونږ په الله باندے راضي یو چه زمونږ رب دے او اسلام زمونږ دین دے او محمد ﷺ زمونږ نبی دے او د الله او د هغه د رسول د غضب نه پناه غوارم.

وَغَضَبِ رَسُوْلِهٖ : پدے کې اشاره ده چه د الله تعالیٰ غضب ذ رسول الله ﷺ د غضب سره موافق دے.

لَاصَامَ وَلَا أَفْطَرَ : امام خطابیؒ ددے معنیٰ کوی چه دا په معنیٰ د (لَمْ يَصُمْ او لَمْ يُفْطِرْ) سره دے یعنی نۀ ئے روژه ونیوله ځکه چه نۀ قبلیږی او نۀ کوجه دے ځکه چه په ظاهر کې ئے اګرکه خوله بنده ده لیکن فائده ورته نۀ ورکوی. او ددے معنی د ښیرو هم کیدے شی، نو نبی ﷺ ددۀ دا عمل بنه نۀ ګنړی ځکه چه پدے کې دا ګمان کیدے شی چه دا د واجبو حقوقو د فوت کیدو سبب جوړ شی. (حافظ ابن حجرؒ، شوکانیؒ)

نهایه کې ابن الاثیرؒ لیکی چه پدے کې ددۀ د عمل بربادیٔ ته اشاره ده ځکه چه دۀ پدے روژه سره د سنت خلاف وکړو.

مسئله : صیام الدهر (همیشه روژه) نیولو کې اختلاف دے (١) اسحاق او اهل الظاهرؒ وائي چه دا مطلقاً مکروه او حرام دی اګرکه په منهي عنه ورځو (یعنی د اخترونو) کې کوجه کوی او دا یو روایت د احمدؒ نه دے او دا مذهب د ابوبکر ابن العربی رحمه الله هم دے هغه فرمائي په حدیث د عبد الله بن عمروؓ کې دی (لَا صَامَ مَنْ صَامَ الْأَبَدَ) که دا ښیرے وی نو هغه انسان هلاك دے چه د نبی علیه السلام ښیرے ورته ورسیدے او که اخبار وی نو هغه انسان خوار دے چه نبی ﷺ د هغه نه خبر ورکوی چه دۀ روژه نۀ ده نیولے او کله چه یو انسان شرعی روژه ونۀ نیوله نو ثواب ورله نۀ لیکلے کیږی ځکه چه د الله نبی رشتینی دے او هغه ترے روژه نفی کړه او هرکله چه

ثواب پکې نشته نو فضیلت به پکې د کوم ځای نه ثابت شي. او د کراهت دا قول ابن قدامه رحمه الله هم کړیدے.

او دا قول قوي دے ځکه چه ډیرو احادیثو کې د کل عمرې روژے نیولے نه منع راغلې ده. ۱- دلیل : لکه یو دا حدیث الباب شو او بل حدیث د عبد الله بن عمروؓ کې راغلی (لَا صَامَ مَنْ صَامَ الْأَبَدَ) (هغه چا روژه ونهٔ نیوله چه همیشه روژه نیسي) یعنې دا روژه ئې نهٔ کیږي. لکه مخکې تیر شو.

۲- دلیل : صحیحینو کې دي چه رسول الله ﷺ عبد الله بن عمروؓ ته وفرمایل : (لَا أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ) د داود علیه السلام د روژو نه غوره روژه نشته چه هغه به یو ورځ روژه او بله ورځ کوجه وو. نو ټول عمر همیشه روژے نیول غوره نشو.

معلومه شوه چه همیشه روژے نیول صحیح نهٔ دي. او هرکله چه غوره والے نهٔ لري نو ثواب ئې نشته او روژه خو بندګان د ثواب دپاره نیسي.

۳- دلیل : په صحیحینو کې د انس بن مالك ﷺ په روایت کې دي چه هغه درے کسانو ته وویل چه هغوی دا قسمونه کړي وو یو وئیلي وو چه زهٔ به همیشه روژه یم اوکوجه کیږم به نهٔ، او بل وویل : زهٔ به ټوله شپه ولاړ یم خوب به نهٔ کوم او دریم وویل : زهٔ به ښځو ته راتلل نهٔ کوم (وادهٔ به نهٔ کوم) نو نبي ﷺ ورته وفرمایل : هرچه زهٔ یم روژه هم نیسم او کوجه کیږم هم، او عبادت ته ودریږم او خوب هم کوم او زنانو ته راتلل هم کوم (فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ) چا چه زما د سنت نه اعراض وکړو نو هغه زما تابعدار نهٔ دے. نو دا صحیح حدیث دلیل دے چه صیام الدهر د رسول الله ﷺ د سنت نه اعراض دے.

(۲) ځیني علماء وائي چه که څوك په همیشه روژو نیولو قدرت لري او حقوق ترے نهٔ فوت کیږي نو د هغه دپاره نیول ئې غوره دي صرف په منهي عنه ورځو کې به ئې نهٔ نیسي او دا قول د امام مالكؒ، شافعيؒ او یو روایت د احمدؒ دے. دوي وائي کراهت به هله وي چه د اختر دواړه ورځے او ایام التشریق ورسره نیسي. لیکن صحیح دا ده چه که څوك په منهي عنه ورځو کې روژے ونیسي نو هغه ته داسے نهٔ وئیلے کیږي (لَا صَامَ وَلَا أَفْطَرَ) بلکه هغه دپاره دغه ورځو کې روژے نیول حرام دي.

ددے علماؤ سره یو دلیل دا دے چه دا روژے به نوح ﷺ نیولے. جواب دا دے چه

زمونږ نبی نهٔ دی نیولی او مونږ د رسول الله ﷺ په تابعدارئ باندے مامور یو۔
دارنګه کله وائی چه حمزه بن عمرو الاسلمیؓ د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړو چه زهٔ په سفر کی د روژو سَرد (پرله پسے) والے وکړم؟ هغه ورته وفرمایل : که خوښه دے وی کوه ئے۔ لکه دا روایت مخکښی تیر شو لیکن جواب دا دے چه حمزه اسلمی ﷺ د فرض روژو په باره کی تپوس کړے وو نهٔ د نفلی روژو په باره کی۔
بله دا چه یو سرد الصیام دے او بل صوم الدهر دے، دواړو کی فرق دے، سرد پرله پسے ډیرے روژو نیولو ته وائی او کل عمری روژه نیول مراد نهٔ دی لکه د هغه روایت الفاظ (وکان کثیر الصیام) پرے دلیل دے۔
او دغه شان خبره په هغه روایت کی هم ده چه د عمرؓ او عائشےؓ په باره کی نقل دی چه دوی به په روژو کی سرد کولو۔ یعنی ډیرے روژے به ئے نیولے او تول عمر همیشه روژے نیول نهٔ دی مراد۔ څکه چه ابن ابی شیبه په باب کراهة صوم الدهر کی د عمر فاروق قصه نقل کړیده چه عمر فاروق د یو سړی په باره کی خبر شو چه هغه تول عمر روژے نیسی نو هغه ورته راغے او دره ئے پرے پورته کړله او ورته ئے وویل : (کل یا دهری) خوراك شروع کړه اے کل عمری روژے نیونکیه) ابن حزمؒ فرمائی : دا روایت انتهائی درجه صحیح دے او که دا کار مباح وے نو امیر المؤمنین به پدے باندے وهل نهٔ کولے او نهٔ به ئے هغه ته په روژه ماتولو حکم کولے۔
دوی بل دلیل داسے وائی چه نبی ﷺ د رمضان نه پس د شوال شپږ روژے نیول د صیام الدهر (کل عمر روژو) سره تشبیه ورکړه دارنګه پدے حدیث کی ئے د هرے میاشتے درے روژے نیولو تشبیه د کل عمر د روژو سره ورکړه دا دلیل دے چه کل عمر روژے نیول جائز دی۔نو که صیام الدهر ناروا وے نبی ﷺ به تشبیه نهٔ ورکولے؟
جواب دا دے چه تشبیه کی مقصد دا دے چه دا شپږ روژے د رمضان سره ملګری کولو کی د کل عمر روژو ثواب ملاویږی کله ئے چه هر کال نیسی او دا مطلب نهٔ دے چه کل عمر روژے نیول جائز دی۔
یعنی دا تشبیه په اجر کی ده نهٔ په عمل کی یعنی څوك چه په هره میاشت کی درے روژے نیسی نو الله تعالیٰ به دومره اجر ورکړی لکه تول عمر چه روژه وی او دا مطلب نهٔ دے چه تول عمر روژه نیول بهتر دی بلکه د هغے نه منع ثابته ده۔ ددے مثال داسے

دي لكه مخكې په باب السترة كې حديث تير شوې وو (لَكَانَ أَنْ يَّقِفَ اَرْبَعِيْنَ خَيْرًا لَه) نو څلويښت كاله مونځ خو نهٔ وي.

نو ثابته شوه چه ددې علماؤ استدلالات ضعيف دي او بل طرف ته صريح روايتونه د نهي او منع موجود دي لهذا ددې نذر به هم نهٔ صحيح كيږي ځكه چه دا معصيت دې. ددې مسئلې ښه تفصيل په السيل الجرار (٢٩٦/١) او المرعاة (٥٤/٧) او فتاوى الدين الخالص (٣٤٤/٨) كې وګوره.

وَيُطِيْقُ ذٰلِكَ أَحَدٌ : دلته همزه د انكار حذف ده يعنى آيا څوك ګنې دا طاقت لرى؟ يعنى دا ډير ګران كار دې نو ګويا كه نبي ﷺ دا هم بد وګنړل ځكه چه غالباً انسان ددې نه عاجزه كيږي نو دې ته په هغه دين كې ترغيب نهٔ وركړې كيږي چه هغه آسان او نرم دين دې. ځكه چه د ژوند دوه حصو كې روژه او يوه حصه كې كوجه د انساني طاقت نه بهر كيږي.

طُوِّقْتُ ذٰلِكَ : يعنى زهٔ دا خوښوم چه ما ته ددې طاقت راكړې شي ځكه چه دا هم دويمه درجه كې غوره روژې دي چه يوه ورځ روژه او دوه ورځې كوجه شي. يعنى زهٔ پدې سره د زنانو د حقوقو نه كمزورې كيږم، دارنګه د نورو حقوقو د امت نه ورنه نبي ﷺ به ددې نه زيات طاقت هم لرلو.

سوال دا دې چه نبي ﷺ فرمايلي دي چه زهٔ ستاسو په شان نهٔ يم ما ته خپل رب خوراك څكاك راكوي نو آيا نبي ﷺ ددې طاقت نهٔ لرى چه دغه قسم روژه ونيسي؟

جواب دا دې چه دا خوراك څكاك وركول د وصال روژې پورې خاص وو نهٔ په نورو روژو كې. يا ځيني وائي چه نبي ﷺ د دغه مذكوره روژې طاقت لرلو ليكن د امت دپاره ئې دا ارمان وكړو چه ارمان چه ما ته يعنى زما امت ته ددې طاقت راكړې شي مګر د هغوى نه هم د زنانو حقوقو كې نقصان راځي پدې وجه ئې هغوى ته پدې امر ونكړو. امام نوويؒ وائي ددې تائيد دا دې چه په بل روايت كې داسې الفاظ راغلي دي :(لَيْتَ اِنَّ اللّٰهَ قَوَّانَا لِذٰلِكَ) ارمان چه مونږ الله تعالىٰ ددې دپاره قوي كړي وې) (مرعاة)

أَحْتَسِبُ عَلَى اللّٰهِ : احتساب اصل كې ثواب ګڼړلو ته وائي دلته ترې اميد مراد دې.

وَالسَّنَةَ الَّتِيْ بَعْدَهٗ : يعنى د عرفې په روژه سره د انسان د دوه كالو ګناهونه معاف كيږي، د راتلونكي كال ګناه معاف كولو معنىٰ دا ده چه الله تعالىٰ به ئې په راتلونكي

وخت کې د گناهونو نه محفوظ وساتي. یا مطلب دا دے چه الله تعالیٰ به ورته دومره اجر او ثواب ورکړي او رحم به پرے وکړي په څومره باندے چه د مخکښنی او راتلونکی کال گناهونه معاف کیږي کله چه هغه گناهونه ددهٔ نه واقع شي.

بیا ددے حدیث نه دا خبره ظاهریږي چه د عرفے روژه مطلقاً مستحب ده او روستو فصل ثاني کې د ابوهریره ﷺ د حدیث نه ښکاره کیږي چه په عرفات کې دا روژه نیول جائز نهٔ دي نو ددے تطبیق دا دے چه دا روژه د هر چا دپاره مستحب ده مگر څوك چه د حج په دوران کې په عرفات کې وي نو هغه به ئې نهٔ نیسي لکه دا خبره مخکښې هم ذکر شوه.

او کله چه دا روژه د جُمعے په ورځ راشي نو آیا نیسي به ئې که نهٔ ؟ نو ددے تفصیل به روستو راشي.

تنبیه : دا حدیث صحیح دے او امام مسلم روایت کړیدے او دیارلس تائیدات ئې شته بیا هم یو منکر حدیث ابوعبد الرحمن الاثری کمزورے کړیدے مکابرةً چه د هغے تفصیلًا رد په فتاوی الدین الخالص (٣٢٩/٨) کې وگوره.

- 2045 (10) وَعَنْهُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ صَوْمِ الْاِثْنَيْنِ فَقَالَ: فِيْهِ وُلِدْتُ وَفِيْهِ اُنْزِلَ عَلَيَّ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او سیدنا ابوقتاده ﷺ فرمائي: د رسول الله ﷺ نه د دوشنبے د ورځے د روژے په باره کې تپوس وشو نو هغه وفرمایل : پدے ورځ کې زهٔ پیدا شوے یم او پدے کې په ما باندے (د قرآن) نازلیدل (شروع) شوي دي. (مسلمؒ)

تشریح : یعنی نبي علیه السلام نه تپوس وشو چه تاسو پدے ورځ ولے دیر روژه کیږئ ؟ یا دا چه پدے ورځ روژه ولے دیره غوره ده د نورو ورځو په نسبت ؟ نو نبي ﷺ ئې وجه دا بیان کړه چه پدے ورځ زهٔ پیدا شوے یم او پدے ورځ په ما وحي راغلے ده او دا دوه لوی نعمتونه دي نو پدے ورځ زهٔ روژه نیسم ددے دوه نعمتونو شکریه ادا کوم. پدے وجه پدے ورځ روژه نیول دیر غوره دي. او په بل روایت کې ئې بل سبب د غوره والي دا ذکر دے چه پدے ورځ او د جمعرات په ورځ الله تعالیٰ ته عملونه پیش کیږي نو زهٔ خوښوم چه زما عمل الله ته پیش شي او زهٔ روژه یم.

ددے حدیث نه دا فائده حاصلیږی چه په کومه زمانه یا مکان کی په چا باندے الله تعالیٰ یو نعمت کړے وی نو هلته د الله بندګی او الله ته څان نزدے کول پکار دی۔

د عید میلاد النبی ﷺ حقیقت او د هغے تردید

بعض ملیانو (لکه سیوطیؒ او رفاعیؒ) ددے نه عید میلاد النبی ثابت کړیدے او وئیلی ئے دی چه ددے ورځے فضیلت شته۔

جواب دا دے چه ددے ورځے فضیلت دا دے چه پدے ورځ بنده روژه ونیسی او دوی خو دا نۀ کوی او عید میلاد النبی په کال کی یوه ورځ مناووی حال دا چه هغه نۀ رسول الله ﷺ امت ته خودلے او نۀ صحابه کرامو پرے عمل کړے بلکه دا د اُومے صدئ په اوله ربع کی الملك المظفر ابوسعید کوکوبری اربل بادشاه راپیدا کړو چه امت ئے پدے بدعت اخته کړیدے او ډیر امت په بدعاتو کی ژوند تیر کړو، صحیح حق ئے ونۀ پیژندلو۔

یعنی (٦٢٥ هجری) کی ئے دا بدعت ایجاد کړو۔ اربل د عراق د ښارونو نه یو ښار دے) د اربل بادشاه دپاره یو ملا (ابوالخطاب بن دحیه) د میلاد په باره کی یو کتاب ولیکلو چه نوم ئے (التنویر بمولد البشیر النذیر) وو دا ئے بادشاه ته پیش کړو نو هغه ورله په انعام کی زر دیناره (د سرو زرو) ورکړل۔

تاریخ لیکی : ملك مظفر الدین د میلاد نبوی په موقعه یو لوی دسترخوان خور کړو چه په هغے باندے ئے د پنځه زره ګډانو وریت شوی سرونه کیخودل او لس زره چرګان، سل اسونه، او یو لاکهـ د کوچو (یعنی مکهن) پیالئ او دیرش زره د حلواء کاسے او د ماسپښین نه تر مازیګره پورے ئے د صوفیاؤ دپاره سماع مقرر کړه او دا بادشاه به خپله هم د نورو رقص (ګډا) کونکو سره پدے کی ګډیدو او دا عمل ئے امت ته پریخودو بیا به هر کال دا میلے تیلے کیدلے۔ چه د بادشاه دا حال وی نو د رعیت به ئے څه حال وی؟!

٢- جواب : دارنګه رسول الله ﷺ پدے ورځ څنګه شکر ویستلے دے نو مونږ له هم دغه شان شکر پکار دے او دوی خو پدے ورځ د روژے په ځای خوراکونو ته ارم شوی وی۔ رسول الله ﷺ په شکر کی روژه نیسی او دوی خوراکونه کوی۔

بله دا چه رسول الله ﷺ د خپل پیدائش په ورځ چه هغه دولسم ربیع الاول دے (که

دا چرته صحیح وی) روژه نهٔ ده نیولے بلکه د یوم الاثنین روژه ئے نیولے ده چه هغه په هره میاشت کی څلوریا ددے نه زیات مکرر کیږی نو صرف د پیدائش په ورځ د دغه خوشحالئ تخصیص کول نهٔ د هرے دوشنبے دا د شریعت نه ځان مخکی کول دی۔

بله دا چه مؤمن سړے به همیشه د رسول الله ﷺ په پیدائش باندے خوشحاله وی دا خوشحالی به ددهٔ نه نهٔ جدا کیږی داسے به نهٔ وی چه په کال کی یوه ورځ خوشحالی وکړی (او بیا منکرات او ناروا کارونه پکی وکړی)۔

نو د دوی سره پدے عید میلاد النبی باندے هیڅ دلیل د کتاب او د سنت نهٔ نشته البته د ابولهب عمل شته لکه دوی هغه هم په دلیل کی پیش کوی چه دهٔ ثُوَیْبَه د رسول الله ﷺ د پیدائش په خوشحالئ کی آزاده کړے وه۔

جواب دا دے چه دا د یو کافر عمل دے او بیا چه د هغه په باره کی خوب لیدلے شوے چه هغه وائی ما ته ددے په وجه لږه فائده راورسیده نو دا خوب عباس رضی الله عنه لیدلے وو او کیدے شی چه د سیدنا عباس رضی الله عنه دا خواب په حالت د کفر کی وی او د کافر خوب له په اسلام کی هیڅ اعتبار نشته په اجماع د علماؤ سره، او که په اسلام کی ئے لیدلے وی نو بیا د هغه نه دا بالواسطه نقل دے هغه خپله نهٔ دے وئیلے بلکه په طریقه د ارسال نقل دے د مرسلاتو د عروه رحمه الله نه دے او مرسل روایت ضعیف وی چه هیڅ عقیده او عبادت پرے نهٔ ثابتیږی لکه دا خبره حافظ په فتح الباری (٩/٤٩) کی ذکر کړیده چه دا مرسل روایت دے۔

ددے خوب د باطل والی بله وجه دا ده چه پدے باندے د امت اتفاق دے چه کافر ته د هغه په نیک عمل باندے کله چه په حالت د کفر کی مړ شی هیڅ ثواب نهٔ ملاویږی لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَقَدِمْنَا إِلَى مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُورًا ﴾ (الفرقان:٢٣) مونږ به د کافرانو عملونه برباد کړو او هواء کی به ئے والوزو)۔

بله دا چه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : که دا حدیث موصول هم شی پدے کی هیڅ حجت او دلیل نشته ځکه چه دا د خوب واقعه ده او په خوبونو سره شرعی حکم نهٔ ثابتیږی۔

بله وجه دا ده چه پدے مرسل روایت د عروة کی دا راغلی دی چه ابولهب ثُوَیبه د نبی ﷺ د تے ورکولو نه مخکی آزاده کړے وه او حال دا چه دا مخالف دے د هغه روایت نه

چه عام اهل سیرئے ذکر کوی چه ثُویبه د نبی ﷺ د تے ورکولو نه ډیره موده روستو آزاده شوے ده لکه دا خبره حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری (٩/٤٨) کی ذکر کړیده او په الاصابه فی تمییز الصحابه (٤/٢٥٠) رقم (١٠٩٦٤) کی ئے ښه واضحه کړیده او حافظ ابن عبد البرؒ په (الاستیعاب فی اسماء الاصحاب) (١/١٢) او ابن الجوزیؒ په (الوفاء باحوال المصطفی (١/١٠٦) کی بیان کړیده۔ حافظ په اصابه کی وائی : وَسَأَلَتْ ثُوَيْبَةُ اَنْ يَبِيْعَهَا لِخَدِيْجَة فَامْتَنَعَ فَلَمَّا هَاجَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَعْتَقَهَا اَبُوْلَهَبٍ)۔

ثویبے د ابولهب نه وغوښتل چه دا په خدیجه باندے خرڅه کړی لیکن ابولهب ونۀ منله بیا کله چه رسول الله ﷺ مدینے ته هجرت وکړو نو ابولهب ثویبه آزاده کړه)

نو دا روایت د واقدیؒ صریح دے پدے کی چه ثُویبه ابولهب د نبی علیه السلام د ولادت په زیری کی نۀ وه آزاده کړے۔

علامه التویجریؒ په ((الرد القوی)) کی لیکی چه پدے روایت کی (سره د ضعف نه) دا خبره نشته چه د ابولهب نه په هره دوشنبه باندے عذاب سپکیږی او نۀ دا خبره شته چه ابولهب ثویبه د نبی علیه السلام د ولادت په زیری کی آزاده کړے وه بلکه دا تول په بخاریؒ باندے دروغ تړل دی۔

(الرد علی شبهات من اجاز الاحتفال بالمولد لابی معاذ السلفی ص : ٢٧)

بله دا چه د ابولهب خوشحالی د خپل وراړۀ په پیدائش باندے طبعی خوشحالی وه او تعبدی نۀ وه ځکه هر انسان د خپل بچی او د وراړۀ یا خپلوان په پیدائش باندے خوشحالیږی او دا قانون دے چه کله خوشحالی د الله دپاره نۀ وی نو په هغے باندے ثواب نۀ ملاویږی نو ددے نه هم ددے روایت ضعف او بطلان معلومیږی او د مومن سړی خوشحالی په نبی ﷺ باندے دینی ده، د هغه د نبوت د وجه نه ده۔ ددے مولد د رد دپاره وګوره (الانصاف فیما قیل فی المولد من الغلو والاجحاف لابی بکر جابر الجزائری) ٢: الجامع فی المولد للشیخ عادل بن علی الفریدان)٣: والرد علی شبهات من اجاز الاحتفال بالمولد لابی معاذ السلفی) دارنګه ٤- (القول الفصل فی مولد خیر الرسل) ٥-وزاد الخطیب (١/١٦١) ٦-وموسوعة الدفاع عن رسول الله ﷺ (٤/٤٠٦) (للشیخ علی بن نایف الشحود) وګوره۔

او سوال دا دے چه آیا د رسول الله ﷺ ددے ورځے په فضیلت کی د روژو نه علاوه دا چرته خودلی دی چه پدے ورځ محفلونه قائم کړئ او زما په پیدائش کی نغمے او

سرودونه او ترانے وواییٔ او خوراکونه او څکاکونه وکړئ او لکه څنګه چه رسول الله ﷺ پدے ورځ پیدا شوے نو په همدغه ورځ وفات شوے هم دے نو د هغه د وفات غم د خوشحالئ نه کم نهٔ دے۔

- 2046 (11) وَعَنْ مُعَاذَةَ الْعَدَوِيَّةِ أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ :أَكَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَصُومُ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ؟ قَالَتْ:نَعَمْ فَقُلْتُ لَهَا :مِنْ أَيِّ أَيَّامِ الشَّهْرِ كَانَ يَصُومُ ؟ قَالَتْ:لَمْ يَكُنْ يُبَالِيْ مِنْ أَيِّ أَيَّامِ الشَّهْرِ يَصُومُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او د معاذه عدویهٔ نه نقل دی چه دے د عائشے رضی الله عنها نه تپوس وکړو چه آیا رسول الله ﷺ به د هرے میاشتے نه درے ورځے روژے نیولے ؟ هغے وفرمایل: آؤ، معاذهٔ وائی: ما ورته وویل : د میاشتے د کومو ورځو نه به ئے روژه نیوله ؟ هغے وفرمایل : نبی کریم ﷺ به باك نهٔ کولو چه د میاشتے د کومو ورځو نه چه روژه ونیسی۔ (یعنی د خاص متعینو ورځو اهتمام به ئے نهٔ کولو)۔ (مسلمؒ)

تشریح : ددے حدیث نه معلومیږی چه په هره میاشت کی درے روژے نیول بهتر عمل دے او دا پابندی نشته چه فلانئ فلانئ ورځے به وی اګرکه د دوشنبے او زیارت ورځے روژے بهترے دی مګر که په بله ورځ د یو انسان روژے ته زړه وشو یا وزګار وو او طبعه ئے برابره وه نو روژه دے ونیسی۔ نو پدے روایت کی نفی د اهتمام د معینو ورځو دے بلکه نبی علیه السلام به د خپلے رائے مطابق روژے نیولے۔

- 2047 (12) وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ ﷺ أَنَّهُ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ : " مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ أَتْبَعَهُ سِتًّا مِنْ شَوَّالَ كَانَ كَصِيَامِ الدَّهْرِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او سیدنا ابو ایوب انصاری ﷺ نه نقل شویدی چه دهٔ (خپل راوی چه د هغه نوم عمرو بن ثابت دے) ته دا حدیث بیان کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چه د رمضان د میاشتے روژه ونیوله بیا ئے د هغے پسے د شوال شپږ روژے ونیولے (نو) دا به د ټول عمر د روژو په شان وی۔ (مسلمؒ)

تشریح : ځینی علماء وائی چه دا روایت ضعیف دے او ملاعلی القاری رحمه الله په «الموضوعات» کی راوړیدے مګر صحیح دا ده چه هغه جدا روایت دے او دا صحیح

روايت دے۔ پدے حديث كې د شوال د شپږو ورځو روژو نيولو دا فضيلت بيان شو دا د تول عمر د روژو د ثواب برابريږي ځكه چه يوه نيكي په لس چنده ده، د رمضان ديرشو ورځو ثواب د لسو مياشتو شو او ددے شپږو ورځو د دوه مياشتو ثواب شو نو داسے شول لكه د تول كال ثواب او چه هر كال پدے عمل باندے هميشوالے كوي نو تول عمر به روژه حسابيږي۔

ثُمَّ أَتْبَعَهُ : اتباع وروسته كولو ته وائي۔ ځينې علماؤ وئيلي دي چه د رمضان پسے متصل به ئے نيسي او پرله پسے به وي مگر دا استدلال صحيح نهٔ دے ځكه چه اتباع كې توالي او اتصال ضروري نهٔ دے بلكه تفريق سره نيول ئے هم جائز دي پدے وجه نبي ﷺ (سِتًّا مِنْ شَوَّالَ) لفظ عام وويلو چه صرف د شوال شپږ ورځے روژے نيول دي، جدا جدا وي او كه يو ځاى، په اول كې وي او كه په مينځ كې يا په آخر كې۔ البته كه يواځے يواځے ئے نيسي نو صرف د جُمعے يا صرف د خالي په ورځ به ئے نهٔ نيسي۔

نو دا شپږ روژے نيول مستحب عمل دے (١) او دا مذهب د امام شافعي، احمد او داود رحمهم الله دے۔ (٢) امام مالك او ابو حنيفه رحمهما الله فرمائي: دا روژے نيول مكروه دي۔ د فقه حنفي مشهور كتاب د كنز الدقائق شرح «البحر الرائق» كې ابن نجيم رحمه الله وائي : (وَمِنَ الْمَكْرُوهِ صَوْمُ سِتَّةٍ مِنْ شَوَّالَ عِنْدَ اَبِىْ حَنِيْفَةَ مُتَفَرِّقًا كَانَ اَوْ مُتَتَابِعًا وَعَنْ اَبِىْ يُوْسُفَ كَرَاهَتُهُ مُتَتَابِعًا لَا مُتَفَرِّقًا وَعَامَّةُ الْمَشَائِخِ لَمْ يَرَوْا بِهِ بَأْسًا انتهى)۔

د امام ابو حنيفهؒ په نيز د شوال شپږ روژے نيول مكروه دي جدا جدا وي او كه پرله پسے او امام ابو يوسفؒ وائي چه يو ځاى نيول ئے مكروه دي نهٔ جدا جدا او عام مشائخ د احنافو پدے باندے څه باك نهٔ دے گنړلے۔

ابن الهمامؒ (او امام مالك) ددے كراهت وجه دا ښودلے ده چه ددے په نيولو سره چرته عوام خلك د لزوم او وجوب عقيده ونهٔ ساتي نو ځكه نيول ئے مكروه شو۔

ليكن دا وجه ذكر كول روستو د ثبوت د حديث نه هيڅ وجه نهٔ ده بلكه دا وجه خو په نورو روژو كې هم موجوديدے شي چه د عرفے يا د عاشورے يا د زيارت او دوشنبے روژے شوے بيا پكار ده چه هغه هم مكروه شي او پدے باندے هيڅوك قائل نشته۔

صحيح دا ده چه امام ابو حنيفه رحمه الله ته پدے باره كې حديث نهٔ دے رسيدلے۔ امام مالك په موطأ رقم (٦٨٤) كې وائي چه ما پدے باندے هيڅوك د اهل علمو نه نهٔ دے

لیدلے چه دائے نیولی وی او د سلفو نه د هیچا نه ما ته دا عمل نهٔ دے رارسیدلے او اهل علمو به دا مکروه گنړلے او ددے د بدعت والی نه به یریدل آه۔

مگر امام نووی رحمه الله فرمائی : کله چه سنت ثابت شی نو هغه به د خلکو د پریښودو او د عمل نهٔ کولو په وجه نهٔ پریښودلے کیږی۔ کله نا کله لوی لوی علماؤ ته یو خبره نهٔ وی رسیدلی او روستنو ته رارسیدلی وی او ددے نه دا مسئله ثابته شوه چه څوك په یو مذهب پسے روان وی نو هغه په پوره دین باندے نشی چلیدے بلکه تولو مذاهبونه به خیر راخلی او غلطے مسئلے به ورته پریښودلے شی۔

او تعجب په هغه مقلیدنو چه دا حدیث د امام ابوحنیفه دپاره ضعیف کوی لکه د کراچی یو مفتی پدے رساله لیکلے ده او شامی وائی چه د ابوحنیفةؒ پدے باره کی څه نقل نشته۔

- 2048 (13) وَعَنْ أَبِی سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ ﷺ قَالَ : نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ الْفِطْرِ وَالنَّحْرِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابوسعید خدری ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ د وړوکی اختر او د لوی اختر د روژے نه منع کړیده۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : د اخترونو په ورځ روژه نیول د تولو علماؤ په نیز حرامه ده لکه ابن قدامه رحمه الله وئیلی دی۔ پدے کی نفلی، نذری او قضاء او کفارے والا روژے نیول صحیح نهٔ دی۔ احنافو پکی وئیلی دی چه که څوك د اخترونو په ورځو کی روژه ونیسی نو روژه ئے کیږی خو گناهګار دے هغوی دا قاعده جوړه کړیده چه نهی د افعال شرعیه ؤ نه تقاضا د بقاء د مشروعیت کوی نو صوم یو شرعی فعل دے او په اختر کی ددے نه منع راغلے ده نو ددے اصل مشروع دے خو د یو صفت د وجه نه پکی نقصان راغلے دے چه هغه انکار دے د الله تعالیٰ د میلمستیا نه۔ او د نورو علماؤ په نیز باندے دا روژه فاسده ده هیڅ ثواب پرے نهٔ ملاویږی او همدا خبره صحیح ده څکه اصل د نهی دا دے چه دا فعل دے حرام شی۔ او دا مذهب د مالك، شافعی او احمد رحمهم الله دے۔ او نهی د افعال شرعیه ؤ نه تقاضا د بقاء د مشروعیت نهٔ کوی په دغه فعل کی۔

پدے باندے دا مسئله هم تفریع ده که یو انسان نذر وکړی چه زهٔ به د یوم الاثنین روژه

نیسم او دا د اختر د ورځې سره موافقه شي نو دۀ دپاره په اجماع د علماؤ دا روژه نیول حرام دي بیا ددې په قضائي کې اختلاف دې د امام شافعیؒ نه دوه قوله نقل دي ډیر صحیح قول ئې دا دې چه قضاء پرې نشته ځکه ددې الفاظ قضاء ته نۀ شاملیږي او قضاء د فرائضو په نوي امر سره واجبیږي لکه دا مختار قولٌ دې د اصولینو په نیز انتهیٰ قول النووي رحمه الله۔ او دا نذر د معصیت دې نو عمل کول پرې نشته نو قضاء ئې هم نشته۔ د احنافو په نیز به قضائي راوړي لکه هدایه کې وائي چه دا روژه به ماتوي او قضاء به راوړي ځکه چه دا نذر دې په یوه مشروعه ورځ باندې او نهي پکې د غیر د وجه نه راغلې ده چه هغه د الله تعالیٰ میلمستیا نۀ قبلول دي که بیا ئې هم روژه ونیوله نو غاړه ئې آزادیږي مګر کار به ئې حرام وي آه۔

لیکن ډیره صحیح خبره دا ده چه قرآن کریم کې د نذر په وفاء باندې حکم شویدې او نبي ﷺ ددې روژې نه منع کړیده نو پدې کې جمع پدې طریقه غوره ده چه پدې کې به روژه نۀ نیسي او قضاء به ئې راوړي ځکه چه ددې سړي مقصد دا نۀ دې چه په خپل نذر سره معصیت او ګناه وکړي بلکه دا په اتفاقي طور سره واقع شویدې نو نذر ئې صحیح دې مګر د اختر په ورځ به ئې نۀ نیسي او په بله ورځ به ئې قضاء راوړي ځکه دا پدې باب کې معذور دې لکه دغه شان نذر چه زنانه وکړي او بیا پرې د حیض عذر راشي نو په هغې هم قضاء راوړل لازم دي۔

- 2049 (14) وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " لَاصَوْمَ فِيْ يَوْمَيْنِ: اَلْفِطْرِ وَالْأَضْحٰى " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابوسعید خدري ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل: په دوه ورځو کې روژه نشته یعني د وړوکي اختر او د غټ اختر په ورځ۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشریح: یعني د وړوکي او لوی اختر په ورځ روژه جائز نۀ ده نو ددې ورځې نذر هم صحیح نۀ دې او دغه شان حکم د ایام التشریق هم دې لکه روستو روایت کې دي لیکن دا دوه ورځې ئې خاص ذکر کړې ځکه چه دا اصل دي او ایام التشریق ددې تابع دي۔

- 2050 (15) وَعَنْ نُبَيْشَةَ الْهُذَلِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" أَيَّامُ التَّشْرِيْقِ أَيَّامُ أَكْلٍ

وَشُرْبٍ وَذِكْرِ اللهِ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او نُبَيشه هُذلي ﷺ وائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: ايام تشريق د خوراك او څكاك او د الله د ذكر ورځې دي۔ (مسلمٌ)

تشريح : نبيشه بن عبد الله بن عمرو بن عتاب بن الحارث الهذلي دهٔ ته نُبَيْشَةَ الخير هم وائي او ابو طريف ئې كنيه ده صحابي دے چه ډير كم حديثونه ترے نقل دي، ابن عبد البرّ وائي په بصره كې وسيدلے دے۔

ايام التشريق نه مراد د لوى اختر نه روستو درے ورځې دي او دا قول د ابن عمر رضي الله عنهما او اكثرو علماؤ دے چه بعض د هغوى نه ائمه اربعه او د هغوى اتباع دي او د عطاء او ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل دي چه دا څلور ورځې دي يو د لوى اختر او درے روستو او دے تولو ته عطاءٌ ايام التشريق وئيلي دي ليكن اول قول ډير ظاهر دے ځكه په حديث د انس بن مالك ﷺ كې طحاويّ داسے الفاظ نقل كړيدي :

(نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ صَوْمِ أَيَّامِ التَّشْرِيْقِ الثَّلَاثَةِ بَعْدَ يَوْمِ النَّحْرِ) (وابي يعلى : ٤١١١) وسنده ضعيف بيزيد الرقاشي) ويؤيده حديث هذا الباب)۔

دے ته ايام التشريق ځكه وائي چه پدے كې به عربو لمرونو ته غوښے خورولے دے دپاره چه وچې شي۔ يا پدے وجه چه قربانياني او اضحيې پكې د نمر ختلو نه روستو ذبح كولے شي۔ يا دا چه د اختر مونځ پكې د لمر ختلو سره كيږي نو دا نورے ورځې د دغه ورځې تابع شوے۔

أَيَّامُ أُكُلٍ : پدے كې علت ذكر دے چه د اختر پدے ورځو كې روژے به ځكه نهٔ نيسي چه دا د الله تعالىٰ د ميلمستيا او د خوراك څكاك او د الله تعالىٰ د ذكر ورځې دي۔ او ذكر ئې د خوراك څكاك نه روستو راوړو اشاره ده چه بنده له پكار دي چه د خپلو خواهشاتو سره سره د الله تعالىٰ بندگي او ذكر هم وكړي۔

په يو بل روايت كې ورسره (وَبِعَالٍ) لفظ ذكر دے يعني دا د جماع او د كوروالي ورځې دي ليكن هغه روايت په ډيرو سندونو نقل دے چه په هريو كې كلام شته په بعضو كې متروك راويان دي او په بعضو كې صرف ضعيف دي قليل الضعف نو په مجموع الطرق سره حسن درجے ته رسيږي پدے وجه هيثميّ په مجمع الزوائد كې وائي : (رواه الطبراني واسناد الاول حسن) دا روايت طبرانيّ راوړيدے او د اول روايت

سند حسن دے۔ تفصیل ئے دا دے چه د بعال لفظ دارقطني په دوه سندونو سره راوړیدے یو حدیث د مسعود بن الحکم الزرقي دے قال حدثني عبد الله بن حذافة السهمي رضی الله عنه رواها في في آخر کتاب الصوم او ددے په سند کې واقدیؒ دے او هغه ضعیف دے۔ او دویم سند : د سعید بن سلام العطار په واسطه دے دا دارقطني په آخر د سنن کې راوړیده او دغه شان حافظ ابوموسی الاصبهانيؒ په خپل کتاب (معرفة الصحابة) کې او دا ضعیف جدا دے سعید بن سلام وضاع او متروك دے۔ دریم سند د عمر بن خلدة عَنْ اُمِّهِ اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ بَعَثَ عَلِیًّا یُنَادِیْ بِمِنٰی : اَنَّهَا اَیَّامُ اَکْلٍ وَّشُرْبٍ وَبِعَالٍ) رواه الحافظان ابونعیم في معرفة الصحابة والخطیب في تلخیصه كذلك والطبراني) او دغه شان عبد بن حمیدؒ د موسیٰ بن عبیده الربذيؒ نه راوړیدے او موسیٰ ضعیف دے۔ او دریم سند : ابراهیم بن اسماعیل بن ابي حبیبة عن داود بن الحصین عن عکرمة عن ابن عباس۔ الطبراني في المعجم الکبیر او ابراهیم مختلف فیه راوی دے احمد ورته ثقه وائي او نور ورته ضعیف وائي او داود د رجالو د صحیحینو نه دے۔ او امام منذريؒ دا روایت غریب ګنړلے دے۔

(البدر المنیر في تخریج الاحادیث والآثار الواقعة في الشرح الکبیر لابن الملقن ٥/٦٨٧)

او دا روایت عبد بن حمید، ابن ابي شیبه او اسحاق بن راهویه په خپلو مسانیدو کې ذکر کړیدے۔ (التلخیص الحبیر للحافظ ابن حجر : ٢/٤٢٧)

وذکر الله : نه معلومه شوه چه په ټول ایام التشریق کې ذکر اذکار کول پکار دي او دا صرف د مونځونو نه روستو پورے خاص نهٔ دي بلکه عبد الله بن عمر او ابو هریره رضی الله عنهما به په بازار کې هم دا ذکرونه کول۔

مسئله : په ایام التشریق کې د روژے نیولو څه حکم دے؟ (۱) یو جماعت د سلفو وائي چه د ایام التشریق روژے مطلقاً حرامے دي حاجي او غیر حاجي پدے کې برابر دي او دا قول د علي بن ابي طالب او عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهم او د حسنؒ، او عطاءؒ دے او دا نوے قول د امام شافعيؒ دے او د عامو شوافعو فتویٰ ده۔ او دا قول د لیث بن سعدؒ، ابن علیةؒ، ابوحنیفةؒ او ابن المنذرؒ او یو روایت د امام احمدؒ نه دے او دا مذهب د ابن حزم رحمه الله هم دے۔ دے علماؤ دا احادیث مخصص ګرځولي دي ددے قول د الله تعالیٰ دپاره : ﴿ ثَلٰثَةِ اَیَّامٍ فِی الْحَجِّ ﴾ (البقره : ١٩٦) ځکه چه دا آیت

عام دے یوم النحر نه مخکی او روستو دوارو ورځو ته شامل دے او دا احادیث د ایام التشریق پورے خاص دی اگرکه پدے کی د حج او غیر حج په نظر عموم شته لیکن ددے خصوص راجح دے ځکه چه ددے احادیثو دلالت دا دے چه دا ورځے محل د روژے نهٔ دی او ددے ذات کی دا قابلیت نشته چه روژه دے پکی ونیولے شی گویا که دا ورځے د روژے سره منافی دی۔ او د رسول الله ﷺ نه د متمتع دپاره رخصت صراحةً په صحیح حدیث کی نهٔ دے ثابت۔

(۲) بعض علماء وائی چه ایام التشریق کی روژے مطلقاً جائز دی حاجی او غیر حاجی پدے کی برابر دی۔ او دا قول د ابو اسحاق المروزیؒ او اسود بن یزیدؒ دے او ابن المنذرؒ د زبیر بن العوامؓ او ابو طلحه رضی الله عنهما نه نقل کریدے۔ علامه ابن قدامهؒ د دوی نه دغه قول نقل کړے او بیا ئے وئیلی دی چه ظاهر دا ده چه دے صحابه کرامؓ ته د رسول الله ﷺ نهی نهٔ ده رسیدلے او که دا ورته رسیدلے وے نو دوی به ترے هیچرے تجاوز نهٔ وے کرے آه۔

(۳) د علماؤ یو بے دلے وئیلی دی چه ایام التشریق کی روژے نیول منع دی مگر د حاجی متمتع دپاره چه هدی نهٔ مونده کوی او په لسو ورځو د ذی الحجه کی ئے روژے ونهٔ نیولے نو د هغه دپاره په ایام التشریق کی روژے نیول جائز دی او دا قول د عائشه، ابن عمر رضی الله عنهما دے چه امام بخاریؒ ترے نقل کرے او د عروه بن الزبیرؒ، اسحاق بن راهویهؒ، عبید بن عمیرؒ او زهریؒ دے او دا مذهب د مالك او قدیم قول د شافعیؒ دے او د امام احمدؒ نه مشهور روایت دے (رحمهم الله)۔

امام اوزاعی رحمه الله پکی متمتع سره قارن او محصر هم شمارلے دے۔ پدے کی اول قول راجح دے۔

- 2051(16) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ :" لَا يَصُومُ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلَّا أَنْ يَصُومَ قَبْلَهُ أَوْ يَصُومَ بَعْدَهُ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کی دے یو تن د جُمعے په ورځ روژه نهٔ نیسی مگر که ددے نه مخکی (ورځ) روژه نیسی یا ددے نه روستو روژه نیسی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح: يعني يواځې د جُمعې ورځې روژه نيول صحيح نهٔ دی او د بلې ورځې سره ئې يوځای کول جائز دی يعني زيارت او جُمعه يا جُمعه او خالی۔

دا حديث دليل دے چه د جُمعې په ورځ يواځې نفلي روژه نيول صحيح نهٔ دی۔

(١) او ابن حزم رحمه الله فرمائی: چه يواځې د جُمعې په ورځ روژه نيول حرام دی او دليل ئې ظاهر ددے احاديثو دے چه نهي راغلې ده۔ او دا قول امام طبريؒ د احمدؒ نه او د ابن المنذرؒ نه او د بعض شوافعو نه نقل کړے او ابن المنذرؒ او ابن حزمؒ دا قول د علی بن ابی طالب او ابو هريره او سلمان او ابوذر رضی الله عنهم نه نقل کړے او ابن حزمؒ وائی : مونږ ته ددے صحابه کرامو مخالف نهٔ دے معلوم۔ او همدا راجح قول دے۔ او پدے باره کې صريح او صحيح احاديث دی۔ آو که د چا عادت وي چه مثلًا د مياشتې په لسمه روژه کيږي او په دغه ورځ جُمعه راغله بيا جائز ده کما سيأتي النص فيه۔

(٢) جمهور علماء (شافعيؒ، احمدؒ، ابويوسفؒ او بعض احناف) وائی چه دا نهي د تنزيه دپاره ده۔ يعني دا روژه بنه نهٔ ده۔

(٣) مالك، ابوحنيفةؒ او محمد رحمهم الله وائی : د جمعې په ورځ روژه نيول مطلقاً جائز او مباح دی او هيڅ کراهت پکې نشته لکه دا خبره عينيؒ، ابن قدامةؒ او ابن حجر عسقلانيؒ او ابن الهمامؒ ذکر کړيده۔ امام مالك وائی : مونږ د هيڅ اهل علم او فقه نه او د هغه کسانو نه چه هغوی مقتدئ دی دا نهٔ دی آوريدلی چه د جُمعې د ورځې د روژے نه ئې منع کړی وی او ددے روژه نيول غوره دی او ما بعض اهل علم ليدلی چه دا روژه ئې نيولے ده۔ مګر امام نووی رحمه الله فرمائی: د امام مالك وغيره رحمهم الله په رايه باندے سنت مقدم دے او حال دا چه په احاديثو کې د جُمعې د ورځې روژے نه منع ثابته ده نو همدا قول کول متعين دي او امام مالك معذور دے ځکه چه هغه ته حديث نهٔ دے رسيدلے۔

او په فروعو د مالکيه کې لکه الشرح الکبير د دردير وغيره کې دی چه د جُمعې په ورځ روژه نيول مستحب دی او دا قول د عامو احنافو دے او بعض احنافو ورته مکروه وئيلی دی لکه البدائع او النهر او البحر او الدر المختار او حاشية رد المحتار کې دی۔

(٤) حافظؒ وائی : د شوافعو نه دوه روايته دی

(١) يو دا چه مُزنيؒ د امام شافعيؒ نه نقل کړيدی چه دا روژه نهٔ ده مکروه مګر د هغه

چا دپاره چه روژه ئې د جمعې د ورځې د عباداتونو (مونځ، دعاء او ذکر) نه کمزورې کوی او دا مذهب د بیهقیؒ او ماوردیؒ او ابن الصباغؒ او عمرانیؒ دے۔
(۲) او دویم دا چه د جمهورو په شان قول ئې کړیدے او هغه دا چه دا مکروه تنزیهی ده او دا د متأخرینو په نیز صحیح روایت دے۔ او دا امام نوویؒ په «الروضه» کې غوره گنړلے دے۔
کوم علماء چه د جواز قائل دی هغوی په بعض ضعیف یا مجمل روایتونو باندے دلیل نیسی لکه په حدیث د ابن مسعودؓ کی راځی: (قَلَّمَا كَانَ يُفْطِرُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ) (الجامع الصغیر و حسنه الالبانی) نبی ﷺ به د جُمعے په ورځ ډیر کم کرت کوجه وو۔
جواب دا دے چه ددے روایت مطلب دا دے چه نبی ﷺ به ډیرے روژے نیولے نو د جُمعے روژه به ئې د نورو روژو سره نیوله او ددے نه یوازې د جُمعے په ورځ روژه نیولو کراهت نفی نهٔ کیږی او پدے سره د دوارو حدیثونو جمع راځی۔

- 2052(17) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " لَا تَخْتَصُّوا لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ بِقِيَامٍ مِنْ بَيْنِ اللَّيَالِي وَلَا تَخْتَصُّوا يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِصِيَامٍ مِنْ بَيْنِ الْأَيَّامِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ فِي صَوْمٍ يَصُومُهُ أَحَدُكُمْ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: د جُمعے ورځ مهٔ خاص کویٔ په ودریدو (تهجدو) سره د نورو ورځو ترمینځ او د جمعے ورځ د نورو ورځو ترمینځ د روژو دپاره مهٔ خاص کویٔ مگر که جمعه واقع شی په هغه روژه کی چه یو تن ستاسو ئې (د مخکی نه عادتی طریقے سره) نیسی۔ (مسلمؒ)
تشریح : لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ : یعنی یو تن په نورو شپو کی تهجد نهٔ کوی او صرف پدے یوه شپه کی ئې کوی نو دا صحیح نهٔ ده البته که اراده ئې په نورو شپو کی هم وه نو بیا جائز دی خو تخصیص صحیح نهٔ دے چه په نورو شپو کی ئې اراده نهٔ وه او صرف ددے ورځ باندے راپاځیږی۔ دغه شان حکم د صدقے دے چه بعض خلك ورله د جُمعے شپه یا ورځ خاص کوی نو دا صحیح نهٔ ده۔
فِي صَوْمٍ : یعنی د جُمعے ورځ په هغه روژه کی راشی چه انسان د هغې روژه نیولو باندے عادت وی یا نذری وی۔

د جمعې په ورځ د روژې نه ځکه منع وشوه چه دا بهتره ورځ ده نو بندګان پکی د ځان نه چرته بهتر والے پیدا نکړی نو په بدعت کی به واقع شی۔ ځینی وائی چه پدے کی حکمت دا دے چه بنده پدے ورځ ډیر عبادتونه کوی او په روژه سره کیدے شی چه هغې نه کمزورے شی۔

دا حدیث په بلـه مسئلـه دلیل دے چه تخصیصات په عباداتو کی ناروا دی او تخصیص دیته وائی چه یو عبادت په یو وخت کی غوره ګنړی لکه یو تن ووائی چه زۀ به په لسو بجو کی تلاوت کوم او پدے وخت کی تلاوت بهتر دے نو دا بدعت شو او که یو تن ووائی چه زۀ په لسو بجو کی وزګاریم تلاوت به کوم او بل وخت کی نۀ وزګاریږم نو دا بدعت نۀ دے ځکه پدے کی تخصیص رانغے، دا په عباداتِ مطلقه ؤ کی داخل دے۔

- 2053 (18) وَعَنْ أَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ صَامَ یَوْمًا فِیْ سَبِیْلِ اللهِ بَعَّدَ اللهُ وَجْهَهٗ عَنِ النَّارِ سَبْعِیْنَ خَرِیْفًا " مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو سعید خدری ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چه د الله په لاره کی (یا خالص د الله د رضا دپاره) یوه ورځ روژه ونیوله (نو) الله تعالیٰ به دده مخ د اُور نه اویا کاله وړاندے وساتی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: فِیْ سَبِیْلِ اللهِ : د الله لاره جهاد، د دین دعوت، د دین علم طلب کول تولو ته شامل ده۔ بعض وائی : د فی سبیل الله نه مراد دلته اخلاص دے یعنی خالص د الله د مخ د وجه نه روژه نیسی۔ یا جهاد مراد دے ځکه چه پدے کی دوه فضیلتونه راجمع کیږی یو جهاد او غزا او بله روژه نیول۔ خو دا په هغه وخت کی چه د روژے په وجه د جنګ نه نۀ کمزورے کیږی۔

سَبْعِیْنَ خَرِیْفًا : خریف منی ته وائی او په کال کی یو منے راځی نو مراد ترے نه اویا کاله دی او دا کنایه ده د ډیر وړاندی والی نه۔

- 2054(19) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " یَا عَبْدَ اللهِ أَلَمْ أُخْبَرْ أَنَّكَ تَصُوْمُ النَّهَارَ وَتَقُوْمُ اللَّیْلَ ؟ "فَقُلْتُ: بَلٰی یَا رَسُوْلَ اللهِ. قَالَ :

"فَلَا تَفْعَلْ صُمْ وَأَفْطِرْ وَقُمْ وَنَمْ فَإِنَّ لِجَسَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَإِنَّ لِعَيْنِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَإِنَّ لِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَإِنَّ لِزَوْرِكَ عَلَيْكَ حَقًّا. لَا صَامَ مَنْ صَامَ الدَّهْرَ. صَوْمُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ صَوْمُ الدَّهْرِ كُلِّهِ. صُمْ كُلَّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَاقْرَئِ الْقُرْآنَ فِي كُلِّ شَهْرٍ. قُلْتُ: إِنِّي أُطِيقُ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ. قَالَ: " صُمْ أَفْضَلَ الصَّوْمِ صَوْمَ دَاوُدَ: صِيَامَ يَوْمٍ وَإِفْطَارَ يَوْمٍ، وَاقْرَأْ فِي كُلِّ سَبْعِ لَيَالٍ مَرَّةً وَلَا تَزِدْ عَلَى ذٰلِكَ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سيدنا عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: اې عبد الله ! آيا زۀ نۀ يم خبر شوې چه ته روژې نيسې د ورځې او توله شپه ودرېږې؟ نو ما وويل : ولې نۀ اې د الله رسوله ! نبي كريم ﷺ وفرمايل: دا كار مۀ كوه، روژه هم نيسه او كوجه كوه هم، او مونځ ته ودرېږه او خوب (هم) كوه. ځكه چه ستا د بدن په تا باندې حق شته او ستا د سترګې په تا باندې حق شته او ستا د ښځې په تا باندې حق شته او ستا د ميلمه په تا باندې حق شته، هغه چا روژه نۀ ده نيولې چه تول عمر روژې نيسي، د هرې مياشتې نه درې ورځې روژه نيول د تول عمر روژې دي. د هرې مياشتې نه درې ورځې روژه نيسه او قرآن كريم په هره مياشت كې لوله. (يعنې په مياشت كې ختم كوه) ما وويل : زۀ ددې نه د زياتو طاقت لرم. وې فرمايل : غوره روژې نيسه چه هغه د داود عليه السلام روژې دي، يعنې يوه ورځ روژه او بله ورځ كوجه كيدل. او قرآن (تول) په اووه شپو كې يو كرت لوله او پدې باندې ئې مۀ زياتوه. (بخاري ومسلم)

تشريح : أَلَمْ أُخْبَرْ : دې عبد الله واده كړې وو او ډير وخت پورې ښځې ته نۀ وو نزدې شوې ځكه چه توله شپه به ئې عبادتونه كول او كله چه به ستړې شو نو اوده به شو نو ښځې ته وزګار نشو نو سخر (عمرو بن العاص ﷺ) د خپلې اينګور نه تپوس وكړو چه عبد الله څنګه سړې دې ؟ (مشر له پكار دي چه د خپل كور حال احوال وتپوسي، د خپل اهل نه غفلت نۀ دې پكار) نو هغې وويل : زما لوپته ئې هم نۀ ده لرې كړې خواله نۀ دې راغلې. نو عمرو بن العاص ﷺ نبي ﷺ ته شكايت وكړو نو رسول الله ﷺ كور ته ورغې او دا ئې ورته وويل چه توله شپه عبادتونه مۀ كوه ځكه چه په تا باندې ډير حقونه شته، د بدن، د سترګو، د ښځې د ميلمه وغيره حقونه دي (او حقيقي بنده هغه

دي چه د تولو حقوق وپيژني، د الله حق داسې اداكړي چه د بنده ګانو حقونو ته هم نقصان ونهٔ رسي)۔

فِيْ كُلِّ سَبْعِ لَيَالٍ : نبي ﷺ ورته صرف په اوه ورځو کې د قرآن کريم ختمولو حکم وکړو او ورته ئې وفرمايل چه پدې باندې زيادت مهٔ کوه او د يو بل روايت نه معلوميږي چه نبي ﷺ ورته په درې ورځو کې هم د ختمولو اجازه ورکړې وه۔ نو دهٔ پدې باندې عمل کولو (او دا ډير ګران کار دې) تردې چه بوډا شو بيا ورته ګرانه شوه نو بيا به ئې ارمان کولو چه د نبي ﷺ رخصت مې قبول کړې وې ليکن دا عمل ئې نهٔ پريښودو ځکه چه دا به ئې بده ګنړله چه د نبي ﷺ په ژوند کې يو عمل کوي او روسته ئې پريږدي۔ او په آخر د عمر کې به ئې يو ځو ورځې روژه ماته کړه دې دپاره چه بدن ئې قوي شي بيا به ئې د هغې قضائي راوړله او د ورځې به ئې تکرار د قرآن کولو او د شپې به ئې په مانځه کې په آسانئ سره زر زر لوستلو ځکه پدې طريقه سره به ښه ياديدو۔

او د روژو په باره کې به ئې يوه ورځ روژه او يوه ورځ کوجه وو نو کله چه کمزورې شو نو بيا به ئې د بدن د قوت په خاطر ځو ورځې متواتر روژې پريخودې او بيا به ئې د هغې قضائي په متواترو نيولو سره راوړله۔

الفصل الثاني

- 2055 (20) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَصُوْمُ الإِثْنَيْنِ وَالْخَمِيْسَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : او ام المؤمنين عائشه رضى الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ به د دوشنبې او د پنجشنبې په ورځ روژه نيوله۔ (ترمذيؒ، نسائيؒ)

تشريح : دا دليل دې چه نبي عليه السلام به ددې دوه ورځو د روژو هم اهتمام کولو او په روستو حديث کې ئې علت ذکر دې۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، مسند احمد (٦/١٠٦) والترمذى (٧٤٥) والنسائى (٤/٢٠٢) وابن ماجه (١٧٣٩) وابن خزيمة (٢١١٦)

- 2056 (21) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " تُعْرَضُ الْأَعْمَالُ يَوْمَ الإِثْنَيْنِ وَالْخَمِيْسِ فَأُحِبُّ أَنْ يُعْرَضَ عَمَلِيْ وَأَنَا صَائِمٌ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل : د دوشنبی (پیر) او د پنجشنبی (زیارت) په ورځ (الله تعالیٰ ته) عملونه پیش کولے شی نو زهٔ خوښوم چه زما عمل الله تعالیٰ ته پداسے حالت کی پیش شی چه زهٔ روژه یم۔ (ترمذی)

تشریح : پدیے کی دا احتمال شته چه ملائك نمبر ایږدی نو یوه ډله د دوشنبے نه تر زیارت ورځے پورے د انسانانو سره وی بیا خیژی او بله ډله د زیارت نه دوشنبے پورے وی او بیا خیژی او هره ډله چه وخیژی نو هغه اعمال الله تعالیٰ ته پیش کوی کوم ئے چه لیکلی وی لیکن د نمبر کیخودو خبره کوم روایت کی نشته، صحیح دا ده چه عرض الاعمال په مختلفو اوقاتو کی کیږی۔ او ددے عملونو د پیش کولو حکمت دا دے چه الله تعالیٰ ته د بندګانو عملونه ډیر خوښ دی، هغه په کی نظر اچوی او ډیر اعتبار ورله ورکوی او پدیے کی په ملائکو باندے فخر کوی چه زما داسے فرمانبردار بندګان شته۔

أَنْ يُعْرَضَ عَمَلِيْ : یعنی نبی ﷺ فرمائی چه زهٔ دا خوښوم چه پدیے ورځ زما عمل هم الله تعالیٰ ته پیش شی او زهٔ پکی روژه هم یم دیے دپاره چه درجات مے نور هم زیات پورته شی او د الله تعالیٰ حق ادا شی۔

په روایت د مسلم کی راغلی دی کوم چه په باب القدر کی مخکی تیر شویدے (یرفع الیه عمل اللیل قبل عمل النهار وعمل النهار قبل عمل اللیل) چه د بندګانو د صبا اعمال د شپے د اعمالو نه مخکی او د شپے اعمال د صبا د اعمالو نه مخکی (هره ورځ) پورته وړی۔ نو ددے حدیث او د هغه حدیثونو تعارض نشته ځکه چه یو دی پورته کول او بل دی پیش کول نو ملائك ئے هر سهر او مابنام پورته کوی او بیا ئے پدیے ورځو کی الله تعالیٰ ته پیش کوی۔ یا دا چه روزانه هر عمل په تفصیلی توګه پیش کیږی او بیا پدیے ورځو کی ټول اعمال په اجمالی توګه پیش کیږی وهو الصحیح۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح، الترمذی (٧٤٧) وبمعناه احمد فی المسند (٣٢٩/٢) والدارمی فی السنن (٢٠/٢)

- 2057 (22) وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " يَا أَبَا ذَرٍّ! إِذَا صُمْتَ مِنَ الشَّهْرِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَصُمْ ثَلَاثَ عَشْرَةَ وَأَرْبَعَ عَشْرَةَ وَخَمْسَ عَشْرَةَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : او سيدنا ابوذر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : اے ابوذره ! كله چه تهٔ د هرے مياشتے نه درے ورځے روژه نيسے نو ديارلسمه او څوارلسمه او پنځلسمه ورځ روژه نيسه۔ (ترمذیؒ، نسائیؒ)

تشريح : دے درے ورځو ته ايام البيض وائى ددے ورځو روژے نيول هم مستحب دى، پدے كى ځينى علماء دا حكمت بيانوى چه پدے شپو كى چه هركله رڼا د سپوږمۍ په وجه عامه شى نو مناسب ده چه توله ورځ په عبادت سره روښانه شى۔ او ځينى وائى چه پدے شپو كى غالباً كسوف راځى او په نورو شپو كى نهٔ وى او الله تعالىٰ مونږ ته حكم كړے چه هغه ته په نيك اعمالو تقرب وكړو، خاصكر په وخت د كسوف كى يا ددۓ نور حكمتونه شته الله تعالىٰ ته معلوم دى۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، احمد (١٥٠/٥) والترمذى (٧٦١) والنسائى (٢٢٣/٤) وصححه ابن حبان كما فى موارد الظمآن (٩٤٣،٩٤٤) والبيهقى فى الكبرى (٢٩/٤)

- 2058 (23) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَصُوْمُ مِنْ غُرَّةِ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَقَلَّمَا كَانَ يُفْطِرُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَرَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ إِلَى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ.

ترجمه : او سيدنا عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ د هرے مياشتے د ابتداء نه درے ورځے روژه نيوله او دير كم كرته به هغه د جُمعے په ورځ كوجه كوله۔ (ترمذیؒ، نسائیؒ) او دا روايت ابوداودؒ تر (ثلاثة ايام) پورے راوړيدے۔

تشريح : وَقَلَّمَا : مخكى تير شويدى چه صرف د جُمعے په ورځ نفلى روژه نيول جائز نهٔ دى او دا حديث د هغے عكس معلوميږى، لهذا پدے حديث كى د تطبيق دپاره دا تاويل كيدے شى چه نبى ﷺ به د جمعے په ورځ روژے سره مخكى يا روسته روژه نيوله دے دپاره چه د نبى ﷺ په قول او فعل كى موافقت راشى۔

درجة الحديث : اسناده حسن : احمد (٤٠٦/١) وابوداود (٢٤٥٠) وليس عنده : وقلما كان يفطر يوم الجمعة والترمذى (٧٤٢) والنسائى (٢٠٤/٤) وصححه ابن عبد البر)

- 2059 (24) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَصُوْمُ مِنَ

الشَّهْرِ السَّبْتَ وَالْأَحَدَ وَالْإِثْنَيْنِ وَمِنَ الشَّهْرِ الآخِرِ الثُّلَاثَاءَ وَالْأَرْبِعَاءَ وَالْخَمِيْسَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ به د مياشت نه د خالي او اتوار او پير (دوشنبي) په ورځ روژه نيوله او د بلې مياشتې نه به ئې د سه شنبي (منګل) او د چهار شنبي (بدھ) او زيارت په ورځ روژه نيوله۔ (ترمذیؒ)

تشريح : يعني رسول الله ﷺ به په يوه مياشت کې نفلي روژې د خالي نه شروع کړې او د اتوار او پير د ورځې روژې به ئې ونيولې بيا به په بله مياشت کې د سه شنبې نه تر زيارت پورې روژې ونيولې او رسول الله ﷺ دا کار د جواز د بيانولو دپاره وکړو او دې دپاره چه ټولې ورځې د الله په عبادت باندې مشغوله شي او نبي ﷺ متواترې ونۀ نيولې دې دپاره چه امت په مشقت کې پرې نۀ وځي ځکه امت به د هغه اقتداء کوي نو ورته ګرانه به شي۔

درجة الحديث : اسناده حسن عند الترمذى (٧٤٦) وفى سنده خيثمة عن عائشة وصحح الالبانى فى صحيح الجامع (٤٩٧١) ومختصر الشمائل رقم (٢٦٠) وضعفه فى السنن وتمام المنة (٤١٤) وَهُمَا أَلِفَا بَعْدَهُمَا۔ (راجع تراجعات الالبانى) قال الحافظ فى الفتح بعد ذكر هذا الحديث : وروى موقوفا وهو اشبه)۔

2060 (25) - وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَأْمُرُنِيْ أَنْ أَصُوْمَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ أَوَّلُهَا الْإِثْنَيْنِ وَالْخَمِيْسُ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : او ام سلمه رضي الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ به ما ته حکم کولو چه زۀ د هرې مياشت نه درې ورځې روژه ونيسم چه اول د هغې د دوشنبي (پير) او د زيارت ورځ وي۔ (ابوداودؒ، نسائيؒ)

تشريح : يعني په يوه مياشت کې به د يوم الاثنين (دوشنبې) نه شروع وکړي او په زيارت به ئې ختم کړي او په بله مياشت کې به د زيارت، جُمعې او خالي روژې ونيسي نو په ټوله هفته روژو به عمل وکړي۔ يا مطلب دا دې چه کله به مياشت شروع شوه نو ددې درې ورځو اولنۍ ورځ به ئې چه شروع کوله نو د دوشنبې نه يا د زيارت نه نو دلته واو په (والخميس) کې په معنٰی د (او) سره دې۔ يعني چه کله به د مياشتې شروع د

زیارت نه روستو وشوه نو نبی ﷺ به ام سلمیٰؓ ته حکم وکړو چه روژه د دوشنبې نه شروع کړه او کله چه به میاشت د دوشنبې نه راپدې خوا شروع شوه نو بیا به ئې اولنۍ روژه د زیارت نه نیوله۔

الاثنین : علم دے د ورځې پدے وجه په نون باندے رفع ولیکلے شوه۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف عند ابی داود والعسقلانی ومنکر عند الالبانی رواه ابوداود والنسائی واحمد والبیهقی علی اختلاف فیه من طریق هنیدة بن خالد الخزاعی عن امه عن ام سلمة وسکت عنه ابوداود والمنذری وام هنیدة مجهولة (الهیثمی فی المجمع) وقال حسین سلیم اسد فی تحقیق مسند ابی یعلی (٦٨٨٩) اسناده صحیح وصححه رمضان بن احمد فی النسخة الهندیة للمشکاة (١/ ٨١٤)

- 2061 (26) وَعَنْ مُسْلِمٍ الْقُرَشِيِّ قَالَ: سَأَلْتُ أَوْ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنْ صِيَامِ الدَّهْرِ فَقَالَ : " إِنَّ لِأَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، صُمْ رَمَضَانَ وَالَّذِىْ يَلِيْهِ وَكُلَّ أَرْبِعَاءَ وَخَمِيْسَ فَإِذًا أَنْتَ قَدْ صُمْتَ الدَّهْرَ كُلَّهُ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او جناب مسلم قرشیؒ وائی : ما تپوس وکړو یا د رسول الله ﷺ نه د تول عمر د روژو په باره کې تپوس وشو نو هغه وفرمایل: یقیناً ستا د اهل دپاره په تا باندے حق دے، د رمضان روژه ونیسه او هغه میاشت چه هغې ته نزدے ده (یعنی شپږ روژے د شوال) او د هر بدھ (چهار شنبې) او زیارت (پنجشنبې) په ورځ۔ نو په دغه وخت کې به تا د تول عمر روژے نیولې وی۔ (یعنی د تول عمر د روژو ثواب به درته ملاویږی)۔ (ابوداودؒ، ترمذیؒ)۔

تشریح : مسلم بن عبید الله القرشی بعض وائی عبید الله بن مسلم دے او ځینې وائی : مسلم بن مسلم ئې نوم دے (الاصابه) مګر اکثرو علماؤ وئیلی دی چه ددے صحابی نوم مسلم دے او بغویؒ وائی چه دا په کوفه کې وسیدلے دے۔ ځینې وائی دا تابعی دے او پلار (عبید الله) ئې صحابی دے۔

لِأَهْلِكَ : یعنی ستا د اهل په تا باندے حق شته مطلب ئې دا وو چه تول عمر همیشه روژے نیول نشته که وے نو دا مقام د بیان وو نبی ﷺ به ورته د جواز جواب ورکړے وے لیکن غوره نۀ دی بلکه په حکمت سره ئې جواب ورکړو چه پدے سره بدن

کمزورے کیږی بیا د خپل اهل د حقوقو د ادا کولو نه کمزورے کیږی او د اهل حقوق ادا کول خو واجب دی نو دا روژه نیول صحیح نهٔ شو۔

وَالَّذِیْ یَلِیْهِ : یعنی د رمضان روژے نیسه او هغے ته نزدے روژے یعنی د شوال شپږ روژے یا د شعبان روژے مراد دی مګر اول ظاهر دے په شعبان کی به نبی ﷺ اکثری روژے نیولے او په شوال کی شپږ۔

فَاِذًا : دا په تنوین سره دے یعنی په دغه وخت کی به ګویا که تا د تول عمر روژے نیولی وی۔

په هره میاشت کی څلور چهارشنبی او څلور د زیارت ورځی راځی نو دا په میاشت کی اته ورځے شوے نو کله چه درے ورځے روژه د تولے میاشتے برابرېږی نو اته ورځے به خامخا د میاشتے نه زیاتیږی نو دا د تول عمر روژو خامخا برابر شو فتدبر۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف، ابوداود (۲٤۳۲) والترمذی (۷٤۸) وقال : حدیث غریب وقال الالبانی : ضعیف لان مسلم بن عبید اللّٰه تابعی فی عداد المحهولین ولذلك ضعفه الترمذی بقوله : غریب) وقال المنذری فی الترغیب : رواته ثقات وقال العزیزی : اسناده صحیح (المرعاة) والاول راجح۔

- 2062 (27) وَعَنْ أَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ : نَهٰی عَنْ صَوْمِ یَوْمِ عَرَفَةَ بِعَرَفَةَ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول اللّٰه ﷺ په عرفات کی د عرفے د ورځے د روژے نه منع فرمایلے ده۔ (ابوداوٗد)

تشریح : امیر یمانی رحمه اللّٰه فرمائی چه دا حدیث ظاهر دے پدے خبره کی چه د عرفے په ورځ په عرفات کی روژه نیول حرام دی او دا مذهب د یحیی بن سعید الانصاریؒ دے او دائے وئیلی دی چه موثر د حاجی دپاره کوجه کول غوره ګنړو او بعض وائی چه کله د دعاء نه نهٔ کمزورے کیږی نو بیا جائز ده۔ او جمهور علماء کوجه کولو ته مستحب وائی۔ پدے روایت کی کلام شته خو نبی ﷺ نهٔ ده نیولے نو هغه عمل چه ددے روایت سره ملګرے شی نو نتیجه به ئے دا راوځی چه په عرفات کی د حاجی دپاره نفلی روژه نیول خلاف سنت دی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، احمد (٤٤٦/٢) وابوداود (٢٤٤٠) وابن خزيمة (٢١٠١) والمستدرك (٤٣٤/١) وقال صحيح على شرط البخاري واقره الذهبي والبيهقي وقال المناوي في المناهج والتناقيح : وليس كذلك فان مهدي الهجري ليس من رجال البخاري و لا مسلم وقال ابن معين فيه : لا اعرفه آه وضعفه ابن حزم في المحلي۔

- 2063 (28) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُسْرٍ عَنْ أُخْتِهِ الصَّمَّاءِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : " لَا تَصُوْمُوْا يَوْمَ السَّبْتِ إِلَّا فِيْمَا افْتُرِضَ عَلَيْكُمْ فَإِنْ لَّمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلَّا لِحَاءَ عِنَبَةٍ أَوْ عُوْدِ شَجَرَةٍ فَلْيَمْضَغْهُ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او جناب عبد الله بن بُسر ﷺ د خپلې خور صماء (بنت بسر) رضی الله عنها نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو د خالی د ورځې روژه مهٔ نیسئ مګر په هغه روژو کی چه په تاسو فرض وی، که یو تن ستاسو نه (نور څه) نهٔ مونده کوی مګر د انګور پوستکې یا د ونې لرګې نو هغه دې وچوپی (شخوند دې پرې ووهی او روژه دې ماته کړی) (احمدؒ، ابوداودؒ، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشریح : لِحَاءَ : پوستکې د انګور دانې۔

مسئله : د خالی په ورځ نفلی روژه نیول شته که نهٔ ؟ نو اول خو دا واوره چه ددې حدیث د ثبوت او عدم ثبوت په باره کی د علماؤ دوه رایی دی (۱) نسائیؒ وئیلی دی چه دا حدیث مضطرب دې، حافظ عسقلانیؒ «بلوغ المرام» کی وائی : رجال ئې ثقات دی لیکن حدیث مضطرب دې، وجه د اضطراب دا ده چه کله داسې الفاظ راځی (عن اخته الصماء) او کله (عن ابیه) لفظ راځی او کله (عن عبد الله بن بسر عن النبی ﷺ) الفاظ راځی لیکن کوم علماء چه دې حدیث ته ثابت وائی لکه دا د اکثرو قول دې او راجح هم دې نو هغوی وائی چه ابوزرعه رحمه الله وائی : ما ته دحیم ووییل چه د یو کور څلور کسان د نبی ﷺ صحابه کرامؓ دی بُسر او د هغه دواړه ځامن (عبد الله او عطیه) او ددې دواړو خور الصماء نو کله یو حدیث د ډیرو کسانو نه نقل وی نو دا د راوی کمال وی چه د ټولو نومونه پکې واخلی نو دا اضطراب مضر نهٔ دې۔ یا دې ئې یو نه بالواسطه آوریدلې وی او د بل نه بلاواسطه۔ اوزاعیؒ وائی : (مَا زِلْتُ لَهُ كَاتِمًا حَتّٰى انْتَشَرَ بَيْنَ النَّاسِ) زهٔ همیشه ددې روایت پټ ساتونکې وم تردې چه خلکو کی مشهور شو،

اوزاعی رحمه الله ځکه پټ ساتلو چه دا ورته ضعیف ښکاره کیدو لیکن خلکو کی چه خور شو دلیل دے چه سندونه ئے ډیر وو۔

امام زهریؒ ته چا دا حدیث پیش کړو نو هغه وویل : (هٰذَا حَدِیْثٌ حِمْصِیٌّ) دا حدیث د شام نه راغلی دے یعنی د مدینے نه نۀ دے رارسیدلے، اشاره کوی چه دا ضعیف دے۔

امام ابوداودؒ د امام مالك نه نقل کړیدی چه هغه وئیلی دی : (هذا حدیث کذب) دا دروغجن حدیث دے۔ لیکن د امام مالك خبره ضعیفه ده ځکه چه هیڅ وجه ئے نۀ ده ذکر کړے او امام ابوداودؒ وائی چه دا حدیث منسوخ دے، د هغه په نیز وجه د نسخ کیدے شی دا وی چه د رسول الله ﷺ نه د خالی او د اتوار د روژو ثبوت موجود دے لکه مخکی هم تیر شو لیکن بیا هم دا خبره دومره قوی نۀ ده ځکه چه په نسخ کی تاریخ پیژندل ضروری دی او حال دا چه برعکس خبره غوره ده ځکه چه عبد الله بن بسر ﷺ د صحابه کرامؓ نه روستو وفات شویدے۔ دویم د منع والا روایت یو شے د خپل اصل اباحت نه ویاسی نو بس هغې لره به اعتبار وی۔

(حکم صیام یوم السبت فی غیر الفریضة لأبی حسام الدین الطرفاوی)

(٢) دویم قول دا دے چه عروهؒ دا روایت د عبد الله بن بسرؓ نه نقل کړے او هغه به فتویٰ ورکوله چه د خالی په ورځ روژه نیول صحیح نۀ دی۔ منذری رحمه الله وئیلی دی چه دا حدیث صحیح دے ترمذیؒ ورته حسن وئیلے دے او ابن السکنؒ صحیح کړیدے او حاکمؒ وئیلی دی (صحیحٌ علی شرط البخاری)۔ نوویؒ وائی: صَحَّحَهُ الْاَئِمَّةُ۔ او شیخ البانی رحمه الله دے روایت ته صحیح وائی او څه وجه د ضعف پکی نشته۔ او همدا قول راجح دے۔

مسئله ثانیه : بیا کوم علماء چه دے حدیث ته صحیح وائی نو دوی خپل مینځ کی مختلف دی چه آیا د خالی په ورځ روژه نیول انفراداً (یواځے) منع ده او که اجتماعاً (د نورو سره ملګرے) هم منع ده؟ نو اکثرو اهل علمو وئیلی دی چه یواځے ناجائز او چه د جمعے یا د اتوار ورسره ونیسے نو جائز ده او دا قول راجح دے۔

(٢) دویم قول دا دے چه د خالی په ورځ روژه مطلقاً ناروا ده، یواځی وی او که اجتماعاً۔ وجه دا بیانوی چه پدے حدیث کی صرف د فرضی روژے نیولو نه استثناء راغلے ده، باقی ټول نفلی روژے پکی نیول صحیح نشو۔

اول قول والا وائی چه پدے حدیث کی خو د خالی د ورځے نه منع راغلے ده لیکن نورو روایتونو کی اجتماعاً د خالی روژه نیول جائز خودلے شویدی او دا ډیر احادیث دی :
(۱) یو دا مخکی حدیث د عائشه رضی الله عنها دے (يَصُوْمُ يَوْمَ السَّبْتِ وَالْاِثْنَيْنِ) والا۔ (۲) مخکی متفق علیه حدیث د ابو هریرةؓ مرفوعاً نقل وو : (لَاتَصُوْمُوْا يَوْمَ الْجُمُعَةِ اِلَّا اَنْ يَّصُوْمَ يَوْمًا قَبْلَهٗ اَوْ يَصُوْمَ يَوْمًا بَعْدَهٗ)۔
(۳) بل حدیث روستو راروان دے د ام سلمةؓ حدیث دے : (كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَصُوْمُ يَوْمَ السَّبْتِ وَيَوْمَ الْاَحَدِ) او دا علماء وائی چه دا رایه مونږ ځکه غوره کوو چه پدے حدیث کی د علماؤ کلام هم شته نو پدے وجه مونږ پدے یو حدیث سره دغه درے مرفوع (بلکه لس) روایات نشو پریخودلے او که دغه حدیث مونږ مطلق واخلو نو دا درے حدیثونه ضائع کیږی۔ د دویم قول والا سره شیخ البانی رحمه الله ملګرے دے نو هغه ددے حدیثونو نه داسے جواب کوی چه دا حدیثونه درے واړه مبیح دی او دا حدیث الباب مُحرم دے او دا قانون دے چه کله د مبیح او د مُحرم تعارض راشی نو محرم له به ترجیح ورکولے شی۔
لیکن مونږ وایو چه دا یوه اصولی قاعده په خپل ځای کی صحیح ده لیکن مونږ ولے پدے یو حدیث سره دا درے حدیثونه ضائع کړو داسے ولے نهٔ کوو چه ووایو چه ددے درے حدیثونو په وجه پدے حدیث کی داسے تاویل وکړو (لَا تَصُوْمُوْا يَوْمَ السَّبْتِ اِلَّا فِيْمَا افْتُرِضَ عَلَيْكُمْ) اَىْ لِوَحْدِهٖ) یعنی یواځے نیول ئے ناجائز دی، نهٔ اجتماعاً۔ نو دلته بله قاعده مینځ ته راځی چه په احادیثو کی اعمال غوره وی د اهمال نه۔ او دا صحیح تاویل دے د دغه احادیثو په وجه۔ او پدے سره د ټولو حدیثونو جمع والے راځی۔ او تفصیل ئے په فتاوی الدین الخالص (۳۳۷/۸) جلد کی وګوره۔
وجه الکراهة: د خالی په ورځ یواځے د روژے نیولو نه منع پدے وجه وشوه چه دا یوه ورځ ده چه یهودیان ئے تعظیم کوی نو کله چه ورسره بله ملګری شی نو بیا دغه تخصیص او تشبیه ختمیږی۔
مسئله ثالثه: کله چه د خالی په ورځ د عرفے روژه راشی نو آیا دا به نیولے کیږی او که نهٔ ؟ که د خالی په ورځ روژه نیسی نو ددے حدیث خلاف راځی او که نهٔ ئے نیسی نو د دوه کالو ګناهونو معاف کیدو ثواب د انسان نه ضائع کیږی نو څه به کوی ؟

(١) نو کوم علماء چه وائی د خالی په ورځ روژه نیول حرام دی نو هغوی وائی چه د عرفې روژه به هم پدې ورځ نهٔ نیسی ځکه چه دا قانون دے چه یو طرفته حرام وی او بل طرفته مستحب نو دهغې پریښودل لازم دی نو د عرفې او عاشورې به د خالی په ورځ نهٔ نیسے که یو انسان غواړی چه د عرفې روژه د خالی په ورځ ونیسی نو هغه به ورسره د جمعې د ورځې روژه ونیسی یا به ورسره د اتوار ونیسی۔ لکه دغه شان خبره د جمعې په ورځ روژو کی هم مخکی ذکر شوه۔

(٢) او ځینی علماء وائی چه د عاشورې او د عرفې روژه که د خالی یا د جمعې په ورځ راشی نو یواځې د هغې نیول جائز دی لکه دا خبره په الموسوعة الفقهیه الکویتیه کی ذکر ده دا علماء وائی چه د عاشورې او د عرفې د جدا فضیلت د وجه نه دا دواړه ورځې د دغه نهی نه مستثنیٰ دی او دا سببی روژې دی او د احادیثو د نهی د صوم یوم السبت نه خارج دی لکه دا خبره مفتی الدیار السعودیة علامه عبد الله بن عبد العزیز بن باز رحمه الله کړیده۔ مجموع فتاوی ومقالات متنوعة ابن باز (٤١٢/١٥)۔

حافظؒ په فتح الباری کی وئیلی دی چه د جمعې د ورځې د روژې د نهی نه هغه څوك مستثنیٰ دے چه د هغه د یوې معینې ورځې عادت وی لکه مثلًا د عرفې روژه هر کال نیسی او هغه یو کال د جمعې په ورځ راشی نو دغه شان که د خالی په ورځ راشی نو دا به هم مستثنیٰ وی۔ (فتاوی الأسلام، سوال وجواب)

خو دا هله چه د عاشورې او د عرفې ورځ ئې عادت وی او که عادت ئې نهٔ وی نو بیا ورله یواځې جمعه یا خالی نیول صحیح نهٔ دی۔ او همدا خبره راجح ده کما فی الدین الخالص (٣٣٧/٨)

دارنګه ددې قول والا دپاره استدلال کیږی په حدیث د (أَفْضَلُ الصِّيَامِ صِيَامُ دَاوُدَ كَانَ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا) سره چه کله د انسان عادت وی چه یوه ورځ روژه کوی او بله ورځ کوجه نو دغه عادت به ئې کله د خالی د ورځې موافق کیږی نو د هغه دپاره د خالی روژه یا صرف د جمعې روژه نیول د دغه حدیث نه ئې جواز ثابتیږی نو دغه شان که د چا د عرفې یا د عاشورې روژه عادت وی نو د هغه دپاره ئې یواځې نیول جائز دی۔ او دا رایه د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله هم ده چه یواځې د خالی ورځې روژه نیول جائز دي او دغه حدیث الباب ته ئې شاذ او منسوخ وئیلے دے۔ او دا رایه د اوزاعیؒ، زهریؒ او ابن

القیمؒ ده او یو روایت د احمدؒ نه هم دے۔ پدے کې د اختلاف نه د وتلو دپاره دا طریقه غوره ده چه که خالي ورځ یا د جمعے ورځ د عاشورے یا د عرفے سره برابره شوه نو یوه ورځ ترے مخکې یا روستو ونیسي مګر د اختر په ورځ نهٔ والله تعالیٰ اعلم۔

درجة الحديث: اسناده صحیح، رواه احمد (٦/٣٦٨) وابوداود (٢٤٢١) والترمذی (٤٣) وحسنه والنسائی فی الکبریٰ وابن خزیمة وابن حبان والحاکم وقال : صحیح علی شرط البخاری والبیهقی والطبرانی وصححه ابن السکن وقال النووی صححه الائمة وقول من قال انه شاذ او منکر او مضطرب قول ضعیف غیر مستند الی دلیل واضح)۔

- 2064 (29) وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ صَامَ يَوْمًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ جَعَلَ اللهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّارِ خَنْدَقًا كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سیدنا ابو امامه ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چه د الله په لاره کې (یا خالص د الله د رضا دپاره) یوه ورځ روژه ونیوله (نو) الله تعالیٰ ته به ددهٔ او د اُور ترمینځ (دومره لوی) خندق (کنده) وګرځوي لکه د آسمان او د زمکے ترمینځ۔ (ترمذی)

تشریح : خندق یعنی کنده، یعنی د پنځه سوه کاله مزل په اندازه به ئے الله تعالیٰ د اُور نه جدا کړي۔ او د سبیل الله نه اکثر علماء وائي چه جهاد مراد دے۔ یا د الله رضا مراد ده او طلب العلم وغیره په کې هم داخلیدے شي۔

درجة الحديث : اسناده صحیح، الترمذی (١٦٢٤) والطبرانی فی الاوسط والکبیر (٨/٢٨٠، ٢٨١) رقم (٧٩٢١) باسناد حسن (البانی) وصححه فی صحیح الترغیب والسلسلة الصحیحة (٥٦٣)

- 2065 (30) وَعَنْ عَامِرِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " اَلْغَنِيْمَةُ الْبَارِدَةُ الصَّوْمُ فِي الشِّتَاءِ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ مُرْسَلٌ

- 2066 (31) وَذُكِرَ حَدِيْثُ أَبِيْ هُرَيْرَةَ : " مَا مِنْ أَيَّامٍ أَحَبُّ إِلَى اللهِ " فِيْ بَابِ الْأُضْحِيَّةِ

ترجمه : او سیدنا عامر بن مسعود ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: یخ غنیمت په ژمی کی روژه نیول دی۔ (احمدؒ، ترمذیؒ) او امام ترمذیؒ ویلی دی چه دا حدیث مرسل دے۔ او د ابو هریره ﷺ حدیث چه (ما من ایام احب الی الله) په باب الاضحیه کی ذکر شویدے۔

تعارف : عامر بن مسعود بن امیه بن خلف الجُمحی په صحبت کی ئے اختلاف دے مصنفؒ د مشکاۃ، ابن مندهؒ او ابن عبد البرؒ په صحابه کرامؓ کی شمارلے دے او ابن معینؒ وائی دا صحابی دے۔ ابوداودؒ وائی چه ما د مصعبؒ نه آوریدلی دی چه دا صحابی دے د عبد الله بن زبیر ﷺ د طرفنه په کوفه باندے عامل او گورنر وو۔ او ابن حبانؒ په ثقات التابعین کی ذکر کړیدے او هغه وائی چه څوك ورته صحابی وائی بغیر د دلیل نه نو هغه خطاء شویدے ابوزرعهؒ، ابن السکنؒ او یعقوب بن سفیانؒ وائی چه دا صحابی نهٔ دے او دغه د ترمذیؒ په نیز هم دا تابعی دے۔ حافظ ابن حجر رحمه الله په تهذیب التهذیب کی دا فیصله کړیده چه ددهٔ والد مسعود د فتح د مکے نه لږ مخکی ایمان راوړو یا په حالت د کفر کی د فتح د مکے نه مخکی وفات شو او ددهٔ څوی عامر د فتح د مکے نه لږ مخکی پیدا شو نو پدے وجه د نبی ﷺ نه ئے سماع ثابته نهٔ ده او لیدل ئے ثابت دی نو پدے وجه دا صحابی دے په اعتبار د رؤیت سره او صحابی نهٔ دے په اعتبار د سماع سره۔

تشریح : اَلْغَنِیْمَةُ الْبَارِدَةُ : ژمی کی روژے نیولو ته ئے یخ غنیمت ووئیلو څکه چه ثواب ورته حاصل شو بغیر د ډیر کړاؤ او تکلیف نه او (الغنیمة البارده) هغه غنیمت ته وائی چه هسے راشی بغیر ددے نه چه د هغے نه مخکی د جنګ اور بل کړے شی او د جنګ تکلیف برداشت کړے شی۔ او مقصد د حدیث دا دے چه دا د الله تعالیٰ یو خاص فضل وی چه په ژمی کی روژه راولی بنده به دا نهٔ وائی چه زما اجر به کم شی پدے وجه چه ما ته په روژه کی تکلیف رانغلو نو نبی ﷺ فرمائی چه دا د الله تعالیٰ فضل دے چه د اوړی او د ژمی د روژو یو شان اجر ورکوی۔

دارنګه نفلی روژه په ژمی کی نیول غنیمت بارده دے څکه مشقت کم او اجر زیات دے۔

درجة الحدیث : الحدیث صحیح او حسن، احمد (٤/٣٣٥) والترمذی (٧٩٧) وقال هذا حدیث مرسل وحسنه الالبانی بالشاهد عن انس فی الصحیحة (١٩٢٢)

وصحيح الجامع (٣٨٦٨)

الفصل الثالث

- 2067 (32) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَدِمَ الْمَدِيْنَةَ فَوَجَدَ الْيَهُوْدَ صِيَامًا يَوْمَ عَاشُوْرَاءَ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :"مَا هٰذَا الْيَوْمُ الَّذِیْ تَصُوْمُوْنَهٗ ؟ " فَقَالُوْا :هٰذَا يَوْمٌ عَظِيْمٌ :أَنْجَى اللهُ فِيْهِ مُوْسٰى وَقَوْمَهٗ وَغَرَّقَ فِرْعَوْنَ وَقَوْمَهٗ فَصَامَهٗ مُوْسٰى شُكْرًا فَنَحْنُ نَصُوْمُهٗ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" فَنَحْنُ أَحَقُّ وَأَوْلٰى بِمُوْسٰى مِنْكُمْ " فَصَامَهٗ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَأَمَرَ بِصِيَامِهٖ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما وائی : رسول الله ﷺ (چه کله) مدینے ته راغے نو یهودیان ئے وموندل چه د عاشورے د ورځے روژه ئے نیوله نو هغوی ته ئے وفرمایل: دا کومه ورځ ده چه تاسو پکی روژه نیسئ ؟ هغوی وویل : دا یوه لویه ورځ ده، الله تعالیٰ پدے کی موسیٰ علیه السلام او د هغه قوم ته نجات ورکړیدے او فرعون او د هغه قوم ئے هلاك کړیدے نو موسیٰ علیه السلام دا روژه (د الله) د شکر دپاره نیولے وه نو مونږه ئے (هم) نیسو۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل : مونږ ستاسو نه ډیر لائق او ډیر نزدے یو موسیٰ علیه السلام ته، نو رسول الله ﷺ دا ورځ روژه ونیوله او ددے په روژه باندے ئے (صحابه کرامو ته) حکم وکړو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : مَا هٰذَا : رسول الله ﷺ ددے روژے نه خبر وو لیکن د دوی نه ئے ددے د نیولو حکمت تپوسلو نو دوی وویل چه پدے ورځ الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام او بنی اسرائیلو ته نجات ورکړے او د هغوی دشمن فرعون او د هغه قوم ئے هلاك کړے نو موسیٰ علیه السلام به دا روژه پدے وجه نیوله چه د الله تعالیٰ شکر وکړی او مونږه ئے د هغه د تابعداریٔ دپاره نیسو او دا شکریه مونږ هم ادا کوو۔ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : مونږ ستاسو نه ډیر لائق یو چه د موسیٰ علیه السلام په نجات باندے خوشحالی وکړو ځکه چه هغه هم حق نبی وو او زهٔ هم حق نبی یم او یو نبی د بل نبی ورور وی۔ نو رسول الله ﷺ خپله به هم نیوله او امت ته ئے هم ددے روژو حکم وکړو، پدے طریقه به نبی علیه السلام عمل کولو بیا په آخر وخت کی د یهودو د مخالفت دپاره ئے وویل چه که زهٔ الله تعالیٰ پاتے کړم نو کال له به نهمه روژه هم ورسره نیسم۔

دلته دا سوال نهٔ پیدا کیږی چه نبی ﷺ د یهودو په خبره څنګه تصدیق وکړو حال دا چه دینی کار کی د کافر خبرے له اعتبار نهٔ وی؟ وجه دا ده چه نبی ﷺ ته به پدے موقعه کی د هغوی د رشتینوالی وحی شوی وی یا به په تواتر سره ثابته شوی وی یا به ورته یو مسلمان صحابی لکه عبد الله بن سلامؓ خبر ورکړے وی۔

بیا **سوال** دا دے چه دا حدیث د ابن عباسؓ د حدیث د ابو موسیٰ اشعریؓ کوم چه بخاریؒ راوړیدے مخالف معلومیږی څکه چه په هغه حدیث کی دی چه د عاشورے ورځ به یهودیانو اختر ګڼړلو او په روایت د مسلم کی دی چه یهودیانو به د عاشورے ورځے تعظیم کولو نو دے نه معلومیږی چه د نبی ﷺ روژه نیول په عاشوره کی د هغوی د مخالفت د وجه نه وه او دا حدیث د ابن عباسؓ دلیل دے چه دا روژه د هغوی د موافقت دپاره وه؟ **جواب** دا دے چه د دواړو منافات نشته څکه هلته یهودیان جدا دی او دلته جدا دی، هغه یهودیانو به روژه نیوله او دے یهودیانو روژه نهٔ نیوله نو نبی ﷺ د هغوی سره موافقه وکړه څکه چه هغه ته په وحی سره معلومه شوه چه دوی دا کار حق کوی او دلته ئے پدے کی د یهودیانو مخالفت وکړو څکه چه نبی ﷺ ته ددے خلاف معلوم شو۔

(٢) حافظ ابن حجرؒ فرمائی: د حدیث د ابو موسیٰ ؓ ظاهر دا دے چه د عاشورے په روژه باندے د حکم کولو باعث د یهودیانو مخالفت کول مراد وو تردے د هغوی د اختر په ورځ دهٔ روژه ونیوله څکه چه د اختر په ورځ روژه نهٔ نیولے کیږی او حدیث د ابن عباسؓ دلالت کوی چه باعث پدے روژه باندے د هغوی موافقت کول وو په هغه سبب سره چه هغه د الله تعالیٰ شکر کول دی په نجات د موسیٰ ﷺ، سره ددے نه چه دا روژه د هغه د عادت هم موافقه وه لیکن د هغوی د تعظیم او د هغوی ددے عقیدے نه چه دا ورځ د اختر ده دا نهٔ لازمیږی چه ګڼے دوی به پکی روژه نهٔ نیوله کیدے شی چه د هغوی په شرع کی د تعظیم صورت دا هم وی چه روژه دے پکی ونیسی لکه دا صراحةً په حدیث د ابو موسیٰ ؓ کی په بخاری باب الهجرة کی راغلی دی چه هغوی به د عاشورے روژه نیوله ......الخ آه۔

حاصل دا شو چه نبی ﷺ دا روژه څکه نیوله چه د هغوی مخالفت ئے هم کولو او هغوی چه کوم سبب ذکر کړو نو په دغه سبب باندے ئے عمل هم کولو چه د الله تعالیٰ

شکر دے نو د دواړو سببونو د وجه نه ئے دا روژه نيوله۔

- 2068(33) وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ : كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَصُومُ يَوْمَ السَّبْتِ وَيَوْمَ الْأَحَدِ أَكْثَرَ مَا يَصُومُ مِنَ الْأَيَّامِ وَيَقُولُ: "إِنَّهُمَا يَوْمَا عِيدٍ لِلْمُشْرِكِينَ فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أُخَالِفَهُمْ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او ام المؤمنين ام سلمه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ به د خالي او د اتوار په ورځ د نورو ورځو په نسبت زياته روژه نيوله او فرمايل به ئے : يقيناً دا دواړه ورځے د مشرکانو د اخترونو ورځے دی نو زهٔ خوښوم چه زهٔ د هغوی مخالفت وکړم۔ (احمدؒ)

تشريح : دے روايت نه هم معلومه شوه چه نبی ﷺ د خالی په ورځ نفلی روژه نيولے ده خو د اتوار سره ئے ملګرے کړيده۔ او دا روايت دليل دے چه يهود او نصاریٰ هم مشرکان دی ځکه چه يهوديان عزير د الله تعالیٰ ځوی ګڼړی او نصاریٰ مسيح د الله ځوی ګڼړی۔ ددے نه ثابته شوه چه څوك د دين اسلام مخالف وی هغه مشرك دے۔

درجة الحديث : اسناده حسن، اخرجه احمد (٢٦٢١٠) وحسن اسناده شعيب الارنووط فی تحقيق مسند احمد وتعليق صحيح ابن حبان)،

- 2069(34) وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ : كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَأْمُرُ بِصِيَامِ يَوْمِ عَاشُوْرَاءَ وَيَحُثُّنَا عَلَيْهِ وَيَتَعَاهَدُنَا عِنْدَهُ فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ لَمْ يَأْمُرْنَا وَلَمْ يَنْهَنَا عَنْهُ وَلَمْ يَتَعَاهَدْنَا عِنْدَهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سيدنا جابر بن سمره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به (صحابه کرامو ته) د عاشورے په ورځ د روژے نيولو حکم کولو او مونږ ته به ئے پدے باندے تيزی راکوله او ددے ورځے په راتللو به ئے زمونږ خبر ګيری کوله (يعنی د عاشورے ورځ چه به کله رانزدے شوه نو ددے د روژے نيولو نصيحت به ئے کولو) نو هرکله چه د رمضان روژے فرض شوے نو مونږ ته به ئے (ددے ورځے د روژو) حکم نهٔ کولو او نهٔ به ئے ددے نه منع کولو او نهٔ به ئے ددے ورځے په راتللو زمونږ خبر ګيری کوله۔ (مسلمؒ)

تشريح : وَيَتَعَاهَدُنَا عِنْدَهُ : يعنی مونږ به ئے کتلو او زمونږ تالاش به ئے کولو چه

دوي روژه دی او کـه نهٔ، د تعاهد نه مراد پدے مقام کی تفقد او تالاش او لحاظ ساتل دی دا حـديـث دلـيـل دے چـه د عاشورے روژه په ابتداء د اسلام کی فرض وه بيا ئے فرضيت منسوخ شو او استحباب ئے باقی پاتی شو او دا مذهب د امام ابوحنيفه او يو روايت د امام احمد (رحمهما الله) نه دے او حافظ عسقلانی او حافظ ابن القيم (رحمهما الله) غوره کريدے لکه دا خبره مخکی هم ذکرشويده۔ ځينی شوافع وائی چه د اول نه فرض نهٔ وه بلکه مستحبه وه مگر دا خبره د دلائلو په لحاظ سره ضعيفه ده۔

- 2070 (35) وَعَنْ حَفْصَةَ قَالَتْ:أَرْبَعٌ لَمْ يَكُنْ يَدَعُهُنَّ النَّبِيُّ ﷺ :" صِيَامُ عَاشُوْرَاءَ وَالْعَشْرِ وَثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَرَكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ

ترجمه : او ام المؤمنين حفصه رضی الله عنها فرمائی : څلور څيزونه به نبی کريم ﷺ نهٔ پريخودل : د عاشورے روژه او د ذی الحجے د لسو ورځو روژے او د هرے مياشتے نه درے ورځے روژه او د فجر نه مخکی دوه رکعاته (يعنی د سهار سنت)۔ (نسائیؒ)

تشريح : وَالْعَشْرِ : يعنی د ذی الحجے لس ورځے به نبی ﷺ نيولے، مخکی د عائشے رضی الله عنها نه ددے ورځو نفی راغلے وه خو هغه د هغے د علم مطابق خبره وه او دلته حفصے رضی الله عنها نبی ﷺ پدے لسو ورځو کی په روژه ليدلے دے نو هغه ئے بيان کړل او مثبت مقدم وی په نافی باندے۔

وَرَكْعَتَانِ : دے نـه مـعـلـومـه شوه چه د سهار سنت به نبی ﷺ سفراً او حضراً نهٔ پريښودل نو دا مؤکد سنت دی مگر کله چه جُمعه وذريږی نو بيا به ئے نهٔ کوی روستو به ئے وکړی يا به ئے نمرخاته وخت کی وکړی كما تقدم فی باب السنن وفضائلها۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، فيه هنيدة بن خالد الخزاعی رواه النسائی (٢٤١٦) واحمد وضعفه شعيب والالبانی رحمهما الله دون قوله : وركعتان قبل الغداة فصحيح)

- 2071 (36) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَا يُفْطِرُ أَيَّامَ الْبِيْضِ فِيْ حَضَرٍ وَلَا فِيْ سَفَرٍ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه : او سيدنا ابـن عبـاس رضـی الله عـنهـمـا فرمائی: رسول الله ﷺ به په ايام البيض کی نهٔ کوجه کوله په حضر کی او نهٔ په سفر کی۔ (نسائیؒ)

تشریح : یعنی دیارلسم، څوارلسم او پنځلسم تاریخ د میاشت کی به ئے خامخا روژے نیولے او دا د نبی ﷺ عادت مبارکه وو مگر کله کله به ئے د بیاناً للجواز دپاره دا هم پریښودلے او دے ته ایام البیض ځکه وائی چه پدے شپو کی سپوږمۍ سپینه ډیره رڼا کوی۔

درجة الحديث : اسناده حسن، خرجه النسائی (۱۹۸/٤، ۱۱۹) وفی سنده یعقوب وجعفر وفیهما مقال ولکن وثقهما الاکثرون فالحق ان الحدیث لا ینزل عن درجة الحسن (المبارکفوری فی المرعاة و الالبانی) وحسنه النووی فی الریاض)

- 2072 (37) وَعَنْ أَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " لِكُلِّ شَیْءٍ زَكَاةٌ وَزَكَاةُ الْجَسَدِ الصَّوْمُ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه. ____________

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : د هر شی زکاة شته او د بدن زکاة روژه ده۔ (ابن ماجهؒ)

تشریح : لِكُلِّ شَیْءٍ : یعنی انسان له پکار دی چه د هر شی نه د الله تعالیٰ دپاره څه اندازه وباسی نو دا به د هغه شی زکاة شی او د بدن زکاة روژه ده ځکه چه په روژه سره بدن کی د الله دپاره کمے راځی نو دا نقصان او کمے داسے شو لکه چه ددے بدن نه د الله دپاره زکاة وتلے وی۔

زَكَاةٌ : یعنی د هر شی یوه صدقه وی۔

یا دا چه زکاة لغوی معنیٰ مراد ده یعنی نماء او ترقی۔ او مطلب دا دے چه د روژے په وجه په بدن کی معنوی خیر او برکت او ترقی راځی اگرکه په ظاهره کی به بدن کم شی لکه څنګه چه په زکاة ورکولو سره ظاهره کی مال کمیږی لیکن په حقیقت کی ترقی کوی، برکت په کی راځی۔ (دمیریؒ)

یا د زکاة نه طهارت مراد دے یعنی د هر شی دپاره یوه پاکی وی چه په هغے سره پاکیږی او بدن په روژه سره پاکیږی ځکه چه په روژه سره گناهونه ختمیږی او د بدن نه بوج کمیږی لکه څنګه چه په زکاة سره مال پاکیږی۔

طیبیؒ وائی : د بدن صدقه دا ده چه دا د روژے په ډهال سره د جهنم د اور نه خلاص کړی۔

درجة الحديث : اسناده ضعیف، اخرجه ابن ماجه(۱۷٤٥) وفیه موسیٰ بن عبیدة

الربذي قال البوصيري: وهو متفق على تضعيفه.

- 2073 (38) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ: كَانَ يَصُوْمُ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ وَالْخَمِيْسِ. فَقِيْلَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّكَ تَصُوْمُ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ وَالْخَمِيْسِ. فَقَالَ: "إِنَّ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ وَالْخَمِيْسِ يَغْفِرُ اللهُ فِيْهِمَا لِكُلِّ مُسْلِمٍ إِلَّا ذَا هَاجِرَيْنِ يَقُوْلُ: دَعْهُمَا حَتّٰى يَصْطَلِحَا". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه: او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: نبی کریم ﷺ به د دوشنبې او زیارت په ورځ روژه نیوله نو هغه نه تپوس وشو: یا رسول الله! ته د دوشنبې او د زیارت د ورځې روژه نیسې (ددې څه حکمت دې؟). نو هغه وفرمایل: د دوشنبې او د زیارت په ورځ پدې کې الله تعالیٰ هر مسلمان ته بخښنه کوي سوی د هغه کسانو نه چه یو بل ئې پریښې وي. (یو بل سره ئې قطع رحمي کړې وي) الله فرمائي: دا دواړه (د بخښنې نه) پریدئ تردې چه یو بل سره روغه وکړي. (احمدؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح: لِكُلِّ مُسْلِمٍ: یعنې هرکله چه الله تعالیٰ ته د پیر او د زیارت په ورځ عملونه پیش شي نو الله تعالیٰ ددې نیك اعمالو په وجه هر مسلمان ته بخښنه کوي وجه دا ده چه هر مسلمان پدې ورځو کې نیك اعمال کړي وي مونځونه، صدقې او اخلاق ئې کړي وي نو د هغې په سبب ورته بخښنه وشي مګر دوه کسان چه یو بل ئې د دنیا د معاملاتو او خفګانونو په وجه پریښودي وي، او صله رحمي ئې پریکړې وي دوی اګرکه روژه هم وي خو الله تعالیٰ ورته معافي نکوي الله تعالیٰ ملائکو ته وائي کوم چه د ګناهونو په ورانولو مقرر دي چه دا دواړه تر هغه وخته پورې پریدئ معافي ورته مهٔ کوئ تردې چه دواړه یو بل سره جوړه وکړي.

د صحیح مسلم او ابوداود او مالك او احمد په یو روایت کې داسې دي: ((د یوم الاثنین او خمیس په ورځ د جنت دروازې پرانستې کیږي نو الله تعالیٰ هر بنده ته چه د الله تعالیٰ سره ئې هیڅ قسم شرك نهٔ وي کړې بخښنه کوي مګر هغه سړې چه ددهٔ او ددهٔ د ورور ترمینځ بغض وي نو وائي چه: دې دوه کسانو ته انتظار وکړئ تردې چه دوی جوړه وکړي درې کرته دا خبره کوي)). دا حدیث به د مشکاة په باب السلام کې راشي ان شاء الله تعالیٰ.

دا خبره دے یاده وی چه دلته د یو بل سره ورانه کونکو نه مراد هغه کسان دی چه د دین د وجه نه ئے یو بل سره نهٔ وی ورانه بلکه د دنیاوی لین دین په وجه ئے یو بل سره بغض او کینه وی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح لغيره : رواه احمد (٢/٣٢٩) وابن ماجه (١٧٤٠) قال في الزوائد : اسناده صحيح غريب وله شاهد من حديث اسامة بن زيد رواه ابوداود والنسائی)

- 2074 (39) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " مَنْ صَامَ يَوْمًا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ بَعَّدَهُ اللهُ مِنْ جَهَنَّمَ كَبُعْدِ غُرَابٍ طَائِرٍ وَهُوَ فَرْخٌ حَتّٰى مَاتَ هَرِمًا ". رَوَاهُ أَحْمَدُ. - 2075 (40) وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيْمَانِ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ قَيْسٍ.

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه د الله د مخ د طلب کولو دپاره یوه ورځ روژه ونیوله (نو) الله تعالیٰ به دهٔ لره د جهنم نه دومره لرے وساتی لکه یو کارغه چه په بچپن (وړوکوالی) کی والوزی تردے چه د بوډاوالی نه مړ شی۔ (احمدؒ) او امام بیهقیؒ دا روایت په شعب الایمان کی د سلمه بن قیس نه راوړیدے۔

تشريح : یعنی یو کارغه چه اوس د اندے نه رابهر شی او الوتل شروع کړی، روان وی روان وی تردے چه بوډا شی او د بوډا والی په وجه مړ شی نو دا به د دنیا کوم سر ته رسیدلے وی نو دغه شان به دغه بنده چه د الله د رضا او د هغه د مخ دپاره ئے روژه نیولی وی نو الله تعالیٰ به ئے د اُور نه دغه شان وراندی کړی۔

طَائِرٍ : دا صفت د غراب دے یعنی داسے کارغهٔ چه الوتلے وی۔

فَرْخٌ : یعنی وړوکے بچے چه اوس د اندے نه رابهر شوے وی۔ کارغه په ډیر عمر باندے مشهور دے۔ ځینی وائی : د کارغه زر کاله عمر وی (مرقات)۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، رواه احمد (١٠٤٢٧) والبيهقي في الشعب (٣٥٩٠) وفي اسناده زبان بن فائد والراوی عنه ابن لهيعة وهما ضعيفان الضعيفة (١٣٣٠).



۷ - باب (فی الإفطار من التطوع)

د نفلی روژو ماتولو بیان۔

په بعضو نسخو کی صرف (باب) لفظ دے۔ مطلب به دا وی چه پدے باب کی د مخکنو بابونو سره متعلق د متفرقو مسائلو بیان کیږی۔ او یوه نسخه کی (بَابٌ فِيْ تَوَابِعَ لِصَوْمِ التَّطَوُّعِ) الفاظ دی۔ یعنی د نفلی روژو متعلق مسائل۔ چه هغه قضاء راوړل د نفلی روژو ده۔

په اول جلد ددے کتاب کی مونږ وئیلی وو چه (لزم النفل بالشروع) قاعده صحیح ده او که نهٔ؟۔ د احنافو په نیز که نفلی روژه کی شروع وشوه او بیا ئے ماته کړه نو قضاء راوړل ئے واجب دی او جمهور علماء وائی چه قضاء راوړل واجب نهٔ دی بلکه مستحب دی او که قضاء رانهٔ وړی نو هیڅ پرے نشته۔

امام مالك رحمه الله پکی وئیلی دی چه که د عذر په وجه ئے ماته کړی وی نو قضاء نشته او که عذر نهٔ وی نو قضاء به راوړی۔ پدے باب کی به هغه حدیثونه راوړی چه د نفلی روژے ماتول جائز دی او احادیثو کی ورسره قضاء راګرزول نهٔ دی ذکر شوی او که په کومو حدیثونو کی ذکر دی نو هغه هم د استحباب په درجه کی دی۔

الفصل الأول

- 2076 (1) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ ﷺ ذَاتَ يَوْمٍ فَقَالَ: " هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ ؟ " فَقُلْنَا: لَا قَالَ : " فَإِنِّيْ إِذًا صَائِمٌ ". ثُمَّ أَتَانَا يَوْمًا آخَرَ فَقُلْنَا: يَا رَسُوْلَ اللهِ أُهْدِيَ لَنَا حَيْسٌ فَقَالَ : " أَرِيْنِيْهِ فَلَقَدْ أَصْبَحْتُ صَائِمًا " فَأَكَلَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی : ما ته نبی کریم ﷺ یوه ورځ تشریف راوړو نو وے فرمایل: آیا تاسو سره څه شے شته ؟ نو مونږ وویل: نهٔ، هغه وفرمایل : بس زهٔ اُوس روژه شوم۔ بیا ئے مونږ ته په بله ورځ تشریف راوړو نو مونږ ورته وویل : یارسول الله ! مونږ ته حلواء هدیه شویده۔ نو هغه وفرمایل: ما ته ئے

راوبنایه څکه چه زهٔ د سهر نه روژه یم، نو بیا ئے د هغے نه خوراك وکړو۔ (مسلمؒ)

تشریح : ددے روایت نه دا خبره ښکاره ثابته شوه چه په نفلی روژه کی فراخی ده د شپے نه نیت کول ورله ضروری نهٔ دی بلکه په ورځ کی هم ورله نیت کولے شی۔

او دا هم ثابته شوه چه کله انسان اراده د روژے کړی وی یا فی الحال روژه شوے وی بیا ئے په غیر د عذر نه هم ماته کړی نوماتول ورله جائز دی او قضائی پکی نهٔ ده ذکر لکه دا خبره روستو څلورم حدیث کی هم راځی چه نفلی روژه دار د خپل ځان امیر دے که روژه نیسی، سرته ئے رسوی او که ماته وی ئے۔ او قضائی ئے پکی نهٔ ده وئیلے او دا مقام د بیان دے۔

حَیْسٌ : دا یو قسم حلواء ده چه کجورے د غوړو او پنیر سره یو ځای کړی او حلواء ترے پخه کړی۔ ځینی علماء وائی : دا یو طعام دے چه د کوچو، کجورو او پنیر نه به جوړیدو او کله به د پنیر په ځای پکی اوړهٔ اچول کیدل او د کوچو په ځای غوړی۔

- 2077 (2) وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: دَخَلَ النَّبِيُّ ﷺ عَلٰى أُمِّ سُلَيْمٍ فَأَتَتْهُ بِتَمْرٍ وَسَمْنٍ فَقَالَ : "أَعِيْدُوْا سَمْنَكُمْ فِيْ سِقَائِهِ وَتَمْرَكُمْ فِيْ وِعَائِهِ فَإِنِّيْ صَائِمٌ" . ثُمَّ قَامَ إِلٰى نَاحِيَةٍ مِنَ الْبَيْتِ فَصَلّٰى غَيْرَ الْمَكْتُوْبَةِ فَدَعَا لِأُمِّ سُلَيْمٍ وَأَهْلِ بَيْتِهَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او سیدنا انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی : نبی کریم ﷺ (یوه ورځ) (زما مور) ام سلیمؓ کره ورغلو نو هغے ورته (مخے ته) کجورے او غوړی راوړل۔ نو وے فرمایل: خپل غوړی مو خپل مشك ته او کجورے مو خپل لوښی ته واپس کړئ څکه چه زهٔ روژه یم۔ بیا د کوټے یو طرف ته پاځیدو او د فرض نه علاوه (نفلی) مونځ ئے وکړو بیا ئے د ام سلیم او د هغے د کور والو دپاره (د الله نه) دعا وغوښتله۔ (بخاریؒ)

تشریح : ثُمَّ قَامَ : دا د ختم طریقه ده چه یو تن کورته راوبلی په هغه باندے خوراك وکړی بیا هغه پاځیږی مونځ وکړی نو په مانځه سره په دغه کور یا دکان کی برکت راشی او بیا دغه کور والو ته دعا وکړی، دا مسنون طریقه ده۔ او ددے حدیث نه دا فائده معلومه شوه چه کله تا سره څوك احسان وکړی خوراك څکاك درله درکړی نو تا له پکار دی چه تهٔ هم ورسره احسان وکړے که بل څه نهٔ وی نو د هغه په کور کی مونځ وکړه او دعا ورته وکړه پدے سره د هغه د احسان بدله خلاصیږی۔

۳- دا رنګه معلومه شوه چه د نفلي روژه دار اختيار دے که روژه نۀ ماتوی هم جائز ده او روژه ماتول څه لازم نۀ دی۔ مګر که يو تن د چا کور ته لاړ شي ميلمه شي او کور والا خوراك راويستلو او ددۀ دپاره ئے تکلف کړے وو او هغوی ددے ميلمه په روژه باندے خفه کيدل نو بيا روژه ماتول بهتر دی؛ قضائي ئے راوړی او که نۀ، دليل پرے قصه د سلمان او د ابودرداء رضي الله عنهما ده چه سلمانؓ د ابودرداءؓ کور ته ورغلو نو سلمان په ابودرداء رضی الله عنه باندے روژه ماته کړے وه او ابودرداءؓ شکايت وکړو نبی ﷺ ورته وفرمايل : سلمان رشتيا وئيلی دی۔ (صحيح البخاري :۱۸۶۷)

- 2078 (3) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلٰى طَعَامٍ وَهُوَ صَائِمٌ فَلْيَقُلْ : إِنِّيْ صَائِمٌ". وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ : " إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ فَلْيُجِبْ فَإِنْ كَانَ صَائِمًا فَلْيُصَلِّ وَإِنْ كَانَ مُفْطِرًا فَلْيَطْعَمْ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چه په تاسو کی يو تن يو خوراك ته راوبللے شي او هغه روژه وی نو داسے دے ووائي : زۀ روژه يم۔ او په يو روايت کی دی : کله چه يو ستاسو ته دعوت ورکړے شي نو هغه دے دعوت قبول کړی نو که روژه وی نو (کور والا ته دے) دعا وکړی (يا دے هلته مونځ وکړی) او که کوجه وی نو خوراك دے وکړی۔ (مسلمؒ)

تشريح : إِنِّيْ صَائِمٌ : يعني کله چه يو تن ته د خوراك دعوت ورکړے شو او دا تن غواړی چه روژه ماته نۀ کړی نو کور والا ته دے په طريقه د عذر دا خبره وکړی چه زۀ روژه يم يعني خپله روژه دے ورته ښکاره کړی دے دپاره چه هغه خفه نشي او که هغه خفه کيدو نو بيا به ورسره روژه ماتوی البته په فرضي او نذري روژه کی ماتول صحيح نۀ دی۔

فَلْيُصَلِّ : دلته د صلاة نه مراد يا مونځ کول دی۔ يا لغوی معنیٰ مراد ده يعني دعا دے وکړی لکه دا په حديث د ابن مسعود ﷺ کی طبرانیؒ راوړيدی چه طعام والا ته دے د برکت دعا وکړی۔ نافعؒ فرمائي: عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ته به چه کله دعوت ورکړے شو نو هغه به دعوت قبول کړو که کوجه به وو خوراك به ئے وکړو او که روژه به وو نو کور والا ته به ئے دعا وکړه او مبارکی به ئے ورته ووئيله بيا به راواپس شو۔ (مسند

ابی عوانة : ٤١٨٤)

او ابی بن کعب ﷺ چه به کله ولیمی ته دعوت کړے شو که روژه به وو، د طعام والا صفت به ئے وکړو او دعاء به ئے ورته وکړه۔

دا حدیث دلیل دے چه د نفلی عبادت لکه مونځ روژه وغیره ښکاره کول جائز دی کله چه ورته ضرورت راشي او مستحب دا ده چه پټ ئے وساتي کله چه ضرورت نهٔ وي دے دپاره چه د ریاء او د عمل د بربادیدو نه محفوظ شي۔

او پدے حدیث کې دا سبق هم پروت دے چه مسلمان له پکار دي چه د نورو مسلمانانو سره ښائسته ژوند تیر کړي او خپل مینځ کې اصلاح ساتي او د یو بل د زړهٔ خیال وساتي او کله چه عذر موجود وي هغوی ته په ښائسته طریقے سره عذر پیش کړي چه هغوی خفه نشي، پدے سره به شیطان مینځ ته نهٔ راځي او د مسلمانانو وحدت ته به نقصان نهٔ رسي۔

الفصل الثانی

- 2079 (4) عَنْ أُمِّ هَانِئٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ الْفَتْحِ فَتْحِ مَكَّةَ جَاءَتْ فَاطِمَةُ فَجَلَسَتْ عَلٰى يَسَارِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ وَأُمُّ هَانِئٍ عَنْ يَمِيْنِهٖ فَجَاءَتِ الْوَلِيْدَةُ بِإِنَاءٍ فِيْهِ شَرَابٌ فَنَاوَلَتْهُ فَشَرِبَ مِنْهُ ثُمَّ نَاوَلَهٗ أُمَّ هَانِئٍ فَشَرِبَتْ مِنْهُ فَقَالَتْ :يَا رَسُوْلَ اللهِ لَقَدْ أَفْطَرْتُ وَكُنْتُ صَائِمَةً فَقَالَ لَهَا : " أَكُنْتِ تَقْضِيْنَ شَيْئًا ؟" قَالَتْ:لَا. قَالَ :" فَلَا يَضُرُّكِ إِنْ كَانَ تَطَوُّعًا ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَفِيْ رِوَايَةٍ لِأَحْمَدَ وَالتِّرْمِذِيِّ نَحْوَهٗ وَفِيْهِ فَقَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللهِ أَمَا إِنِّيْ كُنْتُ صَائِمَةً فَقَالَ : " اَلصَّائِمُ أَمِيْرُ نَفْسِهٖ إِنْ شَاءَ صَامَ وَإِنْ شَاءَ أَفْطَرَ "

ترجمه : او ام هانیء رضی الله عنها فرمائی : هرکله چه د فتح د مکے ورځ شوه نو فاطمه راغله او د رسول الله ﷺ کس (چپ) طرفته کیناسته او ام هانئ د هغه ښي طرفته۔ پدے کې وینځے یو لوښے راوړو چه په هغے کې شربت وو نو هغے نبی کریم ﷺ ته ورکړو او نبی کریم ﷺ د هغے نه څکل وکړل بیا ئے هغه ام هانئ ته ورکړو نو هغے (هم) ترے وڅکل نو هغے وویل : یا رسول الله ! ما خو روژه ماته کړه او حال دا چه زهٔ روژه ووم نو نبی کریم ﷺ هغے ته وفرمایل: آیا تا کومه قضائی روژه راګرځوله ؟

هغې ووېل : نه، وې فرمايل: نو تا ته هيڅ ضرر نشته چه که دا روژه نفلي وي۔ (يعنى ماتول او قضاء نه راوړل دواړه جائز دي) (ابوداودؒ، ترمذيؒ، دارميؒ) او په روايت د احمدؒ او ترمذيؒ كي ددې په شان روايت دې او په هغې كي دا الفاظ دي : نو ام هانىء ووېل : اې د الله رسوله ! خبر شئ زه خو روژه وم۔ نو نبى كريم ﷺ وفرمايل: ((نفلى) روژه دار د خپل ځان امير دې كه خوښه ئې وي روژه دې پوره كړي او كه خوښه ئې وي ماته دې كړي))۔

تشريح : "أَكُنْتِ تَقْضِيْنَ : يعنى تا څه قضائى روژه راګرزوله ؟ هغې ووېل نه، وې فرمايل چه په نفلي روژه ماتولو كي هيڅ نقصان نشته او د قضائى حكم دلته هم نه دې شوې او دا مقام د بيان دې۔

او د كُنْتِ تَقْضِيْنَ : معنىٰ دا ده چه كه تا د كومې فرضى روژې قضاء راګرزوله او بيا دې پدې پيوو سره هغه روژه ماته كړه نو ددې په بدل كي قضاء راوړه ځكه چه د فرضى روژې قضاء راوړل لازم دي۔ او هرچه نفلي روژه ده نو د هغې قضاء راوړل لازم نه دي نو هركله چه ام هانئ ووېل : كومه قضائى روژه نه وه۔ نو نبى ﷺ ورته ووېل : (لايضرك اذا كان صومك تطوعا) تا ته هيڅ ضرر نشته كه دا روژه ستا نفلي وه، يعنى قضائى راوړو ته ئې حاجت نشته۔ (شرح سنن ابى داود لعبد المحسن العباد)

رسول الله ﷺ پدې مقام كي د ښى طرف لحاظ ساتلې دې چه ام هانئ ته ئې پئ وركړيدى۔ او دا سنت عمل دې (الايمن فالايمن) چه د ښى طرف لحاظ به ساتلې شي۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، اخرجه ابوداود (۲۴۵۶) والترمذى (۷۳۱) والدارمى (۲/۱۶) وقال العراقى فى تخريج الاحياء (۲/۲۳۱) (اسناده حسن) لكن ذكر (الفتح) فيه منكر لان الفتح كان فى رمضان فكيف يتصور قضاء رمضان فى رمضان؟ قاله ابن التركمانى والعسقلانى) وفى سنده يزيد بن ابى زياد حسن الحديث فى الشواهد والمتابعات بل قد يحسن اسناده بعضهم كما قال العراقى۔ وقال الالبانى نعم هو حسن بل صحيح بماله من طريق يأتى ذكرها ان شاء الله انتهىٰ (صحيح ابى داود (۲۱۲۰) ورواه الدارقطنى وليس فيه يزيد وانما فيه سماك بن حرب وفيه مقال وثقه ابن معين وابوحاتم وقال العجلى : جائز الحديث، وقال النسائى وليس به بأس وفى حديثه شيء، وقال ابن عدى احاديثه حسان وهو صدوق لابأس به وقال الحافظ : صدوق (تقريب) وسماك من

رجال مسلم وثقه (۲۵) عالماً کما فی محلة الحدیث)

2080 (5) - وَعَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كُنْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ صَائِمَتَيْنِ فَعُرِضَ لَنَا طَعَامٌ اشْتَهَيْنَاهُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ فَقَالَتْ حَفْصَةُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا كُنَّا صَائِمَتَيْنِ فَعُرِضَ لَنَا طَعَامٌ اشْتَهَيْنَاهُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ. قَالَ: " اقْضِيَا يَوْمًا آخَرَ مَكَانَهُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَذَكَرَ جَمَاعَةً مِنَ الْحُفَّاظِ رَوَوْا عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَائِشَةَ مُرْسَلًا وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ عُرْوَةَ وَهَذَا أَصَحُّ وَرَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ عَنْ زُمَيْلٍ مَوْلَى عُرْوَةَ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ.

ترجمه : او زهریؒ د عروةؒ او هغه د عائشې رضی الله عنها نه نقل کوی چه زهٔ او حفصه روژه وو، نو مونږ ته طعام راوړې شو چه سونږ د هغې شوق کولو نو مونږ د هغې نه خوراك وکړو نو حفصې رضی الله عنها وویل: اې د الله رسوله! مونږ دواړه روژه وو نو مونږ ته طعام راوړې شو چه زمونږ ورته شوق وو نو مونږ د هغې نه خوراك وکړو. نبی کریم ﷺ وفرمایل: ددې په ځای په بله ورځ قضائی راوړئ. (ترمذیؒ) او امام ترمذیؒ د حفاظو یو جماعت ذکر کړیدې چه هغوی دا روایت د زهریؒ نه هغه د عائشې نه په طریقه د ارسال نقل کړیدې او هغه حفاظو پدې کې د عروةؒ واسطه نهٔ ده ذکر کړې او همدا زیاته صحیح ده او امام ابوداودؒ دا روایت د زُمیل نه نقل کړیدې چه هغه د عروةؒ آزاد کړده غلام دې هغه د عروةؒ نه هغه د عائشې نه روایت کړیدې.

تشریح : دا روایت د هغه علماؤ دلیل دې چه وائی نفلی روژه که څوك ماته کړی نو قضائی به راوړی. لیکن پدې حدیث کې دا خبره نشته چه قضاء راوړل لازم او واجب دی ځکه چه دا قانون دې چه یو شې په بدل د بل شی کې راشی نو د خپل اصل په ځای قائمیږی او دا روژه نفلی وه نو ددې قضائی به هم نفلی وی نو دا دلیل د وجوب نهٔ دې. دویم دا چه دا روایت ضعیف دې او د صحیح روایتونو مقابله نشی کولې چه په هغې کې د قضائی راګرزولو خبره نشته لکه مخکې حدیث د ام هانئ تیر شو.

درجة الحدیث : اسناده ضعیف، اخرجه الترمذی (۷۳۵) والنسائی وابوداود (۲۴۵۷) والبیهقی (۲۸۰/۴) من روایة جعفر بن برقان عن الزهری عن عروة عن عائشة متصلاً وذکر الترمذی ان جماعة من الحفاظ رووا عن الزهری عن عائشة مرسلاً آه ای

منقطعاً لان الزهری لم یدرك عائشة فالمرسل فی قول الترمذی بمعنی المنقطع وقال الترمذی فی العلل : سألت البخاری عن هذا الحدیث فقال : لا یصح حدیث الزهری عن عروة عن عائشة فی هذا، وللحدیث شواهد من حدیث ابن عباس عند النسائی والطبرانی وفیه خصیف وهو صدوق سیء الحفظ خلط بآخره، قال النسائی وابن عبد البر : هذا الحدیث منکر، ورواه ابوداود والنسائی والبیهقی من حدیث یزید بن الهاد عن زمیل بن عباس المدنی الاسدی قال احمد لا ادری من هو، وقال الحافظ فی التقریب محهول)م

- 2081 (6) وَعَنْ أُمِّ عُمَارَةَ بِنْتِ كَعْبٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ دَخَلَ عَلَيْهَا فَدَعَتْ لَهُ بِطَعَامٍ فَقَالَ لَهَا : "كُلِيْ". فَقَالَتْ : إِنِّي صَائِمَةٌ. فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : " إِنَّ الصَّائِمَ إِذَا أُكِلَ عِنْدَهُ صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ حَتّٰى يَفْرُغُوا". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او د ام عماره بنت کعب رضی الله عنها نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ هغے کره ورغلو نو هغے د هغه دپاره طعام راوغوښتو نو نبی کریم ﷺ هغے ته وفرمایل : ته (هم) وخوره۔ هغے ووېل : زهٔ روژه یم، نو نبی کریم ﷺ وفرمایل : د روژه دار په خوا کی چه کله خوراك کیږی نو ملائك هغه ته دعا کوی (او بخنه ورله غواړی) تر هغه پورے چه خلك د خوراك نه فارغه شی۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تعارف : ام عمارة (نُسَیْبَه) بنت کعب بن عمرو انصاریه نجاریه صحابیه ده په اسم کنیه مشهوره ده او دا د عبد الله بن زید بن عاصم المازنی مور ده۔ مشهوره صحابیه ده جنگ احد ته د خپل خوی او خاوند زید بن عاصم سره حاضره شویده او بیعة الرضوان او جنگ یمامه کی هم حاضره شوه او په هغے کی ئے لاس پریکړے شو۔ او پدے جنگ کی پرے دولس زخمونه د نیزو او د تورو لګیدلی وو او په جنگ احد کی ئے یو لوی شهسوار مشرك هم قتل کړیدے۔

تشریح : یعنی اُمِ عمارے د نبی علیه السلام دپاره طعام راوغوښتو او هغه ته ئے ورنزدے کړو، نبی علیه السلام هغے ته هم ست (کښېنه) وکړو هغے ووېل چه زهٔ روژه یم، نبی ﷺ ورته وفرمایل کله چه د روژه دار په خوا کی په ورځ کی خوراك کیږی نو ملائك تر هغه وخته پورے ددهٔ دپاره بخنه غواړی چه ترڅو هغه فارغه شی څکه چه

دِ طعام حاضريدو سره د روژه دار خوراك ته شوق راپورته شي نو هركله چه دهٔ خپل شهوت او خپل نفس كنترول كړو د الله د رضا دپاره نو اجرئے زياتيږي او ملائك ورله بخنه غواړي، نو پدے كي ترغيب دے چه روژه دارو له پكار دي چه د هغوی په خوا كي كوجه خلك خوراك وكړي دے دپاره چه ملائك ورله بخنه وغواړي.

درجة الحديث : اسناده ضعيف والحديث صحيح: اخرجه احمد والترمذی وابن ماجه والدارمی وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح وقال الالبانی : وكأنه لم يرجع الى روايته فإن فيها ليلیٰ مجهولة اوردها الذهبی في فصل النسوة المجهولات وقال الحافظ مقبولة ای عند المتابعة وما عرفت لها متابعاً بل من الممكن ان يقال: انها قد خولفت فرواه ابوايوب عن عبد الله بن عمرو موقوفاً مختصرا بلفظ : (الصائم اذا اكل عنده صلت عليه الملائكة)، اخرجه ابن ابی شيبة وعبد الرزاق وابن المبارك من طريق قتادة وهذا اسناد صحيح على شرط الشيخين وهو موقوف في حكم المرفوع ويشهد له دعاء الضيف (افطر عندكم الصائمون وصلت عليكم الملائكة) فالحديث صحيح ولذا قال حسين سليم اسد في تعليق الدارمی اسناده جيد)،

الفصل الثالث

- 2082 (7) عَنْ بُرَيْدَةَ ﷺ قَالَ: دَخَلَ بِلَالٌ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ وَهُوَ يَتَغَدّٰى فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" اَلْغَدَاءَ يَا بِلَالُ ! ". قَالَ: إِنِّي صَائِمٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : "نَاْكُلُ رِزْقَنَا وَفَضْلُ رِزْقِ بِلَالٍ فِي الْجَنَّةِ أَشَعَرْتَ يَا بِلَالُ اِنَّ الصَّائِمَ تُسَبِّحُ عِظَامُهٗ وَتَسْتَغْفِرُ لَهُ الْمَلَائِكَةُ مَا اُكِلَ عِنْدَهٗ ؟. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او سيدنا بريده ﷺ فرمائي: بلال (ﷺ) رسول الله ﷺ ته ورغلو پداسے حال كي چه هغه خوراك كولو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اے بلاله! ناشته تياره ده. (راشه وخوره) بلال وويل : يا رسول الله! زهٔ روژه يم نو رسول الله ﷺ وفرمايل : مونږ خپل رزق (اوس) خورو او د بلال بهترين رزق په جنت كي دے. اے بلال ! آيا تهٔ پوهيږے چه د روژه دار هدوكی تسبيحات وائي او ملائك د هغه دپاره بخنه غواړي ترڅو پورے چه د هغه په خوا كي خوراك خوړلے شي. (بيهقیؒ شعب الايمان)

تشريح : "اَلْغَدَاءَ : دا منصوب دے په فعل مقدر سره يعنی اُحْضُرِ الْغَدَاءَ . حاضر شه ناشتے ته. يا اِئْتِ الْغَدَاءَ . ناشتے ته راشه. غداء سهار وخت كي خوراك كولو ته

وائی۔

وَفَضْلُ رِزْقٍ : هر انسان په دنیا کی خپل رزق پوره کوی لیکن په جنت کی ورته زیاتی رزق ملاویږی ځکه ئے زیاتی رزق ذکر کړو۔ یا دا چه د جنت رزق د دنیا د رزق په بدله کی ډیر زیات دے چه هغه به د روژے په بدله کی ملاویږی۔ یا فضل په معنیٰ د بهترین سره دے لکه په ترجمه کی ذکر شو۔

اَشْعَرْتَ : دا اُوس نبی ﷺ بلال ته د هغه په روژه باندے نور فضیلت بیانوی چه د روژه دار هډوکی تسبیحات وائی کله چه د هغه په خوا کی خوراك کیږی او الله تعالیٰ به دده په عمل نامه کی ددے تسبیحاتو اجر لیکی۔

مَا اُكِلَ عِنْدَهٗ ؟ : یعنی مَادَامَ یُؤْكَلُ عِنْدَ الصَّائِمِ ۔ ترڅو پورے چه د روژه دار په خوا کی خوراك خوړلے شی۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف جداً، رواه البيهقی فی شعب الايمان وابن ماجه وقال الالبانی حديث موضوع، فی سنده محمد بن عبد الرحمن مجهول ومتفق على تضعيفه وبقية مدلس والحديث يؤيده حديث ام عمارة السابق (المرعاة)



۸- باب لیلة القدر

د لیلة القدر بیان۔

د لیلة القدر دوه معانی دی (۱) شپه د عزت، دا ورته ځکه وائی چه په دے کی قرآن کریم نازل شویدے او دا د زرو شپو نه غوره ده، او په دے کی ملائك راکوزیږی او په دے کی برکتونه، رحمتونه نازلیږی او مؤمنانو ته بخنه کیږی۔ (۲) شپه د اندازے او د تقدیر چه الله تعالیٰ پکی د ملائکو په واسطه د یو کال د څیزونو اندازه کوی او د ملائکو په کتابونو کی ئے لیکی۔ یا څوك چه دا شپه په عبادت ژوندئ کړی نو الله تعالیٰ ورته ډیر اندازه اجر او ثواب ورکوی، یا په دے کی د طاعات او عباداتو زیاتی اندازه ثواب ملاویږی۔

آیا لیلة القدر ددے امت خصوصیت دے که د پخوانو هم وه؟

(۱) جمهور وائی چه دا ددے امت خصوصیت دے او د پخوانو دپاره نۀ وه، حافظ وائی دا قول ابن حبیبؒ او باجیؒ او ابن عبد البرؒ هم ذکر کړیدے او صاحب العدة د جمهورو نه نقل کړیدے او دیته ئے غوره قول وئیلے دے، نوویؒ وائی چه همدا صحیح او مشهوره خبره ده د شوافعو په نیز هم۔ دوی دلیل دا وائی چه موطأ کی امام مالك په طریقه د بلاغ سره ذکر کړیدی چه رسول الله ﷺ ته د پخوانو امتونو عمرونه وخودلے شو نو هغه د خپل امت عمرونه د هغوی په مقابله کی کم وګنړل او دا ارمان ئے وکړو چه زما امت به د پخوانو امتونو عملونو ته ونۀ رسیږی کوم چه په ډیر عمر سره حاصلیږی نو الله تعالیٰ نبی علیه السلام ته لیلة القدر ورکړه چه دا د زرو میاشتو نه غوره ده۔ ابن عبد البرؒ وائی چه دا د مالك د هغه څلورو احادیثو نه یو حدیث دے چه نۀ مسند نقل دے او نۀ مرسل لیکن هیڅ شرعی اصل ئے مخالفت نۀ کوی او نۀ په دے کی څه منکر حدیث شته، انتهیٰ۔ او ددے په شان نور مرسل روایات عینیؒ په عمدة القاری (۱۱/۱۲۹، ۱۳۰) کی او سیوطیؒ په الدر المنثور او قسطلانیؒ ذکر کړیدی۔

(۲) دویم قول دا دے چه دا پخوانو امتونو ته هم ورکړے شویده او دا قول حافظ ابن

حجرؒ او حافظ ابن کثیرؒ په خپل تفسیر (٥٣٢/٤) کي غوره کړیدے۔

دلیل پدے حدیث د ابوذر ﷺ دے، فرمائی: ما وویل اے د الله رسوله ! ما ته د لیلة القدر په باره کي خبر راکړه چه دا په رمضان کي ده او که په بله میاشت کي ؟ نبی ﷺ وفرمایل دا په رمضان کي ده، ما وویل : دا پخوانو انبیاؤ سره وه کله چه هغوی ژوندی وو او کله چه هغوی وفات شو دا شپه پورته کړے شوه او که نهٔ دا به تر قیامته پورے وی ؟، نبی ﷺ وفرمایل: بلکه دا به تر قیامته پورے وی۔ ما وویل : د رمضان په کومو ورځو کي ده ؟ وے فرمایل: دا په اولنو لسو یا په آخرنو لسو کي طلب کړئ، بیا نبی ﷺ حدیثونه بیانول بیانول تردے چه زهٔ غافل شوم نو ما وویل: په کومو شلو کي ده ؟ وے فرمایل: دا په آخری لسو کي طلب کړئ او ددے په باره کي ما نه ددے نه روستو تپوس مهٔ کوئ الی آخر الحدیث۔ (احمد٥/١٧١) وابن حبان والبزار والنسائی فی الکبری وابن ابی شیبة) وقال البوصیری فی اتحاف الخیرة المهرة بزوائد المسانید العشرة وحدیث ابی ذر هذا حدیث حسن) وضعفه شعیب الارنووط و الالبانی فی الضعیفة (١٠٠/٧) رقم (٣١٠٠) فی سنده مرثد بن عبد الله الزمانی مجهول)۔

ابن کثیر رحمه الله فرمائی: دا روایت نسائیؒ د فلاس عن یحیی بن سعید القطانؒ نه نقل کړیدے۔ نو دا حدیث د مخکنی حدیث د مالك نه ډیر صحیح دے سره ددے نه چه په هغه روایت کي د تاویل احتمال هم شته۔ او ددے تائید دا آیت هم کوی ﴿ إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾ ۔ قرآن مونږ په شپه د قدر کي نازل کړیدے معلومیږی چه د قرآن نه مخکي هم لیلة القدر وه۔ (دروس رمضان لسلمان عودة ص : ٩٢)۔

۲- مسئله : لیلة القدر په رمضان کي ده او که په غیر رمضان کي؟۔ پدے باره کي حافظ ابن حجرؒ شپږ څلویښت قوله ذکر کړیدی مګر بعض مونږ ذکر کوو۔

(۱) حافظ ابن حجرؒ وائی مشهور قول د احنافو چه قاضی خان او ابوبکر الرازیؒ نقل کړیدے دا دے چه دا په ټول کال کي ده او ددے په شان قول د ابن مسعود، ابن عباس او عکرمه وغیره رضی الله عنهم نه نقل شویدے او مهلبؒ دا قول ضعیف ګڼرلے دے۔ په صحیح مسلم کي د ابی بن کعبؓ نه د ابن مسعودؓ د قول وجه دا نقل شویده چه ابن مسعودؓ دا غوښتل چه خلك عبادت کي سستی ونکړی، عبد الله بن عباس رضی الله عنهما به فرمایل: (يَرْحَمُ اللهُ أَبَا عَبْدِ الرَّحْمنِ لَقَدْ عَلِمَ أَنَّهُ فِيْ رَمَضَانَ) ابوعبد الرحمن

باندے دے الله رحم وكړى هغه ته بنه معلومه وه چه ليلة القدر په رمضان كى ده ليكن هغه دا غوښتل چه خلك د ليلة القدر په طمع په ټول كال كى عبادت وكړى۔

علامه شوكانى رحمه الله فرمائى : كوم علماء چه دا په ټول كال كى ګڼرى نو دا قول د هغوى په صحيح او صريح احاديثو سره مردود دے،آه۔ كيدے شى امام ابوحنيفه رحمه الله ته دغه روايات نهٔ وى رسيدلى۔

(٢) د عبد الله بن عمر ﷺ نه ابن ابى شيبهؒ په صحيح سند سره نقل كړيدى چه دا په ټول رمضان كى ده، او دا يو روايت د امام ابوحنيفةؒ هم دے او دا قول د ابن المنذرؒ، د محاملىؒ او د بعض شوافعو دے او سبكىؒ په شرح المنهاج كى غوره كړيدے او دا د حنابلو د كلام نه هم معلوميږى كما فى المغنى لابن قدامه (١٧٩/٣) مگر د امام احمدؒ نه نقل دى چه دا په آخرى عشره كى ده۔

(٣) مگر ډير غوره قول دا دے كوم چه د احاديثو نه معلوم دے چه دا په رمضان كى په آخرى عشره كى ده۔

لكه د مخكنى روايت د ابوذرؓ نه دا هم ثابته شوه چه ليلة القدر د رمضان په آخرى لسو شپو كى ده، او بيا په جفت او تاك دواړو كى راتلے شى ليكن په تاك شپو كى زياته راځى، حافظ ابن حجرؒ وائى: د شوافعو په نيز ډيره د اميد شپه يويشتمه او در ويشتمه ده او د جمهورو په نيز اوه ويشتمه ده،آه۔ مگر صحيح دا ده چه دا پدے لسو كى بدليږى رابدليږى۔ لكه ددے دپاره روايات په مرعاة المفاتيح (١٢٠/٧) او فتاوى الدين الخالص (٣٦٧/٨) كى تفصيلاً وګورئ۔

ابن حزمؒ ليكى : په حديث كى دى چه دا د رمضان په آخرى لسو كى ده نو كه مياشت د نهه ويشتو وى نو د آخرى عشرے اولنۍ شپه يقيناً شلمه شپه ده، بيا دوه ويشتمه، بيا څليرشتمه الخ۔ نو دا به بيا په جفت شپو كى راځى ځكه چه د آخرى عشرے تاك شپے همدغه دى۔ اوكه مياشت د ديرشو شپو وى نو اولنۍ شپه د هغے يو ويشتمه راځى نو ليلة القدر به يا يويشتمه وى يا در ويشتمه يا پنځه ويشتمه يا اووه ويشتمه يا نهه ويشتمه ده، انتهى۔ المحلى (٣٣/٧)۔

ليلة القدر الله تعالىٰ د بندګانو نه پټه ساتلے ده پدے كى حكمت دا دے چه بندګان ددے په طلب كى كوشش وكړى او د الله بندګى پكى وكړى او ددے طلب كول د ايمان د

شعبو نه یوه شعبه ده۔

د لیلة القدر علامات

بیا د لیلة القدر خاص علامات دی او اکثر د لیلة القدر د تیریدو نه روستو راښکاره کیږی۔

(۱) په صحیح مسلم کی د ابی بن کعبؓ نه نقل شویدی چه د لیلة القدر په صبا باندے نمر داسے راخیژی چه شعاع ئۀ لری۔

(۲) شپه پکی نۀ ډیره یخه وی او نۀ ډیره گرمه، دا آزاده، کولاوه شپه وی، دذے شپے ستوری ښکاره وي او ددے شیطان نۀ راوځی تردے چه صبا رنړا شي۔ (ابن خزیمه عن جابر)

(۳) په ابن ابی شیبه کی د ابن مسعودؓ په روایت کی دی چه نمر هره ورځ د شیطان د دوه ښکرو ترمینځ راخیژی سوئ د صبا د لیلة القدر نه۔

(٤) په حدیث د جابر بن سمرةؓ کی مرفوعاً ابن ابی شیبةؒ نقل کړیدی چه لیلة القدر د باران او د هوا شپه وی۔

(۵) ملائك پدے شپه په زمکه کی د کانړو د شمیر نه هم زیات وی۔ (ابن خزیمه عن ابی هریره مرفوعاً)

(٦) د مجاهدؒ په روایت کی دی: پدے شپه شیطان نۀ راخلاصیږی او نۀ پدے کی څه بیماری راپیدا کیږی۔ (ابن ابی حاتم من طریق مجاهدؒ)

(۷) د مؤمن سړی زړۀ پکی خوشحاله او نرم وی او عبادت ورله خوند ورکوی ځکه ملائك د شپے گرځی۔

(۸) هر شے پکی الله تعالیٰ ته سجده کوی کما في فتح الباري والطبري۔

(۹) په روایت د احمدؒ کی د عباده بن صامتؓ نه مرفوعاً نقل دی چه پدے شپه شیطانان په ستورو نۀ ویشتلے کیږی۔ (فتح الباری)

(۱۰) بعض علماؤ ویلي دی چه پدے شپه باندے سپی په تیزه غپا سره نۀ غاپی۔

لیلة القدر کی عبادت کول د درے اتیا (۸۳) کالو او څه میاشتے دپاسه د عبادت ثواب لری او څومره عبادت چه پکی وکړے شی نو د هغے مطابق اجر به ورکړے شی که چا یوه گینټه وکړو نو درے اتیا کاله به ئے یوه گینټه عبادت ولیکلے شی او هر مؤمن ددے

نه څه برخه حاصلوی د ماښام او ماسخوتن مونځونه او تراویح پکې کوی۔ لیکن حافظ ابن حجرؒ وائي چه دا فضیلت د هغه چا دپاره دے چه هغه ته پته ولږیږي چه نن لیلة القدر ده لکه د (التمسوها) لفظ پرے دلیل دے۔ او د امام نوویؒ نه ئے نقل کړیدے چه هغه د (فیوافقها) معنیٰ کړیده پدے سره چه دے پوهه شي چه دا لیلة القدر ده بیا ددے شپے سره موافقه وکړي په عبادت سره لیکن دا دے ته هم شاملیږي چه ددے شپے د عبادت سره برابر شي اګرکه پرے پوهه نهٔ وی۔ مګر حافظؒ وائي چه د موافقت معنیٰ په علم سره زما په نظر راجحه ده۔ بیا وائي انکار نشته ددے نه چه څوك په لیلة القدر کی د ثواب په نیت ودریږي هغه ته به زیات ثواب ملاویږي اګرکه پدے پوهه نشی چه دا لیلة القدر ده خو اختلاف په دغه معین موعود ثواب کی دے چه ددے دپاره علم د لیلة القدر شرط دے او که نهٔ۔ (فتح الباری ٤/٢٦٧، باب معرفة لیلة القدر)

الفصل الأول

- 2083 (1) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْوِتْرِ مِنَ الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : لیلة القدر د رمضان په آخری لسو شپو کی په تاکو شپو کی تالاش کړئ۔ (بخاریؒ)

تشریح : تَحَرَّوْا : بل روایت کی (اِلْتَمِسُوْا) لفظ دے دواړه د طلب او قصد په معنیٰ دی لیکن په تحری کی معنیٰ زیاته ده یعنی د لیلة القدر په طلب کی کوشش وکړئ او ځان وکړوئ۔

ددے نه معلومه شوه چه غوره قول دا دے چه لیلة القدر د رمضان په آخری لسو شپو کی ده او بیا په تاکو کی ده۔ او دا هم معلومه شوه چه مؤمن سړے به د لیلة القدر په اهتمام سره تالاش کوی۔

- 2084 (2) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : إِنَّ رِجَالًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ أُرُوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْمَنَامِ فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" أَرَى رُؤْيَاكُمْ قَدْ تَوَاطَأَتْ فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ فَمَنْ كَانَ مُتَحَرِّيَهَا فَلْيَتَحَرَّهَا فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی: د نبی کریم ﷺ د ملگرو نه څه کسانو ته په خوب کې لیلة القدر په آخری اوه شپو کې وخودلے شوه نو رسول الله ﷺ وفرمایل : زۀ ستاسو خوب وینم چه په آخری اوه شپو باندے متفق شویدے نو څوك چه لیلة القدر تالاش کوی نو هغه دے ئے په آخری اوه شپو کې تالاش کړی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: أُرُوْا لَیْلَةَ الْقَدْرِ : یعنی الله تعالیٰ دوی ته په خوب کې لیلة القدر خودلے وه چه دا په آخری اُوه شپو کې ده۔ یا دا چه پدے اُوه شپو کې ورته معینه شپه وخودلے شوه چه فلانئ ده لیکن بیا ترے هیره شوه نو نبی ﷺ دوی ته ووئیل : چه په راتلونکو اُوه شپو کې دا طلب کړئ۔ یا دا چه چا په درویشتمه چا پنځه ویشتمه او چا ویشتمه او چا نهه ویشتمه شپه لیدلے وه نو پدے ټولو کې ئے ورته د طلب کولو حکم وکړو وهو الظاهر۔

فَلْیَتَحَرَّهَا فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ" : (۱) ددے آخری اُوه شپو نه مراد یا خو هغه شپے مراد وی چه د شلمے نه فوراً روستو شروع کیږی یعنی یویشتمے شپے نه تر اوه ویشتمے شپے پورے۔ (۲) د ټولو نه آخری اوه شپے هم مراد کیدے شی یعنی درویشتمے نه تر نهه ویشتمے پورے او چونکه نهه ویشتم تاریخ یقینی وی نو پدے وجه ددے مطابق به حساب کیږی۔ او دا آخری احتمال ډیر غوره دے۔

- 2085 (3) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ : اِلْتَمِسُوْهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ لَیْلَةَ الْقَدْرِ : فِيْ تَاسِعَةٍ تَبْقٰی فِيْ سَابِعَةٍ تَبْقٰی فِيْ خَامِسَةٍ تَبْقٰی. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : نبی کریم ﷺ وفرمایل: دا د رمضان په آخری عشره کې تالاش کړئ، یعنی لیلة القدر (تلاش کړئ) په نهمه شپه چه باقی پاتی کیږی (چه هغه نهه ویشتمه شپه ده) په باقی مانده اومه شپه کې (چه هغه اوه ویشتمه شپه ده) او په باقیمانده پنځمه شپه کې (چه هغه پنځه ویشتمه شپه ده)۔ (بخاریؒ)

تشریح : لَیْلَةَ الْقَدْرِ : دا منصوب دے بدل دے د ضمیر د (التمسوها) نه۔

د باقی مانده نهمے او اومے او پنځمے په تعیین کې مشهور دوه قوله دی (۱) یو دا چه

د رمضان د شلمے نه روستو حساب د اول طرفنه واخله نو د شلو شپو نه روستو نهمه شپه نهه ویشتمه ده او اُومه شپه، اُوه ویشتمه ده او پنځمه شپه پنځه ویشتمه ده۔ او دا ظاهر احتمال دے۔ (۲) دویم احتمال دا دے چه د شلمے نه روستو حساب د آخر نه ونیسه نو نهمه شپه چه پاتې وی هغه یویشتمه ده او باقي مانده اومه شپه درویشتمه او باقي مانده پنځمه پنځه ویشتمه ده۔ حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کی اول احتمال غوره کړیدے او وئیلی ئے دی چه په روایت د بخاری کتاب الایمان کی داسے الفاظ راغلی دی : (اِلْتَمِسُوْهَا فِى التِّسْعِ وَالسَّبْعِ وَالْخَمْسِ) یعنی لیلة القدر تالاش کړئ په نهه ویشتمه او اُوه ویشتمه او پنځه ویشتمه شپه کی۔ انتهیٰ۔

- 2086 (4) وَعَنْ أَبِى سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اِعْتَكَفَ الْعَشْرَ الْأَوَّلَ مِنْ رَمَضَانَ ثُمَّ اعْتَكَفَ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ فِى قُبَّةٍ تُرْكِيَّةٍ ثُمَّ أَطْلَعَ رَأْسَهُ، فَقَالَ : " إِنِّى اعْتَكَفْتُ الْعَشْرَ الْأَوَّلَ أَلْتَمِسُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ ثُمَّ اعْتَكَفْتُ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ ثُمَّ أُتِيْتُ فَقِيْلَ لِىْ إِنَّهَا فِى الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ فَمَنِ اعْتَكَفَ مَعِى فَلْيَعْتَكِفِ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ فَقَدْ أُرِيْتُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ ثُمَّ أُنْسِيْتُهَا وَقَدْ رَأَيْتُنِى أَسْجُدُ فِى مَاءٍ وَطِيْنٍ مِنْ صَبِيْحَتِهَا فَالْتَمِسُوْهَا فِى الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ وَالْتَمِسُوْهَا فِى كُلِّ وِتْرٍ ". قَالَ : فَمَطَرَتِ السَّمَاءُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ وَكَانَ الْمَسْجِدُ عَلٰى عَرِيْشٍ فَوَكَفَ الْمَسْجِدُ فَبَصُرَتْ عَيْنَاىَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ وَعَلٰى جَبْهَتِهٖ أَثَرُ الْمَاءِ وَالطِّيْنِ مِنْ صَبِيْحَةِ إِحْدٰى وَعِشْرِيْنَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ فِى الْمَعْنٰى وَاللَّفْظُ لِمُسْلِمٍ إِلٰى قَوْلِهٖ : "فَقِيْلَ لِىْ : إِنَّهَا فِى الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ ". وَالْبَاقِىْ لِلْبُخَارِيِّ

- 2087 (5) وَفِىْ رِوَايَةِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُنَيْسٍ قَالَ : " لَيْلَةَ ثَلَاثٍ وَعِشْرِيْنَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا ابوسعید خدری ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ د رمضان په اولنۍ عشره کی اعتکاف وکړو بیا ئے په مینځنۍ عشره کی په یو تُرکی قبه (خیمه) کی اعتکاف وکړو بیا ئے سر رابنکاره کړو نو وے فرمایل: ما په اولنۍ عشره کی اعتکاف وکړو ما دا شپه (د لیلة القدر) تالاش کوله بیا ما په مینځنۍ عشره کی اعتکاف وکړو نو ما ته په خوب کی راغلل چه ملائکو راته وویل چه دا (شپه) په آخری عشره

کی ده نو چا چه زما سره اعتکاف کړے وي نو هغه دے په آخري عشره کی (هم) اعتکاف وکړي ځکه چه ما ته دا شپه وخودلے شوه (ليکن) بيا زما نه هيره شوه. (مگر علامه ئے دا ده چه) ما خپل ځان ليدلے چه زهٔ ددے شپے په صبا (مانځه) کی په اُوبو او ختهٔ کی سجده لگوم نو دا په آخري عشره کی تالاش کړئ او دا په هر تاك شپو کی تالاش کړئ. راوي وائي : نو په دغه (يويشتمه) شپه باران وشو او مسجد (نبوی) په يو څپر باندے (جوړ) وو نو مسجد اُوبهيدو نو زما دواړو سترگو رسول الله ﷺ وليدو پداسے حال کی چه د هغه په تندی (مبارك) باندے د اُوبو او د ختے اثر وو په صبا د يويشتمه شپه باندے. (ددے حديث په نقل کولو د بخاريؒ او د مسلمؒ اتفاقٌ دے په معنیٰ کی او تر (فقيل لي انها في العشر الاواخر) پورے ددے روايت الفاظ صرف مسلمؒ نقل کړيدی او د روايت باقي الفاظ بخاريؒ نقل کړيدی، او په يو بل روايت د عبد الله بن اُنيس ﷺ کی : (د يويشتمے شپے په ځاى) درويشتمه شپه ده. (دا روايت مسلمؒ نقل کړيدے)

تشريح : قُبَّةٍ تُرْكِيَّةٍ : يعنی د ترك نه راغلے يوه خيمه کی نبي عليه السلام اعتکاف وکړو، ددے نه دا معلومه شوه چه سنت دا ده چه په مسجد کی ځانله يوه ډولئ، کوډئ ووهی او په هغے کی جدا کينی دے دپاره چه زړه ئے راجمع شی او الله تعالیٰ ته ئے توجه برابره شی.

ثُمَّ اُتِيتُ : مجهول صيغه ده، يعنی ما ته راتلل وکړے شو په روايت د بخاري کی دی چه جبريل ﷺ ورله دواړه ځل په خوب کښ راغلو چه کوم شے چه تهٔ طلب کوے هغه ستا مخے ته دے.

فَمَنِ اعْتَكَفَ مَعِيَ : اعتکاف هم د ليلة القدر د لاندے کولو دپاره کيږی دے دپاره چه بنده پکی د الله تعالیٰ ډيره بندگی وکړی. نو ځکه رسول الله ﷺ تولہ مياشت اعتکاف وکړو.

ثُمَّ اُنْسِيتُهَا : يعنی ما ته ليلة القدر په خوب کی وخودلے شوه چه فلانئ شپه ده ليکن بيرته ما نه هيره شوه او ددے هيرولو وجه دا ده چه رسول الله ﷺ راوتلو صحابه کرامو ته ئے خبر ورکولو نو ويے ليدل چه د دوه صحابه کرامو شور او جگړه وه نو رسول الله ﷺ وفرمايل : زما اراده وه چه تاسو ته د ليلة القدر خبر درکړم ليکن ما نه ليلة

القدر هيره شوه، دا د جګړې نحوست وو مګر پدې کې به د الله تعالىٰ حکمت وو چه الله تعالىٰ د خپل نبي نه هيره کړه.

وَقَدْ رَأَيْتُنِيْ : دا يوه علامه ورته بيانوي چه ليلة القدر داسې شپه وه چه ما خپل ځان وليدو چه زۀ د هغې په صبا باندې په مسجد کې په ختو او اُوبو کې سجده لګوم او دغه يويشتمه شپه وه، دا هميشه علامه نۀ ده بلکه په دغه کال رسول الله ﷺ ته د ليلة القدر دغه نښه خودلې شوې وه۔ ليکن غالباً داسې وي.

رَأَيْتُنِيْ : أَيْ رَأَيْتُ نَفْسِيْ۔ ما خپل ځان ليدلې دې.

فوائد: (١) اعتکاف د لسو نه زياتو ورځو کې هم کيږي لکه دلته نبي ﷺ توله مياشت کړيدې۔ (٢) په رسول الله ﷺ باندې هم نسيان راتلې شي معلومه شوه چه هغه عالِم الغيب نۀ دې بلکه بنده او رسول دې.

(٣) د رسول الله ﷺ مسجد ډير ساده وو چه د باران اُوبه به ترې لاندې راوتلې.

(٤) کوم روايت کې چه ليلة القدر دريشتمه شپه خودلې شويده نو دغه د راوي نه وهم شويدې۔ صحيح دا ده چه دغه شپه چه نبي ﷺ ته خودلې شوې وه يو ويشتمه وه.

(٥) په خاورو کې سجده غوره ده۔ (٦) په مانځه کې تندې پاکول نۀ دي پکار اثر د سجدې چه وي خير دې۔ (٧) باران کې هم جماعت کول شته.

(٨) دا دليل دې چه ليلة القدر نقل کيږي ورنه په يويشتمه شپه ليلة القدر د رسول الله ﷺ په زمانه کې راغلې وه آيا بيا به هميشه همغه وي؟۔

- 2088 (6) وَعَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ قَالَ : سَأَلْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ فَقُلْتُ إِنَّ أَخَاكَ ابْنَ مَسْعُوْدٍ يَقُوْلُ : مَنْ يَقُمِ الْحَوْلَ يُصِبْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ. فَقَالَ رَحِمَهُ اللهُ أَرَادَ أَنْ لَّا يَتَّكِلَ النَّاسُ أَمَا إِنَّهُ قَدْ عَلِمَ أَنَّهَا فِيْ رَمَضَانَ وَأَنَّهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ وَأَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ ثُمَّ حَلَفَ لَا يَسْتَثْنِيْ أَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ. فَقُلْتُ: بِأَيِّ شَيْءٍ تَقُوْلُ ذٰلِكَ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ؟ قَالَ: بِالْعَلَامَةِ أَوْ بِالْآيَةِ الَّتِيْ أَخْبَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَنَّهَا تَطْلُعُ يَوْمَئِذٍ لَا شُعَاعَ لَهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جناب زر بن حُبيش رحمه الله فرمائي : ما د ابي بن کعب (رضي الله عنه) نه تپوس وکړو ما وويل : ستا ورور ابن مسعود (رضي الله عنه) وائي : څوک چه ټول کال قيام الليل وکړي

هغه به لیلة القدر موندله کړی۔ نو هغه وفرمایل: الله تعالیٰ دې په ابن مسعود باندې رحم وکړی د هغه (پدې خبرې سره دا) اراده ده چه خلك بهروسه ونکړی (او د عبادت نه ناسته ونکړی) خبردار هغه خامخا پدې پوهه دې چه لیلة القدر په رمضان کی ده او دا په آخري لسو شپو کی ده او هغه اوه ویشتمه شپه ده، بیا ئې داسې قسم وکړو چه استثناء ئې پکی نهٔ کوله چه دا اُوه ویشتمه شپه ده۔ نو ما ورته وویل : اې ابو المنذره ! په څه سره تهٔ دا خبره کوې ؟ هغه وویل : په هغه علامې یا نښې سره چه مونږ ته رسول الله ﷺ خبر راکړې وو چه ددغه شپې په صبا به نمر په دغه ورځ داسې راخیژی چه د هغې به شعاع نهٔ وی۔ (او ما لیدلی دی چه د اوه ویشتمې شپې صبا کی نمر راوختو نو په هغې کی شعاع نهٔ وو)۔ (مسلمؒ)

تشریح : رَحِمَهُ اللهُ : پدې کی مونږ ته ادب الخلاف بیانوی چه کله یو عالِم په بل باندې رد کوی نو پکار ده چه د هغه د ادب او احترام لحاظ وساتلې شی او د هغه دپاره دعا طلب کړې شی، کچه او شدل رد به نهٔ کیږی۔ او یو عالِم که په یوه مسئله کی خطاء وی نو د هغه دپاره به یو صحیح محمَل او وجه بیان کړې شی اګرکه د دغه خبرې تابعداری به ئې نهٔ وی لیکن هغه به معذور ګنړلې شی۔

هان که انسان مبتدع وی بیا د هغه مسئله او په هغه رد پکار دې چه خلك ترې ځان وساتی او که امام او عالم اهل حق وی بیا صرف مسئله باندې ورلره رد پکار دې سره د ادب او احترام د هغه نه، د اهل بدعو په شان کار به نهٔ کوی چه دلیل ورسره نهٔ وی نو کنځل کوی فتدبر۔

لکه دلته ابی بن کعب ؓ په عبد الله بن مسعود ؓ باندې رد کوی او د هغه دپاره وجه بیانوی چه هغه ته ښه معلومه ده چه لیلة القدر په رمضان کی ده لیکن هغه چه دا قول کړیدې چه لیلة القدر په تول کال کی ده نو د هغه مقصد خلکو ته ترغیب ورکول دی چه د الله تعالیٰ بندګی په تول کال کی وکړی نو لیلة القدر به هم پکی راشی او هسې نهٔ چه خلك صرف دغه یوه شپه بندګی وکړی او بیا ئې پریدی۔ بیا ابی بن کعبؓ داسې قسم وکړو چه استثناء ئې پکی نهٔ کوله یعنی ان شاء الله ئې پکی نهٔ وئیله ځکه په ان شاء الله وئیلو سره قسم نهٔ یقینی کیږی بلکه د سره نهٔ واقع کیږی لهذا هغه به خپله خبره په قسم سره مضبوطوله او وئیل به ئې چه دا خامخا اوه

ویشتمه شپه ده او دلیل ئې دا ورکولو چه نبی ﷺ مونږ ته علامه دا خودلې ده چه د لیلة القدر شپې نه روستو نمر داسې راخیژی چه شعاع ئې نهٔ وی او دا مونږ په اُوه ویشتمه شپه کې موندلې ده۔

لیکن ظاهر دا ده چه نبی ﷺ دا یوه عامه علامه خودلې ده چه لیلة القدر که په هره شپه راغلې نو د هغې د تیریدو نه پس صبا له نمر بې شعاعو راخیژی او دا واقعی خبره هم ده او سیدنا ابی بن کعب رضی الله عنه دا علامه د اوه ویشتمې شپې پورې خاص کړه، او دا د هغه اجتهاد وو۔

- 2089 (7) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَجْتَهِدُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مَا لَا يَجْتَهِدُ فِيْ غَيْرِهٖ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ به (د رمضان) په آخری لسو شپو کې (په عبادت کې) دومره کوشش کولو چه هغومره کوشش به ئې په نورو کې نهٔ کولو۔ (مسلم)

تشریح : يَجْتَهِدُ : یعنی رسول الله ﷺ به د رمضان په آخری عشره کې د الله په بندګئ او طاعت کې دومره کوشش کولو او ځان به ئې کړولو چه دومره کوشش به ئې په غیر رمضان کې نهٔ کولو، ځکه چه پدې کې لیلة القدر راځی او دا لس شپې هسې هم غوره دی نو ددې دپاره چه عبادت زیات ولیکلې شی۔ یا اجتهاد په طلب د لیلة القدر کې مراد دې لیکن اول ډیر غوره دې۔

- 2090 (8) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ شَدَّ مِئْزَرَهٗ وَأَحْيَا لَيْلَهٗ وَأَيْقَظَ أَهْلَهٗ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله (آخری) لس شپې راغلې نو لنګ به ئې مضبوط کړو او شپه به ئې ژوندئ کړه او خپل اهل وعیال به ئې رابیدار کړل۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : شَدَّ مِئْزَرَهٗ : ددې درې مطلبه دی (۱) یو دا چه دا کنایه ده د کوشش کولو نه په عبادت کې یعنی رسول الله ﷺ به د خپل عام عادت نه زیات په عبادت کې

کوشش کولو۔ (۲) قسطلانیؒ وائی : صحیح دا ده چه ددې نه مراد د خپلو بیبیانو نه جدائی ده یعنی په عبادت به دومره مشغول او مصروف وو چه خپلو بیبیانو له به په دې شپو کی نهٔ ورتلو۔ (۳) دواړه احتماله صحیح دی، نبی ﷺ به خپل لنګ د عبادت دپاره هم مضبوط کړو او د خپلو بیبیانو نه به ئې هم مضبوط کړو د هغوی نه به جدا شو لکه په بل روایت د ابن ابی شیبه کی د علی ﷺ نه نقل دی (شَدَّ مِئْزَرَهُ وَاعْتَزَلَ النِّسَاءَ) لنګ به ئې مضبوط کړو او د خپلو بیبیانو نه به جدا شو۔

واحیا لیله : د شپې ژوندئ کولو نه مراد تو له شپه بندګی کول دی ګویا که شپه مره ده کله چه په کی عبادت نهٔ کیږی۔ ددې نه معلومه شوه چه نبی ﷺ به په تول کال کی تو له شپه عبادت نهٔ کولو صرف د رمضان په آخری عشره کی به ئې تو له شپه عبادت کولو او امت ئې هم ددې نه منع کړیدې چه تاسو تو له شپه عبادت مهٔ کوئ ځکه چه پدې سره د بدن او د خپلې ښځې او نور حقوق ضائع کیږی۔

الفصل الثانی

- 2091 (9) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ أَرَأَيْتَ: إِنْ عَلِمْتُ أَيَّ لَيْلَةُ الْقَدْرِ مَا أَقُوْلُ فِيْهَا ؟ قَالَ : " قُوْلِيْ :اَللّٰهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّيْ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَه وَالتِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ.

ترجمه : او ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی : ما وویل یا رسول الله ! خبر راکړه که زهٔ پوهه شم چه کومه لیلة القدر ده نو په هغې کی به کومه دعا وایم؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: وایه : اے الله ! تهٔ معاف کونکے ئې، ستا معافی خوښه ده نو ما ته معافی وکړه۔ (احمدؒ، ابن ماجهؒ، ترمذیؒ او امام ترمذیؒ دے ته صحیح وئیلی دی)۔

تشریح : په شریعت کی د ګناهونو معاف کیدل ډیر مطلوب او غوره دی پدې وجه د عامو عباداتو په نتیجه کی د ګناه معاف کیدل ذکر کیږی ځکه چه بنده کله د ګناه نه پاک شی نو بیا د جنت د داخلیدو لائق شی او جنت د هر خیر خزانه ده۔ او دارنګه د الله تعالیٰ محبوب بنده جوړ شی۔

دا حدیث دلیل دے چه دا دعا ډیر اهمیت لری ځکه نبی کریم ﷺ عائشې ته د نورو په نسبت ددې دعا تلقین وکړو دا په عامو حالاتو کی هم لوستل پکار دی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، ترمذی (٢٥٠٨) عمل اليوم والليلة للنسائی (٨٧٢-٨٧٥) واحمد ٦/١٧٠ و١٨٢و١٨٣و٢٠٨) وابن ماجه (٣٨٥٠) والحاكم (١/٥٣٠) من طرق عن ابن بريدة،

- 2092 (10) وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : " اِلْتَمِسُوْهَا يَعْنِيْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِيْ تِسْعٍ بَقِيْنَ أَوْ فِيْ سَبْعٍ بَقِيْنَ أَوْ فِيْ خَمْسٍ بَقِيْنَ أَوْ ثَلَاثٍ أَوْ آخِرِ لَيْلَةٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او سيدنا ابوبكره رضی الله عنه فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئے : تالاش كرئ دا يعنی ليلة القدر په هغه نهه باقيمانده كی۔ (يعنی نهه ويشتمه شپه) يا په اوه باقيمانده كی (يعنی اوه ويشتمه) يا په پنځه باقيمانده كی (يعنی پنځه ويشتمه) يا په درے (يعنی در ويشتمه) كی يا په آخری شپه كی۔ (ترمذیؒ)

تشريح : يعنی ليلة القدر په هغه نهه شپو كی طلب كرئ چه د مياشتے د آخر نه باقی وی ددے نه مراد نهه ويشتمه شپه ده او اُوه باقی مانده نه مراد اوه ويشتمه او د پنځمے نه پنځه ويشتمه او د درے باقيمانده نه درويشتمه ده او د آخری شپے نه مراد د مياشتے د ختميدو شپه نو ددے نه بعض علماؤ يا نهه ويشتمه اخستے ده ځكه چه غالباً ليلة القدر په تاك شپو كی راځی يا ترے آخری ديرشتمه مراد ده۔ اول قول غوره دے۔ او پدے كی دا احتمال هم ظاهر دے چه تسع بقين نه مراد يوشتمه شپه ده او د سبع نه مراد درويشتمه ده او د خمس نه پنځه ويشتمه او د ثلاث نه مراد اُوه ويشتمه ده۔

بقين : په بعض نسخو كی د مضارع په صيغه دے يعنی يَبْقَيْنَ۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، ترمذی (٧٩٤) وصححه واحمد (٥/٣٦) (٢٠٦٤٧)

- 2093 (11) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ فَقَالَ: " هِيَ فِيْ كُلِّ رَمَضَانَ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ وَقَالَ : رَوَاهُ سُفْيَانُ وَشُعْبَةُ عَنْ أَبِيْ إِسْحٰقَ مَوْقُوْفًا عَلَى ابْنِ عُمَرَ.

ترجمه : او ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی : د رسول الله ﷺ نه د ليلة القدر په باره كی پوښتنه وشوه نو هغه وفرمايل: دا په هر رمضان كی ده۔ دا روايت ابوداودؒ نقل

کړے او وئیلی ئے دی چه دا روایت سفیانؒ او شعبهؒ د ابو اسحاقؒ نه او هغه د ابن عمر رضی الله عنهما نه موقوف نقل کړیدے۔

تشریح : (١) ددے حدیث یو مطلب علماؤ دا بیان کړیدے چه لیلة القدر د ټول رمضان په هره شپه کی کیدے شی نو بیا به دا مخالف وی د هغه احادیثو چه په هغے کی دا ده چه لیلة القدر په آخری عشره د رمضان کی ده۔ مګر دا احتمال غوره نهٔ دے۔

(٢) صحیح احتمال هغه دے چه طیبیؒ ذکر کړیدے چه کل رمضان نه مراد دا دے چه لیلة القدر په هر کال کی په رمضان میاشت کی وی نهٔ په نورو میاشتو کی بیا دا مخالف نهٔ دے د مخکنو احادیثو چه په هغے کی لیلة القدر په آخری عشره کی بیان شویده۔

دارنګه ددے حدیث په رفع او وقف کی هم اختلاف دے، بناء په دواړو صورتونو سره دا دویم احتمال پکی صحیح دے دے دپاره چه د نبی ﷺ وینا د هغه د بل حدیث مخالف نشی، دارنګه د صحابی وینا د رسول الله ﷺ د حدیث مخالف نشی۔ لهذا هیڅ مرفوع صحیح یا ضعیف صریح حدیث نشته چه په هغے کی دا ذکر وی چه لیلة القدر په ټول رمضان کی ده، یا په ټول کال کی ده۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، رواه ابوداود (١٣٨٧) والصواب انه موقوف غير مرفوع لان ابا اسحاق السبيعي كان اختلط وقد روى عنه سفيان وشعبة قبل الاختلاط فالظاهر انه رفعه بعد الاختلاط فتلقاه عنه موسى بن عقبة وهو ثقة– مرفوعاً وهو واهم فى رفعه، (ضعيف ابى داود للالبانى (٢٤٥)).

- 2094 (12) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُنَيْسٍ قَالَ: قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ لِيْ بَادِيَةً أَكُوْنُ فِيْهَا وَأَنَا أُصَلِّيْ فِيْهَا بِحَمْدِ اللهِ فَمُرْنِيْ بِلَيْلَةٍ أَنْزِلُهَا إِلَى هٰذَا الْمَسْجِدِ فَقَالَ : " اِنْزِلْ لَيْلَةَ ثَلَاثٍ وَعِشْرِيْنَ " . قِيْلَ لِابْنِهٖ : كَيْفَ كَانَ أَبُوْكَ يَصْنَعُ ؟ قَالَ: كَانَ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ إِذَا صَلَّى الْعَصْرَ فَلَا يَخْرُجُ مِنْهُ لِحَاجَةٍ حَتّٰى يُصَلِّيَ الصُّبْحَ فَإِذَا صَلَّى الصُّبْحَ وَجَدَ دَابَّتَهٗ عَلٰى بَابِ الْمَسْجِدِ فَجَلَسَ عَلَيْهَا وَلَحِقَ بِبَادِيَتِهٖ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ.

ترجمه : او عبد الله بن اُنیس ﷺ فرمائی : ما ووئیل یا رسول الله ! زما مکان (کور) په

بانده کی دے زهٔ په هغے کی وسیږم او زهٔ په هغے کی د الله په حمد سره مونځ کوم لهذا ما ته د یوے شپے په باره کی حکم وکره چه زهٔ په هغه شپه دے مسجد (نبوی) ته راشم (یعنی لیلة القدر زاته په یوه شپه کی وښایه چه زهٔ په هغے کی پدے مسجد نبوی کی عبادت وکرم) نبی کریم ﷺ وفرمایل : تهٔ په درویشتمه شپه راشه۔ (دے نه پس) د هغه ځوی (ضَمره) تـه وویل شو: ستا پلار به څه کول؟ (یعنی معمولات ئے څنګه وو؟) نـو هغه وویل : هغه به مسجد ته راننوتو کله چه به ئے د مازیګر مونځ وکړو نو د هغے نه به د هیڅ ضرورت دپاره نهٔ وتو تردے چه د صبا مونځ به ئے وکړو نو کله چه به ئے د سهار مونځ وکړو نو د مسجد په دروازه به ئے خپله سورلئ ومونده او په هغے باندے به کیناستو او خپلے باندے ته به واپس پیوسته شو۔ (ابوداوٗد)

تشریح : سیدنا عبد الله بن انیس ﷺ یو جلیل القدر صحابی دے د خالد بن سفیان الهُذلی پسے نبی ﷺ لیږلے وو چه د هغه سر راوړی نو دهٔ ورله سر راوړو۔ او د ابورافع یهودی د وژلو دپاره چه کوم ګروپ تلے وو په هغوی کی یو دا عبد الله هم وو چه دهٔ د ابو رافع سلام بن ابی الحقیق په خیته کی توره ننویسته او قتل ئے کړو۔

دارنګه د یهودیانو بل مشر یسیر بن رزام هم دهٔ وژلے وو لکه سیرت کی ددهٔ واقعات مشهور دی۔ تفصیل دپاره زمونږ کتاب ((سیرتِ رسول ﷺ)) ته رجوع وکړئ۔

دا عبد الله بن اُنیس په یوه بانده کی په یوه خیمه کی وسیدونو نبی ﷺ ته ئے وفرمایل چه ما ته د رمضان په یوه شپه کی حکم وکړه چه ستا مسجد نبوی ته راشم او په هغے کی بندګی وکړم چه هغه د لیلة القدر شپه وی چه د مکان او د زمان دواړو فضیلت راګیر کړم نو نبی ﷺ ورته د رمضان درویشتمه شپه وخودله۔

بیا دلته دا **سوال** راځی چه ددے روایت نه خو د لیلة القدر تعیین لازم راځی حال دا چه لیلة القدر خو متعینه نهٔ ده؟ **جواب** دا دے چه نبی ﷺ سیدنا عبد الله بن اُنیس ته په کوم کال دا خبره خودلے وه ممکن ده چه په هغه کال لیلة القدر په درویشتمه شپه راغلی وی چه هغه نبی ﷺ تـه په وحی سره معلومه شوی وی نو ددے نه دا نهٔ لازمیږی چه لیلة القدر به هر کال په دغه شپه باندے وی۔ لیکن د صحابه کرامؓ مزاج دا وو چه د رسول الله ﷺ نه به ئے یوه خبره واوریده نو په هغے به ئے ډیر کلک عمل کولو، چون وچرا او تاویلات به هغوی نهٔ کول۔او دے ته اداء العشاق هم وائی،

عاشق محبوب په یو کار وینی بیا هغه همیشه کوی تعارض او غیر تعارض ته نهٔ گوری۔

بَادِيَةٌ : بادیه اصل کی بانډے ته وائی دلته تربے مراد کوریا په بانډه کی خیمه ده او د دغه بانډے نوم وطائه وه۔ (مرقاة)

قِيلَ : ددهٔ ځوی ته دا وینا محمد بن ابراهیم بن الحارث التیمیؒ ثقه تابعی چه د محمد بن اسحاق صاحب المغازیؒ استاذ دے کړے وه۔

لِابْنِهٖ : ددهٔ د ځوی نوم ضمره یا عمرو وو۔

درجة الحديث : اسناده صحيح رواه ابوداود (۱۳۸۰) وابن خزيمة (۲۲۰۰) والبيهقي في الكبرى (۳۰۹/٤)

الفصل الثالث

- 2095 (13) عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ﷺ قَالَ: خَرَجَ النَّبِيُّ ﷺ لِيُخْبِرَنَا بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحٰى رَجُلَانِ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ فَقَالَ: "خَرَجْتُ لِأُخْبِرَكُمْ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحٰى فُلَانٌ وَفُلَانٌ فَرُفِعَتْ وَعَسٰى أَنْ يَّكُوْنَ خَيْرًا لَّكُمْ فَالْتَمِسُوْهَا فِي التَّاسِعَةِ وَالسَّابِعَةِ وَالْخَامِسَةِ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : سیدنا عباده بن صامت ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ (د کور نه) راووتو دے دپاره چه مونږ ته د لیلة القدر خبر راکړی (چه فلانئ شپه ده) لیکن د مسلمانانو نه د دوه کسانو یو بل سره جنګ شو نو هغه وفرمایل: زهٔ دے دپاره راوتے وم چه تاسو ته د لیلة القدر خبر درکړم خو فلانے او فلانے انښتی وو نو هغه شپه پورته شوه (یعنی د هغے تعیین پورته کړے شو) او کیدے شی چه دا به ستاسو دپاره بهتره وی نو دا په نهمه (یعنی نهه ویشتمه) او اومه (ویشتمه) او پنځمه (یعنی پنځه ویشتمه) شپه کی تالاش کړئ۔ (بخاریؒ)

تشريح : **فَتَلَاحٰى** : اَیْ تَنَازَعَ وَتَخَاصَمَ یعنی د دوه کسانو جنګ شو چه هغه د کعب بن مالك او د عبد الله بن ابی حدرد رضی الله عنهما په مابین کی د قرض په معامله کی وو چه د اول په دویم بانډے وو نو نبی ﷺ راووتو او کعب ته ئے حکم وکړه : (ضَعْ مِنْ دَيْنِكَ هٰذَا وَاَوْمَأَ اِلَيْهِ اَيِ الشَّطْرَ) دهٔ ته د خپل قرض نه څه معاف کړه او اشاره ئے ورته وکړه چه نیمائی معاف کړه نو هغه ووئیل : (لَقَدْ فَعَلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ) معاف مے

کړو ایے د الله رسوله ! بیا رسول الله ﷺ ابن ابی حدرد ته حکم وکړو (قُمْ فَاقْضِهِ) پاخیږه دۀ ته (دا باقی) ادا کړه۔ (بخاری: ٤٥٧ باب التقاضی والملازمة فی المسجد)۔

نبی ﷺ پدے فیصله مشغول شو پدے وجه ترے د لیلة القدر شپے تعیین هیر شو۔ په دے روایت کی د هیریدو سبب ئے د دوه کسانو جګړه وخودله او په روایت د مسلم کی د ابو هریرةؓ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ما ته په خوب کی لیلة القدر وخودلے شوه (فَأَيْقَظَنِي بَعْضُ أَهْلِي فَنَسِيتُهَا) نو خپل بعض کوروالو رابیدار کړم نو ایسته رانه هیره شوه۔ دلته د هیریدو سبب د خوب نه رابیداروِل وخودل شو۔ نو کیدے شی چه دا دوه واقعے وی او یو ځل نبی ﷺ ته په ویښه خودلے شوی وی او بل ځل په خوب کی، یا دواړه یوه واقعه ده لیکن سبب د هیریدو دوه وو، یو رابیداروِل او بل د دوه کسانو جګړه یعنی دوه ځل د نبی ﷺ نه لیلة القدر هیره شوه بیا ئے وفرمایل : پدے کی به خیر وی دے دپاره چه بندګان په تولو شپو کی د عبادت کوشش وکړی۔ (حافظ ابن حجرؒ) او بل دا چه د دغه کسانو سره د صحابه کرامو بغض پیدا نشی چه د دوی د جګړے په وجه مونږ د خیر نه محروم شو۔

فِي التَّاسِعَةِ :یعنی لیلة القدر ولټوئ په باقی نهمه کی چه هغه نهه ویشتمه شپه ده یا مراد یوویشتمه شپه ده۔

فوائد : (۱) د جګړے نحوست۔ (۲) د قرض طلب په مسجد کی جواز لری لکه پدے باندے امام بخاریؒ باب تړلے دے۔

(۳) فیصله دوه قسمه ده احسانی او قضائی، د رسول الله ﷺ دا فیصله احسانی وه۔

- 2096 (14) وَعَنْ أَنَسٍؓ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" إِذَا كَانَ لَيْلَةُ الْقَدْرِ نَزَلَ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِيْ كَبْكَبَةٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ يُصَلُّوْنَ عَلٰى كُلِّ عَبْدٍ قَائِمٍ أَوْ قَاعِدٍ يَذْكُرُ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ فَإِذَا كَانَ يَوْمُ عِيْدِهِمْ يَعْنِيْ يَوْمَ فِطْرِهِمْ بَاهٰى بِهِمْ مَلَائِكَتَهٗ فَقَالَ : يَا مَلَائِكَتِيْ مَا جَزَاءُ أَجِيْرٍ وَفّٰى عَمَلَهٗ ؟ قَالُوْا: رَبَّنَا ! جَزَاؤُهٗ أَنْ يُوَفّٰى أَجْرَهٗ. قَالَ : مَلَائِكَتِيْ ! عَبِيْدِيْ وَإِمَائِيْ قَضَوْا فَرِيْضَتِيْ عَلَيْهِمْ ثُمَّ خَرَجُوْا يَعُجُّوْنَ إِلَى الدُّعَاءِ، وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ وَكَرَمِيْ وَعُلُوِّيْ وَارْتِفَاعِ مَكَانِيْ لَأُجِيْبَنَّهُمْ. فَيَقُوْلُ: اِرْجِعُوْا فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ وَبَدَّلْتُ سَيِّئَاتِكُمْ حَسَنَاتٍ. قَالَ: فَيَرْجِعُوْنَ مَغْفُوْرًا لَهُمْ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او سیدنا انس بن مالك ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چه د قدر شپه راشی نو جبریل ﷺ د ملائکو په یوه ډله کی راکوز شی چه د هر هغه بنده دپاره بخنه غواړی چه مانځه ته ولاړ وی یا ناست وی د الله ذکر کوی نو کله چه د مسلمانانو د اختر ورځ شی یعنی د هغوی د روژی اختر ورځ شی نو الله تعالیٰ په دوی سره په ملائکو باندے فخر کوی او فرمائی: اے زما ملائکو ! د هغه مزدور به څه بدله وی چه کار سر ته ورسوی؟ ملائك وائی : اے زمونږ ربه ! ددهٔ بدله دا ده چه اجر ورته پوره ورکړے شی۔ الله فرمائی : اے زما ملائکو (تاسو خبر شئ چه) زما بندګانو او زما وینځو زما فریضه ادا کړه کومه چه په دوی باندے وه (یعنی روژه) بیا دوی راوتی دی چه (ما ته) په دعاء سره شور کوی، زما په عزت او زما جلال او عزت او زما په اوچتوالی او زما په اُوچته مرتبه قسم دے چه خامخا به زهٔ د دوی دعا قبلوم۔ بیا الله تعالیٰ (بندګانو ته) فرمائی : واپس شئ یقیناً ما تاسو ته بخنه وکړه او ستاسو ګناهونه مے په نیکیانو بدل کړل۔ نبی کریم ﷺ فرمائی : نو بندګان راواپس کیږی په داسے حال کی چه دوی ته بخنه شوی وی۔ (بیهقیؒ شعب الایمان)۔

تشریح : کُبْکُبَةٍ : دا په ضمه د کاف او باء سره دے او فتحے هم پکی جائز دی۔ ګنړ جماعت او ډلے ته وائی۔

یُصَلُّوْنَ : یعنی د هر بنده دپاره د مغفرت دعا غواړی یا په هر بنده باندے نیك او ښائسته صفت وائی۔

رَبَّنَا ! : یعنی اے ربه زمونږ دا منصوب علی النداء دے۔

الله تعالیٰ د ملائکو سره د انسانانو د عملونو په باره کی دا خبره ولے کوی؟ دے دپاره چه ملائکو ته وربنکاره کړی چه د الله تعالیٰ په انسانانو پیدا کولو کی ډیر حکمتونه وو چه دا دومره غوره مخلوق دے چه د خواهشاتو سره سره دوی زما فریضه ادا کوی او زما په ذکر او بندګئ باندے شپه ژوندئ کوی۔

یَعُجُّوْنَ: آوازونه پورته کوی، عَجَّ یَعُجُّ عَجًّا وَعَجِیْجًا چغے او آواز پورته کولو ته وائی۔

دا دلیل دے چه د اختر په ورځ باندے په جهر سره ذکر کول جائز عمل دے۔

اِلَی الدُّعَاءِ : (اَیْ یَرْفَعُوْنَ أَصْوَاتَهُمْ بِالذِّکْرِ وَالثَّنَاءِ مُتَوَجِّهِیْنَ اَوْ مُنْتَهِیْنَ اِلَی الدُّعَاءِ بِالْمَغْفِرَةِ لِذُنُوْبِهِمْ) یعنی دوی آوازونه پورته کوی په ذکر او ثناء سره چه متوجه

كيدونكي دي يا رسيدونكي دي دعاء ته دے دپاره چه د دوی گناهونه وبخلے شي.
(اَیْ یَرْفَعُوْنَ اَصْوَاتَهُمْ وَاَیْدِیْهِمْ اِلَى الدُّعَاءِ) يا دا چه دوی آوازونه او لاسونه پورته کوی دعاء ته.

مَكَانِیْ : دے نه معلومه شوه چه د الله تعالیٰ دپاره مکان او په هغے باندے پورته والے او برابر والے په قرآن او سنت سره ثابت دے لکه دا د اهل السنة والجماعة اتفاقي مذهب دے، پدے کی معتزله او اشاعره او ماتريديه خلاف کوی.

قرآن کريم کی الله تعالیٰ فرمائی : ((رحمن ذات په عرش باندے استواء کړيده))، استواء، ارتفاع او علو د الله تعالیٰ صفتونه دی نو الله تعالیٰ عالی او مستوی او مرتفع دے په عرش باندے جدا دے د مخلوق نه او علم او قدرت ئے هر ځای کی دی. او ددے اُوچتوالی او په عرش باندے د برابروالی کيفيت او طريقه بندگانو ته نهٔ ده معلومه ليکن بندگان به پدے باندے ايمان لری بغير د کيفيت معلومولو نه. نو څوك چه دا وائی چه ارتفاع المکان کنايه ده د عظمت شان د الله نه او علو سلطان نه بيا وائی دا ځکه چه د الله دپاره مکان نشته او علو ورله نشته لکه دا خبره طيبیؔ کړيده نو دا غلطه عقيده ده د کتاب او د سنت خلاف ده او ددے مسئلے د تفصيل دپاره کتاب العلو د ذهبیؔ او کتاب الاسماء والصفات د بيهقیؔ او کتابونه د شيخ الاسلام ابن تيميه او ابن القيم رحمهما الله وګوره.

(**فوائد اخری**) (١) الله تعالیٰ او د هغه ملائك د بندگانو د عملونو ډير اهتمام کوی. (٢) د انسان عمل الله تعالیٰ ته د ملائکو نه ډير خوښ دے (باهی) (٣) د عمل نه روستو اجرت واجب کيږی.

(٤) د اختر مونځ د سرو او ښځو دواړو دپاره شته (عبيدی وامائی) لفظ پرے دليل دے.

(٥) د اختر په ورځ دعاء شته او په جهر شته لکه بل روايت کی (ودعوة المسلمين) هم راغلے دے.

(٦) د اختر ورځ د مغفرت ورځ ده او پدے کی بديانی په نيکيانو بدليږی.

سوال : سيئات څرنګ په حسناتو بدليږی؟ **جواب** : په دوه طريقو سره يو دا چه بد صفات په نيك صفاتو تبديل شی لکه مخکی غل وو اُوس ترے امين جوړ شو مخکی مشرك وو اُوس ترے موحد جوړ شو. دارنګه دا تبديل په آخرت کی دے ځکه

چه دوی د هرے گناه نه توبه ویستلی وی او استغفار ئے غوښتے وی نو پدے وجه د گناه نه نیکی جوړه شی۔ لکه پدے قول د الله تعالیٰ کی راغلی دی: ﴿فَأُولَئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ﴾ (الفرقان: ۷۰)

درجة الحديث: اسناده ضعيف، اخرجه البيهقى فى الشعب (۳۷۱۷) وابن حبان فى الضعفاء وفيه اصرم بن حوشب قاضى همدان متروك الحديث (قاله البخارى ومسلم والنسائى) انظر ترجمته فى ميزان الاعتدال (۱/٤۳۷ ترجمة ۱۰۱۹)



۹- باب الاعتکاف

د اعتکاف بیان

د اعتـکـاف بـاب ئے د روژو سره راوړو ځـکـه چه اعتکاف د بعض اهل علمو په نیز بانـدے د روژو نـه په غیر نهٔ کیږی او دارنګه مشهوره دا ده چه اعتکاف په رمضان کی کیږی او پـه آخری عشره کی کیږی او دا د روژو وخت وی نو مناسب ده چه اعتکاف د روژو سره ذکر کړے شی۔

اعتکاف پـه لـغـت کـی حبس او لزوم ته وائی یعنی په یو ځای کی بندیدل او خپل ځان په یو شی بانـدے بند ساتل۔ دارنګه (اَلْاِقْبَالُ عَلَی الشَّیْءِ عَلٰی وَجْهِ التَّعْظِیْمِ) یو شی ته د تعظیم په طریقه متوجه کیدو ته هم وائی، لکه معتکف منجاور ته هم وائی چه د بابا پـه خـوا کـی د تـعـظـیـم په طریقه ناست وی (چه دا ناروا کار دے)۔ او شریعت کی: (اَلْمَکْثُ فِی الْمَسْجِدِ عَلٰی وَجْهٍ مَخْصُوْصٍ عَلٰی سَبِیْلِ الْقُرْبَةِ بِشُرُوْطِهٖ) پـه مسجد کی وخت تیرول په خاص طریقه سره دپاره د ثواب په خاصو شرطونو سره)۔

مسائل الاعتکاف :

(۱) **اوله مسئله** : د یـوے ورځـے نـه کـم اعتکاف شته او که نهٔ ؟ پدے کی اختلاف دے (۱) امـام ابـو حـنیفةؒ او د نورو ډیرو علماؤ رایه دا ده چه د یوے ورځـے نه کم اعتکاف نشتـه هـغـه بـه هسے لغوی اعتکاف وی نهٔ شرعي او دا قول حق دے دا وجه ده چه واړه واړه اعتـکافونه نشته چه انسان مسجد ته ننوزی نو همیشه د اعتکاف نیتونه کوی ځـکه چه د امام ابو حنیفةؒ رایه دا ده چه په اعتکاف کی روژه ضروری ده او روژه د ورځـے نـه کـمـه نـهٔ وی او همدا خبره راجحه ده، شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ لیکی چه جمات ته د داخلیدو وخت کی بنده د اعتکاف نیت وکړی دا د نبی ﷺ او د صحابه کرامو نه نقل نهٔ دی بلکه دا بدعت دے۔ (المختارات الجلیة ص (۹۲)

صرف د یـو صـحـابـی یـعـلی بن امیه ؓ نـه عـطـاء نقل کړی کـمـا فـی حلیة الاولیاء (۳/۳۱۲) والمحلی (۳/۴۱۲) چـه هـغـه بـه پـه مسجد کی لږ ساعت دپاره کیناستو نو د

اعتكاف نيت به ئے کولو۔ **جواب** دا دے چه دا روایت ضعیف دے ابوبلال الاشعري ته دارقطني لين وئيلے دے۔ او ابن جُريج ترے په عنعنه سره نقل کړيدے۔

او امام طحاوي په شرح د مشکل الآثار (۲۵۳/۱۰) کښې وائي: (اِنَّ عَطَاءً يَرْوِيُ اَحَادِيْثَ يَعْلٰى عَنْ اَبِيْهِ وَلَانَعْرِفُ لَهُ سَمَاعًا مِنْ يَعْلٰى) : يعني عطاء د يعلیٰ نه احاديث نقل کوي ليکن د عطاء د يعلیٰ نه سماع نهٔ ده ثابته۔ نو حديث منقطع شو۔

بيا وائي چه يعلیٰ چه د اعتکاف نيت کړے نو هغه شرعي اعتکاف نهٔ دے بلکه مسجد کښې د کيناستو اراده کولو ته ئے اعتکاف وئيلے دے چه دا لغوي اعتکاف دے آه۔

او که بالفرض ثابت شي نو دا اجتهاد ددے صحابي دے چه د نورو صحابه کرامؓ نه دا نهٔ دے نقل او نهٔ نبي ﷺ دے ته دعوت ورکړيدے، ورنه اصحاب صفه خو په مسجد کښې ديره وو او د هغوي نه دا نهٔ ده ثابته چه هغوي د اعتکاف نيت کړے وي۔

او ابن حزم رحمه الله وئيلي دي چه اعتکاف ديته وائي چه په مسجد کښې د ثواب په نيت پاندے لږ ساعت دپاره ايسار شي يا يوه شپه يا ورځ وي دا ټول اعتکاف کښې داخل دي۔ ليکن پدے باندے شرعي دليل نشته خاصکر کله چه په اعتکاف کښې روژه شرط شي نو بيا دا خبره د ابن حزمؒ ضعيفه کيږي۔ اګرکه ابن حزمؒ ددے نه داسے جواب کړے چه دا منع نهٔ ده چه معتکف په حالت د روژه کښې لږ ساعت دپاره اعتکاف وکړي۔ نو روژه هم راغله او اعتکاف به هم وشي۔ ينظر المحلى (۱۸۰/۵ طبع دار الفكر) وفتاوى الدين الخالص (۴۰۵/۸)۔

نو راجحه دا ده چه داسے لږ وخت دپاره اعتکاف په مسجد کښې مستحب نشو۔

(۲) **مسئله** : اعتکاف په دوه قسمه دے (۱) واجب (۲) او سنت۔ واجب دا دے چه انسان د اعتکاف نذر وکړي نو که هغه هرڅومره موده وي اګرکه يوه ورځ وي نو د هغے پوره کول به لازم وي لکه د عمر فاروقؓ نذر پرے دليل دے، روستو راځي۔

او سنت اعتکاف دا دے چه د رمضان په آخري لسو شپو کښې د اعتکاف نيت وکړي په خاص طريقه سره۔ دا د ايمان يوه شعبه ده چه هر مؤمن له پدے کښې حصه اخستل پکار دي، په عمر کښې يو کرت خامخا پکار دي چه پدے نيک عمل باندے انسان عمل وکړي۔

او مستحب اعتکاف دا دے چه په عامو اوقاتو کښې ئے وکړي په غير د رمضان نه يوه

ورځ وی یا زیات۔

۳- نادره مسئله : اعتکاف په کوم ځای کی کیږی او په کوم ځای کی نهٔ ؟۔

پدے کی درے قولـه دی (۱) د حذیفه بن الیمان ﷺ، او پـه تـابـعینو کی د سعید بن المسیبؒ او عطاء بن ابی ریاحؒ قول دے او پدے زمانه کی د بعض اهل حدیثو دے چه اعتکاف صرف پـه درے مساجدو کی کیږی چه هغه مسجد حرام، مسجد نبوی او مسجد اقصیٰ دی، عطاءؒ وائی چه صرف په دوه مساجدو کی مسجد حرام او مسجد نبوی کی کیږی۔ مصنف عبد الرزاق (۴/۳۴۹/۸۰۱۸) باسناد صحیح۔

دلیل :۱- (عَنْ أَبِي وَائِلٍ : قَالَ : قَالَ حُذَيْفَةُ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ : عُكُوْفٌ بَيْنَ دَارِكَ وَدَارِ اَبِي مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ لَا تُغَيِّرُ (وَفِي رِوَايَةٍ : لَا تَنْهَاهُمْ؟) وَقَدْ عَلِمْتَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : لَا اِعْتِكَافَ اِلَّا فِي الْمَسَاجِدِ الثَّلَاثَةِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَمَسْجِدِ النَّبِيِّ ﷺ وَمَسْجِدِ بَيْتِ الْمُقَدَّسِ) قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ : لَعَلَّكَ نَسِيْتَ وَحَفِظُوْا، وَأَخْطَأْتَ وَأَصَابُوْا)

(بیهقی ۴/۳۱۶) مشکل الآثار للطحاوی (۴/۲۰) وابن ابی شیبة فی المصنف (۲/۹۱) والالبانی فی قیام رمضان الطبعة الثانية والسلسلة الصحیحة رقم (۲۷۸۶) والفاکهی فی اخبار مکة (۲/۱۴۹) کما قال الالبانی فی الصحیحة رقم (۲۷۸۶) وسیر اعلام النبلاء (۱۵/۸۱) کلهم مرفوعًا والطبرانی فی الکبیر (۹/۳۴۹) موقوفا وعبد الرزاق (۴/۳۴۷، ۳۴۸) موقوفا

ترجمه : ابوائلؒ وائی، حذیفه بن الیمان ﷺ (په کوفه کی په یو مسجد کی څه خلك په اعتکاف ولیدل) نو عبد الله بن مسعود ﷺ تـه ئـے وفـرمـایل : ستا او د ابوموسی الاشعریؓ د کور تر مینځ چه کوم مسجد دے په هغے کی خلك اعتکاف ته ناست دی دوی نـهٔ مـنـع کوے؟ او حال دا چه تا ته معلومه ده چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی: چه اعتکاف نشته مګر صرف په درے مساجدو کی......)

نو عبد الله بن مسعود وفرمایل: شاید چه تا نه به خبره هیره شوی وی او هغوی به یاده کړی وی او تهٔ به خطاء ئے او هغوی به حق ته رسیدلی وی۔

او د حذیفهؓ د یو موقوف روایت د الفاظو ترجمه داسے ده : ((حـذیفهؓ ووییل : زهٔ باك نهٔ کوم چه پدے مسجد کی اعتکاف وکړم یا ستاسو په دے کورونو کی، او حال دا چه اعتکاف صرف پـه دے درے مساجدو کی دے، مسجد حرام او مسجد المدینه او مسجد اقصیٰ))۔ (طبرانی) او د بل موقوف روایت الفاظ داسے دی : (أَمَّا أَنَا فَقَدْ عَلِمْتُ

بِأَنَّهُ لَا اِعْتِكَافَ اِلَّا فِيْ هٰذِهِ الْمَسَاجِدِ الثَّلَاثَةِ مَسْجِدِ الْمَدِيْنَةِ وَمَسْجِدِ مَكَّةَ وَمَسْجِدِ اِيْلِيَاءَ)
(طبرانی فی الکبیر ورجاله رجال الصحیح مجمع الزوائد باب الاعتکاف (۳/٤٠٤) (٥٠٢٦)

هرچه زهٔ یم نو ما ته یقیناً معلومه ده چه اعتکاف نشته مگر پدے درے مساجدو کی.....).

دا حدیث ډیرو علماؤ صحیح گرځولے دے یو د هغوی نه شیخ البانی رحمه الله دے. او هغه پدے یوه رساله هم لیکلے ده چه په شپږم جلد د سلسله کی ذکر ده.

دا علماء وائی چه دا حدیث صحیح دے او دا تخصیص راولی په عموم د قرآن کریم کی چه هغه دا آیت دے: ﴿وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَاَنْتُمْ عَاكِفُوْنَ فِي الْمَسَاجِدِ﴾ (بقره:۱۸۷)

نو قرآن کریم کی مساجد عام ذکر دی او په حدیث کی ئے تخصیص په دریو باندے وشو نو بس اعتکاف به په درے مساجدو پورے خاص وی او په نورو مساجدو کی به نهٔ کیږی.

او هرچه ابن مسعود ﷺ دے نو هغه د حذیفهؓ مرفوع حدیث نهٔ دے رد کړے بلکه هغه په دغه حدیث کی تاویل وکړو چه کیدے شی چه د هغه اعتکاف کونکو خبره صحیح وی او ستا رد کول په دغه اعتکاف کونکو باندے صحیح نهٔ وی ځکه چه کیدے شی چه د ابن مسعودؓ په نیز باندے د دغه حدیث مطلب دا وی چه کامل اعتکاف په دغه درے مساجدو کی کیږی او نفس جواز په هر جامع مسجد کی شته.

او د ابن مسعودؓ همدا مذهب وو چه په هر جامع مسجد کی کیږی لکه روستو راځی. نو اعتبار به مرفوع روایت له وی.

دویم دلیل : د ابن عباسؓ نه نقل دی چه هغه فرمائی : اِنَّ اَبْغَضَ الْاُمُوْرِ اِلَى اللهِ الْبِدَعُ وَاِنَّ مِنَ الْبِدَعِ الْاِعْتِكَافَ فِي الْمَسَاجِدِ الَّتِيْ فِي الدُّوْرِ) (بیهقی ٤/٣١٦) تنقیح التحقیق فی احادیث التعلیق (۱۹۹۸) (ډیر مبغوض څیزونه الله تعالیٰ ته بدعتونه دی او یقیناً بعض د بدعاتو نه اعتکاف کول دی په هغه مساجدو کی چه په محلو کی دی). یعنی هغه واړه کلی چه په هغے کی د جُمعے مونځ نهٔ کیږی.

جواب دا دے چه دا روایت ضعیف دے د لیث بن ابی سلیم د وجه نه، او دارنگه یحیی بن ابی کثیرؒ مدلس دے او تصریح بالسماع ئے نهٔ ده کړے. بلکه د ابن عباسؓ نه

ددے مخالف روایت روستو ذکر کیږی۔

(۲) **قول ثانی** : جمهور علماء او ابن حزمؒ وائی چه اعتکاف په هر جامع مسجد کی کیږی۔ ابن حزمؒ خو وائی چه په دغه مذکوره حدیث کی شك واقع شویدے ځکه چه په سنن د سعید بن منصور کی داسے الفاظ راغلی دی : (لَا اِعْتِكَافَ اِلَّا فِي الْمَسَاجِدِ الثَّلَاثَةِ اَوْ قَالَ : مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ) (اعتکاف نشته مګر په دریے مساجدو کی یا ئے داسے وویل : په جامع مسجد کی) هغه وائی: پدے روایت کی شك دے یا د حذیفةؓ نه یا د هغه د لاندے راویانو نه او په شك باندے یقینی شے نشی پریخودل کیدے لهذا دے روایت له هغه اعتبار نۀ ورکوی (المحلی ۳/٤۳۱)۔

لیکن هغه پدے باب کی معذور دے ځکه چه هغه ته دا روایت په شك سره صرف د سنن د سعید بن منصور نه رسیدلے او بغیر د شك نه د ابن عیینةؒ نه ډیرو راویانو نقل کړے چه هغه ټول ثقات حفاظ دی چه هغه شیخ البانی رحمه الله تفصیلا په السلسلة الصحیحة رقم (۲۷۸٦) کی ذکر کړیدی هغے ته رجوع وکړه۔

بیا د جمهورو خپل مینځ کی اختلاف دے

(۱) عام جمهور وائی چه په هر مسجد کی چه جماعت سره پکی مونځ کیږی مؤذن او امام لری نو په هغے کی اعتکاف جائز دے۔ او دا قول امام نوویؒ غوره کړیدے۔ (المجموع (٦/٤۷٤) او دا قول د ابن عباس، عائشه، علی بن ابی طالب رضی الله عنهم او د حسن بصریؒ، عروه بن الزبیرؒ، سعید بن جبیرؒ، ابراهیم النخعیؒ، ابو الاحوصؒ، احناف او حنابلةؒ دے او دا امام بخاریؒ هم غوره کړے هغه فرمائی: (بَابُ الْاِعْتِكَافِ فِي الْمَسَاجِدِ كُلِّهَا) : (بیان ددے چه اعتکاف په ټولو مساجدو کی جائز دے)۔

دلیل : قرآن کریم کی عام الفاظ راغلی دی : ﴿وَاَنْتُمْ عَاكِفُوْنَ فِي الْمَسَاجِدِ﴾ (بقره: ۱۸۷) نو بس په هر مسجد کی به اعتکاف جائز وی۔

(۲) شوافعؒ ، مالکیةؒ، (زهریؒ، حکم بن عُتَیبةؒ، حماد بن سلمةؒ) وغیره علماء وائی چه صرف په هغه مسجد کی کیږی چه جامع وی یعنی د جُمعے مونځ پکی کیږی ځکه چه اعتکاف دپاره دا شرط دے چه انسان به د مسجد نه بهر نۀ وځی او چه کله بنده د جُمعے مانځه دپاره وځی نو اعتکاف ئے خرابیږی نو په داسے مسجد کی به اعتکاف

کوی چه د جُمعے مونځ پکی کیږی۔ او پدے کی احتیاط دے۔ مګر کوم علماء چه جُمعے ته واجب وائی نو هغه وائی چه واجب دپاره وتل جائز دی۔

دلائل : ۱- عائشه رضی الله عنها فرمائی : (اَلسُّنَّةُ عَلَى الْمُعْتَكِفِ اَنْ لَّا يَعُوْدَ مَرِيْضًا وَلَا يَشْهَدَ جَنَازَةً وَلَا يَمَسَّ الْمَرْأَةَ وَلَا يُبَاشِرَهَا وَلَا يَخْرُجَ لِحَاجَةٍ اِلَّا لِمَا لَا بُدَّ مِنْهُ وَلَا اِعْتِكَافَ اِلَّا بِصَوْمٍ، وَلَا اِعْتِكَافَ اِلَّا فِىْ مَسْجِدٍ جَامِعٍ) (ابوداود ۱/۳۴۲) وسنده حسن صحیح کما فی صحیح ابی داود : ۲۱۳۵) (د معتکف دپاره دا سنت دی چه د بیمار تپوس به نهٔ کوی، او جنازے ته به نهٔ حاضریږی او بی بی ته به ګوتے نهٔ وری او نهٔ به ورسره مباشرت کوی او نهٔ به ووځی د یو حاجت دپاره مګر هغه چه خلاصے ترے نهٔ وی او اعتکاف نشته مګر په روژے سره او اعُتکاف نشته مګر په جامع مسجد کی)

دا ښکاره دلیل دے ځکه چه دلته عائشه رضی الله عنها د (السنة) لفظ استعمال کړو او په مصطلح الحدیث کی دا خبره ثابته ده چه کله صحابی د سنت لفظ استعمال کړی نو ددے نه به د نبی ﷺ سنت مراد وی لکه دا راجح قول دے نو دلته دا مرفوع حدیث شو۔ امام ابوداودؒ پدے کی دا کلام کړیدے چه د عبد الرحمن بن اسحاق راوی نه علاوه نور راویان پکی د سنت لفظ نهٔ ذکر کوی بلکه دا ئے د عائشہؓ خپله وینا ګرځولے ده او حافظ ابن حجرؒ هم وئیلی دی چه اَلرَّاجِحُ وَقْفُ آخِرِهٖ۔ راجح دا ده چه دا آخری الفاظ موقوف دی۔ (بلوغ المرام)۔

مګر مونږ وایو چه دا سبب د ضعف نهٔ ګرځی ځکه چه عبد الرحمن بن اسحاق هم صدوق راوی دے او ددهٔ دوه متابعین شته چه هغه ابن جریجؒ او عقیلؒ دی چه دارقطنیؒ د ابن جریجؒ نه (۲۳۶۳) (۲/۲۰۱) او بیهقیؒ (۴/۳۱۵/۳۱۶) د عقیلؒ نه نقل کړیدی انظر الارواء (۴/۱۳۹-۱۴۰)۔

ددے وجه نه شیخ البانی رحمه الله دا روایت حسن صحیح ګرځولے دے نو د عائشہؓ مذهب هم دا دے چه اعتکاف په هر جامع مسجد کی کیږی او روایت ئے هم ددے مطابق پیش کړونو چا یو نقل کړو او چا بل۔ پدے کی هیڅ اشکال نشته۔ لکه دا خبره ابن الترکمانیؒ هم کړیده او رد ئے کړے په هغه چا چه دا ئے قول د عائشہؓ ګرځولے یا د زهریؒ ګرځولے بلکه هغه وئیلی دی چه دا د (السنة) لاندے دے او دا په حکم د مرفوع کی وی۔ انظر المرعاة (۷/۱۶۷)

او خاصكر په روايت د حذيفةؓ كې شك هم راغلې دې ځكه چه په هغې كې يو لفظ (او مسجد جماعة) هم راغلې دې۔ نو هغه ددې روايت سره ملګرې كړه نو قوت پيدا كوي۔

۲- دليل : د ابن عباس رضى الله عنهما روايت دې :

حَدَّثَنَا قَتَادَةُ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَالْحَسَنَ قَالَا : لَا اِعْتِكَافَ اِلَّا فِىْ مَسْجِدٍ تُقَامُ فِيْهِ الصَّلَاةُ)

البيهقى (٣١٦/٤) (٨٣٥٥) (تنقيح التحقيق لا بن عبد الهادى رقم : ١٩٩٧) واسناده صحيح۔

عبد الله بن عباس رضى الله عنهما او حسن بصرىؒ دواړه وائى چه اعتكاف نشته مگر په هغه مسجد كې چه په هغې كې مونځ (جمعې سره) كيږي۔

دا صحيح روايت دې قتادةؒ پكې تصريح بالتحديث كړې او دا دليل دې چه اعتكاف په هر جمعې والا مسجد كې كيږي او دا رد كوي هغه مخكنى روايت د ابن عباسؓ چه په عامو مساجدو كې ئې اعتكاف ته بدعت وئيلې دې ځكه چه هغه د سند په اعتبار سره ضعيف وو۔

۳- د على بن ابى طالب ﷺ نه نقل دى :

(وَلَا اِعْتِكَافَ اِلَّا فِىْ مَسْجِدٍ جَامِعٍ) (مصنف عبد الرزاق (٣٤٦/٤رقم : ٨٠٠٩)۔

اعتكاف نشته مگر په جامع مسجد كې)۔ دا روايت د سند په لحاظ ضعيف دې ځكه چه په سند كې ئې جابر جعفىؒ دې او په هغه كې كلام مشهور دې۔

٤- د عائشې رضى الله عنها خپل قول دې : (لَا اِعْتِكَافَ اِلَّا فِىْ مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ) (البيهقى فى السنن الكبرى (٣١٥/٤ و ٣٢٠) وشعب الايمان (٤٢٤/٣) من طريق عقيل عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ بِهٖ، واسناده صحيح) : اعتكاف نشته مگر په هغه مسجد كې چه جماعت پكې كيږي۔ او دغه شان الفاظ عروه بن زبير ﷺ نه هم نقل دى چه هغه دا فتوى وركړې ده۔ (مصنف عبد الرزاق (٣٤٧/٤، ٨٠١٠) ابن ابى شيبة فى المصنف (٩٦٧٦/٣٣٧/٢ باسناد صحيح عنه)۔

٥- منصور بن المعتمرؒ وائى: (كَانَ سَعِيْدُ بْنُ جُبَيْرٍ يَعْتَكِفُ فِىْ مَسْجِدِ قَوْمِهٖ) (عبد الرزاق ٨٠١٢/٣٤٧/٤) باسناد صحيح۔ سعيد بن جبير تابعىؒ به د خپل قوم په مسجد كې اعتكاف كولو۔

٦- ابراهيم نخعى تابعىؒ وائى : (لَابَأْسَ بِالْاِعْتِكَافِ فِىْ مَسَاجِدِ الْقَبَائِلِ) (عبد

الرزاق ٤/٣٤٧ وابن ابی شيبة (٢/٣٣٧/٩٦٦٥) باسناد صحيح)۔

باك نشته چه د قبائلو په مساجدو كی اعتكاف وكړی۔

۷- عمرو بن عامرؒ وائی: (كَانَ اَبُوالْاَحْوَصِ يَعْتَكِفُ فِیْ مَسْجِدِ قَوْمِهٖ) (عبد الرزاق وابن ابی شيبة باسناد صحيح)

ابوالاحوصؒ به د خپل قوم په مسجد كی اعتكاف كولو۔

دا تقريباً د عام امت مذهب دے لهذا په هر مسجد كی اعتكاف جائز دے د وجه د دغه مذكوره آيت، او مرفوع روايت او د موقوف آثارو او د مقطوع رواياتو نه۔ لكه دا رايه د ابن عثيمينؒ هم ده كما فی فتاوی رمضان (٢/٨٧٥) او دا رايه د مقبل بن هادی الوادعیؒ هم ده۔ ليكن چه مسجد جامع وی دغه قول راجح دے۔

او هرچه دغه حديث د حذيفهؓ دے (لَااِعْتِكَافَ اِلَّا فِی الْمَسَاجِدِ الثَّلَاثَةِ) نو مونږ وايو چه دلته د اعتكاف نه كامل او ډير اجر والا اعتكاف مراد دے يعنی لا اعتكاف كاملًا۔ په دغه دريے مساجدو كی اعتكاف كی ډير اجر دے او نورو مساجدو كی د دغه دلائلو د وجه نه اجازه شوه ددے مثال داسے دے لكه (لَا اِيْمَانَ لِمَنْ لَا اَمَانَةَ لَهٗ وَلَا دِيْنَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهٗ): يعنی لَا اِيْمَانَ كَامِلًا۔ كامل ايمان د هغه چا نۀ دے چه د امانت حفاظت نۀ كوی۔

او دا تاويل مونږ پدے وجه كوو چه د ابن مسعود ﷺ په باره كی راځی (عَنْ شَدَّادِ بْنِ الْاَزْمَعِ قَالَ : اِعْتَكَفَ رَجُلٌ فِی الْمَسْجِدِ الْاَعْظَمِ وَضَرَبَ خَيْمَةً فَحَصَبَهُ النَّاسُ فَبَلَغَ ذٰلِكَ ابْنَ مَسْعُوْدٍ فَاَرْسَلَ اِلَيْهِ رَجُلًا فَكَفَّ النَّاسَ عَنْهُ وَحَسَّنَ ذٰلِكَ) (ابن ابی شيبة فی المصنف ٣/٩١) (٨٠١٥) عبد الرزاق (٢/٣٣٧) (٩٦٧١)۔

(شداد بن الازمع وائی : (په كوفه كی) يو سړی په لوی مسجد كی اعتكاف كړلو او خيمه ئے وهلے وه نو خلكو هغه منع كولو نو دا خبره ابن مسعودؓ ته ورسيده هغه وريسے سړے راوليږلو (چه بيرته كينه) نو خلك ئے د هغه نه بند كړل او ددے سړی تحسين ئے وكړو(چه تا ښه كار كړيدے)۔

دارنګه د عائشے رضی الله عنها په باره كی راځی چه هغے په ثبير غر كی (چه دا منیٰ طرفته (په مزدلفه كی) دے) اعتكاف كړے وو او هغے ته به د هغے يو غلام امامتی كوله او عطاءؒ وائی زۀ او عبيد بن عمير الليثیؒ به هلته ورتللو او د هغے نه به مو تپوسونه كول الخ وَهِیَ مُجَاوِرَةٌ بِثَبِيْرٍ)

(بخاری: ۲۹۱٤) وعبد الرزاق ۱۸٦/۳ رقم: ۱۳۳۰۲) وابن ابی شيبة (۱۳٤٦۹)

عائشةؓ باندے چه انکار نۀ دے کړے مګر خپل ورور ورته وویل چه ما ته د بیت الله په خوا کی جوار غوره ښکاری لیکن دا هغې په ځان نذر کړے وو چه خامخا به ئے پوره کوی۔ او دا وجه ده چه ابن مسعود ﷺ حذیفه ﷺ ته وویل چه شاید چه تۀ به خطاء ئے۔

او هرکله چه دومره دلائل موجود دی نو په دغه حدیث د حذیفةؓ سره د قرآن کریم په عموم کی تخصیص نۀ دی راوستل پکار، دا تخصیص به مونږ هله کولے چه بل طرفته هیڅ دلیل نۀ وے او صرف په دغه درے مساجدو کی اعتکاف ذکر وے۔ او که مونږ تخصیص وکړو نو بیا به ددے نورو صحابه کرامو دا عملونه د حدیث خلاف شی نو غوره دا ده چه په دغه روایت د حذیفةؓ کی تاویل وکړو د وجه د آیت او د دغه نورو دلائلو نه۔

بعض علماؤ خو لا دا تائید هم پیش کړے چه د دغه حدیث د حذیفةؓ په باره کی غوره خبره دا ده چه دغه موقوف روایت دے او مرفوع نۀ دے ځکه چه دا صحیحینو، صحیح ابن خزیمه، صحیح ابن حبان او مستدرك او المختارة کی نۀ دے راغلے حال دا چه دوی ډیر حرص کوی چه مرفوع روایت نقل کړی۔ بلکه دا ئے د طحاویؒ، اسماعیلیؒ، بیهقیؒ او ابن حزمؒ په شان خلکو ته پریښے دے۔ او دغه شان دا ئے هم وئیلی دی چه دا روایت معلول دے په وقف او اضطراب سره ځکه چه کله (لَا اِعْتِكَافَ اِلَّا فِي الْمَسَاجِدِ الثَّلَاثَةِ اَوْ مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ) الفاظ راځی او کله (لَا اِعْتِكَافَ اِلَّا فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَوْ فِي الْمَسَاجِدِ الثَّلَاثَةِ) او په یو روایت کی (لَا اُبَالِيْ اَعْتَكِفُ فِيْ سُوْقِكُمْ هٰذِهٖ) او په یو روایت کی (وَلَا اُبَالِيْ اَعْتَكِفُ فِيْ بُيُوْتِكُمْ) او کله مرفوع نقل کیږی او کله موقوف نو دا اضطراب پیدا کوی۔ لهذا پدے کی دغه تاویل متعین دے۔

دارنګه دا ئے هم وئیلی دی چه پدے روایت کی تدلیس د سفیان بن عیینةؒ دے ځکه چه سند داسے دے: قَالَ سَعِيْدُ بْنُ مَنْصُوْرٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ جَامِعِ بْنِ اَبِيْ رَاشِدٍ عَنْ شَقِيْقِ بْنِ سَلَمَةَ (اَبِيْ وَائِلٍ) قَالَ: قَالَ حُذَيْفَةُ ......الخ (المصادر المذكورة)

نو دلته سفیان عنعنه کړیده او د مدلس راوی عنعنه روایت ضعیف کوی۔ او د سفیان عنعنه اګرکه مقبوله ده لیکن زبیر صاحبؒ وائی چه سفیان کله کله د ضعفاؤ نه هم تدلیس کړیدے۔

حافظ زبیر علیزئ (رحمه الله وتغمده بغفرانه واسکنه فی فسیح جنانه) پکی دا خبره هم نقل کړیده چه مسجد اقصیٰ ددے حدیث د وینا په وخت د مسلمانانو په لاس کې نۀ وو بلکه دا سیدنا عمر فاروقؓ په حدودو د سنه (۱۵ هـ) کی فتح کړے وو نو گویا که د متن په لحاظ هم پکی خدشات شته لهذا پداسے قسم روایت سره د قرآن کریم د عموم تخصیص نشی کیدے ځکه چه دغه روایت مفید د یقین او متلقی بالقبول نۀ دے۔ والله تعالیٰ اعلم۔ راجع للتفصیل فتاوی الدین الخالص (۸/۳۹۵/۴۰۰)۔

٤- **مسئله** : زنانه په کور کی اعتکاف کولے شی؟

(۱) مالکیة، حنابلة، شوافعؒ او داودؒ او ابن حزم ظاهریؒ وائی چه مسجد ورله شرط دے، او کورونو کی اعتکاف بدعت دے ځکه چه آیت کی ﴿وَأَنْتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ﴾ (بقره :۱۸۷) راغلے دے یعنی مباشرت په حالت د اعتکاف کی په مسجد کی حرام دے نو که چرته کورونو کی اعتکاف جائز وے نو هغه به ئے هم ذکر کړی وے حال دا چه صرف مساجد ذکر دی۔ لکه دا استدلال امام بخاریؒ هم کړیدے۔

۲- **دلیل** : د رسول الله ﷺ د بیبیانو (امهات المؤمنین) نه دا چرته نۀ دی نقل چه هغوی په خپلو کورونو کی اعتکاف کړے وی۔

۳- یو ځل رسول الله ﷺ په مسجد کی د خپلو بیبیانو خیمے ولیدلے نو وے فرمایل : (آلْبِرَّ تُرَوْنَ بِهِنَّ) وَفِيْ رِوَايَةٍ : آلْبِرَّ تُرِدْنَ بِهِنَّ (بخاری)

آیا دوی بانديے تاسو پدے کار کی د نیکئ گمان کوئ، یعنی دوی خو دا خیمے د یو بل د سیالئ دپاره وهلی دی نو بیا ئے حکم وکړو چه دا خیمے ورانے کړئ او خپله هم اعتکاف نه ووتلو۔ نو که کور کی اعتکاف جائز وے نو دے بیبیانو به په مسجد کی خیمے نۀ وهلے او نبی ﷺ به دوی ته حکم کړے وے چه کور کی خیمے ووهئ سره د هغے نه چه هغوی ډیرے حیاناکے وے۔

٤- **دلیل** : لَا اِعْتِكَافَ اِلَّا فِیْ مَسْجِدٍ جَامِعٍ) والا روایت پرے دلیل دے چه د هرچا دپاره د جامع مسجد نه علاوه اعتکاف صحیح نۀ دے۔

(۲) احنافو خلاف کړے هغوی وائی چه زنانه په خپل کور کی اعتکاف کولے شی او دا قول ابراهیم نخعیؒ او سفیان ثوریؒ ته منسوب دے۔ بلکه علامه ابن قدامةؒ صاحب د المغنی د امام ابوحنیفةؒ نه نقل کړی چه هغه وائی د زنانه په مسجد الجماعة کی

اعتکاف صحیح نهٔ دے ځکه چه نبی ﷺ مسجد کی اعتکاف پریخے دے کله ئے چه د خپلو بیبیانو خیمے په مسجد کی ولیدلے، بیا ئے ددے نه جواب ورکړے چه دا خبره خطاء ده ځکه چه ﴿وَاَنۡتُمۡ عَاكِفُوۡنَ فِي الۡمَسَاجِدِ﴾ ددے تردید کوی ځکه چه شرعی مسجد هغه دے چه هغه د مانځه دپاره تیار شوے وی او جمعے پکی کیږی او دا حکم د سړو او ښځو تولو دپاره عام دے او د دغه حدیث مطلب هغه نهٔ دے کوم چه امام ابوحنیفهؒ اخستے دے بلکه ددے مطلب دا دے چه نبی ﷺ په دے بیبیانو باندے ویریدو چه پدے وخت کی به د دوی په نیت کی نقصان وی او مقصد کی به ئے خلل وی۔ آه۔ المغنی لابن قدامة (۱۲۹/۳)

صاحب د کشاف القناع (۳۵۱/۲) وائی : حربؒ په جید سند سره د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړیدی چه د هغه نه تپوس وشو په باره د هغه ښځه کی چه اعتکاف د خپل کور په مسجد کی کوی نو هغه وفرمایل: دا بدعت دے او ډیر مبغوض په اعمالو کی الله تعالیٰ ته بدعتونه دی))۔

او اعتکاف په مانځه باندے قیاس کول صحیح نهٔ دی ځکه چه د سړی نفل مونځ په کور کی افضل دے او اعتکاف ئے په کور کی نهٔ کیږی۔

دارنګه اعتکاف عبادت دے نو دے دپاره مسجد شرط دے د سړی په حق کی نو د ښځے په حق کی هم ورله مسجد شرط دے لکه د طواف په شان۔ لنډه دا چه د احنافو سره پدے خبره هیڅ صحیح حدیث نشته او نهٔ د صحابه کرامؓ اعمال شته بلکه دلیل ئے قیاس دے چه د نص په مقابله کی مردود دے۔

الفصل الاول

- 2097 (1) وَعَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتّٰى تَوَفَّاهُ اللّٰهُ ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی : نبی کریم ﷺ به د رمضان په آخری لسو شپو کی اعتکاف کولو تردے چه الله تعالیٰ وفات کړو بیا به د هغه نه روستو د هغه بیبیانو اعتکاف کولو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : تعصب مذهبی او ړوند تقلید ډیر بد شے دے، انسان په تحریفاتو کی واقع

کوی دلته ملاعلي القاريؒ په مرقاة کی ددې حدیث یو خطاء تاویل کړې وائی چه (ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ أَيْ فِيْ بُيُوْتِهِنَّ) یعنی د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو به د هغه بیبیانو اعتکاف کولو یعنی په خپلو کورونو کی۔ دا ډیر ناروا تاویل دې بلکه ظاهر ددې حدیث نه او د سیرت نه دا ده چه دا اعتکاف به دوی په مسجد کی کولو۔ نۀ په کورونو کی۔

بیا دا حدیث دلیل دې چه زنانه او سړی په اعتکاف کی برابر دی او اعتکاف یوائې د سړو خصوصیت نۀ دې دا وجه ده رسول الله ﷺ به خپلو بیبیانو ته اجازت ورکولو چه د هغه سره اعتکاف وکړی۔ (نوویؒ)

بیا بیبیانو اعتکاف ولې کولو دې دپاره چه د نبی ﷺ د وفات نه روستو د هغه سنت راژوندی کړی او د هغه طریقه باقی پاتی شی۔ او پدې کی دې ته اشاره ده چه اعتکاف د نبی ﷺ په وفات باندې منسوخ نۀ دې بلکه روستو هم شویدې، او د زنانو د اعتکاف دپاره شرط دا دې چه د خاوند اجازه به ورته شوی وی او پدې کی به څه فتنه کی نۀ واقع کیږی، دارنګه په مونځ کونکو به ددې په وجه مسجد نۀ تنګیږی۔

بیا په آخری عشره کی اعتکاف پکار دې ځکه چه پدې کی لیلة القدر راځی نو په هغې کی به کوشش وکړی نو ډیر خیر به حاصل کړی۔

حتی توفاه الله : ددې حدیث د ظاهر نه معلومیږی چه نبی ﷺ اعتکاف هیڅکله نۀ دې پریښې مګر په روایت د صحیحینو کی ددې ترك هم ذکر دې چه هغه داسې دې:

((نبی ﷺ به په هر رمضان کی اعتکاف کولو کله چه به ئې سهار مونځ وکړو نو هغه ځای ته به راغلو کوم ځای چه به ئې اعتکاف کولو (یعنی کوټنۍ ته به راغلو) نو عائشې ترې اجازه واخسته چه د نبی ﷺ سره اعتکاف وکړی نو هغې ته ئې اجازه وکړه نو هغې په مسجد کی خیمه ووهله نو ددې نه حفصۀ خبره شوه نو هغې هم خپله خیمه په مسجد کی ووهله بیا زینبؓ خبره شوه نو هغې بله خیمه ووهله، کله چه نبی ﷺ د سهار مانځه نه راوګرزیدو نو څلور خیمې ئې ولیدلې نو وې فرمایل: دا څه دی؟ نو د دوی خبر ورکړې شو نو وې فرمایل : (مَا حَمَلَهُنَّ عَلَى هَذَا الْبِرُّ انْزِعُوهَا) نۀ دی راپورته کړی دوی لره پدې کار باندې نیکۍ (بلکه دوی ډ یو بل سره سیالی کوی)،

اُوباسئ دا خيمې) نو هغه ويستلې شوې نو نبي ﷺ په رمضان کې اعتکاف ونکړو تردې چه د شوال په لسو ورځو کې ئې اعتکاف وکړو»۔

- 2098 (2) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَجْوَدَ النَّاسِ بِالْخَيْرِ وَكَانَ أَجْوَدَ مَا يَكُوْنُ فِيْ رَمَضَانَ وَكَانَ جِبْرِيْلُ يَلْقَاهُ كُلَّ لَيْلَةٍ فِيْ رَمَضَانَ يَعْرِضُ عَلَيْهِ النَّبِيُّ ﷺ الْقُرْآنَ فَإِذَا لَقِيَهُ جِبْرِيْلُ كَانَ أَجْوَدَ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيْحِ الْمُرْسَلَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او سيدنا ابن عباس رضى الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ د ټولو خلکو نه په نيکئ (ښيګړه) کې ډير سخي وو او ډير سخي کيدل د هغه به په رمضان کې وو او په رمضان کې به د هغه سره جبريل ﷺ هره شپه ملاقات کولو چه په هغه باندې به نبي کريم ﷺ قرآن پيش کولو (يعني دور به ئې ورسره کولو) نو کله چه به د هغه سره جبريل (عليه السلام) ملاؤ شو نو هغه به په نيکئ سره د راليږلې شوې هوا نه هم زيات سخي وو۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : يعني نبي عليه السلام به په رمضان کې په هره شپه کې د جبريل ﷺ سره دَور کولو څومره قرآن چه به نازل شوې وو هغه به ئې ورته دوباره تيرولو چه که کومه غلطي پکې وي هغه ترې وباسي يا څه چه الله منسوخ کول غواړي هغه منسوخ کړي او څه باقي پريدي او دې دپاره د بخاريؒ په بل روايت کې داسې الفاظ استعمال شويدي : (فَيُدَارِسُهُ الْقُرْآنَ) يعني مدارسه (دور) به ئې ورسره کولو۔ مدارسه ديته وائي چه تهٔ په بل چا باندې يوه معلومه اندازه ولولې بيا هغه ئې په تا باندې ولولي۔ يا دا چه هغه هم په دغه اندازه د هغه ځاي نه روستو ولولي کوم ځاي پورې چه تا لوستلې وو۔

او کله چه به ئې دا قرآن ولوستلو نو په دغه ورځ به د نبي ﷺ د هوا نه زيات سخا کونکې وو هر قسمه فائده به ئې هر چا ته ورکوله لکه څنګه چه هوا په هر چا باندې رالوزي څکه چه قرآن سره زړهٔ کې نرمي پيدا کيږي چه انسان بيا هر قسم خير او نيکئ کولو ته ډير په ښائسته انداز تيار وي۔ بعض حکمت داسې ذکر کوي چه د قرآن په لوستلو سره په انسان کې د نفس غِنىٰ او مالداري پيدا کيږي او هغه ورله راتازه کوي او غِنىٰ سبب د سخا دې او سخا په شريعت کې دې ته وائي چه اعطاء د (مَا يَنْبَغِيْ

لِمَنْ يَّنْبَغِيْ) وشي يعني مناسب شي مناسب شخص ته ورکړے شي۔ يعنی هرچا ته د هغه د حال مناسب شے ورکول او داد صدقے نه عام دے۔

وَكَانَ أَجْوَدَ مَا يَكُوْنُ : ما مصدريه ده او (يكون) په معنیٰ د جمع دے ځکه چه افعل التفضيل جمع ته مضاف کيږی او (في رمضان) په محل د نصب کی حال دے قائم مقام د خبر دے نو معنیٰ ئے دا ده : (وَكَانَ اَجْوَدُ اَكْوَانِهٖ فِيْ رَمَضَانَ) يعني د نبی عليه السلام ډير زيات د سخا حالتونه به پداسے حال کی وو چه دے به په رمضان کی وو۔ او دا هم جائز ده چه في رمضان خبر شی۔ يعنی وه زياته سخا د نبی عليه السلام په رمضان کی۔ دے کی نور ترکيبونه هم شته راجع المرعاة (١٤٦/٧)

فوائد : د قرآن اطلاق کله په بعض حصه هم کيږی ځکه چه رسول الله ﷺ ته لا قرآن نۀ وو مکمل شوے او جبريل عليه السلام به ورسره دور کولو۔

٢- د شپے به ئے ورسره لوستلو ځکه چه مقصد د تلاوت نه دا دے چه انسان په هغے پوهه شی او حضور ئے برابر شی او د شپے حضور او توجه زياته برابريږی ځکه چه بنده د ورځے په شواغل او کارونو باندے مشغول وی۔

٣- سخا په هر وخت کی کول پکار دی او په رمضان کی د هغے نه زيادت پکار دے او خاصکر کله چه انسان د نيکانو خلکو سره يو ځای شی۔

٤- د نيکانو او اهل خير خلکو ملاقات بار بار افضل او بهتر دے کله چه هغوی پرے نۀ تنګيږی۔

٥- رمضان د قرآن مياشت ده نو قرآن پکی زيات لوستل پکار دی۔

٦- قرآن کريم د ټولو ذکرونو نه ډير افضل ذکر دے پدے وجه نبی عليه السلام او جبريل ؑ پدے ملاقات کی بل ذکر نۀ دے کړے سویٰ د قرآن نه۔

- 2099 (3) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : كَانَ يُعْرَضُ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ الْقُرْآنُ كُلَّ عَامٍ مَرَّةً فَعُرِضَ عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ فِي الْعَامِ الَّذِيْ قُبِضَ وَكَانَ يَعْتَكِفُ كُلَّ عَامٍ عَشْرًا فَاعْتَكَفَ عِشْرِيْنَ فِي الْعَامِ الَّذِيْ قُبِضَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائی : په نبی کريم ﷺ باندے به هر کال يو ځل (په رمضان کی) قرآن پيش کولے شو. (يعنی جبريل عليه السلام به ورسره دور کولو)

او په هغه کال چه په هغې کې وفات شو په هغه باندې قرآن دوه کرته پیش کړے شو او هغه به هر کال لس شپې اعتکاف کولو مګر په هغه کال کې چه وفات شو شل شپې اعتکاف ئې وکړو۔ (بخاریؒ)

تشریح : مَرَّتَيْنِ : په کوم کال چه رسول الله ﷺ وفات کیدو په هغه کال ورسره جبریل علیه السلام په رمضان کې دوه ځل دور وکړو ددې راز بعض علماؤ دا خودلې دې چه په مصحف عثمانی کې کوم قراء ت لیکلې شوې وو هغه مضبوط کړی او په هغې باندې اقتصار وکړی او باقی پریدی۔ یا پدې وجه چه د قرآن د نزول په اول کال کې جبریل دور نۀ وو کړے ځکه چه شروع په هغې کې شوې وه نو په آخری کال کې دوه ځل وشو دې دپاره چه د کلونو او د دور شمار برابر شي۔

فَاعْتَكَفَ عِشْرِيْنَ : په آخری کال کې ئې ولې ډېل اعتکاف وکړو؟ ددې یو حکمت دا دې چه رسول الله ﷺ د خپل عمر په ختمیدو باندې پوهه شوې وو نو دا ئې غوښته چه ډیرې نیکیانې راجمع کړی دې دپاره چه امت ته دا سبق ورکړی چه کله دوی آخری عمر ته رسیږی نو په عبادت کې دې کوشش زیاتوی دې دپاره چه الله تعالیٰ سره په غوره احوالو کې ملاؤ شي۔ یا ورته جبریل علیه السلام په آخری کال کې دوه ځل دور کولو نو اعتکاف ئې هم دوه ځل وکړو۔ حافظ ابن حجرؒ وائی : قوی سبب دا دې چه ددې کال نه مخکې رسول الله ﷺ مسافر وو نو په هغې کې ترې پاتې شوې وو او پدې کال کې ئې د هغې قضائی هم راوګرځوله لکه دا په روایت د ابی بن کعبؓ کې نسائیؒ، ابوداودؒ او ابن حبانؒ نقل کړیدی۔

ددې نه معلومه شوه چه اعتکاف مضبوط سنت دی چه نبی علیه السلام به ددې قضائی هم راګرځوله نو مؤمن له پدې کې برخه اخستل پکار دی۔

- 2100 (4) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا اعْتَكَفَ أَدْنٰى إِلَيَّ رَأْسَهُ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَأُرَجِّلُهُ وَكَانَ لَا يَدْخُلُ الْبَيْتَ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ به چه کله اعتکاف کولو (نو) ما ته به ئې خپل سر رانزدې کړو او هغه به په مسجد کې وو نو ما

به هغه کمنزولو او هغه به کوتے ته د انسان د ضرورت نه بغیر نهٔ راتلو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : فَأُرَجِّلُهُ : ددے نه معلومیږی چه مُعتکف د خپلے بی بی سره لاس لګولے شی لیکن شهوت به ورسره نهٔ وی او معلومه شوه چه په آیت کی د مباشرت نه مراد په شهوت سره د هغے سره لاس لګول او جماع کول دی۔

لِحَاجَةٍ : معتکف د سخت حاجت په وخت د مسجد نه وتلے شی لکه د بول وبراز پروګرام د مسجد دپاسه نهٔ وی نو وتلے شی او ابن المنذرؒ پدے باندے اجماع د اهل علمو نقل کړیده۔ او د بول وبراز په حکم خوراك څکاك هم دے چه کله څوك راوړونکے ورله نهٔ وی نو معتکف وتلے شی یا ورته ناڅاپی قیء راشی نو د قیء د ارتولو دپاره بهر وتلے شی۔

آیا د جُمعے ورځے د غسل دپاره وتلے شی؟ نو کوم علماء چه د جُمعے ورځے غسل ته واجب وائی نو د هغه دپاره وتل ضروری ګنړی او څوك چه ورته سنت وائی نو هغوی وائی نهٔ به وځی۔ مګر ظاهر دا ده چه دغه غسل سنت مؤکد دے او واجب نهٔ دے۔ نو وتل نشته دا وجه ده چه رسول الله ﷺ به سر په مسجد کی وننڅلو څکه چه غسل به ئے نهٔ وو کړے۔

- 2101 (5) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّ عُمَرَ سَأَلَ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : " كُنْتُ نَذَرْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَنْ أَعْتَكِفَ لَيْلَةً فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؟ قَالَ :" فَأَوْفِ بِنَذْرِكَ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما روایت نقل کوی چه (یو ځل) عمر فاروقؓ د نبی کریم ﷺ نه تپوس وکړو: ما د جاهلیت په زمانه کی دا نذر کړے وو چه زهٔ به په مسجد حرام کی یوه شپه اعتکاف کوم؟ (نو آیا دا نذر پوره کړم؟) نبی کریم ﷺ وفرمایل: خپل نذر دے پوره کړه۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : سیدنا عمر فاروق ؓ دَ اسلام نه مخکی په زمانه د شرك کی نذر کړے وو چه زهٔ به په مسجد حرام کی یوه شپه اعتکاف کوم نو بیا چه کله نبی علیه السلام د حُنین د غزا نه راواپس شو او جعرانے ته راورسیدو لکه دا په روایت د بخاریؒ کی راغلی دی نو تپوس ئے وکړو چه اے د الله رسوله ! ما خو داسے نذر کړے نو نبی علیه السلام

ورته وفرمایل چه اُوس نذر پوره کړه۔ دا حدیث په دریې مسئلو دلیل دے :
(۱) یو دا چه په کفر زمانه کی چا دیو نیك عمل نذر کړے وی نو په اسلام کی به ئے پوره کوی۔ (۲) دویم دا چه نذری اعتکاف د یوے شپے په مقدار او د هغے نه زیات هم کیږی۔

آیا د اعتکاف دپاره روژه شرط ده؟

(۳) دریم : دا چه دا حدیث د هغه علماؤ دپاره دلیل دے چه وائی د اعتکاف دپاره روژے شرط نهٔ دے لکه دا قول د حنابله ؤ او شوافعو دے او دا د علی ﷺ، ابن مسعود ﷺ، سعید بن المسیبؒ، عمر بن عبد العزیزؒ، حسنؒ، عطاءؒ، طاووسؒ، شافعیؒ او اسحاقؒ نه نقل دے او یو روایت د احمدؒ نه دے۔ (۲) او د ابن عمر، ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی (عبد الرزاق ترے په صحیح سند نقل کړی) چه اعتکاف دپاره روژے شرط دے او دا قول د عائشه رضی الله عنها، زهریؒ، مالك، اوزاعیؒ، لیث، ثوریؒ او احنافوؒ دے۔ او د احمدؒ او اسحاقؒ نه مختلف قولونه نقل دی۔ (حافظؒ، وابن قدامهؒ)

کوم علماء چه وائی اعتکاف کی روژه شرط نهٔ ده هغوی دا حدیث په دلیل کی پیش کوی چه دلته د یوے شپے د اعتکاف نذر شوے او د شپے خو روژه نهٔ وی۔ نور علماء جواب ورکوی چه په بل روایت د صحیحینو کی د (لیلة) په ځای (یومًا) راغلے دے او ابن حبان دواړه روایتونه جمع کړیدی چه عمر دواړه نذرونه کړی وو یعنی یوه ورځ او یوه شپه نو چا چه شپه ذکر کړیده نو هغه ورسره ورځ هم شماری او چا چه ورځ ذکر کړے نو هغه ورسره شپه هم شماری۔ مګر دا پوره دلیل نهٔ دے ځکه چه په دواړو صورتونو کی د روژے ذکر پکی نشته۔

او حافظ په فتح الباری (۲۲۱/٤) کی د (یوماً) والا روایت شذوذ ته اشاره کړیده،

او په اعتکاف کی د روژو د شرط په باره کی امر په یو مرفوع حدیث کی راغلے دے چه هغه ابوداودؒ او نسائیؒ نقل کړے چه نبی ﷺ عمر فاروقؓ ته وفرمایل:

(اِعْتَكِفْ وَصُمْ): اعتکاف وکړه او روژه ونیسه۔ لیکن ددے په سند کی عبد الله بن بُدیل بن ورقاءؒ راوی متفرد دے او حافظ ابن حجرؒ وئیلی دی چه دا ضعیف دے او ابن عدیؒ او دارقطنیؒ وئیلی دی چه دا پدے روایت سره د عمرو بن دینارؒ نه متفرد دے (یعنی دا روایت شاذ دے) او دارقطنیؒ وئیلی دی چه عبد الله بن بدیل الخزاعی ضعیف

خزيمة (٢٢٢٦) واخرجه ابوداود (٢٤٦٤) وابن ماجه (١٧٧١)

2104 - (8) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَّعْتَكِفَ صَلَّى الْفَجْرَ ثُمَّ دَخَلَ فِيْ مُعْتَكَفِهِ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : او ام المؤمنين عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله د اعتکاف اراده وکره (نو) د سهار مونځ به ئے وکړو بیا به خپل اعتکاف خانے ته ننوتو۔ (ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح : ددے حدیث په ظاهر باندے امام اوزاعیؒ او لیث بن سعدؒ قول کړیدے چه اعتکاف د ورځے نه شروع کیږی۔ مګر جمهور علماء (ائمه اربعه وغیره) وائی چه اعتکاف د یویشتمے شپے نه شروع کیږی۔

دلیل دا دے چه په حدیث د مسلم (۲۷۱/۱) کی د ابوسعید خدری ؓ نه نقل دی چه نبی علیه السلام د شلمے شپے په صبا باندے وویل : (مَنْ كَانَ خَرَجَ فَلْيَرْجِعْ فَإِنِّيْ أُرِيْتُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فَنَسِيْتُهَا فَالْتَمِسُوْهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ فِيْ وِتْرٍ) څوك چه د اعتکاف نه وتلے وی هغه دے بیرته راواپس شی ځکه چه ما ته لیلة القدر راوخودلے شوه بیرته رانه هیره شوه نو دا په آخری لسو کی په تاکو شپو کی طلب کړئ) نو دا حدیث دلیل دے چه اعتکاف د لیلة القدر دپاره کیږی او هغه خو د شپے وی نو که انسان د یویشتمے ورځے نه کینی نو کیدے شی چه یویشتمه شپه د لیلة القدر وی هغه به ترے فوت شی۔ لکه د نبی علیه السلام په دغه اعتکاف کی لیلة القدر په یویشتمه شپه راغلے وه۔

او هر چه دا حدیث الباب دے نو پدے کی جمهورو علماؤ دا تاویل کړے چه مسجد ته به د شپے نه راتلو او بیا به خپل اعتکاف خانے (کوټنئ) ته د صبا د مانځه نه روستو ننوتو۔ یعنی دا هم جائز ده چه انسان د شپے نه کوټنئ ته ننوزی لیکن که ماسخوتن نهٔ ننوتو نو صبا پورے اجازه شته۔ مګر که یو انسان معذور وی چه د شپے مسجد ته راونهٔ رسیدو نو بیا د هغه اعتکاف د صبا نه هم شروع کیدل جائز دی د وجه ددے حدیث نه والله تعالیٰ اعلم۔

قاضی ابویعلی حنبلیؒ پدے روایت کی دا معنیٰ هم کړیده چه ددے نه مراد د شلمے شپے صبا دے یعنی نبی علیه السلام به د اعتکاف دومره اهتمام کولو چه د مخکی

نه به اعتکاف خانے ته ننوتو دا تاویل علامه سندي خوښ کړیدے او وئیلی ئے دی چه پدے سره جمع د ټولو روایاتو راځي۔ مګر دا دومره غوره نۀ دے ځکه چه بیا خو به دا خبره سنت شي چه انسان د شلمے ورځے نه اعتکاف خانے ته ننوزي او پدے باندے هیڅوك قائل نشته۔ یُرجع للتفصیل مرعاة المفاتیح (۷/۱۵۹)

درجة الحدیث : اسناده صحیح الترمذی (۷۹۱) واللفظ له واخرجه الشیخان من حدیث مطول البخاری (۲۰۳۳) ومسلم (۱۱۷۳)

- 2105 (9) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَعُوْدُ الْمَرِيْضَ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ فَيَمُرُّ كَمَا هُوَ فَلَا يُعَرِّجُ يَسْأَلُ عَنْهُ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : اوام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی : نبی کریم ﷺ به د اعتکاف په حالت کی (کله چه د انساني حاجت دپاره د مسجد نه بهر ووتو) د بیمار پوښتنه کوله نو په خپل حالت به روان وو او نۀ به ایساریدو (بلکه په روانه به ئے) د هغه پوښتنه کوله۔ (ابوداودؔ، ابن ماجهؔ)

تشریح : فَلَا يُعَرِّجُ : اَىْ لَا يَمْكُثُ) یعني نۀ به ایساریدو تعریج اقامت (یعني ایساریدو) او د لارے نه یو طرفته کېدو او مائله کیدو ته وائي۔

يَسْأَلُ عَنْهُ : دا بیان دے د (یعود) دپاره یعني په تیریدو کی به ئے د مریض تپوس کولو او هغه ته به نۀ ورستنیدو۔

ددے نه علماؤ دا مسئله معلومه کړیده چه کله انسان د یو ضرورت دپاره د مسجد نه بهر شي او په لاره کی جنازه تیاره شي یا د مریض تپوس وکړی نو د هغے په کولو سره ددۀ اعتکاف نۀ باطلیږی خو قصداً به ددے دپاره نۀ وځي او دا د ائمه اربعو ترمینځ اتفاقي مسئله ده۔

درجة الحدیث : فی اسناده مقال: فیه لیث بن ابی سلیم: ابوداود (۲۴۷۲) قال الحافظ : والصحیح عن عائشة من فعلها اخرجه مسلم)

- 2106 (10) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: اَلسُّنَّةُ عَلَى الْمُعْتَكِفِ أَنْ لَّا يَعُوْدَ مَرِيْضًا وَلَا يَشْهَدَ جَنَازَةً وَلَا يَمَسَّ الْمَرْأَةَ وَلَا يُبَاشِرَهَا وَلَا يَخْرُجَ لِحَاجَةٍ إِلَّا لِمَا لَابُدَّ

مِنْهُ وَلَا اِعْتِكَافَ إِلَّا بِصَوْمٍ وَلَا اِعْتِكَافَ إِلَّا فِيْ مَسْجِدٍ جَامِعٍ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ام المؤمنين عائشه رضی الله عنها فرمائی : د اعتكاف كونكی دپاره دا سنت دی چه د مریض تپوس به نهٔ کوی، او جنازے ته به نهٔ حاضریږی او ښځے له به (په شهوت سره) گوتے نهٔ وړی او نهٔ به ورسره مباشرت (وطی) کوی او نهٔ به وځی د هیڅ ضرورت دپاره مگر هغه چه د هغے نه خلاصے نهٔ وی او اعتکاف نشته مگر په روژه سره او اعتکاف نشته مگر په جامع مسجد کی۔ (ابوداوٗد)

تشریح : اَلسُّنَّةُ : دا چه کله صحابی ووائی نو مراد ترے پیغمبری سنت وی۔ نو پدے حدیث کی د اعتکاف شرطونه ذکر دی۔

وَلَا يَمَسُّ الْمَرْأَةَ : ددے نه مراد په شهوت سره لاس وروړل دی ورنه عائشے رضی الله عنها به په اعتکاف کی د نبی علیه السلام سر وینځلو او گمنزولو کما مرّ۔

او د مباشرت نه مراد جماع ده۔ په جماع سره په اجماع د اهل علمو سره اعتکاف باطلیږی

وَلَا اِعْتِكَافَ إِلَّا بِصَوْمٍ : یعنی کامل اعتکاف په روژه سره کیږی۔

مَسْجِدٍ جَامِعٍ : جامع نه مراد هغه دے چه خلك ورته د جمعے دپاره راجمع کیږی یا پکی د جُمعے مونځ کیږی دواړو ته جامع لفظ شامل دے۔ (مگر ظاهر دا ده چه جامع هغه مسجد دے چه د جُمعے مونځ پکی کیږی)

او جامع مسجد ځکه شرط شو چه که انسان یو داسے جُمات کی اعتکاف وکړی چه په هغے کی جَمعه نهٔ کیږی او جَمعه خو واجب ده نو دے به یا نهٔ وځی نو واجب به ترے پاتی شی یا به بار بار وځی نو مقصود د اعتکاف به خراب شی چه هغه د الله د طاعت دپاره په یو مسجد کی ایساریدل دی۔ نو آیت عام دے او پدے حدیث سره د هغے تخصیص په جامع مسجد سره وشو۔

درجة الحديث : اسناده صحيح أخرجة ابو داود (٢٤٧٣) وقال غير عبد الرحمن بن اسحاق لا يقول فيه قالت : السنة، قال ابو داود : جعله قول عائشة آه، وقال الحافظ فی بلوغ المرام: لا بأس برجاله الا أن الراجح وقف آخره وقد تقدم الجواب عنه فی قول ابن الترکمانی) فالراجح انه موقوف فی حکم المرفوع۔ ورواه ابن ابی شيبة عن ابن عباس (٩٧/٣) رواه البيهقی فی الكبری (٣١٧/٤)

الفصل الثالث

- 2107 (11) عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ كَانَ إِذَا اعْتَكَفَ طُرِحَ لَهُ فِرَاشُهُ أَوْ يُوضَعُ لَهُ سَرِيرُهُ وَرَاءَ أُسْطُوَانَةِ التَّوْبَةِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه: ابن عمر رضی الله عنهما د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی چه هغه به کله اعتکاف کولو نو هغه دپاره به بستره واچولے شوه یا به د هغه دپاره د توبې د ستنې شا ته کټ کیخودے شو۔ (ابن ماجة)

تشریح: ددے نه ثابتیږی چه معتکف خپل ځان نه لاندے بستره یا کټ وغیره اچولے شی بلکه دا ورله بهتره ده دے دپاره چه مسجد ته د ګندګئ کوم نقصان ونهٔ رسی۔ او دے دپاره چه د انسان ذهن پدے سره راغونډ وی۔ او کوم حدیث کی چه منع راغلے ده چه یو تن دے په تاسو کی مسجد کی ځان دپاره یو ځای نهٔ متعین کوی نو د هغې نه معتکف مستثنیٰ دے پدے احادیثو سره۔

أُسْطُوَانَةِ التَّوْبَةِ: په مسجد کی یوه ستنه وه چه د هغې پورے ابولبابه بن عبد المنذر ﷺ خپل ځان تړلے وو تردے چه الله تعالیٰ په هغه باندے توبه ویستله دا په هغه وخت کی چه بنو قریظه و ددهٔ نه تپوس وکړو چه نبی علیه السلام به مونږ سره څه کوی؟ نو هغه مرئ ته اشاره وکړه چه ذبح کوی به مو، بیائے سوچ وکړو چه دا خو ما نه د الله او د رسول خیانت وشو نو سیده مسجد نبوی ته راغلو او ځانئے وتړلو چه ما به د الله رسول راکولاووی نو د الله رسول خبر شو او وے وئیل چه که ما ته راغلے وے نو ما به ورله بخنه غوښتے وے لیکن اُوس ئے زهٔ نهٔ کولاووم تردے چه الله تعالیٰ ددهٔ توبه نازله کړی نو اوه ورځے او څینو روایاتو کی دی چه د لسو ورځونه زیات تړلے وسیدو چه هیڅ خوراك څکاك به ئے نهٔ کولو تردے چه بیهوشئ حالت ته ورسیدو بیا الله تعالیٰ ددهٔ توبه نازله کړه او نبی علیه السلام په خپل لاس راکولاو کړو۔ (المرعاة)

درجة الحديث: اسناده حسن: ، ابن ماجه (١٧٧٤) وابن خزيمة (٢٢٣٦) والبيهقى وقال الالبانى اسناده قريب من الحسن) قيام رمضان ص (٢٩) وضعفه اولًا فى ضعيف سنن ابن ماجه) وقال فى مصباح الزجاجة فى زوائد ابن ماجه (٢/٨٤) : اسناده صحيح رجاله ثقات آه، وصححه الحسن بن احمد الرباعى الصنعانى فى فتح الغفار الجامع

لاحكام سنة نبينا المختار (۹۲۹/۲) رقم (۲۸۹۱) قال المباركفوري : وفي صحيح مسلم عن نافع انه قال : وقد أراني عبد الله بن عمر المكان الذي كان رسول الله ﷺ يعتكف فيه من المسجد) ونقل الطبراني في معجمه عن ابن عمر ان ذلك مما يلي القبلة يستند اليها قال السمهودي رواه البيهقي بسند حسن ولفظه ان رسول الله ﷺ كان اذا اعتكف يطرح له فراشه او سريره الى اسطوانة التوبة مما يلي القبلة يستند اليها انتهىٰ (المرعاة ۱٦۸/۷)

- 2108 (12) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ : أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ فِي الْمُعْتَكِفِ :" هُوَ يَعْكِفُ الذُّنُوبَ وَيُجْرِى لَهُ مِنَ الْحَسَنَاتِ كَعَامِلِ الْحَسَنَاتِ كُلِّهَا ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه

ترجمه : او سيدنا ابن عباس رضى الله عنهما فرمائى : رسول الله ﷺ د اعتكاف كونكى په باره كى فرمايلى دى : دا (خپل) گناهونه بند ساتى او ددهٔ دپاره به د نيكيانو سلسله هغه شان جارى وى لكه د تولو نيكيانو كونكى له (چه جارى وى). (ابن ماجة)

تشريح : يعنى كله چه معتكف اعتكاف كوى نو پدي سره ځان د گناهونو نه بندوى پدے وخت كى به هم د گناهونو نه محفوظ شى او آينده كى به هم الله تعالىٰ توفيق وركړى چه په گناه كى به ئے نهٔ استعمالوى۔

يَعْكِفُ : دا د باب د ضرب او نصر دواړو نه راغلے دے۔ عكف په معنىٰ د بندولو سره دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف اخرجه ابن ماجه (۱۷۸۱) من طريق عيسى بن موسى وهو صدوق ربما اخطأ وربما دلس مكثر من الحديث عن المتروكين وعبيدة العمى مجهول الحال (تقريب) وفرقد السبخى ضعيف (مصباح الزجاجة)

وسبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب اليك وصلى الله وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه اجمعين

تم المجلد السابع من الحق الصريح شرح مشكاة المصابيح ويتلوه الجزء الثامن ان شاء الله تعالىٰ، واوله كتاب فضائل القرآن بعون الله تعالىٰ الكثير الغفران

وكتبه بيده ابوزهير سيف الله : (۱٤۳٥هـ/ربيع الثانى ۲) الموافق : ۳/۲/۲۰۱٤)

فهرست مضامين الحق الصريح

وبالله التوفيق